اِمدادُ الفتاویٰ

پښتو

جلد ۲

حکیمُ الاُمت مجددُ المِلت حضرت مولانا

اَشرف علی تهانوی قدس سرہٗ

- کتاب الزکوٰۃ
- کتاب الصوم
- کتاب الحج
- کتاب النکاح
- کتاب الحدود والتعزیر
- کتاب الایمان

بترتیب جدید

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ

بانی جامعہ دارالعلوم کراچی و مفتی اعظم پاکستان

مترجم

مولانا زاهد الله شاه حقانی

مکتبۃ الحرم

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور

اکوڑہ خٹک نوشہرہ

0300-[illegible]

030[illegible]

اِمدادُ الفتاویٰ

پښتو

۲

حکیم الامت مجدد الملت حضرت مولانا

اشرف علی تھانوی قدس سرہ

بترتیب جدید

حضرت مولانا مفتی محمد شفیع صاحب رحمۃ اللہ علیہ

بانی جامعہ دارالعلوم کراچی و مفتی اعظم پاکستان

مترجم

مولانا زاھد اللہ شاہ حقانی

مکتبۃ الحرم

قصہ خوانی بازار محلہ جنگی پشاور

اکوڑہ خٹک نوشہرہ

0300-9395919

0306-7616569

کتاب پیژندنه ......

دکتاب نوم: امدادالفتاوی

دمصنف نوم: اشرف علی تهانوی رحمه الله

دمترجم نوم: مولانازاهدالله شاه حقاني

کمپوزر: قاري روح الله صافي

ډیزاین: مولوي محمدبشیر طیب خیل

تهیه وترتیب: صافي کمپوزنگ سنټرمحله جنګي پشاور #-0312- 9885005

Emil: Hedayatullha.safi@yahoo.com

ناشر: مکتبة الحرم

مدیرمکتبه: طالب العلم فضل الرحمن حیدري اوحافظ عین الدین ابراهیمي

دچاپ ځاي ...... اشراق پرنټرز تعلیم القرآن سنټر محله جنګي پېښور
مرکزي ناشر:

زماله ټولوعلماء کراموا وطلباء عزاموا و عامو کتونکوڅخه هیله اوتمناده کچېرې دی کتاب کښې کومه لفظي اوياڼوره غلطي وي دا يه زمونږڅخه سهواً شوي وي تاسي داغلطي مونږته په ګوته کړې ترڅوې پوری په آینده کښې داتکرارنشي اواجربه تې انشاء الله تعالیٰ الله جل جلاله درکوي والسلام

درابطې نمبر: 9395919 - 0300# 7616569- 0306

دامدادالفتاوی ددیم جلددمضامینوفهرست

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

كتاب الزكاة والصدقات

نوټ باندې زكات شته اوكنه

سوال: (۱) نوټ باندي زكات شته اوكنه ؟ په ټولو نوټونو باندې ټول حكمونه د درهمو او دنانيرو جاري كيږي يانه ؟

جواب: نوټ په حقيقت كښې سند دې د روپۍ اوپه دې روپۍ باندې ده ته هروخت قدرت شته چه كله غواړي وادې خلې نو دانوټ په خپله مال ندې مګر د كومې روپۍ چې دا سند دې هغه مال دې اودې وجه نه چه په دې قدرت حاصل دې نو ضمار كښې داخل ندې لهذا په دې واجب دي او احكام مختلف دي بعضي جاري كيږي اوبعضي نه، كه باليقين سوال وي نو دهغه جواب وركړې شي مثلاً د لسو روپو څه شي واخسته او اخستونكي نوټ وركړې نو په خرڅونګي زور نشته چه ضرور به دې اخلي په ديكښې مثل د درهمو او دنانيرو دندي او وجوب زكات كښې دي لكه چې تير شول:

سوال: (۲) الامداد ماه صفر المظفر ۱۳۲۷، نوټ متعلق يو مضمون چهاپ كړې شويدې په هغه كښې دا وو چه نوټ مال نه دې اودې سره زكات نه اداكيږي. (۱) نو اوس دا مشكل پيداكيږي چه چاسره سيواد نوټ نه څه نقد نشته نو په هغه باندې د كال تيريدو نه پس زكات واجبيدل نه دي پكار، (۲) پدې طريقه سره دا هم خيال پيداكيږي چه په زكات كښې نقد روپۍ دواګ په ذريعه اوليږي اوچه چا ته ليږلي كيږي هغه ته د روپۍ په بدله كښې نوټ ملاؤ شو نو زكات اداشو كه نه (۳) په بهشتي زيور كښې راته ياديږي چه جناب ليكلي دي چه نوټ په كمي بازياتي كښې نه شي وركولي، د دې نه معلوميږي چه نوټ او روپۍ يو شي دي. (۴) نو دې صورت كښې نوټ زكات كښې اداكولې شي او زكات هم په نوټ باندې واجبيدې شي. (۵) نن صبا خو رمضان كښې د زكات وركولو وخت راغلي دي او دلته زياتو خلقو سره نوټونه دي نقد روپۍ نشته نو دې صورت كښې څه كول پكار دي

جواب: (۱) دا شبه غلطه ده ځكه چه دا نوټ د كومې روپۍ سند دي هغه خو مال دي چه ګورنمنټ په ذمه قرض دي، پدې باندې زكات واجب دي (۲) چه كله دې دا نوټ نقد جوړ كړې شوي قبضه كښې راولي نو دغه وخت به زكات اداكيږي. (۳) دا معلوميدل غلط دي د كمې زياتي

د ناجائز كيدلو دا بنياد نه دې چه دواړه يو حكم دي. بلكه د دې بنياد دا دې چه كمي او زياتي حواله كښې هم جائز نه دي او نوټ معامله د حوالي ده. (۴) دا تفريع غلطه ده لكه څنګه چه مخكښې معلومه شوه (۵) دا كول پكار دي چه خپله كه وركوې نو اول دا نوټ نقد كړئ او دغه نقد مسكينانو ته وركړئ. يا داسې اوكړي چه په دغه نوټ كپړې يا غله واخلي او دغه كپړا ياغله زكات كښې وركړئ يا داسې اوكړي چه كوم مسكين له مثلاً لسو روپو نوټ وركوي هغه ته اووايه چه ته چرته نه لس روپۍ نقد راوړې چه كله هغه راوړې نو ورته اووايه چه د دغه روپو په بدل كښې زمونږ دا نوټ واخله نو دغه خرڅ په ذريعه سره زكات وركوونكي سره چه نقد روپۍ راشي نو هغه مسكين ته وركړئ. يا هغه خپل قرض د نوټ نه اداكوي او كه د نقد نه اداكوي دويم كس په ذريعه كه اداكوي نو داسې سړې دې وكيل جوړ كړي چه هغه دغه طريقې پيژني او دهغه په ذريعه دې اداكړي: (نوټ) دا ما واضح اوليكل خو زما دا خيال دې چه تر څو ديو عالم نه دا زباني زده نه كړې نو پوهه كښې به غلطي وي. (رمضان ۱۳۳۷ والحوادث خامس ص ۳۷).

سوال: (۳) نن صبا د نوټونو دومره سخت رواج شويدې كله كله په مياشتو هم د روپۍ شكل ليدلو ته نه ميلاويږي په تنخوا وغيره نوټونه او هغه په خرچه كښې راځي (۱) دوكاندار يو نوټ يو پيسه واخلي روپۍ حصې حصې وركوي دا كموالي پوره كول جائز دي يانه. كه روا وي نو بيا د دې د پاره د شرعي څه حيلې ضرورت نشته لكه څنګه چه د روپۍ شكل كښې كيږي چه دې سره بوه پيسه شامل كړې او وركړي. (۲) كه چرې چاسره د نصاب برابر نوټونه جمع شي نو د كال تيريدو نه پس زكات په نوټونو واجبيږي يانه، دا شبه ځكه پيدا شوه چه نوټ حقيقت كښې نه سپين زر دي نه سره زر كچيرې اووېلې شي چه د نوټ په جاري كيدو كښې حكومت قرضدار دي او قرض كښې زكات واجب دي نو د دې متعلق دا عرض دي چه حكومت قرضداريې شك دي. خو حكومت نه د دې وعده كړيده او نه دهغه په ذمه دي چه ديو روپۍ نوټ په بدل كښې روپۍ وركړي، بلكه هغه څلور شپيته پيسې يا شپاس انې يا اته دبل انې چه د سپينو زو نه وي وركړي نو اخستونكي انكار نه شي كولي دغه رنګ دلوې رقم نوټونو كښې دغه پيسې يا انه يا دوو انو والا شكل مخې ته راتللې شي نو دې صورت د دې به داسې مثال شي چه يو سړي مثلاً د بل سړي ديو لاكو پيسو قرضدار دې يا د پنځوس زرو كانسي دانې د دوو انو قرضدار وي نو دې صورت كښې د قرضخواه په ذمه به زكات واجب شي. (۳) هم په دغه اندازه دا تيازره تكو مهر چه تړلې كيږي پديكښې دا كيدو د مهر په وخت كښې بنځه باندې به زكات واجبيږي يانه كه نه واجبيږي نو بيا فرق څه دي. اميد دې د جواب د دليل ضرورت نشته صرف د حضرت تحقيق غواړم ؟

جواب: وړومبي مقدمه باید ځان پوهه ول پکار دي هغه دا چه دنوټ حقیقت څه دي پس دنوټ حقیقت دادي چه په اول وخت کښي چه حکومت ته ناروپی ورکړه او نوټ دي ترینه واخسته نوحکومت ددغه روپی قرضدار دي اونوټ ددغه قرض سند دي ، نو اصل حق دمالک دغه روپی ده ، او بیاچانه نوټ ورکول دخپلی هغی قرضی چه دحکومت په ذمه ده حواله کول دي دی سره دټولوسوالونوجواب اوشوخو واضحه ئي بیاهم لیکم. (۱) داکمی پوره کول اودی طریقه سره ورکول جائز نه دی ځکه چه حواله کښي کمی اوزیاتی روانه دي اوددي حیلی محل حواله نه ده بلکه بیع لاس په لاس کښي زیاتی دي چه دلته کښی نشته (۲) زکات واجبیږی ځکه چه ددی اصل حق مال دي او دامثال ځکه غلط دي چه دي چه کښي اصل حق دزکات مال نه دي بلکه سامان دي او دویم جنس سره دادکیدونه چه کوم اشتباه راغلی ده قرضه په بل جنس سره په رضاددواړه طرفینو اداکول صحیح دي . (۳) اوددغه مخکښي تقریرنه دتکو په مهر کښي اود نوټ په بدل کښي فرق ښکاره شوه چه مهر کښي اصل واجب تکی دي اودلته داسی نشته لکه چه ذکر شول چه (احواث خامس ص۳۰)

سوال: (۴) زکات دمنی اوډر په ذریعه سره لیګو کښي دډاک خانې نه چه چا ته لیګلی کیږی نو نوټونو ورکولی کیږي اونوټ سره زکات نه اداکیږي ددي مشکل نه بچ کیدو دپاره څه صورت اختیار کړی شی ؟

جواب: زه داسی کوم چه دي ځای کښي یو وکیل جوړکړم چه دانوټ نقد کړه اوفلانکی مستحق ته ورکړه

سوال: (۵) دزکات په منی اوډر کښي ډاک خانې نوټونه ورکولی شی یاروپی ورکولی ضروری؟

جواب: دواړو یوشی دی دزکات اداکیدو شرطونه دواړو صورتونو کښي شریک دي

سوال: (٦) هرکله چه لیګوونکی ته ډاک خانې نه عموماً نوټونو ورکولی کیږي نوبیابیمه ولی نه کوی ځکه چه هغی فیس هم بچ کیږي

جواب: داسی دی وکړی مګر دزکات اداکیدلودپاره دنوټ قبض کافی نه دي

سوال: (۷) په نوټ باندی زکات شته یانه ؟

جواب: زکات شته **نوټ**:- په ذریعه زکات صرف هغه وخت اداکیږي چه مسکین دغه نوټ نقد کړي یاپري څه واخلی دی

سوال: (۸) زکات کښی نوټ ورکولوسره زکات اداکیږی یانه ، دارنګه نور رقم چه واجب التملیک دی لکه فدیه دروژی اودمانځه وغیره؟

جواب: چونکه دا مال نه دی صرف سند دمال دي پدی وجه نوټ ورکولوسره زکات نه اداکیږي اودغه صورت د نورو رقمونو واجب التملیک هم دی بلکه دی صورتونوسره زکات وغیره ادکیږی . (الف) یا خوخپله مسکین ته نقدورکړی یاڅه شی چه دمال دقسم نه وی دومره قیمت کښی ورکړی چه امام ابوحنیفه رح په نزد زکات په غیرجنس کښی هم اداکیږی . (ب) یامسکین ته نوټ ورکړی اودغه مسکین بیادانقد یا دبل جنس په بدل کښی خرڅ کړی نوپه نقد یاپه جنس باندی قبضه روالی اوس ددغه قبض په وخت کښی زکات وغیره اداشو اوکه چری دا دواړه صورتونه اونه شی مثلاً ددی مسکین نه دغه نوټ ضائع شو یا هغه خپل قرض کښی چا ته ورکړه نو دی صورت کښی زکات اداشو.مسکین ته زکات کښی نوټ ورکړی شی بیادی مسکین ته ددی نوټ قیمت کم ملاو شو ددی حکم!

سوال: (۹) که چری یومسکین ته په زکات وغیره کښی نوټ ورکړی شی اوددغه نوټ نقد یا جنس کښی قبضه راوستو خو دی نوټ اخستونکی پدی نوټ کښی کموالی وکړ مثلاً یوروپی یو پیسه اودارنګه یو مدرسه کښی ورکړه اومهتمم دغه نوټ نقد کړو اویوطالب علم ته ئې ورکړه کوم چه مستحق وه. اودنقد کولوپه وخت کښی هم دغه کموالی وکړی نو آیازکات کښی پوره روپی اداشوی یایو پیسه کم روپی اداشوه اوکه دخپل مخامخ داسی ونه شی نو معلومه ده چه چرته بي نوټ لیګلی وه. هلته داسی شویدی خو داحتیاط خبره ده. «جواب» دی صورت کښی یو پیسه کم روپی اداشوه . یوپیسه مثلاً دغه کس ته په زکات کښی نوره هم ورکول پکاردی دغه رنګه که معلوم شی چه ستا پشی شا هم کموالی شویدی بیا هم یو پیسه مسکین ته ورکړه!

دسپینو زور اوسروزرو دپیس وغیره حکمونه په زکات اوبیع کښی

سوال: (۱۰) ګوټه (د سرو اوسپینو تارونو پیته) کمخواب (دریښمو کپړا) دسلورو سپین زر سوچه بنارسی ،لوپټی اوتاش وغیره پدی ټولوباندی زکات کیږی یانه اوددی اخستلو خرڅولو کښی به دبیع صرف حکمونو لحاظ کیږی که نه ؟

جواب: تاش ته پیژنم پدی نوروخیزنو باندی زکات دی اوددی په بیع صرف حکمونه جاری کیږی یعني چه څومره سپین زردی نو دهغی په اندازه کښی کموالی زیاتوالی جائزنه دی اوداپه هغه اندازه دی چه داسلورسپین زروی .اګرچه کمه درجه کښی وی .اوکه چری بل شی وی (یعنی ورروستو معلوم شی چه داسپین زرنه دی .نو بیا به حکم بدلوشی فقط . ۱۵ شعبان ۱۳۲۱ه امداد ص۱۵۴ ج۱)

حکم دګډون په سرو اوسپینو کښې

سوال:(۱۱) فقهاء چه لیکی که غش (ګډون) غالب وی نو غش به ی اوکه سره اوسپین غالب دی نو دغه اوس ددی څه معنی ده. بعض ګډون داسی وی چه بغیر دویلی کولو نه جدا کیږی اوبعض جدا کیداشی دواړه مراد دی یا یو. دویمه خبره داده چه ددغه ګډون لحاظ اواعتبار ددغه کالو په لحاظ سره دی کوم کښې چه موجود دی یاد نصاب په لحاظ سره هم. مثلاً کالی خالص دی که دغه کالی د ګډون دزیادت دوجه نه، ساقط الاعتبار شی نو دنور کالو مقدار د زکات نصاب ته نه رسی. یا داصورت چه دی نا قص کالو کښې دخالص سپینو اندازه اولګوی او نور کالی مقدار دنصاب ته رسی یاخالص کالی دنصاب برابر دی اودازیادت دګډون دمقدارنه زیادت دی نو اوس دی صورتونو کښې به څه کوی آیا کوم کالوچه دغه ګډون غالب دی د هغې دزیادت اوکموالی کلمونه ددغه کالو اعتبارسره دی سره دی دنورو کالوپه اعتبارسره؟

جواب: سرو سپینو سره چه ددی نه علاوه بل شی ګډشی دهغې دوه صورتونه یو دا چه دواړه جداوی اویه ویلو کیدونه وی یوځای کړی شوی. نوددغه مجموعه یوحکم نه دی دسروسپینو په مقدار کښې به دسرو دسپینو نه علاوه کښې به دهغې حکمونه جاری کیږی مثلاًپه بیع صرف کښې اوزکات کښې مقدار دسروسپینومعتبردی مجموعه کښې نشته دویم صورت دادی چه جدانه وی اویه ویلی کیدوسره یوځاي شوی وی اویو کړی شوی وی پدی فقهاء وائي چه دغلبه اعتباردی یعنی که غالب سره یاسپین وی نو په ټولی مجموعی کښې دسرو سپینوحکم به جاری وی اوکه بل شی غالب وی نو دغه مجموعه به ددغه بل شی په حکم کښې شاملیږی پدی کښې چه څومره سره سپین دی خو پدی کښې دسروسپینوحکمونه نه جاری کیږی. نو پدی زکات شته نه پکښې دبیع صرف حکمونه معتبردی، دی سره تولوسوالونو جواب راووتوکه په یو حکم کښې شک وی نو بیا معلومات دی اوکړیشی. فقط. (۱۵ شعبان ۱۳۲۱ھ الامداد ص۱۵۵)

حکم داداکولوزکات چه په هغې غش غالب وی یا هغه سکه نقدین نه وی

سوال:(۱۲) دګلټ سکې په حقیقت کښې دهغې قیمت برابر نه دی کوم چه لیکلی شویدی اوشرعاً مال دی ځکه چه دا اندازی پوری نوټ سره مشابه دی اودا خبرهم راغلی دی چه روپی

به دګلټ نه جوړیږی اوداخبره ماخپله کښې کتلی ده چه دسپینو دګرانوالی دوجه پارلیمنټ کښې داخبره سرته رسیدلی ده چه که ائنده دسپینوسکی جوړی کړیشی نو په هغې کښې به صرف شپږمه حصه دسپینو شاملیږی نوپدی صورت کښې هم داسکې مال نه دی دشریعت په نظر کښې ځکه دیکښې غش غالب دی نو بیا زکات په اداکولو کښې نورهم ګرانوالی شو، براه کرم تفصیلی جواب وکړی ځکه چه ماته د زکات اداکیدوکښې پدی خبرو سره ډیر ګرانوالی مخې ته راځی؟

جواب: دګډون دزیادت نه داخبره صحیح ده چه سره او سپین نه دی خو داصحیح نه ده چه مال نه دی. مال تعریف پدی صحیح دی لهذ دامال دی، البته که زکات دغیرجنس نه اداکیدی نو ددی سرۀ او سپین هم تاوانی وه. خو غیرجنس سره هم زکات اداکیږی هر کله چه بازار ددی صحیح قیمت د واجب برا بر وی او دغه برابروالی شته نوددی وجه زکات کښې څه مشکل نشته لکه څنګه چه پیسو سره دنقد پنو زکات اداکیدی شی او که چری دغه شان احتیاط وی نو بیا یو قیمتی شی واخله لکه کپړه یا غله دزکات په زینت ورکړه (۱۳۳۸ھ)

دتولی په حساب سره دزکات دنصاب اندازه

سوال:(۱۳) دسرو او سپینودنصاب اندازه د تولی په حساب سره او انګریزی سکې په اعتبار سره به څومره وی؟

جواب: مشهوره خبره دوه پنځوس نیمی تولی سپین زر او اوه تولی سره زر دلګهنو دتولی چه دهغې حساب سره روپې دیولسو ماشوی.

بیان دهغه قرض دمهر چه دهغې په وجه زکات

نه واجبیږی اوهغه چه زکات پری واجبیږی

سوال:(۱۴) مهر مؤجل چه دهغه ورکولو فی الحال اراده نه وی دزکات مانع ګرزی یانه؟

جواب: دیکښې اختلاف دی علامه شامی نقل کوی زاد القهستانی عن الجواهر والصحیح انه غیر مانع، نوصحیح خبره داده چه دزکات واجبیږی فقط (۱۵ شعبان ۱۳۲۱ھ)

سوال:(۱۵) هغه قرض دپاره دمهرپدی نیت سره چه دابه اداکوم دامانع دی دوجوب دزکات اودقربانی نه یانه؟

جواب: (۱) دیکښې اختلاف دې درمختار کښې مهر مؤجل اومعجل دواړه مانع دزکات لیکلي دي اوطحطاوي دوه قوله بیان کړي دي معجل مانع دزکات دي اومؤجل نه دي که چرې اداکول وي نو مانع دي دزکات نه اوکه اداکول نه وه نو بیامانع نه دي نو تول دري قوله شول طحطاوي دقهستاني دویم قول غوره والي نقل کړي دي خو زما په نزد دریم قول غوره دي ، والله اعلم ؛

سوال: (۱۶) څه فرمائي علماء دین اومتقیان دشرع متین چه دزید په ذمه څلورزره روپی قرض دمهرمؤجل دي آیا داقرض دسرسایه ،قرباني دمنخني دپوره کولو ،زکات اودحج نه مانع دي یا نه داصورت ددي پنځو واړو امورونه مانع دي که بعضو نه ؟

جواب: شامي په کتاب الزکوة کښې داختلاف نقل کولونه پس جواهر دقهستاني په حواله نقل کړيدي والصحیح انه غیرمانع ، اوهرکله چه زکات مانع نه دي نو واجباتونه هم مانع نه دي ځکه دزکات شرطونه تولو نه سخت دي .۸۱ محرم ۱۳۲۲؛

سوال: (۱۷) دویمه مسئله داده چه زمادوالده مرحومه څه کالي دي چه هغې باندې کال کښې پنځوس روپی زکات کښې راځي چه هغه ماباندي اداکول واجب دي خو ماته مهر هم اداکول دي چه هغې کښې زر روپی معجل وي هغه خو اداشوي خونهه زره پاتي دي نو دې حالت کښې ماباندي زکات واجب دی که نه دي والدصاحب فرمائي چه [عالمګیری] کښې دي چه زکات نشته د هغې عبارت دادي ، کذالک المهریمنع مؤجلا کان اومعجلا لانه مطالب به کذا فی المحیط السرخسی وهو صحیح علی ظاهر المذاهباه [عالمګیری ج اول ص ۲۸۳ مطبوعه مصر کتاب الزکات]

---

[1] فی هذا الجواب رجوع عن الجواب السابق کمالایخفی ثم اعلم ان مولاناطال بقائهم رجحوا القول الثانی فی الجواب السابق والقول الثالث فی هذا الجواب وفی کلاالرجحتین نظرلان العلة التی جعلوا الدین مانعامن الزکوة لاجلهاموجودة فی المهر مطلقاسواء کان مؤجلاً اومعجلاً کان لـه نیة الاداء ام لا لانهم قالوا ان حاجة المدیون الی هذالمال حاجة اصلیة لان قضاء الدین من الحوائج الاصلیة والمال المحتاج الیه حاجة اصلیة لایکون مال الزکوة اه شامی والمهرمطلقادین له مطالب من جهة العبادوالمدیون مامورمن جهة الشرع باداتها فیکون هومحتاجاً الی المال فی فراغ الذمة ویکون المال مشغولاً بحاجة اصلیة فلایکون مال الزکوة ونیة الاداء وعدمهالامدخل له فی المنع وعدمه لانه غیرمؤثرفی العلة کماان الدیون الذی هوبدل مال التجارة اوغیرهالاداخل فی اسقاطه الزکوة وعدمه فی کون المدیون محتاجاً الی فراغ الذمة وعدمه وکون المال مشغولا بالحاجة الاصلیة وعدمه لانه لایراء ذمة من عدم عده دیناکمالایخفی فالاظهرعندی القول الاول ولاعبرة لنقل القهستانی عن الجواهرتصحیح الثانی فلیتأمل (دانغیرد تصحیح الاغلاط ص ۳۰ نه شویدي)

جواب: په دیکښې روایت هم شته چه دامهر مانع نه دي دوجوب دزکات نه تطبیق دواړو کښې دادی که ددی سړی نیت وی دمهر دادکولونه بیازکات واجب نه دی اوکه نیت ئي نشته نو زکات واجب دی خوکه دامهروروستو واجب شوی وی اوداکالي ستا اختیار کښې مخکښې نه وه نو دمهر دواجبیدونه مخکښې زکات بلا اختلاف واجب دی ؛

سوال: (۱۸) قرضه دمهر زکات ساقط کوی که نه ؟

جواب: فی الدرالمختارباب الزکوة فارغ عن دین له مطابق من جهة العباد الی قوله ولو صـداق زوجـة الموجل للفراق وفی ردالمحتارعزاه فی المعراج الی شرح الطحاوی وقال عن ابی حنیفة رحمه الله لایمنع وقال صدرالشهید لا روایة فیه ولکل من المنع وعدمه وجه زادالقهستانی عن الجوهر والصحیح انه غیرمـانع [ج ۲ ص ۸۰۷] دی سره دمسئلی اختلاف اوزکات واجیدل معلوم شول.

تنخوا اورشوت چه مال کښې یو ځای شی دهغې دزکات حـکم

سوال: (۱۹) تنخوا اورشوت دواړه ګډوډ دي پدې زکات شته که نه ؟

جواب: په تولو (۱) باندي زکات واجب دي ، فی الدرالمختار لواخلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه فتجب الزکوة الی قوله لان الخلط استهلاک اه فقط [۱۵ شعبان ۱۳۲۱ هـ امداد ص ۱۵۲ ج ۱] امدادالفتاوی جلد اول ص ۱۵۲

خلاصه سوال زکات مخلوط ازرشوت وتنخواه:

خلاصه جواب :- وجوب زکات تسامح قید ضروی درجواب متروک نمودن وان واجب الذکر بود وهذا اذاکان له مال غیرمااستهلکه بالخلط متصل عنه یو فی دینه الخ، درالمختار اصلاح تسامح :- واجب بود که تمام شرائط که دروجوب زکات مال مخلوط حلال به حرام درکتاب الدرالمختار وردالمحتار بود ازان روایت ماخوذه امداد الفتاوی درج فرموده باشد تاکه سائل در غلطی نه افتد .تمام عبارت هردوکتاب تحریر کرده می شود بعده مقصودبوضوح خواهد بخواند.

---

[1] یعنی په هغه معلوموشرطونو دزکات چه په هغې کي فراغ عن الدین هم دي چونکه حرام مال ګډوډ ولو سره هلاک کیږي اوهلاک کولو سره دهلاک کوونکي په ذمه واجبیږي په دي وجه کتي به شي چه که ددغه ګډوډ مال نه چه دحرام مال په اندازه اوزي اودنصاب برابرپاتي کیږي نوپه باقي باندي به زکات واجب وي کنی نه واجبیږي دحضرت مولاناپه جواب بعض عالمانو کلام کړيدي کوم چه دمحلقاتو په تتمه اولی کي ذکراواحقر ملحقاتو په اصلاحاتو کي په دي باندي کلام کړيدي ۱۲ تصحیح الاغلاط ص ۲۲؛

ولوخلط السلطان المال المغصوب بماله ملكه فتجب الزكوة فيه يورث عنه لان الخلط استهلاک اذالم يكن تميزه عند ابی حنيفة رحمه الله وقوله ارفق اذكلمايخلو مال عن غصب وهذا اذاكان له مال غير مااستهلكه بالخلط منفصل عنه يوفی دينه والا فلا زكوة كما لو كان الكل خبيثا كما فی النهر ۱۲ [ردالمحتار صـ ۳۹] قوله كما فی النهرای اول كتاب الزكوة عند قول الكنز وملک النصاب حول ومثله فی الشرنبلالية وذكره فی شرح الوهبانية بحثاوفی فصل العاشر من التاترخانية عن فتاوی الحجة من ملک اموال غيرطيبة اوغصب اموالا وخلطها ملكها بالخلط ويصير ضامنا وان لم يكن له سواها نصابا فلا زكوة عليه فيها وان بلغت نصابا لانه مديون ومال المديون لا ينعقد سببا لوجوب الزكوة عند نا الخ ، فافادو بقوله وان لم يكن له نصاب الخ .ان وجوب الزكوة مقيدبما اذاكان له نصاب سواهاوبه يندفع مااستشكله فی البحرمن انه ملكه بالخلط فهومشغول بالدين فينبغی ان لا تجب الزكوة الخ، . لكن لا يخفی ان الزكوة حينئذ انما تجب فيما زاد عليها لا فيها لا يقال يمكن ان يكون له سواهامما لا زكوة فيه كدورالسكنی وثياب البذلة ممايبلغ المقدارما عليه اويزيدفتجب الزكوة فيهما من غيران يكون له نصاب اخرسواها لانا نقول انه لاخلطها ملكها وصارمثلها دنياقی ذمته لا عينهاوقدمناان يصراولا الی مال الزكوة دون غيره حتی لو زوج علی خادم بغير عينه وله ماتا درهم وخادم صرف دين المهرالی المائتين دون الخادم ای فلوحال الحول المائتين لا زكوة عليه لا شتغالهابدين مع وجود مايقی به من جنسه وهو الخادم وهناكذالک مالم يملک نصاباً زائداً نعم تظهرالثمرة فيمااذا ابرآه المغصوب منهم كمانقله فی البحرعن المبتغی بالغين المعجمة وقال هو قيدحسن يجب حفظه انتهی واذاصالح غيرمائة علی عقار مثلاً فيبقی ماغصبه سالماً عن الدين فتجب زكوة الی اخر ۱۲ ردالمحتارصـ باب الزكوة هكذا فی الكتاب والله تعالی اعلم بالصواب ۴۰ [حرره فقيرمحمد بخش ساكن جوتی] **تكمله دخبرو ۵** :- هغه حاشيی ليكلی شويدی تردی به انشاءالله شائع كړيشی!

[اشرف علی رحمه الله تتمه ۱۳۲۰هـ (تتمه اولی اصـ ۳۴۰)

په کلابتون (دسرويا سپينوتار چه په ريښمو وخيژولی شي)

اوپيته چه په کپړا اوخيژوی دهغی په اندازه زکات ورکول.

سوال:(۲۰) که چرې په گوټه اوکلابتون باندی زکات وی اوکپړاباندي تکی وي نودهغي اندازه به کولی شی یانه؟

جواب: اندازه به کيږی اواحتياط دادي چه د اندازي نه زيات وګڼري. فقط ۱۵ شعبان امداد صـ ۱۵۲ ج اول

په کمخواب (دريښم يو قسم کپړا) باندي چه کپړا غالب وي په هغي کښی شک نه کول.

سوال:(۲۱) کمخواب کښي کپړا غالب وي جدا لحاظ به کيږي يا دنورو څيزونو لحاظ سره؟

جواب: دغالب دامعنی نه ده کله دي سوال[1] چه څلور سواله مخکښی ذکرشول چه په هغي کښی څومره سپين وی نوهغه شان زکات واجب دي فقط والله اعلم [۱۵ شعبان ۱۳۲۱هـ]

په نصاب دکال تيريدو معنی

سوال:(۲۲) ديو کس امدني هره ورځ ده هغی بغير دسودنه په طور دامانت بينک کښی پيسي جمع کوي مثلاًدجنوري مياشت نه دسمبرپوري امدني اندازي سره زکات قابل شو تر اخرمياشت دسمبرپوري دهغي دزکات حساب څه رنګ دي څه آمدني باندي يوولس مياشتي تيري شي څه باندي لس څه باندي څلور بلکه څه باندي دوه څلوررخي تيري شي ددي امدني نه خرڅه هم کيږي خودکال دختميدو په وخت دخرچ کيدوباوجودهم زکات قابله ده خوپه هيڅ امدنی باندی هم کال پوره تيرنه دي کله چه ذکرشو؟

جواب: کوم وخت چه دغه جمع دنصاب برابرشوه ددغه تاريخ نه کال شروع شو اوکال ختميدوپوري چه څومره هم موجودوي خوپدی شرط دنصاب نه کم نه وي په ټول زکات واجب دي اګرچه په هره حصه کال نه وي تيرشوي اوياد کال په مينځ کي دنصاب نه کم شوي وي ، وفی الدرالمختاروشرطه كمال النصاب ولوساعة فی طرفی الحول فلايضر نقصانه بينهما الخ، ۳ ذی الحجه ۱۳۲۱هـ امداد صـ ۱۵۷ ج ۱)

---

[1] په موجوده ترتيب کي صـ ۵ په سوال نمبر ۲ باندي دي ۱۲

حکم دهغه زکات چه خرچ کریشي په بعض رشته دارانو

سوال: (۲۳) خپل سکه ورور یا پلار شریک یا مور شریک یا رضاعي ورور خور یا خورئي یا خورزه یا ورارهٔ یا وریرهٔ یا ماما یا ترور (د مور خور) یا پپوریات (پلار خور) یا ویښی یا خپنه یا خوانبې که بالغ وي که نابالغ وي دوي ته زکات او سرسایه ورکول جائزدي که نه؟

جواب: جائزدي که نابالغ وي نو بیا دا شرط هم دي چه دهغې پلار مالداره نه وي اګر که موریې مالداره وي. وفي الدرالمختار ولا الیٰ طفله بخلاف ولده الکبیروابیه وامرأته الفقیراء وطفل الغنیة فیجوز لانتفاء المانع الخ، قلت الضمائر في طفله وولده وابیه وامرأته راجعة الی الغنی کمافي الشامیه،

۲۶ محرم / ۱۳۲۲ھ (امداد/ صـ ۱۵۸/ ج۱)

چه کوم کلی کې مال موجودشویدی په هغې ځای کې دزکات خرچ کولوغوره والی

سوال: (۲۴) یوسړی په وطن اصلی کې کم اوسیږي او په وطن اقامت کې زیات اوسیږي نو زکات دکوم ځای خلقوته ورکول پکاردي؟

جواب: في ردالمختارویعتبرفي الزکوة مکان المال کلهاواختلف في صدقة الفطر کمایاتي الخ، دې روایت سره چه مال کوم ځای موجودشوي دی دهغه ځای خلق زیات حقدار دي چه زکات ورکړي. الاعرض فضلوه، که بیا هم بل ځای تا اولیږي نو هم زکات اداکیدیشی فقط والله اعلم،

۲۶ محرم / ۱۳۲۳ھ (امداد/ صـ ۱۵۸ / ج۱)

دبل جنس نه دزکات اداکولوحکم

سوال: (۲۵) یو کس په زکات کې څه روپی راوستی خو هغه روپی په خپل مصرفونو کې خرچ نه کړي خو ددغه روپو پې کپړا یاغله یا څه بل څه واخستل او مصرف کې خرچ کړل. نو آیا زکات ادانه شو او دوباره به زکات ورکوي؟

جواب: اداکیږي. لان البدل في حکم الاصل عندالحنفیة، خو په دې شرط سره چه مال اخستی شوي ددومره قیمت وي. اخستونکې چادهوکه بازنه وي ګنړلی. کنی دبازارد قیمت په اندازه به زکات اداکولی شی، ۲۷ محرم / ۱۳۲۲ھ (امداد/ صـ ۱۵۸/ ج۱)

زکات ورکول دخلاف جنس نه

سوال: (۲۶) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه که په څه کې زکات واجب وي. نو آیا ددغه مال نه زکات اداکول ضروري وي یا دخلاف الجنس نه اداکړي نو هم اداکیدیشی، لکه دچا په ذمه دسرو یا سپینو په زکات کې یوه روپی واجب وي او هغه ددې یوې روپی کپړا واخلی او چاته ورکړي نو زکات اداکیږی که نه؟

جواب: زکوت خلاف الجنس نه هم اداکیږي او خلاف جنس په قیمت کښي دواجب په برابري پکار دی واجمعوا انه لوادی من خلاف جنس اعتبرت القیمه شامی [صـ ۳۰ ج ۲] نو دې صورت کښي زکات اداکیږي ځکه چه رکن دزکات تملیک دي او هغه دلته اوموندی شو. في ردالمحتار فلواطعم یتیماً ناویاً الزکوة لا یجزیه الا اذادفع الیه المطعوم کما لوکساه ای کما یجزئه لوکساه ج۲ بشرط ان یعقل القبض صـ ۳ ج۲ وقال الشامی بعد اسطر ففي الکسوة لا شک في الجواز لوجودالرکن وهو التملیک فقط ۱ جلد اخیره رمضان ۱۳۲۰ ھ [امداد صـ ۱۴۶ ج اول]

دتملیک دحیلی تحقیق

سوال: (۲۷) دتملیک کولو حیله چه اکثرو اسلامي مدرسو کښي کیږي په دیکښي خو نیت یقیناً صحیح نه وي اګرچه دفقه په روسره دا صورت جائزوي، نو ایا الله پاک چه نیت او دزړه ارادي ګوري په داسي کولو سره به رضا شي او دا حیله کوونکي به اخرت کښي دنیولونه خلاص شي؟

جواب: دورع او تقوی نه علاوه هم زما په نزد دفقه په رو سره دزکات نه اداکیږي، ځکه چه تملیک دزکات رکن دي او تملیک کښي چه عقد کوونکي جداوي نو تملیک نه کیږي او په دې صورت کښي خو دوړاو په مضبوطو ګواهو باندې اقرار کوي چه تملیک مقصود نه دي. في الدرالمختار وقدمناان الحیلة ان یتصدق علی الفقیرثم یامره یفعل هذه الا شیاء وهل له ان یخالف امره لم اره والظاهرنعم وفي ردالمختاروفي التعبیرثم اشارة الی انه لوامره اولاً لا یجزی لا نه یکون وکیلاعنه في ذالک الخ، ثم نظرفیه[1] ونظرت في ذالک النظرفیقی الحکم سالماً فقط ۲۷ محرم [امدادالفتاوی صـ ۱۵۹ ج اول]

---

[1] تقریرنظرالشامی ان المعتبرنیة الدافع ولذااجازت وان سماهاقرضااوهبة في الاصح کماقدمناه فافهم وتقریرمولانا في ذلک النظر علی مارأیته مکتوبابهامش الشامی بخطه طال بقائه علی رؤس المستفیدین ان التملیک رکن الزکوة ولم یوجدفي التوکیل بخلاف القرض والهبة فانما تملیک وان اختلف الجهة وعسی ان یکون قوله فافهم اشارة الی ذلک آه

په حرام مال کښې دزکات حکم

سوال: (۲۸) رشوت سره حاصل شوي مال باندي زکات واجب دي یانه ، نن صباعام مسلمانان چه په رشوت اوحرام کسب باندي لګیا دي نو زکات ورکولونه هم بي پرواه دي پدي بنیاد چه حرام مال کښي زکات نشته حالانکه په خپله ئي استعمالولو کښي څه نه کوي اونه هغي نږدي خپلوان چه غریبان دي او دزکات مصرف هم دي دا روپي اتفاقاً دوي ته ملاؤ شي ، نوزکات په نیت دوي ته ورکړي شي نوڅه باک پکښي شته ؟

جواب: فی الدرالمختار (۱) ولوخلط السلطان المال المغصوب بماله ملکه فتجب الزکوة فیه ویورث عنه لان الخلط استهلاک اذالم یکن تمیزه الخ ددي روایت نه معلومه شوه چه پدي مال زکات شته دي والله اعلم ۲۷ محرم ۱۳۲۳ھ [امداد الفتاوی صـــ ۱۶۰ ج اول] **خلاصه سوال** - زکات درمال رشوت وکسب حرام ؛ **خلاصه جواب** - وجوب زکات ؛

تسامح - سوال از مال رشوت وکسب حرام خالص بود نه از مال مخلوط حلال بحرام بود جواب ازثانی است ومطابق سوال نیست ، اصلاح تسامح - لازم است که جواب بااین طور داده آید اگرمال تمام حرام وخبیث است چنانچه رشوت وکسب حرام دران زکات واجب نیست بلکه کل واجب التصدیق است ، فی القنیة لوکان الخبیث نصاباً لا یلزمه الزکوة لا ن الکل واجب

وعندی ان نظر مولانا غیرتجهة لان القول العلامة سلم کونه توکیلا ولیس کذلک کمالایخفی والحق فی النظر ان یقال ان التملیک الذی هو فعل المعطی غیرکاف فی اداء الزکوة بل یشترط التملیک وهواختیاری ههنافیتوقف علی قبول الاخذ ولم یوجد ههنالانه لم یعلم التملیک اصلافلایکفی هذا التملیک فی اداء الزکوة نعم ان علم الاخذ انه بالشرط وقبل ینادی الزکوة بلاشبهة بل مخ باقی حصه - ان الهبة والصدقة لاتفسدان بشرط الفاسدومن ههناعلم مافی قوله طال بقائه ، قطع نظر پرهیزګاری نه زما په نزد الی قوله په دی صورت کي دواړه دقوي شهادتونو په قرینو سره دامعترف دي چه تملیک مقصودنه دي - لان فی صورة المتعارفة تملیکا بالشرط لاهزلاوبینهمافرق فتدبر ، (داعبارت دتصحیح الاغلاط ص ۲۷ نه نقل شویدي)

(اصل سوال کي په ظاهره دخلط قید نشته اوپه دي وجه هغه عام دي اوشامل دي خالص اومخلوط ته خو حضرت مولانا صاحب دعرف دوجه نه دامال مخلوط وګڼلو اوپه هغي بنیادپي ددي جواب ورکړیدي خوپه حرام مال کي تفصیل دادي چه که چرته هغه حرام مال خالص وي بیاخوپه هغې کي زکات واجب نه دي ځکه چه که دهغې مالک معلوم دوي بیاخوددي واپس کول واجب دي اوکه معلوم نه وي نوټول صدقه کول واجب دي اوکه چرته مخلوط مال دي نوبیاپه کښې شي چه که چرته دحرام مال په اندازه دهغې نه اوباسي نودنصاب برابرپاتې کیږي یانه که پاتې کیږي نودي باقي کي زکات واجب دي اوکه نه پاتې کیږي نونه دي واجب دحضرت مولاناپه دی جواب بعض عالمانو کلام کړیدي کوم چه اولی په محلقاتو کي لیکلي شویدي اواحقرپه دي باندي دمحلقاتو په اصلاحاتو کي کلام کړیدي ، داعبارت دتصحیح الاغلاط ص ۲۸ نه نقل شویدي - ۱۲)

لتصدق علیه فلا یفید ایجاب التصدق ببعضه الخ ، ومثله فی البزازیه ۱۲ [ردالمحتار صـــ ۲۹] بـاب زکوة قوله بماله متعلق بخلط واما لوخلط بمغصوب اخر فلا زکوة فیه کمایذکره فی قولــه کمـا لوکان الکل خبیثاً ۱۲ ردمحتار صـ۲۹ هکذا فی الکتاب والله اعلم بالصواب حرره فقیرمحمد بخش عفی عنه ساکن چوټي تتمه اول صـــ ۱۳۳۹

دزمکي دخراج رقم چه دزمیندار په ذمه دي پدي کښي دزکات حکـــــم

سوال: (۲۹) دڅاڅه روپي دزمکي دخراج دزمیندار په ذمه قرض دي دري سوه روپونه زیات دي ددي زکات کوم وخت ورکول پکاردي اوپدي روپو کښي کال تیریدل شرط دي (۱) یانه ؟

جواب: فی الدرالمختار واعلم ان الدیون عندالامام ثلثة ، قوی ومتوسط وضعیف فتجب زکوتهـا اذاتم نصاباً وحال الحول الخ ، وفی ردالمحتارقوله حال الحول ای ولـــو قبـــل قبضــه فی القــوی والمتوسط وبعده فی الضعیف وفی الدرالمختار الدین القوی کقـــرض وبـــدل مـــال تجـــارة وفی العـالمګیری رجل اجرارمنه ثلث سنین کل سنة ثلث درهم فحین مضی ثمانیة اشهر ملک مائتی درهم فینعقد علیه الحول فاذامضی بعد ذالک فعلیه زکــوة خمـــس مائـــة الخ ، ددي بنیاد دي صورتونو کښي چه تپوس پکښي شویدي زکات فرض دي اوکال تیریدل هم شرط دي پاتي شوه داخبره چه ابتداء دکال کوم وخت به اخستي شي ؟ دهغې تفصیل دادي چه که دازمیندار دداسي نصاب مالک نه وي کوم چه دقرض دجنس نه دي نوبیاخوچه دي کوم وخت دنصاب برابرداجرت مالک شي نودغه وخت نه به حساب کولي شي کمـــا فـی العالمګیریه رجـــل اجرارمنه ثلث سنین کل سنة ثلث مائة درهم فحین مضی ثمانیـــة اشهرملک مـــائتی درهــم فینعقدعلیه الحول فاذامضی حول بعد ذالک علیه زکوة خمـــس مائـــة الخ . اوکه دي مالک وه دنصاب چه کوم ذکرکړي شو نوبیا دغه اجرت دکال دتیریدو دهغې اصل نصاب تابع به شي نوځومره چه دي داجرت مالک کیږي نوهغه مقدار به اصل نصاب سره ملاؤ شي ، نوچه اصل نصاب باندي کال تیرشو نوځومره چه دي داجرت مالک شوي په هغه هم کال تیرشو اواصل

---

(۱) دانفیر دتصحیح الاغلاط صـ۲۸ نه اخستی شویدي ۱۲ - نصاب اودي مقداردواړو باندي زکات واجب دي ، کماتقتضیه اطلاق قولهم والمستفادفی اثناء الحول یضم الی نصاب من جنسه انتهی شامی ، خوداکول دزکات ددین مذکورمخکي دقبض کولونه واجب نه دي ؛

هغه وخت واجب دي چه هر کله دهغه قرضه ذکرشوي نه دوه سوه درهمه يعني څلورپنځوس روپي دولس اني دري رتي وصول کړيشي لانه دين متوسط وقال فى الدرالمختار وعند قبض مائتين منه بغيرها اى من بدل مال لغير التجارت والدين المتوسط والله اعلم وعلم اتم واحکم [امداد صـــ۱۶۲ ج اول]

يوسړي دنصاب مالک نه وي اوزکات اخلي ددي څه حکم دي

سوال :(۳۰)يوسړي سره څه کالي دي خود نصاب نه کم دي ده ته که څوک زکات ورکوي نوخومره اندازي پوري اخستي شي؟

جواب : فى الدر المختار وکره اعطاء فقيرنصاباً واکثر، دي روايت نه معلومه شوه چه دغه کس ته بي دکراهت نه جائز دي خوچه بيا هم صاحب نصاب نه شي اوزيات اخستل ورته مکروه دي[1] والله اعلم [ذالحجه ۱۳۲۱۴هـ امداد صـ ۱۲۲ ج اول]

دم جواز استقراض ازمد زکات براىٔ مد ديگر مدرسه وصرف مد درديگر

سوال :(۳۱)يو مدرسه کښي دوه مده دي يو مد کښي زکات صدقي اوسرسايه وغيره امدني جمع کيږي اودويم مدعام اغراضودپاره دي چه په هغي کښي په يوځاي امدادي پيسي اوچندي اودواده دپروگرامونووغيره مال جمع کيږي دزکات ، صدقو ،فديو ، دمد نه ديتيمانانو اوغريبانانوخوراک سکاک دکپړو جاموضروريات پوره کيږي اوعام اغراضودمدنه داستاذانو تنخواه، دملازمينو ، دځاي کرائي اومدرسه دفرش په صفايانو کښي اوداشتهاراتودچهاپ کولواوخورولواويه ډاک وغيره باندي خرچ کيږي مدرسه دپاره دزمکي اخستلوپه وجه په مدرسه باندي څه روپي قرض دي اوهغه خپلي پيسي غوړاي اوپه مدرسه کښي دعام اغراضوپه مد کښي دومره شته چه دده قرضه هم پوره کړي اودهغي نه پاتي کيږي هم .اوس صرف دامعلومات کول غواړوچه دعام اواغراضومد کښي څومره روپي دي هغه وکړو اونوري دزکات دمدنه ورکړونود روادي يانه اودي خزانچي ددي وجه ونيل چه کيديشي مد زکات نه اخستل جائزنه وي نوبد يکښي ئي سوچ کول بلکه نوروا راکينو ئي هم وويل چه داجائزنه دي

[1] څوک چرته داسي قرضداردي باپي بال بچ زيات وي چه قرض اداکړي په حاجتونوباندي يې خرچ کړي اوبيانصاب نه پاتي کيږي [illegible] نه دي کذافى الدرالمختار ۱۲ منه

خوهغوي اونه منل اوهغوي وويل چه جائزدي اونه دزکات دمدنه داقرضه اداکړه نودي خزانچي دزکات دمدنه دغه قرضه اداکړه اوس داګناه دخزانچي په غاړه شته يانه اوداکاردرست دي که نه يعني دزکات نه قرضه اداکول جائزدي يانه جواب راکړي دايه ستاسوزياته مهرباني وي ؟

جواب : دورکوونکو[1] په اجازت باندي داجائزده ځکه چه دغه مالو نه ترڅوددوي داختيارنه وتلي نه وي .اوداخبره چه پديکښي ددي معطين دورکوونکي اجازت دلالة موجود دي کنه داپيواقعه ده خوظاهره داده چه اجازت شته ځکه چه چنده ورکوونکي چه کله چنده ورکوي نوهغوي خپل اختيارختم کړي اوهغه متولي ته مکمل اختيارورکړي ددي وجه دي مسئله کښي دغه جائزدي. والله اعلم [امداد صـ ۱۲۳ / ج اول]

سوال :(۳۲)دزکات مدنه قرض واخلي اوبل مدکښي ئي خرچ کړي پدي طريقه سره کله چنده راشي نوداماله به بيادزکات مدکښي شامل کړي داجائزدي يانه ؟

جواب : داهم دورکوونکي په اجازت سره جائزدي [۱۴ صفر ۱۳۳۰هـ تتمه اولى صـ ۵۸]

حکم زکات درمکانات کرايه

سوال :(۳۳)چه فرمايند علماء دين ان درين مسئله که برمکانات ودوکانات که زائدازسکونت هست وبراى کرايه گرافته مى شود آيازکات واجب است يانه .بينواتاجروا؟

جواب : زکات براينها واجب نيست زيراکه نامى شدن نصاب ازشرائط زکات است ومکانات نامى نيستند[2] ومنها کون النصاب نامياً .عالمگيرى ج اول صـــ۱۷۱. ولا فى ثياب البدن واثاث المنزل ودار السکنى ونحوها.درمختار قوله ونحوها کحوانيت وخانات يستغلها. [طحطاوى مصرى ج اول صـــ۳۹۲ ذى قعده ۱۳۰۰هـــ امداد ج اول صـــ۱۶٤]

که طالب العلم مالدار هم وي زکات اخستل ورته جائزدي

سوال :(۳٤)که سفرکښي يو مالدار طالب وي يا سړي صاحب نصاب دي برابره خبره ده که دنصاب په اندازه ورسره وي يانه دوي ته زکات ورکول جائزدي يانه ؟

[1] داتغيردتصحيح الاغلاط صـ ۲۹ نه نقل شويدي ۱۲

[2] البته که چرته څوک داتجارت کوي چه مکان اخلي اوخرڅوي نودمال تجارت په شان دي دمکانونوپه قيمت کي هم زکات لازم دي ۱۲

جواب: مسافرصاحب نصاب که طالب وي اوکه بل ځوک وي چه خرچه ورسره نه وي نو زکات اخستل ورته دحاجت په اندازه جائزدي که فقیرانودحاجت نه زیات هم اخستي شي ، ابن السبيل وهو كل من كان مالا لا معه درمختارفی الشامی عن الفتح ولايحل له ان ياخذلكثرمن حاجته،اوبعض فقهاء چه طالب علم دپاره زکات اخستل مطلقاً جائزکړيدي کمافی الدرالمختار ان طالب العلم يجوزله اخذالزكوة ولوغنياً الخ .نوداخبره قابل اعتماد نه ده کمافی الطحطاوی وهذالفرع مخالف لا طلا قهم الحرمة فی الغنی ولم يعتمده احد الخ.نو په مرجوح قول باندي فتوی ورکول باطل دي .كمابين فی رسم المفتی الله اعلم.

(۲۹ محرم ۱۳۰۴ھ امداد ص۱۲۵ ج اول)

تحقیق وجوب زکات براصل ومنافع درمال تجارت وکمپنی وصرف زکات درمدرسه

سوال: (۳۵) څه فرمائي علماء دین پدي مسئله کښي چه یو کمپني جوړه شویده چه یو خاص مقرر کړي شوي سرمایه سره کاروبارچلول غواړي اودا سرمایه په خاص مقرر حصو (سل یا زر) باندي تقسیم کړي اوبیا دا حصي په خاص قیمت باندي خرځوي ځوک یوه حصه اخلي ځوک دوه ځوک څلور ځوک لس الی غیر ذالک ،دغه شان دوي دسرسايي دغه خاص قیمت اخلي اوکاروبارچلوي اودکاروبارڅه قسم هم معلوم نه دي بلکه هغه دکمپني په مشوري دي که هغه سود باندي پیسي ورکولو کښي مصلحت ګڼړي نو په سود ورکوي اوکه څه قسم کارخاني جوړولو کښي فائده ګڼړي نو کارخانه جوړه وي که دوکان کښي فائده وي نو دوکان جوړه وي بس کوم کارکښي ورته فائده وي هغه کوي حصي اخستونکي والو ته ددي کاروبارسره هیڅ تعلق نشته نه مال تقسیمولي اونه روپي واپس اخستلي شي اونه انفرادي حیثیت سره څه قسم مداخلت کولي شي اواجتماعي حیثیت سره صرف دومره مداخلت کولي شي څومره چه دوي ته دکمپني دقواعداو ضوابط په دو سره حق حاصل دي انفرادي حیثیت سره هرحصه دارته دوه حقه حاصل دي یوداچه نفع څومره دده حصه کښي راشي هغه دي واخلي ، دویمه داچه که دي خپله حصه دچا په لاس خرڅوي نو خرڅولي شي ددي نه زیات حق ورته نشته ددي متعلق اوس داخبره معلومول غواړوچه هغه روپي چه کمپني والو ددي حصواخستوونکي والونه حاصل کړیدي اودي سره ئي کوم څیزونه منقوله اوغیرمنقوله اخستي دي پاتي هغه روپي څه بل کار کښي لګولي دي داد چا په ملک کښي دي

دحصواخستونکي والو یادکمپني که کمپني ته مالک اووائي اوداحصي اخستونکي (خریداران شیرز) دکمپني نه سودي قرضه اخستوونکي اوګڼړي نودوي به داصل مال اودسود دواړو زکات اداکوي یاصرف دسود ، جواب ورکولو کښي داخبره به هم مخي ته کیږي چه حصه اخستوونکي اصل رقم دکمپني نه شي وصولولی ، البته که چري کمپني ماته شي نودهغوي سرمایه به په حصه دارانو کښي دحصوپه اندازه تقسیم کولي شي اوکه حصو اخستوونکي والوته مالک اووئي اودکمپني ارکان نوردي صورت کښي دوي زکات کومي قاعدي مطابق اداکوي پدي جواب کښي هم داخبره مخي ته کیږي چه دي حصو اخستوونکي والوته په کمپني کښي سیوا ددغه دوه حقوقونه چه ذکرشول نورڅه اختیارنشته اوداخبره دي هم مخي ته وي دمالکانو اختیاراتونه دومره مجبوري اودکمپني دومره پوره اختیاردي کمپني سره غاصب په درجه کښي داخل نه کړي .بینواتوجروا؟

جواب: دقواعدو په مقتضي سره ښکاره خبره خوداده چه کمپني کښي درقم داخلولي نه پس دي داحصه داران مالکان شي اودکارکوونکي وکیل اودواپس نه راتلو هغه فاسد شرط چه دهغي اثرد حصه دارانو په ګټي باندي ونه غورزیږي بلکه دوکیل په مزدوري باندي اوغورزیږي چه کوم مزدوري مقرر ده دهغي نه زياتي هغه مستحق نه شي اودا شرط خودمالک په رضاسره دي ددي وجه غصب کښي نه داخلیږي اوهرکله چه حصه داران درقم مالکان دي نوزکات هم په دوي واجب دي پاتي داخبره چه که داتحقیق ونه کړیشي چه دغه رقم څومره اندازه کښي اوکوم صورت کښي دي بیاهم پدي بنیاد چه داصل رقم محل زکات واجیدل یقیني دي اوبل څه امردزکات غورزوونکي اومنع کوونکي دي هغه مشکوک دي اواليقين لا يزول بالشک پدي ټول رقم باندي زکات واجب دي اوکومه نفع چه حاصله شویده په هغه کښي دشک څه وجه نشته څه پوري چه دهغي خلاف څه خبره ښکاره شوي نه وي ، اواستحصاباً دغه حکم به باقي والله اعلم .اوواقفین نه معلومه شوه چه ددي خبروتحقیق هم اسانتیاسره کیدیشي پدي صورت کښي دزکات حکم به په اسانتیاسره مقررکړیشي . (نوټ) ښه خبره داده چه علماء سره هم مشوره وکړیشي . [۲۳ ذی الحجه ۱۳۵۳ھ النور ذی القعده ۵۴ھ]

سوال: (۳۶) څه فرمائي علماء دین پدي مسائلو کښي اول یوسړي په یوانجمن دمتفق تجارت کښي شریکیدو دپاره پیسي داخل کړي شریک ته په انجمن ددي کاروکښي داخستو خرڅولو دمال انتظام اواهتمام هیڅ قسم مداخلت نشته ، مهتمم اومشرد کارشپږ میاشتي کښي برابره خبره که کال پوره وي خودمقرري قاعدي مطابق دګټي پیسي شریکانو ته لیږي صورت

کښي داګټه چه شریک ته رسیدلي ده پدي زکات واجب دي یاپه اصل مال وګټي پیسي شریکانوته دواړوباندي. دوهم داچه دزکات مال دمسلمانانودماشومانوپه تعلیم باندي خرچ کول جائزدي یانه عام ددي نه چه داتعلیم دیني وي یادنیوي مثلاً زکات ورکوونکي صرف دقومي همدردي اواسلامي محبت په خاطرد امقصود وي چه مسلمانان په دي زمانه کښي دهغه علومونه چه آله دکاروبارو دژوند ګرځیدلي ده نه شي حاصلولي ددي وجي نه چه دوي په غریبي کښي ژوند تیروي. چه دوي په هغه علومو کښي ښه ماهرشي اوپه دوي دحکومت نوکرۍ اومعاش دروزاه کولاؤشي اوبدي سره ددوي دغه غریبي اوتنګدستي لرشي بیا چه دوي ددنیوي حاجت نه وزګارشي نوکه دالله توفیق ملګري وي نو نه دوي په دیني کارونو کښي دمدد کولو هم امید شته نو دغه مال دزکات ددي ماشومانوپه خوراک څکاک کتابونو اخستو یا استاذانو په تنخوایا

مدرسه په جوړولو کښي یانورضروري سامان ناسته ولاړه کښي اونورد ارام په اسبابو کښي ددي ماشومانو اومدرسي والوکښي خرچ کول جائزدي یانه ؟

جواب: دړومبي سوال جواب دادي چه دکال په پوره کیدو کښي چه څومره قیمت وي داصل مال دهغي په حصه کښي اوبدي چه څومره ګټه راغلیده دواړو کښي زکات واجب دي في الدرالمختار نام ولوتقديراً بالقدرة على الا ستمناء ولوبنائبه والمستفادوسط الحول يضم الى نصاب من جنسه فيزكيه بحول الا صل۱۲ وفي عرض تجارة قيمة نـصاب ۱۲والله اعلـم . دوهم سوال جواب دزکات اداکولو کښي چونکه تملیک شرط دي نو دغه ذکرکړیشوي مصرفونو کښي زکات نه اداکیږي البته دجائزحیله ده [1] چه اول دي چامستحق کس ته تملیک وکړي بیا دهغه دخپل طرف نه په دغه مصرفونو کښي خرچ کولو هم اختیار شته (يصرف الى كلهم اوبعضهم تمليكاً لا الى بناء مسجد وكفن ميت وقضاء دينه وثمن مايتعلق لعدم التمليك وهـو الركن وقـدمنا ان الحيلة ان يتصدق على الفقير ثم يامره ان يفعل هذه الاشياء وهل له ان يخالف امره لم اره والظاهر نعم ۱۲ والله اعلم [امداد صـــ ۱٦٥ ج اول] کمنپي کښي چه کومي روپي ولګوي اصل اوګټه دواړو باندي دزکات حکم

---

[1] خوداحیله که چرته صرف دضابطي پوره کولودپاره بي کړي وي نوزکات نه اداکیږي اوکه چرته تملیک واقعي کیږي نودیته حیلهوئیل مجازدي اوزکات اداکیږي ۱۲ منه۔

سوال: (۳۷) زید دیومیل کمپني حصي واخشتي یوه حصه یي په اوه سوه واخسته نن هغه حصه په څلورسوه کښي نیولي کیږي اصل حصه دسلوروپو دهغي دکال ګټه کله سل روپي وي کله زیاته، زید زکات څرنګه ورکړي اوتفصیل سره عرض دادي چه دیکښي جانداد یعني عمارت اودهغي مشینونه سانچي وغیره ټول دپنځویشت لاکوروپودي اوجمع شوي روپي پنځویشت لاکه دي دزیدپه حصه کچیري داجانداداودغه جمع شوي روپي تقسیم شي نو ددووسوروپوراتلوامید دي داخوجواب دي. اوس بنده بیاتفصیل سره عرض کوي هرکله چه کمپني شروع شوه نویوه حصه دسلوروپوه دغه رنګ دلسوزرو حصو اخستونکي خلق شول چه دهغي نه لس لاکه روپي جمع شوي هغي سره یي یوعمارت جوړ کړاوڅه مشینونه یي راوړل هغه یي پکښي اودرول په ړومبي کال سل روپي باندي دغه کمپني ګټه لس روپي تقسیم کړه نویوه حصه چه دسلوروپوه هغه په دوه سوه روپي دي مخکښي اخستونکي نه عمر واخسته دوهم کال دشلو روپو یوه حصه چه دسلو وه په هغي تقسیم شوه چه دهغي په وجه دحصي قیمت اوچت دري سوه شو دعمر نه یوه حصه بکرپه دري سوه کښي واخسته دغه شان دزیاتي ګټي کولودوجي قیمت اوچت شو اوبکرنه خالدڅلوسوه کښي واخسته بیاخالدنه زاهدشپږسوه کښي بیازاهدنه زیدپه اوه سوه کښي واخسته اوس پدي کال کښي هغه حصه په څلورسوه کښي نیولي کیږي سرمایه اوعمارت چه جمع کړیشي نو زیدپه حصه کښي دوه سوه روپي راتلي شي اودکال ګټه کله سل روپي کله دوه سوه کله یونیم سل روپي اوس سوال دادي چه دکال په امدني باندي زکات ورکړي یاسرمایه اوجانداد قیمت کړي چه څومره حصه دزیدپه حصه کښي راشي په هغه اندازه زکات ورکړي یااصل حصه دسلو وه په هغه اندازه زکات ورکړي یا نن صبادهغي قیمت څلورسوه دي په هغه اندازه زکات ورکړي تاسو ولیکي؟

جواب: جواب نه مخکښي دامقدمي اوریدل پکاردي (۱) دتجارت په اصل اوګټي دواړو باندي زکات دي (۲) په عماراتواو الاتویعني مشینونوباندي زکات واجب نه دي

(۳) حرام مال چه خپل ملکیت کښي ګډوډ شي زکات پري شته خوپه اندازي دحق دبل کس چه دقرض دوجه نه دي زکات نه مستثنی دي یعني زکات پري نشته ددي مقدماتو نه پس اوس پوهیدل پکاردي چه په ړومبني شرکت کښي داصل شریک چه کومه حصه مثلاً سل روپي وه په هغه کښي څه حصه په عمارتونو اومشینونوباندي ولګیده دهغي زکات واجب نه دي اوڅه حصه تجارت کښي ولګیده په هغي کي سره دګټي زکات واجب دي برابره خبره ده که دغه ګټه ټوله دي شریک ته ملاؤ شوي وي یا تقسیم شوي وي اوپه نوره سرمایه کښي شامل شوي وي

مثلاً سلورویو کښي شل زرۍ په عمارتونو او مشینونو بوبانديي ولګي او دغه اتیاؤ بانديي پنځلس روپۍ ګټه اوشي چه په هغي کښي لس شریک نه ملاؤشي او پنځه په سرمایه په داخل کړیشي اوس زکات په پنځه نوي روپۍ بانديي واجب دي. بیا چه دا حصه مثلاً چاواخسته نو حقیقت دعقد به داشي چه پنځه اتیا روپۍ د پنځه اتیاروپو په بدل کښي شوي او پوسل پنځلس روپۍ دحصي دعمارتونو او مشینونو په بدل کښي ځکه چه ددي تاویل نه بغیر دا بیع نه جائز کیږي اوس شک په دغه قبضه کښي دي نو دمشین او عمارت په حصه کښي قبض هدو شرط هم نه دي اوس حصه دپنځوسرپاتي شوه نو بیع صرف په بنیاد خو قبض په مجلس کښي ضروري دي او هغه دلته ممکن نه دي اوس ددي صحیح کیدلو دپاره داحیله کیدي شي چه کوم سري صورةً او عرفاً خرڅوونکي دي هغه دا خستونکي دحصي پنځه اتیا روپۍ بیا ددي پنځه اتیاروپو حواله دي په هغه پنځه اتیا روپو بانديي او کړي چه په کارخانه کښي دده منیجر په قبضه کښي ده اوس دي سره دغه اخستونکي دخپل طرف نه وکیل او امین جوړوي اوس دا حواله سره دقبض ددي امین نه دغه پنځه اتیا روپۍ ددغه اخستونکي دحصي په ملکیت کښي راغي او معامله پوره شوه اوس دملکیت راتلو دورځي نه کال تیریدو پوري به کتلي شي چه دعمارتونو او مشینونو نه علاوه تو له سرمایه څومره ده او دغه پنځه اتیا روپو سره چه اصل مال او ګټه ملاؤکړي نو څومره شول نو دغه مجموعه بانديي زکات واجب دي. او د هغي قیمت اعتبار به نه کیږي دکوم بدل کښي ئي چه دا حصه اخستلي ده دغه رنګ که دا حصه بل چا اخستلي وي دغه تفصیل او تاویل او حکمونه به په هغي کښي هم وي او که بغیر ددي تاویل نه ئي اخستي ده ، نو که دقیمت مقدار دحصي نه زیات وي نو اوس دا عقد جائز نه دي خو دي حصي کښي دچا حق نشته ځکه چه زکات به صرف په حصه کښي وي او که دقیمت اندازه او مقدار دحصه نه کم وي نو دا عقد هم ناجائز دي او زیاتي حصه دبل کس یعني دخرڅوونکي (بایع) حق دي خو چونکه دغه اخستونکي په قبض او ملکیت کښي یوځاي دي ددي وجه نه دزکات به مجموعه کښي وي مګر دهغه حق چه ذکر شو د هغي په اندازه دا سړي قرضدار دي. ددي وجه نه دغه حیثیت دزکات دا اندازې نه به باهر وي البته که دغه صاحب معاف کړي نو بیا باوجود ددي نه چه دا مال حرام دي خو قرض هم نشته نو مجموعه کښي به زکات ورکوي. او که دا خرڅوونکي (بایع) حربي وي نو بیا پدي روایت سره چه اباحت زیاده من الحربي دا زیاتي حصه دغیر حق هم نه دي امید دي چه ددي تقریر سره دسوال دټولو حصو جواب وشو. الله اعلم [۴ شوال ۱۲۳۹ نور علماء ته هم وښایه یا خپله سوچ کول ضروري دي] حوادث ص ۴۱ ج ۱]

سوال:(۳۸)مخکښي ذکرشوي کمپني [1] (یعني دکپړواو دمالوچو میلونه) که د دوزرو روپو حصي واخلي نو ددي په امدني بانديي زکات واجب دي یا په دغه دوه زره روپو بانديي زکات واجب دي یا امدني او دغه دو زره روپو دواړو بانديي زکات واجب دي ؟

جواب: زکات په اصل مال او ګټه دواړو بانديي واجب دي [تتمه اولی ص ۱۰۰]

په ورک شوي مال کښي دزکات ورکولو حکم

سوال:(۳۹)که څه کالي دوه کاله سړي سره او بیا دسړي نه لاړشي یعني ورک شي نو هغي زکات ورکول لازم دي یا نه ؟

جواب: که په خپله ئي خرچ کړل نو بیا دتیروشوو کلونو زکات ورکول واجب دي بخلاف المستهلک بعد الحول لوجود التعدی او که پخپله ورک شول نو تیروشو کالونو زکات ساقط یعني ختم شو. ولافي هالک بعد وجوبها او که دور کیدو نه پس بیا ملاؤشول نو بیا به کتلي شي که چرته دغه کال دزکات پوره کیدو نه پس ملاؤ شول نو ددغه ورک شو ورځو زکات پري لازم نه دي ولافي مال مفقود وجده بعد سنین ، پاتي شوه د اتنده دزکات ورکولو مسئله دهغي حکم دادي نو که دي کس سره ددي نه علاوه مخکښي نه نور قسم نصاب وي نو هغي سره به ددي زکات هم ورکړي او که دنصاب نه کم وي نو بیا دموندلو دورځي نه کال پوره تیریدل شرط دي. والمستفاد وسط الحول یضم الی نصاب من جنسه فیزکیه بحول الاصل قوله الی النصاب قید به لانه لوکان النصاب ناقصاً وکمل بالمستفاد فان الحول ینعقد علیه عند الکمال شامی . او که دکال دمینځ کښي ملاؤ شول نو بیا به هم کتلي شي چه ده سره نور مال هم داسي قسم شته یا نه. که چري نشته نو بیا دموندلو دوخت چه پري کال تیرشو نو زکات پري لازم او که مال هم شته چه دواړه ملاؤشي نو نصاب یا نصاب نه زیاتیږي نو دهغي زکات به هم دغه مال سره ورکړي. وشرط کمال النصاب فی الحول فلایضر نقصانه بینهافلوهلک کله بطل الحول ، درمختار.

والله اعلم [۱۲ ذي القعده ۱۳۰۴ه امداد ص ۱۲۲ جلد اول]

---

[1] یعني دکپړي او دمالوچو دمیلونو دحصو چه دهغي تذکره دکتاب په اصل ترتیب کي ددي نه مخکښي سوال کي راغلیده ۱۲ محمد شفیع]

په کالو ، لوښو ، اوغیره منقوله جائداد کښې دزکات حکم

سوال:(۴۰)څه فرمائي علماء دين چه دزكات دفرض كيدومسئله په كالودزنانه باندې جاري كيږي ياهغه خاپونه اوكلي چه پري سالانه گټه راځي په هغي باندي زكات شته يادهغه ځاي په قيمت باندي زكات وركول پكاردي اوهغه لوښي لكه ديګونه اوتپونه چه غټ غټ وي او تول كال كښي كله كله استعماليږي اوهره ورځ نه استعماليږي توداسي لوښي په هغي لوښوكښي شامليږي چه كوم استعماليږي يانه بينواتواجروا؟

جواب: دروميې سوال جواب چه كوم كالي داغستودپاره نه وي بلكه داجاري ،تجارت يادحاجت په وخت كښي داستعمالولودپاره وي ياهغه كالي چه دهغي استعمال منع وي پديكښي په اتفاق دمجتهدينو زكات فرض دي اوهغه كالي چه دهغي استعمالول مباح (جائز) دي پديكښي داماماتواختلاف دي امام ابوحنفيه (رح) په نزد ديكښي فرض دي لعموم قوله تعالیٰ والذين يكنزون الذهب والفضة ولا ينفقونها فی سبيل الله فبشرهم بعذاب اليم [الأية] وقوله عليه السلام فی الرقة ربع العشر وخصوص ما ورد فيه وهو روی الترمذی عن عمرو بن شعيب عن ابيه عن جده ان امرتين اتيارسول الله صلی الله عليه والسلام فی ايديهماسواران من ذهب فقال لهما تودیان زكوته قالتالا فقال لهمارسول الله صلی الله عليه والسلام اتحبان ان يسور كماالله بسوارين من نار قالتا لا قال فاديازكوته، ومارویٰ مالک وابوداودعن ام سلمة قالت كنت البس اوضاحاً من ذهب فقلت يارسول الله صلی الله عليه والسلام اكنز هو فقال مابلغ ان يودی زكوته فزكی فليس بكنز والله اعلم د دويم سوال جواب قاعده كليه كه نصاب دنقدونه دي نوپديكښي زكات مطلقاًواجب دي اوكه څناورو كښي وي اوڅريدونكي وي بياهم زكات واجب دي اوكه نقدهم نه دي اوڅريدونكي څاروي نه دي نوبيه نيت دتجارت سره زكات واجب دي كه نيت دتجارت نه وي بيانه دي واجب بل لا بدمع الحول من شئی اخر وهو الثمنية كمافی الثمين ای الذهب والفضة اوالسوم كمافی الا نعام اونية التجارة فی غيرماذكرنا. شرح الوقاية نوهغه خاپونه چه دتجارت دپاره وي دكال تيريدونه پس دهغي په قيمت اوګټي باندي زكات واجب دي اوكه اجاري دپاره وي يا خپل مصرفونودپاره وي نوبيخپله خوديكښي واجب نه دي وكالحوانيت والعقارت،شامی اودغه شان كه داګټه ياكرايه دغلي دجنس نه وي البته كه داكه كرايه ياداګټه دنقدياتونه وي اويدي كال تيرشي نويدي زكات واجب دي لما مر من وجوب الزكوة

فی النقدين مطلقاً والله اعلم دريم سوال جواب : هغه لوښي چه استعماليږي هغه په حاجت اصليه كښي داخل دي پدي كښي زكات نشته ، ولابد ان يكون فاضلاً من حاجته الاصليه كالاطعمة والثياب واثاث المنزل .شرح الوقايه ، والله اعلم [امداد ص ۱۶۷ جلد ۱]

دمنې اوړيه ذريعې سره زكات اداكول

سوال:(۴۱) منې اوړيه ذريعي سره فقيرته زكات ليږلوسره زكات اداكيږي يانه .وجه دشك داده چه فقهافرمائي چه دزكات په اداكولوكښي كافرلره وكيل نيول جائزدي خودلته داک خاني والاصرف وكيل نه دي بلكه داعقدقرض كښي داخليد وسره داصورت مومي چه دي كافرمديون ته وېنلې شي چه زمونږداقرض زيدته وركړه اوزره كښي دانيت دي چه مونږدازكات كښي وركوؤ لهذادي مسئله كښي دوؤوجونه شك دي يو داچه حواله سره زكات اداكيږي يانه ، دويم داچه دكافردغه شان وركولوسره زكات اداكيږي يانه . نن صبا په مدرسه كښي ددي ډيردستوردي؟

جواب: فی الدرالمختار[1] مسائل متفرقه من كتاب الهبة تمليک الدين ممن ليس الدين باطل الا فی ثلث حوالة اووصية واذسلط المملک المديون علی قبضه ای الدين فصيح حينئذ ومنه مالو وهبت من ابنهاماعلی ابيه فالمعتمدالصحة للتسليط، ددي جزئيه ومنه مالووهبت نه معلومه شوه چه په صورت دتسليط كښي فی الحال تمليک كيږي گڼي صحت به دتسليط سره نه معلل كوي ځكه چه دقبض حسي وخت كښي دهبې په صحيح والي كښي هيڅ شک نشته بيا ديكښي صحت ته ترجيح وركولي كښي څه معنیٰ نشته .ددي نه ثابته شوه چه خپله دغه تسليط تمليک دي اګرچه دقبض نه مخكښي ددغه تسليط نه جداكيدل جائزدي ، لعدم تمام العقد كمالوقال وهبت ولم يقل الا خرقلبت يصح رجوعه ومع ذالک هوتمليک ويصح نية الزكوة عنده وان لم يتووقت قبول الموهوب لـه ، پس هركله داتسليط تمليک دي اوتمليک په وخت كښي نيت كول دا داكولو د زكات كافي دي .اومنې اړډرليږلو كښي خوبقيناً تسليط دي لهذا دمنې اړډر درواندويه وخت نيت كافي دي اوس دواړه وجه دشك ختم شوي . ځكه چه دلته حواله سره زكات ادانه شو

---

[1] ددی جواب وضاحت امدادالفتاوی دريم جلد ص ۵۲ كي شته ۱۲ تصحيح الاغلاط ص ۳۰ ،

اونه دکافر په ورکولو سره بلکه دزکات ورکوونکي په تسلیط سره اداشو کما ذکرۃ مفصلا فقط والله اعلم ۱۸ ربیع الاول سنه ۱۳۲۱ھ [امداد ص ۱۲۹ ج ۱]

تحقيق داداکولو دزکات په ذريعه دمني ارډر اوپدي مسئله باندې دشبه جواب

سوال:(۴۲) فتاوی اشرفیه حصه دوم صفحه ۲۵ کښې دزکات په مني ارډر سره لیږلو کښې ماته پوره په پوهه کښې نه دي راغلي ځکه چه تسلیط ته ئې تملیک وئیلي دي اوس دي مسئلي کښې که چیرې فقیر ته براه راست مني ارډر نه کړې بلکه دیو مالدار په ذریعه سره ولیږي نو لازماً داتسلیط تملیک نه دي بلکه توکیل بالقبض دي یعني دي دقبض دپاره وکیل شو اوس نیت کول دمني ارډ د لیږلو په وخت کښې هم نه راځي اوفقهاء دي تسلیط ته توکیل بالقبض وائي اوبیا دي ته وروستو مسلط اصل فی القبض لنفسه وي. شامي قوله علی قبضه باندې ساتحاني نه نقل کړې دي. رج بصیر وکیلا فی القبض عن الا مرثم اصیلاً فی القبض لنفسه الخ. اوکوم عبارت چه درمختاروا لا ا لا ا ذاسلطه سره تعبیر کړيدي ،هدایه صفحه [۱۷۰] کتاب الوکالة بالبیع والشراء من تملیک الدین من غیر من علیه الدین من غیر ان یوکله بقبضه وذالک لا یجوز الی قوله بخلاف ماذاعین البائع لا نه یصیر وکیلا عنه فی القبض ثم بتملکه الخ ،سره تعبیر کړيدي دي سره ثابته شوه چه توکیل اوکیل جوړیدل ،تسلیط (غلبه مونډل) یوشي دي اوصاحب درمختارهم کتاب الوکاله بالبیع والشراء ، کښې دي مسئله لره وجعل البائع وکیلا بالقبض دلا لة الخ ، نه تعبیر کړیده اوکه تسلیط نه مراد مانحن فیه من تملیک هم مرادشي نومعنی دالا اذاسلطه علی قبضه شوه اوتملیک په قبض توکیل شو په قبض نه تملیک په عین باندې نو نیت په وخت دتملیک کښې ځنګه مستحق شو؟

جواب: دتسلیط اوتوکیل یووالی هغه وخت به نقصاني وه چه دلته صرف تسلیط وي اودلته خوتملیک هم دي. کماهو مذکور صریحاً فی قوله تملیک الدین الخ، اوددي په شرط کښې وئیلي وه. اذاسلطه الخ، نوتملیک سره دتوکیل بالقبض راغي اوتملیک په وخت کښې نیت ورسره تړلي شویدي نوبس داخاي دشک نه دي. اوسوال کښې چه دساتحاني عبارت دي دهغي نه پس ساتحاني وائي واذانوی فی ذالک التصدق بالزکوة اجزاه کما الاشباه ، پدي تقریر سره چه کومه ویره وه دیوالي دتملیک اوتسلیط هغه ختم شوه ځکه چه دلته اتحاد یوالی دعوی نه ده شوي اوکه دي جملي نه هم وي چه په خپله تملیک تسلیط دي نودي نه

اصل مقصود دي دادعوی کول دي چه تملیک دقبض وخته پورې نه دي وروستوشویدي ، بلکه فی الحال وروستوشویدي البته په تعبیر کښې تسامح ده. مقصود ده دعوی جداوالی اوفرق دي په تملیک اوتسلیط کښې. فافهم (پوه شه) البته دغیر فقیر په معرفت سره لیږلو کښې داتقریرنه جاري کیږي دهغي اصل مسائل هم تپوس نه دي کړې ځنګه چه دي ظاهري عبارت نه معلومیږي دمدارسوذکر خو عام وو خوهغي طرفته توجه ونه کړې شوه. بهرحال کښې وکیل نیت ته به شرط ووئیلي شي. واقعي اصل جواب کښې ددي وضاحت مناسب بلکه ضروري وه والله اعلم [۲۵ ذی الحجه ۱۳۲۱ھ امداد ص ۵۲ ج ۳]

د زکات په وکیل جوړولوکښې غلطي

سوال:(۴۳) زید عمرو ته ووئیل چه زه څه کتابونه زکات کښې ورکول غواړم پدیکښې لس کتابونه هندي ته دورکولو اراده ده. ته په څه چل دهغي نه تپوس وکړه چه ایاهغي ته اولیږلې شي یا ته دهغي دطرفنه وکالة قبضه کړه هنده په دغه بنارکښې نه وه. اتفاقاً سره بکر راغي نوعمرو ورته ووئیل چه هندی نه تپوس وکړه اوبیاماته خبرراکړه. غلطي سره بکر په ځاي دهندي زینب نه تپوس وکړو اوعمروته ئې خبر ولیږلو چه زه نه خرڅوم ته خپله قبض کړه اوخرڅ ئې کړه خط کښې بکر دزینب هندي هیڅ چانوم نه دي لیکلي عمرو دا وګڼل چه زه دهندي وکیل یم اوکتابونه یې خرڅ کړل. هرکله چه یې قیمت بکرته اولیږلو اوورته یې ولیکل چه داهندي ته ورکړه نوبکرخبروړکړو چه ماخو دزینب نه تپوس کړې وه. اوتاخود زینب باره کي ماته وئیلي وه غرض داچه زید په خیال کي کتابونه هندي ته ورکړل اوعمروهم خپل خیال کي دهندي طرف نه قبض وکړو. بکرنه اتفاقاً غلطي وشوه اوس دازکات اداشویا نه اوددي کتابونوقیمت چاته ورکول پکاردي دي مسئله کي ډیره پریشاني ده؟

جواب: دلته واقع کي عمرو دهیچاوکیل هم نه دي اوس دغه تصرف به په حق دکتابونو دزید کي بیع فضولي ده. که زیدئي نافذکوي نونافذیږي اوقیمت په ملک دزید کي دي او کتابونو په ځاي به اوس زکات کي روپې اوګڼلی شي که اوس دغه روپې په قبضه دزینب کي نه وي راغلي نوزیدته اختیاردي چه چاته ورکوي. اوکه داقبض زینب ته رسیدلي دي او دابیعنه باقي دي نواوس دزیدنیت کولوسره زکات اداکیږي. اوکه باقي نه وي نوزید دي دعمرو نه رجوع وکړي اوعمرو دي دبکرنه اوبکر دي دزینب نه ځکه دا ټول تصرفات وغیره په حق کي وشول. اوکه زید دابیع نافذنه کړه نوبیادهم دغه کسان رجوع وکړي اورجوع نه پس به

داکتابونه مشتري نه واپس واخلي اوروپې دي ورته واپس ورکړي . او داکتابونه په بيازيدته ورکړي بياچه داکتابونه زکات چاته هم ورکوي ورديّ کړي . فقط [امداد ص١٢٩ ج١]

د وکيل زکات روپې په نو تو نوسره بدلول

سوال:(٤٤) يوسړي څه روپې دزکات په مد کې خپل يو دوست ته ورکړي چه دارقم يو مدرسي ته ولیږه دي دوست دغه روپې دنوټونوپه لفافه کې بند کړې او خپل نابالغ خوي ته چه په څه نه پوهيږي ور يې کړي چه دارجسټري کړه دي ماشوم په هيره سره درجسټري په ځاي دغه شان خط کې بندي کړي اوډاک خانه کې يې پريخودي دي خط کې دمدرسي دپاره هغه نوټونه وه خوداخط لاره کې ورک شو اومدرسي ته ونه رسيدو . اوس اوفرمائي چه داروپې دچاپه ذمه دي چه مدريسه ته يې اداکړي بينواتوجروا؟

جواب: فى الدالمختار كتاب الايداع فلودفعهالولده المميزالى قوله لم يضمن ، خلاصه ددي روايت په بنياد داشوه چه دي ماشوم ته ورکولوباندي خوڅه ضمان نشته خوچه داروپې يې نوټونوسره بدل کړي نودي سره دادوست ضامن شو اوروپې به ددي دوست په ذمه (١)شي . فقط [٢٨ رجب ١٣٢٩هـ (تتمه صـ٥٧ ج ١)]

سيدانو دپاره د زکات حرام دي

سوال:(٤٥) سيد صاحب نصاب وي او دده خپلوانو کې غريب او محتاج وي او دهغوي دامداد ذريعه بغير دزکات نه نه وي داسي حالت کې دي سيدصاحب نصاب لره جائزدي چه دي خپل خپلوانوته چه محتاج زکات ورکړي يانه دي دپاره چه دهغوي حاجت پوره شي دغه رنګ نور قومونه شيخ مغل پښتانه چه صاحب نصاب وي اوهغوي سيد غريب ته زکات کې څه ورکړي نو داجائزدي يانه ځکه چه نن صبا دسيدانو دذريعه معاش دنشت والى دوجه حالت ډيرکمزورى دي اوبيت المال هم نشته چه دهغي سره يې امداد وکړيشي . دحديث اودفقه په دلائلوسره تفصيل سره وليکي .

جواب: بني هاشم ته زکات ورکول جائزنه دي اګرکه ورکوونکي هم بني هاشم وي يانور څوک وي . لقوله عليه السلام لابى رافع مولى القوم من انفسهم وانا لا تحل لنا الى بنى هاشم الخ ، قلت

(١) البته که چرته دابدليدل په اجازت سره واقع شوي وي نوبيا ضامن نه دي ١٢ .

ولا تغتر بمايذكر ومن جوازهالهم لسقوط عوضهاوهو الخمس لا نه قياس فى مقابلة النص اولاً ثم هذاالقياس نفسه لا يتم لا نه عليه السلام علل حرمتها بكونها اوساخ الناس لا تعويض الخمس ههنا وانما هى حكمه مستقله فى مشروعية حكم الخمس فلما لم يكن من ارتفاع الخمس ارتفاع حرمةالزكوة فتأمل حق التامل . اوسيدانو خدمت په هريو اونفلي صدقوسره ممکن دي اودا دوي دپاره حلال وي . فى الهدايه بعدالرواية المذكورة بخلاف التطوع فقط (امداد/صـ ١٧٠/ ج١)

يوسړى په سيد مشهوروي هغه ته دزکات ورکولو څه حکم دي

سوال:(٤٦) يوکس ته سيد وئيلي کيږي خودهغه دنسب څه پته نه لګي بلکه داخيال کولي شي چه دهغه سره غم خواري وغيره کيدلي شي پدي وجه ورته سيد وئيلي کيږي اوهغه رشتي کومي چه عام طور سره په شيخ سره رابللي شي هم دوي کي شته نوداسي سړي ته زکات مال ورکولي شي يانه ياصرف دسيدنوم اوريدلوسره دده سيد منل پکاردي اګرکه سيد نه وي ؟

جواب:) نسب کي تسامح يعني اوريدل کافى دي چه کله ښکاره دروغژن نه وي . فقط (ذى الحجه ١٣٣٠ هـ [تتمه اول صـ ٥٨]

نا بالغ باندي زکات نشته

سوال:(٤٧) (١) ولي اوديتيم په سرپرست باندي ديتيم په مال کې زکات واجب دي يانه ؟ (٢) اويتيم چه دنصاب مالک دي زکات پري شته يانه ؟

جواب: نمبر١ نمبر٢ نشته . بلکه جائزهم نه دي . فقط .

سوال:(٤٨) دنابالغه دڅه شي نه زکات ويستل پکاردي يانه ، اميددي چه دشريعت په رڼاکي جواب سره خبرداري اوفرمائيلي شي ؟

جواب: فى الدرالمختار وشرط افتراضها (الزكوة) عقل و بلوغ الخ ، وفيه ويجب (العشر) فى الذين وفى ارض صغيرالخ ، دي روايتونوته دوه خبري معلومي شوي يودا چه دنابالغ په مال کې زکات واجب نه دي دويم دا چه دنابالغه دزمکې په پيداوارکې عشرواجب دي . بعض خلق عشرته هم زکات واني ددي وجه جواب کي م دداواروحکم وليکلو (تتمه ثالثه / صـ ٧٢)

دبل چاپه مکان کي اوسیدونکي مالک نصاب باندي زکات واجب دي

سوال :(٤٩) مثلاً یو سړي دچاپه مکان کي بغیر دکرائي نه اوسیږي خو خپل ملکیت کښي هیڅ خاي داوسیدونشته روزانه خرچونه په مشکل سره یي څه اندازي پوري بچ کول چه هغه نصاب ته ورسیدل بیا په هغي کالي جوړ کړل دسوال په طوریي خپل کوروالـه ته څه داغستو دپاره حواله کړل اوس داکالي دخپل اصلي حاجتونونه فارغ ګڼرلي کیږي یانه ؟

جواب: ردالمحتار جلد ثانی صفحه ٩ کي پدي مسئلي کي اختلاف بیان کړیدي. خو که چري دانقدین دي غرض سره کیخودلي وي چه په اصلي حاجتونو اوسیدو خایونو وغیره کي خرچ کړیشي نو زکات پکښي واجب دي. بس احتیاط دادي چه زکات پکښي واجب دي. او خاص ددي وجه نه چه کالي جوړول دادلیل چه دکورجوړولو یا اخستلو څه اراده نشته. فقط ٥ محرم ١٣٢٢ھ (تتمه ص ٥٠)

سوال :(٥٠) یو سړي سره دوه سوه روپي نقدي دي چه په هغي کال هم تیرشو خو په دي خیال یي جمع کړیدي چه داوسیدو دپاره یري څه خاي واخلي یعني دده دخپل اوسیدو خاي نشته بلکه خورسره اوسیږي بل داچه په ده قرض هم نشته پدي صورت کي زکات ورکول واجب دي یانه ؟

جواب: پدیکښي اختلاف دي خو غوره خبره داده چه زکات واجب دي والتفصیل فی ردالمحتار جلد ثانی صفحه ٩ / ٥ رجب ١٣٢٩ھ (تتمه اولی صفحه ٥٧)

په جائدادغیرمنقوله کښي دمالدارئ داندازي تحقیق

سوال :(٥١) سرسایه ، قرباني ، دزکات اخستلو حراموالی وغیره او صدقات واجبه دپاره دجائداد غناء (مالداری) په څه طریقي ده. ډیري جزئي مو کتلي خو زړه م یري یخ نه شو برهنه کي دي چه دزمکي قیمت که نصاب ته رسي نو داغنا (مالداریٔ) ده شامی په یو خاي کښي دي (کتاب الاضحیه) قوله والیسار الخ ولوله العقار یستغله فقیل تلزم لوقیمة نصاباً وقیل لویدخل منه قوت سنة تلزم وقیل قوت شهرفمتی فضل نصاب تلزمه الخ.

او کتاب الزکوة کي دي علی قوله فارغ عن حاجته الاصلیة وفیهاسئل محمدعمن له ارض یزرعها اوحانوت یستغلها اودارغلتهاثلا ثة الاف ولا تکفی لنفقة ونفقة عیاله سنة یحل له اخذالزکوة وان کان تبلغ قیمتهاالوفاً علیه الفتوی وعندهمالا یحل. دغه رنګ اختلاف په برجندی ابوالمکارم اوبزازیه ،جامع الرموز او اشباه کښي هم دي چرته یي زمکه په حاجت

اصلي کښي داخله کړیده او چرته ترینه ویستي ده څنګه چه شامي کښي دي چرته یي دزمکي قیمت نه وروستو دزمکي نه راویستلي شوي روزي دکال یادمیاشت معتبر کړیده چرته پس دراوتلونه دکال یادمیاشت دداخلیدو اعتبار یي کړیدي. اګرچه دشامی فتوی موجوده ده خودلته مقابله دحلالوالی او دحراموالی ده او کلمه د((عند)) ((عندهما)) کښي په مذهب دلالت کوي. شامی ورومبي جلد کښي راخي. یعمل بماصح من المذهب لا بفتوی المشائخ المذهب ماقال الامام. اوبل خاي کښي یي ددي خلاف وئیلي دي. الروایة المختار للفتویٰ مرجح علی ظاهر الروایه .دویم جلد کښي راخي ترک ظاهر الروایة بقول المشائخ .چه دي مسئله کښي بالکل صفا واضح حکم اوفرمائي فقط .!

جواب: دغه ذکرشوي روایتونو دسوال نه زیاتو کتلو خوموقع جوړه نه شوه خوماخپل استاذ علیه الرحمت دامام محمد ﷬ په قول باندي فتویٰ ورکولو باندي لیدلي دي او په خپله هم ددي عاجز پدي عمل دي خو یدي کي لږ تفصیل دي که چري دي جائداد نه داسي غله حاصلوي نو دده دغه غلي اعتباردي که داغله دټول کال په خرچ سره مقدار دنصاب ته نه رسي نو سرسایه او قرباني واجب نه ده. او زکات هم داسي اخستلي شي او امام صاحب هغه چه وه هغه مطلقاً نه دي کما فصل فی رسم المفتی والله اعلم ١١ جمادی الاولی ١٣٢٧ھ فقط (تتمه اولی ص ٥٠)

دمیاشت په ختمیدوکه دزکات دوجوب حساب

ګران وي نو دزکات اداکولو طریقه

سوال :(٥٢) زید یو کارخاني کښي حصه داردي. دکارخاني سالانه مال ګټه او نقصان دشمسي میاشتو په حساب سره ٣٠ جون باندي کیږي په ٣٠ جون چه خومره ګټه په دغه حساب کي جمع شي نو په دغه ګټي باندي ټول کال خپلي خرچ پوره کولي شي. زید باندي په رمضان المبارک کښي زکات واجبیږي دی همیشه په رمضان المبارک کښي زکات جدا کوي هغه پدي شان سره چه کوم مال په کارخانه کي درمضان په میاشت کي پاتي شي هغه خپل ملکیت کي شماري. مثلاً ٣٠ جون ته چه کله حساب دکتاب تیارشو. نو دزید سرمایه سره دګټي زر روپي وه. او په ستمبر کي یعني رمضان کي پري زکات واجب شو. دي وخته پوري سل ١٠٠ روپي خرچ شوي وي او نهه سوه روپي پاتي وي نو دده نهه سوه روپي شمار کړي او زکات یي جدا کړو چه کومه ګټه یا نقصان پدي کارخانه کښي په مینځنو دري میاشتو ګي اوشو دهغي

شماري اونه کړوخکه چه دکارخاني سالانه حساب په حساب شمسي سره کیږي په مینځ کښي نه کیږي نه کیدلي شي ایاداصورت جائزدي یازیددخپل دري میاشتودمال نفع اونقصان شمار کړي اوزکات ورکړي ؟

جواب: داخوصحیح ده چه درمضان پوري څومره روپي خرچ شوي وي په هغي زکات واجب نه دي خودي نهه سوه روپوسره داصل سرمایه اوپه دي دریو میاشتوکي څومره ګټه شویده په ټولي مجموعي زکات واجب دي پاتي داخبره چه دکال مینځ کښي حساب نه کیږي که واقعي داحساب ګران وي نوبیاتخمینه په احتیاط سره کول کافي دي اودعاجز په خیال کي دتخمینه دپاره دتیرشوي کال په نسبت راوان کال زیات غوره دي .یعني راوان جون کي چه کله دي حساب نه دسرمایه اوګټي اندازه معلومه شي نودغه مجموعه په هغه پریخودي شوږ دریو میاشتوقمري (سپوږمي په حساب) باندي تقسیم کړي چه څه تقسیم کي حاصل شول دهغي اداکولوسره دمخکي زکات پوره کړي . دغه رنګه داسلسله دی جاري اوساتي پدیکښي صرف دومره وشول که زکات همیشه دوه خلي کولوسره به اداشي . اواحتیاط دپاره که څه زیات ورکړي نوکیدیشي کمي اوزیاتي معاف کړیشي اوکه ددي نه څه اسان صورت را اوزي نوهغه دي غوره کړیشي . ۱۸ رجب ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص ۵۱)

زکات حساب قمري (سپوږمي حساب) کال سره کول پکاردي شمسي (لمر حساب) سره نه

سوال: (۵۳) عمروتجارت کوي اودکال حساب ۳۰ جون نه په حساب شمسي سره تیاره وي اوپه ۳۰ جون زکات جداکوي دکال ګټه ۵۲۵ روپي یا اوسطاً زر روپي نوره وشوه لهذا دقمري (سپوږمي حساب) اوشمسي (لمر حساب) حساب کي دفرق دوجي نه لس روپي زیاتي شماري اوبدي لسوروپو کي هم زکات ورکوي . ایاداصورت جائزدي ؟

جواب: امیددي چه زکات اداشي اوکه څه زیاتي ورکړي نودیره داحتیاط خبره ده . ۱۸ رجب ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص ۵۲)

سوال: (۵۴) زیدته دروزمره خرچ نه زیات اول جنوري ۱۹۱۳ کال باندي سل روپي ملاؤ شوي چه ده داپیسي دجمع کولوپه طورسره کیخودي او ۲۵ دسمبر ۱۹۱۳ کال یعني یوولس میاشتي پس ده پنځه زره روپي نوري هم راغلي چه دي لره هم ده دجمع کولوپه غرض دي سلوروپوسره کیخودي اوس اول جنوري ۱۳۱۴ دکال ختمیدونه پس وروستي ورځ ده اوس په

ده صرف په دغه سل روپو کي زکات واجب دي یا پنځه زره اوسلوروپو کي واجب دي ځکه په دي پنځه زره روپوخوصرف پنځه ورځي تیري شویدي .

جواب: په زکات کي دقمري کال حساب دي اوشمسي کال لوي وي دقمري نه نو ۲۵ دسمبر باندي چه ده ته پنځه زره روپي راغلي دي هغه دقمري کال تیریدونه پس راغلي دي پدي وجه دي کي زکات واجب نه دي . رمضان ۳۲ھ کال (حوادث ص ۱۴۵ جلد اول دویم)

په معدنوکښي خمس واجب دي که اسلامي بيت

المال نه وي نوپه فقیرانوخیرات کول لازم دي

سوال: (۵۵) ماقولکم اندرینکه در کتب فقهاء نوشته اند که برلعل ومرجان خمس لازم وواجب نه گردد وزیراکه برقعربحر قهرسلطان نمی رسد همچنان درمعدن جبال وصحرا خمس لازم نیاید درین صورت مرادفقهاء کدام جبال وصحرااست مطلق ست یامقیدست که قهرسلطان دران جبال نرسد هرشقی اختیارفرمایند موجهه بیان فرموده جواب ارشادفرمایند ومعنی قهرسلطان نرسیدن اگرواضح فرموده شودتاحکم مسئله گردد الغرض دراطراف ونواحی این دیارجبال کثیره است که دربعض کوه چنان ست که مسکن مردمان است وبعض کوه چنان است که چراگاه مرغی اهل قریه است وبعض چنان است که اهل قریه هیزم وحطب ازان کوه می ارندبعض کوه بیکارافتاده است لیکن همه جبال درما تحت سلطنت انگریز است ومرادفقهاء کدام کوه است وبرتقدیروجوب خمس برفقراخمس راتقسیم کردن جائزگردد یانه زیراکه سلطان اسلام یافته نمی شود. الحاصل برتقدیر خمس برکدام جبال وصحراء لازم اید وبرتقدیر عدم لزوم خمس کدام جبال وصحرا مرادفقهاء است وقهرسلطان درجبال مذکوره رسیدن اطلاق است یانه .فقط ؟

جواب: فی الهدایه والبنایه ثم ان وجده فی ارض مباحة کالجبال والمفاوز فاربعه اخماسه للواجده وکذافی الدالمختار وغیره من کتب الفقه ازین روایت معلوم شد که مضمون سوال که همچنانه درمعدن جبال وصحراء خمس لازم نیایدصحیح نیست پس سوالات متفرعه برین هم ضروري نماند البته دریاقوت وزمرودوفیروزه عدم وجوب خمس نوشته اندلیکن نه بدین سبب که بران قهر وارد نشده زیراکه وقت فتح جبال وصحاري داخل قهر می شوند کما فی الهدایه والبنایة لا نها ای اراضی المعدن کانت فی ایدی الکفره وحوتها ایدیناغلبة فکانت غنیمة وفی الغنائم الخمس الخ .بلکه بناء برانکه حجار که ازمعدن یافته شودخودمحل خمس نیست چنانکه روایتش

درهدایه مذکور است واین خمس راخود برفقراء تقسیم نمودن جائزاست اگرچه فروع واصول این کس باشند. فی ردالمحتارعن کافی الحاکم ومن اصاب رکازاوسعه ان یتصدق بخمسه علی المساکین فاذااطلع الامام علی ذالک امضی له ماصنع وان کان محتاجاً الی جمیع ذالک وسعه ان یمسکه نفسه وان تصدق علی اهل الحاجة من ابائه واو لا ده جازذالک ولیس هذابمنزلة عشرالخارج من الارض الخ . جلد دویم صفحه ۷۷ هرگاه باوجود امام جائزاست بوقتاً فقدان امام بدرجه اولیٰ خواهد بوداری در ارض غیر مملوکه در دارالحرب باشد هم رکاز ملک واجداست کما صرحوابه والله اعلم [۲۷شوال ۱۳۲۷هـ (تتمه اولیٰ ص۵۲)]

دکوم قرض چه دوصولیدوامیدنه وي په هغې کې دزکات دواجبیدوبیان

سوال: (٥٦) زیدپه چاباندي پنځه سوه روپۍ قرض دي اوهغه سړي روپۍ ورکولو کې هسې بهانې کولې اوس به زید ددغه پیسوهرکال زکات اداکوي یانه ایازیددي روپوکې دزکات ورکولو ذمه داردي کومې چه په چاقرض دي اوددي قرض دورکولوامیدهم کم وي یابالکل نه وي. که چرې زید په هرکال ددې روپوکې دزکات ورکولوذمه دارنه دي نوکه چرې دا قرض ده ته ملاؤشو نوبیا دتیرشوو ټولو کلونوزکات په یوځای ورکول لازم دي یاهغه وخت لازم دي چه کله ده ته داقرض اداشي ؟

جواب: پدې کې مختلف اقوال دي اوهرطرفته تصحیح هم کړې شوې ده چه دهغې تفصیل په ردالمحتار دریم جلدصفحه ۱۴ او۹۹ کې موجوددي. دبنده په نزد دیکښې غوره قول دادې چه دکوم قرض داداکیدوامید کم یابالکل نه وي نوپه هغې زکات واجب نه دي اوداداکیدونه پس چه څومره اندازه کې وصول شي دکال تیردو نه پس صرف په هغې اندازه باندې زکات واجب دي. ومتمسکی فیه ومافی ردالمحتاربعدنقل عبارة النهرعن الخانیه قوله قلت و قدمنا اول الزکوة اختلاف التصحیح فیه ومال الرحمتی الی هذاوقال بل فی زماننا یقرالمدیون بالدین ویملا ثلة ولا یقدرالدائن علی تخلیصه منه فهوبمنزلة العدم جلد دوم صفحه ۹۹ والله اعلم. [اول محرم ۱۳۲۸هـ کال (تتمه اولیٰ ص۵۳)

قیمت دجائدادنصاب نه زیاته وي اوامدني باندې صرف ګزاره کیږي پدې کې زکات شته یانه

سوال: (٥٧) یوسړي ځمکه ده چه دهغې ددووسوو ۲۰۰ درهمونه زیات دي خودهغې نه چه کوم فصل پیداکیږي دهغې خوراک ټول کال دپاره نه پوره کیږي. یاپوره شي خوزیاتیږي نه په داسې سړي سرسایه اوقرباني واجب ده یانه .فقط؟

جواب: امام محمد رحمه الله په نزد داسړي غني (مالدره) نه دي اوپدې باندې فتویٰ ده. کذافی ردالمحتار جلد دویم صفحه ۱۰۴/عن التتارخانیه. ددې وجه نه په ده سرسایه اوقرباني واجب نه ده! ۱۰ ۱۳۲۸هـ (تتمه اولیٰ ص۳۵)

سوال: (٥٨) دیوسړي د دوه دري سوو روپو جائداددي چه دهغې په پیداور دوه دري میاشتې ګزاره کیدیشي. اوپه نورومیاشتوکې مشقت مزدوري سره وخت تیروي ددې نه بغیربله طریقه نه شته په ده سرسایه واجب ده یانه. که په دې واجب نه وي خودده جائداد دومره دې چه دهغې په پیداوارټول کال ګزاره کیږي خوبیچ کیږي تري نه. پدې هم واجبیدل نه دي پکار. ځکه چه دې دپاره داجائدادپه ضروري حاجتونوکې دي حالانکه زیات عالمان داسې خلقودپاره سرسایه واجب ګڼړي نوضروري حاجتونوکې کوم څیزونه دي ؟

جواب: وفی ردالمحتاروذکرفی الفتاویٰ فیمن له حوانیت ودورللغة لکن غلتهالا یکفیه ولعیاله انه فقیرویحل له اخذالصدقة عندمحمد رحمه الله وعندابی یوسف رحمه الله لا یحل وکذالوله کرم لا تکفیه غلته ولوعنده طعام للقوت یساوی مائتی درهم فان کان کفایة شهر یحل اوکفایة سنة قیل لا یحل وقیل یحل لانه مستحق الصرف الی الکفایة فیلحق بالعدم وقدادخرعلیه السلام لنسائه قوت سنة الی قوله وفیها سئل محمد رحمه الله عمن له ارض یزرعها اوحانوت یشغلها اودارغلتها ثلا ثة الا ف ولا تکفی لنفقته ونفقة عیاله سنة یحل له اخذ الزکوة وان کانت قیمتها تبلغ الوفاء وعلیه الفتویٰ وعندهمالایحل الخ. جلد دوهم صفحه ۱۰۴،۱۰۳ ددې نه معلومه شوه چه دچادجائداد امدني کال دپاره پوره نه وي هغه ته زکات حلالیدوکې اختلاف دي امام محمد رحمه الله په نزد ده ته زکات ورکول جائزدي دادلیل شویدي چه په ده سرسایه واجب نه ده. اوچادپاره چه امدني دکال دخرج دپاره پوره وي نودې دپاره خوماخه جزئیه اونه لیده لیکن دادلیل نه دهغه حکم هم

دغه ذکر شوي په شان معلومیږي. وهو قوله لانه مستحق الصرف الخ. [اول محرم ۳۴هـ کال وتتمه رابعه ص ۲]

دتیروشوکلونوپه زکات کې هرکال په اندازې دواجب

جداکولو حکم دحج واجبیدل مانع دزکات نه دي

سوال: (۵۹) یو کس باندي دڅو کالو زکات واجب دي اداکولو په وخت کي دهرپوره کال زکات چه واجب دي اداکیږي به یانه دهغي نه جدا په هر کال کي کیږي؟

جواب: اول دپوره مال زکات واجب دي او په دویم کال دواجب په اندازه جداکولو نه پس دپاتي مال زکات واجب دي وعلی هذا (۲) دحج واجبیدل دزکات مانع نه دي که دکال په سرکي ده سره نصاب شته نو کال تیریدو سره په ده زکات واجب دي اګر که په هر جزو کال نه وي تیر شوي او اګرچه حج فرض شوي وي. ۲۲ رمضان ۱۳۲۸هـ کال (تتمه اولی ص ۵۴)

ګډو بیزو دبرابروالي په صورت کي دیو قسم نه زکات

اداکولي شي څو چه کوم زیات وي هغي نه اداکول پکار دي

سوال: (۶۰) **وړومبي سوال**:- غایة الاوطار کي دي ګډي بیزي دنصاب پوره کیدو قرباني او کتبه کي برابر دي خو دواجب په اداکیدو او قسمونو کي نه دي برابر. حضرت ددي نه معلومیږي چه څلوېښت بیزو کي یوه ګډه زکات کي نه شي اخستي او نه ددي په عکس باندي بنده سره یو سل یو ویشت نصفانصف یعني هر دواړو قسمونو نصاب موجود دي. دګډو بیزو په زکات ما دوه ګډي ورکړیدي او تیر شوي کال ما دوه بیزي ورکړیدي اوس دي مسائل لره وګوره او داقصر اوباسه. **دویم سوال**:- که دیرش بیزي وي او لس ګډي وي نو زکات کي چه کوم قسم زیات دي هغه نه ورکړي یا چه کوم غواړي. **دریم سوال**:- که نصفانصف یعني دواړو قسمونو نصاب برابر موجود وي نو دهغي څه حکم دي. **څلورم سوال**:-پنځوس غواګاني دي چه په هغي کي شرکت نشته او شل غواګاني دي شریکي دي یعني دغه شلو کي هر یو نیم دي

نو لس غواګاني داهم شوي اوس دالس به په پنځوسو کي شمارلي کیږي یانه. **پنځم سوال**:- جداجدا سړونه[1] په شپیتو غواګانو کي شریک دي نو دادیرش شوي دي کي دي زکات واجب دي یانه؟

جواب: جواب داول سوال:- فی الدرالمختارباب الزکوة الغنم لا فی اداء الواجب. وفی ردالمختار لان النصاب اذاکاناضاناً یوخذالواجب من الضان ولومعزاًفمن المعزولو منهمافمن الغالب ولوسواء فمن ایهماشاء جوهرة ای فیعطی ادنیٰ لا اعلی اواعلی الادنیٰ الخ. ددي روایت په بنیاد چه کوم تپوس شوي وه چه ګډي بیزي په نصاب کي برابر دي نو اختیار دي که بیزه زکات کي ورکوي او که ګډه که دادنی قسم نه ورکوي نو هغه ورکړه چه په خپل قسم کي دیر اعلیٰ وي. مثلاً که دبیزي په ځاي ګډه ورکړي نو هغه ګډه په نورو کي اعلی او افضله پکار ده. او که افضل دي ورنه کړه نو اوس دافضل چه څومره قیمت دي دغیر افضل په ورکولو سره دهغي قیمت یوه نیمه روپي دي. نو اوس دغیر افضل ګډي ورکولو سره اته انی هم مسکین ته په شکل دزکات کي ورکړه. دویم سوال جواب - دمخکښني روایت ددي جواب هم معلوم شو چه دي صورت کي بیزه واجب ده. دریم سوال جواب:- نصفانصف یعني چه دواړو عدد برابر دي نو دیکي اختیار دي خو سره دهغي قیدنه چه اعلی او ادنی وه چه مخکښني تیر شو. څلورم سوال جواب:- چونکه غیر مشترک هم نصاب ته رسي ددي وجه نه هغه لس غوګاني به هم دي سره شامل کړي. فی الدرالمختار باب زکوة المال ولا تجب الزکوة عندنا فی نصاب مشترک المراد اویکون بلوغه النصاب بسبب الاشتراک وضم اخذ الماکین الی الاخر بحیث لا یبلغ مال کل منها نصاباً قوله بینه فی التجنیس ثمانون شاةً بین اربعین رجلا لرجل واحدمن کل شاة نصفهما والنصف الاخرللباقین لیس علی صاحب الاربعین صدقة عندابی حنیفة رحمه الله وهوقول محمد رحمه الله ولوکان بین رجلین تجب علی کل منهماشاة لانه مما یقسم فی هذه الحالة وفی الاولیٰ لا یقسم الخ. ای لان قسمة کل شاة بینه وبین من لا تمکن الا باتلا فها بخلاف قسمة الثمانین نصفین

پنځم سوال جواب:- هم او شو دي تیر شوي روایت نه اوس. ۲۷ ذی الحجه ۱۳۲۸هـ کال (تتمه اولی صفحه ۵۴)

---

[1] ددي مطلب دا ګڼرلي شوي وه چه شپیته غواګاني په دوؤ سړو کي مشترک دي جواب په دي باندي مبنی دي او که چرته دامطلب او که چرته دامطلب وي چه شپیته سري دنیمی نیمی غوا مالکان دي او یو سري دبقیه نیمی نیمی نو جواب دادي چه په هیڅ زکات نشته ۱۲

دڅارويه زکات کي دنصاب پوره کيدومعني اودبهشتي

ګوهر دعبارت تحقيق چه ددي نه خلاف معلوميږي

سوال :(۶۱)تاسوچه مخکښي کومه اختلافي مسئله ليکلي وه هغه داده ؟

جواب : په پوره نصاب کي دبرابروالی مطلب دادي . که دواړوکي يوکم دي نو دابه نه وائي چه نصاب ته به پوره وينلي کيږي . اوداعام دي دنصاب نه زيات ته هم . اوس چه دهرشريک اتيااتيادي نودي اتياته به دوه نصابه نه وائي لهذا په هريوشريک باندي يوه ګډه لازم ده . داني نه اعلی يااعلی نه ادني . ددويم شريک خوهډواعتبارنشته .دهرشريک (۴۰×۴۰)دواړه څيزه دي نواتيااشول نويوڅاوري په يوشريک واجب دي ، کتبه اشرف علی ۱۸محرم / ۱۳۲۹هـ اوبهشتي ګوهرکي داسي ليکلي شريدي زکات په باره ګډي بيزي يوشان دي برابره خبره ده که ګډه لم والاوي چه هغي ته دنبه وائي يا معمولي وي . که دواړونصاب پوره وي نو ددواړو زکات به جدا جداورکوي . اوکه دهريونصاب پوره نه وي خوچه دواړه يوځاي کي نونصاب ته رسي نودواړه به ملاوکړيشي اوچه کوم زيات وي نوزکات کي به کي څلوښت بيزو اوڅلوښنت ګډوکي يوه ګډه لازميدل ثابتيږي اودبهشتي ګوهر دعبارت نه دوه ګډي ثابتيږي که دبهشتي ګوهردعبارت دغه مقصدوي يعني که زيدسره صرف دبيزونصاب دي نو دهغي زکات به ورکولي شي اوکه دګډونصاب پوره وي نوهغي نه به ورکولي شي .انفرادي حالت کي په دروميني تحريراوبهشتي ګوهر په تحريرکي اودمولانا عزيزالرحمن اومولاناخليل احمدصاحب په تحريرکي اختلاف نشته . اوکه ددي رسالی دعبارت نه دوه ګډي لازم راتلل مقصود وي نواختلاف راغلو .په عرض دي چه حضرت په خپل الفاظوسره اوليکي چه دبنده ته داخبره ښکاره باعث دارام ده .

جواب : دبهشتي ګوهرظاهرعبارت نه چه کوم مطلب پوهي ته راځي هغه په واقع کي زماد تحريرخلاف دي ځکه چه به فقه دپوه دصفاکولوبه وجه به هغي باندي تفصيلي نظراونه کړيشوځکه داسي اوشول بهشتي ګوهرزماتحقيق مه ګڼړي .فقط۱۳۲۹هـ کال (تتمه اولی صفحه ۵۵)

طالبانوباندي زکات خرچ کول افضل دي اګرچه لري وي

سوال :(۶۲)زکات سرمايه اوقرباني څرمنوقيمت په خپل نزدي غريبانوباندي خرچ کول افضل دي يابل ځاي کي په اسلامي مدرسووغيره کي زيات مستحق څوک دي اوزيات ثواب په

کوم کي دي . که خپل نزدي غريبانانوته ورنه کړي اواسلامي مدرسوته وليږي څه ګناه پکي شته ياجائزدي؟

جواب : في الدرالمختارباب المصرف وكره نقلهاالا الى قرابته اواحوج اواصلح اواورع اوانفع للمسلمين اومن دارالحرب الى دارالمسلمين اوالى طالب علم . وفي المعراج التصدق على العالم الفقير افضل وفي ردالمختار اى من الجاهل الفقير قهستاني (ج۲ صفحه ۱۱۰) دي روايت نه معلومه شوه چه په طالبانوخرچ کول ډيرافضل دي اګرکه لري وي . (محرم۱۳۲۹هـ تتمه اولی ص۵۲)

داشرفوزکات وزن سره ورکړي يادي

لره روپي اوکنړي اودروپوزکات ورکوي

سوال :(۶۳) که چاسره اشرفي وي نودهغي زکات داسي طريقي سره ورکړي چه هغه وزن کړي اودهغي څلويښتمه حصه چه څومره راوزي دهغي قيمت ورکړي اوقيمت هم دکره سرو ولګوي ياځنګه چه دده ناقص سره دي اوبازارکي ددي ګاک ډيرملاويږي ياداسي چه يوه اشرفي دپنځلس روپي په برابري سره چه څومره حساب راوزي دهغي برابرزکات ورکړي ؟(۲) په مدرسوکي دزکات پيسي نوروفنډونوسره يوځاي کول جائزدي يانه ؟ (۳) ديوقسم فنډدبل قسم سره مطلقاً هم جائزدي يانه .قاضي خان په باب في الزكوة کي ناجائزليکلي دي اکثرو مدرسوکي دغه شان کيږي دمدزکات نه علاوه نورمدونه خويوځاي کولي شي اوبعض ځاي کي دزکات مدهم يوځاي کولي شي .

جواب : اول سوال جواب :- دواړوطريقوسره جائزدي . دويم اودريم سوال جواب :- دورکوونکي دزکات په اجازت سره جائزدي . ۱۴ صفر ۱۳۳۰هـ کال (تتمه اولی صفحه ۵۸)

په کال بدليدودزکات کښي اشکال

سوال :(٦٤) يوسړي په وړومبني تاريخ دجمادالاولی باندي دري سوه روپي وي اته مياشتي کي ۳۰ ذی الحجه پوري ده ته تجارت په ذريعي سره سل روپي ګټه اوشول اوس ده سره څلور سوه روپي دي دی غواړي چه اول تاريخ دمحرم نه خپل کال کاغذونوته ترتيب ورکړي . اوس داتومياشتوزکات هغه څوروپي دي دي غواړي چه اداکړي . براه کرم په جواب سره کاميابي غواړو؟

سوال: پدکي يوخرابي راخي هغه داچه زکات واجبيږي په هغه مقدار باندي کوم چه دکال تيرېدوپه وخت کي موجودوي نودي صورت مسئوله کي فرض کي کړه چه کال تيرشوپدي ۳۰ ربيع الثانی پوري. اوفرض کړه چه دغه وخت روپي زياتي وي. اوکله چه ده اول محرم نه حساب کيخودو نوديرشم ذی الحجی پوري چه څومره روپي شي دهغي زکات به ورکړي که دغه وخت کمي شوي نوزکات به هم کم کرېشي اوهر کال به دغه احتمال وي ۲۵ذی الحجه ۱۳۳۱ھ کال (تتمه اولیٰ صفحه ۱۰۱)

زکات اداکولوکښي که څه فاسد شرط ولګوي

نوداشرط لغودي اوزکات کښي څه نقصان نشته

سوال: (۶۵) السلام عليکم :- زکات ورکوونکي خپل قرضدارته پدي شرط زکات مال ورکړي چه داقرضداري دي زکات ورکوونکي ته مال فوراً واپس ورکړي پدي صورت کي زکات اداکيږي يانه څکه اول شرط خوواپسي دمال ده. دويم قرضداري دي صورت کي پوره مالک نه شي جوړيدي دريم بالواسطه هم نه دي اوقرضداري هيڅ اعتبارنه شي کيدي اودي معامله ته شرط بالمواجهه وائي ؟

جواب: وعليکم السلام :- داشرط ددي وجه نه چه دادتبرعاتواواحساناتونه دي داباطل دي. دي سره دزکات په اداکولو کي فسادنه راځي اوداشبه چه قرضداري پوره مالک نه دي غلطه خبره مالک خوپوره دي خوتمليک کي ئي يوشرط کړيدي چه دهغي اثرپه تمليک کي هيڅ نشته بخلاف دهغي حيله متعارفي چه هغي صرف شکل دمالک وي خوحقيقت کي ملک نه وي بياهم غوره داده چه داسي شرط بالکل ونه کرېشي څکه چه شرط خوهسي هم فاسددي بلکه بغيردشرط نه هغه مالک جوړکړ چه کله مالک شي بياترينه خپل قرض اوغوږه که نه درکوي په زوره ترينه هم اخستل جائزدي اوکه داشبه وي چه هغه باندي دومره وس نه وي نوجواب دادي چه کله پري وس نشته نوکه دشرط لګولونه پس هم نه ورکوي نوبيابه څه کوي نودشرط لګولواونه لګولودواړه حالتونه برابردي .۲۸ربيع الاول ۱۳۳۲ه (تتمه ثالثه صفحه ۱۳۲)

کرايي يادتجارت په کښتي باندي دزکات حکم

سوال: (۶۶) هرسفينه برائي تجارت است ان رازکات واجب است يانه. بينواتواجروا؟

جواب: درين دوصورت است يکی آنکه ازين سفينه کرايه حاصل کرده شود واين مثل حانوت کرايه است .که زکات بران حانوت واجب نيست . دوم آنکه هرگاه اين سفينه خريده بودکه بدست خريداري خواهم کرد پس اين مال تجارت است وبرمال تجارت زکات واجب است. ۱۰ صفر ۱۳۳۲ھ کال (تتمه ثانيه صـ ۱۲۲)

سوال: (۶۷) اگرنزدکسي بعدحولان حول دوصد پنج درهم هفت مثقال ذهب موجود باشد بران کس به حسب مذهب امام ياحکمي همی باشد که بجز پنج درهم که زکات دوصد درهم است چيزي ديگر واجب نباشد زيراکه پنج درهم که ازنصاب فضه افزوده باشد بخمس نصاب نمی رسد هفت مثقال ذهب ناقص ازنصاب است ياقيمت ذهب باکسر فضه يعني مابقي من نصاب الفضه منضم شده بحساب خمس دران هم زکات واجب باشد ؟

جواب: فی الدرالمختار من ذهب اوورق مقومابا حدهما فلواحدهما ازوج تعين التقويم بـه ولوبلـغ باحدهما نصاباً دون الاخر تعين مايبلغ به اه . وفی ردالمختار عن البحر والنهر عن المحيط من انه لا تضم احدالزيادتين الی الاخریٰ الی قوله وعندناتضم لوجوبها فی الکسـور وبعـده باسـطر ان السروجی نقل عن المحيط الخلاف بالعکس جلد ۲ صحفه ۴۸-۴۹ وفی ردالمختارعن البـدائع ان ماذکر من وجوب الضم اذالم يکن کل واحد منهما نصاباً بان کان اقـل الخ جلد ۲ صحفه ۵۳ .بنـابرين روايـات ذهـب رابفـضه مقـوم کـرده درمجموعـه زکـات واجـب خواهدشد ودرعفوزيادت اختلاف است واحوط وجوب است ۱۲ صفر ۱۳۳۲ھ کال (تتمه ثانيه صفحـه ۱۲۵)

چنده اخوستونکي والوته زکات پيسي ورکولوسره زکات نه اداکيږي

سوال: (۶۸) څه فرمائي علماء دين چه مدرسي دپاره چنده ټولونکوته زکات ورکولوسره زکات اداکيږي يانه ؟

جواب: نه اداکيږي. ۲۰ صفر ۱۳۳۱ھ کال (حوادث اولیٰ صفحه ۱۹)

يوداسي مشترک شي چه هغه تقسيميږي نه دهغي حصه زکات کښي ورکول

سوال: (۶۹) ددیوبند مدرسه کي ديو پريس ائيني (مشين) ۲۲×۲۹ دبل ضروت دي ما سره موجود دي په ۱۳۰ روپي کي چه پيسي پري زمادي يووخت کي دهغي ۱۴۰ روپي يو صاحب راکولي ماسره دکار دکموالي په وجه خالي پروت دي که څوک اخستونکي راشي نو ۲۵۰

پوري كه زه دا په داسي صورت كي ور كړم چه څه روپۍ نقد واخلم او څه روپۍ د زكات په مد كي مدرسي ته ور كړم نو د كتابونو زكات به اداشي ؟

جواب: بغير د تمليک نه مسكين ته ور كولو سره زكات نه اداكيږي كومه حصه چه ئي خرڅه كړي نه ده هغه ئي وقف كړه ويا خو زكات اداكيږي او كه د چهاپ كولو مالک ته ئي ور كوي بغير د قيمت نه نو د هغه مسكين كيدل شرط دي د دي معلومات پكار دي يو صورت كيديشي چه په خپله يا ديو با اعتماد وكيل په ذريعه هغه حصه چه خرڅه شوي نه دي ديو مسكين په ملک كي راولي او بيا د چهاپ كولو والا هغه نه واخلي . برابره خبره ده كه مسكين داسي طالب العلم وي چه هغه ته د قيمت په برابر څه فائده رسول مقصود وي كه هغه يو وي او كه ډير وي .

۲ صفر ۱۳۳۱ هـ (حوادث ثانيه صفحه ۱۳۲)

د زكات په روپو كي داسي سكه اداكول چه قيمت د روپۍ برابر وي او وزن كي برابر نه وي

سوال: (۷۰) كه يو سړي ته په زكات كي دوه تولي سپين زر وركول وي او د هغه قيمت يوه روپۍ دي نو هغه ته يوه روپۍ وركول پوره دي يا نه كه دا د سپينو په حكم كي شي نو ايا نوره سپين هم لازميږي ؟

جواب: دوه تولي سپين پوره كول واجب دي برابره خبره ده كه سكه ده او كه غير سكه ده لان فى الجنس لايعتبر القيمة ۱۷ صفر ۱۳۲۳ هـ (تتمه ثالثه صفحه ۱۲)

كه په چا باندي قرض وي نو هغه ته قرض پريښودو سره زكات نه اداكيږي

سوال: (۷۱) خورورخي وشوي چه والد مكرم او معظم فرمائيلي وه چه ته مولانا صاحب په خدمت كي يو خط پيش كړه او مسئله ترينه معلومه كړه چه مثلاً د زيد په عمرو باندي قرضه ده خو زيد ته د قرضي ملاويدو اميد نشته او زيد ته قرض هم اداكول دي چه د هغي مقدار د هغه قرض برابر وي يا زيات وي . كه زيد دا اوغواړي چه زه دا قرض ده ته په زكات كي معاف كړم نو دي سره د ده زكات اداكيږي يا نه . زما خيال شو چه كيديشي دا مسئله په بهشتي زيور كي وي نو ما هغي كي تلاش كړه نو د بهشتي زيور مطبوعه بلالي استيم ساډهوره حصه سوم صفحه ۳۹ ديارلسم كرښه باندي ما اوكتل مسئله :- كه غريب سړي باندي ستالس روپۍ قرض دي او ستا د مال زكات هم لس روپۍ يا څه زيات دي نو هغه ته خپله قرضه د زكات په نيت معاف كولو سره زكات نه اداكيږي . البته هغه ته لس روپۍ د زكات په نيت سره وركولو كي

زكات اداكيږي او ي دغه روپۍ په خپل قرض كي د هغه نه اخستل جائز دي د دي ما خپل والد صاحب ته او فرمائيل لږي ورځي وروستو بيا والد صاحب او فرمائيل چه عالمگيري كي ليدلي دي چه دي طريقه سره زكات اداكيږي د هغي عبارت دا دي فصل فى هبة الدين من المديون بنية الزكوة ولو وجوب جميع الدين من المديون بنية الزكوة عن الدين فى الا ستحسان يكون مودياً وتسقط عنه الزكوة الخ جلد اول حاشيه عالمگيري صفحه كرښه ۲۲ مطبوعه مصر . او بل ځاي كي راغلي دي . ولو مر فقيراً بقبض الدين له على آخر نواه عن الزكوة عين عنده جاز كذافى البحر الرائق الخ عالمگيري وړومبي جلد صفحه ۱۴۲ كرښه ۴ مطبوعه مصر . نو اوس مولانا صاحب په خدمت كي اوليكه چه په كوم باندي عمل وكړيشي نو اوس حضرت داسي جواب اوكړي چه د والد صاحب زړه پري يخ شي ؟

جواب: وړومبي عبارت كي عن الدين راغليدي . نو يدي سره خاص د هغه قرض چه څومره زكات واجب وه خاص د هغه حصه زكات اداكيدل لازم راغلل نه د نورو مالونو چه كوم بعينه موجود دي د هغي زكات . دريم عبارت كي چونكه قبض دين (قرض قبض كولو) نه پس هغه قرض نه شو بلكه عين شو د دي وجه نه زكات اداشو كوم چه اصل سوال وه په هغي كي د زكات اداكيدل لازم نه راځي . ربيع الثاني ۱۳۳۳ هـ (تتمه ثالثه صفحه ۳۰)

په زكات كي د هغه څيزونو قيمت ته اعتبار دي كوم چه عام طور سره رائج او مشهور وي

سوال: (۷۲) څه فرمائي علماء دين او مفتيان شرع متين پدي صورت كي چه زيد د كتابونو تجارت كوي او خپل كتابونه مختلف قيمتو سره خرڅوي چاله نيم قيمت باندي وركوي . چا په دريمه حصه قيمت باندي رعايت كوي چا ته څلورمه حصه قيمت پوري ارزان وركوي چا ته په كميشن وركوي او چا ته په پوره قيمت باندي وركوي چه كوم مشهور قيمت دي او د مال وركولو ئې هم مختلف صورتونه دي اوس هغه غواړي چه د خپل مال زكات په نقد روپو باندي اداكړي اوس به د كوم قيمت اعتبار كوي د اخستلو يا د خرڅولو او په خرڅولو كي به د كوم قيمت اعتبار كيږي ؟

جواب: پديكي د جزئي ملاويد څه اميد نشته خو د قواعدونه معلوميږي چه د دي تاجرانه قيمت خو اعتبار نشته ځكه چه هغه په ارازن رعايت كولو او خاص مصلحتونو په بنياد دي جدا جدا اخستونكي چه كوم قيمت سره اخلي د هغي اعتبار دي . او كه پديكي اختلاف دي

نوا کثرو او مشهورو اعتبار او هغه نرزدي نرزدي متعين کيږي يعني هغه قيمت چه څوک دارزانولو درخواست اونه کړه نو په هغه قيمت باندي خرڅولي کيږي. ۱۳ ربيع الثاني ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه صفحه ۱۳۴)

استعمالي مشين باندي زکات نشته

سوال: (۷۳) مالوچويو مشين دي په هغې کي يوه حصه ده چه دهغي ګټه هر کال ملا ويږي چه کومه ګټه ملاويږي دهغي زکات برابر ورکولي کيږي او چه کومي روپي مشين کي لګيدلي دي هغه روپيو دزکات ورکولو ضرورت شته يا نه ځکه چه دامشين داوسپني دي ديته هر کال دجوړو لوهم ضرورت راځي اوپدي مشين کي ددير وحصه ده داپه چنده سره دي هندوان او مسلمانان دواړه پکي شريک دي؟

جواب: دامشين اله صنعت (جوړولو يو آله) ده تجارت مال نه دي پدي وجه ديکي زکات نشته ۷ جمادي الثاني ۱۳۲۳هـ (تتمه ثانيه ص ۱۴۰)

تنخواه نه چه کټ شي کومه روپي جمع شي (پراويډنټ فنډ) پدي زکات نشته يانه

سوال: (۷٤) سرکاري ملازمينو دتنخواه نه يوآنه روپي په فنډ کي جمع کيږي او سره دسوده بيا استعفی ورکونکي ته ملاويږي ددي دزکات څه حکم دي دمهر دقرض په شان دقبض کولو دورځي نه ورته دکال تيريدل معتبر دي يادنورو قرضونو په شان چه کله ملا وشي نو دتير وشو کلونو هم زکات ورکول واجب دي؟

جواب: داقوي مضبوط قرض دي لهذا مخکي کلونو هم زکات واجب دي. ۲۵ شوال ۱۳۳۴هـ (تتمه رابعه ص ۵۵)

سوال: (۷٤) زيد دپور يلوي[1] ملازم دي دقواعد مطابق کمپني ريلوي دده دتنخواه نه اته روپي سيکړه (سلوکي) کټ کړي او هغه جمع کوي يو کال کي چه څومره روپي کټ کړي او هغه جمع شي نو هغه هومره روپي کمپني دخپل طرفنه يوځاي کړي داصل روپو په ډبل يو کاغذ ملازم ته

[1] نوټ: دتنخواه نه چه جداشي او کومي روپي جمع شي دينه پراويډنټ فنډ وائي ددي متعلق دحضرت هغه متضاد فتوی ددي صفحه نمبر ۷۴ او ۷۵ کي شائع شوي په مرض وفات کښ حضرت توجه دي طرفته وکړي شوه نو دمسئلي مکمل تحقيق دپاره يې احقر او مولانا محمد اجمل صاحب مامور کړو داتحقيق صـ ۴۴ سوال نمبر ۷۶ کي ليکلی شويدي هلته يې وګورئ (بنده محمد شفيع)

وليږي که چري زياتي ګټه وشي نو ملازم ته زياتي ورکړه او که نقصان وشي نو بيا دهغي کټ کولي شي خو په دغه جمع کړي شوي روپو باندي دملازم هيڅ حق نشته او نه ئي په خپل خرچه کي رواستلي شي تر دي چه دنوکري نه رخصت کړلي شي څه فرماني علماء دين چه په دي جمع شوي روپو باندي زکات شته يا نه که زکات وي نو په دغه اصل روپو چه څومره کټ شويدي يا په ټولو روپو باندي؟

جواب: في الطحطاوی ولواجر عبده اوداره بنصاب ان لم يکونا للتجارة لا تجب مالم يحل الحول بعد القبض في قوله وان کان حکمه کالقوی لا ن اجرة مال التجارة کثمن مال التجارة في صحيح الرواية الخ. صفحه ۶۵۷. ددي روايت نه معلومه شوه چه په دغه جمع کړي شوو روپو کي زکات نشته البته دوصو ليدونه پس پري زکات واجب دي پدي تفصيل سره چه که ده سره ددي نه مخکي څه نصاب نشته نو بيا به دکال تيريدونه پس زکات ورکوي او که ده سره نصاب وي دهغي نصاب سره زکات ورکوي. شوال ۱۳۳۸هـ (تتمه خامسه ص ۱۰۳)

فصل در تنقيح وجوب يا عدم وجوب زکات برابر

پراويډنټ بنابر داخل بودنش در دين قوی يا ضعيف

سوال: (۷٦) امدادالفتاوی تتمه اربعه ص ۵۵ او تتمه خامسه ص ۱۰۳ کي دپراويډنټ فنډ (جمع کړي شوي) په باره کي دوه فتوی متعارض دي دهغه تحقيق په غرض رواياتو تلاش وکړي شو نو لاندېني تحقيق ثابت شو اوس ديکي کوم ته راجح وونيلي شي هغه تحقيق دادي في البدائع وجملة الکلام في الدين انها علی ثلاث مراتب في قول ابي حنيفة رحمه الله[1]، دين قوی ودين ضعيف ودين وسط کذا قال عامة المشائخ، اما القوی فهو الذی وجب بدلا عن مال التجارة کثمن عرض التجارة من ثياب التجارة وعبيد التجارة ولا خلاف في جوب الزکوة فيه الا انه لا يخاطب باداء شئ من زکوة مامضی مالم يقبض اربعين درهما (الی قوله) واما الدين الضعيف فهو الذی وجب بدلا عن شئ سواء وجب له بغير صنعه کالميراث اوبصنعه کما بوصية او وجب بدلا عما ليس بمال کالمهر وبدل الخلع والصلح عن القصاص وبدل الکتابة ولا زکوة فيه مالم

[1] وقال ابو يوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله الديون کلها سواء وکلها قوية تجب الزکوة فيها قبل القبض، بدائع، صـ ۱۰، ج ۲، ومثله في المبسوط، صـ ۱۹۰، ج ۲)

يقبض كله ويحول عليه الحول بعدالقبض ! واماالدين الوسط فما وجب له بدلا عن مـــال لـيس للتجارة كمثن عبد خاطب با الا داء مالم يقبض مائتى درهم فاذاوثمن ثياب البذلة والمهنـــة وفيه روايتان عنه ذكرفى الا فصل انه تجب فيه الزكوة قبل القبض لكن لا يخاطب با الاداء مالم يقبض درهم فاذا قبض مائتى درهم زكى لامضى وروى ا بن سماعة عن ابى يوســف عـــن ابى حنيفة رحمه الله انه لا زكوة فيه حتى يقبض المائتين ويحول عليه الحول من وقـــت القـــبض وهـــو اصح الروايتين عنه (الى قوله) ولا بى حنفية رحمه الله وجهان احدهما ان الدين ليس بمال بل هوفـــعل وجب وهو فعل تمليک المال وتسليمه الى صاحب الدين والزكوة انما تجب فى المال (الى قولـــه)فى الخلا فيات كان ينبغى ان لا تجب الزكوة فى دين مالم يقبض ويحول عليه الحول الا ان وجب بدلا عن مال التجارة اعطى له حكم المال لان بدل الشئ قائم مقامه كانه هوفصار كان المبـــدل قائم فى يده وانه مال التجارة وقدحال عليه الحول فى يده، والثانى ان كان الدين مالا مملوكاً ايضاً لكنه مال رقبة ويداً فلا تجب فيه الزكوة كمال الضمار ، فقياس هـــذا ان لا تجـــب الزكـــوة فى الديون كلها لنقصان الملک بفوات اليد الا ان الدين الذى هوبدل مال التجارة التحقيق بالعين فى احتمال القبض لكونه بدل مال التجارة قابل للقبض والبدل يقام مقام المبدل والمبدل عين قائمة قابلة للقبض فكذامايقوم مقامه وهذا لمعنى لا يوجد فيها ليس ببدل فيماهوبدل عمـــاليس بمـــال وكذا فى بدل ماليس للتجارة وعلى الرواية الصحيحة انه لا تجب فيـــه الزكـــوة مـــالم يقـــبض قدرالنصاب ويحول عليه الحول بعدالقبض لان الثمن بدل مال ليس للتجارة فيقوم مقام المبـــدل ولوكان المبدل ولوكان قائماً فى يده حقيقة لا تجب الزكوة فيه فكذا فى بدله بخلا ف مال التجارة انتهى (بدائع/ ص ۱۰ / ج۲) وفيه فى تفسير مال الضمار هوكل مال غيرمقدور الا نتفاع به مع قيام اصل الملک (الى قوله) فان كان مدفاناً فى البيت تجب فيه الزكوة بالاجمـــاع وفى المـــدفون فى الكرم والدارالكبيرة اختلا ف المشائخ انتهى (بدائع / ص۹ / ج ۲) وفى المبسوط الشمس الا ئمـــة سرد الا قسام الثلثة للديون ثم نقل رايته ابن سماعة التى صححها صاحب البدائع انـــه اختيـــار الكرخى ثم ذكر من قول ابى حنيفة رحمه الله ماذكره صاحب البدائع فى الاول بعينه ثم قال وفى الا جرة ثلا ث روايات عن ابى حنيفة رحمه الله (۱) فى رواية جعلهاكالمهر لانهاليست بـدل من المـــال

حقيقة لا نها بدل عن المنفعة (۲) وفى رواية جعلهاكبدل ثياب البذلة لان المنافع مال مـــن وجـــه لكنه ليس بمحل لوجوب الزكوة فيه .(۳) والا صح ان اجرة دارالتجارة اوعبدالتجارة بمنزلة ثمن متاع التجارة كلماقبض منهااربعين تلزمه الزكاة اعتباراً لبدل المنفعة ببدل العـــين (مبـــسوط /ص ۱۹۵-۱۹۶ / ج۲) وفى البحرالرائق ولواجرعبده اوداره لنصاب ان لم يكوناللتجارة لا تجب مـــالم يحول عليه الحول بعدالقبض فى قوله وان كان للتجارة كان حكمه كا لقوى لا ن اجـــرة مـــال التجارة كمثن مال التجارة فى صحيح الرواية الخ ،وقال فى حاشيه منحة الخالق على قوله كـــان كله كالقوى،هذا مخالف لا فى المحيط، حيث قال فى اجرة مال التجارة اوعبدالتجارة روايتـــان فى رواية لا زكوة فيها حتى يقبض ويحول عليه الحول لا ن المنفعة ليست بمال حقيقة فصار كـــالمهر وفى ظاهرالرواية تجب الزكوة ويجب الاداء اذايقبض منها مائتى درهم لا نهابدل مال ليس بمحـــل لوجوب الزكوة فيه لان المنافع مال حقيقة لكنها ليست بمحل لوجب الزكوة الخ ، قلت وهـــذا صريح فى انه على الرواية الاول من الدين الضيعف وعلى ظا الرواية من المتوسط لا من القـــوى لان المنافع ليست بمال زكوة وان كانت مالاً حقيقة تامل ثم فى الولو الجية التصريح بان فيه ثلث روايات (منحة الخالق على البحر/ ص۲۰۸ /ج۲) ددي عبارتونونه ثابته شوه چه امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په نزد ديون (قرضونه) دري قسمه دي ضعيف ، قوي ، متوسط . قوي دين (قرض) هغه دي چه دمال تجارت ياسروسپينوپه بدله كي دچاپه ذمه گرخيدلي وي اومتوسط هغه دي چه دمال په بدل كي گرخيدلي وي خوهغه مال تجارت يانقد سره سپين نه وي بلكه دكورسامان وغيره وي اوضعيف دين هغه دي چه دهيڅ مال په بدله كي دقرضداريه ذمه وي گرخيدلي لكه قرض دمهروغيره . دين قوي باندي قبضه كولونه مخكي هم زكات هركال واجبيږي مگراداكول يې هغه وخت ضروري دي چه كله څلويښت درهم يادهغي په اوندازه روپي وصول كړيشي ددي نه مخكي اداكول نه واجبيږي خوچه كله زكات اداكول شي نودتولومخكي كلونوحساب سره دي اداكړيشي اودين ضعيف نه پس چه څوپوري كال نه وي تيرشوي هغه وختـه پوري زكات نه واجبيږي . اودين متوسط كي امام ابوحنيفه (رح) نه دوه رويتوانه راغلي دي يوداچه ددين قوي په شان زكات خودمخكي ورخوهم واجب دي خواداكول ئي صرف دڅلويښتودرهموپه وصوليدو لازم نه دي بلكه پوره نصاب يعني دوه سوه درهمه يادوه پنخوس نيمي تولي سپين زر چه كله وصول كړيشي هغه وخت اداكول لازم دي

خو دتیروشو ورخوزکات واجب نه دي بلکه دقرض وصولیدو نه پس چه پري کال تیرشي نوبیاپري زکات واجب دي اوصاحب بدائع دااخري روایت ویرصحیح قرار کړیدي بس امام ابوحنیفه ﷬ دمذهب خلاصه داشوه (۱) چه کوم قرض دڅه مال تجارت یاسرو سپینو په بدل کي دچاپه ذمه واجب شویدي (چه هغې ته دین قوي وائي) نوبه هغې باندي دتیروشو ورخوزکات واجب دي خوادائیګي هغه وخت لازم ده چه کله دڅلو پینځو درهمو برابر وصول کړیشي (۲) چه دداسي مال په بدل کي نه وي برابره خبره ده چه دهیڅ څیز معاوضه نه وي لکه حصه دمیراث اووصیت یا معاوضه وي خو دمال معاوضه نه وي لکه قرضه مهر (دین ضعیف) دیکي دتیروشو ورخوزکات واجب نه دي بلکه دقبضه نه وروستوچه کال پري تیرشي هغه وخت زکات واجب دي (۳) یامعاوضه دمال وي خو دتجارت دمال معاوضه نه وي لکه دکورني سامان معاوضه (یعني دین متوسط) پدیکي هم دصحیح روایتونو مطابق امام اعظم ﷬ په نزد دتیروشو ورخوزکات واجب نه دي بلکه دقبضه دوصولیدو نه پس چه پري کله کال تیرشي هغه وخت زکات واجب دي اودزکات اداکولو تفصیل دادي که چري دي سړي سره ددي رقم نه علاوه نورڅه نصاب دسرو یاسپینو موجود وي نوچه څومره رقم وصول شي هغه به دي اصل نصاب سره شامل کړي که ده سره نه وي نوبیاچه کله دوه سوه درهمه یعني دوه پنځوس نیمي تولي سپین زرو په اندازي رقم وصول کړیشي اوپه هغې کال تیرشي نو هغه وخت زکات واجب دي. دهغې نه پس اوس داګوري چه پراویډینټ فنډ کي چه کومي روپي جمع دي اودحکومت یاکارخانه په ذمه قرض دي هغه د دریو قسمونو کي په کوم قسم کي داخل دي داخوښکاره خبره ده چه دین قوي خونه دي ځکه چه هغه خو دمال تجارت معاوضه نه ده بلکه دخدمت معاوضه ده ځکه دبحرالرائق عبارت ان لم تکونا للتجارة لاتجب مالم یحل الحول نه وضاحت سره ثابت دي چه که غلام یامکان تجارت دپاره نه وي نودهغې خدمت اواجرت ته مال تجارت نه شي ویلې نو خدمت دحر (ازاد) ته خو بدرجه اولی مال تجارت نه شي ویلې . اوس دوه احتماله پاتي دي که خدمت ته مال اووائي نو دین متوسط کي داخل دي اوکه بالکل مال ئې ونه ګڼړي نودین ضعیف کي داخل دي امام اعظم ﷬ نه پدي دوه احتمالونو سره دوه روایتونه نقل شویدي چه په هغې کي منحة الخالق دمحیط په حواله وضاحت کړیدي چه دواړو کي ظاهرروایت دادي چه دادي مال وګڼړلي شي اودین متوسط کي دي داخل کړیشي اوپه دریم روایت مبسوط کي دي تفصیل دادي چه اجرت اوخدمت ته مطلقاً مال اونه غیرمال بلکه که غلام دتجارت خدمت یادکورد تجارت اجرت دي نو مال دي ګڼي غیرمال ورومبي صورت دین

قوي کي داخل دي اودویم صورت دین ضعیف کي اودریم روایت مبسوط صحیح کړیدي خودابحث اوخبري اوروایتونو اختلاف دغلام دخدمت په باره کي دي چه سن وجه مال دي اودفقهاؤ دي وضاحت مطابق دحرخدمت مال نه دي ددي وجه نه اختلاف دروایت پدي مسئله که موثرنه معلومیږي . اوخلاصه داشوه چه دین قوي کي دداخلیدو صرف یوصورت کیدیشي چه دتجارت دغلام خدمت یادکوردتجارت یادزمکي دتجارت معاوضه وي ددي نه علاوه هیڅ قرض اجرت په دین قوي کي بالاتفاق داخل نه دي اوداښکاره خبره ده چه دپراویډینټ فنډ روپي چه دملازم دتنخواه سره کیخودلي شویده یادانعام په طورسره چه دحکومت سره جمع کړي شویدي هغه پدیکي هیڅري شامل نه دي . ددي وجه نه دیکي صرف دوه احتماله کیدیشي چه دین متوسط وي یا دین ضعیف اودین متوسط کي هم ددي داخلیدل ځکه ګران دي چه دوه روایتونه چه حواله دمنحة الخالق لیکلي شویدي هغه دواړه دغلام دخدمت په باره کي دي . دحر (ازاد) دخدمت په هغې کي ذکرنشته . اوداښکاره خبره ده چه دحر خدمت دغلام په خدمت نه قیاسیږي اودفقهاء دوضاحت مطابق خدمت دغلام دافی الجملة مال دي اودحر خدمت مال نه دي نوداښکاره شوه چه دادین دین ضعیف کي داخل دي اوکه دیته دین متوسط هم ووائي بیاهم دصحیح روایت مطابق دامام اعظم ﷬ په نزد دین متوسط هم په حکم ددین ضعیف کي دي پدي هم دتیروشو ورخوزکات واجب نه دي کماصرح به في البدائع غرض داچه دپراویډینټ فنډ روپي په دین قوي کي نه شي داخلیدي اودین متوسط کي هم داخلول چرته دروایت مطابق نشته څوپوري چه دحر (ازاد) خدمت ته مال ونه وائي په وضاحت دفقهاء سره اوکه بالفرض په دین متوسط کي هم داخلیدل اومني نوده دي حکم هم دصحیح روایت مطابق ددین ضعیف په شان دي چه پدي باندي دتیروشو ورخوزکات واجب نه دي .

خبرداري (۱) دفقه روایتونو کتلواوغورکولو سره احقرهم ته هم داصحیح معلومیږي چه پدي فنډ باندي تیروشو ورخوزکات واجب نه دي . داحتیاط دپاره دنورعلماء نه معلومات کول هم مناسب دي . بل داچه دصاحبین په نزد دیون کي ددین قوي ، متوسط اوضعیف څه تفصیل نشته بلکه هرقسم قرض باندي دتیروشو ورخوزکات واجب دي . ددي وجه احتیاط اوتقوی باندي دعمل کولو سره که دتیرشوو ورخوزکات ورکړي نوبهتره ده اوکیدیشي چه ددي اختلاف نه بچ کیدو دپاره زمونږ په کلوکي عام طورسره دمهرتړلو په وخت دروپو په ځای

(۱) داتنبیه دحضرت سید حکیم الامت په حکم سره زیاته کړي شویده ۱۲ محمد شفیع

خو د تیروشو ورځو زکات واجب نه دي بلکه د قرض وصولیدو نه پس چه پوري کال تیرشي نو بیا پوري زکات واجب دي او صاحب بدائع دا اخري روایت ډیر صحیح قرار کړیدي پس امام ابوحنیفه رحمه الله د مذهب خلاصه دا شوه (۱) چه کوم قرض د څه مال تجارت یا سرو سپینو په بدل کي د چا په ذمه واجب شویدي (چه هغي ته دین قوي وائي) نو په هغي باندي د تیروشو ورځو زکات واجب دي خو اداتیګي هغه وخت لازم ده چه کله د څلویښتو درهمو برابر وصول کړېشي (۲) چه د داسي مال په بدل کي نه وي برابره خبره ده چه د هیڅ څیز معاوضه نه وي لکه حصه د میراث او وصیت یا معاوضه وي خو د مال معاوضه نه وي لکه قرضه مهر (دین ضعیف) دیکي د تیروشو ورځو زکات واجب نه دي بلکه د قبضه نه وروستو چه کال پوري تیرشي هغه وخت زکات واجب دي (۳) یا معاوضه د مال وي خو د تجارت د مال معاوضه نه وي لکه د کورني سامان معاوضه (یعني دین متوسط) په دیکي هم د صحیح روایتونو مطابق امام اعظم رحمه الله په نزد د تیروشو ورځو زکات واجب نه دي بلکه د قبضه د وصولیدو نه پس چه پوري کله کال تیرشي هغه وخت زکات واجب دي او د زکات اداکولو تفصیل دادي که چري دي سړي سره د دي رقم نه علاوه نور څه نصاب د سرو یا سپینو موجود وي نو چه څومره رقم وصول شي هغه به دي اصل نصاب سره شامل کړي که ده سره نه وي نو بیا چه کله دوه سوه درهمه یعني دوه پنځوس نیمي تولي سپین زرو په اندازي رقم وصول کړېشي او په هغي کال تیرشي نو هغه وخت زکات واجب دي. د هغي نه پس اوس دا کوري چه پراویډیټ فنډ کي چه کومي روپي جمع دي او د حکومت یا کارخانه په ذمه قرض دي هغه د دریو قسمونو کي په کوم قسم کي داخل دي دا خو ښکاره خبره ده چه دین قوي خو نه دي ځکه چه هغه خو د مال تجارت معاوضه نه ده بلکه د خدمت معاوضه ده ځکه د بحر الرائق عبارت ان لم تکونا للتجارة لاتجب مالم یحل الحول نه وضاحت سره ثابت دي چه که غلام یا مکان تجارت د پاره نه وي نو د هغي خدمت او اجرت ته مال تجارت نه شي وئیلي نو خدمت د حر (ازاد) ته خو بدرجه اولی مال تجارت نه شي وئیلي. اوس دوه احتماله پاتي دي که خدمت ته مال او وائي نو دین متوسط کي داخل دي او که بالکل مال نه وي ونه ګنړي نو دین ضعیف کي داخل دي امام اعظم رحمه الله نه پدي دوه احتمالونو سره دوه روایتونه نقل شویدي چه په هغي کي منحة الخالق د محیط په حواله وضاحت کړیدي چه د ظاهر روایت دادي چه دا دي مال و ګڼلي شي او دین متوسط کي دي داخل کړېشي او یو دریم روایت مبسوط کي دي تفصیل دادي چه اجرت او خدمت نه مطلقاً مال او نه غیر مال بلکه که غلام د تجارت خدمت یا د کور د تجارت اجرت دي نو مال دي ګڼي غیر مال ورومبي صورت دین

قوي کي داخل دي او دویم صورت دین ضعیف کي او دریم روایت مبسوط صحیح کړیدي خو دا بحث او خبري او روایتونو اختلاف د غلام د خدمت په باره کي دي چه من وجه مال دي او د فقهاؤ دي وضاحت مطابق د حر خدمت مال نه دي د دي وجه نه اختلاف د روایت پدي مسئله که موثر نه معلومیږي. او خلاصه دا شوه چه دین قوي کي د دا خلید و صرف یو صورت کیدیشي چه د تجارت د غلام خدمت یا د کور د تجارت یا د زمکي د تجارت معاوضه وي د دي نه علاوه هیڅ قرض اجرت په دین قوي کي بالاتفاق داخل نه دي او دا ښکاره خبره ده چه د پراویډیټ فنډ روپي چه د ملازم د تنخواه سره کیخودلي شویده یا د انعام په طور سره چه د حکومت سره جمع کړي شویدي هغه پدیکي هیڅري شامل نه دي د دي وجه نه دیکي صرف دوه احتماله کیدیشي چه دین متوسط وي یا دین ضعیف او دین متوسط کي هم د دي داخلیدل ځکه ګران دي چه دوه روایتونه چه حواله د منحة الخالق لیکلي شویدي هغه دواړه د غلام د خدمت په باره کي دي. د حر (ازاد) د خدمت په هغي کي ذکر نشته. او دا ښکاره خبره ده چه د حر خدمت د غلام په خدمت نه قیاسیږي او د فقهاء د وضاحت مطابق خدمت د غلام دا فی الجملة مال دي او د حر خدمت مال نه دي نو دا ښکاره شوه چه دا دین دین ضعیف کي داخل دي او که دیته دین متوسط هم وه وائي بیا هم د صحیح روایت مطابق د امام اعظم رحمه الله په نزد دین متوسط هم په حکم د دین ضعیف کي دي پدي هم د تیروشو ورځو زکات واجب نه دي کما صرح به فی البدائع.

غرض دا چه د پراویډیټ فنډ روپي په دین قوي کي نه شي داخلیدي او دین متوسط کي هم داخلول چرته د روایت مطابق نشته څو پوري چه د حر (ازاد) خدمت ته مال ونه وائي په وضاحت د فقهاء سره او که بالفرض په دین متوسط کي هم داخلیدل او منلي شوده دي حکم هم د صحیح روایت مطابق د دین ضعیف په شان دي چه پدي باندي د تیروشو ورځو زکات واجب نه دي.

خبرداري (۱) د فقه روایتونو کتلو او غور کولو سره احقر هم ته هم دا صحیح معلومیږي چه پدي فنډ باندي تیروشو ورځو زکات واجب نه دي. د احتیاط د پاره د نورو علماء نه معلومات کول هم مناسب دي. بل دا چه د صاحبین په نزد دیون کي د دین قوي، متوسط او ضعیف څه تفصیل نشته بلکه هر قسم قرض باندي د تیروشو ورځو زکات واجب دي د دي وجه احتیاط او تقوی باندي د عمل کولو سره که د تیرشوو ورځو زکات ورکړي نو بهتره ده او کیدیشي چه د دي اختلاف نه بچ کیدو د پاره زمونږ په کلو کي عام طور سره د مهر ترلو په وخت د روپو په ځاي

---

[1] دا تنبیه د حضرت سید حکیم الامت په حکم سره زیاته کړي شویده ۱۲ محمد شفیع

اتیازره تکي دوه دینارہ سورزرنګ واله ونیل کیدل چه دوه نیم زره روپي قیمت ئي وه والله سبحان الله وتعالی اعلم. السائل الاحقرمحمد شفیع عفاالله عنه خادم دارالعلوم دیوبند ۱۲ صفر ۲۲ھ

جواب: ستاسوتحقیق صحیح دي لهذا زه هم دا اختیاره وم اوددي دخلاف نه رجوع کوم. اشرف علی ۱۳ صفر / ۲۲ھ)

دسرو جوړه شوي پوزه یاغاښونو باندي زکات

سوال: (۷۷) اکثر خلق غاښونه دسروپه تارونوسره تړي یا خالي غاښ دسروزرونه جوړوي د سرو زروپوزه په مخ باندي ولګوي اودابغیردځه زخم تکلیف نه جدا کیږي خودغاښ نه دغه شان سره نه جداکیږي سوال دادي چه په صاحب نصاب باندي ددي سروهم نصاب واجب دي؟

جواب: ف الدرالمختار عداجزئیات المتعدد التی لا فیها الزکوة مانصه لعدم النمو وفي ردالمختار لانه غیرمتمکن من الزیادة. الخ ج ۲ / ص ۱۴ / دینه معلومه شوه چه دسروپه دغه پوزه زکات واجب دي اوکوم سره چه غاښ ترینه جوړ کړیدي په هغي زکات نشته[1]، ۲۲ ذی قعده / ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه / ص ۷۵)

سوال: (۷۸) درتفصیل بعض صورضروریه اعتبار قیمت درادای زکات ازخلاف احقرتراوسه پوری دسروزرود طلائی زکات چه روپوسره اداکولی شي داطریقه خودلته اوکیدیشي چه زماچرته لیکلی شوی فتوی کي هم دامضمون وی چه دکالوزن به وکړی دهغومره سرو قیمت څلویښتمه حصه به ورکړی خومیمی مولوی صاحب احمد حسن سنبهلی ماته یو روایت وخودلوچه دهغی نه معلومه شوه چه صرف دسروقیمت لګول پوره نه دی بلکه دهند سرو دجوړیدو یعنی کهرائي قیمت به هم لګوی. ددي مجموعه دقیمت څلویښتمه حصه به زکات کی ورکوی داخواصل مسئله ده. البته که یوځای رواج داوی چه دسرواخستوخرڅولو په وخت کی ددي کهرائي نه لګوی نوهلته به بیازکات کي هم نه لګوی صرف سروقیمت چه دکوم حیثیت سره دی لګوی. اوس دقاعدي تقاضاداشوه که داسی ځایونو کی دکالومالک دکالوتجارت کوی نوهغه به کهرائي لګوی که تجارت نه کوی صرف استعمال کی راولی نو هغه به نه لګوی. که چرته رواج ددی خلاف وی نوهغه به هلته هغه شان کوی ددی یوفرع دا هم

[1] داجواب دفائدونه لیکلی شویدي دعالمانونه امیدي چه که چرته داجواب صحیح نه وي نودتصحیح دپاره جواب ورکونکی نه خبردارئ دیوه نه پس به زه دخپل جواب نه رجوع وکړم اوهغه جواب به شائع کړم ۱۲ منه۔

ده که چاته داتیاروپوزکات قیمت سره ورکوی اوپیسوسره غواړی نوددوو روپوسپین چه څومره پیسوباندی ملاویږی اوهغه پیسیٔ دسپین دارزانوالی ده وجه نه ددوو روپونه کم وی نو ددی اداکول پوره نه وی. بلکه پوره ددوو روپوپیسی به ورکوی ځکه چه سکه سره قیمت دروپی اوچت شو اوهغه روایت دادی. ولوکان له ابریق فضة وزنه مائتان وقیمته لصاغته ثلث مائة ان ادی من العین یؤدی ربع عشره وهو خمسة قیمتها سبعة ونصف وان ادی خمسة قیمتها خمسة جاز ولوادای من خلاف جنسه یعتبرالقیمة بالاجماع کذا فی التبیین / عالمگیریه ج ۲ / ص ۱۱۵ / کتبه اشرف علی ۴ ربیع الاول / ۱۳۳۴ھ، ترجیح رابع / ص ۷۲)

دزکات دمال نه په یتیمانانو خوراک کول یاکپړو جوړولو حکم

سوال: (۷۹) یوسړی یتیم خانه جوړه کړیده اوهغه دمسلمانانونه زکات، سرسایه، دقربانی څرمنوپیسی اخلی هغه یتیم بچوته دخوراک سکاک اوکپړوانتظام خپله کوی بچوته روپی لاس کی نه ورکوی اونه دزکات پیسی بل چاته دتملیک په حیله ورکوی بل سړي وائي چه داروپی چرته په مستحق دزکات باندی تملیک کړه اوبیاپه یتیم بچوباندی خرچ کول پکاردی ګنی دزکات ورکوونکوزکات نه اداکیږی نودی صورت کی څه کول پکاردی؟

جواب: تملیک په ټولورقمونو کی شرط دی که روپی یاروپوسره بل څه شی راغلی دهغه شی وی مثلاً کپړی ورکړی. خودیکی څوشرطونه دی. اول داچه درقم ورکوونکی ددی اخستودپاره اجازت وی. دویم داچه دهغه شی قیمت ددی رقم سره برابروی. دریم داچه ددی بچوپه ملک کی راولی مثلاً خوراک ته کیښوده نوزکات ادانه شوبل چاده لرګی وغیره دقیمت اعتبارنشته ۱۵ ذی قعده / ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه / ص ۷۳)

په حیله دتملیک کی دنابالغه دتملیک حکم

سوال: (۸۰) نابالغ یتیم بچی ته زکات ورکولوسره اداکیږي یانه؟

جواب: اداکیږي خویدی شرط چه مصرف دزکات وی. ۱۵ ذی قعده / ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه / ص ۳۷)

دبنځی دمهرقرض چه دخاوندپه ذمه دی په هغی زکات نشته

سوال: (۸۱) ددی عاجزدنکاح دیرش کاله اوشول مهرپاؤباندی پنځه سوه روپی مقررشوی وه اوسه پوری ورکړی شوی نه دی دمکان خلقوغوختنی هم نه دی باوجود دطاقت او وس نه

اداکړی شوی نه دی. پیغه دیرش کاله کی هیڅ کال هم ددی مهر درقم دزکات ورکولو خیال وبنده په زړه کی ده. دی تیرشوی هرکال ددی بنده سره رمضان شریف کی چه څومره رقم جمع کیږي دهغی زکات ورکولی شی اوهرلری خترکی دکوره خلقو طرفته یو بیزه قربانی کیږي اوس عرض دادی چه دکوره خلقو دمهر دهغه پیسو زکات ددی دیرشو کالو په حساب سره جدا ورکول په دی بنده واجب دی یانه. جواب سره کامیابی غواړو. درمضان شریف وروستو انشاء الله تعالیٰ بنده اراده ده چه دمهرپه پیسو کی دکور خلقوته یوه زمکه چه دنهه سوه روپی ده ورکړم؟

جواب: قرض زکات خوستاپه ذمه پاتی دی په هیڅ حال کی نشته که احتمال وی نو کیدي شي چه دبنځی په ذمه وی ځکه چه مهر دبنځی حق دی دهغی حکم د درمختار وغیره نه لیکم هغه داچه چه څوپوری مهر هغی ته رسیدلی نه وی ترهغې پوری په هغی هم زکات نشته اوچه کله ورسید نو دهغی تفصیل دادی که نقدروپی ورته رسیدلی وی نوهغه تاریخ نه دهغی په ذمه زکات واجب دی اودتیروشوو کلونو واجب نه دی اوکه په مهرکی زمکه ملاؤشوه نوپه هغی زکات نشته. ۲۲ رمضان ۱۳۳۷هـ (تتمه خامسه ص ۹۳)

دوکیل زکات واجب التملیک اوغیرواجب

التملیک رقوم یوبل سره دیوځای کولو حکم

سوال (۸۲): که واجب التملیک اوغیرواجب التملیک مال په یوتیهلی کي کیخودی شي صرف په کاغذونوکی جداجدا لیکلی شوی وه چه په هغی کی اوګوری نوواجب التملیک دهغی په مدکی خرچ کړی اوغیرواجب التملیک دهغی په مدکی نودغه شان دواړه یوځای کیخودلوسره دزکات یادقربانی دڅرمنوقیمت اداکیدیشي یانه. که یومدرسه کی دواړه یوځای کیخودلی کیږي نودپوه باوجود دغه سره دزکات یادقربانی دڅرمنوقیمت اداکیدي شي یانه که یومدرسه کی دواړه یوځای کیخودلی کیږي نودپوهي باوجود دغه مدرسی ته زکات روپی ورکول جائزدی یانه؟

جواب: فی ردالمحتار من الفصل التاسع من زکوة التاتارخانیة دفع رجلان لرجل دراهم یتصدق بها عن زکوتهما فخلطها ثم دفعها ضمن الا اذاوجدالاذن اواجازا المالکان اووجد دلالة الاذن بالخلط کماجرت العادة من ارباب الحنطة بخلط ثمن الغلات کذا الطحان ضمن اذاخلط حنطة الناس الا فی موضع یکون ماذوناً بالخلط عرفاً الخ ملخصا ج۲/ص ۱۲۲/ ددی روایت نه معلومه

شوه چه دورکونکوپه اجازت سره داجائزدی که دااجازت صراحتاً وی اوکه دلالةً وی خوچه کمزوری دلالت نه وی اوبغیرداجازت نه جائزنه دی بلکه تاوان پری لازمیږی په کومه مدرسه کي اوکه دلالةً وی خوچه کمزوری دلالت نه وی اوبغیرداجازت نه جائزدی بلکه تاوان پري لازمیږی په کومه مدرسه کی چه ددی قیداجازت رعایت وی په هغی کی ورکول جائزدی ګنی نه دی. ۲ ذی الحجه ۱۳۴۲هـ (تتمه خامسه ص ۳۱۵)

په تجارت مشترکه کی زکات مشترکه واجب نه دی

سوال (۸۳): په شریک تجارت کی دکال تیریدونه پس په شریکه زکات واجب دی؟

جواب: نه دی واجب. پاتی سوال جداورکول واجب دی. جواب نه. آو واجب دی پاتی سوال یعنی ټول شریکان په یوځای پیسی دي اوپاسی. جواب نه. پاتی سوال که بعض حصه دران زکات ورکول نه غواړی نوهرسړی خاته خپلی روپی اومال دکال تیریدونه پس چه دده حصه کی زکات اداکولی شي؟ جواب: آو اداکولی شي تتمه خامسه ص ۳۲۷

د مختلفو سکو زکات

سوال (۸۴): ما دنورو ملکونو دسپینو او دتانبی سکی جمع کړیدی چه دهغی وزن اوقیمت مختلف دی نورمال سره ددی سکوهم زکات ورکول واجب دی یانه که ورکوی نوکوم طریقی سره ځکه چه دیکی ډیری داسی سکی هم شته چه دهغی قیمت معلوم نه دی اومعلومول نې ډیرګران هم دی؟

جواب: دتانبی په سکوکی خوزکات نشته البته که په نیت دخرڅولو یې اخستی وی چه که څوک اخستونکی ګټه راکوی نوخرڅ به نې کړم پری نوبیاپری زکات واجب دی اودسپینو په سکوباندی هرحال کی زکات فرض دی اوکه زکات کی روپی ورکوی نودغه وخت کی به دسکوقیمت معتبرنه وی بلکه وزن به نې معتبروی یعنی که داسکی په وزن کی څلوېښت روپیوی نودهغی زکات به یوه روپی وی. ۸ محرم ۱۳۳۴هـ (تتمه رابعه ص ۴۰)

حکم صرف کردن چندہ زکات در تنخواہ مدرسین مدرسه ودر سکونت طلبه اغنیاء ودرکرایه مکان برائی مدرسه

سوال:(۸۵)څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین دلاندینو مسئلو په باره کی چه په مدرسو کی دغریب طالبانو اودیتیمانانو دخوارک څکاک اولباس نه علاوه مهتمم دزکات مال په دی لاندینو ځیزونو کی خرج کولی شي. (۱) دباورچی تنخواه اوخوراک وغیره کی (۲) دمدرسین، مهتمم اودچندی راټولوونکو تنخواه په اندازی دشمارد غریبانانو اویتیمانانو یعنی مدرسه کی غریب اومالدار دواړه قسم طالبان سبق وائی. نودغریبانانو دحصی هومره مدرسین وغیره تنخواگانو کی دزکات مال خرج کولی شي یانه (۳) دځای کرایه چه هلته طالبان اوسی اوسبق لولی اوآیا دطالبانو دکرایي په مکان کی مهتمم څوک بل سړی اچولی شي دهغی دمصلحت باره کي څه دخل نه وی (۴) اودلوستلو دپاره دکرائي په مکان کی غریبان اومالداره دواړه قسم اوسیدل جائزدي یانه (۵) بچودپاره په سبق کی دپوهي دپاره په سکولونوکی، سپی پیشو زمری وغیره تصویران کیخودل جائزدي یانه بینواتوجروا؟

جواب: ماسیوا دسوال څلورم نه دهغی دجواب تفصیل لاندی لیکلی کیږی. دنورو سوالونو مشترک جواب دادی چه داټول کارونه جائزنه دی اودهغه تفصیل دادی که صراحتاً یادلالة دچندی ورکوونکو دطرفه ددی اجازت وی نوجائزدی گنی نه دی جائز. اوکه داکرایه دچندی نه نه ورکوی بلکه دوقف مال نه ورکوی نو په هغی کي داتفصیل دی که وقف کوونکی صراحتاً یادلالة تعمیم کړی وی چه داعام ده نوبیاجائزدی گنی نه دی جائز. اوس چه جائزنه دی پدي صورت کی که چرته دجماعت دیوځای والی دوجه نه دمالدارواوغریبانو یوځای کیناستل ضروری وی نوبیادمالدارو حصی کرایه یاخوپه خپله اداکړی یادی دداسی فنډنه ورکړیشی چه هغی کی تخصیص نه وی. ۱۵ شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه / ص ۲۲)

دتبدیل ملک دمعنی تحقیق

سوال:(۸۶) دامشهوره ده چه دملک بدلیدوسره دمال نه حراموالی ختم شی داصحیح دی یانه؟

جواب: دملک بدلیدوسره دعین دبدلیدو دامعنی نه ده کومه چه عوام اخلی بلکه مطلب دادی چه یوسړی سره په یوخاص طریقی سره څه شی راشی چه هغه سړی ته هغه طریقه حلال وی خوکه بل سړی ته په دغه طریقه بوشی راشی نو هغه ته حلال نه وی دی سړی دی بل سړی ته په

څه بل طریقی داشی ورکړوچه ده هم حلال وی خودیکی به دوړومبی طریقی څه لحاظ نه وی اودهغی ثواب به هم باقی نه وی مثلاً مالداره ته صدقه اخستل حرام دی خویو فقیرته یوشی په صدقه کی ملاؤشی اودی فقیردی مالداره ته په هدیه کی ورکړه اوس ده ته حلاله ده. نوگویادا یوبل شی شو دامطلب دی ددی قاعدی. اوداچه مشهوردی چه دهرکه ورکولوسره یوشی حرمت ختمیږی دابالکل غلط دی فقط. (امداد / ج ۲ / ص ۱۲۹)

ادلة حکم یضم المستفاد الی نصابه من جنسه

سوال:(۸۷)اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته. عرض دادی چه یضم المستفاد الی نصابه من جنسه څه دلیل دی که چرته یوحدیث مرفوع یاموقوف معلوم وی نومهربانی وکړی سره د حوالي دکتاب اودباب نه خبرداری راکړی ښکاره خودادہ چه قوله علیه السلام لازکوة فی مال حتی یحول علیه الحول. ددی نه معلومیږی چه واجب نه دی کماهو قول البعض. دکنزالدقائق په حاشیه می داحدیث لیدلی دی ان من السنة شهراً تودون فیه زکوة امرالکم فماحصل بعدذالک فلا زکوة علیه حتی یجئ راس الشهررواه الترمذی. خودی عاجز ترمذی شریف یوځل سرسری اوکتلودی مضمون څه حدیث می ونه لیدو. باقی دحضرت سوری دی په مونږ همیشه وی؟

جواب:اسلام علیکم. فی شرح العینی للهدایة فان قلت ماتقول ما فی الحدیث الذی استدل به الشافعی رواه الترمذی (بسنده) عن ابن عمر رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من استفادمالاً فلا زکوة علیه حتی یحول علیه الحول رواه ابن ماجةمن حدیث عمرة عن عائشة رضی الله عنها قالت سمعت رسول الله ﷺ یقول لا زکوة فی مال فی یحول علیه الحول قلت اما حدیث بن عمر رضی الله عنهما فانه ضعیف لان فیه عبدالرحمٰن بن زید قال الترمذی وهوضعیف فی الحدیث ضعفه احمد بن حنبل رحمه الله علی بن المدینی وغیرهما من اهل الحدیث وهوکثیر الغلط وقال الترمذی ایضاً وروی ایوب وعبدالله بن عمر رضی الله عنهما وغیرواحدعن نافع عن ابن عمر رضی الله عنهما موقوفاً قلت انفرد الترمذی باخراج هذاالحدیث وانفردایفربالموقوف واماحدیث ابن ماجه ففیه حارثه بن محمد وقال احمد لیس بشئی

وقال یحی ثقة ولوثبت لما کان مخالفاً لمذهبنالان حول الاصل حول الزیادت کماقالوافی الاولادوالارباح والزیادة فی البدن بالثمن ثم قال فی حدیث ان من السنة شهراً مانصه ولم اره فی الترمذی ثم قال ان مذهبنافی هذالباب وهوقول عثمان وابن عباس والحسن البصری والثوری والحسن ابن صالح الخ . مختصراً وقال محمدفی موطاه بعدنقل قول ابن عمرلا تجب فی مال الزکوة حتی یحول علیه الحول مانصه الا ان یکتسب مالا فیجمعه الی مال عنده معاً یزکی الی قوله وهوقول ابی حنیفة رحمه الله وابراهیم النخعی وفی التعلیق الممجدعن ابن الهمام هکذا وقال اصحابنا هوحدیث ضعیف وعلی تسلیم ثبوته فعمومه لیس مراداً للا تفاق علی فروج الارباح والا ولاد فعلنا بالمجانسة فقلنالما اخرج الاولاد والارباح للمجانسة لا للتولدفیجب ان یخرج المستفاد اذاکان من جنسه وهودفع للحرج علی اصحاب الحرق الذین یجدون کل یوم درهماً فاکثرواقل فان فی اعتناء الحول لکل مستفاد صریحاً عظماً وهومرفوع بالنص الخ . قلت لا نسب الترمذی القول بالفهم الی سفیان الثوری ماهل الکوفه ووجدت فی حاشیه الترمذی مکتوباً بخطی مانصه محمول علی مال جدیدلا المنضم الی نصاب فلادلیل فیه قیام هذالاحتمال ومع کون الحدیث موقوفاً علی الاصح الخ . پدی عبارت کی ستادتولو سوالونو جواب ذکر کړی شویدی ۲۳ جمادی الثانی ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص۱۴۹)

دپیمانه اوفرق تحقیق

سوال: (۸۸) فرق په مقدارکې اختلاف دي کافی کې شپږدیرش رطل دی، محیط کې شپیته صحاح کې شپاړلس رطله اوتکمله کې دي چه فرق په سکون سره فرق شپاړلس رطله دي . اوپه قول دبعضو شپاړلس رطله اوپه قول دبعضو څلور رطل دي اوفرق په فتح سره اتیا رطله دي قاموس کې دي مکیال بالمدینة یسع ثلث اصع ویحرک وهوافصح اویسع ستة عشر رطلا اواربعة ارباع؟

جواب: شخین چه دکعب بن عجره نه روایت نقل کړیدی په هغی کې دسروردوعالم جناب نبی کریم ﷺ ارشاددي فاحلق راسک واطعم فرقاً بین ستة مساکین اوددي نه پس داعبارت دی والفرق ثلثة اصع، کیدیشی چه داعبارت درواي مدرج وي مګرپدي باندی دوروستو اوراتلونکو فقهاؤ محدثینو اوماهرین لغت اوټولو ثقاتو انکارنشته نوداترجیح شوه چه په

احکام شرعیه کې چه کوم مقدارددی معتبردي هغه دري صاعه (سیره) دي صاحب مرقات طیبی نه ددی قول نقل کولونه پس نوراقوال په قیل سره نقل کړیدي باقی نوراقوال به پدي باندی حمل کیږی چه دمختلفو ځایونو مطابق داټول اطلاعات صحیح دي . ددی نظیرزمونږ په محاوره کې دلفظ ((سیر)) یا ((من)) سره کیږي چه هرځای کې په جدامقام باندی ددی اطلاق کیږی . مګراحکاموکې چه دکوموا اعتباردي هغه هغه دي چه کوم اول ذکر کړي شول ۱۰ محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه / ص۵)

عدم جوازجبربرچنده ازمال زکات

سوال: (۸۹) احقرته ددي اشکال دحل کولوضرورت دي چه که دزکات دمدنه چنده اوغوختی شی اوپه یکې دځه دباؤیازورنه کاروانخستلی شی نوجائزدي یانه اشکال دپیداکیدووجه داده چه دحدیث ((الابطیب نفسه)) نه خوفرضی صدقی باهردي . ځکه چه هغه په هرحال کې اداکول غواړی که په خوش دزړه وي یانه وي ددی وجه نه زکات دباؤسره وصول کولوکې په فرضوکې امدادکول دي بل داچه امام اومشرته دځرګندو مالونوزکات په زوره اوغصی سره وصول کول جائزدي ددی نه معلومه شوه چه فرض صدقوکې طیب نفس شرط نه دي . بعض چنده اخستونکوسره خبري اوشوي نودهغی ن داشک پیداشو مهربانی وکړي دمسئلی حکم سره خبرداري اوفرمائی ؟

جواب: که چرته فرض نمونځ باندی زورکول جائزوي نودهغی سره خصوصیات لازم نه دي په هغی به هم سختی کول جائزوه ، مثلاً فلانکي جماعت کې وکړه فلانکي ګهنته کې وکړه فلانکي امام پسی وکړه هرکله چه دانشته . نوددی نه معلومه شوه چه داصل فعل باندی دسختی جائزکیدوسره پداسی خصوصیاتوباندی دسختی کولوجوازنه راځي نوپدی قیدباندی سختی جائزنه شوه چه زکات فلانکي مصرف کې ورکړه نوحدیث ((لایحل الخ)) داهم عام شواوسلطان ته داسی اختیارات دشریعت دطرفنه حاصل دي ، اوبغیرسلطان پدي قیاس کول مع الفارق دي وهذاظاهرجداً ۲۵ ذي الحجه ۱۳۴۵ھ (تتمه خامسه / ص۳۷۲)

تحقیق وجوب وعدم وجوب زکات درمویشی ازقسم گاؤ وجاموش وغیره بقدرنصاب که غرض ازانهازراعت واستعمال گوشت وشیروغیره باشدنه تجارت

سوال :(۹۰)څه فرمائی علماء دین پدی مسئله کښی چه زید سره څناور قسم دګدی،بزی، غواګانی اومیښی دومره شمیر کښی دی چه په هغی زکوة واجب دی خو دخرڅ دپاره نه دی چه کوم تری بچی پیدا کیږی هغه دفصل،زمیداری په کار راځی اوماده بچی دپیو(شودو) داستعمال دپاره اوګدی،بزی وغیره دغوښی وغیره دپاره استعمالیږی ددی نه علاوه داځناورد کال په نیمه حیصه یادهغی نه هم زیات په داسی زمکه کښی څری چه هغه زمکه په کرایه ورکړی شویده اودهغی زمکی حاصل کړی شوی خراج اومال سرکارته اداکولی شی اوځه زمانه دداسی حاصل کړی شوی زمکی پیدا واروابنه کورکی په څناوروخورلی کیږی پدی صورت کښی په دغه څناوروکی زکوة واجب دی یانه بینوا توجزوا؟

جواب: فی الدرالمختار باب السائمه هی المکتفیه بالرعی المباح فی اکثرالعام لقصد الدار والنسل والزیاده والثمن الی قوله لواسامها للحم (للاکل)فلازکوة فیها کما لواسامها للحمل والرکوب اخ وفی الردالمختار لوحمل الکلاء الیها فی البیت لاتکون السائمه بحر .ددی عبارت نه لاندینی خبری راوتی دی (۱)چه کوم کال تیریدوباندی زکوة واجبیږی دهغه کال دزیاتی حصی دی څرید و اعتبار دی (۲)چه مباح وابنه ئی پری خوړولی وی اوپخپله راختلی شوی وابنه مباح دی اومحصول سره مملوک نه جوړیږی (۳)که وابنه ئی پری په کور خوړولی وی نوبیا دزکوة واجبیدوشرط نه دی موندلی شوی والله اعلم(۴) خوراک دپاره چه کوم څناوراوپاللی شی په زکوة نشته دی دغه رنګه دباروړه لودپاره یاسورلی دپاره یازمیداری دپاره چه ساتلی شوی په هغی هم زکوة نشته څکه چه زمینداری دپاره هم دبار وړلو په حکم کښی دی اشرف علی رحمه الله ۲۱ شوال ۱۳۵۰ھ النورص ۱۰ ربیع الثانی ۵۱ھ)

دمدرسوسفیر دعاملینوپه حکم کښی نه دی

سوال :(۹۱) څرنګه چه عاملین صدقات ورکولو سره اداکیږی اودقائم مقام دعملین ګڼلی کیږی یاهغه مال چه څوپوری مهتمم یابانی دمدرسی ته دزکوة ورکونکودطرفه دنائب کیدوپه طور مستحقین باندی خرچ نه کړی زکوة نه اداکیږی؟

جواب :اودغه دویم جزدی ۲۰ جمادالاولی ۱۳۳۱ھ)

اشتراءزکوة ازمسکین

سوال :(۹۲) کتابونوپه زکوة کښی که چیره کتابونه مسکین ته ورکړی اوددی مسکین نه په تجارتی نرخ سره ددواړوطرفینوپه رضا سره داکتابونه زکوة ورکونکی واخلی نوڅه باک په کی شته یانه ؟

جواب :دبیعی په صحیح والی کی هیڅ شک نشته باقی دا که دحالاتو نه معلومه شی چه زمونږ دلحاظ دوجه نه دومره قیمت قبول کړیدی نودی صورت کی مکروه دی .دلیله حدیث ارادة عمر رضی الله عنه اشترا الصدقة ونهیه صلی الله علیه وسلم عنه ۱۳ ربیع الثانی ۳۳ھ)

فصل فی العشر والخراج ،په باغونوکښی عشر

سوال :(۹۳)دباغونوزکوة څه رنګه ورکول پکاردی آیادباغونوپه پیداوارکښی عشر (لسمه حصه) یانصف عشر(شلمه حصه) ورکول پکاردی عام باغونه چه څوپوری تیارشوی نه وی خرڅیږی اوچه کله تیارشی نوبیانه خرڅوی حاصل داچه دپیداواراودمیوی نیوپه وخت کښی هغه ته اوبه نه شی ورکولی بیا بعضی خلق دباغ فصل خرڅ کړی نوایادعشر یانیمه عشر داندازی مطابق فصل خرڅول نه دی په کارلکه هغه دزکوة په مصرفونوکښی ورکول پکار دی یادفصل دقیمت نه عشر یانیم عشر ورکول پکار دی که چری قیمت سره ورکول پکاروی نوپه دی کښی دعشر یادنیم عشر زکوة نشته بلکه څلویښتمه حصه زکوة دی بیادکال تیردوشرط جدادی څکه چه ډیر خلق دباغونودزکوة نه غافل دی ددی مفصل جواب سره موطمئین کړی ؟

جواب :فی ردالمحتاراختلفوافی وقت العشر فی الثماروالزرع فقال ابوحنیفه رحمه الله وزفر رحمه الله یجب عندالظهورالثمرة والامن علیها من الفسادوان لم یستحق الحصاد اذابلغت حداًینتفع بهاوقال ابویوسف رحمه الله عنداستحقاق الحصادوقال محمد رحمه الله اذاحصدت وصارت فی البحرین وفی الدرالمختارولوباع الزرع ان قبل اذاً له فالعشر علی المشتری ولوبعده فعلی البائع اخ.دی مختلفو اقوالوکښی زماپه نزدامام یوسف رحمه الله قول زیات انصاف والادی دهغی په بنیادچه دمیوودپخوالی په وخت داباغ دچاسره ووپه هغه عشرواجب دی که میوه ورکوی یادهغه قیمت.خو په دی شرط چه بیع باطل شوی نه وی کنه دبائع په ذمه دی څکه چه دده دملکیت نه

یا هرشوی نه دی اواوبو ورکولو ته دیکښی څه دخل نشته بارانی زمکه اوباغ کی هم عشردی اوکه په قیمت ئی ورکړی نوزکوة به په روپو کی نه وی بلکی دحق عشر بدل به وی بس په دیکی هیڅ شک نشته دی اوکه دامام ابویوسف رحمه الله قول واته خلی نوچه کوم قول اخلی دهغی موافق دعشردواجبیدو وخت به اوگوری/ ۲۲ محرم ۱۳۲۲ھ الامداد ص ۱۵۷/

عشردرزمین واب محصول

سوال:(۹۴)زید دیوسړی په زمکه کښی کرونده کوی اوپینځه روپی دوانی یوبیگه (خلورکنال یااتیامرلی) کرایه دی زمیدارته ورکوی اوزید ته کله کله اوبه خورهم هرکال کول راځی پدی کی چه کومه غله کیږی دهغی زکوة څومره اوڅه رنگه ورکړی؟

جواب: فی ردالمحتار ویجب (العشر) فی مسقی السماء وسیح ونصفه فی مسقی غرب ودالیة وفی کتب الشافعیة اوسقاه بماء اشتراه وقواعدنالاتاباه ولوسقی سیحاً وبالة اعتبر الغالب ولواستویا فنصفه وقیل ثلثة ارباع الخ. ددی نه معلومه شوه که اوبه خور اوبه اخلی بیاورکوی نوشلمه حصه به دخپل پیداور ورکوی اوکه په مفته کوی نودکوهی داوبه خوردی هم شلمه حصه ورکوی اوپه نهر اوبه کولوسره لسمه حصه دی ورکړی چه کله زمکه عشری وی یعنی دکافرنه نه وی اخیستی شوی اوپه کوم کال چه اوبه خوراونه کړی نوپه هغی کال دی لسمه حصه ورکړی اوچه کوم دوه قسمه اوبه خوردی نوچه کوم غالب وی دهغه اعتباردی اوکه داره برابروی نو په ټولو کی یوشلمه حصه اویو څلویښتمه حصه دی ورکړی.

تحقیق وجوب عشربرزمیندار یاکاشت کار

سوال:(۹۵)دزید دزمکی عمروپنځلس منه غله فی بگه (څلورکنال) هرکال کرلودپاره ورکوی باقی غله زید اخلی اوزید ددی غله نه دوه روپی دوافی بیگه (څلورکنال) کښی سرکارته ورکوی نوزید دی غله زکوة څنگه ورکوی؟

جواب: (۱) فی الدرالمختار والعشر علی الموجر کخراج موظف وقالا علی المستاجر کمستعیرمسلم وفی الحاوی وبقولهمانأخذقلت ولکن افتی بقول الامام جماعة من المتاخرین الی ان قال لکن فی

(۱) جواب دتصحیح الاغلاط ص ۲۷ نه نقل شویدی ۱۲/

زماننا عامة الاوقاف من القری والمزارع فی المستاجر تحصل غرامات مؤنها یستاجرها بدون اجرالمثل بحیث لانفی الاجرة ولا اضعافها بالعشر اوالخراج المقاسمة فلاینبغی العدول عن الافتاء بقولهمافی ذالک لانهم فی زمننایقدرون اجرة المثل بناء علی ان الاجرة سالمة بجهة الوقف ولاشئ علیه من عشروغیره امالو اعتبردفع العشرمن جهة الوقف وان المستاجرلیس علیه سوی الاجرة المثل تزید اتفاقاً کثیرة کمالایخفی فان امکن اخذها لاجرة کاملة یفتی بقول الامام والابقولهمالمایلزم علیه من الضرر الواضح الذی لایقول به احدوالله تعالی اعلم الخ. ددی عبارت نه معلومه شوه چه که موجر پوره موزد وری واخلی اومستاجر سره کم پاتی شی نوعشر دموجرپه ذمه دی اوکه موجر کم واخلی اومستاجرسره زیات پاتی شی نودمستاجرپه ذمه دی ځکه چه زموږ علاقو کښی مزدوری کم اخیستی شی ددی وجه نه زه فتوی دعشر دواجبیدوپه مستاجر باندی ورکوم. هن که چرته پوره اجرت اخیستی شی چه په هغی زمیندار عشر په بنایسته اندازسره اداکولی شی نودغه وخت عشر واجبیدوفتوی په موجر ده پدی مسئله کښی داجرت اوپیداوارنسبت معلوم نه دی ددی وجه نه په حکم کی تعین نشی کیدلی. والله اعلم (امداد ج اول ص ۱۲۰)

دعشری زمکی تحقیق

سوال:(۹۶)دعشری زمکی باره کی چه دحضرت څه معلومات دی تفصیل سره دی اولیکلی شی؟

جواب: حاصل دمقام دادی چه کومی زمکی پدی وخت کښی دمسلمانانوپه ملکیت کښی دی اودوی ته هم ددغه مسلمانانو دطرفنه رارسیدلی دی میراثی اواخیستلی شوی (هلم جرا) دا زمکی عشری دی اوپه مینځ کښی چه کومو زمکومالک کافروگرځیدونودا عشری پاتی نه شوی اودکوموچه حال معلوم نه دی اوهغه پدی وخت کښی مسلمانانوسره دی داهم داسی اوگنړه چه دادمسلمانانو لاس ته راغلی دی بدلیل الاستصحاب. نوداهم عشری شوی وقدرالعشرمعروف فقط ۱۸ محرم ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی ص ۵۰)

تحقیق عشر وخراج دراراضی هند

سوال:(۹۷)اوس موجوده وخت کی دهندوستان زمکه خراجی ده که عشری ده هرکله چه دبرطانی حکومت په دهوکه دبادشاهی هغه پری په خپله قبضه اواقتدارکی واخیستل نوهغه

وخت کښې ئې عام اعلان وکړ چه ټولې زمکې ضبط کړې شوې او دچا حق نشته که دزمکې مالک دعوې ثبوت پيش کړې شو نو هغه ته به دحاکم دتجويز مطابق ورکولې شي پدې وجه چه کومو مالکانو دزمکو په دعووباندې ګواهان پيش کړل نو هغوې ته هغه زمکې يادهغې په ځای نورې ورکړې شوې اوبعضو ته په څه کاريا حيله کې زمکه ورکړې شوه اودزمکې ټکس سرکارې چه کوم سالانه دزميدارونه بادشاه اخلې مقرر کړواو بعضوته ئې معاف کړو؟

(۲)په اندازه دواجبيدودعشر يانيم عشر په کاشتکار باندې واجبيږي که زميندار باندې کاشتکار هغه دې چه دزمکې ټول خدمت کوې او مالک دزمکې يعنې زميندار دهغه نه نيم يادريم حصه پيداورپه شرطونو پيداورچه جنس دې يا غيردجنس دې په دې حيثيت سره اخلې سرکارې زمکې کرايه زميندار اداکوې؟

(۳)ديوکلي بعضې حصه دزمکې پيداور دارومدار په اسمانې اوبو باندې دې اودهغې اوبه خورنه کيږې يعنې که صرف باران باندې اکتفاوکړې شي نو پيداور کم کيږې اوچه اوبه خورورسره شي نو زيات کيږې اوکله داسې هم کيږې چه دکومې زمکې اوبه خور کيږې خوپه وخت سره باران کيدودچه نه داوبه خور ضرورت ختم کړې شي پدې ټولو صورتونو کښې په اندازې دواجبيدو دعشر کښې عشر واجبيږي يانيم عشر؟

جواب:(۱)دضبط کولودوه معنې کيدې شي يوقبضه مالکانه که قبضه مالکانه وی نودازمکې عشرې پاتې نه شوې دويم قبضه ملکانه حاکمانه اومنتظمانه اوداحقر په نزدپه مضبوطو قرينوسره ديته ترجيح ده نوکه داسې قبضه وی نو دازمکه عشرې به په خپل حال عشر وی البته که دمخکې نه دازمکې عشرې نه وی ياسرکار بله زمکه ددې زمکې عوض کې ور کړيده يادځه صله اوانعام کې څه زمکه ورکړه نواوس چونکې دورکولونه مخکې په غلبې سره دسرکارپه ملکيت کې راغلې دې نوداعشرې پاتې نه شوه

(۲)والعشر على المؤجر كخراج موظف وقال على المستاجر كمستعير مسلم وفي الحاوی وبقولهما نأخذ وفي المزارعة ان كان البذر من رب الارض فعليه ولو من العامل فعليهما بالحصة درمختار .ددې نه معلومه شوه چه که دکرای زمکه وی نومفتی به قول دادې چه په کاشتکار عشر دې اوکه بټهائې چه زمکه داجاره دار اوزميدارکې تقسيم وی، باندې وی اوتخم دکاشتکاروی نوزميندارا وکاشتکاردواړه باندې دخپلې حصې په اندازه دې (۳)ويجب (العشر)في مسقى السماء او سيح كنهر الى قوله ويجب نصفه في مسقى غرب اى دلو كبير ودالية

اى دولاب لكثرة المونة وفي كتب الشافعية اوسقاه بماء اشتراه وقواعدنا لا تاباه ولوسقى سيحاً وبالة اعتبر الغالب ولواستويا فنصفه وقيل ثلثة ارباع .درمختار قلت واختلف الترجيح والاحتياط في الثاني ددې نه معلومه شوه چه بارانې زمکه کې عشر دې او اوبه خور دکوهي اوتالاب کښې نيم عشر دې اودکومې زمکې خور چه دواړه طريقو سره وی نوپه هغه کې دغالب اعتبار دې .اوکه دواړه برابر وی نوپه نيم پيدوارکې عشر اوپه نيم پيداوارکې عشردې (۲۷محرم ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه ص۱۰)

تحقيق په افينو کښې دعشرقيمت وکولو جواز

سوال:(۹۸)دافينوپه زکوة افينودغلې په شان ورکول پکار دې که قيمت باندې .که قيمت باندې ورکول پکاردې نوکوم صاحب سره واضح رايه راکړې چه دافينو خرخول په حکومت کې کيږې چاله افينوپه زکوة کې ورکول په ملک کښې دجرم په وجه ممکن نه دې؟

جواب:قيمت ورکول صحيح جائز دې (۲۴ربيع الثانی ۱۳۳۱ھ حوادث ص۱۹ ج اول دوم)

عدم سقوط عشر باداء محصول سرکاری

سوال:(۹۹)دزمکوکرايه سرکارې اداء کولوسره څنګه چه دقارې عبدالرحمن رحمه الله پانی پتی اودشيخ عمر رحمه الله صاحب تهانوی تحقيق دې عشر اداء کيږې يا نه داحتياط معامله خو ښکاره ده چه مستحقينوته جداورکړې شي خومضبوط قول ستا په نزد کوم يودې؟

جواب:مونږ ته خودامعلوم ده چه دې سرنه اداء کيږې لکه څنګه چه داحکم ټکس سره زکوة نه اداءکيږې باقې ددې حضراتو دارشادبنياد معلوم نه دې (حوادث ص۱۹ ج اول دوم) دفع تعارض ددې عبارت بهشتی زيور وعلاج القحط والوباء درباب عشر

سوال:(۱۰۰)بهشتې زيور دريمه حصه کې (ص۳۹) کښې دی که پټې ته اوبه خورنه کړې شي صرف دباران اوبو سره پيداروشو يادلختې اودرياب په غاړه په هغه ترائې باندې بې څه شي وکرلو اوبيلرداوبه خورنه پيدا وار وشو اوس دې پټې کې چه څومره پيداوار وشي نودهغې لسمه حصه خيرات کول واجب دې الخ .اوکه پدې پټې کې څه لګولې وی يابلې طريقې سره اوبه خورکوی نودپيدوارشلمه حصه دې خيرات کړې فقط. ددې نه معلومه شوه چه نهرې اوبارانې پټې کې لسمه حصه واجب ده اودکوهی والا باندې شلمه حصه اوپه علاج

کی لیکلی دی که بارانی وی نو لسمه حصه او که نهری وی القحط والوباء کتاب نوم دی، کی لیکلی دی که بارانی وی نو لسمه حصه او که نهری وی یا په کوهی او په کیږی نو شلمه حصه واجب ده او س عرض دادی علاج القحط کی دنهری حکم صراحتاً شلمه حصه لیکلی ده او دعربی کتابونو نه دنهری حکم لسمه حصه معلومیږی کما فی القدوری العشر واجب سواء سقی سیحا اوسقته السماء ازین سواد، ددی عرضونو جواب سره ممتاز کیدل غواړو (۱)، داوبه خور نه څه مراد دی (۲)، گرستی (کورسامان، اسباب دگرستی څه معنی ده؟

جواب: هیڅ تعارض نشته په کوم نهری کې چه لسمه حصه لیکلی ده، هغه دي چه په هغی کې اوبه خوراونه کړیشی اوقیمت ورکول هم اونه شی دبهشتی زیور په ورومبی عبارت کې دهغی تصریح ده او په کوم نهری کې شلمه حصه لیکلی شوه مراد دهغی نه هغه دي چه هغی کې اوبه خورو کړیشی یاداوبوقیمت ورکړیشی، دگرستی معنی ده دکورسامان او دعشر لفظ عربی کتابونو کې کله کله عام معنی کې ارځی، عشر، نصف عشر (نیم عشر) دواړه ته شامل دی درمختار کې تفصیل شته، رجب ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه اص ۲۲)

حکم دسرکاری زمکوپه باره دوجوب عشر

سوال: (۱۰۱) پنجاب علاقه کې سرکار څه زمکی دنهر په اوبو باندی آبادي کړیدی ددی نه زمکو ورومبنی حال داوه چه یو ځنګل بیابان وه سیوادوانیونه نور څه پیدا وارنه وه څه خلقو خپل خاروي پدی ځنګل کې څرول او سرکارته یې څه نقد ددی بدل کې ورکول چه کله دسرکار اراده دنهر داوبو راتلو سره ددی دآبادولو شوه نو دهغه ځای او سیدونکو ته یې وویل چه دازمکې آبادکړي نو دوی وویل چه زمونږ نه څودپتی کار نه شی کیدي نو سرکار دباهرنه خلق راوستل او دازمکی یې آبادکړي په دغه وخت دغه ځای کې دمختلف ملکونو خلق آبادوه دبنده عاجز تعلق هم دغه ځای سره دي سرکار هغه ځای زمکې فی الحال خلقو ته میراث کې ګرځولی دي او دڅه کرایه نقد مقرر شوي دشپږمیاشتو یادکال دکاشتکارانو نه اخلی اومالک په خپله سرکار جوړشویدی چه کله نه دازمکې آبادشویدی تول زمیندار دهغه ځای ددی دآمدنی نه عشر برابر اداکوي لکه ځنګه چه نورو ملکونو پنجاب هندوستان کې عشرویستلی شی اوداعشر خلق واجب ګڼري خو څه وخت نه یو مولوي صاحب فتوی ورکړیده چه دازمکی سلطانی دي پدیکي نه عشر واجب دي نه خراج دفتوی نقل لاندي لیکلی کیږي

اراضی المملکة والحوز لاعشرية ولاخراجية لاشئی علی زراع الارض السلطانية من عشر او خراج سوی الاجرة (درمختار) قلت وهذا النوع الثالث يعنی لاعشرية ولاخراجية من الارض تسمی ارض المملکة واراضی الحوز وهومامات اربابه بلاوارث وال بيت المال اوفتح عنوة وابقی للمسلمين الی يوم القيمة وحکمه علی مافی التتارخانية يجوز للامام دفعه الی الزراع باحد الطريقين امابإقامتهم مقام الملاک فی الزراعة واعطاء الخراج واماباجارتها لهم بقدر الخراج فيکون الماخوذ فی حق الامام خراجاً ثم ان کان دارهم فهوموظف وان کان بعض الخراج فخراج المقاسمة واومافی الاکرة فاجرة لاغيرة لاعشرولاخراج فلما دل دليل علی عدم لزوم المؤنتين العشر والخراج فی الاراضی المملکة والحوز کان الماخوذ منها اجرة لاغير الخ مافی الدرالمنتقی ملخصاً قلت هذا لاشئی علی زرعها من عشر او خراج - شامی ج ۳ /ص ۳۹۰ از مسائل مسطوره بالا مستفاد گردید که زمینهائی سلطانیه یعنی مالکان سوائی سلطان ندارند نه عشری نه خراجی. فقط الخ - دافتوی می دیوبل مولوي صاحب په خدمت کې لیږلی وه نوهغوی داجواب وکړه **نقل دجواب**:- یوروایت شامی باب الرکاز کې دالیدلی شوي واحترزبه عن داره وارضه دارالحرب الی ان قال فان ارضها دارالحرب ليست ارض خراج وعشر الخ، ددی روایت نه معلومیږي چه هندوستان وغیره په زمکو ددارالحرب کې عشر خراج هیڅ نشته په سنده کې یو مولوي صاحب دي هغه دالیکلی دي چه دي زمکو کې عشر واجب دي په شان دزمکو دهندوستان او پنجاب، اودمخکې فتوی عبارت دشام او مصر زمکو سره خاص کوي یعنی شامی چه لیکلی دي هغه دشام او مصر زمکې بحث دي عام نه دي، او دشامی بعض عباراتو نه دعشر واجبیدل ثابتوي، داوړدوالی دوجه نه ددی فتوی عبارت نقل نه کړي شو فقط، حضرت په خدمت عالیه مونږ عرض کوؤ چه دغه برنو زمکو کې عشر واجب دي یا نه؟ ددغو زمکو نه علاوه دپنجاب او هندوستان زمکو څه حکم دي. عشری دی که خراجی دوړومبی فتوي دعبارت او دشامی باب الرکاز روایت څه مطلب دي دکتابونو په حوالی سره تفصیلی جواب سره زړه یخیدل غواړو؟

جواب: دسلطانی زمکو هغه حکم دی دپاره دي چه هغه دبیت المال یادعام مسلمانانو دي. کمافی ردالمحتار وهذا النوع ثالث يعنی لاعشرية ولاخراجية من الارض تسمی ارض المملکة واراضی الحوز وهومامات اربابه بلاوارث وال بيت المال اوفتح عنوة وابقی للمسلمين الی يوم

القیمة (ص۲۹۵ ج۳) اوکومی زمکي چه سوال کې ذکرشویدی هغه داسی نه دي ،نوپه هغه حکم باندی داحکم چه ذکرکړي شوینا، کول جائزنه دي بیاپه خپله ددی ذکرشوؤ زمکوپه حکم کې هم کلام دی ، کماقال فی ردالمحتاروبان الملک غیرشرط فیه بل الشرط ملک الخارج الی قوله فکان الملک الارض وعدمه سواء کمافی البدائع ثم الی قوله فالقول بعدم الوجوب فی خصوص هذاالارض یحتاج الی دلیل خاص ونقل صریح الخ (ص۲۹۴ ج۳) خصوص دصاحبینوپه قول عشردپیداوارپه مالک دي دزمکي په مالک نشته ، کمافی ردالمحتارقلت فعلی هذالاشئ علی زارعها من عشراوخراج الاعلی قوهمابان العشرعلی المستاجر کمامرفی بابه (ص۲۹۵ ج۳) اوپدی باب کې دي (وفی الحاوی القدسی وبقولهمانأخذ ج۲ ص۸۸) اوبعض جزئیاتونه چه شبه دصاحبینوپه نزد دنه واجبیدوکیږي نودهغی بنیاددادي چه هغوی اجرت (مزدوري) نه خراج ونیلی دي نودخراج مکرروالی نه واجب نه واثی ،کمافی ردالمحتار واماعلی قولهما فالظاهرانه کذالک لماعلمت ان الماخوذلیس اجرة من کل وجه لانه خراج فی حق الامام (ص۸۹ ج۲) پس معلومه شوه چه دی عبارتونو سره پدی باندی استدلال نه شی کیدي په کوموزمکوچه خراجی تعریف صحیح راځی په هغی خراج دي اوپه کوموچه دعشرتعریف صحیح راځی نوپه هغی عشردي ،البته ددرمختارباب الرکازعبارت خبرورکوي چه عشراوخراج واجب نه دي مګردامو قوف دي په دارالحرب کیدلوباندی اوپدیکې هم دکلام ګنجائش شته ، ۲۲رمضان / ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه / صـ ۳۰۲)

حکم عشردرترکاری وعدم جوازاجاره باغ

سوال:(۱۰۲)ازقسم ترکاری باجازت صاحب باغ اگرزراعت کرده شودمثل میتهی وباذنجان وکدووتری ومرچ وغیره وغیره شرعاً برآن هم چیزی عشرلازم می شودیانه ،اگرشودازقیمت آن یاازنفس آن داده میشودآب چاه می باشد اگرتالاب می باشد چه حکم ست مثلاً کسی کدام باغ راباجاره گیردباین شرط که تمام ثمره درخت راتاک سال باجاره گرفت وقدری قدری دران باغ زمین خالی هم باشدبخوشی درضائ مالک باغ دران زراعت ترکاری هم کردازان باغ هرچه فائده شود یانقصان مقدارمبلغ حصول ازباغ عشرداده میشودیازکات موافق شرع رابیان فرمائید!

جواب:عشرلازم میشودخواه ازقیمت دهندیاازعین آن ،وآب تالاب وآب چاه یک حکم دارد که درونصف عشرواجب می شودچون باله آب رسانیده شود ،کذافی الدرالمختار وآنچه درمثال صورت اجاره باغ فرض کرده شده است این اجاره جائزنیست لورده علی استهلاک العین ثمرباغ بدستوردرملک مالک اصلی خواهدماندوعشرش بذمه اوواجب خواهدبودوآنچه درزمین خالی باذن مالک کاشت کرده است آن درملک کاشت کننده خواهدبودوتفصیل عشری وخراجی درکتب فقه موجوداست مثلاً درصفائی معلامات وزکات وقتی واجب باشد که این ثمره یاغله فروخت کرده روپیه اوجمع کرده شودبرقدر نصاب ازانکه فارغ ازدین وغیره باشدسال کامل گزارد (تتمه اولی / صـ ۳۱۲)

دپانټوپه پټی کې عشردي

سوال:(۱۰۳)چري (باجره غنم اودجوارشنه بوټی) چه غویان اومیښی وغیره شنه شنه خوری چه دکرلونه لږه موده وروسته دخناورودخوراک دپاره کټ کول یې شروع کیږي اوڅوپوري چه پکې جوارراځی نودیردهغی نه څاروؤخوړلی وي پداسی فصل کې به زکات کوم شکل کې اداکولی کیږي ،اوزکات په بوټودجوارو(پانټی) هم دي اوپه جواروهم دي چه په پانټوزکات دي نودولاړولسمی حصی زکات ورکولوسره اداکیږي یانه؟

جواب: لسمه یاشلمه حصه څرنګه زمکه چه وي په ټول پیداواریاندی پدی صورت کې غوره داده چه په ولاړپټی کې اندازه وکړي اوهغه هومره دي ترینه جداکړي آخرکې دغه فصل یادهغی قیمت دي دعشرپه مصرف کې خرج کړي ۳ذی الحجه / ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی / صـ ۵۷)

جواب یک سوال غیرمذکوره درباره زمین عشری

اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته :- درمختارکې دي یجب العشرالی قوله ومسقی سماء الخ ،اوپه دغه کې وي ،الی فی نحومطب وقصب فارسی وحشیش وتبن ، اوردالمحتارکې دي غیرانه لوفصله قبل انعقادالحب وجب العشرفیه لانه صارهوالمقصود ج۲ صـ ۸۰ ددی روایت په بنیادستاپه سوال کې سلوکې روپی عشرواجب دي اوپه بوسوکې نشته لیکن ددانه جوریدونه مخکې چه څومره هم کټ کړي شول چه هغی ته خیدووانی په هغی کې عشرواجب دي ۲۱ شوال / ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / صـ ۸۰)

دتحقیق خراج

سوال:(۱۰٤) نن صباخراج اداکول واجب دي یانه اوکه اداکولی شی نودهغی مصرف اواندازه څه وه؟

جواب: فی الدرالمختاریجوزترک الخراج للمالک لاالعشروفی ردالمختارترک السلطان او نائبه الخراج لرب الارض اووهبه ولولشفاعة جاء عندالثانی وحل له لومصرفاً والا تصدق به به یفتی ومافی الحاوی من ترجیح حله لغیرالمصرف خلاف المشهورج۲صـ۹۱ وفی الدرالمختار وثالثهاخراج الی قوله وثالثهاجواه مقاتلون وفی ردالمختارالذی فی الهدایة وعامة الکتب المعتبرة انه یصرف فی مصالحنا کدالثغوروبناء القناطروالجسوروکفایة العلماء والقضاة والعمال ورزق المقاتلة وذراریهم (ج۲/ص۹۲-۹۳) ددی عبارت نه دا امورمستفادشول (۱) که داکس دخراج مصرف وي نوخپل خرچ کي خراج راوستی شی (۲) اوکه دي مصرف نه وي نودیکي اختلاف دي (۳) دخراج په مصرفونوکي عالمان هم دي (۲۷محرم ۱۳۳۳ھ)

زکواة الفرض فی نبات الارض

پس دحمداودصلوة نه دي احقرته دیومخدوم واجب الاحترام خط راغی چه هغی کي دعشردمسائلوپه باره کي حکم شوي وه. دي وجه دحکم منلونه دغه مسائل جمع کړي شول اودی بزرگ ته می ددي نه یورساله جوړه کړه اومناسب نوم هم ورته کیخودلی شو اوس دهغی سوال اوجواب نقل کولی شی!

سوال:(۱۰۵)عرض دادي چه په باب دعشرکي چه کومی زمکی دمونږ سره دي عجیبه کشمکش کي یو زیات ددی باره کي تپوسونه اومعلومات کولی شی ایک قسم معافی وي دوضبط کړي شوي چه دهغی محصول انګریزي حکومت ته ورکولی شی دادواړه قسمه زمکي کله مالک کری ،یازیاتی په غله یاروپوباندی اجاره کولی شی ښائی (دزمکي دپیداوارهغه تقسیم چه مالک اواجاره دارپه خپل مینځ کي اوکړي باندی کاشتکاریعنی کرونده کوونکي ته مالک ورکوي دبعضواوبه خورپه نهرونودحکومت په روپوکیږي بعضواوبه خورپه کویانوکولی شی بعض صرف باران سره اوبه کیږي پدي تولی کي عشریانیم عشردي یاهغه معافی زمکه کي عشردي اوضبط کړي شوي زمکه کي نیم عشردي چه کومی زمکي اجاره باندی ورکړي شویدي پدیکي په کاشتکار(خادمان) باندی

عشردي یامالکانوباندی حاصل داچه ددی مسئلی دیرزیات ضرورت دي عام طورسره تولوته پدی باب کي غلفت کیږي

جواب:**الروایة الاولیٰ** فی الدرالمختارمن باب العشرمن الزکوة وتجب فی مسقی سماء ای مطروسیح کنهربلاشرط نصاب راجع للکل وبلاشرط بقاء وحولان حول لان فیه معنی المؤنة ولذاکان للامام اخذه جبراً ویوخذمن الترکة ویجب مع الدین وفی الارض صغیرومجنون ومکاتب ومادون ووقف وتسمیته زکاة مجازالاماقی مالایقصدبه استغلال الارض نحوحطب وقصب فارسی وحشیش وتبن وسعف وصمغ وقطران وخطمی واشنان وشجروباذنجان وبزربطیخ وقثاء وادویة کحلبة وشونیزحتی لواشتغل ارضه بهایجب العشرویجب نصفه فی مسقی غرب ای دلوکبیرودالیة ای دولاب لکثرة المؤنة وفی کتب الشافعیة اوسقاه بماء اشتراه وقواعدنالاتاباه ولوسقی سیحاً وبا لقاعتبر الغالب واستویافنعفه وقیل ثلثة ارباع بلارفع مؤن ای کلف الزرع وبلااخراج البذر لتصریحهم بالعشرفی کل الخارج الی قوله واخذالخراج من ذمی اشترای ارضاعشریة واخذالعشرمن مسلم اخذهامنه من الذمی بشفعة اوردت علیه لفسادالبیع اه مختصراً فی ردالمختارقوله وتبن بالباء الموحدة قال فی الفتح غیرانه لوفصله قبل انعقادالحب وجب العشرفیه لانه صارهوالمقصود!

الروایة الثانیة فی الدرالمختارویؤخذالعشرعندالامام عندظهورالثمرة وبدوصلاحها، برهان الی قوله لایحل الخ فی ردالمختارواختلفوفی وقت العشرفی الثماروالزرع فقال ابوحنیفة رحمه الله وزفر رحمه الله یجب عندظهورالثمرة والامن علیهامن الفسادفیه تحت قوله لایحل الخ فی الواقعات عن البزازیة لایحل الاکل من الغلة قبل اداء الخراج وکذاقبل اداء العشرالا اذاکان المالک عازماًعلی اداء العشراه وهوتقیدحسن: **الروایة الثالث** فی الدرالمختارویسقطان بهلاک الخارج فی ردالمختارقوله ویسقطان ای العشروخراج المقاسمة الی قوله وفی البزازیة هلاک الخارج بعدالحصادلایسقطه وقبله یسقط لوبافة لاتدفع کالغرق والحرق واکل الجرادوالحروالبردامااذااکلته الدابة فلالا مکان الحفظ عنها غالباً ! **الروایة الرابعة** فی الدرالمختارولوباع الزرع ان قبل ادراکه فالعشرعلی المشتری ولوبعده فعلی البائع ! **الروایة الخامسة** والعشرعلی الموجرکخراج موظف وقال علی المستاجرکمستجرمسلم وبقولهمانأخذوقی

المزارعة ان كان البذرمن رب الارض فعليه ولومن العامل فعليهمابالحصة فی ردالمحتارقوله كخراج موظف فانه على الواجب تعلقاً الی قوله واماخراج المقاسمة وهوكون الواجب جزءاً شائعاً من الخارج كثلث وسدس ونحوه فهوعلى الخلاف كذافی شرح دارالبحاروكذالخراج الموظف على المعير ونحوه ای اتفاقاً بدائع امالعشرفعلى المستعيركماياتى تحت قوله وبقولهمايؤخذفلا ينبغى العدول عن الافتاء بسرقولهمافی ذلک لانهم فی زماننالی قوله والافبقولهمالما يلزم عليه من الضررالواضح الذى لايقول به احدوفيه تحت قوله وفی المزارعة لكن ماذكر من التفصيل يخالفه مافی البحروالحق والمعراج والسراج والحقائق والظهيرية وغيرها من ان العشرعلى رب الارض عنده وعليهماعندهمامن غيرذكرهذا التفصيل وهو الظاهرلمافی البدائع من ان المزارعة جائزة عندهماوالعشريجب فی الخارج والخارج بينهمافيجب العشرعليهمااه الى قوله فكان ينبغى للشارح متابعة مافی اكثرالكتب !

الرواية السادسة فی الدرالمختاروثالثهاخراج الی قوله حواه مقاتلونافی ردالمحتارالذى فی الهداية عامة الكتب المعتبرة انه يصرف فی مصالحنا كسدالثغور وبناء القناطر والجسور وكفاية العلماء والقضاء والعمال ورزق المقاتلة وذراريهم اى ذرارى الجميع ! **الرواية السابعة فی** الدرالمختارمن باب المصرف اى مصرف الزكوة والعشرفی ردالمحتار وهو مصرف ايضاً لصدقة الفطروالكفارة والنذروغيرذلک من الصدقات الواجبة كمافی القهستانی ! **الرواية الثامنة فی** الدرالمختارباب العشروالخراج والجزية ارض العرب وما اسلم اهله طوعاً اوفتح عنوة وقسم بين جيش والبصرة ايضاً باجماع الصحابة عشرية الی قوله عشرية ومرفی الزكوة فی ردالمحتار تحت قوله وقسم بين جيش ولوقال بينناالشمل مااذاقسم بين المسلمين غيرالغانمين فانه عشرلان الخراج لايوظف على المسلم ابتداء ذكره القهستانی درمنتقی !

الرواية التاسعة فی ردالمحتارعن الاسعاف واذادفع المتولی الارض مزارعة فالخراج اوالعشرمن حصة اهل الوقف ،صـ۳۹۵ ج۳ ! **الرواية العاشرة** ولواحياه مسلم اعتبرقربه ماقارب الشئ يعطى حكمه ! الرواية الحادية عشرفی الدرالمختارولاخراج ان غلب الماء على ارضه اوانقطع الماء اواصاب الزرع آفة الی قوله فان عطلهاصاحبهاوكان خراجها موظفاً اواسلم صاحبهااواشترى مسلم من

ذمى ارض خراج يجب الخراج فی ردالمحتار قوله ولاخراج الخ ای خراج الوظيفة وكذاخراج المقاسمة والعشربالاول لتعلق الواجب بعين الخارج فيهما ! **الرواية الثانية عشرفی** الدرالمختارولايؤخذالعشرمن الخارج من الخراج لانهمالايجتمعان فی ردالمحتارای لوكان له ارض خراجهاموظف لايؤخذمنا العشرالخارج وكذالوكان خراجهامقاسمة من النصف ونحوه وكذالوكانت عشرية لايؤخذمنهاخراج لانهمالايجتمعان الخ ! **الرواية الثالثة عشرفی** الدرالمختارترک السلطان اونائبه الخراج لرب الارض اووهبه له ولوبشفاعة جازعندالثانی جازوحل له لومصرفا والاتصدق به يفتى ولوترک العشرلايجوزاجماعاً ويخرجه بنفسه للفقراء اه مختصراً فی ردالمحتارقوله وحل له لومصرفاً كالمفتى والمجاهدوالمعلم والمتعلم والذكروالواعظ عن علم ولايجوزلغيرهم وكذااذاترک عمال السلطان الخراج لاحدبدون علمه ! ددى روايتونه لانديني مسئلى ثابت شوي (خبرداري) كوم ځاي كښې چه لفظ دعشرراشى نوهغه عشراونيم عشردواړوته عام دي. (۱) عشر(لسمه حصه) يانيم عشر(شلمه حصه) په عشري زمكه كښې چه دهغې تعريف راروان دى په ټول پيداواركښې واجب دي نه ديكښې څه نصاب شرط دي اونه قرض يې منع كولى شى نه دفصل اخراجات ددى نه جداكولى شى البته چه كوم خلق په فصل كښې په څه خاص پيداواركښې كاركوي نودهغوي دحصې عشرپه خپله دهغوى په ذمه دي (۲) دنابالغ بچې اوليونى په زمكه كښې هم عشر واجب دي (۳) وقف زمكه كښې هم عشرواجب دي (۴) هريوپيداواركښې چه كوم نه امدنى حاصلول مقصودوي عشرواجب دي كه غله وي كه ميوه وي نوپټي اوباغ دواړوكښې واجب دي (۵) دعشرمقداركښې تفصيل دادي چه دكوم اوبه خورباران سره اوشى په هغه پيداواركښې لسمه حصه واجب ده اودكوم اوبه خورچه كوهى يادنهراخستى شوي اويبوسره اوشى پديكښې شلمه حصه واجب ده اوكه داواړوقسم سره اوبه شوي وي نوغالب ته اعتباردي. اوكه دواړه برابروي نودبعض په نزدشلمه حصه اوبعض په نزددعشردريمه ربع يعنى څلويښتم كښې دري واجب دي (۶) خيدوغيره چه كټ كريشى په هغې كښې هم عشرواجب دي اودتيارئ نه پس چه كوم بوس دغله نه اورځى په هغې كښې نشته (۷) چه كله ميوه قابل داطمينان شى دهغه وخت په حساب سره پكښې عشرواجب دي (۸) تيارئ نه مخكښې چه څومره خرج كړي وي دهغې ټول حساب يادلرى دهغې هم عشرواجب دي (۹) كه ميوه دشوكولوئ مخكښې ياپټى ريبلونه مخكښې په څه غيراختياري آفت لګه ړلى

یاغرق یاسوزید وسره میوه یاغله هلاک شی نو هغی کې عشرنشته او که غلاکړي شي یاخاوري اوخوري نو عشرنه ساقطیږی عشرواجب دي (۱۰) دپخیدلو نه مخکې که پټی یې خرڅ کړونو عشرد اخستونکې په ذمه دي او که دپخیدو نه پس یې خرڅ کړونو دخرڅوونکې په ذمه دي دغه حکم دمیوي هم دي (۱۱) چه کومه زمکه اجاره باندی ورکړي نو دهغی عشر په قول دصاحبین چه مفتیٰ به دي په خپله خپله حصه کې (۱۲) دعشرمصرف هغه دي کوم چه زکات دي یعنی مسکینان چه اصول وفروع (دپلار اولاد) او هاشمی نه وي او ښځه خاوندنه وي (۱۳) عشری زمکه هغه ده چه کله نه مسلمانانو هغه فتح کړي وه دهغه وخت نه دمسلمانانو په ملکیت کې روانه وه برابره خبره که میراث سره وي یا بیې اخستلی وي یعنی په مینځ کې هغه دکافر په ملک کې کې نه وي راغلی او چه کومه داسې نه وي هغی ته خراجی وائی (۱۴) خراج دوه قسمه دي یو موظف چه دهغی دکرائي وي یا یو مقرر مقدار وي مثلاً روپی بیگه (څلور کنال) یا کم زیات، دویم خراج مقاسمت چه دپیداوار څه حصه په یو خاص نسبت سره واخستلی مثلاً نیمه یا دریمه وغیره (۱۵) خراجی زمکه کې خراج واجب دي (۱۶) خو خراج مؤظف هله واجبیږي چه دفصل نفع اخستو قدرت وي باوجود دامکان ترلو دفصل نه که زمکه دغه شان پریږدي داخرج واجبیږي. البته که دکروندي قدرت نه وي نو بیانه واجبیږي ساقط شوا وخراج مقاسمه په شان دعشرهغه وخت واجبیږی چه په واقع کې پیداشوي وي (۱۷) که مسلمان دیو کافرنه زمکه واخلی نو هغه به خراجی وي (۱۸) که مسلمان دکافر په لاس عشري زمکه خرڅه کړي نو هغه به خراجی شی (۱۹) دخراج مصرفونو نه په عام فائده کې دي عالمان، مدرسین، مفتیان او طالبانو خدمت دیکې داخل دي (۲۰) عشراو خراج دواړه یوه زمکه کې واجب نه دي (۲۱) خراجی زمکه نه به عشرنه شی ویستی (۲۲) دارنگه چه کومه زمکه کې عشرواجب دي که دهغی نه خراج واخستلی شی نو عشرنه ساقطیږی څه رنگه چه دتجارت مال نه انکم ټیکس اداکولو سره زکات نه ساقطیږی (۲۳) خراج مؤظف په اتفاق دامامانو دزمکې دمالک په ذمه دی کاشتکار (خدمت کوونکې) په ذمه نه دي البته دخراج مقاسمه حکم دعشرپه شان دي (۲۴) که خراجی زمکې محصول دبادشاه دطرفه معاف وي بیاهم که هغه خراج مؤظف وي نو هغه دزمکې دمالک په ذمه دي مخکې پدیکې داتفصیل دي که داکس دخراج مصرف وي مثلاً مفتی دي، مدرس یا واعظ دي نو هغه ته په حپل خرچ کې راوستل جائزده او که مصرف نه وي نو په هغه واجب دي چه

دا مصرف ته ورسوي د اسلامی مدرسو چندي مددي دپاره ډیر مناسب دي البته که د زمکې نه فائدي اخستو باندی قدرت نه وي نو خراج ساقط (واجب نه) دي دارنگه خراج مقاسمت هم داتفصیل دي (۲۵) او که په وجه دمعاف کیدو ددی محصول دمقدار په تعین کې گرانی وي نو دهغی سره نژدی زمکې چه معاف نه وي دهغی محصول معتبر دي (۲۶) وقف زمکو کې دي هم عشریا خراج دپیداوارنه اوباسی او نوردي په خپلو مصرفونو کې خرچ کړي شی (۱

خبرداری ادخراجی زمکو خراج حق دشریعت کېدل تراوسه احقرته هم معلوم نه وه اوس ددی تحقیق نه وروستو دمعافی زمکو متعلق داخبره خصوصیت سره قابله دخبرداری او داهتمام ده چه ددی دخراج دي دتردی زمکو سره اندازه وکړي او اسلامی مدرسو ته دي اورسوی کنی ددوي په ذمه به داحق شرعی واجب پاتی شی او دعشرحق شرعی کیدلو نه بی خبر کیدل یا انکار کول داخو غلفت اولویه غلطی ده داټول ددیارلسو روایتونو نه دهغی په ډېل یعنی شپږویشت مسئلی ثابت شوي ولله الحمد علی اتمام الجواب والله اعلم بالصواب وعنده ام الکتاب ضمیمه :- فی ردالمحتار تحت قول الدرالمختار یجب العشر مانصه ثبت ذالک بالکتاب والسنة والاجماع والمعقول ای یفترض لقوله تعالی واتوحقه یوم حصاده فان عامة المفسرین علی انه العشراونصفه بینه قوله ﷺ ماسقت السماء ففیه العشروماسقی بغرب اودالیة ففیه نصف العشر، ص۷۸/ قلت ایضاً لقوله تعالیٰ یایهاالذین امنوانفقوا من طیبات ماکسبتم ومما اخرجنالکم من الارض الایة ! ددی عبارت نه معلومه شوه چه په قران او حدیث او اجماع او قیاس سره ثابته شوه چه عشر په شان دزکات فرض دي، ددی نه داپوهیدل پکاردی چه ددي دنه سستی یا غلفت کول څنگه دي والله الموفق. اشرف علی ۱۰ رجب / ۱۳۳۴هـ

عشری او خراجی نبودن الخ

سوال :(۱۰۶) عشری او خراجی زمکې دارالسلام پوري منحصر دي که غیر دارالسلام نه هم شته؟

جواب :فی ردالمحتار باب الرکاز تحت قول الدرالمختار فی ارض خراجیة اوعشریة الخ بعد بحث طویل مانصه ثم رایت عین ماقلته فی شرح الشیخ اسماعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازعما وجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر الخ ج۲ ص۷۲/ مصریه ۱۲۹۴ھ

عشر بودن الخ

سوال:(۱۰۷)دهندوستان په زمکوباندی عشرفرض دیانه ؟

جواب: فی ردالمحتارعن شرح شیخ اسماعیل حیث قال ویحتمل ان یکون احترازا عماوجد فی دارالحرب فان ارضها لیست ارض خراج اوعشر،ج۲/ ص ۷۲/ وفی الدرالمختارارض العرب ومااسلم اهله طوعاوفتح عنوة وقسم بین جیشه والبصرة عشریة اه (ج۲/ صــ ۳۹۳/ مصریه / که هندوستان دارالسلام اومنی نوپه دریم قسم کي دداخلیدوجه ددی زمکه مسلمانانو سره ده خوچه چرته دیو کافرنه حاصله شوي نه وي عشري ده ،اوکه دارالسلام نه وي نوددي زمکه نه عشری ده نه خراجی ده ۲۱صفر/ ۱۳۴۰ھ؛

سوال:(۱۰۸)الامداد جلد ۲ / نمبر۷/ په میاشت دمحرم ۱۳۳۵ھ کي یو مضمون په عنوان دزکات الارض کي دي ،نمبر۳ خراج مؤظف په اتفاق سره دزمکی په مالک دي دکاشتکارپه ذمه نه دي البته دخراج مقاسمت حکم په شان دعشردي انتهی ؛ داخیری فقری دامطلب دي چه په مالک اوکاشتکاردواړوباندی په خپلی حصی کي خراج مقاسمت واجب دي ددی دلیل صراحتاًپه درمختاراوردمحتارکي زمادسرسری نظرنه سره تلاش کولونه تیرنه شوبلکه دهغی خلاف پدی وجه ددرمختارددی قول ،وفی المزارعة ان کان البذرمن رب الارض فعلیه ولومن العامل فعلیهمابالحصة، په شرح کي بالکل آخرکي شامی لیکلی دي؛ ان علم ان هذاکله فی العشرام الخراج فعلی رب الارض اجماعاً کمافی البدائع شامی ،ج۲/ ص ۵۷/ ددی نه مخکي دعشرواجبیدوحکم په تفصیل سره سره داختلاف نه بیان شویدی اودلته هغه تفصیل ذکرکړي شوي معتبرپه عشرکي دخراج نه جداکوي .ددی نه خومعلومه شوه چه خراج مطلقاً په مالک دزمکي دي په فصل کي که خراج مؤظف وي یامقاسمه وي اوحضرت مدظلهم عمه فیضهم چه کوم تفصیل لیکلی دي اودغه مطلق یې مقید کړیدي تاسوپه مهربانی سره ددی دماخذعبارت بعینه نه خبرداری راکړئ دابه سبب دپوه اوزره دپخه والی وګرځی اوداشک به لري شی والسلام؛

جواب: دامداددغه جلددغه صفحه کي دالروایة الخامسه دلاندی دردالمحتارداعبارت دي واماخراج المقاسمة وهوکون الواجب جزءً شائعامن الخارج کثلث وسدس ونحوهما فعلی الخلاف کذافی شرح دارالبحارکي پدی باندی ۲۳هم متفرع کړي دي اوپه شان دعشرمطلب

دادي علی الخلاف دي اوس تاسوچه دبدائع نه عبارت نقل کړیدی دی دواړو عبارتونوپه تطبیق کي غوروکړه ماخپل ماخذولیکلو ۱۹رمضان/ ۱۳۳۹ھ؛

سوال:(۱۰۹)پدی باندی دشک راتللی شی چه دغه عبارت ذکرکړي شوي دشرح البحاردلیل دعقداجاره دي نه دمزارعة یعنی ددی زمکي دتقیسم خکه چه شامی هم دادی مقصددپاره رواړي دي .ددی وجه نه تحت قوله کخراج مؤظف فان علی الموجرالخ یې رواړي دي اودحضرت عبارت نمبر۳ حکم دعقدمزارعت بنکاره کوي پدی وجه لفظ دکاشتکارهغی طرفته اشاره کوي ،فلم یصح الاستدلال بتلک العبارة علی ذالک،هاکه دحضرت عبارت نمبر۳ نه مرادحکم دعقداجاره وي بیاخوڅه شک نشته ،اوس پدی حالت کي په مهربانی سره حکم دخراج دعقدمزارعت ،یعنی تقسیمی زمکي، بیاکړي چه ټول په مالک دزمکي دي یاپه کاشتکارهم په خپله حصه کي شته .څنګه چه دعشرحکم دي که په دواړومثل عشروي نوشامی ددی عبارت ،ثم اعلم ان هذاکله فی العشر اماالخراج فعلی رب الارض اجماعاً کمافی البدائع، څه مطلب دي؛

جواب: دکتاب کتلووخت نه ملاویږی دنوروعلماؤنه معلومات وکړه اوداطمینان حاصلیدونه وروستوکه دي یادوي ماته هم خبرراکړه ماته به هم فائده وشی ؛ ددی نه پس مستفتی دیوبندته خط ولیکلوچه سره دجواب نه لاندی نقل کیږی ددرخواست موافق دهغه دجواب یې دلته هم خبرراکړواودیوجزء یې دلته نه تصحیح وکړه .هغه تصحیح هم سره دجوابه دلته نقل کیږی ؛ **والمجموع هذا** ؛ بخدمت جناب مفتی درالعلوم دیوبندعم فیضه السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته په کوموبرنوکرخوباندی چه اوږدخط راخکلی شویدی مهربانی وکړي ددي مدلل جواب سره خبرداریٔ راکړي اوبله داخبره چه که خراج مقاسمه صرف په مالک دزمکي وي نودټول پیداوارپنځمه ، چه کوم ددی خای خراج دي ، دده نه به اخستلی شي یاچه څومره حصه دهغه په پیداوارکي مقررده دهغی خمس ،پنځمه حصه، به اخستلی شی .امیدددواړوسوالونوجوابونه سره دلاتلولیکلی شی چه صورت دمسئلی واقعی دي والسلام؛

جواب: شامی دریم جلدباب العشروالخراج والجزیة کي درمختارقول وهوای الخراج نوعان خراج مقاسمة الخ شرح کي دی وقدتقران خراج المقاسمة کالعشرلتعلقه بالخارج ولهذایتکربتکررالخارج فی السنة وانمایفارقه فی المصرف فکل شئی یوخذمنه العشر اونصفه

بوخذمنه خراج المقاسمة وتجری الاحکام التی قدرت فی العشر وفاقاو خلافاً الخ ددی عبارت نه معلومیږی چه دشامی نقل کړي شوي عبارت ،ثم اعلم ان هذا کله فی العشر اما الخراج فعلی رب الارض اجماعاً کمافی البدائع ،کې خراج نه مراد خراج مؤظف دي نه خراج مقاسمة اواصل مسئلي متعلق یوروایت شامی باب الرکاز ص ۴۵ کې دادي وهٰذاقال القهستانی بعدقوله فی الارض خراج اوعشر الاخضر فی ارضاسواء کانت جبلا اوسهلا مواتا اوملکا واحترزبه عن داره وارضه الحرب ثم رأت عین ماقلته فی شرح الشیخ اسمٰعیل حیث قال وتحمیل ان یکون احترازاً عما وجدفی دارالحرب فان ارضهالیست ارض خراج اوعشرالخ ددی نه معلومه شوه چه هندوستان زمکي نه عشري دي نه خراجی فقط والله تعالیٰ اعلم کتبه عزیزالرحمن ۱۲ ربیع الاول / ۴۰ھ / بخدمت سراها برکت مرشدي ومولوي حضرت حکیم الامة دمت برکاتهم ،بعداز سلام علیکم وکورنشات بندگانه معروض انکه حسب ارشادمفتی صاحب سلم تحقیق بعینه خدمت کې لیږلي کیږی ،اودجناب مفتی صاحب بالکل اخیری ارشادچه ددی نه معلومیږی الی قوله نه خراجی صحیح دي ،مطلب دادي چه ستاسو اوچته رائی ددوي سره موافق ده یانه والسلام

الجواب۔ آوصحیح ده خوکه دچاپه نزد دادارالسلام وي نوداحکم به بیانه وي ؛ **سوال ۲**۔ جواب مسئلي شرعی دادن براه صاحب ضروری امراست که ازهل ذکرظاهری وباطنی ذات والا اندوبرماسوال واجب است که عقل وعلم مایان ناقص است درباره اراضی تمام هندوستان وپنجاب وخصوصاً ډیره غازی خان که سرحداضلاع پنجاب است این ضلع قریب ومانحت کوه است مگرضلع هذا اکثرزمین صفاء ازجمراست ضلع شامل صوبه پنجاب جانب غربی دریاستداست عشری اندیاخراجی تمام کتب فقه بناء عشری وخراجی برفتوحات اول داشته اندآن بطورعلم القین ظاهری نمی شودمگرمولوی همایونی درفتاوی خودنوشته که ملک سنده وهندخراجی است که محمدابن قاسم ثقفی درخلافت ولیدبوقت فتح خمس نهاده بطریق خراج کمایشعربه رسائل مخدوم ابی الحسن الدارهری قال الشیخ الحسن فی بیان اراضی الهندوالسندفی ضمن راجاویدالذی کان قبل نبوت عیسیٰ علیه السلام کانت خراجیة وخراجها الخمس وبعدالاسلام بقیت ایضاً خراجیة ۱۲ ،فتاوی همایون ودررساله الامدادبابته ماه شعبان ۱۳۳۴ھ است که مسلمان دیوکافرنه واخلی نوهغه به خراجی وي الخ ،ودرتتمه

جلداول فتاوی امدادیه ص ۵۰ کتاب الزکوة مرقوم است ،کومی زمکي چه اوس دمسلمانانوپه ملکیت کې دي الخ هغه زمکي عشري دي ، تاخرلهذامعروض جواب امورذیل مفصل عنایت فرمایند (۱) زمین ضلع ډیره غازی خان پنجاب عشری است یاخراجی (۲) تحریرمولوی همایونی صحیح است قابل اطمینان است یانه مدلل تحریر فرمایند (۳) جناب والاکه درتتمه جلداول فتاوی امدادیه ص ۵۰ کتاب الزکوة فرق وتعریف عشری وخراجی تحریرفرمودندنقل کدام کتاب فقه معتبردرج نه فرمودندمهربانی فرموده ازماخذآن اطلاع دهندکه ازکدام کتاب وازکدام عبارت این فرق وتعریف استخراج فرموده فتویٰ دادند (۴) برمردمان اینجاخراج نهایت گران است اکثربرابرتمام آمدنی اراضی می باشندانگریزان رامی دهندوان بموجب تحقیق ان صاحب محسوب نمی گردد ومردمان غربامقروض اوکجاآرنددخمس دیگربمساکین دهنداین تکلیف مالایطاق است وآن درشرعی نمی باشد البته بعضی ایماندارعشرین دادن برخودلازم کرده اند مساکین رامی دهنددرین باره امرفیصل مدلل تحریرفرمایند چونکه مسعودحضورپرنورسراسررحمت برای مسلمانان است وحکیم امت اندهرحال بجواب باصواب سرفرازفرمایند ۱۵ ذی قعده ۱۳۴۳ھ ؛ **الجواب قوله فی السوال**۔ برفتوحات اول داشته انداقول بشرطیکه استیلاء کافری برآن طاری نه شده باشدقوله وآن بطورعلم القین ظاهرنمی شودبسی جاهاتواترحاصل است واگرنباشد استصحاب راحکم خواهندگفت قوله کمایشعربه سائل المخدوم اقول اول بلاسندحجت نیست ثانیابعدتسلیم استیلاء کفارآن رافع گشت بازموجب جدید مؤثرخواهدشداکنون جوابات سولات به ترتیب میدهم ؛ (۱) اگرتعریف عشری صادق باشدعشری است واگرتعریف خراجی صادق باشد ؛ (۲) بالاگزشت (۳) آن تعریف نیست بلکه بناء علی المقدمات المعلومه بیان علامات ست وآن مقدمات این است ؛ **(الف)** عشری چنداقسام است لیکن قسمیکه درهندوستان که پنجاب وسنده دران داخل است یافته میشودآن ست که فقهاء درتعریفش نوشته اندواوفتح عنوة وقسّم بین جیشاکذافی الدرالمختار ؛ وقال فی ردالمحتارولوقال بیننا لشمل ماذاقسم بین المسلمین غیرالغانمین فانه عشری لان الخراج لایوظف علی المسلم ابتداء ذکره القهستانی درمنتقی ؛ **(ب)** سلاطین الاسلام هندوستان رافتح کرده یقیناً بعض کسان رااراضی عطاکرده انددران وقت آنهایقیناً مصداق تعریف عشری بودندبازایشان بدیگران منتقل شدندارثایاشراء اونحوه الی

فتاهذا او هرجاکه حال وسائط بالقین معلوم نباشد استحصاب راحکم قرار داده خواهد شد پس آنچه الحال بدست مسلمان ست وسائط را مسلمان قرار خواهند داد؛ (ج) تخلل کافر عشری راخراجی میکند کما صرح وابه پس بعد این مقدمات احکام منقوله امداد الفتاویٰ ورساله الامداد ظاهر است (۴) عشر وخراج از حقوق شرعیه است پس چناچنه انکم تیکس مسقط زکات نیست همچنین محصول سرکاری مسقط این حقوق نباشد و تکلیف مالایطاق که در شرع مرفوع است مراد نفی تشریع است نه نفی وقوع گو از غیر شارع بلا اذن شارع باشد خوب تامل باید کرد این مغلطه عظیمه است که اثرش بر عقیده محتمل است البته اگر بقول بعضی که ارض دار الکفر نه عشری است نه خراجی نقله فی رد المحتار کسی تشبث کند امید که بحالت چنین ابتلاء گنجائش باشد والله اعلم ۲۸ جمادی الثانی ۱۳۴۳ھ تمت رسالة النشر للعشر؛

فصل فی الصدقة الفطر وغیرها اولویت

صرف صدقه ببلدی که دران خود باشد

سوال:(۱۱۰) که یو کس دخپل وطن غریبانانو او مسکینانو ته د زکات یا سرسایه نه بعضی حصه ورکړي او څه یا زیاته دبل وطن غریبانو مسکینانو ته ورکړي نو بغیر د کراهت نه جائز ده یانه او دوطن لفظ عام که اصلی وي که داوسید و وي ؟

جواب:زکات حکم خود دی نه مخکې جواب کې تیر شویدی او سرسایه اداکوونکي ځای معتبر دي د دغه ځای خلق ډیر حقدار دي او دغه تفصیل د سوال بغیر د عذر نه دانقل مکروه دي؛ فی الدر المختار وفی الفطرة مکان المؤدی عند محمد رحمه الله وهو الاصح لان رؤسهم تبع لراسه اه؛ ۲۷ محرم ۱۳۳۲ھ (امداد ص ۱۵۸ ج ۱)

حکم صدقه فطر یک کس بر جماعتی یا جماعت بر یکی

سوال:(۱۱۱) دیوی ډلی صدقه فطر (سرسایه) یو کس ته ورکول یا دیو کس سرسایه یو کس ته یا په عکس ددی یعنی دیو کس سرسایه یوې ډلی باندی تقسیم کول څنګه دي ؟

جواب: فی الدر المختار وجاز دفع کل شخص فطرته الی مسکین اومساکین علی المذهب کما جاز دفع صدقة جماعة الی مسکین واحد بلاخلاف اه ورجعه فی رد المحتار؛ ددی معلومه شوه چه سوال کې دری واړه صورتونه جائز دي ۲۰ صفر ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۱۲۳ ج ۱)

سوال:(۱۱۲) ویجب دفع صدقة فطر کل شخص الی مسکین واحد حتی لو فرقه علی مسکینین او اکثر لم یجز ویجوز دفع ما یجب علی جماعة الی مسکین واحد کذا فی جماعة او علی العکس هکذا فی قاضی خان / ص ۲۱۱/ دواړه عبارتو په منیځ کې چه کوم اختلاف معلوم شو غوره والی کوم ته دي او وجه دغوره والی څه ده. پوره امید دی چه ډیر زر دی شبهاتونه په جواب سره شک ختم کړي؛

جواب:فی الدر المختار وجاز دفع کل شخص فطرته الی مسکین اومساکین علی ماعلیه الاکثر وبه جزم فی الواجبة والخانیة والبدائع والمحیط وتبعهم الزیلعی فی الظهار من غیر ذکر خلاف وصححه فی البرهان فکان هو المذهب کتفرق الزکوة والامر فی حدیث اغنوهم للندب فیفید الاولویة ولذا قال فی الظهیریة لایکره التاخیر ای تحریما کما جاز دفع صدقة جماعة الی مسکین واحد بلاخلاف یعتدبه فی رد المحتار قد صرح فی مواهب الرحمٰن بالخلاف فی المسئلتین بقوله ویجوز اخذ واحد من جمع ودفع واحد لجمیع علی الصحیح فیهما اه (ج ۲ ص ۱۲۵-۱۲۲) ددی عبارتونو نه د دواړو خبرو د جائز کید و غوره والی معلوم شو؛ اول محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۷)

دنفلي صدقو مصرفونه

سوال:(۱۱۳) ددي ملک رواج دادي چه مړي پسي ثواب رسولو دپاره وارثان دخپل خپل وس مطابق پوخ کړی شوي خوراک په خلقو خوري او روپي پیسي وغیره صدقه کړي. او س ددي خوراک پوخ شوي او رپو حقدار څوک دي. فقیر مسکین یتیم طالب العلم وغیره غریب غریبانان چه وس یې وي سودخور او بې لمازه ته دعوت ورکول او په هغوي خوړل څنګه دي ؟

جواب:دانفلي صدقه ده هر چاد پاره جائز ده لیکن زیات بهتر مسکینانو ته ده. او که دمشهور تیاد پاره وي نو تولو دپاره بیخ کبدل واجب دي فقط (تتمه اولی ص ۱۲۳ جلد ۱)

معنی حلت صدقه نافله اغنیاء

سوال:(۱۱٤) نفلي صدقي غریبانو مالدارو تولو ته مباح (روا) ده. ددي څه معنی ده آیا دامعنی ده چه هر کله یو شي دالله تعالی په حضور کې پیش کړي شو او دهغي دایصال ثواب (ثواب رسول مړي ته) نیت دچاد پاره و کړي نو دا صدقه شوه او س ددي خوراک تولو ته جائز

دي یانورخه بیاپس دخرج نه دایصال ثواب ضرورت شته که دغه کافي دي؟

جواب:دتلاش باوجود هم ددي پوره تحقیق ملاؤ نه شولیکن دقواعدونه معلومیږي چه بغیردتملیک داصدقه ونه شوه ځکه چه دصدقې په مفهوم کې تملیک داخل دي پاتي شوه داخبره چه ددي چاته حلا لیدل اوحرامیدل ددي معنی دامعلومیږي چه کوم شي مالدارو وغیره ته ورکولوسره نه اداکیږي نوپه چاخرج کولي شي په هغه واجب دي خرج کوونکې ته دخپل مصرف اودخپل مستحق نه کیدو اطلا ع اوخبرداري ورکړي ځکه چه دایو وهم اواحتمال دي چه کېدیشي هغه دحقیقت یادشریعت دحکم اطلا ع نه وي اودا واجب دده په ذمه پاتي شي نودایوقسم دهوکه ده اوداتاوان دي اوداحرام وي البته بیت المال ته زکات وغیره راشي نو بادشاه خودمشري په وجه دفقیرانوهم نائب دي ددي وجه نه دهغه قبضه دفقیرانودحصي قبضه په ځاي ده نودي سره داددووصدقوسره متصف شو اوک زکات دي نودیکې فراخي راغله اوغیرمصرفونوکې ددي وجه نه حرام دي دریمه طریقه چه دي تولوصورتونوکې مشترک اوبغیر دواسطي نه دحلا لوالي فائده ورکوي داده چه صدقه کسل ـــ تملیک باندي زماني په اعتبارسره نه مخکښي ده اونه وروستوده بلکه پیوست ده بس صدقه کېدل اومملوک ګرځیدل په یوځاي متحقق شول. ددي وجه نه هم دغه وخت کې حلا لوالي اوحراموالي راغي اګر چه تملیک بالذات مقدم وي اوهرکله چه معلومه شوه چه تملیک په وخت صدقه کېږي نوددي مخکښي کړي شوي نیت ته اعتبار نشته البته زکات کې دزکات ویستوپه وخت کې نیت ته اعتبارنشته ځکه چه هلته نیت دپاره دواجبیدوشرط دي نه دثواب دپاره که هغه تملیک باندي موقوف دي والله اعلم ۲۷ ذی الحجه ۲۲ھ،

وجوب قضاصدقه فطر بعد بلوغ اګرولی ادانه کرده باشد

سوال:(۱۱۵)دماشوم مالک نصاب ولی که دده طرفنه سرسایه ادانه کړي نودبالغیدونه پس پدي ماشوم صدقه فطرواجب ده یانه ؟

جواب:آویدي ماشوم دبالغیدونه وروستوسرسایه واجب ده اوکه داماشوم صاحب نصاب نه وي اګرکه پلا رئې صاحب نصاب وه خوهغه ادانه کړي نودي ماشوم باندي بالغیدونه پس واجب نه ده کذافی الدرالمختارو وردالمحتار قوله علی کل مسلم حر باب الصدقة الفطر، صفر ۱۳۲۹ھ کال تتمه اولی صفحه ۵۲،

حکم اداني صدقه فطر فدیه صلوة ازغیر منصوص مثل برنج وغیره ومقدارانها

سوال:(۱۱٦)زمونږپه ملک بنګاله کې عام طورسره هریوکس اوناکس دخوراک دپاره وریژي وي نور کوم خوراک زمونږپه ځاي کې نه شي خوړي کېدي نودي صورت کې مونږنیم صاع (سیر)وریژوسره سرسایه اداکولی شو یانه . دفقه کتابونو حوالوسره ولیکې(۲) زمونږ دبنګالیانوعام خوراک وریژي دي نومونږنیم صاع وریژوسره دمړي قضاشوؤ لمونځونو فدیه اداکولي شویانه؟

جواب:(۱) فی ردالمحتارباب صدقة الفطرومالم ینص علیه کزره وخبزویعتبرفیـــه القیمـــه. نوکه یوسړي سرسایه کې وریژي اداکول غواړي نودهغه وریژو وزن یاپیمانه معتبر نه دي بلکه هغه وریژي به دومره وي چه په قیمت کې دنیم صاع غنمو یایوصاع اوربشو برابر وي مثلا نوهله به سرسایه اداکیږي . اوکه نیم صاع وریژي ئي ورکړي اوهغه په قیمت کې ددغه څیزونونه کم وي نوصدقه ادانه شوه (۲)فی الدرالمختار یعطی لکل صلوة نصف صـــاع مـــن برکالفطرة وکن احکم الوترالصوم فی ردالمختار قوله نصف صاع من برای اومن دقیقه اوسویقه اوصاع من تمراوزبیب اوشعیراوقیمته . ددي نه معلومه شوه چه دلمونځ اوروژي فدیه کې هغه مقدارورکولی کېږي کوم چه دسرسائي وي. که وریژي فدیه کې ورکول غواړي نوپدي هم دغه شرط دي چه دړومبی سوال په جواب کې ذکرشو .والله اعلم ! ذی الحجـــه ۱۳۲٤ھـــ (امداد صفحه ۱٦۰ ج ۱)

سوال:(۱۱۷)صدقه فطر ماسوائ اجناس ګندم وجوخرماوزبیب ازدیګراشیامثلاً جوار، باجره، برنج وغیره دادن جائزیاحسب روایت جوهرطحطاوی که درباب احکام العیدین لا یجوز الا بالقیمة غیرجائزانچه درنسخه بهشتی زیور ازدیګر اشیاء دادن جائزنوشته اید کدام اتسناددارد که برآن اعتماد کرده اید!

جواب:صدقه فطرازجواراباجره وغیره برابرباشدوهمین معنی است عبارت مذکوره سوال را لا یجوزبالقیمة ای لا یجوز باعتبار الوزن بل باعتبارالقیمة بـــان یـــساوی فی القیمـــة احـــدی المنصوصات فی الدرالمختار مالم ینص علیه کزره وخبزیعتبرفیـــه القیمـــة وفی ردالمحتـــار بعـــد ذکرالفروع لان القیمة انماتعتبر فی غیر المنصوص علیه اخ ربیع الاول ۳۱ھ (تتمه ثانیه صفحه ۱۹)

سوال:(۱۱۸)څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرع متین دي مسئلي په باره کې چه سرسایه کي وریژوسره صدقه اداکړي نوداجائزدي یانه . اوکه جائزوي نوڅرنګه اداکول پکاردي . دغنموپه طریقی سره یاپلي طریقي سره خاص کر هغه خاي کې چه هغه دوریژونه علاوه نورمنصوصي څیزونه نه ملاویږي. هلته که نیم صاع وریژي اداکړیشي جائزدي یانه بینوا توجروا فقط ؟

جواب:دمنصوصي څیزونونه علاوه یعنی غنم کشمش چواري اواوربشونه علاوه که په بل جنس سره صدقه اداکوي نوپه هغی کې قیمت معتبردي یعنی هغه دی منصوصي څیزونوکي چه دیوقیمت سره برابر وي مثلاً نیم صاع غنمو سره برابروي یایوصاع اوربشوسره برابر وي . اوکه هلته غنم اووربشي نه وي نودنزدي ځایونوقیمت به معتبر وي . فی الدرالمختار ومالم ینص علیه کزرة وخبزیعتبر فیه القیمة فی ردالمحتارقوله وخبزعدم جواز دفعه الا باعتبارالقیمة هوالصحیح لعدم ورودالنص به فکان کاالزره وغیرها من الحبوب التي لم یرد بها لنص وکالا قط بحر جلد ۲ صفحه ۱۲۲) نووریژي هم ددي قاعدي موافق ورکړي .
والله اعلم کتبه اشرف علی ۱۴ رمضان ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه صفحه ۱۴۸)

تحقیق صدقه فطر ازجانب منکوحه غیرمزفوفه

سوال:(۱۱۹)دکوم زناني چه واده شوي وي اوهغه جینۍ دمورپلار په کورکې وي بالغه وي یانابالغه نودهغي سرسایه دمورپلار په ذمه ده که د صخرد کور په ذمه ده ؟

جواب: که داجینۍ مالداره وي نودخپل مال نه په دي سرسایه واجب ده که بالغه وي اوکه نابالغه وي اوکه مالداره نه وي اوبالغه وي نودهیچاپه ذمه نشته اوکه نابالغه وي اورخصتي نه وي شوي نودهیچاپه ذمه هم نشته . ۳جمادی الا ولی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثالثه ص ۲۵)

جوازفدیه دادن برادر را

سوال:(۱۲۰) شخصی نمازدوماه قضاکرده بودقبل موت وصیت کردکه ازاموال متروکه کفاره اش اداکرده شود ودرمیان برادران میت بعضی غنی وبعضی فقیر .اکنون برادر غنی از ثلث مال اراده کفاره میداد ونیزی خواهد که بعض کفاره فقیراجنبی راوبعض برادر را فقیر خودرادهد آیابرارش راکفاره دادن رواباشدیانه ؟

جواب:هرگاه برادررا ازذکات دادن درست است ،فدیه وکفاره هم درست است لا شتراکهای الوجوب . ۷ رجب الرجب ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه صفحه ۱۵۲)

وجوب صدقه فطربرمسافر اضحیه

سوال:(۱۲۱)مسافرچه په خپل ځای کې صاحب نصاب وي ده ته دسفر په حالت کې دقرباني اوسرسایه ورکولو وس وي نوده باندي قرباني اوفطرانه واجب ده یانه . خوسفر په حالت کې ده سره دنصاب برابر مال نشته خودضرورت په وخت دچانه راغوختوطاقت ئي شته ددي کس څه حکم دي ؟

جواب:فی الدالمختار باب المصرف وابن السبیل وهوکل من له مال لا معه فی ردالمحتار عن الفتح ولا یحل له ای لا بن السبیل ان یاخذ اکثر من حاجته . جلد۲ صفحه ۹۹ . وفی ردالمحتار باب صدقة الفطر علی کل حر مسلم ولوصغیر مجنوناً ذی نصاب فاضل عن حاجته الا صلیة وان لم یتم وبه ای لهذا النصاب تحرم الصدقة وتجب الا ضحیة وفیه کتاب الا ضحیة وشـرائطها ا لا سلام والا قامة وایسار الخ . ددي روایاتونه داخبري فائده کیږي (۱) داسي مسافرباندي نه فطرانه واجب ده نه قرباني څکه چه[1] دصدقي واجبیدل اوصدقي داخستو حرامیدل دواړه نه یوخاي کیږي اودي کس زکات اخستل جائز دي نوفطرانه(سرسایه) اوقرباني په ده واجب ده(۲)دي کس زکات اخستل خودرست دي لیکن حاجت نه به زیات نه اخلي او ورکونکي دي هم دده نه دخپل حاجت معلومات وکړي دحاجت نه زیات دي نه ورکوي (۳)اوکه دي مسافرسره نصاب هم موجود دي بیاپري هم قرباني واجب نه ده خو فطرانه پري واجب ده (۴)که دقرباني ورځوکي مقیم شو نوقرباني پري واجب ده(۵)سفرنه مرادشرعي سفردي . ۲۲ شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه صفحه ۸)

سرسایه دخپل طرفنه اونابالغه اولاد دطرفنه واجب ده

سوال:(۱۲۲)زیدیوسړي دي چه دکورمالک دي اودده متعلقین په تفصیل سره دادي . بي بي دده ،بالغ ځوي خپل وررور ، دواړه ښځه ،دوه بیبیاني اوځلور دزید لوڼړه دي یوه

[1] کوم مسافرچه خان سره نصاب نه لري خودحاجت په اندازه هغه سره مال موجودوي هغه زکات نه شي اخستی البته په هغه باندي دصدقه فطردواجبیدو نه څه امرمانع نشته نویه ده صدقه واجب ده ۱۲ رشیداحمد عفی عنه

خوانه لور واده شوي چه صخر كره اوسيږي اوكله كله ددوي كورته هم راځي دويم نابالغه واده كړي شوي اودريمه نابالغه واده كړي شوي دادواړه هم دزيد سره اوسيږي څلورمه نابالغه واده كړي شوچه صخر كره اوسي . دزيد خورواده شويده اوس دوي كره دميلستياپه طور راغلي ده يوه خادمه بي پلاره بي موره اوبي خاونده چه دهغي كپړا خوراک هم دزيدپه ذمه دي پدي كې دچاچافطرانه دزيدپه ذمه ده ؟

جواب: زيدپه ذمه صرف دخپل طرفنه اودخپل نابالغه چه كمزوري اولاد دي دهغوي دطرفنه فطرانه واجب ده مگر هغه جينۍ كه نابالغه وي او واده شوي وي اورخصتي هم شوي وي خوپدي شرط چه دخاوندخدمت لا ئقه وي ددغه جينۍ سرسايه دزيدپه ذمه واجب نه ده في الدرالمختار عن نفسه وطفله الفقير الى قوله ولوزوج طفلة الصالحة لخدمة الزوج فلا فطر الخ . وفى ردالمحتار لوسلمت لزوجها لا تجب فطرتهاعلى ابيها . الخ ، فقط والله اعلم اول ذى القعده ۱۳۲۲ھ (تتمه اولى صفحه ۲۰)

تحقيق اداني فديه صوم وصلوة درحيات خود وتعريف شيخ فاني

سوال:(۱۲۳) دقضاشخونواوروژو فديه سري په خپل ژوندكې اداكولي شي يانه ؟

جواب: فى الدرالمختار بعد ذكرالفديه للشيخ الفاني اذكان الصوم اصلا بنفسه وخوطب باداله فى لولزومه الصوم لكفارة يمين اوقتل ثم عجز لم تجزالفدية لان الصوم ههنابدل عن غيره. فى ردالمحتار هذااى وجوب الفديه على الشيخ الفاني ونحوقوله اصلا بنفسه كرمضان وقضائه والنذر كما مر فيمن نذر صوم الا بد وكذالونذر صوما معيناً فلم يصم حتى صار فانيا جازت له الفديه، بحر جلد۲ صفحه ۱۹۳ وفى ردالمحتار عن الكافى ان العاجز عن صوم هوبدل عن غيره كما فى كفارة اليمين والقتل لوفدى عن نفسه فى فى حياته بان كان شيخافانيالا يصح الخ .جلد۲ صفحه ۱۹۲ . فى ردالمحتار ولوفدى عن صلاته فى مرضه لا يصح بخلاف الصوم ، فى ردالمحتار لا نه يصلى بما قدر ولوموميا براسه فان عجزعن ذالک سقطت عنه اذاكثرت الخ .ددي روايتونونه معلومه شوه چه شيخ فاني دروژي فديه په خپل ژوندكې وركولي شي خودنموځ نه شي وركولي خكه چه اشارى سره دقضا نموځ كولي شي اودشيخ فاني نه علاوه بل څوک نه دنموځ فديه وركولي شي نه دروژي والله اعلم ۲۵ ربيع الاول ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانيه صفحه ۲۲)

دمحرم نفلي صدقه وغيره مالدارو پاره جائزده

سوال:(۱۲٤) يوسري عام خلقوته دعوت وكړو يوسړي دبل كس نه تپوس وكړو چه دا دعوت څنگه دي . نو هغه جواب وركړو چه دادالله دپاره دمحرم صدقه ده . نوددي خوراک جائزدي يانه اومالداره اوغټ خلق داخوراک خوري شي يانه اودعوت كوونكي ته ثواب ملاويږي يانه ؟ اوپه كوم ځاي كې چه غريبانان نه وي نوپه چابه ئي خوره وي ؟

جواب: فى الدرالمختار قبيل باب الرجوع فى الهبه لا لغنيين لان الصدقة على الغنى هبة وفيه فى مسائل مترفقه كالهبه الصدقة الى قوله ولوعلى غنى لان المقصود فيها الثواب لا العوض وفيه باب المصرف ولا الى غنى ولا الى بنى هاشم وجازت التطوعات من الصدقات وغلة الا وقاف لهم اى بنى هاشم الخ .مختصراً . ددي روايت نه معلومه شوه چه نفلي صدقه دمالداروپاره جائزده . برابر خبره ده كه هغه حكماً هبه وي اوكه صدقه وي اوپدي كې ثواب هم دي اگرچه فقيرته دوركولوبرابر نه ده نوپدي مسئله كې دالفظ لله دي (الله دپاره) صدقه ده نودانفل ده ددي وجه نه مالداره ته حرامه نه ده ليكن په غريبانوباندي دخوړلوثواب زيات دي . اومالداره ته څه بهانه كول غوره دي اوكه هلته غريبان نه وي نوبل ځاي ته غريبانوته دي وليږي كه خوراک وي يادهغه دقيمت برابر نقدمال . والله اعلم ۱۳ ربيع الاول ۱۳۲۹ھ (تتمه اولى /ص ۱۴۴)

هندوته نفلي صدقه وركول جائزدي

سوال:(۱۲۵) مابيان القران كې دسورت البقره په تفسيركې وليدل چه حضرت فرمائيلي دي چه حربي كافرته هيڅ صدقه وركول جائزنه دي اوصرف ذمي كافرته نفلي صدقه وركولي شي ددي نه داخبره ثابته شوه چه هندوستان كې چه دا دارالحرب دي پديكې هندوانوفقيرانوته صدقه نه دي وركول پكار تردي وخته پوري مادي خلقوته دابراهيم ﷺ قصه يادده وله خيرات وركولوپاره نوددي خيرات كولو اوس چه څنگه حكم دي ؟

جواب: ډيردكارتپوس دي جواب دركوم مراددحربي نه محارب دي حربي مسالم نه دي چه دده حكم دذمي په شان دي عبارت كې قيدپاتي شويدي مگر دقواعدو نه خپل قيد معلوميږي . ۲۵ ربيع الاول ۱۳۵۴ھ (النورصفحه ۱۰ ۵۵ھ)

دمحصول چونګي نه بچ کېدونکي که ګرفتارکړي اوپه هغي انعام ملاوْ شي نوپه هغي دزکات حکم

سوال:(۱۲۶) یواسلامي حکومت دنوروقوانینوسره یوقانون داهم دي چه یوسړي خپل محصولي مال بغیر دسرکاري محصول اداکولونه په پټه اوړي نودي به ګرفتار کولي شي اودهغه ټول مال نیلام کوي نیم مال ګرفتاروونکي ته ورکوي اونورسرکارپه خپل خزانه کي داخلوي پدي وجه یوسړي دیوهندومال ونیوه اوپه هغي ئي انعام حاصل کړو .دانعام په پیسوکي ئي څه خپل خرچي دپاره کېښودي اوڅه ئي چاته قرض ورکړو اودي قرضدار ووئیل چه په دي روپوباندي به زه یومکان واخلم اودهغي کرایه به میاشت په میاشت تاته درکوم دمکان بیعه نامه ئي په خپل نوم وکړه اوقرضدارصرف په ژبه اقراروکړلو اوس پدیکي دځو خبرومعلومات غواړم (۱) دغه هندو چه ذمي دي ټولوقوانینیوسره ئي ددي قانون هم پابندي هم وعده کړیده نوایا دامام المسلین دذمي نه داسي قسم وعده اخستل جائزدي یانه (۲) که داقانون دذمي په حق کي نافذاوجائزنه وي نودګرفتارونکي انعام اخستل دغاصب په حکم کي دي یانه (۳) که حکم یي دغصب (په زوره اخستل) وي نو واپس کول یي واجب دي یانه (۴) که واپس نه کړي نوزکات پري واجب دي یانه (۵) دي قرضدارته دقرضي داپیسي چاته واپس کول پکاردي قرض ورکوونکي ته یاهغه هندوته چه دچامال دي (۶) که قرضدار ادانه کړي نوقرضدارخپله هم اصل مالک ته دي واپس کولو اراده نه لري نوده ته دغوختوحق شته یانه (۷) قرضدارمیاشت په میاشت پیسي ورکول سوددي یانه . اوقرضدارته هم ددي روپودغوختوحق شته یانه .فقط بینوا توا جروا؟

جواب: وروسبي مال تجارت باندي دمحصول اخستوشرعي قانون اوپېژني بیابه دسوال جواب ولیکلي شي حسبما فی الدرالمختار وردالمحتار (۱) هغه مال دتجارت وي (۲) په ټول کال کي صرف یوځل واخستلي شي زیات وانه خستلي شي (۳) هغه مال دنصاب په اندازه وي (۴) په ده باندي دومره قرضه نه وي چه هغه نصاب کم کړي (۵) که هغه و واني چه دي مال کي زمانیت دتجارت نشته یاپدي کال کي زمانه په بله څوکئ کي ددي مال محصول اخستی شویدي یازماپه ذمه قرض دي . چه دهغي نه پس نصاب نه پاتي کېږي دده نه په حلف (قسم) واخلي اودهغي تصدیق (ریشتون والی) به وکړي (۶) شلمي حصي نه به زیات ترینه نه اخلي (۷) دمال مالک نابالغه نه وي،

که ددي قانون نه خلاف محصول واخستلي شونوظلم به وي . نوکه دغه حکومت کي ددي قانون پابندي نه وي نوبیاخودمال ګرفتارول حرام دي اوپه ظلم باندي امداد دي اوپدي انعام اخستل صراحتاً اکل سحت (خوړل دحرامو) دي . اوکه ددي قانون پابندي وي (ددي موقع ډیره لږ ده) نوبیا ګرفتارول جائزبلکه تابعداري ده. اوپه حق باندي امداد دي .خو پدي انعام اخستل درجه اجرت علی الطاعت کېدونه هم ناجائزه اورشوت دي بهرحال چه کوم انعام دي هغه هرحال کي ناجائزه دي ، ددي نه پس دسوالونو جوابونه ترتیب سره لیکلي کېږي (۱) دشریعت دقانون مطابق لوظ اخستل جائزدي اوددي نه خلاف اخستل ناجائزه دي (۲) هرحال کي یي حکم دغصب دي (۳) واپس کول ئي واجب دي خلاف لوظ اخستل ناجائزدي (۴) که ده خپل مال کي یوځاي کړونوزکات واجب دي (۵) که چرې دي انعام اخستوونکي داانعام نور مال سره یوځاي کړو نودي مالک شو اګر چه ملک خبیث (داملک صحیح نه دي) وي . نوداقرض به ده ته واپس کولي شي اوکه یوځاي نه کړوبالکل جدائ کېښودلي دي نومالک هم هغه هندو دي که قدرت او وس یي دي نوده ته دي ورکړي (۶) که قرض ورکونکي ده ته یوځاي کړي نودغوختو حق لري کني نه لري. (۷) که دا داصل قرض ماهانه قسط وي نو سودنه دي اوکه ددي نه علاوه وي نوسود دي اوداصل قرض غوختل جائزدي اودسودغوختل جائزنه دي: ۲۵ رمضان ۱۳۳۲ھ

دصاع وزن

سوال:(۱۲۷) دحضرت بهشتي زیور نومی کتاب کي دفطراني باره کي په کتو کي زاغلل چه نیم صاع عراقي اتیاتولي وي . اودسیرپه حساب یوسیردولس نیمي چیټاکي وي. یعني دومره فطرانه اداکول پکاردی . دي عاجزچه فقهاؤ څنګه لیکل کړي دهغي حساب یي ولګولو نودنیم صاع عراقي انګریزي سیرپه حساب سره یو سیریوولس نیمي چیټاکي ود. نه ده معلوم چه دیوي چیټاکي کمي زیاتي ولي راځي ،زه چه څومره پوري پوهیږیم نو زماحساب کي به غلطي راغلي وي ددي وجه نه امیدلرم چه نیم صاع عراقي انګریزي یوسیردولس نیمي چیټاکي کوم حساب سره کېږي دي فقیرته وښائي الله دي ددواړو جهانونو کامیابي درته نصیب کړي ؟

جواب: دټولوحسابونواخیري واپسي مثقال ده دهغي په حساب کي داختلاف دوجه نه

دصاع په حساب کي اختلاف راخي خودااختلاف تاوان نه ورکوي تولوکي فراخي ده ۹جمادي الثاني ۱۳۴۳ھ؛

کتاب الصوم والا عتکاف

سوال:(۱۲۸)ابن ماجه کي باب الصيام اشهرالحرام کي دي چه حضرت محمد ﷺ يو صحابي ته اوفرمائيل چه صم اشهرالحرام . اوپه دغه باب کي دي ان النبي ﷺ نهي عن صيام رجب، پدي دواړوحديثونوکي دتطبيق څه صورت دي ؟

جواب:ددی حديثونونه معلوميږي چه دجاهليت دزماني خلقودرجب په تعظيم کي ډيره غلو(زياتي) کوله .ددي وجی نه دعتيره رسم پدي ګواه دي چه هغه پدي حديث لا فرع ولا عتيره باندي منسوخ کړي شويدی خصوصاًدمُضرقبيلي تولونه زيات په دي خبره کي مبالغه کوله تردي چه دهغوی طرفته درجب اضافت کيږي لکه چه حديثوکي ترکيب رجب مضرپدي لا لت کوي نوپدي وجه تخصيص سره درجب تعظيم داد جاهليت يوه نخښه وه پدي وجه احتمال وه چه بعض خلق درجب تعظيم کوي او اوس ئي اسلام قبول کړيدي کېديشي داخلق يادږوي داکاروبارنور خلق هم دغه رنګ دتعظيم په قصد سره پدي کي روژه ونه نيسي . ددي وجه نه شارع عليه السلام ددي منع وکړه لکه څنګه چه بعض احاديثوکي دصوم يوثبت نه منع راغلي ده حالا نکه دلا ئلوسره اواجماع سره دهغي جواز ثابت دي هلته هم دغه وجه ده چه ديهود داعمل چه دروژي تخصيص دي نور خلق ذريعه دتعظيم اونه ګرځوي . دغه رنګ درجب روژي نه منع کېدل هم پيژندل پکاردي نودي حيثيت سره دامنع کړي شوه نودامنهي عنه ده . دويم حيثيت رجب کي صرف دشهر حرام (دعزت مياشت) کېدودي چه پديکي اونورو اشهر حرام کي مشترک دي د وړومبي حيثيت سره چه نه ګوري بلکه دي دويم حيثيت ته وګوري نودي مياشت کي روژه نيول مستحب دي نو دواړوحديثونوکي تعارض نشته لا ختلاف المحملين کماذکرنا (فقط (امداد،ص ۱۷۱/ج ۱)

داوه ويشتم رجب د روژي تحقيق

سوال:(۱۲۹)بهشتي زيور شپږمه حصه کي ددي متعلق داليکلي دي .چه دي ته عام خلق دمريم دروژي سپوږمي وائي اوددي په ۲۷د رجب روژه نيول ګڼړي چه دزرو روژوثواب دي. شريعت کي ددي څه اصل نشته که نفلي روژه نيول غواړي نواختيارشته الله رب

العزت چه څومره غواړي ثواب به ورکړي دخپل طرفنه زريالک مقررمه ګڼړه الخ .ددي عبارت نه شبه راځي ددي نه څه مضبوط حقيقت شته اونه کمزوری خويوکمزوری اصل ديکي موندلی شويدي پدي وجه الا مداد رجب مياشت ۳۴ھ کي په دي نور تحقيق هم کړي شويدي چه بعينه لا ندي نقل کيږي . پدي مياشت کي په ۲۷ تاريخ ددي اعمالورواج دي (۱) روژه چه دهغي په روايتونوباندي شيخ دهلوي ماثبت بالسنة کي ډيره سخته جرحه کړيده صرف يو روايت چه دابوهريره ﷺ نه مرفوعاً راغلي دي چه په هغه کي داروژه دشپيتومياشتو روژو برابر وئيلي شويده شيخ دادتولونه غوره اوغنيمت ګڼړلي ده خوبيا هم دروايت په ختميدو کي وئيلي دي فهذه احاديث ذکرت فيماحضرعندنامن الکتب ولم يصح منها علي ماقالواشئ وغايته الضعف وجلهاموضوع مګربياهم شيخ يوحديث په روايت دابن ابي شيبه وطبراني دحضرت عمر ﷺ نه نقل کړي چه حضرت عمر ﷺ درجب په روژه باندي خلق په لا سونوباندي وهل اوپه زوره به ئي خوراک کي خکته کول چه دامياشت په جاهليت کي معظمه وه . اوپه اسلام کي پريخودلي شويده دغه تعظيم خبره که بياهم څوک روژه نيسي نو يو خودابه دحضرت ﷺ ارشادنه ګڼړي دابوهريره ﷺ روايت به ګڼړي دويم داچه ديته هزار يعني دزرو روژوبرابرپه ثواب کي به نه ګڼړي خکه چه بياچه کوم طريقي سره نقل شويده هغي کي بدليدل راځي ، دريم داچه دابه دصحيح حديث سره برابرنه ګڼړي خامخاضروراً کمزوری به ګڼړي ، اوداهم دچاعالم فقيه نه به تپوس وکړي چه دابوهريره ﷺ دغه فضليت بيانول اودحضرت عمر ﷺ منع کولوکي دعمل په اعتبار سره کوم غوره دي الخ. نواصل خوښکاره شو، پاتي داچه روژه نيول نه نيول اودحضرت ابوهريره ﷺ اودحضرت عمر ﷺ دفتوی تعارض کي دعالم نه تپوس وکړي چه غوره کوم دي قواعدوسره خودومره ګنجائش شته چه دجاهليت سره مشابه کېدو دوجه نه داروژه منعه شي اواوس خوهغه مشابهت پاتي نه شو ددي وجه نه اجازت ورکريشي بهرحال داروژه دی دعمل په اعتبارسره نه منع کوي خو دعقيدي اصلاح داوکړي فقط ۲۷ ذی الحجه ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه صفحه ۸۵)

دهزاري روژي حکم

سوال:(۱۳۰) هزاره روژه چه مشهوره ده ددي څه سندنه ملاؤيږي يوکس دامام غزالي رحمه الله دمکاشفة القلوب نه يوحديث پيش کړيدي . عن ابي هريرة ﷺ قال قال رسول

الله ﷺ من صام السابع والعشرين من رجب كتب له صيام ستين شهراًوهو اول يوم نزل فيه جبرائيل عليه السلام على النبي ﷺ بالرسالة وفيه اسرى به ﷺ داحديث ئي پيش كړو اوبيائي ووېل چه ددي خلاف حديث واۍ نو وبنائي . حضرت شيخ عبد الحق رحمه الله محدث دهلوي ماثبت بالسنة كې داروايت خونه دي راوړي خودي معني په شان نور روايتونه ئي راوړي دي . اووئيلي دي چه داټول ضعيف روايتونه دي هغه دا هم وائي چه داسي قسم عملونوكې داسي روايتونونه سندنيول ضروري دي دده داخبره داسي ده چه ددي جواب په پوهه كې نه راځي لهذا پدي مسئله كې جناب څه ارشاد فرمائي اوروايت دكوم كتاب دي اوڅنګه دي ؟

جواب: (١)دمكاشفة القلوب روايت دنظرلا ندي نه دي تيرشوي . نقل كوونكې په ذمه صحيح كول دنقل دي اودسند حال درجالو (روايانو) دكتلونه به معلوميږي باقي يوعلت په دي حديث كې ښكاره دي . وهواول يوم نزل فيه جبرائيل عليه السلام الخ . دحضرت ﷺ شروع دوحى په ربيع الاول كې مشهوردي. پاتي روژه درجب داخو بي اصل نه ده خبره پدي خاص شمير كې ده هغه ددي حديث نه هم ثابته نه ده بلكه ددي مشهور شميرنه هم زيانه ثابتيږي ددي وجه نه دادعوى صحيحه ده چه ددي مشهورشمير /٢٧ رجب / چرته پته نشته اوكه دي ذكرشوي علت باندي نظركولوسره دحديث په ثبوت كلام اوخبري وكړيشي نوهم ګنجائش شته ٢٢رجب ١٣٣٢هـ

درمضان په روژه كې دپردي ښځي نه جلق (موټک وهل) كول

سوال: (١٣١)يوكس دپردي ښځي په ذريعه رمضان كې جلق اوهلو(موټک وهل) اوس دي

(١) حضرت قدس سره الشرف كې فرمائي دابوهريره رضي الله عنه حديث چه كوم سړي داوويشتم رجب روژه ونيسى الله تعالى دهغه دپاره دشپيتوروژوثواب ليكى اوهغه ورځ ده كومه چه جبريل عليه السلام باندي نازل شو، څه خاص شكل مراددي مثلامعراج دپاره ، روايت كړيدى دابوموسى مديني په كتاب فضائل الليالى والايام كې دمشهرين حوشب دروايت نه هغه دابوهريره رضي الله عنه نه روايت كوي -فائده دامياشتى كه نيمى ددېرشوشى اونيمى ديوكم دېرشونوددى روژوشميراوه سوه اويا جوړيږي اولرى نه ده چه دااصل وي دهغه كوم چه عام خلقوداكسره آساناتيادپاره ختم كړي وي اوماچه په خپلو بعضوروسالوكې ددي نفى كړيده نوهغه دى اثرباندى دپوهيدولونه مخكې وه خوپه دى شرط چه دااثردسند په روسره ثابت وي اوماته دسندپته نشته (التشرف صـ ٢٤) قلت احياءالعلوم صـ ٣٢٨/ ج١/ بيان الليالى والايام الفاضله كې ددى روايت په سندباندي دزين الدين عراقى دپوجليل القدرمحدث په حاشيه كې كلام نه كول دليل دصحت دي ١٢ رشيداحمدعفي عنه ؛

سړي ته زناكار وئيلي شي يانه اوددي ښځي اصول (مورنيا وغيره) لور وغيره ددي سړي په حق كې څه دى اودده دروژي څه حكم دي ؟

جواب: دزناپه تعريف كې ادخال الذكر قدرالحشفة داخل دي . كماالدرالمختار، ددي وجه نه داحقيقي زناخونه ده التبه دزنامقدماتوته هم په حديث كې زناوئيلي شويده ددي وجه نه داحكماً زناده يعنى په ګناه كې دزناپه شان ده اوچونكه مس بالشهوة يعنى شهوت سره لا س كولوسره اصول دفروع حراميږي ددي وجه نه داحكم پري ثابتيږي. التبه كه انزال شوي وي نو بيا حراموالي نه ثابتيږي كما فى الدرالمختاروأصل ممسوسة بشهوة وأصل ماسة وفروعهن وفيه ايضافلوانزل مع مس اونظرفلا حرمة وبه يفتى . اوروژه فاسده شوه اوصرف قضاپري لا زم ده فى الدرالمختار اذاستمنى بكفه الى قوله كذا . فقط ؛

په تاره خبرورکولو حکم اومعلومات دروژې اوداخترمياشت د ليدلو

سوال: (١٣٢)دوړوكې اخترخبرروركول دتارپه ذريعي سره آياپدي عمل پكاردي يانه په صحيح سندسره اوفرمائي ؟

جواب: تارپه دلا لت وضعي غيرلفظي كې په شان دخط دي اوددي فرق په لحاظ سره په خط كې خپله دجداكېدو علامت موجود اوتاركې نشته په نسبت دخط كې دادتوپي اوطبل وغيره په شان دي اوخط په هغه كارونوكې چه لازمى دى بغيرداقراردليكونكې يادګواهانودپيش كولونه حجت نه دي ماسيوادځوكالونونه چه سخت ضرورت وي ياپه شرط داض وي لكه دبادشاهانوحكمونه وغيره اوهغه امورچه غيرملزمه وي كه دي كې حالات دريشتونوالي اوصحيح والي جمع شوي چه هغي سره نسبت كاتب ته يقني وي نوداحجت دى كنى نه اودتوپ وغيره حكم هم دى امورو كې دغه دى. چه كله دصحت يقين وي نومعتبردي كنى نه دي نوخبرداخترد مياشتى چه داهم په شان دمياشتى دروژې ده . دهغه امورونه ده چه هغه غيرملزمه وي چونكه زمونږ په علاقه كې مسلمان والى نشته نودوى دارومدارصرف په اخبارباندى دى اودشهادت څه لحاظ نشته كه چرى تارورکونكې كې انصاف نه وه اودرميان والى نه وه مسلمان نه وي اولحاظ دشهادت كې هم نه دي پديكې ګمان غالب وي دمنع كولونوعمل پرى مطلقاً جائزنه دي اوكه ديكې ذريعه غيرمسلم نه وه اوتارورکونكى انصافداردي اولحاظ دشهادت هم دچاپه اعتبارسره منع كوونكې نه وي

نو ددی حکم پـه شـان دحکـم دنطـق (خبـرو) دی ، اوچـه کلـه صـفاورخ (وريـخ) نـه وي نو ده پروکـانوگواهی اوخبراوکه وريخ وي بياددوؤگواهانوانصاف کوونکوخبرباندی عمل جائزدي اوديوکس په خبرعمل هيڅ شان سره جائزنه دي ؛ والدلائل على الـدعاوی المـذکورة هذه وفی الدرالمختار بخلاف کتاب الایمان فی دارالحرب حیث لایحتاج الی بنیة لانه لیس بملزمـة وفی ردالمحتارقوله لانه لیس بملزم لان له ان لایعطیهم الامان بخلاف کتاب القاضی فانه یجب علی القاضی المکتوب الیه ان ینظرفیه ویعمل ولابدللملزم من الحجة وهی البینة ، فتح / ج٤ / صــــ ٥٤٦/ مطبوعه مصر/ وفی ردالمحتار وذکرفی الکفایة اخرالکتاب عن الشافی ان الـصحیح مثـل الاخرس فاذاکان مستبیناً مرسوماً وثبت ذالک باقراره اوبنیة فهوکالخطاب ،ج٤/ صــــ ٥٤٨/ وفی ردالمحتار وقدمناول القضاء استظهار کون علة العمل بماله رسوم فی دواوین القضاة الماضین هی الضروره وههناکذالک فانه یتعذر اقامة البنیة علی مایکتبه السلطان من البراء ت لاصحاب الوظائف ونحوهم وبعداسطر عدیدة وان ابن الشحنه وابن وهبان جزماً بالعمـل بـدفترالطرف ونحوه لعلة أمن التزویرکما جزم به البزازی والسرخی وقاضـیخان قـال ان هـذه العلـة فی الدفاترالسلطانیه اولیٰ کمایعرفه من شاهداحوال اهالیهـاحین نقلـها، ج٤ / صــــ ٥٤٧/ وفی ردالمحتارقال البیری المرادمن قوله لایعتمدای لایقضی بذالک عندالمنازعة لان الخط ممایزور ویفتعل کمافی مختصرالظهیریة وبعداسطر قال الیشخ ابوالعباس یجوزالرجوع فی الحکم الیٰ دواویـن مـن کان قبله من الامناء ای لان سجل القاضی لایزورعادة حیث کان محفوظاً عند الامنـاء بخـلاف ماکان بید الخصم الخ ،وبعداسطر وصرح ایضاً فی الاسعاف وغیره با ن العمل بمـافی دواویـن القضاة استحسان والظاهران وجه الا ستحسان ضرورة احیاء الاوقاف ونحوهاعند تقادم الزمان بخلاف سجل الجدیدلامکان الوقوف علی حقیقه مافیه باقرار الخصم اوالبنیة فلذالایعتمدعلیه الخ ،ج٤ / صــ ٤٧٨/ وفی الهدایة کتاب الشهادة ثم التزکیة فی السران یبعث المستورة الی المعـدل فیهاالنسب والحلی والمصلی ویردالمعدل وکل ذالک فی السرکیلا یظهر فیخدع اویقصد وفیهـا بعداسطر واذکان رسول القاضی والذی یسئل عن الشهود واحداجازالی قوله ولهماانه لـیس فی معنی الشهادة الخ ، قوله مستورة اسم للرقعة التی یکتبها القاضی ویبعثهاسراً بیدامنه الی المزکـی سمیت بذالک لانها تستری عن نظرالعوام کفایة وفی ردالمحتار یتسحر بقول عدل وکذا بـضرب

الطبول وبعداسطرلایجوزاذالم یصدقه ولابقول المستورمطلقاً وبالاولیٰ سماع الطبل اوالمدفع الحادث فی زمانالاحتمال کونه لغیره ولان الغالب کون الـضارب غیرعـدل فلاحینـئذمن التحـری فیجوزلان الظاهرمذهب اصحابنا جوازالافطار بالتحری وبعداسطر وقدیقال ان المدفع فی زماننا یفیدغلبة انظن وان کان ضاربه فاسقاً لان العادة ان الموقت یذهب ال دارالحکم اخرالنـهارفیعین له وقت ضربه ویعینه(١) ایضاً للوزیروغیره واذاضربه یکون ذالک بمراقبه الوزیر واعوانه للوقت المعین فیغلب علی الظن بهذه القرائن عدم الخطاء وعـدم قصدالافـساد، ج٢/صـ ١٢٩۔١٧٠/ وفی ردالمحتار وکون المدعی والکاتب زمیین یقوی شبهة التزویربعداسطروقلمایشبه الخط من کل وجه الخ ، ج٤ / صــــ ٥٤٩ / وفی الدرالمختار ولوکانوابلدة لاحاکم فیهاصـاموالقول ثقـة وافطـروا باخبارعدلین مع العلة للضرورة وبعداسطرقبل بلاعلة جمع عظیم والله اعلم ٢٧شوال/ ٢١ھ (امداد ج١ / صـ ١٧٢)

دعيدمبارک لفظ دتارپه ذريعه معتبردي يانه

سوال:(١٣٣)دکراچي نه يوتارراغي چه دهغي مضمون عيدمبارک (اخترمبارک شه) اودا تاردهلته نه په يوکم ديرشم تاريخ ورکړي اودورځي لس بجي چنارګړه خوکي ملا وُشو لهذا په دي بعض خلقوروژه ماته کړه اوټولومسلمانانوروژه ماته نه کړه چاچه روژه ماته کړه په هغوي کفاره شته يانه ؟

جواب:صرف ددغه مضمون تارشرعاً شبه نه پيداکوي ددي وجه نه پدي خلقوکفاره لا زم ده ونظائره کثيره فی الفقه . البته که وروستوپه دليل شرعي دمياشت دليدوخبرچرته نه ثابت شونوکفاره نشته کمافی الدرالمختار ولم يطرء مسقط . فقط ٣شوال ١٣٢٧ھ (

کلام برجواب سوال متعلق صوم وافطاربرخبرکه در سال ١٣٢٧ ھ اکثر جاواقع شد

دروميي سوال جواب اصل طريقه دثابتيدوپه ليدلودمياشت شهادت دي چه رويت يعني ليدلي ئي وي ياګواهي.ده په مخاخ ياګواهي په فيصله دشرعي حاکم تردي چه ګواهي ورکول دبل چاپه ليدوداهم حجت اودليل نه دي کذا فی الدرالمختار وردالمحتار ، پاتي

(١) اقول هذا فی الاصل ای الشامی ولیحرربل هوللوزیراوالوزیر ١٢ تصحیح الاغلاط صفحه ٣١)

داچه استفاضه، حکم بل خاي ته نقل کول، ته چه ئي حجت وئيلي وي نودا په خپله فی ذاته دلیل نه دي بلکه ددي علت اووجه ئي داليکلي ده لان البلدة لاتخلوعن حاکم شـرعي عادة فلابدمن ان یکون صومهم مبناعلی حکم حاکمهم الشرعي فکانت تلک الاستفاضة بمن نقل الحکم المذکورکذاق ردالمحتار/ ج ۲/ ص ۱۵۰ / اوکوم خاي کښ چه داعلت نه وي نوهلته به حجت هم نه وي اوزيارت دورخي دروژي په خبرکښ خواستفاضه هم نه دي شوي اودجمعي دورخي مياشت اودخالي په شپه اودورځ کښ دتارپه ذريعي بعض خلقو ته استفاضي شبه پيداشوي وه اوتارورکونکو کښ زيات خلق ناپوه خپل رائي استعمالوونکي احتياط نه کونکي اوعالمانوطرفته ورګرځيدونکي نه دي. پدي وجه معلوم ده ددي وجه نه علت هم موجودنه دي اوحجت هم نه شي نيولي. که تارهم په شان دڅيي دخبرپه شان اوګڼري مګرپه خپله دڅيي په خبرکښ هم دغه شرط دي نوپه تارکښ به ولي نه وي نوبس اکثرخايونوکښ دتارپه بنيادباندي روژي ماتوونکونه لويه غلطي شويده والله اعلم / ۱۲۰ شوال ۱۳۲۷هـ (تتمه اولیٰ /ص ۲۰)

سوال:(۱۳٤)درمضان اوشوال سپوږمي ليدل خبردتارپه ذريعه معتبر دي يانه اودتارپه خبرباندي روژه نيول ياماتول جائزدي يانه بنيواتوجروا؟

جواب:ددي نه مخکښ بنده تاردخط ياطنبل (چه پيشمني کښ وهي) اومدفع يعني توپ (ماښام روژه ماتي په وخت کښ وهي) باندي قياس کړي وه اوپه دي ئي يوتقرير[1] هم ليکلي وه چه په هغي دتارپه ذريعي دخبرقبلولوڅه بعضي شرطونه ئي ليکلي وه مګردي کال ۱۳۲۷ هـ کښ دشوال دمياشت دليدومتعلق په تارباندي عمل کوونکو خلقوکښ ناپوهو اوکم علموخلقوبي احتياطياني کړيدي اودهغه نه چه کوم فتني اوشرو نه پيداشول دهغي ليدو سره تجربه وشوه چه عوامودهغه قيوداتواوشرطونو خيال نه دي کړي اوبل داچه دمضبوط او متواتروخبرونونه معلومه شوه چه په تار کښ قسماقسم غليطانو اودهوکوهم ډيرزيات احتمال دي پدي وجه دادخط نه هم ډير کم دي چه خط کښ خوبياهم هغه شان ددي طرز دکاتب څه پيژندګلوخوکيږي بياهم الخط يشبه الخط په بعضو

---

[1] داتقرير اصل امدادالفتاویٰ مطبوعه مجتبائی ۱۳۲۹هـ دروميي جلدص ۱۷۲ کښ چاپ شويدي ايوبل تقريردتارمتعلق دی تتمه کښ دي هغه هم دي سره وګورئ ۱۲ دی نوي تبويب کښ ص ۸۷ باندي دي دي نوي تبويب کښ ص ۹۲ باندي رشيد احمد

احکاموکښ وئيلي شويدي اوتارکښ ددي څه علامت نشته . اودطنبل چه (پيشمني کښ دخلقوراويخولوبرپاره وهي) يامدفع (يعني دروژه ماتي يو آله وهي) نه هم ډير کمزوري دي ځکه چه ددي وهل دلويي ډلي دحاضرينوپه شرکت کښ کيږي چه ديکښ دهوکښ کولو قصدډيرلږ وي. په تارکښ دا هم نشته .پدي اموروباندي دنظرکولونه اوس دوجه دبنديدو ذرائع دهغه تفصيل ته رجوع کوم اوس مقررکوم چه دي باب کښ تارکښ دتارخبربالکل داعتبار قابل اودعمل لا ئق نه دي لهذانظائره فی الفقه منهاعدم جوازالقضاء بعلمه کمابسط القول فيه فی الدرالمختار وردالمحتار. ج۲/ صـــــ ۵۳٤ او ۵۵۰ / والله اعلم / ذی قعده ۱۳۲۷هـــ (تتمه اولیٰ / صـــ ٦۱ / وحوادث ا، ۲ / صـــ ۵٤)

سوال:(۱۳۵)دحکمد تارمتعلق چه دهغي عبارت نقل نه کړي شو؟

جواب:اول دوه مسئلي دتمهيدپه طور ليکلي کيږي بيابه دسوالونوجوابونه پيش کيږي **اوله مسئله** - داده چه تار په دلا لت وضعيه غيرلفظيه کښ دخط په شان دي دومره فرق دي چه خط کښ په خپله علامه دجدائي دپيژندګلووي اوپه تارکښ نه وي. دخط په نسبت توپ (ماښام روژه ماتي دپاره يوګولي خلاصه کړي هغي سره خلق خپله روژه افطارکوي) اوطنبل (پيشمني پاڅولودپاره وهلي کيږي) وغيره سره ئي زيات مشابهت دي اودخط حکم دادي چه هغه کارونه چه هغه لازمي وي بغيردکاتب داقراريادګواهانودپيش کولونه حجت اودليل نه دي ماسيوادڅوکاږونو نه چه سخت ضرورت وي ياچه شرط ددي چه بيچ شي دروغونه لکه دبادشاهانوحکمونه وغيره اوهغه غيرملزمه امورچه هغي کښ حلات دريشتون والي اودصحيح والي جمع شوي وي چه هغي سره کاتب ته نسبت يقيني وي نو حجت دي ګڼي نه دي اودتوپ وغيره حکم دي امورو کښ دغه دي چه کله دصحت يقين وي نو معتبر دي ګڼي نه دي . نوداخترد مياشتي خبرهم په شان دمياشتي دروژي اواومورملزمه نه دي .چونکه زمونږپه علاقه کښ مسلمان والی نشته ددی وجه نه دارومدارصرف په اخبارباندی اوشهادت هم لحاظ نشته .که تارورکوونکي کښ اسلام اوانصاف نه وي اوديوکس په اعتبارسره دمنع کولوګمان زيات وي نوعمل پری مطلقاً جائزنه دي .اوکوم اعتبارسره چه مانع نه وي لکه خبري کول نوکله چه شين وي نوډيروکسانوخبرمعتبردي اوکه دريغ وي نوبيادوه ګواهانوانصاف کوونکوپه خبرباندی عمل جائزدي خوخبره داخترپه مياشت کښ ده ددی وجه نه ديوکس په خبره باندی هيڅ شان سره عمل جائز نه دي (ثم ساق

الدلائل علی الدعاوی، امداد الفتاوی، **دویمه مسئله**:- [1] داده چه طریقه داثبات درؤیت (لیدل دمیاشتي) یالیدل دي یاگواهي په مخامخ وي یاگواهي په فیصلي دباشرعه حاکم وي تردي چه دبل چاپه لیدواثبات کول هم حجت نه دي، کذافی الدر المُختارورد المحتار، اوس پاتي داخبره چه استفاضه ته یې حجت وئیلی دی. نوهغه په خپله حجت نه دي بلکه دهغې وجه یې دالیکلی ده لان البلدة لاتخلواعن حاکم شرعی عادة فلابدمن ان یکون صومهم مبیناً علی حاکمهم الشرعی فکانت تلک الاستفاضة بمعنی نقل المذکور الخ. کذاقی ردالمحتار، ج۲/ص ۱۵۰/ اوکوم ځاي چه داعلت اوو چه موجودنه وي هلته به حجت نه وي. ددی تمهیدنه وروستواوس دغه دي چه کله دصحت یقین وي نوعلاقه کې مسلمان ولی نشته ددي وجه نه دارومدارصرف په اخبارباندیاوشهادت هم لحاظ نشته که تارورونکې کې اوانصاف کوونکې په خبرباندي عمل جائزدي خوخبره د اخترپه میاشت کې ده ددي وجه نه دیوکس په الشرعي فکانت تلک الا ستفاضة بمعنی نقل المذکور الخ. کذافی ردالمختار، ج۲/ص ۱۵۰/ اوکوم ځاي چه داعلت اووچه موجودنه دي هلته به حجت نه وي ددي تمهید نه وروستواوس دسوالونوجوابونه درکوم. نمبر(۱) ددي یوتاریادګنږومضمون لیدل پکاردي که داوي چه دلته سپوږمي راختي ده یافلانکي کس لیدلي ده یاډیروسړولیدلي ده ادزیاتوتارونوداسي مضمون وي نوبیاخو معتبر نه دي اګرچه څومره تارونه هم وي اوکه دامضمون وي چه مالیدلي ده یافلانکي زمامخکې دخپلولیدلوبیان کړي یادلته فلانکې باشرعه حاکم یاعالم اومفتي داخبره قبوله کړیده یادلته اختر دي نوددي حکم دادي که یوتاروي نوعمل جائزنه دي ځکه چه خبره داختر په میاشت کې ده اوکه دوه دري اوو ریخ نه وه بیاهم عمل جائزنه دي اوکه دوریخ په حالت کې دوه دري معتبر کسان راغلل یادوریخ دحال نه بغیراته لس کسان راغلل اومضمون هغه وي کوم چه اخر کې لیکلي شویدي چه مالیدلي ده الخ. نوددي حکم دادي چه که زره ګواهي درکړه چه دي کې خطا اودروغ نه دي شوي نوعمل جائزدي اوکه زړه ګواهي درنه کړه نوعمل جائزنه دي اوکوم ځاي کې چه لوي عالم وي نوهلته دعوامودزړه ګواهي معتبرنه ده دعالم دزړه ګواهي اوفتوی حجت اودلیل دي اودعوامو خان نه خیالونه کول اودفتوي خلاف کول جائزنه دي اودیو ځاي دتاردخبرچه

---

[1] دامسئله ص ۹۰ باندي په عنوان دکلام دجواب دسوال متعلق دصوم اوافطار الخ نقل کړي شویده ۱۲ رشیداحمدعفی عنه۔

بل ځاي ته دتارپه ذریعه ورکولي کېږي خوددي مضمون چونکه هغه شان نه وي دکوم معتبروالی چه بره بیان شو ددي وجه نه هغه هم معتبر نه دي اودغه تفصیل دصورتونو اوداحکاموپه خط کې هم دي مخکې عبارت چه دتاردحکم په باره کې وه که دلفظ تارپه ځاي لفظ دخط کېخودلي شي نودخط دټولواحکاماتوتعین به وشي (۱). چه کومه طریقه په خبرکې دحجت اودلیل ده (۲) ذکرکړي شویده چونکه دهغې ملکونودتارپه راتلویاراغبنتوکې دهغوي رعایت نه کېږي ددي وجه نه حجت نه دي البته که دشرعي قاعدوپوره رعایت وینودجزئي واقعي په باره کې په هغه وخت دیوعالم نه دشرعي مسئلي اودحکم تپوس وکړي اوصرف اختلاف دمطالع داحنافوپه نزدمنع کېدل قبول نه دي (۳) پدي وجه معاملاتواودیاناتوکې فرق دي دغه شان په ګواهي اوخبر کې فرق دي دغه شان په ګواهي اوخبرکې هم فرق دي ځکه چه معاملاتوکې شهادت اوګواهي ته اعتبارنه ورکول مطلقاً مستلزم نه دي اودیاناتوکې مطلقاً اعتبارنه کول پدیکې تفصیل دي کوم چه نمبر۱ کې تیرشول (۴) ځنګه چه دتار په مضمون کې تفصیل دي دغه رنګ دخط په مضمون کې هم دي چه نمبر۱ کې تفصیل سره ذکرکړي شویدي. فقط والله اعلم ۸ شعبان/ ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص ۲۴)

دتاره خبر تحقیق

سوال:(۱۳٦) دسپوږمي دلیدوخبر چه دیوښار یاګنړوښارونونه دتاردخط په ذریعه راشي نواعتبارپري کول پکاردي یانه؟

(جواب) په تارکې دهغې هیڅ علامت نه وي چه دچاتاردي بل داچه دیکې غلط اونورګډوډهم ډیرکېږي پدي وجه معتبرنه دي (تتمه ثالثه/ص ۸۰)

دخط دحکم تحقیق

سوال:(۱۳۷) دخطونوپه ذریعه سره دیوښاریاډیروښارونونه دیوکس یاډیروکسانو سپوږمي لیدوخبرراشي چه مونږه په ۲۹ تاریخ په خپله یاډیروکسانوسپوږمي لیدلي وه داخبره داعتبارقابله ده یانه ده اودعوامواودخاص قاضي صاحب په نوم خط کې څه فرق شته یانه؟

جواب: ف ردالمحتار والظاهرانه یلزم اهل القری الصوم بسماع المدافع اورؤیة القنادیل من المصر

لا نه علامة ظاهرة تفيدغلبة الظن حجة موجبة للعمل كماصرحوابه واحتمال كـــون ذالــك بغيررمضان بعيداذلا يفعل مثل ذالک عادة فی لیلة الشک الا ثبوت رمضان/ ج ۲ / ص ۱٤۰ / وفی الدرالمختار لا يعمل باالخط الا فی مسئلة كتاب الامان ويلحق به البرأات ودفتربياع وصـــراف سمساروجوزه محمدؒ لوداداقاضی وشاهدان يقن به قيل وبه يفتی واطال فی ذالک ردالمحتار ورجع العمل به اذاامن التزوير، ج٤ / ص ٥٤٦ - ٥٤٩ / ددي نه معلومه شوه چه دڅېبي مضمون حجت دي هغه خط سره هم حجت دي چه کله دخط پوره پېژند ګلواودهغي دواقع کېدو اطمینان وشي اوقاضي اوعوام برابر دي (تتمه ثالثه / صـــ ۸۰)

درمضان وغیره سپوږمي دلیدوپه باره کې دټیلفون حکم

سوال:(۱۳۸) (۱) څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرعي متین پدې مسئله کې چه داختر دسپوږمي دلید وخبردچامعتبرکس نه دټیلفون په ذریعه معلوم شي نودشریعت په نزد به هغه معتبر ګڼرلی کېږي یانه ؟ (۲) که درمضان سپوږمي هم په دغه طریقه سره معلومه کړیشي نومعتبرګڼرلی کېږي یانه ؟

(دواړوسوالونوجواب) اګرچه ددي دواړومیاشتوپه ګواهي کې په بعض حکمونوکې اختلاف یعني فرق هم دي خوداشرط پکې شریک دي چه ګواهي ورکوونکې انصاف عدل والا وي یامستورپه معني ددي چه وصف ئې معلوم نه وي اودلته خوهغه په خپله ذات هم معلوم نه دي غیرمعلوم الذات دي . پاتي شوه داخبره چه اول خوټیلفون کې اوازصفانه شي پېژندلي دویم داکه اوپېژندی شي بیاهم اوازنوکې تشابه (یوبل په شان) وي اوچه کوم شرط دي دمتحجب (پټ کړي شوي سړي) دتعین (چه دهغې دخبروپه وخت کې دوه معتبرکسان هغه ویني اوهغه ده ته ګوري چه داخبرو والا فلانکې سړي دي اودامحتاج الی التعین دي دی وخت کې دواړوته ګوري دادلته ممکن نه دي ددي وجه نه داګواهي دټیلفون په ذریعه رمضان یا[1] اخترکې معتبره نه ده . فی الدرالمختار، ج۲ / للصوم مع علة كغیم وغبارخبرعدل (او مستورعلی ماصححه البزازی علی خلا ف ظاهرالروایة لا فاسق اتفاقاً الخ (فیه جلد٤) ولا يشهدعلی محجب بسماعه منه الا اذاتبین القائل الی قوله مع شهاده إثنین بانها فلا

[1] که چرته آوازوغیره سره دخبروركوونكی امتیازكیږي اوهغه عادل هم وي نورمضان كې داخبر معتبردي البته په فطر كې په هرحال كې معتبرنه دي ۱۲ رشیداحمدعفی عنه

نة بنت فلان الخ . قرب ۱۳۳٦هـ (حوادث خامسه / صـــ ۱۱)

سوال:(۱۳۹) دیوښار مفتی یادیندارعالم ته دسپوږمي لیدوثبوت دشریعت موافق راغلي اوس دی، داخبردبل ښارمفتی یادیندارعالم ته دټیلفون په ذریعه وکړي چه دې کې داخبر ورکونکې اودچاته چه خبر کېږي دواړه دیوبل خبري ښې اوري اوپېژني اودخبروپه وخت کې دبل چا واسطه هم نشته اودا چاته چه خبر کېږي هغه ددي خبر په ریشتونوالی کې هیڅ قسم شک اوشبه نه کوي اوس دي خبر باندي عمل کول جائزدي یانه اوداسي شان مسئله کې بل قابل اعتبار ټیلیفون ته ضرورت پاتي کېږي یانه ؟

جواب:یوخبره خوخپله په هغه منلي شوي اوقبول کړي شوي طریقه کې ده دهغې سوال مقصودنه دي دویمه خبره دټیلیفون په واسطه کې ده اودغه دتپوس مقصود دي نودهغي جواب خوښکاره دي چه کوموحکمونوکې حجاب (پرده) دقبلولومانع ګرځي په هغې کې معتبر نه دي اوپه کوموکې چه دغه پرده مانع نه ګرزي په هغې کې که په مضبوط قرینوسره دخبري کوونکې معلومات اوشي نومعتبره ده. ۱۲محرم / ۱۳۲۸هـ (حوادث خامسه / صـ ۳۱)

حکم انتظارخبررؤیت درصورت عدم غیم

سوال:(۱٤۰) په ۲۹ شعبان سره ددي نه چه وریځ نه وه بیاهم سپوږمي اونه لیدي شوه پدې صورت کې انتظارکول چه که صباته دسپوږمي خبروشونودروژي نیت به وکړو، اوکه خبر ونه شونوروژي نیت به نه کو. ؤ داجائزدي یانه ؟

جواب: دبعضواقوالوپه بنیادکه مطلع صفانه وي نوهم انتظارمنقول دي خوزیات مناسب په عام حالتونوکې په دویم قول فتوی ورکول دي چه انتظاردي نه کوي. فی الدرالمختار ولا یصام یوم الشک هویوم الثلا ثین من شعبان وان لم یکن علة ای علی القول بعدم اعتبار اختلا ف المطالع لجواز تحقيق الرؤية فی بلدة اخری وامامقابلة فلیس بشک ولا یصام اصلاً الخ . فقط والله اعلم ۱۰ رمضان ۱۳۲۲هـ (امداد / ج۲ / ص ۱۷۴)

د پیشمني اخري وخت

سوال:(۱٤۱) په رمضان المبارک میاشت کې دشپې چه څومره حصه پاتي شي چه هغه وخت کې د پیشمني خوراک کول جائزدي ؟

جواب: دهیشت دقاعدومتعلق چه دنمر راختونه یوه نیمه گهنټه مخکې پوري[۱] پیشمني خوراک کولي شي اوفقهاؤ دیراحتیاط کریدي چه دنمرپریوتونه ترنمرراختوپوري چه خومره وخت دي هغه په اوه ۷ تقسیم کړي په شپږمه حصه کې خوراک دپیشمني خوړلي شي. ۱۲ذی الحجه ۱۳۲۲هـ (امداد /ص ۱۷۴ /ج ۱)

دفع استدلال برمضا نیت اوخوف شوال

سوال: (۱۴۲) تاسو کېدیشي داخترپه باره کې سوچ نه وي کړي دګل (دوشنبه) په شپه سپوږمي تندرونیولو یعني داتوار۱۳ تاریخ وه تودزیارت په ورځ (پنجشنبه) اختروشواو صحیح وشو کوموخلقو چه دشپږم په ورځ اختر کړي وه دهغوي حساب سره دسپوږمي تندر په پنځلسم تاریخ راځي چه هیڅ طریقي سره ممکن نه دي؟

جواب: فی شرح الجغمنی ص۹۰ واذابعدعن الشمس مقداراً قریبا من اثنی عشر جزء واقل منه بقلیل اواکثرکذالک علی اختلاف لا وضاع المساکن فان المسکن اذاکان مدارالقمرفیه اقرب الی انتصاب یکون رویة الهلال فیه اسرع بل الرویة تختلف فی مسکن واحد ایضاً بسبب قرب القمر وبعده عروضه وکونه فی اجزاء مختلفة من فلک البروج وغیر ذالک وایضاً فیه ص۹۲، والهلالا یختلف حدالقرب والبعدفی الخسوف باعتبارجهتی القعدة واختلاف البقاع کمایختلف فی الکسوف لان الخسوف امر عارض للقمرفی ذاته بخلاف الکسوف فانه امریعرض للشمس بالنسبة الی الا بصارالخ وفی الحاشیة للامام لا یختلف وجوداً وعدماً بحسب البقاع وان اختلف قدراً بسبب وقوع کله اوبعضه فی دائرة مخروط ظل الارض. په وړومبي عبارت کې تصریح ده چه دسپوږمي لیدل په اختلاف دځایونو سره مختلف کېږي. اودویم عبارت کې داتصریح ده چه کوم وخت سپوږمي په اختلاف دځایونوسره نه وي مختلف شوي اودتاریخ مدار خوپه لیدودي نودافرض کړه چه یوځاي کې ماښام اتوارپه شپه لیدلي شویده اوروښانه شویده دګل په شپه اوپه بعضی ځای کې لیدلي شویده دګل په شپه اوروښانه شویده دپنځم په شپه اوددي ممکن کېدل بره ذکرشول نوکه سپوږمي دګل په شپه تندرنیولي وي نوځامخادغه وخت به تولوځایونوکې شوي وي اوداخیره ښکاره ده چه

[۱] بعض موسموکې ددی نه زیات هم ګنجائش شته داحتیاط ولیکلی شو ۱۲منه

داشپه دروښانتیادګل دورځي والوپه حساب سره پنځلسمه وي اودغه روښانوالی دپنځم دورځي والوپه نزدځورلسمه وي نوثابته شوه چه دهیئت دقاعدي سره هم دسپوږمي تندرنیول په پنځلسم شپه کېدل ممکن دي نوپدي بنیادباندي دسپوږمي توریدل دځه تاریخ دمقررتیادلیل نه شي جوړیدي نودسپوږمي دتندرپه بنیاد باندي دشکې اودشبهې ځه ګنجانش نشته التبه داشبه کېدیشي چه بل ځاي کې دسپوږمي لیدل معتبر کېدل نه دي پکار خودیکې هم اختلاف دي بعض اماماتومجتهدینو دهر ځاي لیدل هغه ځاي دپاره معتبر کریدي ځنګه چه قیاس غواړي التبه زمونږ امام ابوحنیفه رحمه الله ددي اعتبار نه دي کړي خوداعتبار نفي کېدوسره دواقع کېدوانکار لا زم نه راځي پاتي داچه داولي ئي اعتبار نه دي کړي. بهر حال هغه دشرعي ددلیلونونه دشارع دغه غرض ګڼرلي د ي هغه دلیلونه دادي. صوموالرؤیة وافطروالرؤیة اونحن امة امیة لا تکتب ولا نحسب ونحوذالک .بهرحال دایوانتظامي اسانتیادپاره دټول هندوستان ګڼړي ئې په یوخاص وخت دغرمي په مطابق سره مقررکړیدي چه حساب وغیره کې دهغې اعتبار اولحاظ کېږي. والله اعلم ۲۲ ذی الحجه ۱۳۲۳هـ (امداد /ص۱۷۴ /ج۱)

تحقیق ومشوره تحصیل خبر رویت ازمقامات مختلفه وایصالش بمقام دیگر

سوال: (۱۴۳) په خدمت کې دجناب مولانا حافظ محمد اشرف علی صاحب ادام الله تعالی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ،کمیټي والو داخل دهندوستان مشهورو ښارونو اوکلوته نه چه کوم ددي ملک نه هرطرفته پراته دي لکه کلکته ، مدارس ،بمبي ،پیښور ، بنګلور، ګلولیار ، دهلي ، میرټه، سهارنپور، ډیره اسماعیل خان ، سرینګروغیره کې اوه شپیته خطونه اوتارونه دسپوږمي دلیدلوباره کې ولیږل ددي د پاره چه په ټولوځایونوکې د رمضان سپوږمي په یوه ورځ قرار ومومي په دي خبري باندي دعمل کولو باره کې سپوږمي دلیدلوپه موقع دیارلس تارونه اوولس خطونه درمضان دسپوږمي دلیدوباره کې دجمعي په ورځ اورسیدل صرف کلکته اوپیښور کې داسمان داحاطي دوجه سپوږمي ونه لیدلي شوه په ټول هندوستان کې دخالي ورځي دسپوږمي تصدیق وشو اوس ددي خبري معلومات کول غواړوچه که دکمیټي دطرفته داسې انتظام همیشه دپاره مقررکړیشي نوداځه لوي کاردي یانه اوصرف فتوی غوښتل په لا ندیني جواب پوري موقوف ده داخل حیدراباد اوسنده اوعلاقه مورد کې داتوار په ورځ روژه وه دغه شان دي علاقې والوته

خبرورکړي شویدي چه دیوي روژي قضابه راوړي دي دپاره گزارش دي چه لا ندیني فتوی جواب ۲۵ رمضان پورې راکړي چه که داختر په موقعي باندي ددي دجوازڅه صورت وي چه عمل پرې وکړي شي اونوروعلماؤپه خدمت کې هم ددي مضمون فتوی جداجدا لیږلي شویدي دجوابونوراسیدوسره به خوري هم کړلي شي. پولټیکل سیکرټري انجمن نعمانیه لاهور.

استفتاء داده -: لا ندیني مسئلي یعني لا ندیني حالا تومطابق دجناب په نزد په شریعت غراي محمدی علی صاحبها الصلوة والسلا م مفتی به جواب څه دي چه که داسي انتظام وکړیشي چه دسپوږمي لیدودپاره دهندوستان مختلف لوي لوي ځایونونه دلیدلوخبروتار برقي په ذریعه راغوښتل شي اوداسي برقي تارونه دمشرق نه مغرب ته شمال نه جنوب ته دهندوستان نه لس پنځلس یاشل حاصل کړیشي اودهغه زیاتوالي اوتواتراومختلفو اوهرقسم طرفونونه چه هغي په سرونومیله فاصله وي دوه څلورگهنټي پوشان ډیر زیات خبرونه رارسیدل ددینوي معمولي عقل مطابق هم د دروغو هغه نرې غوندي شک هم بالکل ختموي اوریشتونوالی هغه پوهواوعلم خودعام عقل مطابق کېږي خودشرعي قواعدومطابق داسي برقي تارونوپه خبرباندي سپوږمي لیدوقراري کېدیشي یانه په هردواړوحالتونوباندي چه مطلع صفاوي یانه اوداخبره دهم خیال کې وساتلي شي چه دا تارونه هغه خلقوته ورسي چه دهغوي سره دخط اوکتابت په ذریعه داخبره پخه شوي وي چه په فلا نکي تاریخ په فلا نکي وخت به دسپوږمي دلیدوپه بار کې خبردرلیږلي کېږي اوهغه داسي مسلمان وي چه هغه کلک اعتماد والاوي اومعتبرگواه وي ؟

جواب: داصورت کې داخبر متواتر شرعاً هم معتبردي برابره خبره ده که مطلع صفاوي اوکه نه وي خوکه بل ځاي ته داخبردخط یاتارپه ذریعه لیږي لکه څنګه چه ددي خط نه معلومیږي[1] نوهلته خوداخبرتواتر په ذریعه نه دي رسیدلي اوکومي طریقي سره چه رسیدلي دي هغه شرعاً حجت نه ده ددي وجه نه هغه خلقوپه حق کې داخبردعمل قابل نه دي وهذاکله ظاهر ۱۴۰ رمضان المبارک ۱۳۲۴ھ،

برلي جواب سره دلاندیني مضمون خط هم لیکلي شوي وه

مکرم بنده السلام علیکم دمسئلي جواب خو ولیکلي شو اوس خپله رائي ا ومشوري به

---

[1] یعني داسي اوچت ځاي کې ولاړي چه دوروسي مقام دافق نه دهغي بدل شو ۱۲ منه،

طورسره پیش کوم ددي قبلول یانه قبلول دخپلوارکانوپه قبلیدوکې ولړه هغه داده چه دروميي خوثابته شوه چه داخبربل ځاي کې دعمل قابل نه دي نوداسي صورت کې خوخبرکول بیکاره وي خوکه دنوروعلماؤ فتوی هم پدي دعمل دقابل کېدو راشي او دمجلس دعالمانوپه نزد دغه فتوی غوره هم وي بیاهم څوجوپه بنیاد داحکم انتظام مناسب نه معلومیږي وړمبي داچه بي ضرورته دمجلس والوباندي دومره خرچوبوج اچول که داپیسي په قیمتي کار کې خرچ کړیشي نوڅنګه به ښه وي دویم په داسي انتظام کې زماغوندي سړونیت هم خالص کېدل گران دي دمشهوروالی اودلوي والی هغه نرۍ غوندي اثر به ضروري اوزه تاسوته نه وایم دټولومنل هم گران دي نوپدي صورت کې په مسلمانانو کې ډیراختلاف اوجدائي پیداشي. څلورم کمیټي کې چه دارسم جاري شي نوبیاراتلونکي ارکانوکې ممکن نه بلکه غالبه ده چه په معلوماتو اودخبرپه رسولوکې دومره احتیاط ونه کړي اوددي جوړونکې به دهغي وخت هغه خلق وي والله اعلم. داخاتمه اوپوره معلومات مه گڼړي زموږ دمولا نا غلام احمد صاحب اونورد کمیټي عالمانواوارکانو په نزد چه کومه خبره فیصله کړي شوه نوهغه دمبارک وي برابره خبره ده که ددي موافق وي اوکه خلاف وي (امداد /ص ۱۷۲ /ج۱)

واجب نبودن تحقیق هلا ل ازدیگربلا د

سوال: (۱٤٤) په کوم ښارکې چه دوریځ دوړي دوجه نه دمطلع صفاوالی په صورت کې ۲۹ شعبان یارمضان ته سپوږمي په نظر رانشي نوایادوي مکلف دي چه کوشش وکړي اودنوروښارونونه خبرراوغواړي یانه ؟

جواب: هیڅ یوحکم ده دلیل نه بغیر نه ثابتیږي اوددي واجبیدوهم څه دلیل نشته لهذا داکار واجب نه دي (تتمه ثالثه/ ص ۷۹)

طریق موجب اعتبارخبرهلا ل

تتمه دمخکې سوال که مکلف وي نوهغه کومه ذریعه ده چه دهغي ذریعي په وجه سره خبرونه وغوښتلي شي اوهغه داعتبار قابل هم وي اوهر کله چه معتبر ذریعي سره دبل ښارنه خبراشي نوددي قاضي یامفتی ته ددي منل ضروري دي یانه که قاضي ونه مني یاومني خوعمل ونه کړي نوگنهگارشویانه ؟

جواب: ددي مکلف خونه دي خو که دبل خاي نه خبر راشي نودهغي معتبرکېدو دپاره دا شرط دي چه هغه به په مضبوط طريقي سره رارسيدلي وي اوهغه طريقه داده (۱) گواهي چه خپله ئي ليدلي وي (۲) گواهي کول دهغه چاپه گواهي چه هغه ليدلي وي (۳) دريمه گواهي کول په حکم دحاکم (۴) خلورم استفاضه چه داهم په حکم کې ده کذافی الدرالمختار قوله شهدوا انه شهد الی قوله مجتبی وغيره وفی ردالمحتار من قوله بطريق موجب الی قوله لا نه حکاية، ج۲ /ص۱۵۵ / اوهرکله چه دي ذريعوسره خبرراشي پدي باندي عمل واجب دي اومخالفت کول گناه ده که دچاپه اجتهاد کې داطريقه قابله داعتبار نه وي نوهغه معذوردي اوپه رمضان کې چه څنگه دسپوږمي په ليدوباندي ديوشهادت معتبردي دغه رنگ په دغه رنگ شهادت هم ديوشهادت معتبردي . فی الدرالمختاريقبل (الی فی رمضان) شهادت واحدعلی اخر الخ . ج۲ /ص ۱۴۲ /اودغه شان چه چرته حاکم نه وي اختر کې شمار خوضروري دي دگواهانو خولفظ دشهادت ضروري نه دي کذافی الدرالمختارايضاً ولوکانوابيلدة لا حاکم فيها صامرابقول ثقة وافطر واباخبارعدلين مع العلة . ج۲ /ص۱۴۲

دروژماتي وخت اوغرونمر په مينځ کې دحائل کېدوحکم

سوال: (۱۴۵) دماښام دمانځه اودروژه ماتي وخت صرف دنمر پريوتوسره کېږي ياڅه وخت وروستوچه کله غرچه شپږاوه ميله فاصله باندي دمغرب طرفته وي اونمر دهغي غر شاته شي نودماښام دمونځ اودروژه ماتي وخت کېږي يانه ؟

جواب: دماښام دلمونځ اودروژه ماتي وخت صرف دنمر پريوتوسره کېږي څه وخت وروستوکيدوضرورت نشته اگرچه دمغرب طرفته غردی خکه چه غروب (نمرپريوتو) دامعنی نه ده چه ديناکې دچرته نمرپه نظرنه راځي داسی خوممکن نه ده چرته نمرغورځيږي اوچرته راخيژي بلکه دنمرپريوتودامعنی ده چه زمونږ دافق (کناری) نه پناه شی اوپه مشرق کې تياره راښکاره شی هن که يوسړی په نمرولاړوي اونمروينی نوهغه ته روژه ماتوول جائز نه دي خکه چه دهغه دافق نه پناه شوي نه دي اوالمراد بالغروب زمان غيوبة جرم الشمس بحيث يظهرالظلمة فی جهة المشرق قال ﷺ اذااقبل الليل من هنافقدافطر الصائم ای اذاوجوت الظلمة حسافی جهة المشرق فقدظهروقت الفطر . شامی کلکتي ج۲ /صـ۸۰ / جمادی الاول ۱۳۰۳هـ

(امداد/ص ۱۷۸)

حاجيانوته دعرفی دروژي حکم

سوال: (۱۴۶) دعرفی په ورځ چه عرفه کې کوم حاجيان ولاړوي هغوي ته داروژه نيول جائزدي يانه د حديث نه ثابت ذي چه نبي ﷺ دعرفی په ورځ روژه نه ده نيولي کمافی الترمذی افطرالنبی ﷺ بعرفة وارسلت ام الفضل اليه بلبن فشربه. دغه رنګ ډيرحديث پدي دلالت کوي چه کوم حاجيان چه عرفه کې ولاړدي هغوي روژه نيول ښه نه دي يشقوی به الرجل علی الدعاء ، اوکوموعالمانوچه د دوي دپاره روژه جائزکړيده په هغي زمونږعمل دي ددي پوره معلومات وليکې ؟

جواب: دعرفی دورځي روژه دهغه حاجيانودپاره چه هلته ولاړي دي که ډيره دکمزوري نه وي نوبغيردکراهت نه مستحب ده اوکه دکمزوري ويره وي مکروه ده . فی الدرالمختار فی الصيام المستحبة وعرفة ولولحاج لم يضعفه الخ . قوله لم يضعفه صفته لحاج ای ان کان لا يضعفه عن الوقوف بعرفات ولا يخل باالدعوات محط فلواضعفه کره ردالمحتارج۲ / ص۸۳۰ / والله اعلم اقول وعليه يحمل افطار رسول ﷺ وتحريضه عليه مطلقاً ، ۲۰ ذی الحجه ورځ جمعه ۱۳۰۴هـ (امداد/ص۱۸۲/ ج۱)

چه چرته شپږمياشتي ورځ اوشپږمياشتي شپه وي هلته دروژي نيولوحکم

سوال: (۱۴۷) دجزيره لاپ ليند اوسيدونکې چه هلته شپږمياشتي ورځ اوشپږمياشتي شپه وي دوي به روژه کوم اعتبارسره نيسي که وايي چه دگهړي په اعتباراونيسي نوپدي داشبه کېديشي چه دحضرت ﷺ په زمانه بابرکت کې گهړي نه وه نوهغوي ولې ددي جزيري په باره کې څه حکم نه دي فرمائيلي نه فقه کې چرته شته يادتولي ورځي روژه اونيسي يانه ، بينوتوجروا؟

جواب: هلته نه څوک اوسيږي اونه څوک ژوندی پاتي کېدايشي ددي وجه نه څه سوال متوجه دي اونه جواب څه ضرورت شته. ۲۵ شوال ۱۳۲۸هـ (تتمه اولی / ۲۳)

په روژه ماتي اوپيشمني کې ددول حکم

سوال: (۱۴۸) که رمضان المبارک کې دپيشمني اوروژه ماتي دپاره صحيح وخت خودلو

دپاره په جامع جماعت کې دډول څه انتظام وکړیشي اودهغه په ذریعه تماموسلمانانوته خبرورکړيشي اوهغوي ته صحیح وخت وښائي چه غلطي نه بچ شي نوداشریعت په روسره جائزدي یانه بعض خلق دناقوس (بنکروهل) وغیره اودهندوانوعبادت سره مشابهت راتلو دوجه نه اودحضرت ﷺ اوصحابه ﷺ په زمانه کې دنه ثابتیدو دوجه نه بده ګڼري اوشریعت نه خلاف ګڼري جواب سره ده دلیل نه راکړي اوداسي تقریراوفرمائي چه هغي سره ټول شکونه ختم شي اګرچه دهري مسئلي دلیل پکارنه وي خودي مسئله کې ددي شبهاتودوجه نه ددلیل ضرورت پیداشویدي فقط ؟

جواب: پیشمني کې طنبل خوفقهاء جائزلیکلي دي دروژه ماتي اودپیشمني مصلحت خویوشان دي ددي وجه نه مابنام کې هم څه باک نشته خوچه دجومات فرش نه چه جداوي اوناقوس وغیره سره خوددي مشابهت څکه نشته چه هغه خلق په دي طریقي سره داعلان کولوخصوصیت ته خوعبادت وائي اودلته څوک هم داسي نه وائي اوپه خیرالقرون ددي شکل دنکاح دطنبل سره دي چه هغه کې هم مقصوداعلان دي دیولوي اطاعت دتحقیق اوددي نه هم مقصوداعلان ددي یووخت داطاعت دتحقیق بلکه که سوچ وکړي نوطنبل په خپل غرض کې دیته دومره محتاج نه دي څومره چه دعوامو په اعتبارسره داپه خپل غرض دیته محتاج دي اول رمضان ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی / ۲۲)

سوال: (۱۴۹) دپیشمني وخت کې روژه دارته خبرورکولواودخوب نه پاڅولو دپاره شپیلي وهل تلي وهل یاتوپه یاګولي پریخودل جائزدي یانه بعض خلق وائي چه دحضرت ﷺ په زمانه کې بانګ وئیل کېدو اوس بانګ وئیل جائزبلکه سنت دي اوددي خلاف بدعت دي پدیکي څه معلومات دي بینوتوجروا؟

جواب: دفقهاؤ دکلام نه خواجازت معلومیږي خوپدي شرط چه سازېکي نه وي اوبانګ کې التباس دي ددي وجه امت پریخودو. اوحضرت ﷺ دالتباس ختمیدوانتظام کړي وه دحضرت ﷺ نائب یعني خلیفه ته اوس هم اجازت شته څکه چه هم څه کوي نوانتظام به ئي کوي اونورخلق په داسي انتظام طاقت نه لري ددي وجه نه هرکس ته ددي اجازت نشته. ۱۳ شعبان ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه / ص ۱۹۳)

دکفاروروژوپاره دکفارونیتونوحکم

سوال: (۱۵۰) دکفاري په روژوکې به هري روژي بیل بیل نیت کوي یاصرف یوځل نیت دشپیتوروژودپاره کافی دي؟

جواب: هره ورځ جدانیت کول ضروري دي چه دفلانکي روژي کفاره. (تتمه ثانیه / ۲۲ شعبان ۱۳۳۹ھ)

وجوب صوم برائی هلال که شهادتش نه شنیده باشد

سوال: (۱۵۱) یوکس درمضان سپوږمي ولیده خوقاضي ونه منل دغه کس روژه نیولي وه اوماتي ئي کړه په ده کفاره لازم ده یانه؟

جواب: صرف قضالازم ده. فی الدرالمختار رأی مکلف هلال رمضان اوالفطر وردقوله بدلیل شرعی صام فان افطر قضی فقط الخ، ۱۴ رجب ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / ص ۵۶)

سوال: (۱۵۲) دسپوږمي کتلوپه ورځ دسپوږمي په ځاي کې وري وري دوریځوټکړي وي اونورټول اسمان صفاوي نولیدلوکې یعني رؤیت کې دوریځې حکم دي یابغیر دوریځې نه؟

جواب: دوریځې حکم دي، ۲ شعبان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / ص ۲۰)

مقدار جم غفیر

سوال: (۱۵۳) دلویې ډلي (جم غفیر) شمارتقریباً څومره دي؟

جواب: په هرځاي کې دابادۍ په کمي زیاتي باندي ددي په شمارکې هم فرق راځي حاصل دمشترک دادي چه زړه ګواهي ورکړي چه دومره سړي به غلط ویونکي وي ۲ شعبان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / ص ۲۱)

سوال: (۱۵۴) داختراودرمضان دسپوږمي دلیدوپه ګواهي باندي قاضي به دڅومره اندازي پوري کسان معتبردي چه مطلع ددوړي اووریځې نه صفاوي اودهغوي خبره اومنلی شي اودفقی کتابونوکې هم غفیر (ډیرګڼ) لیکلي دی. ددي نه څه مراد دي اوپدي کې دعالمانوڅه اقوال دي؟ اومفتی به خبره کومه یوه ده؟

جواب: مختلف اقوالوسره صحیح حدیث دادي. یقع العلم الشرعی وهوغلبة الظن بخبرهم وهومفوض الی رای الامام من غیر تقدیربعد وعلی المذهب کذافی الدالمختار، ج۲ /ص

۱۲۸، تتمه ثالثه / ص ۸۱)

بدی الحجی میاشت کې دایام بیض روژوحکم

سوال :(۱۵۵)څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرعي متین پدي مسئلې کې چه یوسړي دایام بیض روژې په ددیارلسم څوارلسم پنځلسم تاریخ باندي نیسي څواوس لوي اخترکې ۱۳ تاریخ باندي خوروژه نیول حرام ده توایام د۱۴-۱۵-۱۲ تاریخ ته ونیسي یاڅه وکړي مگردوه دایام بیض ورځی ۱۳ -۱۴-۱۵ فوت کېږي ؟

جواب : بدي میاشت کې دایام بیض روژې نه شي نیولې دبدل په طور که ۱۲باندي ونیسي یادذي نه پس ونیسي تول برابردي، ۲ذی الحجه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه/ ص۹۸)

حکم روزه یوم الشک وتردد نیت میان دو روزه دران یوم

سوال :(۱۵٦)نن دجولائي پنځویشتم دکال ۱۹۱۴ھ په مطابق دوړومبي روژه یا ۳۰ شعبان دخالي ورځ ده دجنتري په حساب سره نن وړومبي روژه ده خوپه ۲۹ شعبان په اسمان دومره سخته وریځ وه چه سپوږمي خوپریږده نمرهم په نظرنه راتلو اونه تراوسه دباهرنه څه خبرسپوږمي دلیدوراغلي دي پداسي حالت کې به روژه نیسي یانه اوکه څوک په داسي نیت ونیسي چه که سپوږمي ښکاره شوه نوفرض روژه به وي اوکه ښکاره نه شوه نونفل داجائزدي یانه مادانیت کړیدي چه دفرض روژوقضاراوړل دي که سپوږمي ددیرشوي نوبیاخونن ورځ روژه به قضاروژوکې شمارشي اوکه د۲۹ وي نوداروژه به رمضان شریف وړومبي روژه اداشي داصورت جائزدي یانه اوکه وروستوکلک خبرراغي چه میاشت د۲۹ ده نوبیادهغي روژې دقضاراوړوضرورت نشته ؟

جواب :عوامو ته دشک دورځي روژه نه ده نیول پکار .اوکه په سوال کې چه کوم دوه قسم نیت لیکلي شویدي دامکروه دي که چرې په دغه ورځ دمضان میاشت ثابته شوه نودواړو صورتونوکې به درمضان روژې وي دقضاضرورت نشته . فی الدرالمختاریصومه الخواص ویفطرغیرهم الی قوله ویصیرصائماً مع الکراهة لووردفی وصفهابان نوی ان کان من رمضان فعنه والا فعن واجب آخر واکذایکره لوقال اناصائم ان کان من رمضان والا فعن نفل مترددبین مکروهین اومکروه وغیره مکروه فان ظهررمضانیة فعنه والا نفل فیهمااى

الواجب والنفل الخ . ۳رمضان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/ ص ۱۵۸)

دحدیث من صام یوم الشک تحقیق

سوال :(۱۵۷)حدیث کې من صام یوم الشک فیه عصی اباالقاسم ﷺ ذکره البخاری تعلیقاً ووصله الخمسته وصححه ابن خزیمه وابن حبان کذافی بلوغ المرام والمصفی شرح الموطأ درمختاروالا لیکلي لا اصل له ،مگردصحیح مقابل کې تنقیدپه محدیثین باندي دفقهاء کرامو قول قابل داعتمادنه دي څکه چه تنقید دهرچاحق نه دي پدي باب کې دمحدیثین قول معتبردي لکل رجال مقوله مشهوره ده لهذا ستاسوپه تحقیق کې څه رنګ دي ؟

جواب : ف ردالمحتارعلی قول الدرالمختار فلا اصل له مانصه کذاقال الزیلعی ثم قال ویروی موقوفاً علی عماربن یاسروهوفی مثله کالمرفوع الخ. قلت وینبغی حمل نفی الا صلیة علی الرفع کماحمل بعضهم قول النووی فی حدیث صلوة النهارعجماء انه لا اصل له علی ان المرادلا اصل لرفعه والا فقدوردموقوفاً علی مجاهدوابی عبیده وکذا هذا اورده البخاری معلقاً بقوله وقال صلة عن عمارمن صام الخ . قال الفتح واخرجه اصحاب السنن الاربعة وغیرهم وصححه الترمذی عن صلة بن زفر، ج۲ /ص ۱۴۲ مصریه (تتمه ثانیه / ص ۱۷۴)

سوال :(۱۵۸) درمختاریوعبارت دکتاب الصوم نه دیوم الشک دروژې په باره کې لیکم دهغي په مطلب باندي نه پوهیږم . والتنفل فیه احب ای افضل اتفاقاً وان وافق صوماً یعتادو لا یصومه الخواص ویفطرغیرهم بعد الزول به یفتی نفیاً لتهمة النهی. آخري عبارت دکړښي دلا ندي چه دي هغي نه معلومیږي چه خواص چه چاته دیوم الشک دروژې دنیت کیفیت معلوم وي هغوي ته دشک دورځي روژه نیول جائزدي حالا نکه حدیث لا تقدموا رمضان بصوم یوم اویومین عام دي خواص دکوم ځاي نه مستثنی شول بیاهرکله چه خواصوته دروژې اجازت دي نوعوام به څه رنګ بچ کېږي دفقه په قاعدوچه نظروکړي نوعوام ته په امتحان کې دغورزیدو دویري نه خواصوله هم بچ کېدل پکاردي، ؟

جواب :عن ابي هریرة رضی الله عنه عن النبی ﷺ قال لا یتقدم من احدکم رمضان بصوم یوم اویومین الا ان یکون رجل کان یصوم صومه فلیصم ذالک رواه البخاری . ددي حدیث نه خودومره معلوم شول چه دبعضو عوراضودوجه نه بعض کسان دمخکې روژه نیولوسره مستثنی دي

توکه چرته بل دلیل سره نوربعض افراد هم مستثنی وي حدیث لا تقدموا رمضان بصوم یوم اویومین سره ټکراؤنه خوري اودشک دورځي روژه نیولو په باره کې بل دلیل موجوددي اوهغه دلیل ددي حضراتوخپل عمل دي . حضرت علی ﷺ حضرت عائشه ﷺ حضرت عمروابن عمر ﷺ حضرت انس بن مالک حضرت ﷺ اسماء ﷺ بنت ابی بکر ﷺ حضرت معاویه ﷺ حضرت عمروبن العاص ﷺ داصحابه کرام دي چه ددوي عمل حالایدرک بالقیاس کې مرفوع حکمي دي اومایدرک باالقیاس کې دلیل دي حدیث مرفوع دمؤول کېدو ،اوددي تابعینونه هم داعمل منقول دي حضرت مجاهد ﷺ، حضرت طاوس ﷺ، حضرت سالم ابوعبدالله ﷺ، حضرت میمون بن مهران ﷺ، حضرت مطرب بن الشخیر ﷺ، حضرت بکربن عبدالله المزنی ﷺ، حضرت ابوعثمان نهدي ﷺ، داټول نومونه په نیل الاوطارج ۴/ ص ۷۷ / کې شمارکړیدي نوحدیث لا تقدموا غیرصوم یوم الشک غیرصوم په عام عاداتوورځوباندي محمول دي داخودعالی نومونه نقل شویدي اواحقرعرض کوي چه که سوچ وکړي نوحدیث لا تقدموا الخ . دشک روژي سره هیڅ تعلق نشته ځکه چه دحدیث معنی داده چه درمضان نه مخکې روژه مه نیسي نوداخوښکاره ده چه هغه دغیررمضان روژه ده اوپه یوم الشک باندي دغیررمضان کېدوحکم نه شي کېدي کوم سري چه دیوم الشک روژه نیسي نوهغه په حیثیت سره درمضان دورځ کېدو روژه نیسي نه دغیررمضان تعظیم اواستقبال درمضان دپاره اواحتیاط کول په دیني کارونوکې په خپله به شریعت کې غوښتلي شویدي اومنصوصي دي ځوپوري چه څه فساد لازم رانشي اوپه خواصوکې دفساداحتمال نشته اوپه عواموکې شته پدي وجه شرعي قاعدوپه دواړوکې فرق وکړو پاتي داخبره چه پدي کاردخواصوسره خوعوام په امتحان کې غورزیږي نوددي خبري احتمال په هغه وخت کې دي چه عواموته ددي خبروي نوخواص ددي خبروعواموته ولي ورکوي بلکه که تپوس وکړي نوهم څه بهانه کولي شي یاانکارهم کولي شي اوداسي انکارکول مذموم نه دي،۲۹شعبان ۱۳۳۷هـ
(حوادث خامسه / ص۲۸)

حکم تعیین سال ویوم وغیره درقضائی صوم فرض

سوال:(۱۵۹)دبیماري په وجه څوکالوروژي زماقضاشوي وي په هغي کې سره دنفلي روژواوپه وروستووالي دوجه نه چه قضاشوي دي دټولوشماردري شپیته دي په هغي

څلوردیرش څله مااداکړي مګرد نیت کولوکې ددي خیال چري هم ذهن کې پیدانه شوچه فلانکې کال دروژونیت کوم اودوه څلوڅله خوداسي هم اتفاق وشوچه دشپې نه مې دروژي دنیولوڅه سپکه غوندي اراده وکړه خومشکل نیت بیادسحردنمرزوال نه مخکې به وکړو جنتي کالي کې دامسئله لیکلي ده چه دقضاروژونیت دشپې نه کول ضروري دي اوبل دکال خیال هم ضروري دي چه دفلانکې کال روژه قضاراوم مادکال خیال چري هم نه دي کړي اودوه څلورڅله صحیح شمارهم معلوم نه دي اومشکل نیت خوسحردنمردزوال نه مخکې چه کړیدي اوس غرض دادي چه داڅلوردیرش روژي چه مانیولي دي هغه صحیح دي یانه یادهغې دوباره ونیسم ؟

جواب: کومي روژي چه دورځې په نیت باندي نیولي شویدي هغه خوقضاکې شمارنه دي درمضان په قضاکې دشپې نه نیت کول شرط دي پاتي دایقین کول چه دفلانکې کال روژه نیسم پدي کې دوه قوله دي په جنتي کالی کې داحتیاط قول اخستي شویدي باقي ضرورت کې په دویم قول باندي هم عمل کولوګنجائش شته فی الدرالمختار ولونوی قضا رمضان ولم تعیین الیوم صح ولوعن رمضان نین کقضاء الصلوة صح ایضاً الی قوله وهورای التعیین المعتمد قال فی ردالمحتارقدعلمت ان الثانی مصحح وان کان الا حوط التعیین؛ ط/ج ۵ / ص۷۱۹ / پدي وجه داسي فرض قضاروژي چه هغي کې تعین نه دي شوي صحیح دي؛۴ربیع الاول ۱۳۳۳هـ ثالثه / ص ۲۱ ؛

دبانګ په اوریدوپیشمني پرېښودلوحکم

سوال:(۱۶۰)یوکس دخوب نه پاڅیدویدي خیال چه شپه لا پاتي ده پیشمني خوارک ئي شروع کړو چه ناڅاپه دبانګ اواز غوږته راغي هغه دبانګ اوریدوسره فوراً نوري دخولي نه وغورزوله اوخوله ئي صفاکړه اومابنام نمر پریوتوپوري ئي روژه پوره کړه نوایاددې داروژه صحیح ده اودقضاضرورت شته یانه ؟

جواب: داخبره خودیره لري ده چه صرف دصبا په راختوسره بانګ شروع شي عام طور سره بانګ دوئیلونه مخکې صباراخیژي نودده خوارک کول دصبادراختونه پس شویدي پدي وجه داروژه نه دي شوي التبه که بانګ دصبا دراختونه مخکې شوي دي نوبیاروژه صحیح ده،۸ رمضان ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه /ص ۷۳)

حکم عدم رویت هلال درتاریخ که اوراثلا ثین شمارکرده اند بوجه شهادت بلد دیگر

سوال:(۱٦۱)یوښارکي په ۲۹ شعبان دوریځې اووړي دوجه نه سپوږمي ونه لیدلی شوه دبل ښار ګواهي باندي اعتبارو کړي شی چه په ۲۹ شعبان سپوږمي په فلا نکي ځاي کي ماليدلي ده داخیره قاضي ومنله اوددي ګواهي په اعتبارسره په صبادیرشم تاریخ باندي سره ددي نه چه مطلع صفاهم وه اوسپوږمي په نظر رانغله نودي صورت کي چه دهغي ښار درؤیت په حساب سره ۲۹ دي اوددي ګواهي په حساب سره دیرشم تاریخ دي نواوس څه کول پکاردي اوکه چري هغه ګواه خاص دهغي ښار په ۲۹ شعبان باندي دسپوږمي لیدلو بیان وکړي اوفوراً حاضرنه دي نوپه دي صورت کي به څه فرق راځي یانه ؟

جواب: فی الدرالمختار ولوصاموالقول عدل حیث یجوزوغم هلا ل الفطر الخ ،وفی ردالمحتارعن المعراج عن المجتبی ان حل الفطرهنا(ای فیما اذاغم هلا ل الفطر) محل وفاق وانماالخلا ف فیما اذالم یغم ولم یرالهلال فعندهمالا یحل الفطروعندمحمد رحمه الله یحل کما قاله شمس الا ئمة الحلـــوانی وحرره الشرنبلا لی فی الا مداد قال فی غایة البیان وجه قول محمـــد رحمه الله وهـــوالا صـــح ان الفطرمااثبت بقول الواحدابتداء بل بناء وتبعاً فکم من شي یثبت ضمناولا یثبت قصداً الخ ،ج ۲ / ص ۱۵۱ / ددي نه معلومه شوه چه دي صورت کي اختلاف دي خودعلامه شامي رحجان دامام محمد رحمه الله په طرف دي چه داصحیح اوغوره دي چه که مطلع صفاهم نه وي بیاهم اخترکول پکاردي خوکه چرته دعوامودګډوډکېدوویره وي نودشخین په قول فتوی ورکول مناسب دي بلکه ددي ګواه ته تنبیه هم ورکول پکاردي ردالمحتار قال فی الدررویعذروذالک الشاهدای لظهورکذبه ،ج۲/ص۱۵۱/اوکوم ګواه چه خپله ښارکي موجود وه اودغه وخت حاضرنه شواومیاشت پس راشي اوبیان وکړي نوپه هغه به اعتبارنه کېږي ځکه چه ده واجب پریخودل پدي وجه دي عادل (انصافدار) پاتي نه شو اوداسي سړي ګواهي دقبلیدو پاتي نه شوه فی الدرالمختار وهل له ای للفاسق ان یشهدالی قوله ویجب علی الجاریة المخدرة ان تخرج ،ج ۲ /ص ۱۴۵-۱۴/البته که ددي موقوف کېدوڅه عذر چه کوم په شریعت کي منلي کېږي بیان کړي نوبیابه ئي ګواهي قبلولي شي کمافی ردالمحتار صفحه مذکوروقول الشارح وهل له یفید عدم الوجب بناء علی عدم علمه

بالاعتقاد القاضی الخ ،وفی ردالمحتاروعلیه تفرع مالوشهدوفی اخررمضان برؤیة هلا ل صومهم بیوم ان کانوافی المصرردت لترکهم الحسبة وان جاورمن خارج قبلت من الفتح ملخصاً ج۲/ ص ۱۴۵ / تتمه ثالثه / ص۸۰ ،

بیان اشتراط عدالت ومعنی ان درشهادت رؤیت هلال رمضان وعید

سوال:(۱٦۲)درمضان اوخترمیاشت لیدوپاره په ګواهانوکي دعدل ضرورت شته یانه اودعدل تعریف څه دي یعنی دمیاشت دلیدوپه باره کي دفاسق فاجریامستوالحال ګواهي معتبرده یانه ؟

جواب:فی الدرالمختارللصوم مع علة کغیم وغبارخبرعدل اومستورعلی ماصححه البزازی علـــی خلا ف ظاهرالروایة لا فاسق اتفاقاً الی قوله وشرط للفطرمع العلة والعدالة نصاب الشهادة الخ . وفی ردالمحتارالعدالة ملکة تحمل علی ملازمة التقـــوی والمـــروة والـــشرط ادناهـــاوهوترک الکبائروالا صرارعلی الصغائرومایخل بالمروة ج ۲ /ص۱۴۵ / دا شرط دیوکس په خبرکي دي اولویه جمعه چه تواترته رسي هغي کي شرط نه دي (تتمه ثالثه /ص۸۲)

تحقیق په اعتباراختلاف دمطالع کي اوپدي باب کي دابن عباس رضی الله عنه دحدیث مراد

سوال:(۱٦۳)دسپوږمي لیدوباره کي دځومره لري ځاي نه خبرديوښارنه په بل کي منلي کېدیشي پدیکي څه عالمانواختلا ف شته یانه اوپه مذهب حنفي کي پدي خبره کي مفتی به قول کوم یودي؟

جواب: فی الدرالمختارواختلا ف المطالع غیرمعتبرعلی ظاهرالمذهب وعلیه اکثرالمشائخ وعلیـــه الفتویٰ بحرعن الخلاصه فیلزم اهل المشرق اهل المغرب اذاثبت عندهم رؤیة اولیـــک بطریـــق موجب الی قوله قال الکمال الا خذبظاهرالروایة احوط ج۲ص۱۵٤-۱۵ ددي نه معلومه شوه چه مفتی به قول دادي چه اختلا ف دمطالع معتبرنه دي! ۲۵ رمضان ۱۳۳۳هـ (وتتمه ثالثه / ص ۸۲)

سوال:(۱٦٤) څه فرمائي علماء ددین په دي مسئله کي چه دمدرسه اشرفیه راندیر یوطالب علم دسپوږمي دلیدوګواهي دلري ځاي نه دلوي اخترنه مخکي نه نامنظوکړي اودخپل ذهن موافق دلیل دشامي داعبارت چه لاندي لیکلي کېږي پیش کوي یاشریعت موافق دي یانه دي

يفهم من كلامهم فی كتاب الحج ان اختلا ف المطالع معتبر فلا يلزم شي لو ظهرانه رئ فی بلدة اخرى بيوم وهل يقال كذالک فی حق الا ضحية بغير الحاج لم اراه والظاهرنعم الخ مختصراً ؟

جواب: قياس خو داغواړي چه اختلاف دمطالع دمعتبر شي خواحنافوپدي قول دنبي ﷺ باندي لا نكتب ولا نحسب الحديث ددي اعتبار نه دي كړي چه حرج اورعايت دقواعد دهئيت سره نه وي نو اوس ددي حديث په بنياد چه اختلا ف دمطالع دبالكل معتبر نه شي نه دعبارت دواقع كېدونه مخكښ اونه وروستو بلكه دهرځاي ليدل دده هرځاي دپاره پوره شي دواقع كېدونه مخكښ خوهيڅ ځاي هم اعتبار نه دي شوي هن بعض ځايونو(۱)كښ لكه بعض صورتونو دحج كښ ددي اعتبار كول په ظاهره سره معلوميږي خو كمزوري خيال كښ دا اعتبار داختلا ف مطالع نه دي لا طلاق الحديث بلكه پدي حديث باند عمل دي الصوم يوم تصومون والفطر يوم تفطرون والا ضحى يوم تضحون الحديث او كماقال ، ددي وجه نه صاد هدايه دحج په مسئله كښ داحديث دليل كښ نيولي دي حيث قال وفی الامر بالاعادة حرج ، اوعلا مه شامي خودنه قبلولو دګواهي بنياد په اعتبار داختلا ف مطالع ګرځولي دي خو داصراحتاً هيڅا هم نه دي نقل كړي بلكه يفهم من كلامهم ئي وئيلي دي چه دهغې معنى داده چه دهغه دكلام نه دا اعتبار راوځي نو داحنافو په نزد په ټولو ځايونو كښ اصل اختلا ف مطالع ته اعتبار نه وركول دي دا دليل وګرځيدو!

كماهو ظاهر من اطلا قاتهم ، او استنباط دعلا مه شامي دقرباني په مسئله كښ پدي بنياد دي چه هغه دحج په بعض مسئلو كښ دګواهي دنه قبلولو بنياد په اعتبار داختلا ف مطالع نيولي دي حالا نكه كه سوچ وكړي نو دا كار صحيح نه دي بلكه دګواهي دي نه قبلولو بنياد په هغه حرج باندي دي نو هر كله چه بنياد صحيح نه دي نو چه كوم شي دبنياد دي هغه به څنګه صحيح شي خصوصاً چه كتابونه هم دمذهب خلا ف وي نو په دي صورت كښ چه تپوس كړي شويدي پديكښ ګواهي نه قبلول صحيح نه دي ، والله اعلم ۲ ربيع الثاني پنجشنبه / ۱۳۰۵ هـ / امداد / ص ۱۸۲ / ج ۲ ،

سوال: (۱۶۵) حديث دابن عباس چه ترمذي اوبخاري روايت كړيدي ايا فقهاء ددي نه صرف اختلا ف دمطالع استنباط كړيدي پدي حديث كښ دحضرت ﷺ الفاظ نه دي نقل

---

(۱) تفير تصحيح الاغلاط ص ۳۲ ځخه كړي

شوي صرف ابن عباس دكُريب رحمه الله شهادت نه وه قبول كړي چه دشام نه ئي مديني منوري ته راوړي وه . نو دا استدلال كېديشي چه داختلا ف مطالع په وجه ئي قبول نه كړويادي، بوازي وه دهغې دوجه نه دا ګواهي قبوله شوه اوس كوم فقهاء چه اختلا ف دمطالع معتبر نه ګڼړي (كه چه په درمختار اوعالمګيري كښ ليكلي شويدي) نوهغوي پدي حديث عمل دڅه وجه نه ونه كړو ،پدي حديث باندي به رنړا واچوي ؟

جواب: څوک چه اختلا ف دمطالع معتبر ګڼړي هغوي پدي حديث دليل نيولي دي او حديث ددي محتمل هم دي خو چه څوک اختلا ف دمطالع معتبر نه ګڼړي هغوي ددي نه داجواب وركوي كوم چه امام نووی رحمه الله ددي حديث دلا ندي دبعض شوافعو نه نقل كړيدي وقال بعض اصحابنا تعم الروية فی موضع جميع اهل الا رض فعلى هذا نقول انما لم يعمل ابن عباس بخبر كريب لا نه شهادة فلا تثبت بواحد . او حديث ددي احتمال هم لري فاذاجاء الا حتمال بطل الا ستدلا ل دغه رنګ هكذا امرنا رسول ﷺ كښ هم دوه احتماله ده په داسي حالت دامام نووي رحمه الله ددي نه پس داووئيل چه لكن ظاهر حديث الخ . په مقابل باندي حجت نه شي كيدي . ۱۴ ذی الحجه ۱۳۳۴ هـ (تتمه خامسه / ص ۳۷۵)

معتبر بودن رؤيت هلا ل از دوربين يا در دريا يا ائينه وغيره

سوال: (۱۶۶) شخصى در دوربين ماه هلا ل عيد الفطر امسال بتاريخ بست ونهم ديده است ايا اين رؤيت هلا ل صحيح باشد يا نه ؟

جواب: دوربين محض اله تحديد بصر است ورؤيت بيصر واقع است پس حكمش مثل عينک باشد وبرين ديدن رويت كه مدار وجواب احكام است صادق است پس لا محاله صحيح ومعتبر ومناط احكام باشد البته اګر بدلا ئل فن اين امر به ثبوت پيوندد كه خاصيت ان دوربين چنين است كه هلا ل باوجود تحت افق بودن بواسطه ان بنظر مى ايد حتى كه شمس هم باوجود عدم طلوع از افق دران طالع مى نمايد ارى صحيح ومعتبر نباشد ۱۹ ذى قعده ۱۳۳۳ هـ (تتمه ثالثه / ۱۲۰)

سوال: (۱۶۷) دلا ندي ني سوالونو جوابونه دفقهي اوحديث په رڼا سره وليكي (۱) په ۲۹ تاريخ دويم كس چه دهغه نظر كم وه په سفر روان وه دمابنام په وخت كښ په ځنګل كښ چشمو سره يا په دوربين سره دواړه اختر مياشت وليدله چشمو يا دوربين نه بغير نه شي

لیدلي اوددي دواړونه علاوه بل چاسپوږمي لږنه ده لیدلي په داسي حال کې به دادواړه بله ورځ روژه نیسي که نه اخترلمونځ به کوي اوچاچه نه ده لیدلي دهغوي څه حکم دي (۲) دوه کسه په دریاب کې روان دي ۲۹ رمضان باندي په اوبو کې دواړوته دسپوږمي عکس بالکل صفاپه نظراغي خواسمان ته کتلوباندي سپوږمي نه معلومیږي یادنظردکمزوري دوجه نه یادبل څه دوجه نه اوددي دواړوکسانونه علاوه بل څوک دسپوږمي لیدوبیان نه کوي داسي وخت کې دي دواړدپاره اونوروخلقوته څه حکم دي (۳) دوکسان په یوځای کې دي ۲۹ رمضان باندي دوړاوته په آئینه کې صفاسپوږمي ښکاره شوه خواسمان ته دواړه نه شي کتلي په داسي حالت کې هغوي څه وکړي ؟

جواب: دوربین یاخوردبین سره دکتلوڅه جداحکم نه دي بغیردآلې دلیدلوچه کوم احکام دي هغه ددي هم دي که په کناره داسمان باندي وریځ یادهن وغیره وي نوددوي لیدل یادنوروپاره کافي دي تول دعمل وکړي خوپه شرط دي چه څه مانع نه وي اوکه څه وریځ دوړه نه وي نو نورچاته هم عمل جائزنه دي اودوي ته هم جائزنه دي بلکه روژه داونیسي (۲) دریاب ته هم دچشمي وغیره په شان دلیدوپوآله دي ووئیلي شي ددي حکم هم په شان دهغي جواب دسوال نمبراول دي (۳) دیته دي هم په شان د دریاب یوآله دلیدو اووایه اوپه دي کې هم هغه تفصیل دي کوم چه وړومبي سوال جواب کې دي تیرشو ۱۸ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه / ص ۲۲)

دیوکس په ګواهي دسپوږمي دلیدلوفیصله کولوحکم

سوال: (۱۶۸) په یوځای کې دقاضي دحکم تصدیق دپاره دبل ځای صرف دیوسړي ګواهي ضرورت به وي که ددوؤسړواوپدي کې عدالت شرط دي یانه مثلا زیددشوال دسپوږمي لیدوباره کې ګواهي واخسته اوخپل ښار آله اباد کې ئي دکوژي حکم وکړو اوس بکرچه اله آباد کې پاتي کېدوهغه کانپورښارته ددي خبروي، وروچه فلا نکې ښار کې زیدباقاعده ګواهي راوړیده اودکوژي حکم یې کړیدي اوس تاسوهم کوژي کړي پدي صورت کې اګرچه داخبره مسلم ده چه دقاضي حکم حجت شرعي دي دبل ښاردپاره هم مګرچه حکم باندي اثبات وي اوس ددي خبري تپوس کول غواړوچه صرف دبکر ګواهي دزیددحکم ثابتولودپاره کانپورروالوته پوره ده یانه دبل کس دګواهي ضرورت شته اوکه زیدپه خپله

کانپورته دګواهي اخستوخبروړکړي نوکانپورروالوته کوژي کول جائزدي یانه اوچاچه صرف دبکرپه ګواهي کانپورکې کوژي کړي دهغوي څه حکم دي ؟

جواب: فی الدرالمختارفی احکام هلال رمضان وتقبل شهادة واحدعلی اخر کعبدوانثی ولـوعلی مثلهماالخ . وفی ردالمحتار بخلاف الشهاة علی الشهادة فی سائرالا حکام حیـث لا تقبـل مـالم یشهدعلی شهادة کل رجل رجلان اورجل وامراتان وفی الدرالمختار احکام هلا ل الفطـر وشـرط للفطرمع العلة والعدلة نصاب الشهادة ولفظ اشهدوعدم الحدفی القذف تعلق نفع العبدلکن لانـشرط الدعوی الی قوله ولوکانوابلدة لا حاکم فیهماصاموا بقول ثقة وافطرط بااخبارعـدلین مـع العلـة للضرورة، ددي روایتونونه معلومه شوه چه دبکرګواهي په باره دلیدلودسپوږمي درمضان کې معتبره ده لان الشهادة علی القضاء کالشهادة علـی الـشهادة لکونهمـاموجبین. دغه رنګ دزیدقول هم معتبردي لا نه شهادةعلی الشهادة، اوداختر دمیاشت په لیدوکې شمیرشرط دي .کا الا صل وان سقط لفظ الشهادة فی سائرالا حکام هلا ل رمضان . اوداهم ددي روایتونونه معلومه شوه چه عدالت په هرحال کې شرط دي ۱۷ شوال ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۹۲)

عدم اعتبار حکایت رؤیت بلا طریق موجب

سوال: (۱۶۹) دلته زمایوګاونډي نائب تحصلیداردبصري دحکومت په حکم سره بغدادته تللي وه اوس هغه چهټي واخسته نو ۲۰ جون باندي دبغدادنه دجلی کې په کښتي کې راروان شو نورمضان المبارک سپوږمي دشپږم په ورځ یعني دزیارت په شپه هغه اودهغه تولو ملګروولیده اودزیارت په ورځ یې روژه ونیوه. اوس داتپوس کول غواړوچه دهغي سپوږمي لیدل ددي ځاي خلقودپاره منل پکاردي یانه اوپاتي شوه داخبره چه دهغوي ګواهي دشریعت په نظرمعتبرده یانه دي کې بحث نه دي که نورداسي خبراوریږي چه هغه قابل داعتباروي اوپه هغه عمل وکړیشي پدي باندي مونږته خبرداري وفرمایي ؟

جواب: دلته هم یوخبردبجنورنه راغلي دي بابومردان علی صاحب لیکلي دي چه دشپږم په ورځ دلته سپوږمي نه ده لیدلي شوي مګردزیارت په ورځ صباني جهان ابادنه دسپوږمي لیدلومعتبرګواه راغي مونږهم روژه ونیوله انتهی. داووه خبره شول قاعده کلیه پدي باب کې داده چه دداسي خبردمعتبرکېدودپاره شرط دادي چه هغه په طریقه موجب سره

راورسي او طريقه موجب داده (۱) چه خپله يې ليدل وي او ګواهي وکړي (۲) بل څوک ويني نو دهغه په عقد ګواهي وکړي (۳) په حکم ګواهي کول (۴) استفاضه چه داهم په حکم دحکم دحاکم کې ده. او صرف حکايت نقل کول معتبر نه دي (زوال السنه / ص ۱۵) دغه رنګ ديوکس دخبر معتبر کېدو دپاره علت يعني وريخ شرط ده دغه رنګ دليدونکي ثقه والی شرط دي يعني چه عدل او صدق پکې وي. کذافی کتب الفقه نو ددجلی په خبرکې په اسمان کې څه علت ثابت نه دي او ګواهي ورکوونکي يو صاحب دي او دنورو خلقو دليدلو روايت صرف يو حکايت دي چه معتبر نه دي او که داصاحب ثقه (ريشتونی عادل) هم نه دي نو بيا خو بل امر هم منع کوونکي دي او دجهان اباد دخبر هم مونږ ته په طريقه موجب نه دي رارسيدلی لهذا دواړه خبرونه حجت نه دي (اشرف علی ۲۷ رمضان المبارک ۱۳۳۵هـ (تتمه خامسه / ص ۳۳)

عدم اعتبار قول اهل هئيت درافطار وصوم

سوال :(۱۷۰) علماء دين او مفتيان شرعي متين پدې مسئله کې څه ليکي چه همدم اخبار لکنهو په تاريخ لسم جولا ئي ۱۹۱۷هـ کال کې يو مضمون چهاپ شويدي چه لفظ په لفظ لا ندې ليکلی کېږي پدې باندې عمل درامد کولو په شريعت کې څه حکم دي او پدې عمل وغيره پکاردي يا نه او ددغه خبر و منل جائزدي يا نه ؟

دروژې اولمانځه وختونه

(۱) همدم اخبار ۲۱ جون ۱۹۱۷ کال وګوره (چه هغې کې دوختونو متعلق يو مضمون وه چه دهغې دې مسئلې سره څه تعلق نشته) (۲) مسلمانان که علم هئيت زده کړي نو هغوې ته به پته ولګي چه الشمس والقمر بحسبان (څومره پوره تصديق کېږي قران شريف سوره رحمن ايت ۵) (۳) اسمانونه زمکې او سپوږمې داګې په شکل کې دي پدې چه کوم حساب راځي دراختو او پريوتو دلمر نو هغه مخروطي (اوګد) شکل کې لا زم راځي نو په اوږدو شکلونو او اګې په شان شکلونو کې فرق وي په هند کې دوخت معيار دشمس وسطی په لحاظ سره کېږي پدې وجه چه دراختو او پريوتو يو ځاې کې راوستل وي نو چه کوم فرق په شمس وسطی يعني بالکل دغرمې وخت ، او شمس وافقی (يعني دراختو او پريوتو وخت دلمر) کې دي هغه ختمول لا زم دي پدې وجه يو دوه منټه کې زياتي بغير د تسلسل نه راځي

(۴) شپه او ورځ هميشه دخليرېشتو ګهنټو دي چه کله نمر راختو او پريوتو کې کمي او زياتي اوشي بيا هم په خليرېشتو ګهنټو کې فرق نه راځي (۵) زيارت په ورځ پنځم جولا ئی ۱۹۱۷هـ په ۳:۹ بجې باندې دماسپخين نه مخکې سپوږمې تندرنيولې په دغه وخت دسپوږمې عمر څوارلس وورځونه زيات وه او په دغه ورځ په پنځلسم روژه ۱۳۳۵هـ کې هيڅ شبه نه شي کېدي (۲) رمضان المبارک بغير دليدو دسپوږمې نه نه شي فرض کېدي خود دريو ورځو سپوږمې يادڅوارلسمې سپوږمې سره څه شبه نه پاتې کېږي چه دجمعه په ورځ ۲۰ جولا ئي ۱۹۱۷ کال باندې ديرشم روژه ده په دغه ورځ که مطلع (سپوږمې دراختو ځاې) صفا نه وي نو دليدلو څه حاجت نشته دعلم هئيت په لحاظ دخالي په ورځ ۲۱ جولا ئي ۱۹۱۷ کال باندې دشوال مياشت په تاريخ ۱۳۳۵هـ کې ليدل لا زم راځي او په دغه ورځ روژه نيول بغير دشبه نه حرام دي

جواب :اول خو درياضي پدې مقرمقدمو کې بعضو کې شک کړې شوي دي دويم ددې نه قطع نظر په شرکت کې ددې بالکل اعتبار هم نه دي شوي حديث نحن امة امية لا نکتب ولا نحسب الشهر هکذا وهکذا. ددې صفا نفي کوي يعني ددې داعتبار کېدونه که نظر کټ کړې هم ددې واقع کېدونه او هر قانون ته دا اختيار دي چه دڅه امر واقع کېدونه باوجود هم پدې باندې به خپل حکمونه نه مبني کوي لکه څنګه چه دعدالت متعلق قانون چه حاکم په خپل ليدونکي علم باندې بغير دانتظام دګواهي نه شي کولی ددې دا معني نه ده چه دحاکم دخپل ليدونکي نفي او شوي بلکه معنی داده چه باوجود دواقع کېدونه پدې باندې دحکم بنياد کېښودل جائز نه دي دغه رنګ دلته هم پوه شه چه پدې قانون دشريعت باندې دخلاف عقل کېدو الزام نه شي لګيدې چه دا قانون دشريعت دعقل نه خلاف دي دا الزام نه شي لګولی او ددې راز هغه دي چه طرفته په دې مخکې حديث کې اشاره کړې شويده يعني دشريعت په اسانو قاعدو باندې مبني کېږي نه چه په باريکو او دقيقو قاعدو باندې دريم دا چه په شپږم نمبر کې دا ا و منې چه روژه نه ده فرض شوې نو دخالي په ورځ دشوال مياشت ليدل يقيني ګنړل دهغې منافي دي څکه چه که او منې چه دجمعې په ورځ ديرش روژې دي نو دا خولا زمه ده چه سپوږمې دزيارت په ورځ راختلي ده اګرچه دهغې ښکاره کېدل دروژې دواړه جمع شول او دا جمع څومحال ده مستلزم دي پدې کې دروژې فرض کېدو ته نو لازم راغلل فرض کېدل او نه فرض کېدل

دروژي دواړه جمع شول اوداجمع خومحال ده مستلزم حال ته محال وي نودافتوی ورکول چه دخالي په ورځ روژه نیول حرام دي داخبره باطله ده ځکه چه داپه هغه مقدماتوبناده چه هغه محال دي حاصل داچه داخیال بالکل غلط دي اوپدي باندي عمل کول بالکل حرام دي داخانسته طریقي سره خواره کړي . کتبه اشرف علی ۲۵ رمضان المبارک / ۳۵هـ رتتمه خامسه / ص ۳۲.

عدم اعتبارحساب جنتري درافطاروصوم

سوال :(۱۷۱)دجنتري په حساب سره ددي خودي میاشت راختل منلي شویدي خومیاشت نه ده لیدلي شوي پدي حساب سره دشوال ۲۹ ورځي جوړيږي اوس دذی الحجی رومبي تاریخ شروع شویدي اوس شبه داراځي چه دذی قعدي میاشت لیدلي شوي نه ده دجنتري په حساب سره شوال ۲۹ ورځي حساب شویدي اوس که هغه هم د ۳۰ ورځواومني نوبیاخو ورمبي تاریخ دجمع نه پکاردي ځکه چه دذی قعدی میاشت خوهم نه ده لیدلي شوي اوس تاسو اوفرمائي چه دذی الحجه ورومبي تاریخ کېښودو دپاره دشوال ۳۰ ورځ پوره منل راځي یادجنتري په حساب سره چه ئي ۲۹ ورځ منلي وي دغه به ګڼرلي کېږي بل داچه که خومیاشتوپوري دوریځ دوري دوجه نه مثلا که دشپږومیاشتوپوري سپوږمي ونه لیدي شوه نوبیاپه داټولي میاشتي د دیرشوورځوګڼرل پکاروي یانه که داسي عمل وشي نوبیاخوداخطره ده چه دقمري کال ۳۵۵ ورځي دي پدي کې به ضرور زیاتي کېږي اوکه ټولي میاشتي ددیرشو ورځونه مني نوداشبه ده چه کله سپوږمي ونه لیدي شوه نوبیاددیرشوورځي ولي نه مني ؟

جواب :په شریعت کې خویادسپوږمي لیدل حجت دي یاګواهي کول په لیدوباندي یاداچه دیرش ورځي پوره شي که درومبي دوه خبري ونه شوي نودریمه خومقرر ده اوکومه خواه چه ئي لیکلي ده داپه هغه وخت صحیح وه چه شریعت داقاعده منلي چه قمري کال ۳۵۵نه نه زیاتیږي ددي لازم دباطل کېدودپاره څه دلیل دي . ۱۱ذی الحجه ۱۳۳۷هـ رتتمه خامسه / ص ۱۰۳.

افطاردرغره رمضان وصوم غره شوال بعدم رویت

سوال :(۱۷۲)مشرقي بنګال کې زیات خلقو دپنځم په ورځ روژه نیولي ده اودزیات به ورځ

ني اخترکړي وه اوس مونږ خلقوچه دګل په ورځ روژه ونه نیوه اودشپږم په ورځ اخترونه کړه دغه روژه مونږ ونه نیوه پدي کې مونږټول ګنهګارشویانه ؟

جواب :که دګل دورځي (دوشنبه) خبرمعتبرطریقي سره راغلي وي نویوه روژه به قضاءاوري اوکه نه وه اودشپږم په ورځ ئي هم روژه نه وه نوګنهګاردي او ګل دورځي دروژي حساب به پري نه وي . ۹ ذی قعده ۱۳۳۶هـ رتتمه خامسه / ص ۱۷۱.

صرف دمحرم دلسمي ورځي روژي نیولوحکم اوتحقیق

سوال :(۱۷۳)بنده تراوسه دافتوی ورکوله چه دلسم محرم صرف یوه روژه نیول بغیر دکراهت نه جائزده خودرمختاروغیره کې دهغي خلاف یوه جزئیه راوته پدي وجه مارجوع وکړه اوس ددي جزئي موافق فتوی ورکوم چه یوازي په لسم محرم روژه نیول مکروه ده . دي سره نهمه روژه نیولوسره داکراهت ختمیږي دغه رنګ که لسمي روژي سره یوولسمه هم ونیسي نوهم کراهت نه راځي خوورومبي صورت غوره دي چه دنهم محرم روژه ورسره ونیسي هغه جزئیه ده . المکروه تحریماً کالعدین وتنزیهاکعاشورا وحده وفی ردالمحتار قوله وعاشوراوحده ای مفرداً عن التاسع اوعن الحادی عشرامداد لا نه تشبه بالیهودمحیط ص۱۳۴ /ج۲ / فقط رترجیح الراجع / ص۸۰ /ج ۲.

سوال :(۱۷٤) ضروری تپوس داکول چه احقردبهشتي زیور په دریمه حصه کې دنفل روژي په بیان کې ولیدل چه دمحرم په لسم تاریخ روژه نیول مستحب ده احقرپه لسم تاریخ صرف یوه روژه ونیوله . اوس بعضي خلق اعتراض کوي چه دنهم اولسم دواړه پکارده یوه روژه کې اختلاف سره ارشاد وفرمائي ؟

جواب :واقعي دوه روژي نیول پکاردي دبهشتي زیورلیکلووخت کې ددي پوره تحقیق نه وه شوي خوکه نهمه روژه ونه نیسي نویوولسمه دي ورسره ونیسي . ۱۳۴۳هـ رترجیح ۵۰ / ص۱۵۲.

رساله کلمة القوم فی حکمة الصوم

سوال :(۱۷۵)تمهید یوصاحب دخپل خط سره دیومولوي صاحب مضمون دخودلودپاره راولیږلودهغي متعلق دلته یو تحقیق لیکلي شویدي لا ندي دواړه نقل کولي شي مضمون :-درمضان دروژي متعلق یوډیرضروري اصلاح طرفته تاسو متوجه کول غواړم

خکه چه ترڅو پورې چه زما یاد دي نوتاسو تراوسه پورې دې اهم مسئلې طرفته توجه نه ده کړې داخبره خومسلّم ده چه درمضان دروژو اصل مقصد قوت بهیمه کمزوري کول دي اوقوت ملکیه غالب کول دي ددې وجه نه شارع ددې حرکتونو نه څوورځو دپاره بندیز وکړو کوموسره په قوت بهیمه (څناورو طبیعت اومزاج) راپاریږي یعني خوراک څکاک اوديبیانو نه فائده اخستل اوددې دریو څیزونو پریخودلونه پس مادي حیثیت سره دروژې حقیقت مکمل کولې شي دغه وجه ده چه دد دین په رازونوچه کوم خلق پوهیږي هغوي دروژې دپوره کیدودپاره چه کومې خبرې ضروري ګڼلي دي په هغه کښې یوه داده چه په خوراک کښې څومره پورې وس وي کمې وکړیشي په دغه وجه امام غزالی رحمه الله په احیاءالعلوم کښې لیکلي دي چه دروژې دپوره کیدودپاره پنځم شرط دادې چه دروژه ماتي په وخت کښې حلال خوراک هم دومره ونه کړې چه هغه سره خیټه ډکه شي ځکه چه دالله رب العزت په نزد هیڅ یولوښي دخیټې نه زیات بدترین نشته چه کوم دحلال خوراک نه ډک شي په حقیقت کښې روژې سره دالله ددشمن شکست اودخواهشاتو نفساني کمزوري کول څه رنګ ممکن دي چه یوسړې دروژه ماتي په وخت کښې هغه کمی هم په ځاي راوړي په کوم چه دورځې شوې دې بلکه کله کله قسماقسم خوراکونوسره دهغې دپاسه نورهم زیاتې وکړې تردې چه یومستقل عادت جوړشویدې چه درمضان دپاره هرقسم خوراکونه راوړلي شي اوپیدې کښې هغه خوراکونه هم راوړلي شي کوم چه په میاشتوکښې هم نه شي خوړلي حالا نکه دامعلومه ده چه دروژې مقصد دي اوږې وسیدل اوخوهشات نفساني ته شکست ورکول ددې دپاره چه نفس ته دتقوٰي حاصلولوقوت حاصل شي خوهرکله چه معده دصباني نه ترماښامه پورې خالي وساتلې شي تردې پورې چه ددې نفس خواهش خوراک طرفته پیداشي اوددې شوق خوراک طرفته زیات شي بیادې نفس باندې خوندور خوراکونه اوخوروې نوهغه بنه خوشحاله کړې اوموړکړې نودهغه دې خوندورخوراکونوته شوق نورهم زیات شي نودده قوت دوچنده شي نوهغه خوهشات بیاراپیدارشي کوم چه دباؤ شوې وه. غرض داچه دروژې روح دهغه قوتونوکمزوري کول دي کوم چه ګناه طرفته میلان پیداکولوکښې دشیطان اله ده داغرض صرف دخوراک کموالي سره حاصلیدېشي اوهغه دادې چه روژه دارصرف هغه خوراک وکړې چه کوم درمضان نه علاوه همیشه خوري خوکه دصباني اوماښام دواړووختونوخوراک په یوځاي وخوري چه کوم درمضان په روژوکښې نه

وه پکارنوده ته دروژې نه هیڅ فائده نه رسي . بلکه دروژې په ادابوکښې دادې چه روژه داردې ډیرنه اوده کیږې چه ده ته دلوږې اوتندې احساس وي اودخپل قوت هغه کمزوري ورته معلومه شي (احیاءالعلوم ج۱) مطبوعه مجتبائي پریس ص۱۴۷/ دحدیثودمطالعې نه هم ددې تائید کیږي ځکه چه دحضرت محمد ﷺ اودصحابه په زمانه کښې په رمضان کښې دخوراک دپاره څه زیاتي اهتمام نه کیده بلکه معمولي خوراک به په رمضان کښې هم خوړې کیده رسول الله ﷺ کهجورې یااوبوسره روژه ماتوله پیشمني کښې هم دیوحدیث نه معلومیږي چه صرف کهجورې ئې خوړلي وې دروستوبعض صحابه ستوانوشربت راوړه حضرت ﷺ ستوان وڅکل ددې نه زیات ماته به دغه مبارکه زمانه کښې خوشبوداراورنګین خوراکونه په نظرنه راځي خواوس دمسلمانانوحالت څه دې په رمضان دیومیلې یادیوتقریب صورت اختیارکړیدې یومعمولي سړې دپاره هم روژه ماتي کښې پخه کړې شوې غله اوپکوړې خولا زمي وي پیشمني دپاره هم ئې (شوره) اهم څیزفرض کړې شویدې په خوراک کښې چه کوم کس دال روټي خوري هغه کم نه کم دترکارې زیاتوالي کوي دمالدارو خلقو دسترخوان خوپه رمضان کښې درنګ په رنګ خوراکونویوه ګلدسته جوړه شي ددعوتونوچغې ګرمي شي دروژه ماتي رسم خوخالص دواده یومجلس جوړشي داکار معمولي دیناداروته دي علماء اوصوفیان هم پدې رنګ شویدې په رمضان کښې په ځاي ددې چه دقران اوحدیث درسونه وکړیشي دارام اوراحت دپاره زمونږپه عربي مدرسه کښې چهټیاني وکړیشي ماديوخالص دتصوف مرکزپه متعلق کښې یو مضمون لوستي وه چه دهغې خلاصه داده چه دماښام نه ترپیشمني وخته پورې تول خلق چه ددې مرکزنه روحاني فیض وچتوي هغوي بیداروي اوډیردخانسته خوراکونومزې اخلې تراویح نه مخکښې اومینځ کښې اوتراویح نه پس درې ځله چائې څکلی کیږي تاسوخوزیاتره دعالمانواو صوفیانو صحبت نه فیض اخستي دي پدې وجه باندې ماته اوکتوونکوته پدې معامله کښې دخپلومعلوماتونه فائده راورسوې اوداهم وښائې چه ددې سندڅه دې اوداحالت دروژې دمقصدونونه منافي دي یانه ؟

تحقیق -: بعدالحمد والصلوة دمقصودې تحقیق نه مخکښې دیوابتدائي خبروضرورت دي (۱) حکمونه په اعتباردثابتیدوسره درې قسمه دي منصوص، اجتهادي، اوذوقي اجتهادي کښې داجتهادنه مرادهغه دي چه کوم ته فقهاء اجتهادوائي اودداسې اجتهادنه چه کوم

حکمونه ثابتیږي هغه هم په واقعي کې دنص نه ثابتیږي په اجتهادسره صرف هغه رانبکاره کولي شي پدې وجه وئیل کیږي چه القیاس مظهرلا مثبت اوذوقي هغه حکمونه دي چه هغه دنص مدلول نه دي نه بغیر دواسطې کوم شان دمنصوص دي اونه په واسطه سره کوم چه داجتهادشان دي بلکه هغه حکمونه صرف وجداني وي اوپه دغه ذوق اواجتهادکې فرق دادي چه کوم حکمونه اجتهادي وي هغه خودنص مدلول دي اوداذوقي دنص مدلول نه دي ددې وجه نه مجتهدینونه داسې حکمونه نه دي نقل شوي نه په چاباندې دهغې حکمونه منل واجب دي صرف داهل ذوق وجدان دهغه حکمونوپه بنیادکېخودلي شویدي البته پدې کې بعض حکمونه داسې هم وي چه دقران اودسنت داشارونه دهغې تائیدکیدیشي پدې صورت کې دهغه قائل کیدل جائزدي اوکه دقران اوسنت نه خلاف وي نودهغې ردکول واجب دي اوکه قران اوسنت یې تائید هم نه کوي اودقران اوسنت خلاف هم نه وي نوپدیکې دواړه طرفوته گنجائش شته دغه شان که یوصاحب ذوق دهغې تائید والی معلوم وي اوبل ته دهغې مخالفت بیاهم په هغې کې دواړه طرفوته گنجائش شته اواجتهادیات دفقې حصه ده اوذوقیات دتصوف (۲) داجتهادي حکمونوبنیادپه علت کېخودلي شویدي چه هغې سره حکم متعدي کیدیشي اوذوقیات بنیاد صرف په حکمت کېخودلي شویدي هغه هم غیرمنصوصي دي چه دهغې سره حکم نه متعدي کیږي اونه حکم وجود دي سره تړي شوي اونه دحکم نشتوالی دي سره تړلي شوي دي اودانشتوالی دحکم په دوران دحکمت منصوصه کې هم عام دي لکه په طواف کې رمل (پهلواني سره تلل) کول چه دهغې بنیادپه یوحکمت وه مگرهغه انحصاردحکم پاتي نه شو خوټول مسئلې دتصوف ددې شان مه گڼه پدې کې بعض اجتهادي اوبعض منصوصي هم شته مقصود دادي چه هغه کې کوم ذوقیات دي دهغې دغه شان دي کوم چه ذکرکړې شو (۳) یوبل اعتبارسره دحکمونودوه قسمه نوردي مقاصداومقدمات چه کوم حکمونه ذوقي دي هغه صرف مقدمات وي مقاصدنه دي مقاصدي صرف منصوص وي یااجتهادي (۴) اجتهادي اومنصوصي حکمونه داشریعت دي اوچه کوم حکمونه ذوقي دي هغه شریعت نه دي البته هغې ته دشریعت پټ رازونه وئیلي کیدیشي اوابتدائي خبري چه څوک دشریعت په قاعدوکې ماهروي هغه ښکاره دي اوس مقصودپیش کوم چه داکومه مسئله چه بحث کې راغلیده دانه منصوصي ده نه اجتهادي ده صرف ذوقي ده اوذوقي کې اختلافي ده پدې وجه دامام غزالي

ﷺ دغه ذوق دي اوڅه چه ئې پدې باره کې په احیاءالعلوم کې فرمائیلي دي هغه بنیادپدې ذوق باندې دي اودهغه په نزدڅه درمضان تخصیص نشته مطابق دلوړې په باره کې هغه ددې قائله دي اودبعضوذوق ددې نه خلاف دي پدې وجه علی قاری په شرح دشمائل ترمذی کې دابن الجوزي نه نقل کړیدي . ومن جهلة الصوفية تقليل المطعم واكل الدسم حتى يلس بدنه ويذب نفسه بلبس الصوف ويمتنع من الماءالبارد وماهذه طريقة رسول ﷺ ولاطريقة صحابته واتباعهم والماكانوايجوعون اذالم يجدواشيئاً فاذاوجدوااكلوا الخ (من ١
حاشيه تقليل الطعام بصورة الصيام) اوشاه ولي الله په حجة الله البالغه کې په ابواب الصوم کې فرمائي ثم ان تقليل الاكل والشرب له طريقان احدهما ان لا يتناول منهماالا قدرًايسيرا والثانى اوتكون المدة المتخللة بين الاكلات زائدعلى القدرالمعتادوالمعتبرفى الشرع هوالثانى لانه يخفف وينقه ويذيق بالفعل مذاق الجوع والعطش ويلحق البهيمة حيرة ودهشة وياتى عليهااتياناً محسوساً والاول انمايضعف ضعفاً يحس به ولا يجدبالا حتى يدنفه ايضاً فان الاول لا يـاتى تحت التشريع العام الا بجهدفان الناس على منازل مختلفة جـداً الخ. ددې نه دامعلومه شوه چه دې مسئله کې ذوق کې اختلاف دي اوس کتل دادي چه کوم ذوق قران اوسنت ته ډیر نژدې دي ددې موازنه په هغه شي سره کیدیشي چه کوم شي دذوق په تائید کولوغوراوسوچ وکړي بهرحال دوړومبی ذوق خوداتائیدات کیدیشي (الف) كتب عليكم الصيام كماكتب على الذين من قبلكم لعلكم تتقون اى كى تحذرون المعاصى فان الصوم يعقم الشهوة التى هى امهاويكسرها (ب) قال رسول الله ﷺ يامعشرالشباب من استطاع منكم الباءة فليتزوج فانه اغض للبصرواحصن للفرج ومن لم يستطع فعليه با لصوم فانه له وجاء (رواه الشيخان) (ج) هغه حدیثونه چه لوږې په فضیلت کې اودخیټې ډکولوپه مذمت کې راغلیدي مگردې تولواستدلالاتوکې شبهات دي (الف) وړومبی داچه ددې داتغیریوازي نه دي بل تغیرهم احتمال لري پدې وجه ابن جریر دسدي نقل کړیدي فتتقون من الطعام والشرب والنساء مثل مااتقوقبلكم . اوتفسیرنیشاپوري کې دي لعلكم تتقون باالمحافظة عليهاالقدمهاوبعدا سطراولعلكم تنظمون فى سلک اهل التقوى فان الصوم شعارهم اوکه هغه تفسیر اومنلي شي بیابه مقصودباندې دلالت کولوکې داشبه ده چه قوت بهیمه ماتول په کم خوراک باند موقوف نه دي كمامرقريباً عن حجة الله البالغه وسياتى ايضاً او(ب) کې

داچه پدیکي دروژي خاصیت بیان کړي شویدي دروژي دشریعت والی حکمت نه دي بیان شوي اوداخاصیت په کم خوراک پوري موقوف نه دي ځکه چه داتجربه ده چه په رمضان کي پوره هم مورشي خوندوروخوراکونوبیاهم کمزوري راځي اووددي رازدادي چه عادت وه دوه وخته په شوق سره دخوراک اواوس صرف په شوق سره صرف یووخت خوري، کیږي یعني مابنام اوپیشمني کي دناعادتي دوجه نه په شوق سره نه شي خوړلي کیدیشی ددي وجه نه هغه دبدن جزواودهغي بدل نه جوړیږي بیاچه دده عادت وخت راشي نوددي عادت دوجه نه دطبعیت ډیرشوق وي اوسره دشوق نه خوراک ته څه نه ملاویږيږ پدي وجه طبعیت کمزوري کیږي په دي وجه داکمزوري په مینځني لسوورځو کي بره غوندي اواخیري لسو ورځو کي ډیره شي اوداپه ښکاره محسوسیږي البته که څومیاشتي په مخه روژي وي نوڅوورځي کي به دخوراک دوختونوعادتونه بدلیدل نوبیابه دوراه وخته په شوق سره خوراک خوړلي کیده اودبدن جزوبه جوړیده اوکمزوري به نه پیداکیده اوشهواني قوتونه به نه ماتیدل ددي رازدوجه نه ټول عمرروژه غوره نه کړي شوه اوپه داؤدي روژه (چه یوه ورځ روژه اوبله ورځ کوږه وي) کي مخکي عادت نه بدلیږي ددي وجه نه دهغي اجازت سره دفضیلت نه ورکړي شویدي اودغه تقریرپه (الف) کي هم کیدیشي که داتفسیرمتعین هم وګڼړلي شي بیاهم روژه په هرحال کي شهواني قوتونو لره ماتوونکي ده وهذا هوالذی وعدناه فی قولناوسیأتی ایضاً او(ج) کي داده په کوم حدیثونو دلوږي په فضیلت کي اودخیتي مړیدوپه خدمت کي راغلیدي په هغه کي دااحتمال شته چه کیدیشي دلوږي نه مرادلوږه اضطراري وي یعنی څه دخوراک نه وي نودهغي فضیلت یادکړي اوصبروکړي که ځنګه چه نصوص کي دبیماري فضیلتونه بیان شویدي نودهغي دامطلب نه دي چه په قصدسره ځان بیمارکړه، ددي وجه نه په ایت ولنبلونکم کي ني لوږه په مصیبتونو کي شمارکړیده اوټول مصیبتونه چه دغه ایت کي بیان شویدي ټول غیراختیاري دي نودلوږي نه هغه مراده ده چه کومه غیراختیاري ده دارنګه دخیتي په مړولو کي چه کومه بدي ده په هغي دااحتمال شته چه خیته ډیره زیاته ډکه کړي چه دمړیدوڼپاسه هم خوري پدي وجه په حدیث کي اکثرهم شبعاًئي فرمائیلي دی من شبع منهم یې نه دي وئیلي دغه شان خیتي مړولوته خوفقهاء هم حرام وئیلي دي کذافی الدرالمختارورد المحتار کتاب الکراهة داخوپه دوروميي ذوق په تائیداتوباندي خبري وي اوس ددویم ذوق دتائیداتوبیان پیش

کوم (د) حدیث کي راځي شهریزادفیه رزق المومن کذافی المشکوة عن البهیقی، تواوداخبره عقل مني چه زیادت د رزق په رمضان کي ورکړیشي اودهغي نه فائده اخستلودپاره شوال ته داانتظارکولوحکم وکړي (ه) دروژه ماتي په وخت کي دحضرت ﷺ نه دانقل شویدي، ذهب الظمأوابتلت العروق وثبت الاجرروواه ابوداؤد، انشاء الله خوښکاره دي چه دتندي ختمیدل اوبدن رګونه خروب کېدل بغیر اوبوڅکلوباندي دخروب کېدونه نه شي کیدي اوسره ددي نه په اجراوثواب کي هم کمي رانغي ځکه چه ثبت الاجرنص دي اوپه خوراک اوڅکاک کي څه فرق نشته چه دیوي نه مړیدل دبنه وي اودبل نه دبنه نه وي (و) په حدیث دروژه دارمړولو فضیلت اوثواب راغلیدي (مشکوة عن البهیقی) که چري ځان مړول ښه نه وي نوبل مړول چه دهغي سبب اومدد دي هغه به هم ښه نه وي لان مقدمة الشی ملحق به . دانه چه داجرموجب به وه (ز) خوراک باندي مړول اوپه اوبوخړوبول دشهوت دمقدماتونه دي اوکورالي کول خوپه خپله قضاء، شهوت دي که مړول اوخړوبول دروژي روح خرابوي نوبیاکورالي کول دهغي زیات خرابوونکي دي مګردهغي دکموالي هیڅاهم ترغیب نه دي ورکړي بلکه دهغي فراخه اجازت ئي داحسان به موقع کي فرمائیلي دي فاالان باشروهن وابتغواماکتب الله لکم . اودي سره ئي کلوواشربوا، هم یوځاي فرمائیلي دي اودټولواخري حدیي فرمائیلي دي، حتی یتبین لکم الخیط الابیض من الخیط الاسودمن الا فجر(ح) که په رمضان کي کموالي دخوراک څۀ مقصودي کاروي دروژي فضیلت سره به دهغي بیان کړي وي اودروژي منکراتوسره دخیتي ډکولوبدوالي اومذمت په نصوصوکي یادمجتهدینوپه بیان کي ولي نه دي راغلي ایادي سره په اکملت لکم دینکم کي اشکال نه راځي داپنځه مویدات شول دذوق ثاني دپاره چه اوس ذهن ته راغلل که ذوق والاپه وړومبي ذوق کي څه خرابي راوباسي هم مونږته نقصان نشته ځکه چه اختلاف حکمونوکي دوړاوطرفوته ګنجائش وي دي پاره دامطالبه به هم کیدیشي چه وړومبي ذوق والا ددویم ذوق والوته بد رداودهغوي سپکاوي اوبدوالي نه بیانوي ځکه ذوقیاتوکي داسي اختلاف څه بدکارنه دي ځکه چه خلقوکي ددي کولواونه کولو مسئله کي هم اختلاف دي اوداسیابو استعمالولواونه استعمالومسئله کي هم اختلا ف دي اوداسي نوري هم ډیري مسئلي شته دغه شان دامسئله هم فقهي نه ده ددي دومره اهتمام وکړیشي پدي وجه سره ددي نه چه فقهاء ترمستحباتوپوري لیکل کړیدي مګردیته چرته هم

خیال نه دي کړي اوکه دامسئله فقهي هم وي نوداختلا ف دوجه نه به بیاهم دغه حکم وه دي تقریرنه امیددي چه دسوال داصلي جزونوجواب شوي وي باقي دزیاتي خبرومتعلق هم څه مختصرعرض کوم (۱) دصحابه په وخت کي ددي اهتمام نه وه داحجت نه شي جوړیدي ځکه چه دهغوي په وخت کي هرڅه کي سادګي وه دهغې عادت موافق عمل وه بل داچه دصحابه چه رمضان دپاره دزیات خوراک اهتمام نه وه دغه رنګ درمضان خصوصیت سره دکم خوراک هم اهتمام نه وه بیاددي نه دغه دعوی یعنی هغه خاص حکمت بنیادباندي دلوړي اهتمام څنګه ثابت شو (۲) اوددي نه یومجلس جوړیدل که دحدود دننه وي نوڅه پراوه ده په خپله حدیث کي راځي چه رمضان دپاره تول کاله پوري جنت ښائسته کېږي (مشکوة عن البیهقی) نوکه په هغه تقلیدکي دلته هم څه اهتمام وي نوڅه باک دي (۳) ددعوتوواوازونه کول داخودخیراخواهي یوکړي ده حدیث کي دیته شهرالمواساة فرمائیل شویدي (مشکوة عن البیهقی) (۴) دروژه ماتي مجلس هم یوه کړي ده . فرصت عندالفطر (روژه ماتی خوشحالي) اولادته ددین توفیق ملاویدل پدي خوشحالي کول مجلس کول ولي بددي دیته قران مجید قرة العین (سترګویخوالي) ونیلي شویدي (۵) داسلامي مدرسوپه چهټیانوکي ارام کول اودرمضان دپاره ښه عملونه کول ولي ښه نه ده اوهغه ددي سره دعادت په طورسره نه شي جمع کېدي (۲) دصوفیانودطبیعت نه خلا ف دي هغوي غریبانان خوبخپله خپله ځان دهرڅانه کم ترګنړي دخپل مددنه پخپله داسي خلق منع کوي .

بسامدعـي مگوئید اسرارعشق ومست *** بگزارتابمیـرد در رنـج خـودپرسـتي

دي احقرته دصوفیانوپه نوروعملونوکي دتقلیدتوفیق ملاؤنه شو مګرداطریقه چه مي وارېده . جواب به هم نه وه اوریدلي ضرور حرص وشوه چه چاتي څکل دوېښ پاتي کېدودپاره یوښه تدبیردي مګرزمادغه حرص پاتي شو پدي وجه چه بیابه دخوب نه محرومه شم چه په هغي کي ددي نه هم زیات حرص کوم اوڅنګه چه کم خوراک کي مي هغه ذوق خوښ شو چه هغه کي مریدل هم په لاس راشي دغه رنګ په کم خوب کي مي هغه ملسک خوښ دي چه هغه خوب کي نقصان نه راولي هغه مسلک دادي ، حدیث :- من صلی العشاء فی جماعة فکانماقام نصف اللیل ومن صلی الصبح فی جماعة فکانماصلی اللیل کله مالک ومسلم تفسیر :- عن انس بن مالک ﷺ تتجافی فی جنوبهم عن المضاجع قال مابین المغرب

والعشاء وعنه ایضاً نزلت فی انتظارالصلوة التی تدعی العتمة وعنه ایضاً فی قوله تعالی کانواقلیلامن اللیل مایهجعون قال یتیقظون یصلون مابین هاتین الصلاتین مابین المغرب والعشاء وعن محمدبن علی قال لا ینامون حتی یصلون العتمة وعن ابی العالیة قال لا ینامون بین المغرب والعشاء (تفسیرابن جریر) وفی الدرالمنثور کانوا لا ینامون اللیل کله الخ . فالقلیل لا یقابل الکثیر بل یقال الجمیع فهوفی معنی البعض (کذاپیان القران) اثرقال سعیدبن المسیب من شهدالعشاء من لیلة القدر فقداخذبحظ منها (موطاالامام المالک) قلت وکانه تفسیر للمرفوع من حرم خیرهافقد حرم فالذی شهدفی جماعة لم یحرم خیرها، ددي خوب دغوره والی ده وجه نه دچاتي هغه حرص هم لاړواوپه خپله مي زړه پوه کړوچه الله تعالی به ناکاره خلق هم اوبښي ددي ښښني په امیدباندي خبره ختموم اوددي حقدارهم زیات شویدي وجه ددي نوم هم دمضمون مناسبت سره تجویزکوم یعنی کلمة القوم فی حکمة الصوم ؛ **ضمیمه** :- داهم احتمال دي چه دامام غزالي ﷫ بیان دذوق په اختلا ف سره بدلیږي اوس بدنونه دومره کمزوري دي چه دومره کم خوراک هم یقیناً په نیکوعملونوکي نقصان پیداکوي باقي داچه حضرت امام داعنوان دومره سختی سره ولي اوفرمایه دهغي وجه داده چه په صوفیه حضراتوباندي بعض حالتونو یادبعض اصلاحاتوغلبه کېدیشي په هغي کي داسي قسم عنوانونه بي اختیاره پیداکېدیشي اوپدي ځاي کي یوه بله نکته هم زده کول پکاردي ګویاچه دطریقت په قاعدوکي هغي دمسئلي بالکل روح دي هغي داده چه دسالک مقصوداماماتو دموافق فرښتوسره مشابهت دي اودامشابهت چه څنګه زیات مریدوسره فوت کېږي دغه رنګ دېري زیاتي لوږي سره هم ځکه چه فرښتي ددواړونه پاک دي اوداتول تحقیق په هغه تقدیرباندي ضروري دي چه دروژي حکمت قوت شهواینه ماتوول اوګنړي کني که دایوامر تعبدي شي لکه څنګه چه دروژي شماردي هغي کي څه حکمت معلوم نه دي نوبیاددي تولوسوالونوهدوګنجائش نشته اوبعض حدیثونودالفاظونه دغه تعبدښکاره اوقوي معلومیږي پدي وجه ارشاددي من صام رمضان ایماناً واحتساباً رواه الشیخان . حیث جعل الباعث علیه الایمان وطلب الثواب لا شیاء من الحکمة والمصلحة وهـذا هوالتعبد والله اعلم ۲۵ شعبان ۱۳۵۲ھ (النورص۹ شوال ص ۵۳)

دشپې نه دروژې دپاره نیت کې دروایتونوپه منځ کې تطبیق

سوال:(۱۷٦)په بهشتي زیوردریمه حصه کې په دریمه صفحه کې ددي عنوان دلاندي «درمضان دروژې بیان» داسئله لیکلې شویده . **مسئله** -: که چرې څه خوړلې څکلې یې نه وي نودورځې دغرمې نه یوه گینټه مخکې درمضان دروژې نیت کول صحیح دي . دي عاجزدرمضان شریف نه مخکې دامسئله کتلې وه اودهغې موافق په سفرکې مې خوروژې ونیوي کله کله به مې خیال وشوه چه که چرې لس بولس بجوپورې په سفر کې څه سترې والی یاتکلیف محسوس نه شي نوروژه به نیسم کنې نه نیسم پدې وجه دخوروژونیت مې دروځې په لسوبجووکړوپه دي وخت کې کتاب تیسیرالاصول الی جامع الاصول داردو مترجم څلورمه حصه گورمه په دي کې پنځمه صفحه باندي دروژې دنیت په بیان کې داحادیث لیکلې شویدي عن حفصه ﷺ قالت رسول ﷺمن لم یجمع الصیام قبل الفجرفلاصیام له اخرجه اصحاب السنن . وعن عائشة ﷺ وحفصة ﷺانهما قالتالایصوم الا من اجمع الصیام قبل الفجراخرجه مالک والنسائی . ددي ترجمه یې دالیکلې ده چه دپیشمنې نه مخکې دروژې نیت اونه کړودهغه روژه نه کیږي حضرت مهرباني وکړي زروفرمائي چه دي کتاب کې داحدیث لیکلې شویدي داصحیح دی یانه ؟ که صحیح وی نو د وړومبې مسئلې سره ددي تطبیق دي اودي عاجزچه دادومره روژې ونیوي چه دهغې نیت ئې دلسوبجونه کړي وه هغې روژې وشوې یانه ؟

جواب: روی مسلم عن عائشة ﷺ قالت دخل النبی ﷺذات یوم فقال هل عندکم شئ فقلت یارسول الله ﷺماعندناشی فقال فانی صائم[الحدیث] وروی الشیخان وغیرهما ان النبی ﷺبعث رجلا ینادی فی الناس یوم عاشوراان من اکل فلیصم(ای لیمسک) بقیة یومه ومن لم یاکل فلا یاکل (التعلیق المجد) وړومبې حدیث نه دنفل روژې نیت په ورځې کې اودویم حدیث نه دفرض روژې نیت په ورځې کې معلومیږي څکه ړومبی دلسم محرم روژه فرض وه، به وردکبثر من الاخبارکمااخرج الطحاوی الربیع وعائشه وعن جابروعن قیس ﷺ وفی الباب اخباراخرمخرجة فی السنن والصحاح(التعلیق الممجد) اورمضان دوجه دمقررکیدونه مشابه دي دلسم محرم روژې سره چه وړومبې فرض وه نوپه نفل اوهغه چه مقررفرض روژه ده پدیکې نیت کول دورځې هم جائزدي نوخامخابه دحدیثونوپه مینځ کې تطبیق دپاره چه کوم حدیث سوال کې ذکرشویدي دابه ددي روژونه بغیر په

نوروروژوباندي حمل کیږي لکه قضاء کفاره یانذرشومثلاً. اوستاهغه روژې بې شکه صحیح دي ، ۲۵ رمضان المبارک ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص ۱۲۷)

څنګه چه لسوکالوماشوم لمونځ نه کوي نودوهلوحکم دي ایاپه روژه کې هم دغه حکم دي

سوال:(۱۷٦) **بهشتي زیوردولسمه** :- مسئله چه کله هلک یاجینې دروژې نیولو لائق شي نوهغوي ته هم دروژې حکم دي اوچه کله دلسوکالوعمر ته ورسي نو روژه پرې په وهلواونیسي که تولې روژې نه شي نیولې نو چه څومره نیولې شي اودي نیسي(بهشتي زیور ص۳۲مجتبائي دهلي مسئله نمبر۱۴ فتاوی رشیدیه) ماشومانوته دلمونځ حکم داوه کالوپه عمر کې دي اولسوکالونه پس دوهلوحکم دي که لمونځ نه کوي نودروژې به نسبت هم دغه حکم دي یانه ؟

جواب: دروژې په باره کې داحکم نه دي ، فقط(ص ۱۳۴ فتاوی رشیدیه حصه دوم قاسمی دیوبند) په ظاهره سره دواړوکتابونه کې اختلا ف معلومیږي وضاحت اوفرمائي

جواب: فی الدرالمختاراول کتاب الصلوة بعدذکرحدیث مروا اولادکم بالصلوة وهم ابناء سبع واضربواهم علیهاوهم ابناء عشرمانصه والصوم کالصلوة علی الصحیح کمافی صوم القهستانی معزیا للزاهدی الخ. ددي نه معلومه شوه چه دي کې دوه قوله دي په یوکتاب کې یوقول اخستې شویدي په دویم کتاب کې دویم قول اخستې شویدي نوهیڅ اشکال نشته ۲ذی قعده ۵۴ھ (النور /ص ۲۰ ذی قعده)

ذکردبعضومسئلوکوم چه متعلق دي دمیاشت درمضان وغیره سره

سوال:درمضان دمیاشت گواهي چه دشریعت دقانون مطابق دیاهرنه دقاضي نه علاوه بل چاته راشي اوقاضي هغه اونه مني نودي کس دپاره دیرشم روژې نیول څه حکم دي چه دقاضي اودعام خلقوپه نزدهغه یوکم دیرشمه روژه ده اودوریځ دوجه نه سپوږمې نه وي لیدلې شوي لکه څنګه چه سخکال وشوه اوآیاپه ده ضروري ده چه عام مسلمانانوته ددي معتبرگواهي اوددي بنیادباندي دیوې روژې دقضااوروخبرورکړي یاقاضي ته پرېږدي چه عام ښارئې واله هغه ته راګرځي اوپه هغه باندي داعلان کولو اونه کولوبوج پروت دي بهرحال دقاضي په اختلا ف باندي داسرې په خپل یقین اودمعتبرې گواهي کې په کوموکوم خبروماموردي ؟

جواب: دښکاره قاعدونه معلومیږي چه دقاضي سره دی اختلا ف نه کوي نه عمل کې نه په اعلان کې یا دعمل دې نه کېدو په وخت پدې باب کې هغه دقاضي شرعي قائم مقام دي البته که ده یقین معلوم شي چه قاضي خطاشویدي نوخاص خلقوته ددې حقیقت خبرپه داسي طریقه ورکړي چه پکې څه قسم ګډوډي اوفتنه نه وي. ۵ شوال ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۵۵)

باب مایفسدبه الصوم اویکره ومایوجب القضاء والکفارة

دهغه څیزونوبیان چه هغه سره روژه ماتیږي یامکروه کیږي اوقضایاکفاره لا زمیږي

تحقیق مفطــرشدن حقه

سوال: (۱۷۹) حقه (چیلم) سره روژه ماتیږي یانه که ماتیږي نوپه څه وجه اوروژه حقه (چیلم) سره ماتولی شوي یانه. په روژه کې خوبه څه نقصان نه راځي ؟

جواب: فی الدرالمختار ولوادخل حلقه الدخان افطر ای دخان کان الی قوله فلیتبنه له فی ردالمحتاروبه علم حکم شرب الدخان ونظمه شرنبلالی فی شرحه علی الوهبانیة بقوله۔

ویمنع من بیع الدخان وشربه — وشاربه فی الصوم لا شک یفطر

ویلزمه التکفیرلوظن نافعا — کذا ادافعا شهوات بطن فقررو،

پدې روایت کې صفادي چه حقه سره روژه ماتیږي اوکفاره [1] واجبیږي پاتي شوه داخبره چه دې سره روژه ماتول نوکوم سړي چه دعذردوجه نه څښي هغه ته مکروه نه ده اوکوم سړي چه صرف دشوق اومشغولتیا دوجه نه څښي هغه دپاره مکروه ده! ۱۰ رمضان ۱۳۲۲ھ (امداد ج۱ ص ۱۷۳)

وجوب قضاصوم باانزال که بقبله ومس شد

سوال: (۱۸۰) یوکس درمضان دروژي نیت وکړواوصباځي یې اتفاق سره خپلي بي بي سره

---

[1] افطاربه نفس شرب باندي نه شي قیاس کیدی ځکه چه دنفس شرب حکم ضرورت اوعدم ضرورت سره مختلف کیدیشی خوافطارکې هیڅ ضرورت نشته په دې وجه افطارکې مطلقا مکروه کیدل پکاردي الا اذالم یکن هناک مفطرآخر ۱۲ تصحیح الاغلاط صفحه ۳۱

یوځاي شو دیوځاي کېدوپه حال کې بې اختیاري سره انزال وشو دغه وخت هغه غسل وکړو اودسحرلمونځ ئې جمعې سره وکړواوتوله ورځ یې روژه سره تیره کړه پداسي حال کې دي کس دپاره قضااوکفاره دواړه ورکول پکاردي یاصرف قضااوړي یاقضااوکفاره دواړه معاف دي آیادصبح صادق نه ترلمرختوپوري هم هغه حکمونه دي چه کوم دنمرراختونه پس یادنمرپریوتونه پس دي ؟

جواب: فی الهدایة لوانزل بقبلة اولمس فعلیه القضاء دون کفارہ، ددې نه ثابته شوه چه که ښکلولوغیره سره انزال وشوه نودروژي قضا لا زم ده کفاره نشته خوپه دغه ورځ هم توله ورځ خوراک څښاک جائزنه دي اوداجواب په هغه صورت کې دي چه دیوځاي کېدونه مرادصرف مچې اخستل وي اوکه چرې مراد کوروالي وي نوقضااوکفاره دواړه لا زم ده لکه څنګه چه ښکاره ده اودصبح صادق دراختونه پس هم هغه حکم دي کوم چه دنمرراختونه پس دي والله اعلم ۱۱ رمضان المبارک ۱۳۲۴ھ (امداد ج۱ ص ۱۷۲)

حکم انزال درصوم بدوانیدم اسپ

سوال: (۱۸۱) یوکس ته کله کله داخبره پیښیږي چه کله په اسپه باندي سورشي اوزغلوي یې نوشرمګاه په حرکت کې راشي اومني اوزي اتفاق سره یوه ورځ دروژي په میاشت کې په اسپه سوروه چرته تلودغه واقعه راپیښه شوه ددې په باره کې چه دشریعت څه حکم وي په هغې خبرداري راکړي آیاکفاره ده یاقضا؟

جواب: په دې [1]، نه کفاره شته اونه قضابلکه روژه یې صحیح ده اوپه ځاي ده فی الدرالمختاراواحتلم اوانزل بنظراوبفکراه قلت وهذا المسئول عنه دونه کماهوظاهروالله اعلم وایضاً ۱۸ رمضان المبارک ۱۳۲۵ھ (امداد ج ۱ ص ۱۷۸)

سوال: (۱۸۲) په اس باندي دسورلي په وخت کې شرمګاه حرکت کولو سره مني اوزي روژه ماته شوه یانه ؟

---

[1] احتیاطاً قضاء نیول پکاردي دي جواب باندي هم بعض عالمانو کلام کړیدي کوم چه په محلقاتو دتتمه اولی ص ۳۲۲ په حوالی سره ددی نه وروستو سوال (۱۲۷) کې په دې کلام اوشوا احتیاطاً دقضانیولو حکم اولیکلی شو ۱۲ محمدشفیع فان دقیق وانصف فان الانصاف خیرالاوصاف چرنکه خاص جزی دسئباب نشد جناب مجیب مدظله وقدس سره۔

جواب: نه ، تسامح درلفظ قلت وهذا المسئول دونه

اصلاح تسامح ازتجربه معلوم است که بوقت سواری فرج بسرج سوده میشودبسبب حرکت ازمزاج رقیق مني بدفق وشهوت ولذت بیرون مي اید اغلب که مرادسائل همین طوراست پس ازین قاعده وعبارت ردالمحتار روزه ان شکسته معلوم میشودقضاء است کفاره نیست قوله(اومس فرج بهیمة اوقبلها فانزل) وکذالا یفسدصومه بدون انزال بالاولیٰ ونقل فی البحر وکذا الزیعلی وغیره الاجماع علی عدم الا فساد مع الانزال واستشکله فی الا مداد بمسئلة الاستمناء بالکف قلت والفرق ان هناک انزالاً مع مباشرة بالفرج وهنابدونها وعلی هذافلا صل ان الجماع، المفسد للصوم هوالجماع صورة وهوظاهراً ومعنی فقط وهوالا نزال عن مباشرة بفرجه لا اوفی فرج غیر مشتهی عادة اوعن مباشرت بغیرفرجه فی محل مشتهی عادة ففی الا نزال بالکف اوبتفخیذاوبتبطین وجدت المباشرة بفرجه فی فرج غیرمشتهی عادة وفی غیر مشتهی عادة وفی انزال المس ادمی اوتقبیله وجدت المباشرة بغیر فرجه فی محل مشتهی اما الا نزال بمس اوتقبیل بهمیة فانه لم یوجدفیه شی من معنی الجماع فصار کالا نزال بنظر اوفکر فلذا لم یفسد الصوم اجماعاً هذا ماظهرلی من فیض الفتاح العلی۱۲؛ ردالمحتار۲ص۱۲۱ /ج۲ / ظاهراست که درمانحن فیه مباشرت فرج ثابت است مانندا ستمناء بالکف اوباالتفخیذاوباالتبطین چراکه فرج بسرج مباشرت شد وبعده انزال شد روزه فاسد بخلاف انزال بمس فرج بهیمه وتقبیل ان وانزال بسبب نظر وفکر که دراه فرج مباشرت نیست پس مانحن فیه فوق شد نه دون آن فتدبر قدس سره درین

جواب نظرثاني بامعاون فرمایند که بنده را روایت ذیل ردالمحتار درخوف شوخشیت انداخته است که براندام لرزه افتاده است چه امکان است که امثال ماقیاس مسئله برفتوی دهند والله تعالی هوالمصوب والعاصم ، القاضی اذاقاس مسئلة علی مسئلة وحکم ثم ظهر روایة بخلاف اذکیاً خوارزم قاس المفتی علی القاضی لا لی ان قال والکلام فی الخصومة فی الا خرة ولا شک ان کلا من المباشرو المتسبب ظالم اثم وللمظلوم الخصومة معهما ۱۲؛ ردالمحتار ج۳ /ص۵۳، تتمه اولی /ص ۳۴۲،

حکم ادخال صائم چیزي رادرگوش وبیني

سوال:(۱۸۳)اي عالمانودډین اومفتیان دشرعي متین په رمضان کې دروژه دارپه غوږ پوزه یاسترګه کې څه شی بهیدونکې لکه تیل یاعرق یااوبه وغیره یااوچ شي لکه سفوف وغیره دارووااچوي یاپه سرکې دماغوطاقت دپاره تیل یاعرق یااوبه اچول اوابوکې دننه اودس ماتول یاغوپه وهل یا غرغري کول اوپه سرباندي یا په بل ځاي باندي دوائي لګول یاپه یوژور زخم کې چه په سرکې وي یاخیټه یاپه بل ځاي کې وي په هغې مرهم لګول یاعرق یاتیل وغیره دارواچول جائزدي یا نه اوکه جائزنه وي بیاهم یوررروژه سره ددینه چه ورته پته ده چه جائزنه ده بیاهم په خطائي سره یاقصد سره یاداچه پته ورته نشته . دجائزپه خطائي سره یاپه قصدسره ئي په دغه ځیزونوکې یوکاروکړونودیکې په کوم صورت کې کفاره ده اوکوم صورت کې قضاده اوکوم صورت کې نه کفاره نه قضاء ؟

جواب:دغوږیادپوزي په سوري کې لونده دوائي اچولوسره روژه ماتیږي اوکفاره واجب نه ده ومن احتقن اواستعط اوراقطرفی اذنه افطرولا کفارة علیه(هدایه) اوکه وچه دوائي وي نوکه دماغوته رسیدل یقیني وي نوروژه ماتیږي، والاّلا .کمابحثه الشامی . اوپه سترګي کې دوائي یاسر باندي لګول روژه نه ماتوي ولا باس بالکحل ودهن الشارب (هدایه) اواوبه رسول په دغه ځایونوکې په صحیح روایت روژه نه ماتوي ولواقطرفی اذنه الماء اودخله لا یفسدصومه (هدایه) اوپه اوبوکې اودس ماتولوسره یاغوپه وهلوسره هیڅ نه کیږي البته که اوبه دننه لاړي نوماتیږي ولوابالغ فی الا ستنجاء حتی بلغ موضع الحقنة فسدوهذاقلمایکون ولوکان فیورث داء عظیماً (درمختار) اوکفاره نه لا زمیږي کمافی مسئله الاحتقان فی الهدایه،علی هذا القیاس که غر غري کولوکې اوبه دمري نه ښکته لا ړي نوروژه ماته شوه والاّ لا . اوسروغیره باندي دوائي لګول جائزدي قیاساً علی العین ودهن الشارب اوکه دسریاخیټي زخم دومره ژوردي چه دماغوته یاخیټه ته رسي نوپدي کې دوائي اچولوسره روژه ماته شوه خوپه دي شرط[۱] چه هغه دننه خیټي یادماغوته اورسي ، ولوداوی جائفة اوامة فوصل الی جوفه اودماغه افطر(هدایه) اوچونکه لونده دوائي کې رسیدل ښکاره وي په دي وجه دهغي کې دروژي ماتیدومطلقاً حکم کړي شو،الا ان یعلم عدم وصوله الی الجوف والدماغ اوداوچي دوائي حکم دهغي په عکس

[۱] تغیرتصحیح الاغلاط ص۳۱ نه شویدي۱۲

دي اونوروزخمونوکي دواني اچولوسره روژه نه ماتيږي . اووچه دوائي کي تفصيل ذکرکړي شو اوکوم صورتونه چه ذکرشول پدي کي چه کوم کي روژه نه ماتيږي په هغي کي نه قضاشته نه کفاره اوپه کوموکي چه روژه ماته شوه په هغي قضاشته کفاره نشته که په قصدسره وي برابره خبره ده که دمسئلي پوه وي اوکه نه وي لا ن الجهل لا يعتبرفى ضروريات الدين، اوکه په هيره سره وي نوروژه صحيح ده څکه چه خوراک اوڅکاک چه پوره روژه ماتوونکي څيزونه دي اوکفاره هم واجبوي پدي کي په هيره سره روژه نه ماتيږي نو نوروڅيزونوکي په طريقه اولى سره په هيره روژه نه ماتيږي والله اعلم ۱۳۰۴ هـ امدادالفتاوي ج۱ ص ۱۷۹،

په غوږکي په قصدسره اوبواچولوسره روژه ماتيږي يانه

سوال:(۱۸۴) دشرح وقايه په کتاب الصوم باب مايوجب الا فساد کي ئي ليکلي دي اوصب فى احليلة وهن ادنى اذنه ماء الى قوله لم يفطر اومولوي عبدالحي لکهنوي فرنکي محل نورالله مرقده ددي عبارت توجيه داليکلي ده امافى صب الدهن فى الا حليل لا نه ليس بين المثانة وبين الاجوف منفذيصل به اليه حتى يوجدالمفطر ،وفى صب الماء فى الاذن لا نه ليس فيه صلا ح البدن بخلا ف الدهن .ما ددي عبارت دمطالعي نه دامعلوم کړي وه چه که روژه دارقصداً په غوږکي اوبه واچوي نوروژه نه ماتيږي يانه تاسوفرمائيلي وه چه په قصدسره اوبواچولوسره روژه ماتيږي اوس عرض کوم چه زماهغه پوه صحيح نه وي نه ستاسواومعتبراومفتى به قول راته وښائي ؟

جواب:اصل خبره داده چه دي مسئله کي اختلا ف دي صحيح والى دواړوطرفوته شته کبديشي ماپه احتياط باندي عمل بشيرګړلوڅکه چه ليکلي وه بهرحال دواړوطرفته ګنجائش شته . هدايه تبيين ،محيط ،اودلوالجيه کي روژه نه ماتيدوته يي ترجيح ورکړيده چه اوخانيه بزازيه اوفتح اوبرهان کي ئي روژه ماتيدوته ترجيح ورکړي ده کذا فى ردالمحتارباب مايفسدالصوم ومالا يفسده ۸ جمادي الا خرى ۱۳۲۹هـ ،تتمه اولى / ص ۲۳،

حکم جماع کردن صائم بوقت فجربظن شب

سوال:(۱۸۵)يوکس دژمي په موسم کي درمضان چه مياشت کي دروژي په نيت کوته کي خپلي بي بي سره ذخوبه راويښ شونودده داخيال وه چه شپه ده بي بي سره کوروالي وکړو

چه باهرڅي وکتل نوصباشوي وه دي دواړوپه دي خيال چه روژه نه دی شوي اوبه ئي وڅکلي په دي صورت کي دوي دواړوباندي کفاره ده ياصرف قضا اوپه دي صورت کي که دواړواوبه نه وي څکلي نوپه دوي کفاره وه ياصرف قضايا روژه صحيح وه ؟

جواب:چه کله په خيال دشپي کورالى وکړواوبيائي وکتل چه صباراختى دي داروژه صحيح نه ده خوتوله ورځ به خوراک څکاک نه کوي اوکفاره پري لا زم نه ده واذاتسحروهويظن ان الفجرلم يطلع فاذاهوقدطلع امسک بقية يومه ولا کفارة عليه ،هدايه، فى الدرالمختارفى موجبات القضاء اوجامع على ظن عدم الفجر.اوکه ذورخي يي اوبه اوڅکلي .دروژي هغه تعظيم ونه کړوکفاره لا زم نه ده قضاهرصورت کي لازم ده که اوبه يي څکلي وي اوکنه . والله واعلم ۱۳۰۴هـ امداد ج۲ /ص ۱۸۰،

حکم فروبردن اب درحلق بخطا

سوال:(۱۸۶)که يوروژه داريه رمضان کي په درياب کي لا مبووهي اوپه دهوکي سره بغيرداختياره سره ددي نه چه روژه يي ياده ده بياهم خوخله اوبه وخلکي نوپه ده کفاره ده ياصرف قضا؟

جواب: سره دياددروژي نه بغيرد قصدنه که اوبه ئي اوڅکلي خوداسري صرف خطائي کوونکي دي په ده باندي قضاء ده . ولوکان مخطيااومکرهافعليه القضاء ،هدايه، فى موجبات من الدرالمختاروان فطرخطاء بان تمضمض فسبقه الماء والله اعلم امداد ج۱ /ص ۱۸۰،

حکم رفتن اب دربينى بحالت استنشاق

سوال:(۱۸۷) که ديوروژه دارسره دياده داستنشاق په وخت کي دپوزي دطرفنه اوبه په خطائي سره ياقصد سره دماغوته ورسيدي يادماغوته نه دي رسيدلي مګردومره لري لا ړي چه ده ته تکليف وشونوپه ده کوم صورت کي کفاره ده اوکوم صورت کي قضاء ده اوپه کوم صورت کي نه کفاره ده نه قضائ ؟

جواب:دمتن دروايت متعلق دپوزى په لاراوبه رسيدلوسره روژه نه ماتيږي قياساً على ادخاله الا ذن والله اعلم ۱۳۰۴هـ امداد ج۱ /ص ۱۸۱،

ددي مسئلي تتمه ازملحقات تتمه اولیٰ امدادالفتاوی

خبرداري ۳ (۱) دفتاوی امدایه مطبوعه مجتبائي اول جلد/ص/۱۸۱/ کي، چه کومه مسئله ذکرشویده چه دپوزي په لاړ دماغوته اوبورسیدلوسره روژه نه ماتیږي الخ په دي مسئله کي بعضوحوبانديِ ماته ترددديِ یعنی که پوزه باندي مږیْ نه اوبولاړ ي بناخوروژه ماته ده په دیکي شک نشته صرف دماغوته درسیدوپه صورت کي راته شک دي تحقیق وکړي بعض وکړي بعض عالمانودشرح المجمع عبارت نقل کړیدي لواستنشق فوصل الماء داخبري راکړیدي لواستنشق فوصل الماء فوصل الماءالی دماغه افطر ۱۲: شرنبلایي حاشیه دررالمکارم نمبر۲۰۳ کتوونکي دهم دعالمانوته ددي تحقیق وکړي اشرف علي (

فائده :-اودغه داهم لیکلي دي که دربعض مسائل فتاوی امدادیه په تسماح واقع است اگرجناب اجازت دهندبحضور فرستاده اینده بعده بطورالحاق طبع کناشدتاکه عوام درغلطي نه افتندالخ مادهغي اجازت مهرباني سره لیکلي دي که ماته دهغي فهرست راغي انشاءالله په څه موقع کي به زه هغه خواره کړم کني دکتونکوداسانتیادپاره زه دهغه پته لیکم دي پاره چه دهغه نه په خپله معلومات وکړي اوبه خبره داده چه دهغه نه دهغه خایونو معلومات وکړي اوداسي عالمانونه خان مطمئن کړي کوم باندي چه دمخکي نه اطمینان دي دهغه پته داده مولوي محمدبخش صاحب ډاکخانه شهرچوتي ضلع ډیرغازي خان ملک پنجاب .ددي اخري مشوري وجه داده چه زمادهغه سره ملاقات نه دي شوي اونه ئي راته پوره حالات معلوم دي اشرف علی (تتمه اولی/ ص۳۲۸)

دفائدي دمضمون تکمله چه خبرداري نمبر ۳ کي لیکلي شویده

په دغه فائده کي چه کوم فهرست ذکرشویدي بیاهغه دویم خل ماته راغلی یوپه ۳۰ ربیع الثانی / ۱۳۳۲هـ / کي لیکلي شوي[۲] وه دریم په ۱۸ رجب / ۱۳۳۲هـ / کي راغله دلته هغه هم هغه شان نقل کوم چاته اطمینان اوشي ډیره ښه ده کني داطمینان دځاي نه معلومات وکړي[۳] اشرف علی ۵ رجب / ۱۳۳۲هـ (ملحقات تتمه اولی / ص ۳۳۰)

---

[۱] امدادالفتاوی مخکینی مطبوع کي دی ځاي کي څه اطلاګانی دمختلفوبابونو متعلق لیکلي شویدي داسبابوپه متعلق دنمبر۳ اطلاع وه هغه دلته نقل کړلی شوه ۱۲ محمد شفیع (

[۲] بیادریم فهرست د۱۸ رجب ۳۲هـ لیکلی شوي راورسیدو ۱۲ (

[۳] دادمسئلوفهرست ددی دویم جلدپه اخرطبع کړي شویدی هغه دي وکتلی شی ۱۲ محمد شفیع (

حکم یافتن برګ تنبول دردهن بوقت صبح

سوال:(۱۸۸) ډیروخلقوپه رمضان کي دشپي په نیت دروژي پان وخوړاوخلاستل اتفاق سره ئیولوته خوب ورغي تول دغرغري کولونه پان یي خوله کي وه چه اوده شول سحراپاسیدل نودچاپه خوله کي پوره پان وه دچاپه خوله دچیزي نه زیات دچاپه خوله کي چیزي برابردچاپه خوله کي ددال ماش برابراودچاپه خوله کي صرف یودوه پانړي وي اودچاپه خوله کي هیڅ نه وه خوشبي یي غرغره نه وه کړي نوپدي صورت کي دچاروژه صحیح ده اوپه چاباندي قضاواجب ده اودچاروژه چه صحیح نه وه اوهغه روژه ماته کړه یعني کوژه یي وکړه نوپه هغه به کفاره واجب وي اودچاچه روژه صحیح وه اوهغه دناپوهی نه کوژه کړه نوپه هغه کفاره ده یاقضاء ؟

جواب:اوده کیدوپه وخت کي پان خوله کي وه اواوده شول اودسحره پوري خوله کي وه روژه ماته اوپه کوم صورت کي چه پان خوله کي نه وه نوبنکاره خبره ده چه تیرشوي به وي اوداپه اووایوچه دسحرنه پس ئي تیرشویدي لا ن الحادث یضاف الی اقرب الا وقات علی مافی قواعدالفقه .اوکه پان ئي خوله کي پوره اوموندوبیاهم غالبه ده چه دهغي هغه رس به یي ضرورمري کي تلي وي دهغه دلیل دادي چه حکیمان اوطبیبان اصل السوس وغیره خوله کي کیږدي اوخوب معلوموي که رس نه وي رسیدلي نوددي نه څه فائده شوه چه کله رسیدل ثابت شي نوځکه ددي خوب کي روژه ماته ده اوقضاپري لا زم ده او(شرب نائماً درمختارفی موجبات القضاء) اوکه داوده کیدونه مخکي یي پان توکړواوغرغري ئي ونه کړي نوکه خوله داوري هومره یادهغي نه زیات وه اوپه خوب کي یي تیرشونوقضاپري واجب ده اوکه ددي نه کم وي نوروژه ماته نه وه ولواکل لحماً بین اسنانه فان کان قلیلا لم یفطر وان کان کثیر الفطر والفاصل مقدارالحمص ومادونهاقلیل هدایه.اوروژه ماتول دصحیح روژي واله اوفاسدي روژي واله تیرشو فتذکر.البته که سره دصحیح کیدودروژي نه یي روژه ماته کړه نوکفاره اوقضادواړه لا زم دي لا ن ظنه لیس بمستندالی دلیل شرعی والله اعلم ۱۳۰۴ هـ (امداد /ج۲/ ص ۱۸۱)

حکم بقائي سرخی تنبول دردهن

سوال:(۱۸۹) یومولوي صاحب دلته دامسئله بیان کړه چه دي سره عوامو ته مشکل

جرړشو هغه داچه مولوي صاحب فرمائيلي دي په څنګه دربېنمو تارتقسيمونکې په خوله کې ريښم تلوسره دهغې رنګ په توکانړوکې راځي که روژې په حالت کې دغه توکانړي تيرشول نوروژه ماته ده دغه شان پان خوړونکې ته هم سره دخولې صفاکولونه هم دپان هغه سوروالی په توکانړوکې سحره پورې راځي کوم سرې چه پان خوري هغه که خوله صفاهم کړي اوبيائې هم دغه توکانړي تيرشول روژه ماته شوه اوس معلومات کوو چه ددې پان قياس دربېنم په مسئله بادندې کول صحيح دي يانه که صحيح وي نوبياخودتول عمرپان خوړونکوباندې ددغه روژودوباره نيول لازم دي يانه که لازم دي بياچه کوم دمرضونودوجه نه دتمباکوخوړلوعادت دې هغوي ته به ډيرتکليف شي سره دتيريدو دتوکانړودروژې دصحيح والی که څه صورت وي نووې ليکې ؟

جواب: دربېنمو تارتقسيمونکې مسئله خودروژې په حال پورې مقيدده يعنې دروژې په حالت کې هغې تارپه خوله کې لوندکړو اوکټ کړو اوپه توکانړوکې دهغې رنګ راغې اوهغه څوک تيرکړي اودلته خوپان دروژې په حالت کې نه شي خوړلې مخکې نه خوړلې شوي وې چه دهغې اثرپه خپله روژه کې هم سره دکوشش دلرې کولونه هم موجودوې کوم چه داختيارنه باهردې اوداسې غيراختياري اثرروژه نه ماتوې په خپله دروژې په حالت کې هم دوړه يامچ يالوګی مرې ته دننه شي هغې سره هم روژه نه ماتيږي څکه چه هغې ته بې عذروئيلې دي لعدم امكان التحرزعنه دارنګه وئيلې شويدي اوبقى بلل فيه بعدالمضمضة وابتلعه مع الريق كطعم ادوية ومص اهليلج الخ كذافى الدرالمختار رجب ۳۲هـ (خامسه / ص ۲۲)

حكم فسخ نيت صوم درشب

سوال: (۱۹۰) يوسړي درمضان په شپه دروژې درمضان نيت وکړويابغيردرمضان نه دشپې يادورځې دنفل روژې نيت وکړواوس هغه په شپه کې ياورځ کې عذردوجه نه يابغيردعذرن نيت ماتوولې شي يانه اوکه ده دانيت په عذرسره يابغيرعذرنه مات کړواوکوژه يې وکړه نوپه ده کفاره ده ياصرف قضاء؟

جواب: نيت ماتول دشپې ممکن دي چه دکوژې قصدوکړي اودورځې چه کله روژه شروع شوه اوس نيت ماتول بې کاره دي ولا يبطل بالمشية (قوله انشاء الله) بل بالرجوع عنهابان

يعزم ليلاً على الفطر ونية الصائم الفطرلغو (درمختار) نوکه رمضان کې دشپې نيت کړي وه اومات ئې کړو اودورځې ئې کوژه وکړه نوقضالازم ده. ومن اصبح غيرناوللصوم فاكل لا كفارة عليه. اوکه دورځې يې مات کړواوکوژه يې وکړه نوکفاره لازم ده لمامرمن ان نية الصائم الفطرلغو اوکه بغيردرمضان نه دشپې نيت يې دروژې وکړه اوماته يې کړو نونه قضاشته اونه کفاره لمامرانهاتبطل بالرجوع ليلا اوکه دورځې يې نيت مات کړونوقضالازم ده لا لغوکمامر. اوکه معين روژه وي نوپه هغه کې بغيردعذرنه نيت ماتول جائزنه دي اوکه معين نه وي دهغې وخت نوجائزده. والله اعلم. ۱۳۰۴ هـ (امداد /ج۱/ ص ۱۸۲)

حكم افطارغيرناوى صوم

سوال: (۱۹۱) يوسړي په رمضان کې دشپې نه نه ده روژې دنيوونيت وکړو اونه ده نه نيوژ ورځې هغه ته خوراک څښاک جائزدي يانه اوکه څه يې ونه خوړل اونه يې څه وڅښل نودهغه روژه صحيح ده يانه. اوکه کوژويې وکړه نوپه ده قضاده ياکفاره ؟

جواب: که چرې په رمضان کې روژه داردزوال نه مخکې نيت ونه کړو نودهغه روژه صحيح نه ده اګرکه دورځې اوږې تږې وي. خوخوراک څښاک دحراموالی دوخت دوجه نه جائزنه دي اوکه خوراک يې وکړونوصرف قضاپرې لازم ده. لمامران من اصبح غيرناوالخ. والله اعلم ۱۳۰۴هـ (امداد /ج۱ / ص ۱۸۲)

حكم دادن كفاره نمازميت به بنى هاشم

سوال: (۱۹۲) دفوت شوؤلمونځونودکفارې په مصرف يوه شبه پيداشويده که مرحومې وصيت کړې وي نوبياخوبه دمال ددريمې حصې څخه دهغې ويستل واجب دي اوداکفاره به صدقه واجبه کې دشماريدودوجه نه په شان دزکات، عشر، سرسايه، اودروژې دکفارې هاشميانو ته نه ده ورکول پکارخوچه هرکله يې وصيت نه دې کړې نودايوتبرع (احسان) شوه اوداصدقه نفلي شوه پدې وجه دنورونفلي صدقو په شان هاشميانوته ورکول جائزکېدل پکاردي مادامسئله تلاش کړه هيڅ ځاي کې هم ملاؤنه شوه دبهشتې زيوردعبارت نه چه که کفاره يې ويسته نوخپل فضل اوکرم سره هغه قبول کړه ددې خيال تائيدکوي چه کفاره تبرع ده ؟

جواب: بالکل تبرع ده اوددي مقتضاهم ښکاره خبرده چه دغه ده چه بني هاشم دپاره دي جائزشي مګردغورکولونه معلومیږي چه دفدیې دلا زم حکمونونه داهم ده چه بني هاشم دهغي مصرف نه وي، اوپدي کې دارازدي چه داتبرع ده خولګیدلي ده دواجب سره دوجه دفدیې کېدونه کني په دي کې به دهغي اثرڅه امیدنه وه کوم چه فدیه کې دي نوددي مثال دنفل لمونځ په شان دي چه اودس وغیره هغي دپاره هم شرط دي دهغي نظیر دفقهاؤپه کلام کې دادي چه دعقیقي(دماشوم سرکلي کول، حکمونه ئي دقرباني په شان لیکلي دي حالانکه عقیقه واجب نه ده بلکه په خپله که قرباني هم نفلي وي نودهغي هم دغه حکمونه اوشرطونه دي کوم چه واجب دي سوچ وکړي نوروعالمانوته رجوع کول هم مناسب دي جمادی الاول . ۱۳۳۸هـ!

دروژي کفاره په اداکولوکې دکال تعین کول اودروژي په کفاره کې تتابع (پرله پسي والي) ضروري ده

سوال:(۱۹۳) یوکس باندي ددوورمضانودوه روژي دکفاري وي څوکاله وشول چه هغه بغیردتعین نه دهغه کال کوم کې ئي چه روژه ماته کړي وه دیوې روژي کفاره ئي ورکړه نو داکفاره دیورمضان صحیح شوه یانه اودکوم رمضان صحیح شوه دړومبني یادروستني اوس دبل رمضان کفاره سره دتعین دکال نه یي ورکوله پنځلس روژي یې نیولي وي په شپاړسم روژه کې ئي نیت کول دشپې نه هیرشو اودزوال نه پس یادشوچه زه دفلا نکې کال دروژو کفاره ورکوم اونن نیت کول ماته تولة شپه یادنه شول غرض داچه هغه روژه مي هم پوره کړه اونوروژي نیسم اوس اوفرمائي چه کله شپیته روژي وتیوي شي نو کفاره پوره شوه یانه ځکه چه کفاره کې دشپې نه نیت کول ضروري دي اودده نه یوپه هیره پاتي شویده اوکه دړومبي روژه کې نیت شرط وي نومعلومه نه ده اوکه دده بی بی دمعمول مطابق هره ورځ دی دخوبه پاځولي وي اوپیشمني ئي پري کړي وي اوده ته په خوراک کولو کې دروژي خیال راتغي یاصبائي ته نزدي داوبوڅکلوضرورت راغي اوده پدي خیال چه اوس به صباشوي وي پدي وجه یي اوبه ونه څکلي خودروژي خیال ورته رانغي نوبیاهم دغه کفاره صحیح کېږي یانه . که نه صحیح کېږي نوکه ددغه یوي روژي قضاراوړي نوصحیح ده یانه یادسرنه بیاشپیته روژي اونیسي ؟

جواب: فی الدرالمختاروالشرط للباقی من الصیام (قـول ومنهاصـوم الکفـارة) قـران النیـة للفجرولوحکماوهوتبیت النیة للضروره وتعینهاالخ. وفیه ولوتکررفطره ولم یکفر للاول یکفیه واحدة ولوفی رمضانین عندمحمد رحمه الله وعلیه الاعتمادفی ردالمحتارقوله وعلیه الاعتمادنقلــه فی البحرعن الاسراروتقله قبله عن الجوهرة لوجامع فی رمضانین فعلیه کفارتان وان لم یکفر للاول فی ظاهرالروایة وهوالصحیح الخ . قلت فقداختلف الترجیح کماتری ویتقــوی الثــانی بانــه ظاهرالروایة الخ. وفی الدرالمختارباب الظهاروالاصل نیة التعین فی الجنس المتحــدسببه لغــوونی المختلف سببه مفیدوفی ردالمحتارولذاکان صوم رمضان من قبیل الاول والـصلوة مــن الثــانی وکذاصوم یومین من رمضانین(ای هومن قبیل المختلف سببه) ددي روایتونونه معلومه شوه چه دړومبني کفاره هرکله ده دکال تعین ونه کړو نودیوکال کفاره هم ادانه شوه (1)که چرې دیویقین یې کړي وي نوهم به دیوااداشوي وه برابره خبره ده که دړومبني وه که ددویمي مګردویمه کفاره ددي وجه نه چه مینځ کې یوه روژه صحیح نه شوه نوداکفاره هم صحیح نه شوه اوس به دسرنه بیادداړوروژوکفاره اداکول راځي فعلاً. والله اعلم ۳۰ شوال / ۲۲ھ (تتمه / ج۱ / ص ۵۹)

تداخل کفارات صوم یعني دڅوروژودپاره یوه کفاره پوره ده

سوال:(۱۹٤) دعمرپه وړومبني حصه کې زمانه څوروژي په قصدپاتي شوي دي اوځوپوري چه ماته یادوي تقریباً پنځلس یاشل به وي اوس که چرته ددي قضااوړل غوارم نودشریعت دحکم مطابق دهري روژي په بدل کې دوه میاشتي روژي نیول پکاردي اوپرله پسي نیول هم شرط دي په دي شرط باندي عمل کول ډیر مشکل معلومیږي ځکه چه دخوراک دکموالي دوجه نه اوس کمزوري ډیره زیاته ده اوددي سره که دوه څلورکاله برابرروژي هم اونیسم نوډیري کمزوري دوجه نه فرض عبادت کې به هم قصورراشي اوددي نه علاوه به نورهم ډیرحقونه ضائع شي نودي حالت کې څه کول پکاردي ؟

جواب:قضاخوددغه روژوپه شمیرکې برابرخوښکاره خبره ده چه ضروري دي یعني شل

(1) داحکم هله دي چه کله یې روژه په کوروالی ماته کړي وي که په غیرد کوروالی یې ماته کړي وي نوټول راجع په بنیادیوه کفاره واجب ده په دي وجه دتعین ضرورت پاتی نه شواوددواړوکلونوکفاره اداشوه ۱۲ رشید احمد عفی عنه!

روژي وي نوشل روژي نیول پکاردي اوس پاتي شوه کفاره په دي وجه قصداً د روژي ماتي کړي یعني چه شروع کولو سره ماتي کړي پدي کي مختلف اقوال دي امام محمد رحمه الله په نزد دوؤرمضانونو کي بازیات روژو کفاره کي هم تداخل کولي شي کمافی الدرالمختار نو اوس که پدي حال کي چه کوم سوال کي ذکردي په دي قول هم عمل وکړیشي جائزدي نو پدي بنیاد باندي شپیته روژي پرله پسي دکفاري په نیت سره نیول واجب دي ددي نه هیڅ نه هم تیخته نشته او که شروع کولو سره یي نه وي ماتي کړي بلکه دسرنه یي نیت هم د روژو نه وه کړي نو صرف برابر قضا لازم ده کفاره لازم نه ده فقط ۳۰ ذی الحجه ۱۳۳۶ھ (تتمه اولی / ص ۲۰)

تحقیق وتفصیل تداخل کفارات صوم

سوال:(۱۹۵) دیورمضان دځلورپنځوروژودطرفنه یوکفاره (شپیته روژي) پوره ده یانه که پوره ده نو دهغي سره داشرط هم دي چه تولو روژي دیوسبب دوجه نه ماتي شوي وي یاداشرط نشته ؟

جواب:دراتلونکي سوال په جواب کي به ددي جواب هم راشي ۲۰ جمادی الثانی ۱۳۳۱ھ جواب بهشتي زیور دریمه حصه کي یي لیکلي دي **مسئله** که دیورمضان دوه دري روژي چا ماتي کړي نویوه کفاره واجب ده البته که دغه دوه روژي دیورمضان نه وي نوجداجدا کفاره به ورکول راځي انتهی ددي مسئلي نه مطلقاً معلومیږي چه برابره خبره ده د هرقسم سبب نه چه داروژي خوړلي شوي وي یوه کفاره کافی ده او دبل څه سبب تحقیق نشته خو په دي شرط چه دیورمضان وي بهشتي گوهر کي په تتمه دریمه حصه کي . ذکردي **مسئله** دکوروالي نه علاوه که دبل څه سبب نه کفاره واجب شوي وي او یوه کفاره تراوسه پوره شوي نه ده بل کفاره واجب شوه نو دي دواړو دپاره یوه کفاره پوره ده اگرچه دواړي کفاري ددوؤرمضانونووي هن که دکوروالي په وجه څه روژي ماتي شوي وي نو دهریو کفاره پوره به جداورکوي اگرکه ورمبني کفاره ددوؤرمضا نونووي هن که دکوروالي په وجه څه روژي ماتي شوي وي نو دهریو کفاره به جداورکوي اگرکه ومبني کفاره ئي نه وي اداکړي انتهی ددي مسئله نه معلومیږي چه که روژي دکوروالي په سبب ماتي شوي وي نویوه کفاره پوره نه ده اگرچه دیورمضان وي او که دکوروالي نه علاوه دڅه بل سبب نه کفاره واجب شوي وي نویوه کفاره پوره ده اگرچه ددوؤرمضانونووي لکه

دیوکس چه ددوؤرمضانونوروژي یوځاي کړي نوپنځه روژي شي داپه څه سبب سره دکوروالي نه علاوه ماتي شوي وي نو دورومبي مسئله مطابق یوه کفاره پوره ده او ددویم مسئلي مطابق پنځۀ کفاري ورکول راځي نو کومه خبره صحیح ده[1] ؟ جواب -: دبهشتي زیورسند کي خو هغه وخت څه روایت ملا ؤنه شو مولوي احمدعلی صاحب مرحوم پته نه لګي چه دامسئله دکوم ځاي نه لیکلي ده البته دبهشتي گوهر موافق روایت په درمختاراورد المحتار کي شته خو ورمبني مسئله کي بغیراختلا ف نه او دویمه کي سره داختلا فه فقط

عدم وجوب تقدیم قضاء برکفاره

سوال:(۱۹۶) جناب دقضاروژوپه باره کي فرمائیلي وه چه دټولوروژو کفاره شپیته روژي دي اوس داعرض کوؤچه قضاروژي مخکي نیول پکاردي یادکفاري روژي مخکي نیول پکاردي ؟

جواب:فی ردالمحتارتحت قول الدرالمختارقض وکفرمانصه وانما قدم القضاء اشعاراً بانه ینبغی ان یقدمه علی الکفارة الخ،ج۲ / ص ۱۷۴ / ددي روایت نه معلوم شوه چه زیات بهترخوداده چه قضاروژي اول ونیوي شي خو که دکفاري روژي هم ورومبي ونیسي بیاهم جائز دي ۹ ذی قعده ۱۳۳۵ھ (تتمه خامسه / ص ۳۸)

---

[1] حاشیه بهشتی گوهر:- ازمولاناظفراحمدمدظله دي مسئله کي دري مذهبه دي یوداچه چه مخکي دکفاري نه مطلقاً تداخل کیدیشي دویم داچه یورمضان کي مطلقاتداخل کیدیشي او دوؤرمضانوکي مطلقاً تداخل نه شي کیدی دریم داچه دجماع په کفاره کي مطلقاً تداخل نه شي کیدی او دغیرجماع په کفاره کي مطلقاً تداخل کیدیشي په بهشتي زیورکي یي دریم مذهب اختیار کړي دي او په بهشتي گوهر کي دریم مذهب دااختلاف دمولوی احمدعلی صاحب مؤلف بهشتي زیوراومولوي عبدالشکور صاحب دفقه دعلم دي او حضرت مولانامرحوم ومغفورپه تتمه ثانیه امدادالفتاوی صـ ۳۷ کي دیوسوال په جواب کي مسئله دبهشتي زیور غیرمعلوم السند او مسئله دبهشتي گوهر یي مستنددالدرالمختارورد المحتارخیال گرځولی دي او مونږه دهغي په اصلاح کي ثابت کړیدی چه مسئله دبهشتي زیور درمختار نه ماخوذده. اودغه دهغه په نزدراجح ده من شاء التفصیل فلیرجع الی اصلاحاتنا المتعلقة بالتتمة المذکور ۱۲ تصحیح الاغلاط بیاوروستو دبهشتي گوهرپه مسلک کي ترمیم اوشواوس حاصل دمسئلي دادي چه په غیرجماع کي مطلقاً تداخل جائزکیدیشي او جماع کي دیورمضان کفاری متداخل کیدیشي ددوو رمضانونه ځکه چه جماع مطلقاً تداخل نه کیدل دظاهرروایت نه خلاف دي . کمایظهرمن الشامیة زمرافی الفلاح - خلاصه داده چه په ظاهرروایت کي دیورمضان کفاری متداخل کیدیشي هرکله چه تراوسه یي څه کفاره نه وي اداکړي ددوو رمضانونه شي متداخل کیدي او په دیکي جماع او غیرجماع ټول برابر دي خو مونږپه غیرجماع کي قول صحیح اومعتمد اختیی دي ۱۲ ظفراحمد ختم!

طاعوني ستن (ټيکه) سره روژه نه ماتيږي

سوال:(۱۹۷) څه طاعوني جراثيم دېيزي ياګډي په يخني ياپيووغيره بهيدونکې شي کې اچوي چه کوم ځاي کې هغه خپل نسلونه زياتوي بيادذغه ذکر کړي شوي مادي نه لږغوندي واخستی شي اودستن په ذريعه ديوسوئي يادمنږک وغيره په جسم کې داخل کړي چه هغي يې سره په دغه سويه يامنږک کې دطاعون مرض علامې ښکاره شي اوچه کله لږښه شي نوبيادهغه مادي نه لږغوندي دهغه په جسم کې داخلولي شي داخل دطاعون علامې دورومبي په نسبت ډير کمزوري وي دغه شان څوځله چه ددي مادي نه دسويي اودمنږک په جسم کې داخلولوسره ددي منږک اوسويي داحالت شي چه بيالږغوندي طاعون جراثيم ورکې واچوي نوپه سويه اومنږک کې علامې دطاعون مرض علا مي ښکاره شي اوچه کله لږښه شي نوبيادهغي مادي نه لږغوندي دهغه په جسم کې داخلولي شي داخل دطاعون علا مي دوورمبي په نسبت ډيرکمزوري وي دغه شان څوکله چه ددي مادي نه دسويي اودمنږک په جسم کې داخلولوسره ددي منږک اوسوېي داحالت شي چه بيالږغوندي طاعون جراثيم ورکې واچوي نوپه سويه اومنږک علا مي دطاعون نه پيداکېږي څکه چه دهغي وينه ددغه مادي دزهرونه داسي متاثره شي چه بياهغه قسم لږ غوندي زهرپه هغوي باندي هيڅ اثرنه کوي اوس ددغه سويي يا منږک دويني نه هغه وينه واخلي اودستن په ذريعه يي يوصحت مندانسان په بدن کې داخل کړي نوهغه سره معمولي غوندي علا مي پيداشي چه دهغي نه هغي ډيرزربنه شي اوبيايه دغه طاعوي مرض کې دمبتلا کېدوويره نه وي اوکه متبلاکېدوويره هم وي اوکه مبتلا هم شي نودهغي نه معمولي غوندي طاعون مرض پيداشي هلا کوونکی نه وي اودهغي اثرشپږومياشتوپوري وي شپږومياشتونه پس که ضرورت وه نو بياستن لګول پکاردي بهرحال ددي تفصيلي حالت اوکېفيت ليکلونه زمااصل مقصد چوکوم باعث دي ددي خط دليږلونه هغه دادي چه روژه دارته داسي ستن لګولوسره به څوڅه نقصان نه راولي ياروژه ورسره ماتيږي که ماتيږي نوقضاسره کفاره هم لا زم ده يانه داخيال دي وي چه طاعون ټيکه (ستن) يوقسم دوائي ده اودګس لا س په مټه باندي وهلی کېږي دپچکاري هغه سوکه چه داوسپني ده اوپه اوږدوالي کې دري کرښي برابروي توله په جسم کې داخلولي شي چه دهغي اثر په رګ رګ اودماغ وغيره کېږي داديوفتوی په شکل کې خط ستاسوپه خدمت اقدس کې درليږلی کېږي ؟

جواب:ددي سره روژه نه ماتيږي البته دوائي په پليت شي سره ده ددي وجه نه پکې اختلاف دي. ۲۲رمضان / ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی / ص ۲۲)

په روژه کې په خوله کې ددوائي کېښودوحکم

سوال:(۱۹۸) که ديوسړي په غاښ درد وي دهغي دلري کېدودپاره څه دوائي استعمال کړي پدي طريقه سره چه هغه دوائي مري کې دننه لا ړه نه شي يادپان خورو واله دپان پاڼړه خوله کې اوژوي اوتوکاڼړي دننه تيرنه کړي يانسوارچه تمباکوميده کړي اودهغي نه جوړکړي اودپنجاب ډيرخلق يي خوله کې اچوي ځيني خلق يي پوزي سره بوي کوي ديته يعني نسوار صرف خوله کې کېښودوسره خپل عادت پوره کړي نوروژه ماتيږي يانه په دليل سره جواب راکړي بينواتوجروا؟

جواب:فی درالمختار وکره له ذوق شئی وکذامضغه بلاعذرقيدفيهما الخ،ثم عدعذراً مست اليها الحاجة فی الحال ككرن الزوج الخلق وخوف الغبن فی الشراء،ددي نه معلومه شوه چه داټول صورتونه مکروه دي. لا سيماء قدايدالكراهة الحديث من قوله ﷺ افطر الحاجم والمحجوم وقوله عليه السلا م من رفع حول الحمی اوشک اويوقع فيه ۱۲ رمضان المبارک ۱۳۲۹ ھ (تتمه اولی / ص ۲۵)

التي(قي) روژه ماتونکي ګنړلوسره قصداً خوراک وکړي دي باندي دقضااوکفاري حکم

سوال:(۱۹۹) يوبيمارسړي په رمضان کې روژه داروه. صبايي هغه قی په ډکه خوله وکړي بياپړي تنده زياته شوه خودروژي دماتيدودويري نه يې دوائي ونه څکله څکه چه هغه کس نه پته وه چه التي کولوسره روژه نه ماتيږي خوديوسړي نه ئي دجمعي دمانځه نه پس خپل خيال صحيح کولو دپاره تپوس وکړو چه التي سره روژه ماتيږي يانه نوهغه سړي ورته ووئيل چه التي سره خوروژه ماتيږي که تکليف وي نوکوژه کړه پدي وجه دغه بيماردمانځه نه پس دتُندي سړي دوائي اوڅکله وروستوورته معلومه شوه چه التي سره خوروژه نه ماتيږي اوس دي صورت کې به روژي قضانيول راځي يادوراه يعني قضااوکفاره به اداکول راځي اوددي بيمارروژه ماتول قصداً به ګنړي ياغلطي سره که قصداً ده نوقضااوکفاره دواړه راځي اوکه غلطي سره وي نوبياپړي قضا اوکفاره دواړه نشته يا شته مالا بدمنه دفارسي کې يې ليکلي دي که اګردواياغذا قصداً خورد کفاره واجب بود مګرمحشی

صاحب دخزانه المفتين اوعالمگيري په حواله سره ليکي که اين سخن وقتی است که دواغذا برائی اصلاح بدن وبدل مايتحلل مقربوده باشد يعني اوراازجنس دوا غذا قرارداده باشند و الا کفاره لازم نيايد آری قضاواجب شود . کذا فی خزانة المفتين هکذا فی العالمگيريه (۲) درمضان دروژي دکفاري څه قاعده ده دهغه څومره اندازه ده فقط ؟

جواب: دعامي فتوی ورکول شرعاً څه شبه نه پيداکوي پدې وجه دغه کوږه کول به قصداً گڼرلي کېږي که تنده قابل دبرداشت وه نوبياروژي ماتولو سره قضااوکفاره دواړه لازم دي فی الدرالمختار اذاحتجم فظن فطره به فاکل عمداً قضی وکفرلا نه ظن فی غيرمحله حتی لوافتاه هفت يعتمدعلی قوله الی قوله لم يکفرللشبه وفی ردالمحتارويشترط ان يکون المفتی ممن يوخذمنه الفقة ويعتمدعلی فتواه فی البلدة. ج۲/ص۱۷۴/ دکفاري شپيته روژي به پوبل پسي نيسي فقط. ۸ رمضان / ۱۳۳۰هـ (تتمه اولی / ص ۲۲)

بخورهغه څيزونه چه سوزولوسره دهغي نه خوشبوئي څي دي سره روژه ماتيدل

سوال: (۲۰۰) ماقولکم ايهاالعلماء الکرام دام فضلکمطحطاوی حواشی مراقی الفلاح کښې دي فی سکب الا لحر لوجدبدامن تعاطی مايدخل غباره فی حلقه افسدلوفعل الخ. ويدل عليه التعلل بعدم امکان الا حتراز انتهی اومحقق ابن عابدين شامي په حاشيه ددرمختارکښې ليکي اذاوجدبدامن تعاطی مايدخل غباره فی حلقه افسد لوفعل شرنبلا ليه انتهی. ددي دواړوعبارتونواومثالونونه دااثابتيږي چه که روژه دارته دداسي کارنه بچ کېدل بغيردنقصان اودتکليف نه ممکن وي چه دهغي په مري کښې ددوړي يالوگی دتنه کېدوباعث وي ددي نه باوجودهم دي داکاروکړي نوروژه بې ماته شوه درمضان شريف کښې دورځي په دريمه ياڅلورمه ورځ په مړوکي يادميلادشريف په مجلس کښې دروژه دارودلي په خواکښې لوبان يوقسم گوندي دي چه لرگي باندي ئي کېدي اووي سوزوي يوخوشبوئي پيداکوي سوزول اگربتي بلول چه داڅه ضروري کارنه دي ددي نه بغيرهم دگلابواوبوشيندلووغيره سره ياعطر تقسيمول په خلقوکښې يادروژه داروپه خواکښې لوبان يااگربتي بلول اودهغي نه گيرچاپيره نژدي نژدي دروژه داروناسته په داسي ځاي کښې چه کښې لوگي په مري اودماغوکښې ددي خلقويقيناً اوضرور رسي اوس ددي کارکولو دوجه نه چه لوگي مري يادماغوته ورسي سره ددي نه چه دهغي نه ځان بچ کول ممکن وه

اويامجبوري دوجه نه ممکن نه وي ددي عبارت موافق افسدلوفعل داکارونه روژه ماتوونکي دي يانه بينواتوجروا؟

جواب: داکوم قيدونه چه سوال کښې ذکرشويدي داپه خپله روژه ماتوونکي دي اوقضا راوړل پې واجب دي؛ فی الدرالمختاراودخل حلقه غباراوذباب اودخان ولوذاکرا استحساناً لعدم امکان التحرزعنه فليتنبه له کمابسطه الشرنبلالی وفی ردالمحتارقوله لوادخل حلقه الدخان ای بای صورة کان الادخال حق لوتبخربخورفاواه الی نفسه واشمه ذاکرا لصومه افطرلامکان التحرزعنه وهذامايغفل عنه کثيرمن الناس ولايتوهم انه کشم الوردومائة والمسک لوضوح الفرق بين هواء تطيب بريح المسک وشبهه وبين جوهردخان وصل الیٰ جوفه بفعله امداد وبه علم حکم شرب الدخان الخ !

ذی قعده ۱۹ ۱۳۳۰هـ (تتمه اولی /ص ۲۷)

عمل برتخمين درتعدادصيام فاسده

سوال: (۲۰۱) که ديوکس نه ددوه دريوکالودرمضان دروژي خوړلي شويدي خويورمضان کښې ځيني روژي دکوروالي په وجه ماتي شويدي اوځيني دڅه بلي وجه نه ماتي شوي وي چه هغي سره صرف قضاواجبيږي اويورمضان کښې صرف دقضاروژي خوړلي شويدي خوپوره طريقي سره ياد نه دي چه رمضان کښې دکفاري روژه نه وي خوړلي شوي اوداهم معلوم نه دي چه هررمضان کښې څومره روژي خوړلي شويدي خوپه اندازي سره معلوميږي چه پنځه پنځه ياشپږشپږروژي به وي اوداپانه دي چه په هررمضان کښې څومره روژي کوروالي په وجه ماتي شويدي اوڅومره روژي په بل سبب ماتي دي يعني هغه سبب سره چه کوم کښې صرف قضا واجبيږي نواوس ددي روژوقضا اوکفاره څه رنگه اداکړي اونيت هم څه رنگه وکړي ؟

جواب: غالب گمان باندي دعمل وکړي احتياط دپاره دي دوه څلورروژي زياتي ونيسي اوپه نيت کښې درمبي روژه واجب ونيل کافی دي. ۲۱ جمادی الثاني ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثانيه / ص ۳۵)

وجه مفطر نبودن غيبت باوجودمفطر بودن زنا حالا نکه غيبت اشدمن الزنااست

سوال: (۲۰۲) کنزالدقائق کښې راغلي دي چه ومن جامع اوجومع اواکل اوشرب غذاً

اوداوا . عمداً قضی کفر . اوحدیث کې راغلي دي. وعن ابی سعيد وجابر رضي الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ الغيبة اشد من الزنا الخ . هرکله چه زناسره روژه ماتيږي نوپه غيبت سره په طريقه اولی ماتيدل پکاردي پدي چه غيبت دزنانه زيات سخت دي ؟

جواب: اشد يعني سخت کېدلوسره روژه ماتيدل لا زم نه راځي ځکه چه دا سخت والی په اعتبارگناه دي نه پدي اعتبارچه دروژي رکن سره ئي منافات دي په خلاف دخوراک ځکاک اودکوروالی چه دادروژي سره منافی دي يعني امساک عن المفطرات الثلث اخری درجه ده چه هغه روژه دوجه ديوځاي کېدودگناه نه قابل قبول نه ده خودنه قبليدوسره صحيح کېدل لا زم نه دي لکه ځنگه چه پينسوزورندولوسره نمونځ نه قبليږي خوصحيح کېږي اوداسخت والی هم من کل الوجوه نه دي بلکه خپله حديث کې دهغه خاص وجه بيان شويده چه زناتوبي سره معاف کېږي اوغيبت بغيردهغه چانه چه تادهغه غيبت کړيدي هغه تامعاف نه کړي نونه معاف کېږي'

۱۲ رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانيه/ ص ۷۰)

حکم تبرودرصوم برائ دفع تشنگی

سوال: (۲۰۳) درحالت صوم ازشدت تشنگی برائ تفريح وتبريد غسل کردن جائزاست يانه ؟

جواب: فی الدرالمختار لا تکره حجامة وتلفف بثوب مبتل ومضمضة واستنشاق اواغتسال للتبرد عند الثانی وبه يفتی وفی ردالمختارقوله وبه يفتی لا ن النبی ﷺ صب علی راسه الماء وهوصائم من العطش اومن الحررواه ابوداود وکان ابن عمر رضي الله عنهما يبل الثوب ويلفه عليه وهوصائم ولان هذه الا شياء بها عون علی العبادة ودفع التضجرالطبعی وکرهها ابوحنيفة رحمه الله لما فيها من اظهارالضجرفی العبادة کما فی البرهان امداد ج۹ /ص/ ۱۸۳ ازين روايت معلوم شد که اگرغسل کردن بدين طوراست که ازواظهاربی صبری می شود کراهت دارد واگربطورتسهل عبادت واستعانت بروباشد غيرمکروه است وهووجه التوفيق بين قول الا مام والثانی '

رمضان ۱۲ / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه /ص ۷۷)

په روژه کې دشين مسواک وهلوحکم

سوال: (۲۰۴) په روژه کې دکيکرشين مسواک وهل جائزدي يانه ؟

جواب: جائزدي .لما فی الدرالمختارولاسواک ولوعشيا اورطبابالماء علی المذاهب فی ردالمختار اماالرطب الاخضرفلا باس به اتفاقاً کذافی الخلا صه ملخصا "

ج۲ / ص ۱۸۳ / ۳ شوال / ۱۳۳۳ھ (تتمه اولی ثالثه / ص ۸۷)

په روژه کې په غاښونوباندي ددوائي مکلو(منجن وغيره) حکم

سوال: (۲۰۵) په بهشتي زيوردريمه حصه صفحه پنځلس باندي روژه ماتوونکې څيزونوپه بيان کې ئي ليکلي دي. مسئله کوئله اوجوي اوغاښونوپوري مگل چه صفاني دپاره اومنجن(دغاښونوصفاکېدودوائي) ، سره غاښونه صفا کول مکروه اوکه ددې نه څه مري کې لا ړل نوروژه ماته شوه سخکال يوکس پدي اعتراض وکړو اوهغه اوونيل چه څوپوري دمري نه ښکته نه وي تلې روژه کې څه خرابي نه راولي اوداخبره بالکل غلطه ده داخوداردو رسالي دي په دي څه اعتبارپکاردي بلکه دومره مخکې لاروچه که کوئلي سره يامنجن سره غاښونه صفاکول مکروه شول نوزه ئي ذمه داريم اوددي کس دوجه نه پدي کال روژه څه کسانوخپل غاښونه کوئلي اومنجن سره صفاکول بلکه ماته اونوروکسانوته هم ډيرسختي سره اووئيل که څه روايت په فقه کې ددي په ثبوت کې اوليکلي شي نوڅه لړې ده کېديشي چه ددي خلقواصلاح وشي چه خپل ملگري به زيات مضبوط شي ؟

جواب: فی الدرالمختاراوذاق شيأبفمه وان کره لم يفطرفی ردالمختارقوله ان کره ای الاعذر کماياتی. ط ج ص ۱۶۲/ثم قال فی الدرالمختار وکره له ذوق شئ وکذا مضغه بلا عذر قيدفيهماقاله العينی ککون زوجها اوسيدهاسئی الخلق فذاقت وفی کراهة الذوق عندالشراء قولا ن ووفق فی النهر بانه ان وجد بدا ولم يخف غبناکره و الا لا الی قوله وکره مضغ علک ابيض ممضوغ والا فيفطرفی ردالمختارقوله ابيض قيده بذالک لا ن الا سود غيرالممضوغ وغيرالملتئم يصل منه شئ الی الجوف الی قوله فان کان مما يصل عادة حکم بالفساد لانه کالمتيقن . ج۲ / ص ۱۸۰ / ددې روېتوانونه واضحه شوه چه دا کارمکروه دي اوکه عادةً خيټې ته ورسي نوروژه ماته ده. ۲ذی قعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۶۹)

حکم خوردن علانیه دررمضان برائ معذورفطر

سوال:(۲۰۶) رمضان کې که څوک بیماروي یاحائضه وي دهغوي روژه دارانومخامخ پیان یاډوډي خوړل په شریعت کې جائزدي یانه ؟

جواب:فی النهایه قیل تاکل الحائض سراوقیل هی والمسافر والمریض جهـــراً . جامع الرموز.ج۱ / ذی قعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۱۰۹)

مکروه نبودن روزه ازبودن دندان مصنوعی دردهن

سوال:(۲۰۷) څه فرمائي عالمان په دي مسئله کې چي دیوسړي غاښ مات شویدي هغه په خپله خوله کې هروخت مصنوعی غاښونه لګولی وي غاښونه دسنګ مرمر اوبرنه جوړشویدي دوه څیزونونه مصنوعی غاښونه جوړیږي نه پکې بوي شته نه مزه نه په دي دواړوڅیزونوکې څه شي په اوبوکې حل کیږي . اوس هغه سړي روژه نیول غواړي نواوس سوال دادي چه دروژي په حالت کې که دغه مصنوعي غاښونه خوله کې وي نوروژه خوبه نه مکروه کیږي صحیح جواب سره خبرداري راکړي ؟

جواب: نه مکروه کیږي، ۱۸ شعبان ۱۳۳۸ ھ (تتمه خامســه / ص ۱۵۲)

حکم وجوب کفاره برافطارکردن قبل الغروب بسبب رویت هلا ل قبل ازغروب

سوال:(۲۰۸) تیرشوي رمضان دزیات دورځي نه شروع شوي وه اوپه دیرشم تاریخ دجمعه په ورځ ختمیدونه پس دخالی په شپه سپوږمي اولیدي شوه اوپه ټول هندوستان کې دخالي په ورځ اخترشوه مګرچرته اتفاق سره داوشول چه دناپوهي دوجه نه دجمعی په ورځ دغرمي نه روستویادهغي نه لږ مخکې سپوږمي لیدوسره دورځي یعني دیرشم تاریخ باندي یې روژه ماته کړه نوپه دي صورت کې په دوي باندي صرف قضا ده یاکفاره به هم ورکول راځي دمعتبروکتابونوپه حواله سره جواب راکړي اودغرمي نه مخکې یادوروستولیدودواړه یوحکم دي یاڅه فرق شته که فرق وي نوڅه فرق دي ؟

جواب:فی الدرالمختارورویته بالنهارللیلة الاتیة مطلقــاً علــی المــذهب ذکــره الحــدادی وفی ردالمختارمطلقا ای سواء رأی قبل الزوال اوبعده وقوله علی المذاهب ای الذی هــو قــول ابی حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله قال فی البدائع فلا یکون ذالک الیوم من رمــضان عنــدهما قــال

ابویوسف رحمه الله ان کان بعدالزوال فکذالک وان کان قبله فهوللیلة الماضیه ویکون الیوم مــن رمضان وعلی هذا وعلی هذا الخلا ف فی هلال شوال فعندهمایکون للمستقبلة مطلق ویکون الیوم من رمضان وعنده لوقبل الزوال یکون للماضیه ویکون الیوم یوم الفطر الخ . وبعد نحونــصف صفحة لا ن الخلا ف علی ماصرح به فی البدائع والفتح انما هوفی رویته یوم الشک وهویوم الثلا ثین من شعبان اومن رمضان فاذاکان یوم الجمعة المذکور یوم الثلا ثین من الشهروروی فیه الهلا ل نهاراً فعندابی یوسف ذالک الیوم اول الشهر(ای بالقیدالمذکور) وعندهمالا عبرة لهذه الرویــة ویکون اول الشهریوم السبت ســواء وجــدت هــذه الرویــة اولا الخ،ج۲/ص۳۵۲/ وفی الدرالمختاراوحتجم فظن فطره به فاکل عمداً قضی وکفر لا نه ظن فی غیرمحله حتی لوافتاه مفت یعتمدعلی قوله اوسمع حدیثا ولم یعلم تاویله لم یکفر للشبهة وان اخطاالمفتی ولم یثبت الا ثرالا فی الادهان وکذا الغیبة عندالعامة زیلعی لکن جعلهافی الملتقی کالحجامة ورجحه فی البحرللشبة وفی ردالمختار قوله یعتمدعلی قوله ویشترط ان یکون المفتی ممن یوخذمنه الفقه ویعتمد علی فتــواه فی البلدة وح ویصیرفتواه شبهة ولا معتبربغیره الخ . وبه یظهران یعتمد مبنی للمجهول فلا یکفــی اعتمادالمستفتی وحده فــافهم قولــه وکذالغیــبة لا ن الفطرهایخــالف القیــاس والحــدیث وهوقوله صلی الله علیه وسلم ثلاث تفطر الصائم مؤول بالاجماع بذهاب الثواب بخلا ف حدیث الحجامة فان بعض العلا ماء اخذبظاهره مثل الا وزاعی واحد امداد ولم یعتدبخلا ف الظاهریة فی الغیبة لا نه حدیث بعدمامعنی السلف تاویله بماقلنا فتح وفی الخانیة قال بعضهم هذا والحجامه سواء وعامة المــشائخ قالوا علیه الکفاره علی کل حال لا ن العلماء اجمعوا علی ترک العمل بظاهرالحدیث وقالوارادبه ثواب الأ خرة ولیس فی هذاقول معتبر فهذاظن مااستندالیٰ دلیل فلا یورث شــبهة الخ، ج۲/ص ۱۷۴-۱۷۵ / ددي روایتونونه دافائده راوتله چه دزوال نه پس چه په دیرشم تاریخ سپوږمي ولیداي شوه هغه په اتفاق سره دراتلونکې شپي ده اودچاپه نزدهم دغه ورځ دوږمبي شوال نه ده نونه دچاعالم مذهب دي اونه حدیث صوموالروایته وافطروالرویته دچاپه نزددغه معني ده نودغه کارنه چرته حدیث کې شته اونه چرته فتوی شته نوهیڅ څه شرعی دلیل اونه موندی. شو چه هغه سره څه په لویه شبهه پیداشي پدي وجه دغه خلقوباندي قضااوکفاره دواړه لا زم دي البته که دزوال نه مخکې سپوږمي لیدل شوي دي نوپه هغه

کي به دا تفصیل وه چه که روژه ماتول د دغه حدیث په بنیادوي نودغه حکم به وه ځکه چه دحدیث دغه معنی دهیڅ یو په نزد هم نه ده او که دامام ابو یوسف رحمه الله په قول وي نو که ددغه قول څیر روژه ماتوونکي نه وي یا چا لوي مفتی دغه فتوی ورکولی نو صرف قضا لا زم راتله او که دا دواړه کاره نه وه بیا هم قضا او کفاره دواړه لا زم راتلل . اگرچه هغه کار د امام ابو یوسف رحمه الله دقول موافق وي ځکه چه د دغه کس دشبې څوځه وجه نه وه.
۸ ذی قعده ۱۳۳۸هـ (تتمه خامسه / ص ۱۲۲)

یو سړي ټول عمر په سفرکي وي نو هغه به قضا راوړي یانه

سوال:(۲۰۹) یو سړی اکثر په سفرکي وي او رمضان هم په سفرکي تیریږي رمضان نه پس هغه ته د پاتي کېدو موقع نه ملا ویږي که ټول عمر هغه ته داقامت (پاتي کېدو) موقع ملاونه شي نو د رمضان قضا په هغه لا زم ده یانه او د فدیه وصیت هم به هغه لا زم دي یانه بینوا ولکم عندالله الاجر الجزیل؟

جواب: په مسافر او مریض باندي قران کریم کي د قضا واجبیدو سبب یي صیام عدة من ایام اخر مونډل یي خو دلی دي نو که ورځي یي اوموندي نو قضا په اندازه د هغه ورځو موندلو شو واجب ده ګڼي نه واجبیږي اگر که ټول په سفرکي وي فلا تجب علیهم الوصیة بالفدیة لعدم ادراکهم عدة من ایام اخر ولو ماتوا بعد زوال العذر وجبت الوصیة بقدر ادراکم عدة من ایام اخر کذا فی الدر المختار (تتمه خامسه / ص ۱۴۹)

د روژي په حالت کي په فرج کي د ربړ داخلولو حکم

سوال:(۲۱۰) یو ضروري مسئله دي وخت کي دا پیښه شویده هغه داده یو زنانه د رحم (بچه داني) په مرض کي مبتلا ده او کمزوري هم ډیره زیاته ده هوښیار داکټري دنه ملا ویدو د وجه نه ئي حکیمي علاج پریخود او د داکټري علاج ئي شروع کړو ډاکټر علاج کي چه کوم هوښیاره مس ده دهغي نه علاج کوي هغه مس وائي چه د رحم د کوږوالی د وجه نه دا شکایت دي که چري رحم کي دننه د ربړ کړه یو میاشت دوه میاشتي د لاس په ذریعه ورخیژوي نو ارام به راشي پدي هغه خپله تجربه بیانوي او س سوال دادي چه رمضان شریف راغلو دغه ربړ دننه کولو سره چونکه اندام دننه دي په روژه کي څه خرابي راولي یانه او که څه خرابید د وجه نه رمضان شریف کي دا علاج مېذ کړیشي نو مرض نور هم زیاتیږي نو که

دي حالت کي روژه پریږدي او علاج کوي دا جائز دي یانه ؟

جواب: د روژي په حالت دغه ربړ کرخیژولو سره روژه ماتیږي خو که د روژي وخت نه علاوه یي خیژولي وي او د روژي په حالت کي په بدن کي وي نو د ربړ سره روژه کي څه نقصان نه راځي.
۲۷ شعبان المعظم / ۱۳۳۲هـ (حوادث خامسه / ص ۱۲)

دانجکشن ستنی سره روژه ماتیږي یانه

سوال:(۲۱۱) څه فرمائي علماء دین پدي مسئله کي چه د ستن په ذریعه دوائي بدن کي اچولي کېږي دی سره روژه ماتیږي که نه د شریعت په دلیلونو سره جواب راکړي ؟

جواب: ډاکټرانو نه معلومات کولو سره او بل د تجربي نه هم ثابت شویده چه انجکشن په ذریعه دوائي رګونو ته رسولي کېږي او ویني سره په رګونو کي هغه روانه وي دماغو ته یا خیټي ته دوائي نه رسي او روژه هله ماتیږي چه دوائي دماغو مینځ ته یا خیټي ته ورسي مطلقاً دیو اندام مینځ ته یا رګونو ته رسیدو سره روژه نه ماتیږي پدي وجه انجکشن په ذریعه چه بدن ته کومه دوائي رسول کېږي هغي سره روژه نه ماتیږي دفقهاؤ عبارتونو دوه قسم تقریباً بلکه حقیقتاً ددي دعوی تصریح کوي اول خو داده چه فقهاء په زخم باندي دوائي اچولو ته مطلقاً دا نه دي وئیلي چه دي سره روژه ماتیږي دا قید لګوي چه دا زخم دخیټي یا د دماغو وي ځکه چه دي دو و قسمو زخمو سره دوائي دماغو یا خیټي ته رسي ګنيُ رګونو کي دننه خونو رو قسمه زخمونو سره هم دوائي رسي نو هم ډیر دقیق جزئیات دا سي دي چه په هغي کي دوائي وغیره چه بدن کي دننه رسیدلي وي خو چه دماغو یا خیټي ته ونه رسي نو دا هم روژه ماتوونکي نه ده لکه د سړي وړوکي اود س ماني په اله کي چه دننه دوائي یا تیل واچوي نو د دریو واړو امامانو اتفاق دي چه روژه نه ده ماته شوي کما صرح به الشامی حیث قال وافاد انه لو بقی فی قصبة الذکر لا یفسد اتفاقاً ولا شک فی ذالک شامی ج۲ / ص ۱۰۳ / نقلا عن ابی بکر البلخی که دوائي مثاني پوري ورسي بیا هم د امام اعظم رحمه الله او د امام محمد رحمه الله په نزد روژه نه ماتیږي او امام ابو یوسف رحمه الله دي لره روژه ماتوونکي ګڼړي هغه هم په دي بنیاد چه هغه ته معلومه ده چه دمثاني او معدي په مینځ کي دتیرید و یوه لاره ده چه هغي سره دوائي معدی ته رسي ګني صرف مثاني ته په رسیدو باندي امام ابو یوسف هم داوئي چه روژه نه ماتیږي په دي صاحب دهدایه د اختلا ف په

باره کې فرمائیلي دي فکانه وقع عندابي یوسف ان بینه وبین الجوف منفذا ولهذایخرج منه البول ووقع عندابي حنیفة ان المثانة بینها حائل والبول یترشح منه وهذا لیس من باب الفقة محقق ابن همام ددي په تشریح کې فرمایي یفیدانه لا خلا ف لواتفقوا علی تشریح هذالعضوفان قال ابی یوسف بالافساد انماهوعلی بناء قیام المنفذبین المثانة الجوف (الی قوله) قـال فی شـرح الکـنز وبعضهم جعل المثانة نفسهاجوفاً عندابی یوسف وحکی بعـضهم الخـلا ف مـادام فی قـصبة الذکرولیسابشئی الحق . دغه رنګه که غوږ کې اوبه واچوي نوروژه ورسره نـه مـاتیږي کماصرح به فی الدرالمختاروالخلا صه . حالانکه غوږهم یوخالي ځاي دي دغه شان که یوسړي انګوروغیره دیوتارسره وتړي اوعنباً مربوطابخیط اخرجه لا تفسدصومه خلا صه ومثله فی العالمګیره مطبوعة الهند/ص ۲۰۲ ولفظ ومن ابتلع لحماً مربوطاً علی خیط ثم انتزعه من ساعته لا تفسدوان ترکه فسدکذافی البدائع،که مطلق خالي ځاي دبدن کې څه شي رسیدل روژه ماتوونکې وي نوبیاخودوږوکي اودس ماتي اله هم یوخالي ځاي دي اومثانه خوپه درجه اولی خالی ځاي دي غوږ اومري هم یوخالي ځاي پدي کې څه شي راتلل په اتفاق اماماتوروژه نه ماتوي ددي نه معلومه شوه چه مطلقاً دبدن په خالي ځاي کې روژه ماتوونکې ځیزونو رسیدوسره روژه نه ماتیږي بلکه خاص ددماغواودمعدي جوف مراددي بلکه دماغ هم اصل نه دي دماغ یې پدي وجه اخستي دي چه دماغوته درسیدونه وروستودهغي لاري په ذریعه سره معدي ته رارسي لکه ﷺ عبارت ددي ترلونه زیات واضح اوښکاره دي وهذا وماوصل الی الجوف اوالدماغ من المخارق الاصلیة کالا نف والاذن والدبربن استعط اواحتقن اوقطر فی اذنه فوصل الی الجوف اوالی الدماغ فسدصومه واماالذاوصل الی الجوف اوالدماغ من غیرالمخارق الاصلیة لابان داوی الجائفـة والا مـة فـان داوهابدواء یابس لایفسدلانه لم یصل الی الجوف ولاالیٰ الجوف ولاالیٰ الدماغ ولوعلم انه وصـل یفسدفی قول ابی حنیفة رحمه الله بدائع / صـ ۹۳ / هذا والله سبحانه وتعالی اعلم باالصواب والیه المئاب فی کل باب کتبـه الا حقرمحمدشـفیع غفرلـه خـادم درالا فتـاء دیوبنـد .ربیع الاول/ ۱۳۵۰ھـ؛

جواب: صحیح وهورائي منذ برهة من الزمان اشرف علي ؛ ۱۵ ربیع الاول ۱۳۵۰ھـ؛ النور/

ص ۷ / رمضان / ۵۰ ھـ؛

سوال: (۲۱۲) مانن دخپل ورور ډاکټرصاحب سره دانجکشن (ستن) په باره کې خبري وکړي چه دي سره روژه ماتیږي یانه ډاکټرصاحب اوفرمايیل چه هغه ځیزونه چه مالش سره په بدن کې جذب کیږي هغه ضرور ورو ورو خیټي ته رسي لکه یوه دوائي ده چه دخپو پرسید ودپاره پتون پوري تړلي شي اوهرکله چه هغه دمساماتوپه ذریعه (نري نري سوري چه کوم نه خوله راوځي) معدي ته ورسي نوډیري التي ورسره راځي دغه حال دانجکشن هم دي چه هغه هم خامي خیټي ته رسي لکه څنګه چه افیون انسان ته التي ورولي دغه شان دهغي انجکشن هم انسان ته التي ورولي چه دمعده دبادنه ډکه شي .اوهغه اوزي نه نودهغي دلري کولودپاره په متعه انجکشن لګولي شي دي سره هغه بادونه لري شي ؟

جواب: مطلقاً رسیدلوسره روژه نه ماتیږي هغه خاص لاري چه دهغي دتیریدوده چه هغه سره اورسي اومساماتوباندي رسیدلوسره روژه نه ماتیږي . ذی الحجه ۱۳۳۵ھ (النور/ص ۸/ شعبان / ۵۱ ھـ)

دمنفذاودجوف تحقیق منفذ هغه خاص لاره دتیریدوته وائي کوم چه دماغونه معدي ته تل ده

سوال: (۱۸۷) بل هغه داهم وائي چه غوږکې تیل یادوائي واچولي شي تودهغي معدي ته درسیدوهیڅ قسم امکان نشته څکه چه دغه ښکاره سوري په یوخرمن باندي چه هغي ته پرده وئیلي کیږي ختم شي هغه څرمن داسي په غوږکې لګیدلي شویده لکه یوبندصندوق په شان چه دهغي لاره صرف دغه بارني سوري دي سیوا ددي نه چه دیوکس دخاص مرض دوجه نه په پرده کې سوری وي البته سوروکې دننه درسیدلوامکان شته دغه شان ددماغوزخم په باره کې هم هغه فرمائي چه ددي نه هم څه لاره معدي ته نشته اونه ددماغو دوائي معده ته رسیدلوامکان شته . سیواددنه چه دپوزي په سوري کې څه شي واچولي شي نوهغه مري کې اودمري نه معدي ته رسیدی شي داټول ځیزونه دنن دور دتشریح اولیدلو کتلودوجه نه درنړاورځي په شان ښکاره دي هغه داهم فرمائي چه دخیټي دزخم اودماغودزخم باره کې دفقهاؤ مسئلي غلطي نه وي بلکه دهغوي خپل وضاحت غلط دي پدي وجه دي ټولو ځیزونوباندي دوباره نظر کولوسره فتوی ته ترتیب ورکولوضرورت دي ؟

جواب: جوف معدي سرخاص نه دي دماغواومعدي دواړوته شامل دي، ۸ ذی الحجه

۱۳۵۰هـ (النور /ص ۹ / شعبان / ۵۱ هـ)

دفعی اشکال متعلق عقوبت برترک افطارنفل

سوال:(۲۱٤) رساله قشیریه باب حفظ المشائخ کښې یوه قصه نقل کړې شویده ان شقیقاوابانراب قدماعلی ابی یزیدفقدمت السفرة وشاب یخدم ابایزیدفقالاله کل معنایافتی فقال اناصائم فقال ابوتراب کل ولک اجرصوم شهرفابی فقال شقیق کل ولک اجر صوم سنة فابی فقال ابویزیددعوا من سقط من عین الله فاخذذلک الشاب فی السرقة بعدسنة فقطعت یده الخ ، پدکې دوه اشکاله دي یوداچه دداسې فضلیت وعد بغیردنص څه رنګه جائزدي دویم داچه کوم عمل په شریعت کښې واجب نه وي بلکه کېدیشي چه جائزهم نه وي لکه کوژه کول ددي په پرېښودو باندې سزا څه رنګ راغله ؟

جواب: ثبوت په یقین یاظني درجه کښې ضرور په نص باندې موقوف دي هغه نص چه کومه درجه کښې هم وي خوثبوت په درجه داحتمال کښې موافق ددي حدیث اناظن عبدي بی، سره صرف په العامی زیري سره هم ممکن دي کېدشي چه دي بزرګانو ته داسې زیري شوي وي برابره خبره ده که دابتداء نه وي ددعاقبلیدونه وروستووي یائي قسم[1] پوره شوي وي دادوهمبې اشکال جواب دي اوددویم جواب دادي چه کېدیشي روژه نفلي وه څکه چه نفلي روژه ماتول دکوربه د میلمه دپاره اودمیلمه دکوربه دپاره بلکه چه تادعوت نه څوک رااوبلي نودعوت رابلونکي ته هم جائزده لکه یوروایت چه بعض محققینوغوره کړیدي چه بغیردعذرنه هم نفلي روژه ماتول جائزدي خوپه دي شرط چه قضابه راوړي وهذا کلمة مذکورفی الدرالمختار اومباح بعض عوارضودچه مندوب اومندوب بعضوعوارضوسره یودرجه نورهم مضبوط ګرځي اوددي عوارضونه یوعارض وعده هم ده اووعده عامه ده قولي اوفعل سره اوچاسره دعقیدت معامله داوعده فعل ده په نه رسولود تکلیف کښې په دي قصه کښې هم دخادم دطرف نه دغه شان وعده راغلي ده او ددوي دپلارانونه دي بزرګانوته تکلیف رسیدلي وه چه دهغي نه بچ کېدل سخت شوي وه اګرچه هغه سختیدل ددي درجه نه وه چه په هغي دومره سزا مرتبه کړیشي خولږه غوندي سزاپه هغي باندې

---

[1] اشاره ده حدیث لواقسم الله لابره یعني دالله بعض مقبول بندیګان داسې هم دي چه که چرته هغوی قسم اوخوري نوالله هغه پوره کوي !

مرتب کېدیشي اوهغه لږه په همت اواطاعت اودګناهونوپرېښودوکښې کمزوري وه اودغه همت کمزوري کېدل ،چه دي ته توفیق ورکولوکښې کمي هم وائي ، دابویزیددي قول نه اخستې شویدي چه سقط من عین الله اوددغه کمزوري مخه رانیول اودهغي برابرول دده په اختیارکښې وه که داختیارنه ئې کاراخستې نودسزانه به بچ شوي وي خوده دخپل اختیارنه کار وانه خستواودګناه مرتکب شو بیاپه هغه ګناه سزا مرتبه شوه نوهغه تکلیف رسول په دغه ذریعوباندې سزااوعذاب ته اورسید و وهکذاسنة الله فی اولیاءه ومن اذاهم بغیرعذر، بهرحال دیکښې څه دویري شي لا زم رانغي، والله اعلم، ۸ محرم / ۱۳۵۴هـ (النور/ص۹ ذی الحجه ۵۴هـ)

دبواسیرومسه داستنجاء په وخت کښې بره کولوسره روژه ماتیږي یانه

سوال:(۲۱۵) دبواسیرودمسی داودس ماتي وخت کښې باطې ووځي اوداودس ماتي نه وروستوهغه دباؤکړي اوبره ئې کړي په دي صورت کښې که چرته اوبه اوچې نه کړي اوهغه مسه بره کړي نوروژه ماتیږي یانه ؟

جواب:فی ردالمحتارعن الفتح خرج سرمه فغسله فان قام ان ینشفه فسدصومه والا فلا لان الماء اتصل بظاهره ثم زال قبل ان یصل الی الباطن بعودالمقعدة الخ، قبله فی نظیره عن الطحاوی ومحله اذاکان ذاکراً للصوم والا فلا فساد کمافی الهندیه عن الزاهد الخ ،ص ۱۵۸ / ج ۱/ ددي روایتونونه جواب ښکاره شوچه روژه ماته شوه خوپه دي شرط چه روژه ورته یاده وي ۱۲ رمضان المبارک / ۴۳هـ / تتمه خامسه / ص ۳۲۸

تتمه -:ددي نه یومیاشت پس داسوال دبل ځاي نه راغي چه هغي کښې په داتکلیف ښکاره کړو چه اوبواوچولو سره ډیرزیات سوزي کوي اوقبض اووینه راره وانه شي ددي وجه نه دلوندخیژولوعادت دپنځوشتوکالونه دي نوتیروشوو روژو سره څه اوکړو اوددي نه پرووستوڅه رنګه روژي اونیسو .ددي جواب مولوي ظفراحمد لیکلي ده چه دهغي خلاصه داده چه ماتیدل دروژي مقیددي پدي چه دغه لوندوالي ځاي دحقنه ،یعنی چرته نه چه فضله راځي، نه ورسي اوهغه ځاي ډیرلري دي عام معمول سره هم هلته نه رسي ددي وجه دروژي فاسدکېدوحکم نه شي کېدلي . امدادالاحکام کښې هغه جواب په تاریخ ۲ ذی قعده

۴۳/ھ / کې ليکلي شويدي (۱). ذی قعده / ۱۳۴۳ھ
(تتمه خامسه / ص ۳۲۹)

سوال :(۲۱٦) زيددبواسيروپه مرض کې مبتلا دي داودس ماتي وخت کې اونوروختونو کې هم هغه دنني مسې باهراوځي دکښاستواوپاسيدوسره ګرځيدلوسره يا چه ډيروخت ولاړ وي اوبغيردلوندولونه هغه مسه دننه نه راځي اونه په خپل ځاي اودريږي . که لړشي دباؤ کړي دننه شي بياهم نه اودريږي باهرپاتي کېدوسره ډيرزيات تکليف وي اودلوندولو په باره کې مي دااوريدلي دي چه اوبوسره لوندولوباندي اودننه ځاي ته رسولوباندي روژه ماتيږي نوداسي وخت کې هرکله چه زيدته ډيره سخته مجبوري وي نوڅه وکړي ؟

جواب :في ردالمحتارخرج سرمه فغسله فان قام قبله ان ينشفه فسدصومه والا فلا لا ن الماء اتصل بظاهره ثم زال قبل ان يصل الى الباطن بعود المقعدة . ج۲ / ص ۲۵۸ ددي روايت نه معلومه شوه چه دي صورت کې روژه ماتيږي نودورځي دي ددي نه ځان اوساتلي شي البته که داسي وکړي چه لونددي کړي اوکېږي سره يې اوچ کړي اوبيائي دننه کړي نوبيا روژه نه ماتيږي، شوال / ۱۳۴۳ھ؛

متعددمسائل فديه صوم

سوال :(۲۱۷) يوکس ډومره بوډاشويدي چه روژه نه شي نيولي درمضان تيريدونه پس دټولوروژو فديه په ورځ کې يوفقيرته ورکول جائزدي يانه اودرمضان ختميدونه مخکې دټول رمضان فديه ورکولي شي يانه اودقسم کفاره که يوورځ کې يوسړي ته ټوله ورکړي نوجائز دي يانه ؟

جواب : فى الدرالمختار للشيخ الفانى العاجزعن الصوم الفطرويفدى وجوباً ولوفى اول الشهروبلا تعدد فقيركالفطرة لوموسراً والا فيستغفرالله وفى ردالمختارقوله وبلا تعدد فقيراى بخلاف نحوكفارة

(۱) ددي نه علاوه دردالمحتاريه عبارت کې چه کوم جزئيه په لفظ دخرج سرمه ذکرشويده هغه مسه بواسيرودپاره صريح نه ده ځکه چه سرمه پيل خيزدي دبواسيرمسه او سرمه داهل لغت دتصريح اودکتابونودتشريح مطابق دمعنی مستقيم نوم دي چه هغې ته په اردوکې کانچ (يوه بيماري ده چه په هغې کې داودس ماتي وخت کې دمقصدغوښه بهررا اوځي) داکله کله بهرراوتي اوهرکله چه اوخيژي نودحقنې ځاي پوري رسي په خلاف دمسې دبواسير چه دادمبرز دپاسه پيدا کيږي کله بهراوکله دننه اوداحقنې ته عادة نه رسي په دې وجه کوم لوندوالي چه دي پوري وي هغه دحقنې ځاي ته رسي په دې وجه روژه ورسره نه ماتيږي والله اعلم بنده محمدشفيع عفا الله عنه ۱۲ ؛

اليمين للنص فيها على التعدد فلواعطى منهامسكيناً صاعاً عن يومين جازه ،لكن فى البحر عن القنية ان عن ابى يوسف رحمه الله فيه روايتين وعندابى حنيفة رحمه الله لا يجزيه كمافى كفارة اليمين وعن ابى يوسف رحمه الله لواعطى نصف صاع من يوم واحد لمساكين يجوزقال الحسن وبه ناخذ الخ ،ومثله فى القهستانى (فصل فى العوارض) ددي روايتونونه داخبري معلومي شوي اول داسي بوډاله فديه ورکول جائزدي دويم رمضان شروع کېدونه پس دټول رمضان فديه ورکول هم صحيح دي که رمضان ختم شوي وي اوکه نه وي ختم شوي دريم ،دڅوروژوفديه يومسکين ته ورکول هم جائزدي خوخاص پدي مسئله کې اختلا ف هم دي . ددي وجه احتياط په ديکې دي چه دڅوروژو فديه ديوته نه ورکوي خوکه ورکړي نوهم خيردي څلورم ديوي روژي فديه ګڼرومسکينانوته ورکول جائزدي . پنځم دقسم پوره کفاره يوکس ته ورکول جائزنه دي ۱۲ جمادى الاخرى / ۱۳۵۳ھ ، النور/ ص ۹ / جمادى الثانى ۵۵۴ھ

دشيخ فانى پيژندګلو

سوال :(۲۱۸) شيخ فانى يعني چاته چه روژه معاف ده چاته وئيلی کېږي يعني په کوم عمراوکوم حال کې شيخ فاني ګڼړلی کېږي ؟

جواب : فى الدرالمختار وللشيخ الفانى العاجزمن الصوم الفطرويفدى الخ وفى ردالمختار اى الذى فنيت قوته اواشرف على الفناء ولذاعرفوه بانه الذى كل يوم فى نقص الى ان يموت نهرومثله مافى قهستانى عن الكرمانى المريض اذاتحقق الياس من الصحة فعليه الفديه لكل يوم من المرض الخ ،وكذا مافى البحرلونذرصوم الابدفعضف عن الصوم لا شتغاله بالمعيشة له ان يطعم ويفطرلانه استيقن انه لا يقدرعلى القضاء ،ج۲ / ص ۱۹۱ / ددي روايتونونه دشيخ فاني دپيژندګلوداخلاصه راووتله چه دهغه دموجوده حال نه دامعلوميږي چه نه فى الحال دهغه دروژي نيوو طاقت شته اونشته څه اميد شته اودمخه شترالی دطاقت برابره خبره ده که دبوډاوالی دوجه نه وي که دمرض دوجه نه وي، ۲۵ ربيع الاول /۱۳۳۱ھ ؛

باب الاعتکاف / باب دي په بیان داعتکاف کې

خروج معتکف بسوئي صحن مسجدکه برسقف دکا نها باشد

سوال:(۲۱۹) دکوموجوماتونوچه دننه درجه په براني جوړه شوي وي اوباهر انګړپه دوکانونوباندي وي داخومعلومه ده چه باهرانګړکي لمونځ کولوسره دجومات ثواب نه ملاویږي اوس داخبره معلومول غواړو چه یوسړي دننه حصه کې اعتکاف اوامام صاحب ر اودصاحبینو چه داعتکاف ماتیدوپه باره کې کوم اختلا ف دي چه یوساعت یایووخت دپوره لمونځ برابردجماعت نه باهروي پدي کې کوم یوقول ډیرغوره دي ؟

جواب:وړومبی. که چرې دادوکانونه جومات دپاره وقف وي دفقي دخیني روایتونوپه بنیاد دیته دجومات چهت ونیلوڅه ګنجائش شته نوجمعی سره لمونځ کولوضرورت دوجه نه پدي روایت عمل کول جائزدي دویمه داکه چرې داغوره قول واخلي چه ددي حکم دجومات نه دي بیاهم دضرورت دوجه اعتکاف کوونکې ته دجومات نه وتل جائزدي برابره خبره ده که طبعي ضرورت وي اوکه دیني . اوجمعی لمونځ موندل هم په شان دجُمعی موندلودین ضرورت دي ددي وجه نه وتل جائزدي دریم داچه هرکله دامعلومه ده چه ماته په دي ځاي پوري تلل راځي نوګویاچه دانیت داستثناء دي اوداستثناء په وخت کې وتل جائزدي څلورم دا چه دصاحبینوقول ته بعضوترجیح ورکړیده، کمافی الدرالمختارفقط ۲۰ رمضان / ۱۳۳۵ه(امداد /ص ۱۸۳ /ج۱)

حکم اخراج ریح معتکف رادرمسجد

سوال:(۲۲۰) اعتکاف په باره کې اختلا ف دي چه حدث هواوتل(یعني بي اودسي جومات کې دننه وکړيشي یاباهرځیني شاګردان دمولانا خلیل احمدصاحب چه دسهارنپورمدرسي وړومبني مدرس دي اونورمفتیان مولا ناګنګوهي(په جومات کې دننه اجازت ورکوي اوځني شاګردان دحضرت دي لره په وړواولویوبولوباندي قیاس کوي اودایوشرعي عذرګڼي نوددي وجه دوي دجومات نه باهرکولواجازت ورکوي اودحضرت مولانا مذکورنه هم یوجواب په جومات کې ددننه کولوهم راغلي دي اومولا نا ګنګوهي طرفته ددي قول نسبت کېدلي شي اوداحدث(هواوتل) یوشرعي عذرباندي قیاس کول

دهغوي نه نه دي نقل شوي ددي وجه نه دوي نه مني ددي وجه نه پوره امیددي چه بنده ته زړه بخوونکې جواب ورکړیشي اوکه دکتابونوپه حوالي سره دلیل هم ورکړیشي نوداخونورعلی نوردي پدي وجه چه زمونږمخالفین چپ شي فقط ؟

جواب:فی ردالمحتاروکذا لایخرج فیه الریح فیه من الدبرکما فی الاشباه واختلف فیه السلف فقیل لا باس وقیل یخرج اذااحتاج الیه وهوالا صح حموی عن شرح الجامع الصغیرللتمرتاشی ص ۲۸ /ج۱ / دیته معلومه شوه چه جومات کې دننه که ریح اوځي هم خیردي خوبنه خبره داده جومات نه باهراوځي اوروایت عام دي اعتکاف کوونکې ا.غیر اعتکاف کوونکې دواړوته شامل دي، ۱۴ رمضان / ۱۳۳۱ه(تتمه ثانیه / ص ۲۹)

عدم جوازخروج معتکف بعذرمرض یادوا

سوال:(۲۲۱) اعتکاف واله سړیٓ په جومات کې یواځي وي اودشپي بیمارشي اوهغه ته ددوائي کولو څوک نه وي نودی‌خپله کورته تللي شي چه ددوائي انتظام وکړي یاهسپتال نه دوائي راوړي شي یانه ؟

جواب: فی الدرالمختاروحرم علیه الخروج الا لحاجة الانسان طبیعة کبول وغائط وغسل لواحتلم ولا یمکنه الاغتسال فی المسجد کذا فی النهراوشرعیة واذان لومؤذنا وباب المنارة خارج المسجدوالجمعه الخ،ثم فیه وان خرج بعذرویغلب وقوعه وهومامرلا غیرلا یفسدوفی ردالمحتارقوله مامرای من الحاجة الطبیعة والشرعیة ثم فیه ولان الخروج عرض وحیض ونسیان اذاکان مفسداً الخ ،ج۲/ص۲۱۱ -۲۱۲/ددي روایتونونه ثابته شوه چه دي صورت کې دجومات نه وتل جائزنه دي ،۴محرم ۱۳۳۳ه(تتمه ثالثه / ص ۵)

حکم دیوار مسجددرحق معتکف

سوال:(۲۲۲) اعتکاف کوونکې دجومات په غاړه چه کوم دیوال دي په هغي کېناستل جائزدي یانه ؟

جواب: پته نشته چه جومات جوړونکې په خپل نیت کې داجومات کې داخل کړي یانه(تتمه خامسه / ص ۹۲)

خارج بودن فصیل ازمسجد

سوال:(۲۲۳) جومات فصیل یعني ددیوال بره حصه په جومات کې داخل ده که نه ؟

جواب:جومات کې دننه دځه حصي دداخلیدو اوخارجیدومدارد جوړونکي اوقف کوونکي په نیت باندي دي اوکه هغه موجوددنه وي نوبیابه حالتونوته کتي شي زماپه نزددلیدلوکتلونه دامعلومیږي چه دجومات نه باهردي اوکه چاته ددغه حالتونونه خلاف معلوم شو نوبیاجومات کې داخل ګڼل پکاردي خرکه جومات نه باهرهم دي بیابه هم دغه ځاي کې داسي کارنه کوي چه دهغي اثرجومات ته اورسي اودجومات احترام فوت شي مثلاً هلته کښیني اوچیلم اوڅکي حدیث کې راځي من اکل الثوم فلا یقربن مصلانا په دیکې لا یقربن لفظ ددغه ذکرکړي شوي دعوي پوخوالي ثابتوي. ۱۵ شوال / ۱۳۲۱هـ (امداد ثالث / ص ۱۳۹)

عدم جوازمعتکف درغسل خانه ووجوب قضاء درغسل کردن روزانه درغسل خانه

سوال:(۲۲٤) ګرمي دوجه نه هره ورځ غسل خانه کې لا مبل جائزدي یانه ؟

جواب: نه دي جائز!

سوال:(۲۲۵) که یوکس ته دمسئلي پته نه وي اولا مبلي ئي وي نودده اعتکاف اوشو یانه؟

جواب: څومره ورځي چه داسي کړيدي دهغي ورځواعتکاف قضادي راوړي. ۱۵ رمضان ۱۳۳۷هـ (تتمه خامسه / ص ۹۲)

اعتکاف کې دچپ ناستي حکم

سوال:(۲۲٦) علم الفقه اوبهشتي ګوهرکې ئي لیکلي ده چه اعتکاف کې چپ کښناستل مکروه تحریمي دي نوڅومره وخت چپ اوسیدل مکروه تحریمي دي دخادم عادت دي دماسخوتن نه پس چه کله تراویح وغیره اوشي نو پاس انفاس ذکرکوم چه ددي تعلیم حضور ﷺ په شروع کې ورکړي وه نوداخوبه چپ کې نه شمارکیږي اودیني کتابونه کتل یاوعظ اونصحیت کتابونه کتل خوبه چپ اوسیدوکې نه شمارکیږي اواعتکاف کوونکي ځیني خبري کولي شي یعني ضروري خبره دضرورت مطابق پدي وخت کې قصداً دځپلي

ذاندي اخستودپاره بالکل غلي یم داشاري نه کاراخلم یادلیکلونه پدیکې څه باک شته یا نه ؟

جواب:في الدرالمختارویکره تحریماً صمت اواعتقده قربة والا لا لحدیث من صمت نجاویجب اى الصمت کما فی غررالا ذکار عن شروتکلم الا بخیر ج ۲ / ص ۲۱۷ / ددي روایت نه پته ولګیده چه کوم چپ والي ستادي دامکروه نه دي بلکه بهتردي البته چه کوم چپوالي مستقل عبادت وګڼړلي شي هغه مکروه دي.
۲۵ رمضان / ۱۲۳۷هـ (تتمه خامسه / ص ۹۲)

داعتکاف په باره کې څه جزئي

سوال:(۲۲۷) که دبدن دکمزوري دوجه نه داخري پوره لسوورځو اعتکاف اونه کړیشي اویوویشتمي اوددیرشمي په مینځ کې دري یاپنځه عتکاف وکړي نودسنت څه ثواب پري ملاویږي که نه نوررمضان کې داعتکاف په شان صرف نفل به ګڼړلي کیږي (۲) درمضان په اخري لسوورځوکې په اعتکاف کې دجمعې دپاره یادپخوالي دپاره یاغسل کولو په غرض دجومات نه وتلوسره اعتکاف ماتیږي یانه اودوتلونه مراد دجومات احاطه ده یاهغه حصه چه مانځه دپاره دجومات په حکم کې ده که غسل خانه دصدر دروازې نه دننه وي نودي کې غسل کول یاباهرغسل کول برابر دي یانه ؟

جواب: سنت اعتکاف دپاره قیدلس ورځي دي چه هرکله قید نشته نومقیدهم نشته اودغه لس ورځي سنت دي چه دانشته نودغه سنت نه دي اوجزودسنتوپه حالت انفرادی کې اوپه حالت اجتماعي دتولواجزاؤ سره په حکم کې کېدل نه لا زم دي اونه ثابت (۲) دکومي ورځي اعتکاف ئي چه شروع کړي دي نوهغه یې مات دي اوجومات هغه ځاي دي کوم ځاي کې چه نمونځ اداکیږي تول احاطه نه. ۵ شوال / ۱۳۳۴هـ (تتمه رابعه / ص ۵۵)

کتاب الحج

حج دپاره دهرکس دمال مناسب توبه شرط ده

سوال:(۲۲۸) یوسړی مالداره دي همیشه ئي ملازمان خدمت کوي په ریل کې فرسټ

کلاس، ورومبي درجه، کې سفرکوي نوپه دي کس باندي به حج هله فرض کېږي چه روپي دفرسټ کلاس دکرائي قابل وي اودملا زمانولا تې هم داکرایه وي ځکه چه ښکاره خبره ده چه مالداره خلق چرته بغیرد ملا زم نه نه وخت تیرولي شي اوکه خاتنه وي نوځه پته لګي که ناجوړه شي غرض داچه ددي تخمیني نه داسي خلقوسره زر روپي خامخاوي یا په دوي هم دري سوه روپو باندي حج فرض کېږي ؟

جواب: فی الدرالمختار ذی زاد یصح به بدنه فالمعتاد للحم ونحوه اذاقدرعلی خبزوجبن لا یعدقادراً وفی ردالمحتارلیس من الحوائج الا صلیة ماجرت به العادة المحدثة برسم الهدیة لــلا قــارب والا صحاب فلا یعذربترک الحج لعجزه عن ذالک، ص ۲۳۱ / ج ۲، دي عبارت نه دافائده راوتله په کوم عادت داسي وي چه دهغي پرېنخودلو سره دي ناجوړه کېږي نودهغي عـادت موافق سامان شرط ددي دحج دواجبېدو دپاره اودافائده هم راوتله چه هدیو اوتحفو راوړلو باندي طاقت لرل شرط نه دي اوددي په حکم کې دمدیني طیبي سفرهم دي اوپه هغي طاقت هم په حج کې شرط نه دي اوداخومعلومه خبره ده چه دخپل لازمي حاجتونو نه زیاتي چه کوم سامان وي اونقدروپي نه وي نودغه سامان خرڅول واجب دي اوددي په کېدلو سره هم حج فرض کېږي ۲۲ جمادی الثانی / ۱۳۳۲ھ، حوادث اول / ص ۱۴۱،

په حج کې ښځي سره محرم ضروري کېدل اوکه نه وي نوپه اخرعمرکې وصیت کول

سوال: (۲۲۹) یوه ښځه کنډه ده اودحج داندازي برابرهغي سره روپي شته خوهغي سره دتلو څوک محرم خوي پلار یاورور نشته غرض داچه هیڅ څوک نشته داسي صورت کې دي ښځه باندي حج فرض دي یانه که فرض وي نوبل چاسره یایوازي تلي شي اوکه حج پرې فرض نه وي اودازنانه څه روپي یادحج برابرروپي په څه نیک کارکې اولګوي نودیته دحج ثواب ملاوېږي یانه ؟

جواب: که پیسي دومره وي چه صرف ددي ښځي دپاره پوره کېږي نوبیاخو پرې حج فرض نه دي . فی الدرالمختارومع زوج اومحرم بالغ عاقل الی قوله مع وجــوب نفقــة محرمهاعلیهــا وفی ردالمحتارقوله مع وجوب النفقة الخ، ای فیشترط ان تکون قادرة علی نفقتهاونفقتــه الخ، ج ۲ / ص ۲۲۴ / اوکه خرچه ده دووکــسانوبرابروي نوبیاخونفس وجوب پرې شته اووجوب اداءنه ده شوي ځکه چه محرم نشته ځکه چه پردي سړي سره خوسفرکول دیته جائزنه دي خوپیسي

دمحفوظ کېدي کېدلي شي څوک محرم ملاوشي اوکه اخرعمرپوري ملاؤ نه شونووصیت دي اوکړي (۱) چه دمرګ نه پس ددي دطرفنه دحج اوکړي یادمرګ نه مخکې که داسي مال راشي چه محرم ملاؤ شي اوسفرته شي کولي نوددي دطرفنه حج بدل کولي شي ۱۲، فی ردالمحتار والذی اختاره فی الفتح مع انه مع الصحة وامن الطریق شرط وجوب الا داء فیجــب الایصاء الخ، ج ۲ / ص ۲۳۵ فقط ۲۲ رجب / ۱۳۳۰ھ، تتمه اولی / ص ۷۲،

په پالنلواودنکاح داولادباندي دحج مخکې کولوحکم

سوال: (۲۳۰) څه فرمائي علماء دین پدي مسئله کې چه زید غریب دي وخت ئي خوپه توکل علی الله تیرېږي څلور اولاد ئي بالغ اوڅلورنابالغه دي جائدادهم نشته البته داوسیدومکان نه علاوه دهغي یوبل لوي مکان دي چه هغه ده په پنځه سوه روپي باندي خرڅ کړو سل روپي ئي دخپل قرض ورکړي اوس دي څلورسوو روپوکې دي دهغي خپل بالغ اولاددنکاح نه ځان خلاص کړي یادادخپل نابالغه اولاد په پرورش باندي ولګوي یادي، یوموټي روپو باندي دملکېت دوجه نه په ده حج فرض شوحج ته لاړشي بینوا توجروا؟

جواب: فی الدرالمختارفضلاً عمالا بدمنه الی قوله وحررفی النهرانه یشترط بقار رآس المال لحرفته ان احتاجت لذالک والا لا وفی الا شباه معه الف وخاف الغروبة ان کان قبل خروج اهل بلدة فله التزوج ولووقته لزمه الحج وفضلا عن نفقة عیاله ممن تلزمه نفقته لتقدم حق العبدالی حــین عوده وقیل بعده بیوم اوقیل بشهرمع امن الطریق بغلبة السلامة ولوبالرشوة علی ماحققه الکمال الخ . وفی ردالمحتارقوله الی حین عوده متعلق بقوله فضلا اوبمالا بدمنه لا نه بمعنی ما یحتاجه اوینفقه ای فلا یشترط بقاء نفقة لمابعدعوده وهذا ظاهرالروایة الخ . ج ۲ / ص ۲۳۲ / ددي روایت په بنیاد باندي چه هرکله دي سړي ته څه پیشي دپاره روپوضرورت نشته اونه دغریبي ویره شته اواوسیدودپاره بل مکان هم شته او واپس پوري دخپل بال بچ دپاره خرچه اوباسي بیاهم دحج دپاره ډیري روپي پاتي کېږي پدي وجه دسړي باندي حج فرض کېږي خوپه دي شرط سره چه دلاري امن وي . والله اعلم ۲۰ ذی قعده / ۱۳۳۲ھ، تتمه ثانیه / ص ۱۸۹،

(۱) یادمرګ نه مخکې داسي حالت راشي چه که چرته محرم هم ملاؤشي بیاهم سفرته شي کولي نوبیاهم حج بدل کولي شي ۱۲،

صحیح بودن حج درایام حکومت شریف مکه

سوال:(۲۳۱) څه فرمائي علماء ددین پدي مسئله کې چه شریف مکه باندي فتویٰ شویده نوچه کوم خلق تیرکال اوسږ کال حج ته تلي دي ددوي حج اوشویانه اویوعالم وائي چه ددارالحرب مسئله دوجه نه چه هرکله خطبه دحج یادهغي په ځاي بله او ونیلي شي حج اونه شو اوکه حج أؤم شي نوناقص دي اوخاکسارددي خبري رداوکړو په حواله درسالي دمناسک حج تصنیف مولا نا مولوي شاه رشیداحمدصاحب چه هغي کې دوي لیکلي دي چه که دذی الحجی په نهم تاریخ دماسپخین نه وروستویعني په ورځ صرف دعرفات دمیدان نه تیرهم شوي نوبیاهم حج اوشو . اوزماداهم عرض دي چه هرکله مکه معظمه دکافروپه قبضه کې وه بیاهم رسول اللهﷺحج کړیدي اواوس خومکه معظمه دارالاسلام بلکه دارالایمان دي اوداعجیبه خبره ده چه دیوسړي عمل دي خراب شي اودنورو خلقو عمل هدوعمل اونه ګڼړي پدي وجه جواب اوفرمائي ؟

جواب:ستاپه دي خوش فهمي سره مې زړه خوشحاله شوچه کوم تااوګڼړلوبي شک هم دغه خبره ده دحج په جائزکېدو کې هیڅ شک نشته خصوصاً چه په چاباندي حج فرض دي که په دي لاړنه شي نوسخت ګنهګاردي اونفلٰ هم صحیح دي ۱۲ شوالِ /۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه /ص ۱۵۲)

حکم حج کردن مفلس ازمال عطاکرده غیربرایي حج

سوال:(۲۳۲) یوکس بالغ عقل مند ازاد دي خومال دنشتوالی دوجه نه خوپه ده حج فرض نه دي ده ته دنفل حج دپاره چا پیسي ورکړي اوده خپل ځان طرفنه حج اداکړو دي نه وروستوداسړي مالداره شو اودي حج ته لاړنه نومخکې چه ده نفل حج کړیدي هغي سره دده نه فرض حج حکم ساقطیږي یانه ؟

جواب: وروميي حج چه ده کړیدي که چرې خالص دنفل حج نیت ئي کړي وي نوهغه حج نفل اداشواوده نه دفرض حج حکم نه ساقطیږي که چرې بیامالداره شو نوبیابه حج ادا کوي اوکه چرې خالص دنفل حج نیت ئي نه وي کړي بلکه دمطلق حج نیت ئي کړي وي نودي سره فرض حج ساقطیږي اوس مالداره کېدولوسره په ده دویم حج کول فرض نه دي ا ف ردالمحتاریان الحج یصح بمطلق النیة بلاتعین الفرضیة بخلاف الصلوة الاتحت قـول الـدرالمختار حرمکلف عالم بفریضته امابالکون بدارنااوفی نورالانوربحث الظراف والمعیارویتادی (الحج) بـاطلاق

النیة لابنیة النفل ای ان ادی الحج بمطلق النیة بان یقول نویت الحج یقع مـن الفـرض بخـلاف مااذاقال نویت حج النفل فانه یقع عن النفل اه
۸ رجب/ ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه /ص ۲۷۰)

دمیلین اخضرین حقیقت

سوال:(۲۳۳) سوال حج خانه کعبه کې په میلین اخضرین باندي دسعی کولو حکم دي ددي بنیاد په څه دي میلین څه شي دي ولي جوړکړي شویدي اوریدلي کېږي چه دادواړه شیطانان وه کانړي ترینه جوړشویدي زړه یخوونکې جواب ولیکې ؟

جواب:حضرت هاجریﷺ چه کله دابوتلاش کولودپاره صفاغرته اوختله اوبیاپه منډه مرواه ته اورسیده حضرت اسماعیلﷺبچي وه هغه ته به ئي کتل دغه مقام کې ښکته ځاي وه نوهلته به منډه وهله اوس دوه نخښې په هغه ځاي باندي جوړي شویدي اوهغه عمل جاري دي (تتمه اولی /ص ۷۲)

دساه دبیماري دوجه دحج فرضیت نه ساقطیږي

سوال:(۲۳۴) یوسړي سره دوه سوه روپی وي ده نیت کړي وه چه په دي پیسوبه حج کوم خوتراوسه هغه صورت الله اونه خودلواوهغي نه پنځوس روپي خرج شوي اودي سړي ته دساه بیماري پیدا شوه اوداویره ده چه سفرکې چرته زیاته نه شي اوس دانیت کوي چه په دي پیسوبه دخپلې محلي جومات تهیک کړم شریعت څه وائي ؟

جواب: په ده حج فرض کړي شوي ؤ اوکومه ناجوړتیادساه ئي چه لیکلي ده هغه عذرکافی نه دي . فی الدرالمختار صحیح البدن وفی ردالمحتارای سالم عن الافات المانعة عن القیام بمالا بدمنه فی السفر الخ (تتمه اولی /ص ۷۱)

حکم منع زوج ازحج زنی راکه بچه شیرخوارداشته باشد

سوال:(۲۳۵) یوسړي چه دفرض حج وس لري حج ته تلواراده کوي اودده بي بي هم طاقت لري ده سره دحج تلواراده لري خاوندورته وائي چه ستاسره په پرورش اوبي رودلوکې زمادشپږومیاشتوبچي دي ریل جهاز یاداوښ په سورلئ باندي تلل دي هسي نه دي ماشوم

ته تکلیف اورسي ته خپله اراده لره وروستوکړه انشاء الله مشرهلک سره به بیاته حج ته لاړه شي اوس داخبره معلومول غواړوچه دي مسئلي کې شرپومیاشتوبچي ته چه دتکلیف رسیدوویره ده دي سره حج وروستوکول عذرشرعي ګرزیدل لي شي یانه اوکه داخاوندخپله بي بي منع کړي نودي شرعاً نیولي کېږي یانه ؟

جواب:څۀ جزئیه خوملاؤنه شوه خودشریعت دقاعدومطابق جواب دادي چه پې ورکول اوتربیت کول په خاوند واجب دي ښځه باندي نه رضاعت وحضانت حق لهادی حق علیها نهادي الا فی بعض الصور په دي وجه خاوندباندي په دي عذرجائزنه دي چه ښځه دحج نه منع کړي اوبچي ته خواول څه تکلیف رسیدل یقیني نه دي اوکه دااومنوهم نوبیادي سري بله ښځه په نوکري سره ئي ورکولو دپاره اونیسي اوبچي دپریږدي اودبچي دجدائي تکلیف شرعي عذرنه دي اوکه بچي بوتلوکې څه تکلیف دي بچي ته رسیدل یقیني نه وي نوداکاریعني دمورنه جداکول اوکورکې بیاپریخودل جائزنه دي لان فیه اتلاف الحق للمرأة من الرضاعة والحضانة والله اعلم. ۲۰ رجب / ۱۳۲۱ھ (تتمه خامسه / امداد / ج۱)

تحقیق عدم وجوب حج برکسی که منافع اراضی

اوهمه خرج شودوهیچ رقم فاضل نمی ماند

سوال:(۲۳۶) یوزمیندارسره دځلورپنځوسوؤروپو دکتي جائداددي خودبال بچ داسي دي چه په کال کې هیڅ هم نه پاتي کېږي نوایاپه ده حج واجب دي ؟

جواب:فی ردالمختار/ ص ۱۰۴ /ج ۲ / وفی التاتارخانیة عن الصغری لــه داریسـکنها لکـن تزیدعلی حاجته بان لا یسکن الکل یحل له اخذالصدقة فی الصحیح وفیها سئل محمـدعمن لــه ارض یزرعها اوحانوت یستغلهااودارغلتها ثلثة الاف ولا تکفی لنفقته ونفقة عیاله یحل له اخذ الزکوة وان کانت قیمتهاتبلغ الوفاء وعلیه الفتوی وعندهمالایحل الخ. دي روایت نه معلومه شوه چه په دي سړي حج واجب نه دي[1] والله اعلم وعلمه اتم. ۴ ربیع الثانی / ۱۳۲۴ھ (امداد / ج ۱ / ص ۱۸۴)

[1] اصل ص ۱۸۵ سطر ۱۱ دی سړي باندي حج واجب نه دي دسوال په اصلاح کې اجمال دي ځکه چه نه په خرچ کې دضروري اوغیرضروری تفصیل شته اونه په اهل وعیال کې دواجب النفقه اوغیرواجب النفقه تفصیل شته اوډیرخلق اخراجات غیرضروریه ضروري ګنړی اوفضول خرچی کوي اوډیرخلق دخپل سخاوت یادعرف اودرواج په

حج برائ کسی که اګرحج کندبرائ صرفه هیچ سرمایه نماید

سوال:(۲۳۷) څه قرضه مي اخستي وه په هغې مي دوکان کړي وه هغې سره بحمدالله خرچ ضروریات پوره کېږي خوڅه پاتي کېږنه اوداخیال وه چه دومره څه اوشي چه دحج دسفردپاره پوره شي دزړه تمناوه چه حق تعالی شانه داترسره کړي خواونه شوه اوس سږ کال پنځه سوه روپې دمامانه په میراث کې ملاؤشویدي اودغه پوره سرمایه ده چه دهغې تجارت کوم اوضروریات خرچي ددغه مال نه غالباًپوره کېږي اویدي وخت کې نغدي پیسي بالکل نشته البته دومره مال تجارت شته چه هغه خرچ کړي نوسفرپري هم کېدلي شي اودکورضروریاتودپاره هم پوره کېږي خودواپسي نه وروستوڅه سامان په نظرنه ښکاري په داسي حالت کې مناسب مشوري سره خبراکړي ؟

جواب:داسي حال کې دحج دپاره سفرمناسب نه دي فی الدرالمختاروحرر فی النهرانه یشـترط بقاء رأس المال بحرفته ان احتاجت لذالک والالا وفی ردالمحتارکتاجرودهقان ومزارع کمـــاقی الخلاصة ورأس المال یختلف باختلاف بحرفلت والمرادمایمکنه الاکتساب به قدر کفایته عیاله لا اکثرلا نه لا نهایة له الخ. ج۲ / ص ۲۳۲ / فقط والله اعلم ۱۰ شوال / ۱۳۲۴ھ (امداد / ج۱ / ص ۱۵۸)

حکم سفرحج زنی که شوهرش نفقه نه دهد وبرادرانش بحج روند

سوال:(۲۳۸) که خاوندښځي ته نان نفقه یعني خرچه څه شی نه ورکوي اونه ئي څه خبراتري اخلي هغه دخپل مورپلارکورکې اوسي اوهغوي دهغې خبراتراخلي نوددي بي بي داورورلره چه خبراتراخلي دوي سره حج ته لاړه شي نوداښځه بغیردخاوندداجازت نه حج ته تلي شي یانه په دي ښځه حج فرض نه دي بلکه دغه ورونړه ددي دسفرخرچ برداشت کوي که ذلته یوازي اوسي نوددي څوک خبراخستوااله نشته اودخاوندنه ویرېږي ؟

جواب:ددي ښځي په حق کې حج سفرداسي دي لکه بل سفرچه ددي دمورپلار کوروالوته پیښ شي نودضرورت دوجه نه دي ښځي لره هغوي سره یوځاي اوسیدل راشي داجائزدي

بنیاددغیرواجب النفقه خلقو باریه خپله ذمه اخلي نوجواب داسي صورت سره مخصوص کنټرل پکاردي هرکله چه دضروریات واقعیه شرعیه وزیات نه وي اوحکم مطلق نه دي کنټرل پکار. (تصحیح الاغلاط ص ۳۲)

نو د اسفرهم ورلره جائزدي . والله اعلم ۱۷ رجب ۱۳۲۵ھ (امداد /ج۱ / ص ۱۸۷)

حرام مال سره حج فرض کېږي یانه

سوال: (۲۳۹) یو سړي سره حرام مال دي نو په ده باندي حج فرض دي یانه او هر کله چه داپیسي خرچ شي او د پیسیو د مالک نه اجازت اوغواړي نو اوس هغه مال حلال شو نو اوس خرچ شوي دي نو اوس په ده حج فرض دي یانه که فرض وي سوال وکړي یا قرض اخستل ضروري دي ؟

جواب: حرام مال[1] چه کله دخپل مال سره ګډوډ شي نو ملکیت کې داخل شو د دي وجه حج فرض کېږي او د فرض کېدو نه وروستو مال خرچ کېدو سره فرض په خپل مال پاتي دي خو سوال به نه کوي البته که اداکولو امید وي نو قرض اخستل جائز دي کذافی ردالمحتار اول کتاب الحج. ۱۲ محرم / ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی /ص ۲۸)

دحج د میاشتونه مخکې دحج طریقه

سوال: (۲۴۰) یو سړي دحج میاشتو نه مخکې دعمري یادحج احرام اوتړي یعني درمضان شریف کې یاددي نه مخکې لا ړشي نو هغه به څه رنګ اوڅه طریقي سره اوکوم نیت سره احرام تړي اودي دحج میاشتو نه مخکې ځان حلال کړي نو مکه مکرمه کې پاتي کېدیشي یانه او عمره دحج د میاشتونه مخکې کولي شي یانه او حج تمتع کوونکې دحج میاشتو کې عمره کولي شي یانه ؟

جواب: د دي کس په تمتع کې داتکلیف دي چه دحج میاشتو پوري به بیا احرام کې وي او دهغي نه مخکې عمره نشي کولي او حج قران[2]، او حج افراد کې به ترحج پوره کېدو پوري محرم وي په دې وجه اسان صورت ده دپاره دادي چه دعمري احرام داوتړي په رمضان کې مثلاً عمره داوکړي او ځان دحلال کړي او رمضان کې چه کله هم اوغواړي عمره دې وکړي بیا دشوال دداخلیدو نه وروستو به عمره نه کوي ځکه چه داسړي په حکم مکی

---

[1] ګډوډ کولو سره حرام مال ملکیت کې خو داخل شو خو قرض شمارلی کېږي پدې وجه دحرام نه زیات دوس مطابق که مال وي نو حج فرض کېږي کنې نه فرض کېږي ددې تفصیل په څوارلسمه مسئله اتمه صفحه او دیرویشتمه مسئله دولسمه صفحه باندي وګوري ۱۲ ، رشید احمد عفی عنه؛

[2] په دې کې دا بدي هم ده چه دحج دمیاشتو نه مخکې دحج احرام تړل مکروه تحریمي دي ۱۲ رشید احمد عفی عنه؛

کې دي . بیا دحج په ورځو کې دافراد احرام اوتړي او منی ته دې لاړشي . فی ردالمحتار عن الفتح والنهر والحیلة لمن دخل مکة محرما بعمرة قبل اشهر الحج یرید التمتع ان لا یطوف بل یصبر الی ان تدخل اشهر الحج ثم یطوف فانه متی طاف وقع من العمرة ثم لم احرم باخری بعد دخول اشهر الحج وحج من عامه لم یکن متمتعا فی قول الکل لانه صار فی حکم المکی بدلیل ان میقاته میقاتهم الخ، ج۲ / ص ۳۱۷ والله اعلم ،جمادی الاخری / ۱۳۲۷ھـ/ (تتمه اولی / ص ۶۹)

باب الاحرام وارکان الحج

باب دي په بیان داحرام او دارکانو دحج کې

داحرام په حالت کې دپان استعمالولو حکم

سوال: (۲۴۱) یو سړي دپان خوړلو عادت دي ده ته احرام په حالت کې پان خوړل څنګه دي پان سره شوندي خائسته کېږي او په پان کې یو قسم خوشبوئي هم ده او که په پان کې لاچی او خوشبودار تمباکو هم وي نو دهغي خوړل څنګه دي او که دچا عادت نه وي هغه لره پان خوړل دپاره دخائست یا بغیر دخائست دلحاظ نه څنګه دي ؟

جواب: فی عالمکیریة الطیب کل شئ له رائحة مستلذه ویعده العقلا طیبا کذا فی السراج الوهاج وفیها ولو کان الطیب فی طعام طبخ وتغیر فلا شئ علی المحرم فی اکله سواء کان یوجد رائحة اولا کذافی البدائع وان خلطه بما یوکل بلا طبخ فان کان مغلوباً فلاشئ علیه غیر انه وجدت معه الرائحة کره وان کان غالباً وجب الجزاء. وفی الدر المختار وثوب صبغ بماله طیب کورس وعصفر الا بعذروابه بیحث لا یفوح فی الاصح . دې روایت نه معلومه شوه چه پان په خوشبوئي کې داخل نه دي اګرچه خائست او زینت پکې شته خو د احرام سره منافی نه دي اولاچي او دغه شان نورڅیزونه خوشبوئي خو ضرورده خو پان او تمباکو داخوشبوئي مغلوب او کمه ده پدې وجه داهم جنایت نه دي خو مکروه ده او په جنایاتو کې عادت او غیر عادت کې څه فرق نشته تردې چه دوائي په ضرورت کې دعادت نه هم بره ده که داهم خوشبوئي وغیره سره وي نو جنایت دي اګرچه ګناه پکې نشته فقط والله اعلم؛ ۱۴ ذیقعده/ ۱۳۲۰ھ (امداد/ص ۱۸۴/ ج ۱)

افاقی ، چه دمکي اوسیدونکي نه وي ، لره بغیره داحرام نه په حرم کي دداخلیدوحکم

سوال:(۲٤۲) که یوسړی دمکي مکرمی اوسیدونکي نه وي بغیرد احرام نه حرم شریف کي داخل شی اواحرام اوتړي اوپه دغه احرام کي حج وکړي نو دهغه څه حکم دي ؟

جواب:فی الدر المختارباب الجنایات آفاقی یرید الحج اوالعمرة وجاوزوقته ثم احرم لزمه دم الخ .ددی روایت نه معلومه شوه چه ددي سړي حج اوشوخودم پرې لازم دي فقط . ۲شوال / ۱۳۲۲ھ (تتمه اولیٰ / ۲۸)

مدینی منوري قصدکوونکي ته بغیرداحرام نه حرم ته دداخلیدوحکم

سوال:(۲٤۳) یمنی ته دجده شریف ینبوع بندرنه مدینی منوري ته تلو قصد دي دمیقات یلملم نه دتیریدو په وخت کي یې احرام اونه تړلو هرکله چه جده شریف ته اورسیدو ،بیایې مکه معظمه ته دتلو اراده وکړه اودجده شریف نه یې احرام وتړلو .اوس دی چه یلملم نه بغیرداحرام تړلو تیر شوي دي په ده دم لازم دي یانه یاڅه حکم دي یادمکی معظمی قصد کول په وخت دتیریدو دمیقات کي شرط دي !

جواب:فی الدرالمختاروحرم تاخیرالاحرام عنها کلها لمن قصددخول مکة الی قوله امالوقصدموضعامن الحل کخلیص وجدة حل له مجاوزته بلااحرام فاذاحل به التحق باهله فله دخول مکة بلااحرام فی ردالمحتارقوله فله دخول مکة بلااحرام ای مالم یرد نسکا،ج۲/ص۲٤۹/ دي نه معلومه شوه چه دي مسئله کي دده احرام جده نه صحیح دي اوپه ده څه جنایت لازم نه دي ! ۱۰شعبان / ۱۳۲۷ھ (تتمه اولیٰ / ص۲۹)

حج تمتع کوونکي دپاره دطواف قدوم حکم

سوال:(۲٤٤) په متمتع باندي طواف قدوم سنت دي یانه ځکه چه طواف قدوم خوحج دپاره سنت دي اومتمتع خوعمري دپاره احرام تړلی دي اوس په ده طواف قدوم شته یانه یادعمری طواف ،اوطواف قدوم دواړه به کوي !

جواب:فی الدرالمختاروطاف بالبیت طواف القدوم ویلسن هذا الطواف للآفاقی،فی ردالمحتارثم ان کان المحرم مفردابالحج وقع طوافه هذاللقدوم وان کان مفردابالعمرة اومتمتعااوقارناوقع عن طواف

العمرة نواه له اولغیره وعلی القارن ان یطوف طوافا اخرللقدوم أه ای استحبابابعدفراغه عن سعی العمرة قاری، ج۲/ ص۲۷۰/ وفی العالمگیریة ویفعل (ای المتمتع) مایفعله الحاج المفرد غیرانه لایطوف طواف التحیة، ج۱/ ص۱٥٤/ دی نه معلومه شوه چه متمتع باندی طواف قدوم لازم نه دي (تتمه اولیٰ،ص۷۰)

محرم دپاره یادشکریې څناورذبح کول څنګه دي

سوال:(۲٤٥) دقربانی یادشکریې څناوراحرام تړونکي حلالولی شي یانه ؟

جواب:فی الدرالمختاروله ای للمحرم ذبح شاة وبقرة وبعیرالخ مع ردالمحتار،ج۲/ص۳٥۸/ددی نه معلومه شوه چه جائزدي ! (تتمه اولیٰ / ص۷۰)

حلاله ، ذبح، دسرخریلونه وروستوده یامخکي

سوال:(۲٤٦) حلاله دسرخرئیلونه وروستووکړي یامخکي ؟

جواب:فی الدرالمختارثم بعدالرمی ذبح ثم قصرفی ردالمحتارای اوحلق ،ج۲/ص۲۹۴ ددی نه داترتیب معلوم شواول به جمرات اولی بیابه حلاله وکړي بیابه سروخریي، ۷شعبان / ۱۳۲۷ھ (تتمه اولیٰ / ص۷۰)

ایادطواف زیارت دپاره دمستقل احرام ضرورت دي

سوال:(۲٤۷) دقربانی په ورځ چه کله جمرات اولی بیاذبح وکړي بیااحرام نه خلاص شی نوطواف زیارت دپاره به بل څل احرام تړي یانه ؟

جواب:وحل له کل شئی الاالنساء الی قوله ثم طاف للزیارة وفی ردالمحتاروشرائط صحته الاسلام وتقدیم الاحرام،ج۲/ص۲۹۲-۲۹۷/ دي نه معلومه شوه چه بل څل احرام نشته دکوم احرام نه چه دي حلال شویدي هغه دي دپاره کافی دي ! ۷شعبان / ۱۳۲۷ھ (تتمه اولیٰ / ص۷۰)

دقربانی په ورځوکي سعی کول

سوال:(۲٤۸) هغه کوم دري ورځودقربانی کي چه سعی کول مکروه لیکلی دي که یوسړي عرفات ته دتلو په وخت کي طواف اوسعی نه وي کړي .اوس هغه دطواف زیارت کولو په

وخت کي دقرباني په ورځو کې سعی کولی شي یانه؟

جواب: فی الدرالمختاراحکام المفرد ثم طاف للزیارة یومامن ایام النحرالثلاثة سبعة بلارمل ولاسعی ان کان سعی قبل هذاالطواف والافعلـهمالان تکرارهمـالم یـشرع وفی ردالمحتارتحـت قولـه والافعلهمااى وان لم یکن سعی قبل رمی وسعی وان رمل قهستانی ای لانه رمله السابق بلاسـعی غیرمشروع،ج۲/صـ ۲۹۷/ وفی الدرالمختاراحکام المتمتع ویحج کالمفرد لکنه یرمل فی طـواف الزیارة ویسعی بعدان لم یکن قدمهماالاحرام وفی ردالمحتارقوله ان لم یکن قدمهمای عقب طـواف تطوع بعدالاحرام بالحج فلادلالة فی هذا علی مشروعیة طواف القدوم وللتمتـع،ج۲/ص ۳۱۹، دي نه معلومه شوه چه سعی په دي صورت کې کولی شي ، (تتمه اولیٰ/ صـ ۷۰،

لبس رنگین ومخیط احرام دحج /احرام په عمري سره دبدلولو حکم

سوال: (۲۴۹)احرام په ترلو کی توره کپره یادگیرویادبل څیزڅخه رنګ کړی شوی دکپړی اغوستل چه په هغه کی دخوشبو څه شبهه نه وی جایزده اوکه نه ، دوهم څه لونګ یاڅادرچه د پلنوالی دوجی څخه دوه پټه کړی واغواستلی شی په داسی حالت کی احرام دواسطی څه حکم دی

جواب: فی درالمختارباب الاحرام ولبس ازارورداء جدیدین اوغسیلین طاهرین ابیـضین ککفـن الکفایة وهذابیان السنة الخ . فی ردالمحتارقوله وهذای لبس الازاروالرداء علی هذه الصفة بیـان للسنة والافساترالعورة کاف یجوزفی ثوب واحدواکثرمن ثوبین وفی السوادین اوقطع خرقة مخیطة ای المساة مرقعة ولافضل ان لایکون فیهاخیاطة لبـاب ج/ص ۲۵۴/ ددینه معلومـه شوه چه سپینه جامه احرام لپاره مستحبه ده ورنه توره وغیره هم دیکی چه خوشبونه وی جایزده اوداهم معلومه شوه چه تولـه نه بهتره داده چه پـه دیکی سلائی بلکل نه وی کـه چیرتـه دووپټوپه جوړ باندی سلائی وی بیاهم جائزده ، (۱۲/شوال ۱۳۳۳هـ/ تتمه ثالثه / ص ۸۹،

حکم تبدیل احرام حج وعمره

سوال: (۲۵۰)حجة الوادع کښی تاسومحرمین حج حکم وکړوپه دیکښی تاسوسوق هدیه ونه کړهغه عمره وکړه حلال شوکه چیری داسی وکړی آیااوس هم احرام حج مبدل په عمره سره کیدی شی که چیرته نه کیږی نوولی؟

جواب: مـسئله کـې اخـتلاف دي امـام احـمـد رحمه الله اوس هـم دحـج احـرام پـه عمـري سـره دبدلیدوجوازورکوي اوجمهورنه ورکوي . دجمهورودلیل دبلال بن حارث دلیـل دي . قال قلت یارسول الله ﷺ فسخ الحج لنا خاصة ام للناس عامة قال بل لنا خاصة رواه ابوداؤد والنسایي دي حدیث ته اګرچه ضعیف وئیلي شویدي خود حضرت عمر رضی الله عنه فتويٰ ان ناخذ بکتاب الله فان الله امربالا تمام قال الله تعالی اتمواالحج والعمرة لله وان ناخذ بسنة النبی ﷺ فانه لم یحـل حـتی نحرالهدی رواه الشیخان . اودحضرت عثمان رضی الله عنه فتوي لماسئل عن متعة الحج قال کـان لنـا لیست لکم رواه ابوداؤدوباسنادصحیح اوداخوښکاره ده چه دمتعة الحج نه مراد فسخ الحج بالعمرة دي نه چه تمتع بالعمرة الی الحج،ځکه چه ددی عموم منصوصی دی اواتفاقی دي اودغه رنګ دابوزر رضی الله عنه فتويٰ ده انه کان یقول فیمن حج ثم فسخها بعمرة لم یکن ذالک الا للرکب الـذین کـانوا مع رسـول الله ﷺ رواه ابـوداؤد اودارواىـت کـي دده نـه دا الفـاظ دي انماکانت المتعة لناخاصة،اوداثراګرچه دابوذر رضی الله عنه نه مرسل دي خومرسل زمونږ په نزدحجت دي غرض دادري فتوي ددی حدیث ضعف ختموي اودري دمعنی صحت دپاره موجب ګرزي اوکه دحضرت عمر رضی الله عنه ددی قول نه چه متعان . کانتاعلی عهد رسول الله ﷺ واناحرمهاڅه شبه وي چه دامنع کول داحرام دحج عمري سره دحضرت عمر رضی الله عنه رایې ده په دي وجه ددي ضعیف مرفوع حدیث دقوت اودصحت دلیل نه شي جوړیدي نودهغي جواب دادي چه داحرمها په معنی کې اظهرحرمتها التی ثبت عندی عن رسول الله ﷺ . ددي واضح قرینه داده چه دبلي متعه حرامولی یقینا حدیث مرفوع صحیح سره ثابت دي نوڅه رنګ چه هغه دحضرت عمر رضی الله عنه رایې نه ده نودغه داهم دهغه رایې نه ده،والبسط فی التفسیرالمظهری وفیهاالخصاکفایةٌ انشاء الله تعالی ، رجب ۲۷ / ۱۳۵۱هـ/ (النور/ صـ ۹ / ربیع الاول / ۵۲هـ،

په متمتع باندي دم شکرنه علاوه دقرباني واجبیدل

سوال: (۲۵۱)په ممتنع باندی چه نعمت باندی دشکردوجه حلاله لازم ده دی نه علاوه مالداره مسافرباندی قربانی لازم یانه؟

جواب: فی الدرالمختارعلی حرمسلم مقیم بمصراوقریة اوبادیة عین فلاتجب علی حاجی مسافر فاما اهل مکه فلزم مهم وان حجواالخ . وفی ردالمختاروذالك لانهـم مقیمـون ج ۵ ص ۳۰۸ دینه معلومه شوه چه داکس شرعاً که چری مقیم شوی وی په شرط دمالداری ده باندی قربانی

داختر مستقل واجب ده اوکه شرعاً مسافروی نوبیا هم هغه مسافرانه کوی توبیا واجب نه ده (تتمه اولی ص ۱۳۵)

دحج نه پس دشکرانی ددم حکم

سوال: (۲۵۲) دحج نه پس دشکرانی دم څنګه دی اومالداره اوغریبانو باندی څه حکم لری ؟

جواب: دشکري په حج قران اوتمتع کوونکي باندي واجب دي اوحج افراد کوونکي دپاره مستحب دي کذا فی الدرالمختار اوددي دم نه خوړل غریب مالداره اویه خپله چه چادا کړي وي تولوته جائزده، فی الدرالمختار ویجوزاکله من هدی التطوع اذابلغ الحرم والمتعة والقران. فقط (تتمه اولی)

(باب الحج عن الغیر)

باب دي په بیان دکولودحج دطرفه دغیرنه

تحقیق اشتراط حج خود برائ حج بدل

سوال: (۲۵۳) من العبدالمفتاق الی حضرة الشیخ الاکمل الا شرف الا بجل مدالله ظلاله امابعدفهذالعبد منذزمان قد قصرعن التحریرولیس هذا الا مر من قصور الباع علی انی قدکان عوض لی الحمی بناقص فمالت بنی وبین ماشهق وبحمدالله قدبرء والسقم فشکرالله علی السباغ النعم وتلک الا یام لم استطع علی حزبی فیالهف نفسی ثم انی اکلف جنابکم لحل شبهات قدعرضت لی فی اثناء التدریس الصحیح للامام محمدبن اسمعیل البخاری رحمه الله ولم اقدرعلی جواب شاف من غدفالتجات الی سندی ووسیلة النجاح فی یومی وغدی انامعاشرالحنیفة نستدل علی جوازالحج عن الغیروان لم یحج عن نفسه بحدیث الخثعمیة المرویة فی البخاری المطبوع فی المطبع المصطفائي ص ۲۰۵-۲۲۲-۲۵۰/ ونقول الحدیث مطلق وایضاً لم یستلها ﷺ احججت ام لا فیدل علی جوازالحج البدل وان لم یحج عن نفسه لکن هذا شيء لا ن سوال الخثعمیة کان غداة جمع کماوقع فی الصحیح ص۲۲۲-۲۵۰/ استنباطاًوفی سنن النسايي صریحا بهذا اللفظ ان امراء من خثعمسالت ﷺ غداه جمع الحدیث باب الحج الحی الذی لا یستمسک

علی الرحل فلا ان یکون المعنی افاحج عنه العام لا ن الوقت قدمعنی بل المعنی افاحج عنه عاماً اخرولماکان الغالب من حالهاانهاقدقضت الحج ثم سالت فلهذالم یعرض النبی ﷺ عن سؤالهابانهاحججت ام لا وقال نعم ای یجوز ذالک اداء فریضه الحج عن ابیک ولماکان الملبی عن شبرمة لم یحج من قبل قطعا اذکان ذالک عامه حجة الوداع فلما قال لبیک عن شبرمة فلماقال لبیک عن شبرمة ساله من شبرمة فلماقال هواخی فلاجرم نهی النبی ﷺ عن ذالک وامره لقضاء الوطرعن نفسه ثم عن شبرمة فحدیث الخثعمیة ظنی انه مقید لا مطلق عدم الکشف لمامرفلعل مبنی تلک المسئلة کون وقت الحج ظرفاً موسعاً هوالعمرلا هذا الحدیث وامثاله فالمرجوان تفیدونی بجواب شاف من عندکم اذاالشرح لم یاتوابشيء یغنی ولم یفتح لی مایغنی !.

جواب: نعم هذا الحدیث محتمل فلا یصح للاستدلا ل لکن لنافی اصل المسئلة دلیل اخرایضاً وهوسوال الجهنیة وجوابه ﷺ لهابقوله ارأیت لوکان علی امک دین الحدیث وهومذکورفی صحیح البخاری . ص ۲۵۰ / من الجلد الاول فلما الحق ﷺ الحج عن الغیر بقضاء الدین ولم یشترط فی قضاء الدین تقدیم دین نفسه علی دین غیره فکذاالحج واما الا ستدلال بحدیث شبرمة فلیس بقوي لا حتماله علی الکراهة وقدقال فقهاء نابه والله اعلم وماوردفی بعض الروایات کثیروهذاکله فی التلخیص لجیرا (تتمه رابعه)

حکم افساد حج بدل

سوال: (۲۵٤) څه فرمايي علماء دین په دي مسئله کي چه یوسړي ماموریه حج بدل وه ده دوقوف عرفات نه مخکي حج فاسد کړو اوس داخبره معلومول غواړو چه راتلونکي کال ته به چه دي کوم حج اداکوي هغه امردطرفه کیدیشي یانه که چري دی داسي وکړي چه راتلونکي کال ددي فوت شوي حج قضاأوړي بیابوکال نورهم مکه کي پاتي شي اوهم دغه مکي نه احرام اوتړي دي صورتونوکي حج بدل وشویاکه دوړومبي په شان دي وخت کي هم دامردوطن نه حج کول لازم دي ؟

جواب: وقوف عرفات نه مخکي کوروالی کولوسره حج فاسد یږي باطلیږي نه صرح فی اللباب بان مفسده الجماع قبل الوقوف ومبطله الرواه انتهی دغه وجه ده که چرته ددویم حج نیت یې وکړو نوهغه فاسدشوي حج په خپل حال دي ددویم حج نیت لغوه دي فلواهل الحجة اخری

بنوي قضائهاقبل ادائهافهي هي ونية لغولاتصح مالم يفرغ من الفاسدة ردالمحتار. او هر كله چه وقوف عرفات نه مخکي کوروالی کولوسره مخالفت دامرلازم راغی نو داحج دامرنه شو بلکه دمامورشو اول به ددي حج افعال پوره کري بيابه بل کال ته اول ددي حج قضاراوري دي نه پس به دريم حج دامرد طرفنه وکري لا نه اذافسده لم يقع ماموراً به فكان واقعا عن المامورفيضمن ماانفق في حجة من مال غيره ثم اذاقضى الحج القابلة على وجه الصحة لا يسقط الحج عن الميت لا نه لما خالف في السنة الماضية بالا فسادصارالا حرام والقاعه فكذا الحج المؤدى به صارو القاعه ابن كمال وعليه حجة اخرىٰ للامراى سوي حج القضاء وهوالاصح كنافى المعراج ، ردالمحتار ج۲ / ص ۲۶۷/ خوديکي دامرمخالفت دي ددوو وجونه وشويه دي وجه دده حج ميقاتي نه شو ځکه چه دي ماموريه مکي شو خودغه نقصان ختميدل ممکن دي که پنځوميقاتونوکي د ذوالحليفه يادبل ميقات نه احرام وتړي نوحج ميقاتي شو دويمه وجه داده چه دغه سفر چه حج دپاره ماموريه وه ده لره په غير کي مصروف کړو ددي جواب داورکړي شويدي چه بل کار د سفرحکم نه شي بدليدی. ذكرالعلامه القارى في بعض رسالة اضطراب فيهاالفقهاء عصره وهى ان الا فاقى الحاج عن الغيراذاجاوزالميقات بلااحرام الحج ثم عاد الى الميقات واحرام هل يصح عن الا مر قيل لا وقيل نعم ومال هوالى الثانى قال واقى به الشيخ قطب الدين وشيخاسان الرومى فى منسكه والشيخ على المقدسى قلت وهذا يفيدجوازالحيلة المذكورة له اذاعادالى الميقات واحرم الجواب عن قوله لان سفره حينئذ لم يقع للحج انه اذاقصدالبلدعندالمجاوزة يقيم به اياماً لبيع اوشراء مثلاً يدخل مكه لم يخرج ان يكون سفره للحج كمالوقصدمكاناً اخرفى طريقة ثم النقلة عنه ردالمحتار ج ۲ / ص ۱۲۸

فائده ازحافظ عبدالمجيدصاحب تهانوي نزيل بمبئ لسفرالحج

(مسائل منثوره متعلقه بالحج) دحج متعلق مختلف مسئلي

په حج کي دروضه منوره دزيارت حکم

سوال: (۲۵۵)روضه منوره زيارت دپاره دسفرپه باره کي دروميي خبره فقه کتابونوکي مستحب اوافضل ليکلي ده اوددي سره دبعض فقهاء رحمهم الله دقول مطابق واجب ليکلي

دي اوحضرت مولانا مرشدناقطب عالم حضرت مولانا مولوي رشيداحمدصاحب محدث گنگوهی قدس سره العزيزهم په خپله فتوي کي مستحب فرمايي. خومولانا مولوي عبدالحي لکنهوي رحمه الله دوجوب قائل دي پديکي کومه خبره مضبوطه ده اودمحققينوحنفيه رحمهم الله مسلک پدي باب کي څه دي ؟

دقرباني دورځونه حلق ، سرخريل ، وروستوکولو حکم

سوال: (۲۵٦)که چيرته تاخيرحق دايام نحرڅخه وی ددی څه حکم دی ؟

جواب: فى درالمختارباب الجنايات فى موجبات الدم اوآخرالحاج الحلق اوطواف الفرض عن ايام النحرلتوقتها اه.ددينه معلومه شوه په دی صورت کی په حاجی باندی دم لازم شو فقط ۲/شوال ۱۳۲۲هـ ج /تتمه اولی/ص ۲۸.

دماښام لمونځ عرفات کي اودماسخوتن لمونځ په مزدلفه کي دکولوحکم

سوال: (۲۵۷)دعرفی په ورځ که چيرته يواځی دماښام مونځ په عرفات کی وکړی اودماخستن لمونځ په مزدلفه کی وکړی نوڅنګه اوڅه حکم دی

جواب: فى درالمختارفصل فى كيفية الحج ولوصلى المغرب فى طريق اوفى عرفات اعاد. ددی روايت نه معلومه شوه په دی شخص باندی دماښام لمونځ اعاده کول لازم دی فقط ۲/شوال ۱۳۲۲هـ ج /تتمه اولی/ص ۲۸.

عرفات کي وروستو دجمع نه دمازيګراوده

ماښپښين لمونځ جمع کولو څه حکم دي

سوال: (۲۵۸)مونږحج کولوعرفات په غونډی باندی الوان پولوی مسجد حضرت آدم ع ورته ويلی شی په دی کی امام خطبه لوستله دماسپښين اومازديګرپس له زوال نه په يومځل کی ددی نه وروسته امام اويوڅوحاجيان يوځای شی بيرون دمسجدنه ظهراودعصرمونځ خانله خانله وکړی جايزدی که نه ؟ځکه هريوخانله خانله لوستل جماعت احرام څخه شرط دی خطبه خوشرط نه ده که چيرته صحيح وی مهربانی وکړی جواب راکړی

جواب: فی درالمختاروشرط لصحة هذاالجمع الامام الاعظم اونائبه اوالاصلوا وحداناً . (ج /۲/ص ۲۸۲/ ، ددی نه معلومه شوه پدی صورت مسؤله کی جمع جایزنه ده . (تتمة اولی /ص ۷۱)

مزدلفه کې دماښام اوماسختن لمونځ یوځاې اداکولوکې امام شرط نه دي

سوال: (۲۵۹) په مزدلفه کی ماښام اوماخستن اول امام څخه بعد یوځوحاجیان یوځای شی هریو خانله مونځ وکړی کنه ؟

جواب: فی درالمختار کمالااحتیاج ههناللامام فی ردالمختاروشرائط هذا الجمع الاحرام بالحج وتقدیم الوقوف علیه لزمان والمکان والوقف الآخـره . (ج ۲/ ص ۲۸۲) ، ددینه معلومه شوه په دی جمعه کی اماالجمع شرط نه پس اګرچه فرداً وکړی یاڅوکسان جمع شی په جماعت سره یی وکړی هرقسم صحیح ده (تتمه اولی / ص ۷۱)

مزدلفه کې ماښام اوماسختن کې ترتیب واجب دي

سوال: (۲۶۰) مخکی ماسختن مونځ کول یاماښام اوصاحب ترتیب هم مخکی دماښام مونځ اوکه دماښام.

جواب: فی الدرالمختارولوصلی العشاء قبل المغرب بمزدلفة صلی المغرب ثم اعاد العـشاء فـان لم یعدها حتی ظهرالفجر عادالعشاء الی الجوازفی ردالمختارلافرق فی هذابین ان یکون صاحب الترتیب اولا فتزادهذه علی مسقطات وجـوب الترتیـب . (ج ۲ ص ۱۲۸۸ . ددینه معلومه شوه اول ماښام وکړی بیاماسختن اوکه چیرته بالعکس وکړی نودترتیب اعاده واجب ده که چیرته اعاده یی ونکړه طلوع دفجرڅخه دواړه صحیح کیږی فقط (۷شعبان /۱۳۲۷ هـ /تتمه اولی /ص ۷۱)

دنفرحج کولوسره صاحب دنفرحج نه اداکیږي

سوال: (۲۶۱) یوکس دحج کولونظروکړه یوصاحب نصاب مولوی صاحب یې ولیږلواوحج یې وکړودوجه دنه مسکینوالی نه اګرچه حج اداته شونظرهم پوره نه شوهغه دوهم خلی خرج ورکړی نوحج اداکیږی اوکنه ؟

جواب: نظر نه اداکیږی په قدردزادحج کی خکه مسکینانوته ورکول لازمی ده خواه که هغه حج اداکړی یانه نظراداء شوربیع الاول /۱ ۱۳۳۰ هـ / تتمه اولی / ص ۷۲)

اوبدي صاحب نصاب دروبو وابس کول واجب نه دي

سوال: (۲۶۲) په مولوی صاحب باندی هغه روپی واپس کول ضروری دی یانه؟

جواب: نه............(تتمه اولی / ص ۷۲)

دنفرحج سره فرض حج اداکیږي یانه

سوال: (۲۶۳) مولوی صاحب حج وکه دهغه فرض اداء شوکه نه ؟

جواب: دخه شی نیت چه یې کړی وی صحیح دی (ربیع الاول ۱/ ۱۳۳۰ هـ / تتمه اولی/ ص ۷۲)

په عرفات کې دونو لګولوحکم

سوال: (۲٦٤) بعضی دردمند مسلمانانوداخیال دی چه په عرفات کی دګرمی په موسم کښی دډیردهوپ اوګرمی دوجه نه په زرګونوحاجیان چه دخیموغیره انتظام نشی کولی هلاکیږی یادیرسخت تکلیف اوچتوی که چیری هلته دګنړسوری والاونی په ګنړشمیرکښی لکه توت یاکیکروغیره اودرولی شی نودهغی سوری سره دګرمی اودهونه دبچ کیدوامیدشته داخلق دونولګولوپه کوشش کښی دی اودهغوی داخیال دی چه دمشرانونه تراوسه پوری پدی باندی عمل نه کیدووجه داده چه پخوانی زمانه کښی دغه ونوموجوداوودحجازپه زمکه کښی ددی دشین کیدوعلم نه وو اونه دغه زمانه کښی دسږنی اودیوخای نه بل خای ته دتلوڅه ذریعه موجودوی خلق دسخت عادت ووخوڅه مسلمان پدی سوچ کښی دی دبلی ولی داخیال دی چه دمیدان عرفات داقدرتی منظردخیرالقرون نه جمع دزرګونوکلونونه مخکښی دانسانی تفرقاتونه پاك وو اوپه خپل اصلی شکل باندی مضبوط پاتی دی اوبدی صفت سره چه دګرمی دلری کولوضرورت هم پخوانه دی اودهغی سببونه (یعنی سایه داروني اودرول) هم پخوانی دی اوآسان هم بیاهم دمشرانوئه ترننه پوری داصورت چه هیڅ وخت کښی هم ګران نه وواختیارنه کړی شومکه څنګه چه دابوضرورت په نهرزبیدی سره پوره شوسره ددی نه چه دهغی جوړول دیرګران وواودادسلفوپه زمانه کښی چه کم نه کم تبع تابعین موجوددو نودګرمی دپاره دونوضرورت چه آسان ذریعه ده داخودبدعت په تعریف کښی راځی اوددی قیاس کول دپخواني سفرکولوچه په قدیم سامان سره وودنن زمانی په جدیدجدیدسامان سره مثلاموټری ،ریل ګادی ،هوائی جهاز ،سمندری جهاز ،اوخلقنالـه من مثلـه مایرکبون باندی قیاس مع

الفارق دی. بل داکه دونواودرولوسلسله قائم پاتی شوه نووادی عرفات به دمیدان په ځای دیوباغ په صورت کښی بدل شی لهذاداتپوس کووچه (۱) میدان عرفات کښی حاجیانوته دګرمی په موسم کښی ددهوپ اوګرمی نه دبیچ کیدوپه خپل سایه داروني اودرول اودهغی کوشش کول شرعاًجائزدی یانه ؟(۲) که وني اودرول یاهغی کوشش کول جائزوی نومباح دی یامستحب یاسنت یاواجب یافرض ؟(۳) که ناجائزه وی نومکروه تنزیهی دی یاتحریمی دی یاحرام ؟(۴) که اودرول جائزنه وی نوداکسان منع کول مسلمانانویاندی خپل وس مطابق لازم دی یانه ؟(۵) دعرفات دحدنه بهردمسجدغره شاته دونواودرولوحکم هم دمیدان عرفات په شان دی یادهغی نه جدادی ؟(۶) مکه مکرمه کښی اودحرم په حدود کښی دتنه دونواودرولوجوازپه میدان عرفات باندی قیاس کیدیشی یانه ؟بینوتوجروا؟

جواب:عرفات اودحرم په حدود کې دننه سیوري دپاره وني لګول بغیردشبه نه فی نفسه جائزدي اوبغیراستحباب حکم هم پرې کېدېشي اګرچه غوره ددې پرېښودل دي. دجائزکېدودپاره دغه دلیل کافی دي اودنه جائز کېدوڅه دلیل نشته بلکه کلیات ظاهراً په جواز باندې دلالت کوي فقهاء په باب جنایات الحج کې دګیاکټ کولواودونو میوه داروغیرو میوه داروکټ کولو حکمونه داباحت نهي اوضمانت یې تفصیل سره بیان کړېدي که چرې ونوکرلو کې څه درجه هم کراهت وي نودهغې به یې خامخاذکرلولې مګرهغې ته یې هیڅ تعرض نه دی کړي داواضح دلیل دي چه دابلا کراهت جائزدي بل داچه فقهاء په منی کې چه داهم حرم کې داخل دي دعمارتونوپه وجودباندي یې دجمعه صحیح والي متفرع کړېدي اودهغې کراهت ته یې څه تعرض نه دي کړي نوپه دې طریقې ذکرشوي داهم دلیل دي دعمارتونودجوازبغیردکراهت نه. دعمارتونواوونومشترکه غرض فائده اخستل دي دواړه ظاهردي نولکه عرفات کې خوبه درجه بهتره اجازت شته دادجواز فی نفسه دلیلونه وه. بل داستحباب لغیره داتوجیه کېدېشي چه داحاجیانوته ارام رسول دي اوحاجیانوته ارام رسولوکمه درجه مستحب خوضروردە اوداشبه چه خیرالقرون کې نه وه خیرالقرون کې موجود دیدل عام دي وجود دعین او وجود دلیل لره. اودلیل سره دنظیر اومثال بره ذکرکړي شو چه هغه نظیرعمارتونواوابادي دي آبادوکې اوونو کې څه دومره لوي فرق نشته که جائزاخستوکې دانفع اخستل مؤثرنه وي نوبیاخوابادي هم په منی کې دحضرت ﷺ په زمانه کې نه وي بیابه خیرالقرون کې داهم ناجائزګڼرلي کېدي پاتي داخبره چه پرېښودل یې غوره ځکه دي چه دي کې دستو صورت اومعنی دواړه جمع کول اوجمع کېدوکې صرف دمعنی خیال ساتل بغیر

دصورت نه غوره کېدل ظاهردي معنی اودحاجیانودهلاکېدلوغالبه ویره ددې غوره والی پرېښودوته نقصان نه شي رسولي ځکه چه چه ددي انتظام وس اوطاقت لرونکې کسان کولی شي چه یې وسه اوکمزوري کسان ځان سره خیمه وغیره کې شریک کړي البته دغه غرض یعنی سیوري دپاره په جوماتـ کې وني لګول دغوره قول مطابق مکروه دي ځکه چه دهغې علت مشابهت دبیع سره راځي اوهغه ځایونه چه مانځه دپاره جوړکړي شویدي خرابولي شي البته خپله دجوماتـ دعمارت مصلحت دپاره وني لګول لکه نمې جذب کول داددي کراهت نه مستثنیٰ دي ذکرهذا کله فی الدر المختار ورد المحتار احکام المسجد قبیل باب الوتر. والله اعلم. ۲۰ شعبان / ۵۳ (النور / ص ۷ / شعبان / ۵۴ هـ)

(کتـــــــاب النکاح)

داکتاب دي په بیان دنکاح کې

ولی چه دمنکوحې داجازت نه بغیرنکاح وکړي دهغې حکم

سوال: (۲۶۵) ولي چه دمنکوحې داجازت نه بغیرنکاح چه دهغې عمرديارلس کاله وه په زوره دعمروسره اوکړه سره ددې نه چه جینې دینه مخکې صفا صفا وئیلي وه چه زه هرګز عمروسره خوشحاله نه یم خوبکربغیر درضااواطلاع نه په خپله یې دهغې نکاح عمروسره وکړه اوس نکاح نه پس هم دجینې هغه خبره ده کومه چه دنکاح نه مخکې وه اوس دانکاح چه بکر دخپل طرفنه دخپلې لورنکاح عمروسره کړې وه جائزشوه یانه اودولایت موده په شریعت کوم وخت پورې ده ولیکې ؟

جواب: که دغه جینې بالغه وي اوکوم وخت چه پلار ددې نه اجازت غوختویادنکاح خبرورته اورسیدو اوهغې انکار وکړو نودانکاح جائز نه شوه ځکه چه ولي په زوره ولایت بالغیدوپورې دي اوکه بالغه نه وي یاسره دبالغیدونه دنکاح داجازت په وخت کې یادخبررسیدوپه وخت چپ پاتي شوې وي(۱) نونکاح وشوه اودنکاح نه مخکې یاپس دنکاح نه انکارته اعتبارنشته (۲) البته که دپلار دموجودګي په وخت کې چابل چااجازت اوغوختونوصرف چپ کېدل دلیل

---

(۱) یعنی چه دولی داجازت اخستونکې ولی وي ۱۲ منه

(۲) یعنی که دولی داجازت اخستووخت کې چپ پاتي شوې وي ۱۲ منه

درضانه دي څرګندوي چه په خوله يې اجازت نه وي ورکړي پدي صورت کې هم نکاح نه ده شوي ولا يجوز للولی اجبار البكر البالغة على النكاح فاذا استاذنها الولى فسكت اوضحك فهواذن وان فعل هذا غير الولى لم يكن رضاحق يتكلم به ولو زوجها فبلغها الخبرفسكت فهو على ماذكرنا (هدايه) اودجيني بالغيدل احتلام ، حيض ، اوحامله کېدوسره ثابتيږي اوکه دي علامتونوکې څه علامت اونه موندي شوه نو پنځلس کالوپه عمرباندي بالغ کېدوفتوي'ورکولي شي البته که داجيني خپله او وايي چه زه بالغه يم اوښکاره حالت هم دهغي معلوميده نودهغي تصديق به کولي شي (۱). والجارية بالاحتلام والحيض والحبل وان لم يوجدمنهاشيئ فهي يتم لكل منهما خمس عشرة سنة به يفتی فان راهقالا بلغناصدقاان لم يكذبهما الظاهر . درمختاروالله اعلم . ۲٤ ذی قعده / ۱۳۰۳ هـ (امداد الفتاوي / ج۲ / ص ٥)

دګونګي دنکاح طريقه

سوال : (۲٦٦) دګونګي نکاح په څه رنګ طريقې سره کېديشي ؟

جواب : که په ليکلو پوهيږي نواودليکلې شي ورته کنې اشارې سره چه کله منظورکړي اوقبول دپاره دسريالاس سره اشاره اوکړي نکاح صحيح ده . واذاكان الاخرس يكتب كتاباويومي ايماء يعرف به فانه يجوزنكاحه وطلاقه وعتاقه وبيعه وشرءه (هدايه جلدثاني) والله اعلم (امدادج ۲ ص ٤)

بي بي لره په سفر کې دبوتلو متعلق حکمونه

سوال : (۲٦٧) زيدخپله بي بي زبيده خان سره په سفرکښې بوتلل غواړي اوهغه انکارکوي چافتوي ورکړيده چه دزيدپه زبيدې باندې هيڅ طريقې سره څه حق نشته اوزبيده ته اختيارشته چه خپل سامان دواده واپس کړي اودادواره سپاهيان دی سيل اوسفرېکښې څه عيب نه دی دادرست دی يانه؟

جواب : که چرې مهرپوره يادهغي فوراً ورکول ياڅه مودي باندي ورکول شرط ده هغي يې ورکړي وي يادطلاق اودمرګ نه وروستو دمهر اوغوختواودهغي نه مخکې دي نه غوختو رواج وي اوڅه مهريې نه وي ورکړي نوبيا خوزيدته اختياردي که کوم خواچه غواړي بودي خې خوبه

¹خوبه دي شرط چه نهو کالونه کم نه وي ۱۲منه

دي شرط چه دتنګولوپه اراده يې نه بوځي . اوکه مهرسره ددي نه چه فوراً اداکيدل شرط شوي وه اوده ټول يابعضي دهغي نه نه وي اداکړي يادتنګولوپه اراده يې بوځي نوبيا ورته سفرکې دبوتلو اختيارنشته . ولهامنعه من الوطى والسفر بهاولوبعدالوطى وخلوة رضيتها لاخذمابين تعجيله من المهركله اوبعضه اواخذمايجعل لمثلها عرفابه يفتى لان المعروف كالمشروط (۱)ان لم يوجل اويعجل كله فكماشرطالان الصريح لفوق الدالا لةالا اذاجهل الاجل جهالة فاحشة فيجب حالا غاية الا التاجيل بطلاقه اوموت فيصح للعرف بزازية ويسافربها بعد اداء كله موجلا اومعجلا اذاكان ماموناً عليها والا يؤ دكله اولم يكن ماموناً لا يسافر بهابه يفتى درمختار . اوده واده سامان واپسي په عرف باندي مبني ده که دلوريه ملکيت کې وي نواختيارشته اوکه دخوم په ملکيت کې وي نواختيارنشته اوکه د دواړو ملکيت کې وي نوتقسيدونه وروستوبيا اختيارشته . والله اعلم . ۲۷ شوال / ۱۳۰٤هـ / امدادج ۲ / ص ۲

بي بي سره دخپل خپلوانوسره دملاويدونه منع کولو تفصيل اوحکمونه

سوال : (۲٦٨) خاوندښځی لره دښځی دولی نه مصلحة دوجه دشراوفسادنه خپل ځای ته دراتلونه دمنع کولويادوپرملاويدونه دمنع کولواختيارلري يانه فقط ؟

جواب : موربلار سره دملاويدونه دنه بندوی په هره هفته کښې دورسره يوځل ملاويدوته پريږدی اونورخپلوانوسره که يوکال کښې ديوځل نه زيات ملاويدونه منع کوی نوجائزدی اودچاپه راتلوکښې که شر، فتنه يافسادويره وی نوهغه لره منع کول جائزدی سړی ته دهغی اختيارشته خودلری نه ليدلواوخبرونه دی نه منع کوی . وله ان يمنع والديهاوولدهامن غيره واهلهامن الدخول عليهالان المنزل ملكه فله حق المنع من دخول ملكه ولايمنعهم من النظراليهاوكلامهافي اى وقت اختاروالمافيه من قطيعة الرحم وليس له في ذالك ضرروقيل لايمنع من الدخول والكلام وانمايمنعهم من القرارلان الفتنة في اللباث وتطويل الكلام وقيل لايمنعهامن الخروج الى الوالدين

¹فقها. داعبارت ليکلی دي الاالتاجيل بطلاق اوموت چه دهغی حاصل دايې وليکل چه داشرط يې ګرځولی وه چه دمرګ داشبه راغله چه کېديشی داحکم چه فقها. ليکلی دي صريح تاجيل په صورت کې دي لي کتوونکو عالمانو ددي مکررتحقيق وکړي ۱۲منه

ویمنعهاعن الدخول علیهافی کل جمعة فی غیرهمامن المحارم االتقدیربسنة وهوالصحیح .هدایه ص/۴۲۱
والله اعلم . ۲۶ربیع الاول س ۱۳۰۱هـ (امدادص /۴/ج/۶)

بی بی لره دولیانوسره دملاویدونه منع کول

سوال: (۲۶۹) زیدخپله بی بی دخپلی مورکورته دتلونه منع کوی اونه ئی پریږدی پدی وجه چه دی غالب گمان سره داگتری چه هلته به پرده نه وی اوپرده خودشرعی غیرمحارمونه نه کیږی اودهغی مورلیدل غواړی . اوزیددااجازت ورکوی چه ددی مورزمونږکورته راشی اوخپله لوراووینی . نودی صورت کښی زیدلره خپله بی بی مورکره دتلونه منع کول شرعاً جائزدی یانه اودهغی مورلره ئی په زوره راغوختل جائزدی یانه فقط ؟

جواب: که مورپلارخپلی لورکره راتلی شی نوخاوندلردغوره مذهب مطابق مطلقاً اختیارشته چه بی بی لره هغوی کره دتلونه منع کړی بلکه هغوی دخپله راشی اوملاودشی اوخاص کرداکه فتنه اواحتمال دبی پردگی وی نودی وخت کښی اجازت ورکول هم جائزنه دی که اجازت ئی ورکړه نوګنهګاردی . ولایمنعهامن الخروج الی الوالدین فی کل جمعة ان لم یقدرواعلی اتیانهاعلی مااختیاره فی الاختیارفی هامشه هکذانعم ماذکره الشارع اختاره فی فتح القدیرحیث قال وعن ابی یوسف رحمه الله فی نوادرتقیدخروجهابان لایقدرعلی اتیانهافان قدرالاتذهب وهوحسن وقداختاربعض المشائخ منعهامن الخروج الیهاواشارالی نقله فی شرح المختاروالحق الاخذبقول ابی یوسف رحمه الله اذاکان الابوین بالصفتة التی ذکرت والاینبغی ان یاذن لهافی زیادتهافی الحین بعدالحین علی القدرالمتعارف امافی کل جمعة فهوبعیدفان فی کثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصاً اذاکانت شابة والزوج من ذوی الحیات بخلاف خروج الابوین فانه الیسرانتهی ۱۲شامی ج ۳ ص ۶۶۴ .وایضافی الدرالمختارفی باب النفقة ویمنعهامن زیارة الاجانب وعیادتهم والولیمة وان اذن کان عاصیین انتهی اقول اناالکاتب علة العصیان انماهی خوف الفسادفمن خیف الفسادعصی بالاذن .نودغه صورت کښی زیدلره خپله منع کول جائزدی اودهغی موروغیره ئی په زوره نه شی راغوختی. والله اعلم

حدحق زوجه ومحارم اودرملاقات باهمی

سوال: (۲۷۰) درمختارمطبوعه بمبی ص ۲۱۰ کرخه پورپشتم باندی چه کوم عبارت دی چه بی بی لره دمورپلارلیدلودپاره دکورنه وتل جائزدی . فی کل جمعة مرة الی ان قال لافیماعداذالک وان اذن کان عاصیین ددی وضاحت غواړم ددی مفهوم زماپوهه ته صحیح نه دی راغلی آیاوورونی دپاره یاغیرذی محارم کښی څه ضرورت دپاره دراتلواجازت بی بی ته کیدیشی یانه . اودمورپلارلیدلودپاره په هره جمعه کښی یوځل نه زیات جائزنه دی که حق نه دی اوخاوندلره په هره جمعه دتلونه دمنع کولوحق شته یانه . بهرحال زماطبیعت په دی شبه کښی غورزیدلی دی چه عام ښځی دخاوندپه اجازت دخپلوخپلوانوپه غم اوخوشحالی کښی شریکیږی اودغه شان هم دلیوردخاوندمشروروریادنورخپلوخپلوانوملاویدته خی راځی اوشپی هم هلته تیروی اودیکښی عوام اوخواص تول مبتلادی بیاددی روایت مطلب دی ؟

جواب: فی الدرالمختارباب المهروله االسفروالخروج من بیت زوجهاالی قوله اوالزیارة ابویهاجمعة ثم الی قوله لافیماعداذلک وان اذن کاناعاصیین والمعتمدجوازالحمام بلاتزین اشباه وسیجئی فی النفقة فی ردالمختاروان لم یکوناکذلک (ای قادرین علی اتیانها) ینبغی ان یاءذن لهازیارتهمافی الحین بعدالحین علی قدرمتعارف امافی کل جمعة فهوبعیدفان فی کثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصاًان کانت شابة والرجل من ذوی الهیئة وفی ردالمختارتحت قوله والمعتمدحیث ابحنالهاالخروج فیشترط عدم الزینة فی الکل وتغیرالهیئة فیشترط عدم الزینة فی الکل وتغیرالهیئة ای مالایکون داعیة الی نظرالرجال واستعمالتهم ثم قال فی الدرالمختارباب النفقة ویمنعهامن زیارت الاجانب وعیادتهم والولیمة وان اذن کاناعاصیین فی ردالمختارقوله والولیمة ظاهرة ولوکانت عندالمحارم لانهاتشتمل علی جمع فلاتخلومن الفسادعادتاً رحمق . دی عبارت نه لاندی امورمعلوم شول

(۱) جمعه څه شرعی حدنه دی مداریه عرف اوضرورت باندی دی ددی نه زیات که چرته څه فتنه نه وی نوحق نشته اوکه فتنه وی نوجائزهم نه دی (۲) ولیمواوغیرمحارم خایونوته دتلونه منع کیدل دانهی معلل ده په علت ددی چه احتمال دفتنه وی اوفتنه عام هرهغه کارچه دشریعت خلاف وی چه دهغی تفصیل زماپه نزدهغه دی کوم چه بنده په اصلاح الرسوم کښی لیکلی دی باقی دچاپه نزدچه کوم فتنه وی مداردنهی هم هغه دی اودعلت ختمیدوسره معلول ختمیدی شی (۳) کوم ځای ته چه دتلواجازت دی هغه هم مشروط دی په دی چه ځان به نه

خاتـــسته کوی او دهغی مندارهم دغه احتمال دفتنی دی امید دی چه اوس ددی متعلق ټول اشکالات ختم شوی وی. ۷جمادی الاخری سنه ۳۴هـ (تتمه رابعه ص ۴۰)

حدزیارت ابوین منکوحه شابه را

سوال: (۲۷۱) فلانی سړي یعنی خسرخپله لوربوتله نوحضرت زما نقصان اوشوزما د رضانه بغیرئی بوتله او داوائی چه آیازمونږ څه حق نشته ددی دراوستو اواوس داهم پته نشته چه څومره موده ورکړه وی. حضرت اوس عاجزداخبره معلوم ول غواړی چه مورپلارلره په خپل کورکښی دیاتی کولو څومره حکم دی. یاداچه څلورمیاشتی خاوندسره وی نواته میاشتی به پلارکره وی اوحضرت هغی وائی چه مونږخپله لوربه تاڅه خرڅه کړی خونه ده؟

جواب: فی الدرالمختارولایمنعهامن الخروج الی الوالدین فی کل جمعة ان لم یقـدرعلی اتیانهـاعلی ماختاره فی لاختیارالی قوله ولایمنعهامن الدخول علیهافی کل جمعة وفی غیرهمامن المحارم فی کـل سنة فهاالخروج ولهم الدخول زیلعی فی ردالمحتارفان قدرالاتذهب وهوحسن الی قوله والاینبغی ان یاذن لهافی زیارتهمافی الحین علی قدرمتعارف امافی کل جمعة فهوبعیدفان فی کثرة الخروج فتح باب الفتنة خصوصاً اذاکانت شابة والزوج من ذوی الهیئة بخلاف خروج الابوین فانه ایسرآهـ ج ۲ ص ۱۰۹۳

دنابالغه نکاح بغیردولي نه باطل دي

سوال: (۲۷۲) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کښی چه څوکاله اوشول چه یوی زنانه دخپلی نابالغی لورنکاح دخاوند درضامندئ نه بغیر خپلواتو کښی یوهلك سره اوکړه اودواړه ددواړوطرفونوتوله خرچه ئی دخپل طرف نه اولګوله چه ددووسوو ۲۰۰ روپوبرابربه وی سره ددی نه چه ددی زنانی خاوند دواړه کیدوپه وخت کښی موجودوو. خودی چپ ناست وی دسخت مزاجی اوسخت ژبی دبنځی نه څه وئیلی نه شی بلکه دی باره کښی څومره خلی خاوند منع کړه که عبث دلورنکاح داسی هلك سره کوی چه بیابه سیوادافسوس اوارمان اولاس مروړتونه بل څه په لاس نه درخی. سره ددی دومره پوهولونه پدی باندی هیڅ اثرنه شوبلکه په غصه کښی خاوندته وائی چپ شه ستادیکښی څه کارنشته هغه غریب نه ساه لاړه چپ شو. اودنکاح ترلوپه وخت کښی نکاح لوستونکی دمهرباره کښی دسړی نه تپوس اونه کړه. نودی صورت کښی چه دانکاح دپلارداجازت نه بغیراوترلی شوه صحیح اودرست ده یانه بینواتوجروا؟

جواب: دی صورت کښی دانکاح صحیح نه شوه ځکه چه دنابالغی نکاح بغیردولی نه نه کیږی اودپلارپه موجودګی کښی مورته دولایت حق نشته. ویجوزنکـاح الـصغیرة اذازوجهـاالولی بکراًکانت الصغیرة اوثیباوالولی هوالعصبة هدایه فان لم یکن عصبة فالولایة للام درمختار. ۲۷ ذی الحجة بروزجمعه سنه ۱۳۰۴هـ (امداد ص ۷ ج ۲)

دنابالغي نکاح په اجازت دولي باندي موقوف دي

سوال: (۲۷۳) یوه نابالغه جینئ ددولسودیارلسوکالوده دهغی وروردپنځلس شپاړس کالودکلی نه لری کلکته کښی نوکردی دهغی جینئ پلارنیکه نشته تره اونورخپلوان وغیره ئی شته خوپوره طریقی سره دهغی خبراترنه اخلی دهغی مورچه دوړوکوالی نه ئی پرورش اوپالنه کوی هغی ورته دغریبی اودتکلیف په وجه دخپل پوهه مطابق یوښه ځای نیولی وو خوتره اونورخپلوانوئی دحسدیادڅه خفګان یادبل څه وجه نه هغه ځای ناخوښه ګڼړلوپه وجه بیل شول مورئی دمجبورئ دوجه نه خان په خپله ولی جوړکړواواذن ئی ورکړه نکاح ئی اوترله نودی صورت کښی دانکاح جائزشوه یانه. نوبیاڅه کول پکاردی اوکه دانکاح معلق وی نوکه داجینئ دبالغ والی دوجه نه دی جلسه کښی خپله رضاښکاره کړی نوبیانکاح جائزده یانه؟

جواب: فی ردالمحتارالجلدالاول ص/۵۳۶/واما اذاکان ای وجدسلطان اوقاض فی مکان عقدالفضولی علی المجنونة فیتوقف ای ینفذباجازتهابعدعقلهااوبلوغهالان وجودالمجیزحالة العقدلایلزم کونه مـن اولیاء النسب کماتقدم فی الباب السابق قبیل قوله وللولی الابعدالتزویج بغیبة الاقرب الخ. اوس دی مسئله کښی چونکه اجازت ورکوونکی دنکاح موجوددی نودانکاح اول موقوف ده اوکله چه پس دبالغیدونه جینئ خپله رضاښکاره کړی نونکاح صحیح ده البته که ولی اجازت ورکوونکی ته ددی درضاخبررسیدونه مخکښی ددی دنکاح داخبرقبول نه کړی نوبیادانکاح نه معلق ده اونه موقوف ده بلکه باطله ده. ۱۱/ربیع الاول/س ۱۳۲۵هـ (امدادص ۳۴ ج ۲)

سوال: (۲۷٤) که دنابالغی جینئ ولی ته دهغی دنکاح پته وی اودهغی په نکاح کښی شامل نه شی نوداولی ددی نکاح یوکال یادوه کاله پس جائزه کړی اواجازت ورکړی نوآیاسره دعلم دنکاح ددی نه کال یادوه کاله پوری دانکاح دولی پوری موقوف کیدیشی؟

جواب: موقوف کیدیشی خوپوری چه ئی رد کړی نه وی. فی الدرالمختار باب الولی صغیرة زوجت نفسها ولاولی حاکم ثم توقف ونفذ باجازتها بعد بلوغها لان له مجیزاً وهو السلطان ا ه. ۱۸ محرم الحرام س ۳۲ ه (تتمه خامسه ص ۲۴۹)

دنابالغې نکاح دپلارنیکه نه بغیر دبل چادطرفه دکولو حکم

سوال: (۲۷۵) خدابخش نومې یو د پرښه سړی دی دده یوې زنانه (ډمې) سره بې دنکاح نه تعلق پیداشواودغه حالت کښې ددې یو هلك پیداشواوس داهلك دخدابخش دنطفه نه دی یادبل دچادنطفې نه دی ځکه چه ددې دموزنانو عمل ته اعتبار نشته، خوخدابخش داهلك دخپلې نطفې نه اوګڼړاوپه ځې ئی اونیوواو دهغه نوم ئی عبدالله کینبود دخورورخونه پس دغه زنانه مړه شوه چاسره چه دخدابخش تعلق ووددې دمرګ نه وروستوداهلك عبدالله خدابخش دتربیت په غرض ځان سره کړواودهغې وارثانوته ئی ورنه کړواوپه دې خیال ئی ځان سره اوساتلوچه زمایوخورزه (دخورلور) ده دهغې سره به ئی نکاح وکړم اوداهلك عبدالله به زماقبضه کښې پاتې شي په دې وجه خدابخش دخپل خیال مطابق هغه شان عمل وکړودخپلې خورزې سره دهغې د ورور اومور نه اجازت اوولایت وانخسته، ځکه چه ددې جینې ورور اومور موجودنه وو ددې نه دومره لرې ووچه په ریل کښې ورته یوه شپه اوورځ لیګیده، په دې شرط واخسته چه مونږ جینې درکووخوهسې نه داهلك بالغ شي اودمورور وارثانوته لاړشي اوجینې ته رخصت وکړي پدې خدابخش اقرار وکړوچه داسې به نه کیږي (داجینې یتیمه وه ددې وارثان ورور اومور وه اونورئې څوك نه وو) په دې شرط باندې خدابخش خپله ولې شواودخوې نکاح ئی دخپلې خورزې سره دخپل طرف نه اوتړله پدې وخت کښې دعبدالله عمر تقریباً اته کاله وواوددې جینې عمر تقریباً ځوارلس کاله وودوه کاله پس دخدابخش خیال غلط راووتو یعنې ددې هلك وارثانودې هلك سره یعنې عبدالله دځان سره بوتلواودېلې جینې درخصتې ئی غوښتله خوخدابخش دخپلې خوراوخورزې دشرط مطابق رخصت ورنه کړي اوبیاخدابخش ته دافکر پیداشوچه دغه جینې ته طلاق ورکړي اوبله نکاح ورسره دخپلې خورزې اوتړي ځکه چه که دډمرې په ډله کښې زماخورزه پاتې شوه نودهغې نه چه کوم اولادپیداکیږي هغه به هم دډمتوب کارکوي نوپه دې خیال ئی دطلاق اخستوکوشش کولو اوطلاق نامه ئی اولیکله اواوس په دې وخت کښې دعبدالله عمر یوولس کاله دی چه ددې ماریه نابالغې کښې کیږي اوډیرورکی دی اوخدابخش دخورزې عمر دې وخت کښې اوولس

۱۷ کاله دی چه پوره طریقې سره بالغه شوې ته رسیدلی دی نوددې بره ذکرشوووجوهو مطابق داطلاق صحیح کیدیشی یانه. اودازنانه چه بالغه ده ددې دعدت دوه میاشتې لس ورځې اوشوې یعنې عدت پوره شوی نه دی اودویمه نکاح ئی اوکړی شوه دانکاح صحیح ده یا نه یادځه بل حکم ضرورت دی هغه حکم بیان کړی دواده کولوخبره ترجوابه پورې حصاره ده فقط؟

جواب: فی الدرالمختار باب الولی وللولی انکاح الصغیر والصغیرة الی قوله وان کان المزوج غیرهما ای غیر الاب وابیه ولوالام لایصح النکاح من غیر کفوا وبغبن فاحش اصلاً وماقال صدرالشریعة صح ولهما فسخه وهم آه مختصراً. قلت وقدقرره فی ردالمحتار وفی الدرالمختار باب الولی ایضاً وهو ای الولی شرط صحة نکاح صغیر آه. ددې روایتونو په بنیاد جواب دادی چه که دومبنې نکاح تړلو په وخت کښې داخورزه نابالغه وه نوبیاددې نکاح ردناجائز کیدودوجې دې یوداچه بغیر دپلاراودنیکه نه نکاح کول په غیر کفو کښې ځکه چه عبدالله نسب ثابت نه دی دی دهغه کفونه دی ځکه چه زمونږ روایت نه معلوم شول دریم داچه دعبدالله څوك ولې نشته ځکه چه نسب ئی ثابت نه دی. اوکه داجینې بالغه وی نوبیاصرف ددویمې دوجې نه دانکاح جائزنه ده ځکه چه عبدالله څوك شرعې ولې نشته اودوړوکې نکاح بغیر دولې نه جائزنه ده ځکه چه ددویم روایت نه معلومه شوه. بهرحال دغه اوله نکاح صحیح نه شوه اودویمه نکاح صحیح شوه ۲۴ ذی الحجة ۱۳۲۷ ه

دسوالونو پوره معلومات:- (۱) دعبدالله مورچه بغیر دنکاح وه دهغې خپلوان لرې اونژدې څوك څوك دی یعنې مور، ورور، خوروغیره په واسطه سره دې سره رشته لري ځکه چه حرام سره دپلار درشته دارانو تعلق شریعت کښې نه ثابتیږي (۲) که ددغې جینې یعنې دعبدالله دمور رشته داران موجودوي نوهغوې پدې نکاح کیدوباندې خه په ژبه ونیلې ووبانه دغه رنګ دې دویمې نکاح کیدوباندې ئی خه ونیلې ووبانه (۳) دخدابخش دخورزې ورورد نکاح اجازت غوختوپه وخت کښې بالغ ووکه نابالغ (۴) ددې وېناځه مطلب دی چه مونږ جینې تاسوته درکوو آیاعبدالله سره دنکاح کولواجازت ورکول مقصودنه وو (۵) چه کله عبدالله سره ددغه خورزې نکاح اوکړی شوه په دغه وخت دغه خورزه بالغه وه که نابالغه هغې ته حیض راتلو یانه؟

اوس ددې معلوماتو جوابونه:- (۱) دعبدالله دمور خپلوان نژدې اولرې دابیانیږي مولابخش متوفی چه دعبدالله غرنیکه ووهغه بنځه چه دعبدالله غره پناه وه دعبدالله دنکاح په وخت کښې ژوندی وه یو کال اوشوچه وفات شوه دمولابخش یوه لورچه چوهانوم ئی وودعبدالله پناه ده هغه هم دډمتوب کوی اواوس هم ژوندی ده دادخپل مورپلارنه جداوه اوس ددې هم دوه لونړه پیداشوې دیونوم مسماة رمضان بخش چه دعبدالله موروه چه ددې تعلق دخدابخش سره وواودویمې نوم مسماة باندې ده چه دعبدالله ترور ده چه ددې بل چاسره تعلق دې خواوس

خلور کاله اوشول چه هغه هم نکاح کړیده چه کومه دعبدالله ترورده دهغې څوك اولاد نشته دمسماه رمضان بخش دوه لونړه بالغې دی اویوخوی عبدالله دی چه په وخت دنکاح اوطلاق کښې نابالغه وو، اوس ددی دخاص رشته داراتوسلسله ختم شوه . اوس هغه لری خپلوان ئې بیانوو دعبدالله غرنیکه مولابخش دوه ورونړه ووبل وروړنوم ئې غوث محمد متوفی وودهغه ښځه چه اوس هم ژوندی ده دهغې نه دری لونړه پیداشویدی اوس هم شته اودومتوب پیشه کوی اویوخای چه دهغه نوالله بخش میرشکاردی چه دعبدالله دنکاح په وخت کښې بالغ وواواوس هم موجوددی اوددی خلقونسل نوبرهه نه دی بلکه بس دومره پوری دی نورخه رشته دارحلال اودحرامونه ددی خلقونه علاوه . دعبدالله دنکاح په وخت کښې موجودنه وو (۲) دواړودنکاح په وخت کښې په ژبه څه نه ووئیلی وروستي نکاح کښې په دی وجه چه خدابخش ولی وواودویمه نکاح کښې دطلاق نامه کیدودوجه نه ئې څه نه وولیکلی. (۳) نابالغه (۴) دزره نه ئې منظوره نه ووخودمروت دوجه نه ئې خدابخش ته اختیارورکړی وو (۵) نابالغه ووحیض ورته نه ووراغلی

تتمه بجواب :- اصل جواب دخلاصه په طورخکه لیکلی ووچه بعض واقعې معلومې نه وې بیادمعلومولونه پس چه وروستي نکاح په وخت کښې ددغه خورزې بالغه کیدل ثابت شول نودروستي نکاح دناجائزکیدودپاره دغه وجه کافی ده بهرحال داوروستي نکاح نه وه صحیح شوی اوس دی دویمې نکاح باندی که دغه خورزه رضاوی نوصحیح شوه ۸ محرم الحرام سنه ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص ۸۱)

ماشومې په خپل عبارت باندې کړې شوې نکاح دولي په اجازه موقوف ده

سوال: (۲۷۶) شخصی دخترصغیره عاقله خودرابعد قبض مهرمعجلش بخانه خاطب فرستادونکاح بعبارة صغیره موصوفه درآنجامنعقدشدآیااین نکاح صحیح باشدیانه بر تقدیر اول لازم باشدیاقابل الفسخ

جواب: اگرولی صغیره بصریح عبارت خودصغیره رااذن داده بودکه بزبان خودقبول کنی یابعدازینکه صغیره قبول کردآن ولی این قبول رابعبارت صریح خوجائزداشته نکاح منعقدشدوالازیراکه تصرفات صغیره محتاج وموقوف براذن ولی می باشداذن سابق باشد یالاحق وهوظاهرفقط. ۱۶ شعبان سنه ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص ۹۳)

دنابالغې دنکاح اجازت دمورطرفنه کولوحکم سره ددې

نه چه تره یې موجوددي اوپلاریې په سفرکې وي

سوال: (۲۷۷) څه فرمائی علماءدین متین پدی مسئله کښې چه زیدپه کلی کښې موجودنه وو ملك برهماته دنوکری دپاره تللی وودزیدبی بی دخپلی لورزبیدی نکاح چه بالغه وه دعمروسره چه بالغه وواوکړه هرکله چه زیدراغی نوهغه اوئیل چه مونږته دانکاح منظورنه ده خورخې پس زیدخپلی نوکری ته لاړواوزبیده عمروکره لاړه اویوکال پس بیادپلارکورته راغله زبیده چه کله دعمرودکورنه دخپل پلارکورته راغله دهغې نه یوکال پس بالغه شوه اووائی چه مونږته دانکاح منظورنه ده اودزبیدی پلارهم راغلی دی هغه خومخکښې وئیلی ووچه مونږته دانکاح منظورنه وه اواوس هم منظورنه ده اوس زیداوزبیدی اودهغې مورتولوته دامنظوره ده چه دزبیدی نکاح دبل سړی سره اوکړیشی. اوس دزبیدی نکاح عمروسره جائزوه یانه اوبل سړی سره دزوبیدی نکاح کیدیشی یانه ؟ فقط.

تنقیح (تالاش) دوه خبری پدی سوال کښې معلومول غواړوجواب په هغې باندی موقوف دی یوداچه دزبیدی نکاح چه دنابالغې په حالت کښې دعمروسره شویده. ددی دتلواری څه وجه وه آیاداویره وه چه داسی ښه موقع به بیاپه لاس نه راځی پایله څه وجه وه. دویمه خبره داچه دزبیدی دنکاح په وخت کښې دهغې څوك رشته دارموجودوولکه تره یابالغ وروریانه وموجودصرف مورئې موجودوه. اوکه څوك موجودوونوهغوی ددی دنکاح متعلق څه وئیلی وواوس دی دواړوخبرومعلومولوباندی جواب موقوف دی.

جواب تنقیح (ددی تالاش جواب) (۱) دنکاح دتلواری سبب دادی چه دزبیدی نکاح عمروسره اوشوه اودعمروخورنکاح دزبیدی وروربکرسره چه دزبیدی نه عمرکښې کمه ده یوخای اوشوه پدی وجه دزوبیدی مورنکاح کښې تلواری اوکړواوزیدته ئې خبرورنه کړو (۲) دنکاح په وخت کښې دزبیدی تره موجودووهغه منع کړه خودزبیدی مورد هغه وینامنظورنه کړه پدی وجه دزبیدی تره په نکاح کښې شریك نه شواوبل څوك رشته دارموجودنه وو؟

جواب: دپلاریه موجودګی کې مورولی نه شي جوړیدې پس ددې داکړې شوې نکاح موقوف اومتعلق ده هرکله چه زیدراغي اوهغه اووئیل چه ماته منظورنه ده نونکاح باطل شوه دې نه پس زبیده چه عمروکره لاړه دغې تلوسره نکاح نه شي صحیح کیدې اوس زبیده چونکه بالغه

د ه ددي اجازت سره بل ځاي کي نکاح کول جائزدي ولا يخاف بشک ان غيبة الاب کانت منقطعة فتنقل الولاية الى الام لان الغيبة المنقطعة على مانقله الشامى عن الذخيرة اصح تفاسيره انه اذاکان فى موضع لوانتظر حضوره اواستطلاع رايه فات الکفو الذى حضر وفى البحرعن المجتبى والمبسوط انه الاصح وفى النهاية واختاره اکثرالمشائخ وصححه ابن الفضل وفى الهداية انه اقرب الى الفقه وفى الفتح انه الاشبه بالفقه واطال فى ترجيحه . ج۲ / ص ۵۱۲، ولم يوجدهذاالشرط کمايعلم من التنقيح وان فرض الغيبة منقطعة فالعم کان ولياولم يرض ونهى عنه فلم يصح النکاح اصلا فارتفع الشبهه وصح بلاغبار. ۳۰ شوال / ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانيه / ص ۸۳)

دښځي خاوندحقونو تفصيل

سوال: (۲۷۸) څه فرمائي علماء ددين چه خاوندباندې دښځي حقونه وينااواخرت کښي څومره دي ښځه باندې دخاوندوينااوآخرت کښي څومره حقونه دي ؟

جواب: په خاوندباندې دښځي داحقونه دي (۱) خائسته اخلاق (۲) تکليف برداشت کول خوپه درميانه حال (۳) په غيرت کښي ميانه روي کول يعني بدګماني به هم نه کوي اونه به بالکل غافل کيږي (۴) خرچ کښي هم ميانه روي يعني نه به بالکل تنګي راولي اونه به فضول خرچي کوي (۵) دحيض وغيره حکمونه ورته ښودل دمونځ اوددين بيان ورته کول دبدعتونواوخلاف شرع کارونه منع کول (۶) که ديري زنانه وي نوهغوي په حقونو کښي برابرساتل (۷) دضرورت اوحاجت په اندازه ورسره کوروالي کول (۸) داجازت نه بغيرعزل نه کول (۹) بغيردضرورت نه طلاق نه ورکول (۱۰) دضرورت مطابق اوسيدودپاره کوروالي (۱۱) خپلوخپلوانوسره ملاويدوته پريخودل (۱۲) دکوروالي وغيره رازبه نه ښکاره کوي (۱۳) دحدنه زيات نه وهل اوددي په شان نورحقونه دخاونددادي (۱) په هرکارکښي دخاوندتابعداري کول خوپه دي شرط چه ګناه نه وي (۲) دهغه دوس نه زيات خرچ وغيره نه غوختل (۳) دخاونددااجازت نه بغيرڅوک کورته نه راوستل (۴) دهغه دااجازت نه بغيرکورنه نه وتل (۵) دهغه دااجازت نه بغيرچاته څه شي دهغه دمال نه نه ورکول (۶) نفل مونځ اونفلي روژه دخاونددااجازت نه بغيرنه نيول (۷) اوکه کوروالي ته ئي اوغواړي نوبغيردمانعي شرعي نه انکارنه کول (۸) خپل خاونددغريبي يادبدرنګ والي دوجه نه سپک نه ګنړل (۹) که دشريعت خلاف کارپه خاوندکښي اووينې نوادب سره منع کول (۱۰) هغه په نوم سره نه رابلل (۱۱) دچامخکښي دخاوندشکايت نه

کول (۱۲) دهغه خپلوانوسره تکرارنه کول اوددي په شان نورهم ډيرحقونه دي ددواړوطرفونه کوم چه دي وخت کښي ذهن ته راغلل هغه مي اوليکل هذاما اخذت من احياء العلوم وغيره

دنکاح په وخت کي دښځي په مکان داوسيدوشرط

سوال: (۲۷۹) څه فرمائي علمادين اومفتيان دشرع متين په دي صورت کښي چه هنده اوبکرچه نابالغه وو ددوي نکاح دزيداوعمروپه ولايت شويده دنکاح په وخت وليانونه داشرط اخستي شوي ووچه بکربه دښځي نه دزيدپه مکان کښي په طوردمتبنی (په خوي نيولی شوی) خپل سکونت اختياروي اوکه دلته اوسيدل اوسکونت اختيارنه کړي نودهندي ولی ته دنکاح فسخ کولواختيارشته . هنده اوبکرتراوسه نابالغه دي خلوت صحيحه هم نه دي شوي اواوس دبکرولي يعني عمرودغه شرط منلونه انکارکوي نواوس دهندي ولی زيدته دنکاح فسخ کولواختيارحاصل دي يانه ؟ (۱)

جواب: قال الله تعالى ياايهاالذين آمنوااوفوابالعقودوقال الله تعالى واوفوابالعهدان العهد کان مسئولاوقال الله تعالى ولاتجعلواالله عرضة لايمانکم ان تبرواوتتقواوتصلحوابين الناس وقال الله تعالى ولاتواعدوهن سراً الآية . ورومبي دوه آيتونه مطلقاً دوعدي په پوره کولوحکم کوي اوآخري دوه آيتونه مخصص دي دوعدوسره دهغه وعدوچه مشروع دي دهغاظاهروروي ابن جوزي بسنده عن عائشة عن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال المسلمون عندشروطهم ماوافق الحق من التفسيرالمظهري وفى الصحيحين مان کان من شرط ليس فى کتاب الله فهوباطل وان کان مائة شرط فقضاء الله حق وشرط الله اوثق . دي دواړوحديثونونه معلوم شوه چه کم شرط دشريعت خلاف نه وي هغه پوره کول واجب دي اوکوم چه دشريعت خلاف وي هغه پوره کول واجب نه دي داحکم خودمطلق عهودودي اوداحکم په خاص شرطونوکي دي . پزيده عموم قوله تعالى اذاتراضوابينهم بالمعروف وفى البخارى فى باب الشروط فى المهرعندعقدة النکاح

۱- جواب کښي دري شبه دفع کول باتي شول چه دي لره په امربااليدکښي داخل کړيشي نوددي حل دادي چه اول خوپه دي کښي دطلاق اختيارشته اودفسخ نشته دويم دي کښي قيددمجلس دي اودلته مخکښي دشرط مخالفت کښي طلاق اختيارنه کړيشواوپه محرم باندي څه لفظ دولايت هم نه کوي دريم په دي کښي داشرط دي چه ياخوپه دنکاح نه پس وي يابه نکاح کښي دښه وي نودي کښي خاص قيدونه دي مقيدپه اذاابتدت بالمرءة فقالت زوجت نفسی منك على ان امری بيدی اطلق نفسی کمااريداوعلى انی طالق فقال الزوج قبلت امالوبدالزوج لاتطلق ولايصيرالامربيدهاکمافی البحرعن الخلاصة والبزازيه . شامی اخرباب الامرباليد . سوال نه داصورت نه معلوميږي بيه په احدالکلامين کښي لفظ دنفس مذکوردي دلته داهم نشته ۱۲ ختم

وقال عمررضی الله عنه مقاطع الحقوق عندالشروط ولك ماشترطت وقال رسول الله صلی الله علیه وسلم احق الشروط ان توفوابه مااستحللتم به الفروج وفی باب مالایجوزمن الشروط فی عقدة النکاح ولاتسال المرءة اختهالتکفی انهاالحدیث . ددی دواړوحدیثونونه معلومه شوه چه غیرمشروع شرط مقررول جائزنه دی اوچه کوم شرط مشروع وی هغه پوره کول واجب دی اوس داکتل پکاردی چه دی مسئله کښی چه کوم شرط ذکرشویدی داجائزدی یانه . اګرچه نظرًاالی ظاهرالعرف خوجائزمعلومیږی خودمحققین په نزدجائزنه معلومیږی ځکه چه په زوره هلك دخسروغیره سره په اوسیدوکښی ماشوم اودهغه په محارم کښی جدائی لازم راځی . وقداخرج الترمذی ان النبی صلی الله علیه وسلم قال من فرق بین والدة وولدهافرق الله بینه وبین احبته یوم القیامه . دویم داچه داشرط دعقددمقتضی خلاف دی اوداسی شرط نه لازمیږی . قال القسطلانی تحت حدیث احق الشروط الخ . والمرادشروط یخالف مقتضاه کشرط ان لایتسری علیهاولایسافربهافلایجب الوفاء به بل یلغوالشرط ویصح النکاح بمهرالمثل فهوعام مخصوص لانه یخرج منه الشرط والفاسدة انتهی .دریم داشرط په هلك لازم نه دي ځکه اول دهغه رضامندي محتمل ده ثانیاغیرمعتبرلتقدم الایه ثالثا وهوغیرمکلف لقوله ﷺ رفع القلم عن ثلاثة وعدمنهم الصبی حتی یحتلم اودماشوم په ولی هم واجب نه دي ځکه چه هغه په دي قادرنه دي لکونه فعل غیره وقدقال الله تعالی لا تکلف الانفسك الایه . ولاوجوب بدون الموجب علیه . نواول خوددي شرط په صحت کې هم کلام دي کماعرفت . مګرسره دفسادوالی دشرط په نکاح کې څه نقصان نشته وفی الدرالمختارومایصلح ولا یبطل باالشرط الفاسدة القرض والهبة والصدقة والنکاح الخ وفی ردالمحتار والمرادبقول الشارح مایصح فی نفسه ویلغوا لشرط وایضًافی الدرالمختار ولکن لایبطل النکاح باالشرط الفاسدوانمایبطل الشرط دونه . نودي مسئله کې دماشومي ولی ته دنکاح فسخ کولواختیارنشته . داهغه وخت دي چه عقدکې داشرط شوي وي مثلاً دایې وئیلی وي چه زه په دي شرط نکاح کوم چه داهلک به زماپه کورکې اوسي اویل وئیلی وي چې مادانکاح په دي شرط سره قبوله کړه اوکه دنکاح نه مخکې یادنکاح نه وروستوې داشرط مقررکړي وي نوهغه شرط نه دي بلکه وعده ده پدي وخت کې دغه وعده نه مؤثرکیدل په نکاح کې ښکاره دي اودي صورت کې په درجه اولی سره اختیارنشته البته که جینې بالغه وي داولی پلاریانیکه نه وي نوبیاجینې په دي اعتبارچه بالغه ده په شرط دفیصلې دقاضي اختیارد فسخ لري اوکه نکاح کوونکې پلارنیکه دي نوبیادااختیارهم نشته . وکذالغلام وهومعروف والله اعلم وانمااطلناالکلام فی هذاالمقام وان کان یکفی سطرواحدلی

کشف الابهام لان المستفق امرناهذا بالزام والعلم عندالله العلام وهوذوالجلال والاکرام واناالعبدالمستهام الغریق فی بحارالا ثام محمدالمدعواباشرف علی عفاعنه القدوس السلام . امدادالفتاوي /ج۲ /ص۸)

په وعدي نه پوره کولوسره نکاح نه باطلیږي

سوال: (۲۸۰) څه فرمائی علمادین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کښی چه زیدپه مقابله دعمرواوخالد کښی یوی زنانه سره په دی شرط نکاح کړی وه که دنکاح نه وروستوبه دلته خپل سکونت اختیاروی بل کلی کلکته وغیره ته به هیچری هم نه ځی اوس نکاح نه وروستو زیددخپلی وعدی خلاف اوکړو کلکته یابمبئی ته بیالاړودی صورت کښی نکاح باطل ده یانه بینواتوجروا؟

جواب: فی الدرالمختارمع ردالمحتارومایصح ولا یبطل باالشرط الفاسدالی قوله والنکاح . ٤ج / ص ۳۵۳ – ۳٥٤ . ددي نه معلومه شوه چه نکاح کې څه فسادیابطلان نه راځي البته بغیردعذرنه دوعدي خلاف کول داګناه ده دا جداشي دي لقوله تعالی اوفوابالعهد . ۹رمضان / ۱۳۳۱هـ تتمه ثانیه / ص ۷۴)

دبالغې کنډې ښځې نکاح بغیردولی نه

سوال: (۲۸۱) کنډه ښځه که بغیرداذن دولی نه نکاح اوکړی جائزده یانه ؟

جواب: که دغه کونډه بالغه اصیله وی نودهغی نکاح بغیرداذن دولی نه جائزده خوکه غیرکفوکښی یادمهرمثل نه کم باندی ئی اوکړه (۱) نوولی اعتراض کولی (۲) .فتنفذنکاح حره بلارضی ولی وله الاعتراض فی غیرالکفوء درمختار

دبالغې نکاح په غیرکفوکښی بغیرداجازت دولی نه نه صحیح کیږی

سوال: (۲۸۲) څه فرمائی علماءدین په دی مسئله کښی چه مسماة هنده کنډه شویده اوهغی څه بچی هم دی قوم ئی فاروقی دی اودهغی خاوندعالم اودیندارسړی وواوس هغه غواړی چه دعالم دیندارسره نکاح اوکړی دهغی په خپلولی کښی څوك سړی نه ملاویږی دهغی دمرضی

(۱) خوخپله څه نه شی کولی بلکه دقاضی فیصله شرط ده ۱۲

(۲) مفتی قول باندی بغیرداجازت دولی نه په غیرکفوکښی نکاح منعقدکیږی هم نه ۱۲ رشیداحمدعفی عنه امدادج ۲ ص ۱۰

موافق یو صاحب شته چه د مدرسه جامع العلوم کان پور او د مدرسه اسلامیه دیوبند ټلائی تعلیم کړیدی د هغی طرفته د ده زړه او طبیعت میلان هم دی خو دومره نقصان دی چه هغه صاحب د قوم نورزیاف نه دی اوس د امعلومول غواړو چه هنده لره د اسی کس سره نکاح کول جائز دی یا نه. که جائز وی نو د نورو خلقو بدرد و ټیل څنګه دی او مسماة هنده د مور پلار د رضامندی نه بغیر نکاح کولی شی یا نه؟

جواب: فی الدرالمختار وله ای للولی اذا کان عصبة ولوغیرمحرم کابن عم فی الاصح خاینة وخرج ذوالارحام والام والقاضی الاعتراض فی غیرالکفوالیٰ قوله ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهوالمختار للفتویٰ لفسادالزمان وفی ردالمختار تحت قوله بعدم جوازه اصلاوقول البحر لم یرض یشمل ما اذالم یعلم اصلافلایلزم التصریح بعدم الرضی بل السکوت منه لا یکون برضی کما ذکرنافلابدحینیذً بصحة العقدمن رضاه صریحاً وعلیه فلوسکت قبله ثم رضی بعده لا یفیدفلیتامل وفیه تحت قوله وهوالمختاراختری وقال شمس الا ئمة وهذااقرب الی الا حتیاط کذافی تصحیح العلامة قاسم لانه لیس کل ولی یحسن المرافعة والخصومه ولا کل قاض یعدلً ولواحسن الولی وعدل القاضی فقدیترک الفة للتردد علی ابواب الا حکام واستثقاله لا لنفس الخصومات فلیتقرر الضرر فکان منعه دفعالهٔ فتح ص ۴۸۲-۴۸۷ / ج ۲ دی تحقیق نه ثابته شوه چه که پلار نه به صریح اجازت اخلي نو نکاح صحیح ده کني نه ده صحیح ۲۰ شوال / ۱۳۳۸ هـ تتمه خامسه / ص ۱۰۲)

بي بي ته اوله شپه د راتللو وخت دعاګانی

سوال: (۲۸۳) څه فرمائی علماء دین چه کله ناوی خپل کورته راولی نو د صحت او د خلوت صحیحه په وخت کښی کوم کوم کارونه په خاوند سنت دي او کومی کومی دعاګانی ونیل د حدیثونو نه ثابت دی او څه نمونځ هم کول پکار دی. او داسی سنت باندی عمل کوونکی باندی کوم برکتونه او رحمتونه نازلیږی؟

جواب: سنت دادی چه وروستی به هغی د تندی د ویښتونه اونیسی او د برکت دعا به اوکړی او بسم الله سره به دا دعا اولولی اللهم انی اسئلك خيرها وخيرما جبلت علیه واعوذبك من شرها وشرماجبلت علیه او کوم وخت چی د کوروالی اراده وکړی دا دعا به اووائی. بسم الله اللهم جنبنا الشیطان وجنب الشیطان مارزقنا. د اولی دعا برکت دادي چه بی بی به همیشه تابعداره وی

وي نو هغي طرفته اشاره کول کافي ده او که غائبه ده نو که د نوم اخستو نه بغیر نورو قیدونو سره د هغي تعین ممکن وي نو د نوم اخستو حاجت نشته او که صفتونو سره تمیز نه راځي نو د هغي نوم اخستل ضروري دي بلکه که د هغي نوم سره هم تعین نه راځي نو د پلار نیکه نوم خستل هم ضروري دي حاصل دا چه ابهام ختم شي. فی الدرالمختار ولا المنکوحة مجهولة وفی ردالمختار قلت وظاهره انها لوجرت المقدمات علی معینة وتمیزت عندالشهود ایضاً یصح العقد وهی واقعة الفتویٰ لا ن المقصود نفی الجهالة وذالک حاصل بتعینها عندالعاقدین والشهود وان لم یصرح باسمها کمااذاکانت احدهما متزوجة ویؤیده ماسیاتی من انها لوکانت غائبة وزوجها وکیلها فان عرفها الشهود وعلموا انه ارادها کفی ذکراسمها والا لا بدمن ذکر الاب والجدایضاً الی اخرماقال واطال والله اعلم (امداد / ص ۱۱ / ج ۲)

حکم صحت نکاح بدون ذکراسم زوجه وقتیکه نزد
ګواهان وعاقدین بمقدمات نکاح وغیره زن متمیزشود

سوال: (285) د زید دوه لونړه دی د مشری لور نوم زینب او د کشری لور نوم کلثوم دی د زینب نکاح بکر سره مقرر وه په دغه ورځ د بکر د طرفنه پنځه شپږ وسرو جامی او کالی وغیره راوړل او د زید کورته لاړل نو زید د هغه خلقونه جامی کالی وغیره واخستل او زینب ته ئی واغوندل د هغی نه وروستو د زید او بکر د طرفنه خلق یو ځای شول او د بکر کورته راغلل او زینب د زید په کور کښی وه د هغه نه وروستو دغه حاضرینو د مجلس زید ته اووئیل چه ستا د لور نکاح بکر سره اوکړو زید اووئیل چه ما قبول کړه او زید د جینی نوم وانه خسته نکاح لوستونکی د مجلس حاضرینو او زید د بکر نه تپوس اوکړه چه د چا نکاح اوشوه ته پوهه شوی هغه فوراً جواب ورکړو چه خانسته کړی شوی ناوی آیا چه نوم وانخلی صرف دا اوائی چه خانسته کړی شوی ناوی د انسبت زینب طرف ته اوکړیشی او نکاح اوشی آیا دا نکاح صحیح ده یا نه او دا زینب نابالغه ده بکر او ګواهان په دغه صفت اویته باندی د زینب تعین پیژنی؟

جواب: فی ردالمختار لوجرت المقدمات علی معینة وتمیزت عندالشهود ایضاًیصح العقدوهی واقعة الفتویٰ لانّ المقصودنفی الجهالة وذاك حاصل بتعینهاعندالعاقدین والشهودوان لم یصرح باسمها

حکم صحت نکاح بدون ذکر اسم زوجه وقتیکه لزه

گواهان وعاقدین بمقدمات نکاح وغیره زن متمیزشود

سوال: (۲۸۵) دزید دوه لوڼړه دی دمشری لورنوم زینب اود کشری لورنوم کلثوم دی دزینب نکاح بکرسره مقرروه په دغه ورځ دبکردطرفنه پنځه شپږوسروجامی اوکالی وغیره راورل اودزید کورته لاړل نوزید دهغه خلقونه جامی کالی وغیره واخستل اوزینب ته ئی واغوندل دهغی نه وروستودزیداوبکردطرفنه خلق یوځای شول اودبکرکورته راغلل اوزینب دزیدپه کورکښی وه دهغه نه وروستودغه حاضرینودمجلس زیدته اووئیل چه ستادلورنکاح بکرسره اوکړوزیداووئیل چه ماقبول کړه اوزید دجینی نوم وانه خسته نکاح لوستونکی دمجلس حاضرینواوزیددبکرنه تپوس اوکړه چه دچانکاح اوشوه ته پوهه شوی هغه فوراًجواب ورکړوچه خانسته کړی شوی ناوی آیاچه نوم وانخلی صرف دااوائی چه خانسته کړی شوی ناوی دانسبت زینب طرف ته اوکړیشی اونکاح اوشی آیادانکاح صحیح ده یانه اودازینب نابالغه ده بکراوگواهان په دغه صفت اوپته باندی دزینب تعین پیژنی؟

جواب: فی ردالمحتارلوجرت المقدمات علی معینة وتمیزت عندالشهودایضاًیصح العقدوهی واقعة الفتوی لان المقصودنفی الجهالة وذاك حاصل بتعینها عندالعاقدین والشهودوان لم یصرح باسمها (ج/ ۲/ ص/۴۳۷. هرکله چه دزینب په تعین پوهیږی نکاح صحیح شوه. ۱۶رمضان سـ۱۳۳۱هـ تتمه ثانیه ص ۷۱)

دنکاح دتړلوضرورت

سوال: (۲۸۶) (۱)هرکله چه په پیسواخستی شوی وینځی سره کوروالی جائزدی نوبیادنکاح تړلوڅه ضرورت دی (۲) مهرولی مقررولی شی (۳) په نکاح کړی شوی ښځی اوپه پیسواخستی شی وینځه کښی څه فرق دی؟

جواب: الله تعالی انسان دنسل انسانی دپاتی کیدمحتاج پیداکریدی اونسل انسانی بغیر دیوځای کیدودسړی اوښځی نه ممکن نه دی اوس دامحتاجه کیدل دانسانی نسل پاتی کیدوته دامقتضی ده یوځای والی دسړی اوښځی ته ددی یوځای کیدوڅومره صورتونه دی

یوداچه نه څوك سړی دیوی زنانه سره خاص کړی شوی وی اونه څوك زنانه دیوسړی سره بلکه هرسړی ته هری زنانی سره کوروالی حلال وی اوهری زنانه لره هرسړی ته ځای ورکول مباح وی دویم صورت دادی چه سړی دیوزنانه سره خاص کړی شوی وی اوزنانه سړی سره یعنی یوزنانه یوسړی سره اوسی ۱۲. دریم داچه سړی خودزنانه دپاره خاص کړی شوی وی یعنی ددی سړی نه علاوه بل سړی سره کوروالی کول ورته حلال نه وی خوزنانه ده دپاره یوه نه وی خاص کړی شوی بلکه گڼړی زنانه ورته جائزوی. څلورم ددی الټه صورت یعنی زنانه سړی دپاره یوه وی یعنی ددی زنانه نه علاوه ورته بلی زنانی سره کوروالی حلال نه وی اوسړی یوه نه وی بلکه گڼړسړی ورته جائزدی. دی څلوروصورتونوکښی خواول اوڅلورم صورت بالکل دعقل خلاف دی ځکه چه سړی کښی بالطبع شهوت وغیره کیخودلی شویدی اودسړی دگڼړوالی په صورت کښی به خبره یقیناًجهگړی اوقتل ته رسی اوداکاردیوځای اوسیدواودعالم دآبادی دپاره ډیرنقصانی دی په دی وجه دادواړه صورتونه حرام شول. دویم صورت بالکل دعقل موافق دی چه دی کښی نه زنانوکښی دعناداودفساداحتمال شته اونه سړوکښی. دریم صورت اگرچه په ظاهرکښی دعقل نه خلاف معلومیږی ځکه چه داهم مقتضی دی دزنانواختلاف اوتمانع طرفته داهم جائزکیدل نه ووبکارخوچونکه دزنانودقوت علمی اوعملی دکمزوری دوجه نه سړوسره په تمدن کښی برابرشریك نه دی په دی وجه ئی دهغوی هغه بغض اوکینه ئی نقصانی اونه گڼړله اوڅومره نقصان چه اقبال وودهغی بندیزئی اوکړودخاوندپه ذریعه سره اوهغه ئی ددی مشرانواوحاکم اوگرځولوچه دی دواړولره داتفاق په لړی کښی مسلك اولری په دی وجه داصورت هم جائزاوگرځیدونومداردناجائزکیدوهغه اوگرځیدوکوم چه دسړوسره خاص شوی نه ووااوکوم چه خاص وودسړوسره هغه مداردجائزکیدواوگرځیدو. نواوس چه کوم سړوسره خاص ووهغه یومطلوب اواصلی مقصداوگرځیدوددی اختصاص ډیرقسمونه دی عقلاًخوکه انصاف اوفطرت سلیمه سره اوگوری نودی نه بل بهترصورت نشته چه ښځی اوخاوندنه په واسطه سره یابغیردواسطی نه ددی اختصاص اقراردگواهانوپه وړاندی واخته شی چه دتوروسروطمع ددی زنانی نه کټ شی اوخبره جنگ جگهړی ته لاړه نه شی دی صورت نوم شریعت کښی عقدنکاح دی اوداصورت چونکه ددی وجه نه چه دی سړی غوره کړواوډیرمهتم بالشان وونوددی دښکاره کیدوغوره کیدواودتوجه کولودپاره هغی څه مال دسړی په ذمه واجب کړوچه دهغی خرچ کول دلیل دی په اهتمام دمبذول علیه باندی. دی دپاره چه ددی اختصاص یواوځته وجه متعین کړیشی اومال ته چونکه دسړی شوق کیږی اوخرچ کول گران

وی په دی وجه نور خلق ددی قسم په دی اختصاص رشک او نه کړی ددی نوم مهر دی
نو دا مهر ددی اختصاص د متمماتو نه دی. په وجه دا رسم د حضرت محمد صلی الله وسلم
مخکښی هم په عربو کښی موجود او شارع هم دی له برقرار او ساتلو او بله فائده د نکاح چونکه
ژوند تیرول دی او ډیر بل امداد کول دی دا خبره نه پوره کیږی تر څو چه د دواړو ډیر بل طرفته د زړه
اطمینان نه وی راغلی او دا اطمینان نه چه دا به زمانه نه جدا کیږی نو د سړی تسلی نی په دی
طریقی سره او کړه چه د ښځی دلاس نه نی هغه اختیار د جدائی واخستو او س د ښځی د اطمینان
د پاره خو دا صورت نه کیدی چه سړی هم د جدائی اختیار مند جوړ نه کړی ځکه چه دی صورت
کښی به بیا دی د ښځی قیدی او ګرځی او دا د ده د مشری او حاکمیت سره منافی دی. نو مناسب
دا دی چه ذمه څه مال واجب کړیشی نو د جدائی او د فراق په وخت کښی د عادت په طور د هغی
مطالبه ډیری سختی سره کیدیشی نو هر وخت به سړی ته دا ویره وی چه که زه د ما پریږدم نو دا به
بیا سختی سره خپل حق غواړی نو په دی خیال به بغیر د سخت ضرورت نه په پریخودو باندی
جرات نه کوی نو دا صورت د زنانی د اطمینان د پاره دی نو دا د مشروعیت مهر د پاره بل
مصلحت دی او بل دا چه دا منکوحه د خپلو اولیاؤ د زړه یوه ټکړه ده نو ددی د مفت مالک
کیدو وجه نه به اولیاؤ ته ډیر غم رسی نو څه مال نی د سړی په ذمه د هغی په بدل واجب
او کړ خو ځکه چه مال طبیعت ته ډیر خوښ وی چه دی سره د اولیاؤ تسلی او شی چه یو محبوب
ز مونږ لاړو او یو محبوب د هغوی لاړو دا د مشروعیت مهر د پاره دریم مصلحت دي او بل مفت
تملک کې خرج د بضع کول دا د بني ادم بي عزتي ده په دي وجه د محل شرافت د وجه نه مال
واجب کړي شو چه د هغي عزت او خطره ښکاره وي دا د مشروعیت مهر د پاره څلورم مصحلت د
او بل دا چه د ښځي خاوند موافقت د پاره دا ضروري دي چه ډیر بل ډیر خیال او مدارساتي نه
ممکن ده خو احسان مندي د ښځي د عاجزوالي او قیدوالي د وجه نه غیر متصور ده په دي وجه په
سړي باندي مال واجب کړي شو نو که ښځه احسان کوونکي جوړیدل غواړي نو خپل حق دي
وروستو کړي یا دي ټول یا نیم د معاف کړي او دا احسان په سړي باندي دي دا د مشروعیت
مهر د پاره پنځم مصلحت شو هر کله چه د نکاح د ضرورت او د مهر وجه معلومه شوه او س دا خبره
واوري چه خپلي وینځي سره مهر د ترلو ضرورت ولي نشته صرف مالک جوړیدل کافی دي
ددي وجه دا ده چه دا خو معلوم شول چه د عقد نکاح ضرورت او د هغي د متمم یعني مهر ضرورت
د هغي اختصاص په بنیاد دوه کوم ځاي کې چه دا اختصاص مقصود وي که اصیلي سره وي
او که وینځي سره وي هلته به عقد ضروري وي کوم ځاي کې چه دا اختصاص مقصود نه وي هلته

د عقد هم ضرورت نشته او د وینځي مالک کیدو سره لوډغه شان نور مالونو د تجارت نه
مقصود صرف ملک رقبه ده او دا اختصاص کوم چه د ملک متعه د پاره وضع کړي شویدي
مقصود نه دي کني ښکار خو دا وه چه کوم ځاي دا مقصود نه حاصلیده هلته د تملک هم جائز نه وي
لکه څنګه چه منکوحه کې دي خو اختصاص د ملک متعه مقصود دي په دي وجه کوم زنانه چه
محل د حلالوالي د وطي نه وي لکه محارم شو یا د چا عدت کې وي یا وا ده شوي یعني
خاوند نو واله وي وغیره دي ښځو سره نکاح نه ده. لان الشي اذا خلا من مقصوده انتفي. حالانکه
سره حرامیدو د وطي هم تملک جائز دي لکه رضاعي خور یا مشرکه یا مجوسیه یا غلام اخستل
چه شریعت کې دي سره وطي حلال نه ده هر کله چه سره د حراموالي د وطي نه هم تملک جائز دي
نو معلومه شوه چه ددي نه مقصود دغه اختصاص نه دي کوم چه ذکر شویده بل دا که چرته دغه
اختصاص مقصود وي نو دغه محلوکه به ډیرو مالکانو کې شریکیدل جائز نه وه لکه یوه منکوحه
د ډیرنا کحینو په نکاح کې را تلل د مخکې تیر شوو وجو نه جائز نه ده حالانکه د هغي په ملک کې
جا سره نکاح جائز نه وي لکه څنګه چه خپلي منکوحي په صورت د پاتي کې د نکاح کې د چا سره
نکاح جائز نه ده چه دا د اختصاص منافي ده حالانکه د خپلي مملوکي نکاح د بل چا سره جائز ده
نو معلومه شوه چه ددي نه هغه اختصاص مقصود نه دي په دي وجه نه د عقد ضرورت شته نه
د هغه د متمم یعني د مهر څه حاجت شته. که چرته د مملوکي سره وطي حلال ده نو تبعاً لملک
الرقبة حلال ده برابره خبره ده که هغه ملک رقبه مال سره وي که بیع په شان یا بغیر د مال نه وي
لکه میراث کې پاتي کیدل یا د هبه د وجه نه ځکه چه اضعف د اقوي تابع وي په دي شرط چه څه
مانع ورته نه وي. او د هغه موانع تفصیل د فقه کتابونو کې سره د دلیل نه ذکر شویدي. ددي
تقریر اوریدو نه پس غالب ګمان دي چه کتونکي د دریو واړو سوالونو په جوابونو پوه شوي وي
مګر د ضرورت په اندازه مونږه هم دي تقریر سره په دي سوالونو مطابق کوو بس پوه شه چه
دریمې سوال نه که دا غرض وي چه هر کله د خپلي وینځي سره چه په پیسو اخستي ده ددي وجه
نه کوروالي جائز دي بیا دي سره نکاح ترلو نه څه حاجت دي نو دا خبره مونږ او س ثابت کړه چه
خپله وینځه برابره ده که په پیسو اخستي وي او که مفت دده ملک کې راغلي وي په دیکې
دغه اختصاص مقصود نه دي په دي وجه عقد ته څه ضرورت نشته البته که چرته تملک کې څه
شک وه نو په هغه مقصود دي ختصاص کې د شک د وجه نه احتیاطاً نکاح کول غوره دي. ف
الدر المختار وحرم نكاح المولى امته والعبد سيدته لان المملوكية تنافي المالكية نعم لو فعلــه المــولىٰ

احیاطاً کان حسناً الخ . اوکه غرض دادي چه دغیر دوینځي سره دعقد څه حاجت دي یادالغرض دي لکه څنګه چه دوینځي تملک دوطي حلالوالي دپاره کافي دي علی هذالقیاس منکوحي ته مهرور کول کافي دي دنکاح حاجت نشته نودي دواړو سره دعقد ضروري کېدو وجه هغه مقصودي اختصاص دي دادورمبي سوال جواب شو دویم سوال دمهر دتعین باره کې دي دهغي پنځه وجې ذکرشوي دریم سوال هم دورومبي په شان مجمل دي که غرض ددي نه ددي په معنی کې دفرق تپوس کول وي نو دافرق ښکاره دي چه منکوحه مملوکه پملک متعه ګرځي او وینځه مملوکه په ملک رقبه سره ګرځي اوکه دینه غرض دافرق معلومول وي چه دوینځه خواخستو سره حلالیږي اومنکوحه مقصود ملک رقبې دي نه ملک متعي چه هغې لره موثر په دریو دلیلونو سره به ثابت کړل اوکه ددي سوالونو نه څه بل څه مقصود وي نو دهغي بیان لازم دي چه دهغې جواب به هم انشاء الله تعالی درکړیشي . هذاماالقی فی القریحة . والله اعلم بحقیقة اسرار الشریعة ـــ ۱۳۰۴هـ (امدادص ۱۳ج۲)

یوه زنانه دبلوغت دعوي اوکړي دهغې دقبلیدوشرطونه

سوال: (۲۸۷) زن شوهرده ساله منکوحه بولایت غیر الأب وجد فی الصغرلزوم نکاح می گوید که مارا حالاحیض اول آمده اعتبار کرده شود یانه ؟ وعورت خانه ومحله شاهدی گواهی دهند که حیض اوراز چند سال می آید وسینه وجسد ش فی البدیهه می نماید که از چند سال بالغه است یازنی صغیر بران زخم زده می گوید که مارادم حیض است وپارچه خون آلوده مردم شاهد پارچه دیده تحقیق نه کرده گواهی دادند یا خود آن زن گفت که مارا حیض می آید وخون وپارچه کسی ندید گفته این زن بدفن قبول کردند

جواب: فی الدرالمختار کتاب الحجر فان راهقافقالابلغنا صدقاان لم یکذبهما الظاهر وفی الدرالمختار باب العدة قالت مضت عدتی والمدة تحمله وکذبها الزوج قبل قولهامع حلفهاوفیه قبیل فصل الحد اوکذبته فی مدة تحمله لم تسقط نفقتهاوله نکاح اختهاعملا بخبرهما بقدر الامکان وفی ردالمحتار یعمل بخبرهما بقدر الامکان بخبره فیماهو حقه وحق الشرع وبخبرها فی حقها الخ . وفی الدرالمختار باب شهادة للولادة الی قوله وعیوب النساء فیمالایطلع علیه الرجال امرء ة الخ وفیه باب صغیرة فان القول لهاان ثبت ان سنهاتسع وکذالوادعی المراهق بلوغه ولوبرهنافبینة البلوغ اولیٰ وفی ردالمحتار

واستشکل بعض المحشین تصورالبرهان علی البلوغ قلت وهوممکن بالحبل والاحبال اوسن البلوغ اورؤیة الدم والمنی کمافی الشهادة علی الزنا وفی ردالمحتاربعدقول الدرهذااقالت عندالقاضی والشهود ادرکت الآن وفسخت فانه یصح کمایاتی بیانه ازمجموعه روایات بوضوح پیوست که دربلوغ قول زن معتبراست هرگاه صدقش محتمل باشد ووقت اختلاف اوراحلف داده شود البتہ اگر بینه شرعیه برکذبش قائم شود قول بینه معتبرباشد وبینه دومرد یایک مرد ودوزن باشد زیراکه اطلاع بردم حیض برطریقی که زنان راممکن است مردان رانیز ممکن وقول امام صاحب دراکثر بلوغ هیجده سال است پس بناء علی هذه الروایات این هیجده ساله وخرد ساله تصدیق کرده شود[1] بشرطیکه کم ازنه سال نباشد . فقط والله اعلم ۹ جمادی الاخری ۱۳۲۲هـ (امداد ج۲ ص۲۰)

دجینی دبالغ کیدوعلامات اودهغی دحکم تفصیل

سوال: (۲۸۸) څه فرمائی علمادین په دی مسئله کښی چه یوه جینی مسماة الله بندی چه نهه کالوده اومورپلارئی وفات شویدی دپلاردمرګ نی درکاله اودمور دمرګ نی اته میاشتی اوشوی ددی ددووترور یانو، دپلارخوبندی، خامن غلام محمد ، الهی بخش ، صحیح اوسالم اودنیادتره خوی څلورخامن حیم بخش ، کلو ، قررا ، رولهااودری لونړه عیدو ، سوندهی ، شبواودمور دترورلورئی الله بندی دی اوددی درورڼانوموجوددی . په دی وخت کښی الله دمور طرفنه درشته دارانویعنی دنیادتره خوی داولادیه پرورش اوحفاظت کښی ده اودالله بندی دنکاح دولایت حق چاته حاصل دی اوکه ولایة نکاح اوکړیشی نودرخصت کولوحق فوراًخاوندته حاصل شویاددی منکوحی دبالغیدوانتظاریه کولی شی اوکه دخاوند طرفنه مهراداکړیشی نوهغه مهریه چاته ورکولی شی اوجینی به دچاپه حفاظت کښی وی اودزنانه دبالغیدوحدڅه دی اومورپادپلارددی نابالغ والی دوجه نه وصیت اوکړی نوددی نکاح په دغه وصیت ولی کولی شی یانه اوداوصیت ترکومه پوری نافذکیدیشی اوددی دپرورش اوپاللو میعادڅومره دی اوچاته دپرورش کولوحق حاصل دی بینواتوجروا؟

جواب: په دی ذکرشوی صورت کښی حق دولایت دنکاح دواړورشته دارانودترور اوولاد غلام محمداوالهی بخش ته دی . ثم لذوی الارحام العمات ثم الاخوان ثم الخالات ثم بنات الاعمام

[1] ۱ - ددبالغیدومتعلق دامام صاحب نه یوروایت داولس ۱۷ کالودی اودویم دپنځلس کالو ۱۵ وهوقولها وعلیه الفتوی په دی وجه اتلس ۱۸ کالوجینی ته اختیاربلوغ نشته ۱۲ رشید احمد عفی عنه .

نو د تنخواه دوړومبی امام په ذمه لازم ده باقي ددی نهی په صورت کښ دوړومبی امام د تنخواه مستحق کیدل په هغی د سوال نمبر ۲ د شرط موافق عمل کولی شی چه د هغی بیان د جواب په شروع کښ تیرشو او کوم صورت کښ چه په خپله متولیانو دده په ځای څوک مقرر کړیدی د هغی حکم ښکاره دی چه هغوی د تنخواه مستحق دی او کــه د بعض امورو وضاحت او تصریح نه وی نو د عدم تصریح زمانی پوری خوبه په قرف باندي عمل کولی شی او کله چه تصریح وکړیشی چه د هغی اختیار هر وخت متولیانو ته شته او د هغی نه پس امام ته هم اختیار شته چه که نوکری دی پریږدی او د تصریح د وخت نه به په تصریح باندی عمل کولی شی دي تقریر سره د ټولو نمبرونو جواب ښکاره شو او تفصیل چه په کومو کلیاتو شرعیو باندی مبنی دی هغه مشهور او معلوم دی پدی وجه ځای په مینځ کښ می هغی طرفته اشاره هم کړیده خو تقویةً او تائیداً بعض جزئی چه دی مقام سره خاص وی هم نقل کوم.

فی الدرالمختار وهل یاخذ(ای المدرس)ایام البطالة کعیدورمضان لم اره وینبغی الحاقـة ببطالـة القاضی والاصح انه یاخذ للاستراحة اشباه من قاعدة العادة محکمة سیجئی مالوغاب فلیحفظ وفی ردالمختار تحت قوله وینبغی الحاقه بعد کلام طویل مانصه فحیث کانت البطالة معروفة فی یـوم الثلاثاوالجمعة وفی رمضان والعیدین یحل الاخذ وکذالوبطل فی یوم غیرمعتادلتحریر درس الااذانص الواقف علیٰ تقید الدفع بالیوم الذی یدرس فیه کماقلناالخ قوله سیجئ ای عن نظـم الوهبانیـة بعدقوله مات المؤذن والامام.ج۳ صـ۵۸۸ اقول یعتبرفی کل العقدعرف ذلک العقد فکما یعتـبرفی التدریس عرف التدریس یعتبرفی الامامة عرف الامامة ثم فی الدرالمختار بعدقول مـات المـؤذن والامام الخ مانصه ونظم ابن الشحنه الغیبة الخ . وفی ردالمختارتحت هـذاالقول مانـصه قـال الطرطوسی ومقتضاه ان المدرس ونحوه اذااصابه عذرمن مرض اوحج بحیـث لایمکنـه المباشـرة لایستحق المعلوم لانه ادارالحکم فی المعلوم علیٰ نفس المباشرة فـان وجـدت اسـتحق المعلـوم والافلاوهذا هوالفقة الخ مخلصاً قلت ولاینافی هذامامرمن المسامحة باسبوع ونحوه لان القلیل مغتفر کماسومح بالبطالة المعتادة علیٰ ماهربیانه فی محله . ج۳ صـ ۲۳۰ ـ ۲۳۱ فی الدرالمختارعن المنظومة المحبة لاتجز استنابة الفقیه لا-ولاالمدرس لعذرحصلا کذک حکم سـائر الاربـاب- اذالم یکـن عذرفذامن باب- فی ردالمختاروسکت عمایعیه الاصیل للنائب کل شهرفی مقابلة عمله والظاهرانه یستحقه لانها اجارة وقدوقی العمل بناء علی قول المتاخرین المفتیٰ بـه مـن جوازالاسـتیجارعلیٰ

الامامة والتدریس وتعلیم القران الیٰ اخر ماقـال واطـال . ج۳ صـ ۲۳۱، ۲۳۲، ۲۳۳/ وفیه التصریح لاکثرماحررت. ۱۹ ذی قعده ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالث/ صـ ۱۰۴)

بطلان وقف باشتراط بطلان اوبحالت خاص

سوال :(۷٤۹)څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئله کښ چه لاندینی کیفت او بیان سره چه کوم وقف یا هبه وکړیشی د فقه حنفی په رو سره جائز ده یا نه که جائز نه ده نو د هغی څه اثر دی (کیفیت درپوټ او حکم) نواب ناصر احمد خان او نواب فاخر احمد خان دواړه حاضر شول د ابو الحسن نمبردار په پیژند ګلوښ وویل چه مونږ دی شریکي زمکښ نمبر ۱۴۰ نه د خپلی حصی نه هغه لمله سره د کوهی چه دغی شریکي زمکښ نمبر ۱۴۰ کښ دی بغیر د شاملات د حصی نه په طور وقف په نوم د حالی مسلم هائی اسکول پانی پت په اهتمام د خواجه سجاد حسین صاحب هبه کړیده او قبضه کښ مو ورکړیدی شرط دادی چه دی وقف کړیدی شوی زمکښ باندی به مدرسه جوړولی شی څو پوری چه دا عمارت ولاړ وی هغی پوری به هائی اسکول مالک وی او د مدرسی د عمارت د نه او دریدو په صورت کښ به د هبه کوونکښ وارثانو ته ملکیت رسی خواجه سجاد حسن صاحب هم او منل مقابله جمع بندی سره او شوه داخل خارج منظور دی ؟

جواب :فی الدرالمختار واذاوقته بشهراوسنة بطل اتفاقادرروفی ردالمختار هذا اذاشرط رجوعه بعد الوقت الی قوله امااذاشرط رجوعه الیه بعد مـضی الوقـت فقـدابطل التابیـدفیطل الوقـف وبعداسطرهکذه الوقال ارضی هذه صدقة موقوفة شهراًفاذامضی شهرفالوقف باطـل الی قولـه باطل مطلقا کماعلمت انفا .ج۳/صـ۵۲۲/۵۲۷ دی روایت نه معلومه شوه چه دا وقف صحیح نه دی والتوقیت بانقطاع السکول کالتوقیت بالشهر والسنة لاشتراک العلة وهی ابطال التابید وهوظاهر او هبه څکه نه ده چه په سکول کښ د موهوب له صلاحیت نشته ولاهبة بدون الموهوب والله اعلـم ۱۹۰ ربیع الاول ۱۳۳۴ھ (تتمه ۴/صـ۱۸)

(وقف) عدم جواز منافع زائده الخ

سوال :(۷۵۰)د وقف کړی شوی زمکښ آمدنی کومه چه په ټک باندی راځی هغه خو متولی یا کار کوونکښ په خپل مصرف کښ لګوی خو تور حقونه ددی خپلی زمکښ کوم چه

سوال: (۲۹۱) دزنانی دبالغیدواندازه څه ده؟

جواب: دزنانه دبالغیدوڅه اندازه مقرر نه ده خو دنهو کالو نه مخکښې نه شی بالغیدی اودهغی دبالغیدونخښه حیض وغیره دی که څه نخښه ښکاره نه شی نو بیاداولسو کالونه وروستوچه کله هغه په خپلو کارونو کښې هوښیاره شی نوحکم دبلوغ به پری کولی[۱] اوخپل مهریه ورته حواله کړی شی. وان حاضت الجارية واحتلم الغلام اوتاخرفاستكمل الغلام تسع عشرسنة والجارية سبع عشرسنة واونس منهما الرشدواختبروابالحفظ لاموالهماوالصلاح فی دينهمادفعت اليهما. عالمگیری جلدثالث ص۳۱۳،امدادص ۱۴۷ج۳.

سوال: (۲۹۲) درمختارباب الرجعت کښې راغلی دی ولوخافت ان لايطلقها تقول زوجتك نفسی علی ان امری بيدی. اوس که یوسړی دخپلی پیغلی بالغی لوریه دی طریقی سره کوی نوځنګه به کوی آیاپلاریه دلورنه داسی اجازت غواړی چه ستانکاح په دی شرط باندی کوم چه امرد طلاق به زمایه لاس کښی وی اوهغه لورداوړی اوچپ شی، بیاداسړی په دی شرط نکاح اوتړی نوجینی ته اختیارشته یانه یابه پلارته اختیاروی یابه جینی په خپله ژبه پلارته وائی چه زمانکاح په دی شرط اوکړه اوبیائی پلاریه دی شرط اوکړی یاڅه بل صورت په دی مسئله کښی اولیکی غرض داچه څومره پوری کیدیشی چه جینی دخبروکولوضرورت دیرلپراشی؟

جواب: فی ردالمحتارباب تفويض الطلاق مشافهتهااواخباراً وفی ردالمحتارقوله مشافهة ای فی الحاضرة اواخبارای فی الغائبة اه قلت دل علی ان التفويض يجوز للحاضرة والغائبة وفی ردالمحتارباب الامر باليدتحت قوله وينبغی الخ لا نه يصح ان يجعل الا مر بيداجنبی وان كانت بالغة الی قوله قلت علی انه اذاجعل الله اذاجعل امرهابيدها يكون فی معنی التعليق علی اختيارهانفسهافلايصح من ابيهاولو كانت صغيرة وكذالوجعله بيدابيهالا يصح منها ولو كانت كبيرة لعدم وجودالمعلق عليه اه قلت دل علی امرين احدهماان التفويض يجوزلغيرالزوجة والثانی ان من فوض اليه يكون الامر بيده غيره ودل ايضاً علی ان صحة التفويض لا يتوقف علی اذن الامرأة وفی الدرالمختارباب تفويض الطلاق لا تطلق بعده ای المجلس الا اذازادمتی شئت الخ قلت دل علی ان بقاء الا ختياربعد

[۱] - دادامام صاحب قول دی اودصاحبینو په نزد پنځلس کاله دی او په دی باندی فتوی ورکړی شویده پ.۱۲

المجلس لا يكون الا بدليل العموم وفی الدرالمختارقبيل فصل المشية نكحهاعلی ان امرهابيدهاصح وفی ردالمحتارقوله صح مقيدبمااذابدأت المرأة فقال زوجتهانفسی منك علی ان امری بيدی اطلق نفسی كلمااريداوعلی انی طالق فقال الزوج قبلت امالو بدأ الزوج لا تطلق ولايصير الامربيدها كمافی البحرعن الخلاصة والبزازية وفی ردالمحتار تحت قول الدرالمختارالمذكورفی السوال هكذا قوله وتمامه فی العمادية حيث قال ولوقال هاتزوجتك علی ان مرك بيدك فقبلت جازالنكاح ولغاالشرط لان الامرانمايصح فی الملك اومضافااليه ولم يوجدواحدمنهمابخلاف مامرفان الامرصاربيدهامقارنة لصيرورتهامنكوحة اه، نحووقدمناه قبل فصل المشية والحاصل ان الشرط صحيح اذابدأت المرأة لا اذا ابتدأ الرجل ولكن الفرق خفی نعم يظهرعلی القول بان الزوج هوالموجب تقدم اوتاخروالمرأة هی القابلة اذابتدئ كذالك تامل اه،قلت دل صريحاعلی ان صحة اشترط التفويض فی النكاح مقيدبمااذا ابتدئ من الزوجة، دي ټولوروايتونو دمقتضي نه معلومه شوه چه دي صورت کښ که دجینی پلاراول ووايي چه زه دخپلي لورنکاح تاسره په دي شرط باندي کوم چه دهغي امربه زمالاس کي وي يادادي جيني په لاس کي وي چه کله زه اوغواړي طلاق ورکړم ياطلاق واخلي اوخاوندداووايي چه ماقبول کړيده. نکاح هم اوشوه اوامرباليدهم ثابت شو که دپلاريه لاس کي يي اختيارورکړي وي نوهغه اختيارمندي جيني نه ده اوکه دجيني په لاس کي يي اختيارورکړي وي هغه اختيارمنده ده پلاريې نه دي اودغه اختيارشرط ګرځولو کي پلارته دجيني نه دتپوس کولواجازت نشته فقط. ۲۳ جمادی الاخری س ۲۲ھ،امدادص ۲۱ ج۲.

دنوي مسلمانه شوي پيغلي جيني دنکاح صحيح کيدوشرطونه

سوال: (۲۹۳) يوزنانه عاقله بالغه مسلمانه شويده اونکاح کول غواړي اودهغې خاوند حاضرنه دی اونه دهغه څه پته نښه شته چه اسلام ورته پيش کړی دی صورت کښی ددی نکاح صحيح ده يانه. داسلام پيش کيدوډپاره که انتظارضروري وی نوڅومره انتظاريکاردی دانتظارنه وروستودی خاوندخوبه څه حق نه وی؟

جواب: که ددی حيض راځی نوداسلام پيش کولونه وروستودری حيضه انتظاريکاردی اوکه حامله ده نودحمل پيداکيدوپوری انتظاريکاردی اوکه نه ئی حيض راځی اونه حامله ده نودری

والجامع بينها التحرير فان الوقف تحرير عن البيع وتعلق حق الغريقتضي من ربعه كسعاية العبد بل
انه امكن اذقديموت قبل اداء السعاية والعقار باقي رعاية للمصلحة فايتامل اه مافي شرح الوهبانية
ج۳ص۲۱۱-۲۱۲) دا روايتونه او درايتونه ددې امورفائده ورکوي (۱) دګانړه کړی شوی وقف
جائزدی هرکله چه وقف کوونکي دګانړی دمال دادکولو انتظام وکړيشي (۲) يوانتظام داهم
دی چه ده هغه داداکولودپاره څه شی بيع دپاره مقررکړی (۳) په نسبت ديوجزودوقف دبيع
کولو په خپله دوقف دآمدنی نه اداکول اصلح للوقف دی بس دهغې جوازبالاولیٰ دی (۴)
هرکله چه دوقف مصلحت دپاره دوقف دجزوبيع کول جائزدی هرکله چه دوقف په وخت کې
اووائی دهغې دخلاصولو دمصلحت دپاره قرض اخستل اولیٰ بالجوازدی (۵) هرکله چه
دوخت دمصلحت دپاره جزودوقف بيع کول جائزدی هرکله چه دوقف په وخت اووائی
نوخاص دهغې جزودوقف بيع کول جائزدی چه کله دوقف په وخت اووائی کوم چه دوقف په
وخت کې ګانړه کړی شوی وه اوقرض اخستوسره يې هغه دګانړې نه خلاص کړودوباره دی
مقرض سره ګانړه کيخودل اولیٰ بالجوازدی اودا پنځه امورخوبعض روايتونوکې موجود دی
اوبعض ترينه مفهوم کيږي اوس ددې امورونه پس دسوال په جواب باندې خان پوهول
پکاردی چه کله دراهن په اجازت سره مرتهن بل چاسره ګانړه کيږدي نوحقيقت دهغه عقدبه
راشي چه اصل راهن ددې دويم مرتهن نه قرض واخستو اودادويم مرتهن يې وکيل
جوړکړوچه هغه يې دوړومبي مرتهن نه خلاصه کړی بيايې وړومبی مرتهن وکيل جوړکړوچه
هغه دويم مرتهن سره ګانړه کيږدی نوشرعاً داګانړه داصلي راهن دطرفه شوه اوټول حکمونه
چه وړومبی مرتهن دپاره ثابت وه هغه به دی دويم مرتهن دپاره ثابت شي بلکه بهترين داوی
چه ددې عقدرهن دررهن چه دهغې په شريعت کې ددې توجيه نه بغيرهيڅ اصل نشته دادواړه
وړومبی راهن اودويم مرتهن دی عنوان سره اختيارکړی اګرکه قانونی پانړوکې داالفاظ اونه
ليکي خوپه خولې باندې ويل هم شرعاً کافی دی اوددې اختيارمصلحت بلکه ضرورت
شرعيه دادی چه بيادپاره دتوجيه اوتاويل حاجت پاتې نه شي دعقدضمنی نه عقدصريح
اضرب الی الصحة والعبدعن الشبه وی بياچه هرکله دادويم مرتهن دوړومبی مرتهن په ځای
په عقدصحيح سره په دغه ذکرشوی طريقه اوګرځيدونو اوس دهغه حق صرف په زررهن کې
به وی برابره خبره ده چه هغه دوقف جزوچه مشروط البيع وه خرڅ کړی اوزررهن اداکړی کوم
وخت چه هم ممکن وي اويا په خپله ددې ګانړه کړی شوی دآمدنی نه دامرتهن هغه پوره کړی

داپه اختياردمرتهن کې دی اوددې ګانړه کړی شوی نه فائده اخستل څه رنګ چه دی وړومبی
مرتهن دپاره په حيثيت سره دمرتهن کيدوناجائزوه دغه شان دی دويم مرتهن ته هم ناجائزدی
بلکه که چرته دامرتهن ددې ګانړه کړی شوی دآمدنی نه زررهن په مزه مزه اخستل قبول نه
کړی نوبيا ددې ګانړه کړی شوی آمدنی هم به دوقف په مصرفونوکې صرف کيږي البته که
چرته دامرتهن په دی وجه چه په اولاددوقف کوونکې اوګانړی کوونکې کې دي اوهغه
جاندادپه اولادباندې وقف دی. دی خاص حيثيت سره هم دوقف مصرفونونه دی اوکه حالاً
يامالاً څه چه هم مقتضی دوقف نامې دشرطونووی نوهغې حيثيت سره دشرط دوقف موافق
ددې ګانړه شوي دآمدنی منقطع کيديشی دی تقريرسره دسوال دهرجزوجواب راغلی برابردی
کړيشی اوکه دڅه سوال په جواب باندې څوک پوهه نه وی نودوباره دي سوال وکړی ۱۰ جمادی
الاخری ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۴۲)

حکم وقفی که دران ازسرکارزمین بارو پیه ګرفته شامل کرده شودودوکس سرکاری شریک انتظام کرده شود

سوال (۷۵۳): څه فرمائی علماء دين په دی مسئله کې چه زيد ډيرمالداره دی دهغه اراده ده
چه په خپل ژوند کې يوه ډيرلوي وقف وکړم چه دپنځوس شپيتولکوروپيه اندازه وی چه په
هغې کې يوه لويه مدرسه صرف ديتيم بچودتربيت اوديني تعليم دپاره کولاؤ کړيشي چه
هغې کې پنځه سوه يتيمان وی هغې کې قرآن مجيد ترجمی سره اوديتيمانو کتابونو اورسالې
اولوستلې شي اوپنځلس شپاړلس کاله پکې دوی اوساتلی شي هرکله چه هغوی دخپل
مذهب نه خبرشی نودوی ته که چرته ضرورت وګڼړلی شی نوهنرورته اوخودی شی
خوداضروری نه دي اوته په وقف کې شرط وی صرف وقف ددين تعليم دپاره اوهغه هم يتيم
غريبانانو دپاره چه سني مسلمانان وی اوهغه اداکول غواړی چه يوه ډيره لويه زمکه چه
څوسوه ګزه وي دهند حکومت نه واخلی چه هغې کې لوئی مکان جوړکړي چه هغې کې داټول
انتظام دمدرسی داوسيدوديتميانو اودهغوی دخوراک څکاک اودمدرسينو اوکړيشی
دازمکه چه دهغه حکومت نه واخستی شی دهغې به هيڅ قيمت نه ورکوي بلکه هغه به په
طريقې دامداد واخستی شی دغه شان داهم چه مثلاً پنځوس زره روپی دهند حکومت نه
دامداد په طورواخلی هغه به هم دغه پيسو سره شامل کړی خوپه هغې به دحکومت هيڅ حق نه

دنقل (پښتو) په طوردنکاح صیغه وئیلوسره نکاح نه کیږي

سوال: (۲۹۶) څه فرمائي علماء دین دې مسئله کښې چه زید مسماة هندې چه بالغه اوکنده ده ددوکسومخکښې ئې اول دنکاح خطبه اولوستله هغې نه وروستوئې یو کاغذ دهندې مخې ته کیخودواوپه هغې کښې ئې لیکلې وې یازیدزجت نفسی منك علی مائتی درهم اوونیل چه داپه اوچت آوازدرې ځله اووایه پدې وجه هندې په اوچت آوازدااولوستل اوزید قبلت اوونیل اودې دواړه کسوته ئې واورول اوهنده اودادواړه کسان دانه پیژنې چه زوجت نفسی منك سره نکاح منعقد کیږي نودې صورت کښې دشرح وقایه دقول مطابق کزوجتني فقال زوجت وان لم یعلما معناه وایضاً سامعین معالفهما اوموافق دحدیث شریف جدهاجد وهزلهاجد دې. اوس دانکاح ترلې شویده یانه ؟

جواب: سوال خومختصردې خوظاهراً معلومیږي چه ښځې دالیکلې شوی کاغذچه اولوستلونه ددې نه خطاب کول مقصوددې اونه دوی ته دامعلوم دې چه دې سره نکاح کیږي اوګواهان هم دانه پیژني داخوپه خپله سوال کښې موجوددې نودخطاب نه کیدونه داخوانشاء نه ده صرف حکایت دیوعبارت دې په دې طریقې سره که چرته داسې الفاظ اوائي چه دهغې معنی هم پیژني بیاهم نکاح نه قضا په شوی نه دیانة بلکه څنګه چه ظاهره ده اودغه رنګ دامعلومه نه وي چه داالفاظ په نکاح کښې فائده ورکوي نوهم دبعضوعالمانوپه نزددانکاح باالکل نه ده شوی اودشرح وقایه وغیره دعبارت مطلب دادې چه دهغې معنی مفسراومنفصل معلوم نه وي دانه چه دهغې مفیدنکاح کیدل هم معلوم نه وي اوکه څوك داالفاظ وائي چه ورته پته نهږ وي چه دانکاح کښې فائده ورکوي بعضوورته جائزوئیلي دي چه نکاح کیږي خوداصرف قضاء په دیانة نه اودلته ضرورت ددیانت دصحیح والي دې کښې بیابه داپه سړي حرام وي که قاضي په جداوالي باندې جبراونه کړي. دارنګه دګواهانودومره پوهه چه دامفیددنکاح دې عم الراجح شرط دې دلته داهم نشته بغیرمال دانکاح باالکل صحیح نه شوه هرګزدیته دحلال وئیلوجرات اونه کړی شي اوکوم سړي چه حیلې کوي هغه دسزاقابل دي چه تعزیرورکړی شي اوهغه سره ملاقات هم بند کړیشي اولړې والې دې ترینه اختیارکړیشي ځکه چه دې سره ویره ده چه دګمراهۍ دروازه دې سره کولاؤنه شي. نعوذبالله تعالی من شر کل غوی مغوی فی ردالمختار تحت قول الدرالمختار ولایشترط لکن قیدفی الدرعدم الاشتراط بما اذاعلما ان هذااللفظ ینعقدبه النکاح وان لم یعلماحقیقة معناه قال الفتح لولقنت المرءة زوجت نفسی بالعربیة ولاتعلم معناه وقیل

الی قوله وقیل لاکالبیع کذافی الخلاصة وبعده بسطرین والفة فی الحکم الی قوله ینبغی ان یکون النکاح کذالك وفی الدرالمختارشاهدین الی قوله فاهمین ان نکاح علی المذهب بحرونقل تصحیحه صاحب ردالمختارعن التبیین والجوهرة والظهیریة والخانیة الی قوله ویحمل القول بالاشتراط علی اشتراط فهم انه عقدنکاح والقول بعدمه علی عدم اشتراط فهم معانی الالفاظ بعدفهم ان المرادعقدالنکاح. اودهزل نه مراددانه دې بلکه معنی داده چه په معنی باندې پوهه اوقصد دتکلم خودې خوداثردمرتب کیدوقصدنې نه وي دیته عزل وئیلې کیږي. والله اعلم ۱۵ رمضان ۱۳۲۲ھ

مخکښې سوال تفصیل

هنده بالغه کنده ښځه ده ددې څه اولادنشته بلکه وړومبې خاوندسره ئې خلوت هم نه دې شوی په خپله نمونځ ګزاره ده اوقرآن هم لولي ددې پلاربې نمازه دې بلکه نشه (دکجوررونه یوقسم نشه آورس اوځي) څکې اوچه چاسره خبرې کوي نوبس جنګ ته تیاروي. هنده زیدکره ځې راځي نوزید یوه ورځ ددووکسانومخکښې دنکاح خطبه ددې اولوستله دنه ئې وروستویوکاغذدهغې مخې ته کیښودچه هغې کښې لیکلې وه یازیدزوجت نفسی منك علی مائتی درهم اوهندې ته ئې اوونیل چه داپه اوچت آوازدرې ځکه اووایه هندې هغه شان اوکړل اوپه خپله ئې قبلت اوونې څوورځې وروستوبیازیدهغه خطبه دهندې مخکښې کیخوده اوورته ئې اوونیل چه داخطبه داپه فلانکې ورځ وئیلې وه هغه وونیل چه آو. بیائې دغه کاغذکیخودووائې داهم تاوئیلي ووهغې اوئیلی چه آو. بیازیدورته اوونیل چه یازیدزوجت نفسی منك معنی داده چه ای زیدماتاسره نکاح اوکړه نوته زماښځه شوې اوزه ستاخاوندشوم هنده په دې چپ شوه اوڅه جواب ئې زیدته ورنه کړواوڅنګه چه مخکښې زیدکره تله راتله هغه شان اوس هم ځي راځي زیدډیراحتیاط کوونکې سړي دې فاسق فاجرنه دې نودانکاح اوشوه یانه اوزیدددې اعلان کولې شي یانه چه زمانکاح دهندې سره شویده. بینواتوجروا ؟

جواب: چپ پاتې کیدوسره صحیح کیدل دنکاح لازم نه راځي که زیدددې لره رضاګترې نوګویاچه داښځه په نکاح باندې راځي ده نوبیاددې حیلې نه څه فائده ده چه دهغې سره نکاح نه ثابت کیږي هرکله چه هغه راضي ده نوهغې سره دصفاخبره اوکړي اونکاح داوکړي دجهالت هغه رسم به ښه بند کړیشي اوحیله مخترعه کښې خواول نکاح نه کیدل ثابتیږي نودې سره به دجهالت رسم څه بندشي هغې جهالت دپاسه به بل جهالت یعنی مکروفریب رواج شي بیاچه

احکام المساجد

مسائله اهل الغلة فی مسئلة الظلة

حکم سائبان درمسجد/په جومات کې دسیوری دپاره دچوپال جوړولو حکم

سوال :(۷۵۷)بعد الحمد والصلوة دی عاجزپیرمحمد والی جمات کې ددریو څلور درو مخکې دتیم چوپال جوړکړي وه په هغې کې یو دري دری جنوبی شمال طرفته جومات سره پیوست ده ددی چوپال په باره کې بعض مشرانو حضراتو سره دتحقیق په طورځه خط وکتابت هم اوشو هغې لره په دی[1] غرض نقل کوم چه علمانو په دی باره کې نورهم تحقیق وکړیشی اوزماقول اوفعل (ویناوعمل) دی حجت اونه شی گڼرلی مادخپلی پوهی موافق وښیلی دی وسمیتها اشارة الی الاسم المسمی نواث الکابرنخبة الاکابر

وړومبی خط ددی بزرګ

مکرم ومحترم سندی ادام الله تعالیٰ فیوضکم .السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (دیوبل مضمون نه وروستو) دستاسو ددریو درود چوپال باره کې زما شک دی زه دانا جائزګڼرم اوتاسوبې جائزدمولوي صاحب .... تقریرځه پوهي ته رانغی پدی وجه مکلف دخدمت یم چه تفصیلی کیفیت ددی اولیکلی شی چه داجنوبی دری دری په جومات کې داخل ده یاباهر اوداجومات سره جوړه شویده که وروستوجوړه شویده یادهغې څه حصه په جومات کې داخل ده دتفصیلی علم نه وروستوکه څه شک پاتی شونوبیابه عرض وکړم (بیایوبل مضمون دی) والسلام ۳۰ شوال ۱۳۳۱ھ

---

[1] اودی دباره هم چه دي خطونو کې ډیراصول اوفروع فقیهه دعالمانودپاره ډیره فائده منددی کوم چه نوروواقعاتو کې هم په کار راتلی شی اوبوغرض ددی امرهم خودل دي چه دحق اظهاردپاره دمناظره څه رنګ وي ۱۲

دوهمی خط جواب دعاجزه طرفنه

(وروستو دلقبونو[1] اوداداب اودنورومضمونونو) مولوی صاحب .... تـه مې چه کوم مضمون ذکرکړی وه هغه ډیراوږد وه په دی وجه دیادنه پاتی کیدودچه نه اداته کړي شو هغې خلاصه داده چه دادیوال په کوم چه چوپال کیخودی شوي دي دجومات حصه ده اوچوپال هم په قصد دمصلحت دجومات اچولی شوي دي اوهغه مصلحت دادی چه ډیروورخودماسپخین لمونځ په بهرحصه کې کیږي نووړومبی صف باندی خودزوړ چوپال سیوری کیږی خودویم صف کوم چه دماشومانودی زیات ماشومان په دوپ کې وي اګرچه ضرورت دوچه نه هغوی ددی دیوال په سیوری باندی اودریدل خوهغه سیوری نه پوره کیدواوس هغوی ددی چوپال په سیوری کې آرام سره اودریږی البته دی دیوال کې یوه پخوانی غلطی دمشرانو دوخت نه شته چه ددی دری کړی یې په هغې کیخودلی دی نو دهغې غلطی لری کولوهم خیال دي دغه شان چه مشرقی اومغربی دیوال باندی یوشهتیرکیخودي شی اوکړی په هغې باندي ولګولی شی والسلام (تاریخ نقل کول یاد نه دی)

دبزرګ خط جواب باره کې دویم خط

مکرم ومحترم دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (پس دیومضمون نه) دجومات دچوپال باره کې حضرت دوه مقدمی لیکل دی وړومبی داچه کوم دیوال چوپال کیخودي شویدی هغه دجومات حصه ده دویم مقدمه داچه چوپال هم په قصد دجومات اچولی شویدی دی دواړو کې زیاته اهم وړومبی مقدمه ده دامقدمه چه څه پوری دلیل سره نه وي ثابت شوي صفائی نه شی کیدی سوچ کولوسره معلومیږي چه دوی خلاف ډیرقوی دی ځکه چه دیوال کوم باندي چه چوپال کیخودی شویدی داحصه تول مجموعه دري دری ده کوم چه خارج دی اوحصه دخارج ([2]خارج وي ددی نه علاوه دری دجومات حصه کیدل غیرمعقول دي ځکه که چرته دادیوال دجومات وي نوپه دیکې ددریو دروځه وجه نه وه بیادادری دری خپله داګواهی ورکوی چه دي دیوال کوم کې چه دادر ده دجومات سره یې څه

---

[1] دلته چه کوم کاغذپاتی شوي وه په هغې کې لقبونه اوادب نقل شوي نه وه صرف خط چه کوم نقل وه په هغې کې لیکلی شوي وه ۱۲

[2] فی هذ المقدمة کلام لان بعض اقسام الخارج مایکون مرکبا من الداخل فکیف یحکم علی جمیع اجزائه التی بعضها داخل بکونها خارجاً ۱۲

مشرجوړ کړي اوداحرکت ابلیسي اوتلبیسي بې کړیدي مسلمانانوباندي واجب دي چه داسي سري سره معامله نه لري کومه چه مشرانوپیشوایانوسره لري شي . ۱۹ شوال / ۱۳۳۷ هـ (تتمه خامسه ص ۱۰۰)

سوال : (۲۹۸) یوسړي یوې بالغې عاقلې پیغلې یاکونډې زنانه ته په عربي کښې زوجتك نفسي ددوو ګواهانومخکښې اووئې اوکله هغه زنانه داالفاظ اووئې نوخپله ورته قبلت اووائې اوداوړه ګواهان ددې الفاظوپه مطلب خبرنه وې نودانکاح صحیح ده یانه که صحیح نه وي نوکه ښځه په خپله ددې الفاظوپه معنی خبروې خوګواهان ناخبره وي نودې صورت کښې هم نکاح جائزده یانه ؟

جواب : فی ردالمحتارفی اشتراط فهم الزوجین معنی الایجاب والقبول اوعدم اشتراطه لصحة النکاح مانصه لکن قیدفی الدرعدم الاشتراط بمااذاعلما(الزوجان) ان هذااللفظ ینعقدبه النکاح ای وان لم یعلماحقیقة معناه الخ وفیه فی اشتراط علی اشتراط فهم ان عقدنکاح والقبول بعدمه علی عدم اشتراط فهم معانی الالفاظ بعدفهم ان المرادعقدالنکاح . ددې روایتونوپه بنیادکه چرته ښځه یاګواهان داهم نه پیژني چه دې الفاظوسره نکاح کیږي نودانکاح نه منعقدکیږي . ۲۳ شعبان سـ ۴۹ هـ (النورص ۳ ، ربیع الثانی سـ ۵۰ هـ)

دجینۍ په نکاح باندې معاوضه اخستل جائزنه دي

سوال : (۲۹۹) څه فرمائي علمادین په دې مسئله کښې چه دې ملك کښې دخوکالونه داړواج جوړشویدې چه مثلاً زید غریب دې دخپلې لورپه نکاح کښې څه خرچه نه شي کولی کوم رواج چه دملك موافق دې خپل محلې والوته څه پان شربت وغیره خوراك څکاك کښې خرچ کول راځي اوهغه بې چاره خپلې لورلره دې خرچ دوجه نه واده کولی هم نشي نوڅه کوي چه مثلاً په لسم شعبان خپل څه رشته داران اودواده دهلك (چنغول) څه رشته داریه خپله کښې یوځای شي اودنکاح تاریخ شلم شعبان مقررکړي اودسروسپینوکالودکپړومهرمعجل وغیره تولې فیصلې په اعتمادسره اوکړي اوکومې روپۍ چه دمهرپه بدل کښې وي نیم معجل اونیم غیرمعجل تولې خبرې په دغه تاریخ په وعدې سره اوکړي نوآخروخت کښې په دغه لسم تاریخ دجلسه والاد جینۍ پلاردواده دهلك طرفته سروته وائي چه کوم نیم مهرمعجل چه په شلم تاریخ سودنکاح ترلوپه وخت کښې ورکوې هغه روپۍ که درسره نن وې نوراکړې پاڅلوریشخو ورځوکښې دننه راکړې چه زه درواج مطابق په دغه روپوباندې څه تیارکړم غرض

داچه په اعتماداووعدې سره چه کله دواده کولواطمینان اوسکون راشي نودواده کولونه مخکښې هغه روپۍ ورکړي په دې شرط باندې چه خدادې نه کړي که دڅه فتنه اوفساددوجه نه نکاح اونه شي نوروپۍ به واپس راکوې اوبعضې خلق دنکاح ترلوپه ورځ هم مهرمعجل وصولوي . نودې صورتونوکښې وروميې داچه که داجینۍ پیغله بالغه وي خپل پلاریاقاضي منع نه کړي نوپلارئیکه قاضي بوځي یاخپل تصرف کښې ددې جینۍ واده اوکړي نوداجائزدي یانه که جائزوي نودتعریف نه وروستودامهرپیاواجب الاداء دې یانه ، دویم داکه داجینۍ بالغه منع کوونکې وي نوکه بیاپلارخپل تصرف اوکړي نوڅه حکم دې اوجینۍ څه صورت کښې دامهروصولولې شي یانه ، دریم داچه دعقدنه مخکښې دامهراخستل جائزدې یانه اودعقدنه وروستومهراخستل څنګه دې اودغه پیسوکه خلقوباندې خوراك اوکړي نوڅنګه دې اوکه دقرض حسنه په طورد خپلې لورنه پیسې واخلې په خلقوئې اوخوري نوداخوراك څنګه دې اوولې لکه وروزتره وغیره دوی څه اخستې شي اوکه په خپل تصرف کښې اوکړي نوجائزدې یانه اوپه دغه طریقې باندې ددې نه قرض واخلې اوپه محلې والوباندې اوخوري نوداجائزدې یانه . بینواتوجروا ؟

جواب : فی ردالمحتارخطب بنت رجل وبعث الیهااشیاء ولم یزوجهاابوهافمابعث للمهریستردعینه اوقیمة هالکاوفیه اخذاهل المرأة شیئاعندالتسلیم فللزوج ان یستردعینه لانه رشوة فی ردالمحتار الحظروالاباحة وامادعوة تقصدبهاالتطاول اوانشاء الحمدوماشبه فلاینبغی اجابتهاالخ . دې روایتونه معلومه شوه چه څه اوشول کوم څه چه اخستې شي که دادمهرنه وي نوبیاخورشوت اوحرام وي ددې خوړل په چاخوړول ټول ناروادي اوخاوندته ددې دواپس کولوحق دې که دمهرنه اخستې وي نوکه داجینۍ وړه وي نودهغې په ملك کښې تصرف کول اګرکه دهغې په اجازت سره وي هم حرام وي دهغې خوړل وغیره ټول ناروادي . که چرې دابالغه وي نوکه ددې داجازت نه بغیروي نوهم دغه حکم دې که نابالغه ده نودهغې اجازت صرف ظاهراً وي دزړه په خوشي سره نه وي نوبیاخوقضاء مطالبه دهیچانه نه شي کیدې خوداتصرف حرام دې اوخوراك اوخوراك وغیره کول ټول حرام اوکه فرض حال عادتاً دزړه په خوشي سره وي نوپه دې وجه چه داسې موقعوکښې قصددفخراودنوم کولې شي نوهم خوراك وغیره پرې کول منع دې البته که چرته داخرابي هم نه وي نوبیادې اخیرې صورت کښې جائزدې . والله اعلم . ۱۶ رمضان سـ ۱۳۲۲ هـ (ج ۲ ص ۲۷)

ترڅو چه څلورواړه (۱) پیوستونه چه مشرقي او مغربي طرفته دي هغه د غیر جومات نه جدا نه کړیشي هڅ که چرته شهتیر واچوی او په هغې کړی کیخودلي شي او څلورواړه پیوسته هم جدا کړیشي نو هغه وخت څه لری ده چه هغه دیوال په اتفاق د محلي والو د جومات دیوال وګڼلی شي او س پاتی شوه بله خبره چه کله دا دیوال د جومات دیوال نو په هغې باندي چوپال اچول جائز دي یا نه زما په نزد خو چوپال اچول هغه وخت هم جائز نه دی ځکه چه عرفاً چوپال صرف دیوال د پاره نه شي اچولی نه تابع د دیوال وي بلکه تابع د ټول مکان وي په کوم مکان باندی چه چوپال اچولی شي نو او س دی صورت کي چوپال د دري دری تابع دي نه د جومات د دیوال په دی وجه قو او اهم ده ځکه چه د دري دری، کیناستو هم ارام مد نظر دي او د جومات ماشو مانو او لمونځ ګزارو هم د آرام خیال دی خو د دی غرض په حاصولو کي د جمع اهم مقصود یعني د امام مخالفت لازم راځي په دوجه د امقصود هم د دی قابل دي چه ملحوظ د نظر نه وي او اصل دا ده چه اغراضو لره دیکي څه دخل نشته ځکه چه جومات لره د غیر جومات په استعمال کي روا ستل اګرچه د څه جومات په غرض کي وي هم جائز نه دی فقط والسلام خیر ختام (تاریخ نه وه)

د دی عاجز د طرفه د دي دریم خط جواب

(وروستو لقبونو او ادابو نه) خط را او رسید و د حق د اظهار تکرار هر ګز په زړه باندی بوج نه دی او بحمد الله خو د اعادت دی چه هر کله د څه خبری حق کیدل واضح کیږی نو بیا په راته خپلی رایي اصرار نه راځي نو تر او سه پوری د دي انتظار دي کوم چه او نه شوا و ماته هم په جواب کي تکرار ادب نه خلاف معلو میږی خو تحقیق په دی باندی جرآت منعه کړم د چوپال جوړولو نه مخکي خو به مي د زړه وجدان د دلیل په ځای ګڼلی وه او د هغې تابعداری به مي کړي وه ماته د دی مضمون زباني پیغام صرف په دی عنوان را او رسید و چه ده خارج جومات او به په جومات کي دا خستلو ویره لازم راځي چونکه دا بناء مقصود وه ځکه چه چوپال چه د هغې او به جومات کي غورزیدي د جومات حصه ګرځیده بس د هغې او به هم د دغه جومات او به دی په دی وجه هغه جوړ کړي شوي او س د جوړولو نه وروستو د هغې په جدا کولو د کي په خپله شبه د جومات

---

(۱) غرب کي خو د هغې حاجت ځکه نشته چه هغه طرفته اتصال جومات د و چه نه دی البته په شرق کي نوی دیوال سره د هغې اتصال نوی شي لکه څنګه چه حاشیې د دویم خط کي ذکر شول ۱۲

ورانولو او خرابولو کي تصرف کولو د چه نه د عدم جواز احتمال و ګرځید و نو دی احتمال لری کولو د پاره د دیر و واضحه دلیل چه بالکل کافي او شافي دی ضرورت دی کوم چه تر او سه پوری نه دی ملاو شوی د دیوال متعلق کوم چه ما عرض کړي وه هغه صرف تبرعاً وه چه د هغې دلیکلو اصل وجه د هغې تپوس جواب وه او ور سره مې دا خیال هم شامل شوي وه چه د هغې هم تحقیق وکړیشي کیدیشي چه څه صورت د هغې مخکیني غلطي د اصلاح د پاره را او وځي باقي نفس مسئله واقع کي هغې ته څه دخل نشته او د چوپال جواز په هغې باندی موقوف نه دی ځکه چه که هغه چرته د جومات حصه نه وی نو هغه لره د جومات په کار کي را وستل په درجه اولی جائز شول لکه څنګه چه مخکي خط کي او لیکلی شول (۱) او بنکاره هم ده چه که چرته په جومات کي خیمه او درولی شي او د هغې هغه رسی د محلي په مکان کي او تړلی شي نو بې شکه جائز دی یاد جومات په فناء کي چرته یو عادت کي او تړلی شي نو د هغې جائز کیدل د هغې نه هم زیات ښکاره دی په دی وجه د دیوال قصه بریږدم د نفس مسئلی متعلق عرض کوم نو عرفاً د هغې د دري دری تابع کیدل او تابع په حکم د متبوع کي وي او س زما خیال کي د دی عرف مقابل نیت د جوړونکي کیدیشي د هغې نمونه داده چه که چرته یو جوړونکي د جومات د جومات د فرش اخیری حصی لره دا او ګڼړی (چه خلق به دلته او دس کوي او په جومات کي د اودس او به تو یو ول جائز نه دي) د جومات نه د بهر لر لو نیت و کړي او امتیاز د پاره د تعمیر څه شکل هم بدل کړي نو یقیناً جائز دي او مخکي جوماتونو کي د اودس کولو هم دا سی تاویل کیدلی شي کني د عامو مسلمانانو په بې حرمتي او بې ادبي کي مبتلا کیدل به په جوماتونو کي لازم راشي حالانکه حساً او صورةً هغه حصه د جومات تابع بلکه د جومات حصه ده او تابع په حکم د متبوع کي وي نو پکار دی چه دي وضع عرفي په اعتبار سره د دینه د جومات حصه وونیلی شي او په دی باندی او دس کولو ته جائز او نه وونیلی شي بس حکم د جواز نه د اصفا ثابته شوه چه نیت د جوړونکي د هغه عرف مقابل کیدیشي دلته هم د چوپال جوړونکي د هغې د ری د ری، د حصی جوړولو نیت نه دی کړی او د اخیره چه د ری د ری، کي کیناستو نکو ته په دی کي فائده رسی نو اګرچه د قوعاً به داسی او شي خو زما په نزد دلته هم دی وقوع باندی نیت ته ترجیح شته او نیت دی فائده د جومات د هغې نمونه داده چه د پرخی کمولو د پاره دونو کړلو ته په جومات کي جائز و نیلی شوی دي او نورو غرضونو د پاره نا جائز حالانکه وقوعاً

---

(۱) یعنی د دویم خط په جواب کي لقوله او که د دی نه قطع نظر الی قوله نو ربه هم آسان شی ۱۲

پلاریانیکه وي في الشامية، ص۵۱۷ / قبض الاب مهرها وهي بالغة اولا ومهرها وقبض مكان المهرعنالیس لهاان لا تجيز لان ولاية قبض المهرالی الاباء وكذا التصرف فيه اخ وفيها ص ۵۷۱/ للاب والجد والقاضي قبض صداق البكرصغيرة كانت او كبيرة الا اذالقة وهي بالغة صح النهي وليس لغيرهم ذالک والوصي يملک ذالک على الصغيره والثيب البالغة حق القبض لها دون غيرها اخ. پدیکي دحضرت څه خیال دي. امدادالفتاوي / ۲ج /ص ۲۸ / کي خومطلقاً منع يې فرمايلي ده چه کوم ارشاددحضرت په سرسترګوقبول دي اميددي که حضرت ته تکليف نه وي که مختصراوليکي هم کافي دي ؟

جواب: مهربشکاره خبره ده چه دپلارحق نه دی پیادارقم په مهرکښې حسابول پديکښې ضرورتفصيل دی هغه داکه چرته دامنکوحه بالغه وی نودپلارپه قبض اوتصرف دوارو کښې ددی اجازت شرط که صراحتاً وی که دلالتاً وی. پدی وجه دغه روايت کښې الااذانهتة ددی ښکاره دليل دی باقی دی بل روايت کی چه دی ليس لهاان لاتجيزمراددينه نشتوالی داجازت دقبض نه پس دی. يعنی دپلاردقبض نه وروستوکه منکوحه دخاوندنه مطالبه اوکره اواونی چه زه داقبضه جائزنه ګنړم نوهغه ته داحق نشته خودی کښې داشرط دی چه اجازت اوإذن متعارف وی دهغی چه کوم دليل دی لان ولاية قبض المهرالخ. هغه هم مقيددی اذن متعارف سره پدی وجه دښکاره نهی نه وروستودولايت دقبض نه کيدل دهغی ښکاره دليل دی داخوهغه صورت کښې دی چه بالغه وی که نابالغه وی نوبیادپلارپه قبضه اوتعريف هم هغه شرطونه دی کوم چه ددی نابالغی په نوروسالونوکښې دی اودابشکاره خبره ده چه دهغی په جلع والوباندی خوړل جائزنه دی. فكذامن المهر. ۸ جمادي الشوال ۱۳۵۱ هـ النورص ۸، محرم ۱۳۵۲هـ

حكم ددي چه لفظ نكاح اووايه اوحكم

ددي چه زنانه داجازت دنكاح نه انكاركوي

سوال: (۳۰۳) فدوی يونکاح دزيد دصالحه بی بی سره پدی صورت اولوسته چه وړومبی تقريباً اوياسړی اوزنانه مسمی مصاحب چيارچه دصالحه بی بی اوښی وودی په کورکښې جمع شول اومسمی صالحه بی بی چه دهغی عمرتقريباً ۲۶ شپږويشت کاله دی دمغربی طرف کوټی په چهت باندی چه تقريباً څلورفټه اوچته ده ناسته وه اوهغی ته ئی يووکيل اودوه ګواهان

دی دپاره اوليږل چه ستانکاح دفلاح خوی دفلاح سره کولی شی چه په قوم چيماران دی نوهغی دری ځله کلمه شهادت اووئيل اوپه اوچت آوازئی ووئيل چه زمانکاح لوستونکی ته اجازت دنکاح کولوراکړواوماد صالحه بی بی هغه ايجاب واوريدونوماد شريعت مطابق سل روپی چه دغه وخت رواج وومقرر کړی اوفلانکی خوی دفلانکی ته می قبول کړه اودواده هلك (چنغول) هم قبول کړه په دی باندی خواږه تيل ګوره تقسيم شوه بيادهغی نه پس دصالح بی بی خوراواوښی دواده هلك ته اووئيل چه مونږ خوورخی کښې سامان جمع کړو اوستاسوجوړه برابروو ته دخپل کلی څه کسان خان سره راوله اوخپله منکوحه بوزه بيادغه هلك خپل کلی طرفته لاړودوه مياشتی پس صالحه بی بی چابی لاړی کړه اوبوټی تله اوديته يعنی صالحه بی بی ته ئی داوخودل چه ته اوداپه چه مادانکاح اجازت نه ووورکړی. هغی انکاراوکړه اووئيل چه دوی دخپل خانه دانکاح کړيده اوس سوال دادی چه آيادانکاح اوشوه يانه ؟

جواب: دزنانه داوينا چه زمانکاح اولوله دادزوجنی ترجمه ده ددی په ايجاب کيدوکښې اختلاف دی خووکيل جوړيدل ددی يقين دی ياچه کله وکيل نکاح اولوسته نوداايجاب داصل ايجاب قائم مقام شواوهلك قبوله کړه نوايجاب اوقبول دواړه راغلل نونکاح يقيناً صحيح ده داپه هغه وخت کښې دی چه کله زنانه داجازت ورکولواقرار وکړی اوکه انکار کوی نوحکم دادی چه که چرته داسی يومسلمان کس طرفته مقدمه راشی چه دسلطنت دطرفنه حاکم وی يابنځه اوسړی دواړه رضاوی اوده ته مقدمه يوسی اوهغه ګواهانوته حکم اوکړی نوددی انکاربيامؤثرندی اوکه دواړوصورتونوکښې هيڅ يوصورت هم نه وی صرف دعالمانوفتوی وی نوخاوندلره دری ګواهانوپه بيان باندی زنانه بوتلل جائزنه دی. في الدرالمختار كزوجتي الى قوله فانه ليس بايجاب بل هوتوكيل وفيه وقيل هوايجاب. والله اعلم وعلمه اتم.
۱۵/ ربيع الثاني / ۱۳۲۴هـ امداد/ص ۳۱/ ج۲

ددي زمانی عيسايي ښځوسره په نكاح باندي اشكال جواب

سوال: (۳۰۴) نصاری چه عموماً دتثليث (خدايان دري دي) قائل دي مشرکان دي يانه. که مشرکان وي نوددوي زنانوسره نکاح ولې جائزشوه قوله تعالی ولاتنکحوالمشرکت الخ اوکه دوي مشرکان نه وي نودتثليث عقيده لرونکي موحد ګرځيدل يوه ته نه راځي داسې جواب راکړي زړه مې يخ شي ؟

جواب: مشرکان په دوه قسمه دي یو هغه دي چه دهغوي اسماني مذهب نه وي دویمه هغه چه دهغوي اسماني مذهب وي اګرکه هغي کي تحریف وکړي دشرک قائل وي نوایت ولاتنکحو المشرکت کي دقسم اول مشرکانوسره دنکاح نه منع ده اوایت والمحصنت من الذین اوتوالکتب من قبلکم کي دویم قسم سره نکاح کولواجازت دي تونه دنصاری موحد ګرخیدل لازم راغلل اونه دایت ولاتنکحواخلاف مشرکانوسره نکاح حلال ګرخیدل لازم راغلل خودي زمانه کي چه چاته نصاریٰ وئیلي شي هغه اکثرقومي حیثیت سره خونصاریٰ دي مذهبی حیثیت سره صرف دهریان اوسائنس پرست دي داسی نصاریٰ سره ده نکاح جائزکېدوحکم نشته . فقط والله اعلم ۱۵ ربیع الثانی ۱۳۲۴هـ (امداد / ص ۳۲ / ج ۲ /

سوال: (۳۰۵) قرآن کریم کي چه الله رب العزت فرمايیلي دي والمحصنت من الذین اوتوالکتب من قبلکم . یعنی دي ایت سره داهل کتابو محصنه (پاکو) زنانه سره نکاح جائزده حالانکه داهل کتابو شرک لکه ابن الله وئیل وغیره اوبدعتونواوشرکونو کي غلو ثابت شویده ددي دومره خرابیانوباوجود هم ددوي زنانوسره نکاح جائزلرلی شویده اواوس هم داهل کتابوزنانوسره نکاح جائزده یانه اوس خوداخلق نورهم خراب شویدي . هرکله چه دوي سره نکاح جائز شوه نومرزايي ، رافضی ښځي اوبدعتی چه دشرک درجی ته رسیدلی دي . ددوي ښځوسره خوپه درجه اولیٰ کي جائزکیدل پکار دي حالانکه فقهاء دوي سره نکاح منع کوي پدي وجه اسلام نه خارج دي . جناب دالله دپاره شافی جواب راکړی زوځو ورځونه دي شبه کي غوزیدلی یم . شفاء العی السوال فقط؟

جواب: په شریعت کي داصلی کافر اودمرتد کافر حکمونه مقرردی اوبیاپه اصلی کافر کي اهل کتابو یعنی داسمانی کتاب عقیده لرونکي (یعنی په اسمانی کتاب عمل کوونکي مراد نه دي) اودغیراهل کتابوحکمونه مختلف دي دي مقدمی سره تول شبهات لری شول یعنی داهل کتابوچه کوم شرک نقل کړي شویدي هغه دکتابي سره دنکاح نه منع کوونکي نه دي اومرزایانووغیره باندي چه دکفرفتوي اولګیده دي سره هغوي مرتد اوګنړلی شول فحصل الفرق بنیهما اودی شرک سره اهل کتاب اګرچه عمل کوونکي په کتاب نه دی خو عقیده لرونکي خودی البته که ددي قوم نه وي اوبیاهم داسمانی کتاب عقیده لازم نه ګنړي لکه نن صباچه دبعضوداحالت دي نوددوي حکم داهل کتابوپه شان نه دی . ۱۰ محرم الحرام / ۱۳۳۷ هـ (تتمه خامسه / ص ۷۹)

سوال: (۳۰۶) (۱) زید دمرزاغلام احمدقادیانی مریدشویدی اودهغه بی بی اهل السنت عقیدی باندی ولاړه ده دی صورت کښی نکاح شرعاً قائم ده یانه . (۲) اوداهل السنت عقیدی والازنانی نکاح دمرزاغلام احمدقادیانی عقیدی والاسره شرعاًجائزده یانه ؟

جواب: (۱) دی مریدنه تپوس کول پکاردی چه هغه دمرزادتمامواقوالومعتقددی یانه . که دی اقراراوکړی چه زه دتمامواقوالومعتقدیم نوداکس مسلمان نه دی اودده نکاح داهل السنة والجماعت زنانی سره باقی نه ده پاتی شوی اوکه دی اووائی چه زه دټولواقوالومعتقدنه یم نوده نه تپوس پکاردی چه دکوم کوم قول معتقدنه نی دی تفصیل نه وروستوفتوی غوختل پکاردی . (۲) که ددی کس داقرارنه دمرزادتمامواقوالومعتقد کیدل ثابت وی بیاخونکاح دسرنه کیږی هم نه . اوکه دخینی معتقدوی اودخینی نه نودتفصیل نه وروستوسوال کول پکاردی اوکه باالفرض دده مسلمان کیدل هم ثابت شی بیاهم بدعتی اوګمراه کیدوکښی هیڅ شك نشته پدی وجه هرحال کښی ولی ګنهګاردی چه دده سره ئی ددی نکاح اوکړه لهذاپه دی ولی واجب دی چه باالکل سراسرانکاراوکړی (دنکاح نه مخکښی) فقط . ۱۴ صفرسـ ۱۳۳۰هـ تتمه اولی ص ۹۰)

ځلوروبیبیانو په موجوده کي دپنځمي سره نکاح

سوال: (۳۰۷) دیوسړی ځلوربیبیانی موجودوی اوهغه دشریعت دحکم نه خلاف پنځمی سره نکاح اوکړی نودده داکاریوفضول اوبی هوده حرکت دی اونکاح اونه شوه یانکاح کیږی خوبی بی سره کوروالی حرام دی پدی بنیادباندی که دده دځلوروښځونه یوه مړه یائی یوی ته طلاق ورکړونوبغیردنکاح تازه کولوکوروالی جائزدی یادنکاح تازه کول پکاردی ؟

جواب: داپنځم عقدباطل محض دی دسرنه منعقدهم نه دی پدی وجه دیوی دفات کیدویاطلاق ورکولونه وروستونکاح تازه کول ضروری دی مخکښی نکاح کافی نه ده . ۱۵ شوال س ۱۳۲۱هـ (امدادص ۴۹ ج ۲)

ځلورونه دزیاتونکاح حیله باطل ده

سوال: (۳۰۸) دزیدځلوربیبیانی موجوددی دځپل ځای دهلی بمبی ته ځی یویادوه زنانه نوری هم کول غواړی پدی صورت سره چه په پټه باندی ځپلودوښځوته چه مکان کښی دی طلاق بائن ورکوی اوطلاق مغلظ نه ورکوی اوښځوله خبرهم نه ورکوی عدت تیریدونه

وروستو چه خپله اندازه ورته معلومه ده چه اوس زما د بیبیانو عدت تیر شو هغه نورو دوو ښځو سره په بمبی کښی نکاح کوی څه موده پس چه خپل خای ته راځی نو د بمبی هغه دواړو ښځو ته په پته طلاق ورکوی او په خپل خای بیا مخکښی زنانو سره نکاح تازه کوی څکه چه حلاله خو په طلاق مغلظ کښی کیږی په بل کښی نه کیږی هغه نه پس بیا بمبی والو سره نکاح کوی او دواړه طرفته ښځو ته د طلاق خبر نه ورکوی بلکه هغوی داوائی چه دا نکاح د احتیاط د وجه نه تازه کړه داسی صورت سره د څلورو نه زیاتی په خپله نکاح کښی ساتی نو د زید دا حیله کول فتوی کښی څنګه ده؟

جواب: دا حیله محض لغو بیهوده مهمل او باطل ده نکاحاً هم او طلاقاً هم اول خو څکه چه د نکاح د حلالوالی واقعی د پاره د رضا واقعی ضرورت دی او هر کله چه دی طلاق کړی شوی زنانه ته معلوم هم نه دی چه زه په انکار کولو هم قدرت لرم او زما انکار هم موثر دی دا رضا معتبر نه ده. او دویمه دا چه دغه طلاق چه د دریو نه کم دی په څو خله ورکولو کښی دریو ته رسی نو بیا د حلالی نه بغیر نکاح څرنګ تازل کول کافی دی. او دریم په دی وجه چه د ښځو عدت د مختلف او حوالو په اعتبار سره مختلف کیږی مثلاً په حمل کښی وضع د حمل ده او په رضاع کښی د حیض نه راتلو د وجه نه د میاشتو په خای کښی کله نه هم تیر شی نو بیا اندازه لګول څنګه جائز دی د دی نه علاوه پدی ښځه سره خلوت نه بچ کیدل هم ممکن نه دی عرض دا عمل صرف د شیطان د قدمونو تابعداری ده. فقط سـ ۱۳۲۵هـ (امداد ص ۴۲ ج ۱)

سوال: (۳۰۹) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کښی چه زید هندی سره نکاح اوکړه او هغی یوه لور زینب خان سره راوستله آیا زید ته جائز دی چه زینب سره نکاح اوکړی یا جائز نه دی چه څه حق وی په حواله د قرآن و حدیث او فقه اولیکی بینوا توجروا؟

جواب: وبه نستعین د شریعت په اصطلاح کښی داسی لور ته ربیبه (پرکتی) وائی او د پرکتی نکاح د دوو شرطونو سره طلاق سره وی که مرګ سره وی که خلع سره وی دی دواړو شرطونو کښی که یو شرط هم نه وی نکاح جائز نه ده یعنی که د هغی مور سره ئی کوروالی کړی وی نو لور سره ئی نکاح جائز نه ده. قال الله تعالی فی الجزاء الرابع وربائبکم التی فی حجورکم من نساءکم اللاتی دخلتم بهن فان لم تکونوا دخلتم بهن فلاجناح علیکم. فی سنن الترمذی عن عمرو بن شعیب عن ابیه عن جده ان رسول الله صلی الله علیه وسلم قال ایمارجل لکم امرءة فدخل بهافلایحل له نکاح ابنتهاوان لم یدخل بهافلینکح ابنتها. فی صحیح البخاری فی تفسیر قوله تعالی

وربائبکم اللاتی فی حجورکم الخ عن ام حبیبه رضی الله عنهاقالت قلت یارسول الله صلی الله علیه وسلم هلك لك فی بنت ابی سفیان قال فافعل ماذاقلت تنکح قال اتحبین قلت لست لك بمخلیة واحب من شرکنی فیك اختی قال انهالاتحل قلت بلغنی انك تخطب دره بنت ابی سلمة قال بنت ام سلمة قلت نعم قال لم تکن ربیبتی ماحلت لی ارضعتنی وایاهاثویبة فلاتعرضن علی بناتکن واخواتکن فی الدرالمختاروحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوئة. او دغه رنګ د هغی مور سره ئی نکاح باقی وی نو بیا هم د هغه لور سره ئی نکاح جائز نه ده څکه چه دی سره یو سړی ته په یو نکاح کښی مور او لور دواړه جمع کیدل لازم راځی او دا په اجماع سره حرام دی. پدی بنیاد که زید هندی سره کوروالی نه وی کړی او د کوروالی نه مخکښی د زید د نکاح نه وتلی وی یا مړه شوی وی یا ئی طلاق ورکړی وی یا ئی ورسره خلع کړی وی نو بیا زینب سره نکاح جائز ده او که هندی سره ئی کوروالی کړی وی نو زینب سره نکاح جائز نه ده برابره خبره ده که هندی سره ئی کوروالی کړی وی یا نه. والله اعلم بالصواب والیه المرجع والمآب (امداد ص ۴۳ ج ۲)

په سخت مرض کښی نکاح کول

سوال: (۳۱۰) زید د پختو او د پهیپړو په درد کښی چه دیته نمونیا او مرض ذات الجنب هم وائی مبتلا وو او تلی راتلی کیناستی پاسیدی نه شی بلکه بالکل حواس ئی بیکاره شوی وو داسی حالت کښی د ده یو مشر د خپلی لور هندی نکاح د ده سره اولوستله او د مهر بدله کښی د زید ټول جائداد خولی په وینا ورکړو دی نکاح کښی د زید څوك نزدی خپلوان موجود نه وو تر دی چه مور او د تره خامن وغیره هم شریك نه وو او نه ئی چاته خبر ورکړی وو او دغه جائداد هم د زید وو د دی نکاح نه پس دی د خپلی بیماری نه ښه شو څو کال پس بیا وفات شو خو په خپل ژوند کښی ده نه داواده کړه او نه ئی خپل کور ته یې راوغوختله او نه ئی د جائداد انتقال ورپسی کړی وو او نه ئی سرکاری دفتر کښی ستامپ لیکلی وو نه ئی ورسره خلوت صحیحه شوی او نه ئی ورسره ورومبی شپه تیره کړی د زید د مرګ نه وروستو اوس هنده د زید په ټول جائداد باندی دعوی کوی چه په عدالت کښی دعوا دائر کړیده اوس دا تپوس کوو (۱) داسی نکاح په سخت مرض کښی جائز ده (۲) د مهر په بدله کښی ټول جائداد د دغه شان د نورو وارثانو رضامندی نه بغیر منتقل کیدیشی (۳) حالانکه په ورومبی شپه تیر بدلو او خلوت صحیحه کښی کلام دی

نوداسی حالت کښې هنده دامال دمیراث اخستی شی (۴)که مهرمعاف کړېشی نومیراث حقداره هنده کیدیشی ؟

جواب: فی الدرالمختاروالمختارانه (ای مرض الموت) ماکان الغالب منه الموت وان لم یکن صاحب فراش (وفیه)لابدان یکون المرض الذی طلقهافیه مرض الموت فاذاصح تبین انه لم یکن مرض الموت (وفیه) ومالزمه (ای المریض مرض الموت) فی مرضه بسبب معروف (الی قوله) والسبب المعروف کنکاح مشاهدان بمهرالمثل امالزیادة فباطلة وان جازالنکاح عنایة (وفیه) صدرت (ای صیغة النکاح) عن قصد(الی قوله) فیصح به(وفیه) ویجب الاکثرمنها(ای العشرة) ان سمی الاکثرویتاکدعندوطی اوخلوة صحت اوموت احدهماویجب نصفه بطلاق قبل الوطی اوخلوة (وفیه) فیفرض للزوجة فصاعداالثمن مع ولداوولدالابن والربع لهاعندعدمهاوفی ردالمختاروليس منه مالوتزوجهاعلی عبدالعزیزلوجوب قیمته اذالم یجزمالکه الی قوله لامهرالمثل ج ۲/ص ۵۴۸.

دی روایتونو نه معلومه شوه چه دی مرض کښې که دزید دومره حواس هم نه ووچه هغې سره دی دومره پوهیدی چه زه په خوله څه وایم یعنی دومره بدحواس ووچهځ ده ته داخبرهم نه ووچه زه خولې سره څه وایم بیاخودانکاح هم اونه شوه پدی وجه نه مهرواجب دی نه میراث اوکه دومره حواس ئې ووچه کله ده ته دنکاح دقبلیدواوویلی شول نوده خپلې ارادې اوقصدسره قبول اوکړه اګرکه سوچ اوفکرته ئې څه وصیت نه وی ورکړی نودی صورت دانکاح صحیح ده اوچونکه دی خودی مرض نه بنه شویدی وویوکال ژوندی هم وویدی وجه دامرض الموت نه دی نودده داټول جانداد مهرکښې ګرقول صحیح شول نوکه چرته داټول جانداد دده په ملکیت کښې دی نوټول جانداد به په مهرکښې شی اګرکه داجانداددده پلارنه پاتې وی . اوکه دی جانداد کښې ده سره نورڅوک هم شریک وی مثلاً دزید دپلارڅوك بل وارث هم وی اوهغه ده سره جانداد کښې شریك وی نوهغې حکم دادی چه څومره جانداد دزید په ملکیت کښې دی هغه به په مهرکښې شی اوڅومره جانداد چه دبل چادی هغه هم مهرکښې لګولی شویدی دهغې قیمت اندازه به دزید دنورخیزونو نه مکمل کړېشی اوزیدچونکه مړی دی پدی وجه ټول مهرثابت شواګرچه خلوت صحیحه نه دی شوی خکه چه مرګ سره ټول مهرموکر کیږی نودجواب خلاصه داشوه چه که دومره هوش ووچه خپل قصدسره ئې نکاح قبول کړیده نودانکاح صحیح شوه اوټول جانداد په مهرکښې راغی اوپه دی صورت کښې خلوت صحیحه ته ضرورت نشته خوداټول په هغه وخت کښې دی چه نکاح اومهردعادل اوانصاف دارګواهانو نه ثابت وی اګرکه

دزید خپلوان موجودنه وواواګرکه هغه رضانه وواواګرکه په عدالت کښې دهغې لیکل نه وشوی اوزیداګرکه دواده کولوهم مطالبه نه وی کړی خکه چه شریعت کښې داخیزونه شرط نه دی وهذاظاهراومهریوقرض دی چه مستقل حق دی اومیراث خاتته یومستقل حق دی یوحق دمعاف کیدوسره دویم حق نه ساقطیږی . نوکه مهرمعاف هم کړی بیاپه هم میراث ورته ملاویږی . فقط . ۲۸ رجب س۱۳۲۱ھ (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۴۶)

دنیت نه بغیرمحض په لفظ هبه سره نکاح نه منعقدکیږی

سوال: (۳۱۱) دپنجاب په علاقه کښې دارواج دی چه دهلك اوجینی خپلوان چه کله دمغوی کوژدن کوی نوددی ویری نه چه هسی نه دجینی والاکسان دواده نه انکاروکړی نودهلك والاخلق دجینی والوته داوائی چه تاسواوونې چه مونږه خپله جینی تاسوته ورکړه یاموهبه کړی اودا الفاظودڅوکسانومخکښې ونیلی شی داغام رواج دی خودهغې نه وروستوبیانکاح کوی دی الفاظوسره حرف دکوژدن خیال نوآیادکوژدن په وخت کښې دجینی والونه داالفاظواخستل دی سره نکاح کیږی یانه .دپنجاب په بعض ملیانوکښې اختلاف دی په دی وجه ددی تحقیقی جواب غواړوفقط . اوکه دجینی والاخلق ددی جینی نکاح بل ځای کښې کول غواړی نوددی هلك نه طلاق اخلی . نودطلاق اخستوضرورت شته یابغیردطلاق اخستونه ددی جینی نکاح بل ځای کښې کیدیشی . فقط ؟

جواب:فی الدرالمختار وانمایصح ذالک بلفظ التزویج والنکاح لا نهماصریح وما عداهماکنایة وهوکل لفظ وضع لتملیک عین کهبة وتملیک الی قوله لشرط نیته اوقرینة وفهم الشهود المقصود وفی ردالمختارقوله لشرط نیته الخ . هذاماحققه فی الفتح رداً علی ماقدمناه الی قوله وملخصه انه لا بدفی کنایات النکاح من النیة مع قرینة اوتصدیق القابل للموجب کهبة وفهم الشهودالمراد واعلامهم به الخ . دی روایت نه چه کوم شرط معلومیږی دسوال دعبارت نه چه دی الفاظونه صرف کوژدن خیال کوی دهغې شرط ارتفاع معلومیږی لهذا په دی صورت کې نکاح منعقدنه ده هرکله چه نکاح اونه شوه نودطلاق اخستوهم ضرورت نشته . فقط ۳ جمادی الاولی ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی ص ۷۴)

که ولی نه بغیربل څوک دنابالغی نکاح وکړی نودهغی څه حکم دی

سوال: (۳۱۲) دهندی نابالغی نکاح سره ددی نه چه ولی موجودووا وبل چاوکره یعنی چه تره موجودوی اونیااوتری نودانکاح مقبول ده که نه ده ؟

جواب: دانکاح موقوف اومعلق ده که ولی ته خبراورسیدواوهغه اجازت ورکرونوجائزه اونافذشوه کنی جائزاونافذنه ده .فی الدرالمختارونکاح عبدوامته بغیراذن السیدموقوف علی الاجازة کنکاح الفضولی الخ .یکم جمادی الاخری ۱۳۲۶ھ (تتمه اولی ص ۷۶)

اجازت نکاح فضولی بتمکین من الوطی

سوال: (۳۱۳) یوی کندی ښځی ته دنکاح اجازت اخستودپاره سړی اولیږلی شوهغه سړی دی ښځی ته لاته ړلوصبانی دی ښځه داواوریدل چه نکاح اوشوه دی خبرسره دانښځه هغه سړی کره لاړله اواولادهم پیداشودانکاح صحیح شوه یانه .خوورخی وروستودسکه خورددی خاوندته دنکاح نه بغیرراغله اوناجائزه تعلق ئی پیداشواودهغی نه ئی هم اولاداوشواوسم دهغه دروبیی ښځی نکاح په خپل حال باقی ده یانه بیادغه دروبیی ښځه خپل خاونداووهله اووسته اودائی ورته اونیل چه کوم خواستازره غواړی لاړه شه پدی وجه هغه بل کلی ته لاړه اوس غواړی چه چرته نکاح اوکړم دی دپاره دعدت څه صورت دی ددی هغه بله خورتراوسه ددی خاوندسره دنکاح نه بغیرموجودده ؟

جواب: فی العالمگیریة کتاب النکاح الباب السادس وتثبت الاجازة لنکاح الفضولی بالقول والفعل آه وعدفی الدرالمختاروغیره تمکینهامن الوطی من الافعال الدالة علی الرضاء.دی سوال کښی سوال کوونکی دانه دی لیکلی چه واقع کښی نکاح لوستلی شوی وه یاصرف مشهوره شوی وه که صرف مشهوره شوی وه نوبیاخونکاح نه ده شوی اوچه نکاح اونه شونوعدت هم نشته اوکه نکاح شوی دی نودانکاح فضولی ده دښځی تمکین من الوطی اجازت دنکاح دی په دی وجه دانکاح نافذه شوه اودسکه خوررالوسره اوکوروالی سره ددوی نکاح کښی څه نقصان نه دی راغلی البتة دائی چه ونیلی دی چه چرته ستازره غواړی لاړه شه دده نه دامعلومات کول کاردی چه دائی دطلاق په نیت ونیلی دی یابل څه دطلاق بیان وویانی غصه کښی ونیلی دی څه دپاره ئی ونیلی دی ددی پس به جواب درکولی شی .فقط ۱۸ ربیع الاول ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص ۷۷)

توقف نکاح فضولی

سوال: (۳۱٤) څه فرمائی علمادین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کښی یوه زنانه کنده ده اودهغی لورنابالغه ده اودجینی مشرتره ناسکه دی ددی ناسکه تره نه ددی جینی دنکاح په نت کښی اجازت اوغوختی شونوده ورته وونیل چه زماپکښی هیڅ کارنشته نه می اقرارشته نه انکارهغی کندی ښځی په خپل اجازت نکاح اوکره دوه کاله تیرشول اوس دغه کنده ښځه ددی نابالغی جینی نکاح بل خای کول غواړی ددی جینی ددی ناسکه مشرتره په دی ددویمی نکاح کښی څه عرض مطلب نشته نه انکارکوی نه اقرارکوی دی حالت کښی دادویمه نکاح جائزده یانه ؟

جواب: فی الدرالمختارنکاح الفضولی سیجئ فی البیوع توقف عقودة کلها ان لهامجیزحالة العقدوالا بطل وفی ردالمحتارلوباع الصبی ماله اواشتری الیٰ قوله توقف علی اجازة الولی فلوبلغ هوفاجاز نفذالخ ج۲ /ص ۵۳۵ /وفی الدرالمختار الفضولی قبل الاجازة لایملک نقض النکاح بخلاف البیع وفی ردالمحتارقوله لا یملک نقض النکاح ای لا قولاً ولا فعلاً قال فی الخانیة العاقدون فی الفسخ اربعة عاقدلا یملک الفسخ قولاً وفعلاًوهوالفضولی حتی لوزوج رجلاامرأة بلا اذنه ثم قال قبل اجازته فسخت لا ینفسخ وکذا ولوزوجه اختهایتوقف الثانی ولا یکون فسخاللاول (ج ۵۳۸ ص ج۲ / ددی روایتونوپه بنیاد ددی مسئلی جواب دادی چه که داتره په عصباتوکي وي نودده په موجودگی کي دمورنکاح کول معلق اوموقوف دی ترڅوچه دی مشرتره په خپله ژبه نه وي ونیلی چه مونږ دانه قبلوؤترهغه وخته پوری خوبه دادغه شان وي اوبل خای کي هم نکاح کول نه شي صحیح کیدی اوکه بل خای کي هم دغه مورنکاح وکړي نوهغه هم معلق ده که دغه تره یې جائزاوګنړی نوجائزده اوکه په دیکي چپ پاتی شونوداوړه نکاحونه معلق دی بیاچه کله داجینی بالغه شي نوهغه وخت چه داکومه نکاح په خپله ژبه منظوره کړی نودانکاح نافذ شوه اودادویمه فسخ شوه اوکه هغه په خپله ژبه هیڅ اونه وایي نودواړه به معلق وي (والتمسک فی ان من الوطی یقوم مقام الاجازة باللسان)اوکه دغه مشرتره دعصباتونه نه وي نوبیاسوال دوباره وکړی .۱۵ /جمادی الثانی / ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه /ص ۴۴)

مرزائی اوسنی کښی دنکاح کولو حکم

سوال: (۳۱۵) نکاح دداسی سړی اوښځی په مینځ کښی چه په دیکښی یوسنی حنفی دی اوبل دمرزاغلام احمد قادیانی تابعداروی اودهغه دتولودعوامواوالهامونوتصدیق هم کوی دانکاح جائزده یانه که دادواړه یاپدیکښی یونابالغه وی نودیکښی ولایت دموربلاردی نوچه داسی کږووعقیدی والاوی نودهغی څه حکم دی امیددی چه ښه وضاحت اوتفصیل سره جواب راکړی. بینواتوجروا؟

جواب: دمرزابعضی خبری کفرته رسیدلی دی خودامکن ده چه دهغه یوخاص معتقدته ددی خبری پته نه وی پدی وجه دمرزامعتقد کیدلوسره دالازم نه دی چه دهغی دخاص کفرمعتقدی وی نودامرزائی که ښځه وی اوکه سړی وی خاص دهغه دکفری خبروهم معتقدوی نودهغه نکاح مسلمان سړی یاښځی سره نه کیدی خوکه دامرزائی بالغ وی نوپه خپله دهغه عقیده به کتی شی اوکه نابالغی دی نودهغه دموربلارعقیدی ته به کتی شی یعنی که موربلاردواړه مرزائی وی نودانابالغ به مرزائی گڼرلی کیږی اوکه یوپکښی هم غیرمرزائی دی نودی به بیاغیرمرزائی گڼرلی شی اوداحکم به ورته نه شی ثابتولی اوکه دامرزائی دمرزادخاص کفری خبرومعتقدنه وی نودی بدعتی دی دده سنی حنفی سره په دیانت کښی کفونشته نوکه داښځه وی نودسنی حنفی سړیَ نکاح ددی سره صحیح نه ده اوکه داسړی وی اوزنانه سنیه حنفیه ده نوکه داښځه بالغه ده اودهغی اجازت سره نکاح شویده نونکاح اوشوه اوکه دانابالغه ده اوبلارنیکه ئی نکاح اوکړه بیاهم نکاح اوشوه اوکه دپلارنیکه نه علاوه بل چائی نکاح اوکړه یاپلارنیکه ئی څه محبت کوونکی اوخیرغوختونکی نه دی نوسوال کښی ددی وضاحت نه پس به جواب ملاویږی فقط. ۱۰ جادی الاولی ص ۱۳۲۷ هـ (تتمه اولی ص۷۸)

مسلمانی ښځی نکاح دقادیانی سره جائزنه دي

سوال: (۳۱٦) دعلماء شریف په خدمت کښی سلمکم الله الی یوم القیامه څه فرمائی اساطین قول دین متین مفتیان شرع مبین پدی خبره کښی چه دمرزاغلام احمدقادیانی اقوال لاندینی لیکل شویدی.

قول

حواله کتاب

ایت مبشرابرسول یاتی من بعدی اسمه احمد مصداق زه یم. (ازالاوهام طبع اول ص ۲۷۳)

مسیح موعودچه دهغه خبرحدیثوکښ راغلیدی هغه زه یم (ص ۲۲۵)

زه مهدی مسعود یم اوبعض نبیانونه غوره اوافضل یم. (معیارالاخیار/ ص ۱۱)

ان قدمی علی منارة ختم علیه کل رفعة (خطبات الهامیه/ ص ۳۵)

لا تقیونی باحدولا احدٌ ابی (ص ۱۹)

زه مسلمانانودپاره مسیح مهدی یم اوهندوانودپاره خدای یم چه انسانی شکل کښ راغلی یم (لکچرسیالکوټ/ ص ۳۳)

زه دامام حسین نه افضل یم (دافع البلاء/ ص ۱۳)

وانی قتیل الحب لکن حسینکم قتیل العدافالفرق اجلی واظهر (اعجازاحمدی/ ص ۸۱)

دیسوع مسیح دری دپلارمیندی اودری مورمیندی زناکاری وي (معاذالله) (ضمیمه انجام اتهم/ ص ۵)

دروغ وئیل دیسوع مسیح عادت وه.

دیسوع مسیح معجزی هسی خیالی وي هغه سره ددهوکښ نه علاوه بل څه نه وه (ازاله ص ۳۰۳-۳۲۲؛ ضمیمه انجام اتهم/ ص ۷)

زه نبی یم دی امت کښی دنبی نوم مادپاره مختص دی (حقیقت اولوحی ص ۳۹۱)

ماته الهام شویدی. یاایهاالناس انی رسول الله الیکم جمیعا (معیارالاخیارص ۱۱)

زمامنکرکافردی (حقیقة الوحی ص ۱۲۳)

زمامنکرینوبلکه مقابله کوونکوپسی نمونځ هم جائزنه دی (فتاوی احمدیه جلداول)

ماته خدائی اووئیل اسمع ولدی (ای زماځویه واوره) (البشری ص ۴۹)

لولاك لماخلقت الافلاك (حقیقت الوحی ص ۹۹)

زماالهام دی وماینطق عن الهوی (اربعین ص ۳)

ومارسلنك الارحمة للعلمین (حقیقت الوحی ص ۸۲)

انك لمن المرسلین (حقیقت الوحی ص ۱۰۷)

اتانی مالم یوت احدمن العلمین (حقیقت الوحی ص ۱۰۷)

ماته حوض کوثرملاؤشویدی اناعطینك الکوثر (ضمیه انجام اتم ص ۸۵)

الله معك یقوم اینماقمت (ضمیمه انجام ص ۱۷)

ماپه خوب کښی اولیدل چه زه هوبهوالله یم (اتین فی المنام) (آئنه کمالات ص ۵۲۵-۵۲۴)

عین الله ویقنت انی خلقت السموت والارض (آئینه کمالات)

زمامرید د دبل چاسره چه زمامرید نه وی وادهٔ دنه کوی (فتاوی احمدیه ص ۷)

کوم سړی چه د مرزا غلام احمد دی د خبرو منونکی وی دهغه سره د مسلمانی چه دده خبری هم نه منی وادهٔ کول جائزدی یانه او که د نکاح نه وروستو د مرزا التصدیق او کړی نو دا نکاح موجب د جدائی ده یانه. بینواتوجروا؟

جواب: کوم مسلمان چه دا ذکرشوی عقیدی اختیار کړی چه دیکښی بعضی کفر دی هغه د مرتد په حکم کښی ده او د مرتد نکاح مسلمانی ښځی سره او دغه شان د مرتدی ښځی نکاح مسلمان سره صحیح نه ده اوله نکاح نه وروستو که دا د کفر عقیده اختیار کړی نو نکاح فسخ شوه. (تتمه خامسه ص ۵۵)

سوال: (۳۱۷) زید چه مذهب حنفی کښی دی یو قادیانی مذهب والا ښځی سره نکاح کول غواړی یو حنفی مفتی نه ئی تپوس او کړه هغه د جواز فتویٰ ورکړه چه لاندی لیکلی کیږی دهغه جواب بعینه د حضرت په خدمت کښی پیش کوم دهغی حق جواب غوختل غواړم؟

دهغه د جواز فتویٰ نقل

مکرم برادرم السلام علیکم قادیانی مذهب واله ښځی سره نکاح جائزده کوم قادیانی چه د مرزا غلام احمد قائل دی هغه اگرچه کافردی خو اهل کتاب ضروری دی اهل کتاب زنانه سره د مسلمان نکاح جائزده لاهوریان مرزا غلام احمد نبی نه گڼړی صرف مجدد گڼړی پدی وجه دوی ته د کفر نسبت نه شي کیدی بهرحال قادیانی ښځی سره چه نکاح جائز شوه نو د هغوي ښخو سره اگرچه گډه وډه عقیده لری د مسلمان سړي نکاح جائزده هرگز شک مه کوي؟

جواب چه دلته اونه شو

زما په نزد قادیانی ښځی سره بالکل باطل ده هرکله چه دهغه منلی شویدی او مرتد د کتابی په حکم کښی نه شی کیدی پدی وجه دوی اصل کتاب کښی نشی داخلیدی او لاهوریان اگرکه مرزاته نبی نه وائی خو هغه کفری عقیدی ته کفر هم نه وائی. کفر ته کفر نه وئیل هم کفر دی آیا که یو سړی مسلم کذاب نبی نه منی خو هغه عقیدی ته کفر هم نه وائی نو داسی سړی ته مسلمان وئیلی شی. ۳۰ ذی قعده سـ ۱۳۵۱هـ (النور رجب ص ۱۳۵۲هـ ۸۰)

دسنی ښځی شیعه سره نکاح

سوال: (۳۱۸) څه فرمائی علماء دین مبین په دی مسئله کښی چه د هندی سنی بالغی ښځی نکاح د زید شیعه سره په رضا د پلار او شوه چه ولی د دی پلار وو. د دی نکاح څه وخت او شو تر دی چه هندی نه د زید اولاد هم او شو او س هندی ته داپته اولگیده چه شیعه کافردی پدی وجه نکاح نه منعقد کیږی او کوروالی د زنا په حکم کښی دی نو هندی د دی پوهه وروستو د کوروالی نه په ډډه شوه او دا غواړی چه دا نکاح فسخ شی د علماء دین نه دا تپوس کوو چه د شیعه او سنی مذهب کښی چه فرق دی د دوی مینځ کښی نکاح کول صحیح دی یانه بلکه څنگه چه هندوستان کښی رواج دی او زنانه ته چه مسئله معلومه نه وی یا د شیعه سړی نه دبیح کیدو پاره خپل قانون سنی ښکاره کړی پدی بنیاد د زنانه د شیعه په نکاح کښی لاړه شی نو چه مسئله ورته معلومه شی یا د شیعه خاوند خیالات چه شیعه دی یا شیخین ته بد رد ویل معلوم شی نو دی ښځی ته د دی سړی نه خپل ځان ویستو او د نکاح فسخ کولو اختیار شته یانه او داسی حالت کښی چه کوم اولاد پیدا شویدی په هغوی به څه حکم لگولی شی؟

جواب: فی الدرالمختار وتعتبر الکفائة دیانة ای تقوی فلیس فاسق کفوالصالحة الخ وفیه لوزوجوها برضاها ولم یعلموا بعدم الکفائة ثم علموا لاخیار لاحد الا اذا شرطوا الکفائة او اخبرهم بها وقت العقد فزوجوها علی ذلك ثم ظهرانه غیر کفو کان لهم الخیار ولوالجیة فلیحفظ. د دی روایت په بنیاد دا نکاح په غیر کفو کښی شویده. ولم یثبت کون النسب کفواً او د دریم روایت په بنیاد باندی چه ښځه او اولیاء د غیر کفو په نکاح رضاوی نو نکاح لازمیږی که د غیر کفویتـه نه وی بیا هم نکاح کیږی البته که تعریخانی کفاءه شرط گرځولی وی یا خاوند په خوله ښکاره خبرور کړی وی چه زه سنی یم دی صورت کښی دا نکاح منعقد نه ده لکن لابد للفسخ من وجود قاض شرعی او نور تولو صورتونو کښی د نکاح فسخ کولو حق نشته او چونکه منعقد شویده په دی وجه اولاد تول ثابت النسب دی او دغه کوروالی حلال دی. والله اعلم. ۲۹ صفر س ۱۳۲۳هـ

سوال: (۳۱۹) د یوی نابالغی جینی نکاح خپلی مور په غیر کفوه کښی او کړه څکه چه ورور تره خوك خپلوان ئی نشته تراوسه جینی بالغه نه وه خو معلومه شوه چه هغه هلك چاسره چه نکاح کړی شوی وه نهایت آوازبد کردار او شیعه دی دا نکاح د دی جینی د بالغیدو په وجه موقوف کیدیشی د دی په اجازت باندی یانه. یا دا چه ولی نشته نو دا نکاح د غیر کفو د وجه نه باطل ده یا د سنی او شیعه کښی فرق د وجه نه دا نکاح د سرنه منعقد هم نه دی که دا دریم شق واخلی

نوآیا مطلق شعیه سره دسنی نکاح نه شی کیدی که تفضیله وی که سبیه وی که غالیه وی حالانکه تفضیلیه باندی دکفرفتوی نشته او سبیه کښی هم اختلاف دی او داهم ممکن نه ده چه سری خپل نکاح قائم پاتی کیدو دوجه نه خپل خان سنی یا کم نه کم شعیه تفضیلی او ښائی داصورت واقع شوی دی خاوند و یر ظالم دی او دایتیمانان بچی وهی تکوی. ددی مورد هوکه او خوره چه دلور نکاح ورسره اوکړه اوس نی مور جدا کول غواړی او خاوند په ضدولاړ دی؟

جواب: فی الدر المختار وان کان المزوج غیرهما ای غیرالاب وابیه ولو الام او القاضی الی قوله لایصح النکاح من غیر کفو او بغبن فاحش اصلا وان کان من کفو وبمهر المثل صح لکن لهما خیار الفسخ الی قوله یشترط القضاء للفسخ وفیه ایضاً فی باب الکفائة وتعتبر فی العرب والعجم دیانة ای تقوی فلیس فاسق کفو الصالحة او فاسقة بنت صالح معلنا کان اولا علی الظاهر نهر. دوړومبی روایت نه معلومه شوه که موریه غیر کفو کښی نکاح اوکړی نو دانکاح منعقد نه ده او دویم روایت نه معلومه شوه چه شعیه دفسق اعتقادی په وجه کفو دسنی نه ده پدی وجه دانکاح هم منعقد نه ده وفی ما لانعقد یحتاج ای قضاء القاضی وهو من له ولایة ولا ولایة للعلماء فهم لیسوا القضاء وکذ الاولایة لاجنبی الذی لیس فی الاقسام المدونة للعصبة کما هو مبسوط فی کتب الفقه. فافهم.

۲۷ محرم س ۱۳۲۳ھـ

دسنی ښځی شیعه سره دنکاح کولو تفصیل الخ

سوال: (۳۰۷) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دی مسئله کښی چه رافضی چه تولو صحابه باندی بدوائی او مسلمانانو سره مذهبی تعصب لری دوی مسلمانان دی یا کافر. دوی سره تعلقات نکاح وغیره کولی شی یا نه بوهری قوم چه په یمنی کښی اوگیرچاپیره ډیردی یو متعصب رافضی قوم دی ددوی قاعده داده چه داهل السنت والجماعت زنانی مور پلار ته ډیر و لالچ ورکړی او نکاح ورسره وکړی داسی حالت کښی که داهل السنت والجماعت والا دلالچ دوجه نه شعیه ته لورورکړه او دارافضی دخپلی فائدی دوجه اسلام ښکاره کړی خو تول خلق په دی پوهه وی چه دده دااسلام ښکاره کول دنکاح په غرض دی نو داسی حالت کښی به ددی داسلام اعتبار کولی شی یا نه او دده دانکاح صحیح ده یا نه؟

جواب: فی الدر المختار وتعتبر (الکفاءة) فی العرب والعجم دیانة ای تقویٰ فلیس فاسق کفو الصالحة بنت صالح معلنا کان اولا علی الظاهر نهر وفیه وللولی انکاح الصغیر والصغیرة ولزم النکاح

ولو بغبن فاحش او بغیر کفو ان کان الولی ابا او جدا لم یعرف منهما سوء الاختیار مجانة وفسقا وان عرف لا وان کان المزوج غیرهما لا یصح النکاح من غیر کفو او بغبن فاحش اصلا وفیه وله ای للولی اذا کان عصبة الاعتراض فی غیر الکفو مالم تلد منه ویفتی فی غیر الکفو بعدم جوازه اصلا وهو المختار للفتویٰ لفساد الزمان وفی رد المحتار وهذا اذا کان لها ولی ولم یرض به قبل العقد فلا یفید الرضیٰ بعده بحر واما اذا لم یکن لها ولی فهو صحیح نافذ مطلقا اتفاقا کما یاتی، ددی روایتونو او نورو قاعدو په بنیاد جواب کښی تفصیل دادی چه که دغه رافضی دکفر عقیده لری لکه قران کریم کښی زیاتی کمی قائل وی یا حضرت عائشه ﷺ باندی تهمت لګول قائل وی یا حضرت علی ﷺ خدای منی یا داعقیده لری چه حضرت جبریل ﷺ په غلطی سره وحی آنحضرت محمد ﷺ ته یوړه بیا خو کافر دی او دده نکاح سنی زنانی سره صحیح نه ده او که صرف تبراو ویزاری دصحابه نه کوی نو بیایی کفر کښی اختلاف دی علامه شامی دیته غوره ویلی دی چه دی کافر نه دی. ج۳ / ص ۴۵۳ / نو دده په بدعتی کیدو کښی هیڅ شک نشته نو ددی صورت کښی دی اګرچه کافر نه دی خو دفسق اعتقاد دی. دی وجه نه دسنی کفو نه ده او غیر کفو سری سره نکاح کولو کښی تفصیل دادی. که جینی نابالغه وی او نکاح پلار نیکه نه علاوه بل چا کړی وی بیا خو نکاح صحیح نه ده او که پلار نیکه کړی وی او واقعاتو نه معلومه وی چه دمال ددولت دلالچ نه یی کړیده او دجینی په مصلحت یی نظر نه دی کړی او ولی عصبه هم رضا نه وه بیاهم نکاح صحیح نه شوه. داصورتو نه دغه جائز کیدو دنکاح دی او که جینی نابالغه ده او نکاح پلار نیکه کړیده او دجینی مصلحت ته هم کتلی دی دخه لالچ دوجه نه یی نه ده کړی یا جینی بالغه ده. او نکاح یی خپله کړیده او ولی عصبه په رضایی کړی وی یا ددی څوک ولی عصبه نشته یا جینی بالغه ده او ولی نکاح ددی په اجازت کړیده نو ددی صورتونو کښی دهغه عالمانو په نزد نکاح صحیح ده څوک چه تبرایی ته کافر نه وایی او دا تول تفصیل هغه وخت دی چه دنکاح په وخت دده رفض معلوم وی او که دغه وخت یی خپل خان سنی ښکاره کړو او دنکاح نه وروستو یی رفض معلوم شو نو دی محض بدعتی دی اوس ددی صورت کښی که دامنکوحه بالغه وی او ددی ولی عصبه دواړه رضاوی نو دنکاح دفسخ کولو حق ورته حاصل دی او که دولی نه یی اجازت نه وی غوختی نو ولی ته دفسخ کولو حق شته چه دهغی یو شرط فیصله دقاضی ده او که دامنکوحه ماشومه وی او دبالغیدو نه وروستو رضاده بیاهم نکاح صحیح ده او که رضا نه ده نو دیته دفسخ کولو حق شته څه رنګه شرط چه مخکښی تیر شو. کما فی رد المحتار فلو نکحت

رجلا ولم تعلم حاله فاذاهو عبدالاخبار فلا خيار للاولياء ولوزوجوها برضاها ولم يعلموا بعدم الكفائة ثم الاخبار لاحد الا اذا شرطوا الكفاءة واخبرهم بها وقت العقد فزوجوها على ذالك ثم ظهرانه غير كفو كان لهم الخيار وفي رد المحتار قوله لا خيار لا حد هذا في الكبيرة كما هو فرض المسئلة بدليل قوله نكحت رجلا فقوله برضافلا يخالف ماقدمناه في الباب المهر عن النوازل لو زوج بنته الصغيرة ممن ينكرانه يشرب المسكر فاذا هو مدمن له وقالت بعدما كبرت لا ارضىٰ بالنكاح ان لم يكن يعرفه الاب بشربه وكان غلبة اهل بيته صالحين فالنكاح باطل لا نه انما تزوج على ظن انه كفوء ثم بعد اسطر لكن كان الظاهر ان يقال لا يصح العقد اصلا كما في الاب الماجن والسكران مع ان المصرح به ان لها ابطاله البلوغ وهو صحته فليتامل ۲۰ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ

دسنی نکاح دشیعه سره

سوال: (۳۲۰) زید چه نوی شیعه شوی ووه دخالد سنی المذهب ته دا باور وکړی چه زه سنی یم اوقسم ئی اوکړه او دخالد نابالغی لور هندی سره ئی نکاح وکړه خالد دا اوګڼل چه ده قسم اوکړو چه زه سنی یم نو دخپلی لور نکاح ئی ورسره اوکړه دنکاح نه وروستو دزید بعض کارونه لکه ماتم کول، دلسم محرم په ورځ خان ټکول سینه وهل وغیره وجودته راغلل په دی وجه دزید دوطن قاضی صاحب نه دده دمذهب حال تپوس اوکړیشو نو دهغی نه معلومه شوه چه زید واقعی شیعه دی اوشیعان دډلی نه دی نواوس دفقه حنفی موافق دغه نکاح چه دی سره دسنی اوشوه منعقد شوه یانه که دا نکاح واقع شوی وی نو دهندی پلار خالد ته ددی نکاح دفسخ کولو اوختمولو اختیار شته یادا نکاح به دقاضی په فیصله فسخ کولوی شی یا په خپله دا نکاح باطل ده دفقه دکتابونو په حواله سره جواب راکړی عندالله به ماجور شی؟

جواب: في رد المحتار عن فتح القدير عن النوازل لو زوج بنته الصغيرة ممن ينكرانه يشرب المسكر فاذا هو مدمن له وقالت لا ارضى بالنكاح اى بعدما كبرت ان لم يكن يعرفه الاب يشربه وكان غلبة اهل بيتها صالحين فالنكاح باطل وفيه ثم اعلم ان مامر من النوازل من النكاح باطل معناه انه سيبطل ج ۲ ص ۴۹۹ وفي الدرالمختار ولو زوجها (اى الكبيرة) برضاها ولم يعلموا بعدم الكفائة ثم علموا لاخيار لاحد الا اذا شرطوا الكفائة او اخبرهم بها وقت العقد فزوجوها على ذلك ثم ظهرانه غير كفو كان لهم الخيار ولوالجية فليحفظ . ج ۲ ص ۵۲۱ .دی روایتونو نه معلومه شوه چه دی

مسئله کښی دمنکوحی ولی ته هم او دغه شان دبالغیدو نه وروستو په خپله هم دی منکوحی ته دنکاح دفسخ کولو اختیار حاصل دی او دا فسخ به په حکم دحاکم کیږی چه دحیدرآباد په علاقه کښی آسانه ده .وقوله قالت لاارضى ليس بلاحتراز عن صورة الاشتراط او الاخبار ليتوقف الفسخ على بلوغها لان المسالة الثانيه التي رضيت الكبيرة فيما يتحقق الاخيار للاولياء والله اعلم . ۹ ربیع الاول سنه ۱۳۲۴ھ

نکاح دمرتدی الخ

سوال: (۳۲۱) څه فرمائی علماء دین او مفتیان دشرع متین په دی مسئله کښی چه زید واده اوکړه اوښځه ئی خپل کورته راوستله دخلوت نه خوورځی پس ددی اولیاء رخصتی دپاره راغلل زید خپله ښځه رخصت کړه. خوورځی پس بیا زید راوستل غوختل نو ددی ښځی اولیاء حیلی او بهانی شروع کړی او څوورځی پس ئی دبوتلو نه صفا انکار اوکړه او خلع ئی غوختله نو زید دمجبوری نه ددی درخصتی دپاره ګورنمنټ کښی درخواست ورکړو هرکله چه اولیاء ته داپته اولګیده نو هغوی دی ښځه زرد کفر خبراو خودلی دی ښځی په خوله دکفر الفاظ اووئیل اوس اولیاء عدالت کښی دا اووئیل چه جینی عاقله بالغه ده او داسی دکفر خبری په خوله وائی اوس زید سره ددی نکاح څنګه پاتی شوه چه دی ئی بوتلل غواړی نکاح ماته شوه پدی وجه ئی مونږ نه پریږدو اوس دی اظهار باندی حاکم دزید نه فتوی اوغوختله او خپله فیصله ئی په فتوی باندی موقوف کړیده اوس سوال دادی چه دی ښځی ته چه دی اولیاء دکفر خبری او خودی یائی په خپل طبیعت نکاح فسخ کولو دپاره داخبری دکفر اووئیلی نو عندالله دا نکاح فسخ شوه یانه؟

جواب: نکاح فسخ شوه چه قصد سره دکفر الفاظ اووائی چه عقیدی سره وی او که بغیر دعقیدی نه وی یا دچا په خودو سره وی تول موجب دکفر ګرځی . او کفر موجب ګرځی دفسخ دنکاح . پدی وجه نکاح ماته شوه اودی سره چه چا ورته دا الفاظ خودلی دی دهغوی هم نکاح ماته شوه . او کوم کسان چه دی کار باندی رضا دی دهغی تولو نکاح ماته شوه خو دومره فرق دی چه دزید بی خوبه شرعاً مجبورولی شی چه هغه اسلام راوړی او دغه ورومبی خاوند سره نکاح وکړی دویم کس سره دی ته نکاح جائزنه ده .او دغه الفاظ خودونکو او رضا ښکاره کوونکو خلقو ښځوته اختیار دی دعدت تیریدو نه وروستو چه چاسره غواړی نکاح داوکړی . في الدرالمختار اخبرت بارتدادزوجها فلها التزويج باخر بعدالعدة الخ وفيه ليس للمرتدة التزويج بغيرزوجها به يفتى وفي

ردالمختار حکموا بجبرها علی تجدید النکاح مع الزوج وتضرب خمسة وسبعین سوطا واختار هاقاضی خان للفتوی آهـ ج ۳ ص ۴۶۹ و ۴۷۰ . اوهر کله چه ددی تولو نکاح ماته شوه نو دی دپاره راتلونکی تپوسونه تول دوی پوری متعلق دی. ۴ ذی قعده سـ ۱۳۳۱ هـ

دمنکوحی دلور نکاح دخاوندنمسی سره جائزده

سوال: (۳۲۲) دزید دمنکوحی یوه لور چه دهغی دورومبی خاوند نه وه اودزید خپل سکه نمسی چه دزید دبلی منکوحی دلورخی دی نوآیا ددی منکوحی دلور نکاح دغه نمسی سره جائزده یانه؟

دمورد ترور لور سره دنکاح کولو حکم

سوال: (۳۲۳) دهندی دخپلی ترور سره دهندی دخوی نکاح جائزده یانه دکتابونو په حوالی جواب راکری؟

جواب: دادواړه نکاحونه جائزدی ځکه چه دادواړه خپلولی دمحرماتو نه دی. کته اشرف علی عفی عنه. ۱۹ شعبان سـ ۱۳۲۷ هـ (تتمه اولی صـ ۷۹)

دتره د ځوی لور سره دنکاح کولو حکم

سوال: (۳۲٤) دتره خی لور سره واده کول جائزدی یانه؟

جواب: جائزدی لقوله تعالی واحل لکم ماوراء ذالکم. (تتمه اولی ص ۷۹)

صرف تحریر ایجاب وقبول سره نکاح نه کیدل اوجائزکیدو شرط

سوال: (۳۲۵) زیبده چه بالغه ده (لیکل لوستل کولی شی) دبکر سره (چه لیکل لوستل کولی شی) تحریراً یعنی چه لیکل شوی وی ایجاب اوقبول کولی شی اوآیادانکاح شرعاً صحیح ده اوکه چری دوه عاقل بالغ مسلمانان خپل قلم سره په دغه لیکلو بادی چه دوی ته یقین وی چه دالکل کوم باندی چه نکاح شویده دزوبیدی اودبکر په قلم سره دی نوآیاداگواهی شرعاً جائزده اود منلو قابل ده حالانکه زبیده اوبکر په یو کلی کښی موجود نه دی؟

جواب: که دواړو طرفونه لیکل شوي وي نو نکاح صحیح نه ده دغه شان که یو طرفنه لیکل شوي وي اوبل طرفنه دګواهانو په مخکښ په ژبه باندی قبول اوشوخودی ګواهانو ته ددی لیکل شوي

ایجاب په ژبه خبر نه دی ورکړی شوي. بیاهم نکاح اونه شوه دغه شان که ګواهانو صرف دزبیدی یادبکر یاد دواړو لیکل اوپیژندل اوګواهی اوکړه بیاهم نه داګواهی صحیح ده اونه دی ګواهی سره نکاح صحیح شوه صرف دنکاح دصحیح کیدو خاص صورت دادی چه مثلاً بکر دزوبیدی په نوم دنکاح خط اودرخواست اولیکي اوزبیده دوه ګواهانو له یازیات چه شرعاً دګواهی قابل وي یعنی دوه سړی یایو سړی دوه ښځی چه عاقل بالغ وي اوددوي په ژبه پوهیږی دنکاح لیکلی دی اوزه دادرخواست منظوروم اوده لره په نکاح کې قبولوم نواوس نکاح صحیح شوه.

فی ردالمختار الکتابة من الطرفین بلاقول لا تکفی ولو فی الغیبة وفیه من الفتح ینعقد النکاح بالکتاب کماینعقد بالخطاب وصورته ان یکتب الیها یخطبها فاذابلغها الکتاب احضرت الشهود وقرائه علیهم وقالت زوجت نفسی منه اوتقول ان فلاناً کتب الی یخطبنی فاشهدوا انی زوجت نفسی منه امالولم تقل بحضرتهم سوی زوجت نفسی من فلان لا ینعقدلان سماع الشطرین شرط صحة النکاح وباسماعهم الکتاب اوالتعبیرعنه منها قدسمعوا الشطرین بخلاف مااذاانتفیا. ج۲ / ص ۲۳٤ / ۱۹ ذی قعده / ۱۳۲۸ هـ (تتمه اولیٰ / ص ۸۸)

سوال: (۳۲٦) ماقولکم ایها العلماء الکرام چه هنده عاقله بالغه دشلو کالو ده اودزید په نوم ئی یاداخط اولیکلو چه جناب ...... صاحب تاسو چه دخط په ذریعه کوم پیغام دنکاح رالیږلی وو ماهغه په زړه سره منظور کړواوزه په صفا الفاظو سره لیکم چه ماخپل ځان تاته دلس زره روپو مهر موجل په بدله کښی په نکاح درکړوزید داالفظ وصول کړواوخه مستورالحال مسلمانان ئی پری خبر کړل اودنکاح دقبولیت اومهر په مقدارئی هم خبر کړل اوهندی ته ئی هم اطلاع ورکړه چه ماقبول کړواوخه مسلمانان ماپه دی ګواه کړل دشریعت په نظر کښی اوفقه په مذهب دامام ابوحنیفه رحمه الله کښی دانکاح دزید اوهندی مینځ کښی منعقد شوه یانه؟

جواب: داسی نکاح منعقد کیږی لان الشرط سماع الشاهدین الفاظ الزوجین فی مجلس واحدولم یوجدولذی وجدهوالخبرلاالانشاء وهوالشرط وهذاکله فی الدرالمختار وردالمختار. ۱۱ محرم الحرم سـ ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثانیه صـ ۷)

سوال: (۳۲۷) زید دخپل بر ګتی طلاق کړی شوی ښځی سره کولی شی یانه؟

جواب: کولی شی بلکه خپلی بی بی سره ئې هم جمع کولی شی ځکه چه دزید په بی بی کښی اودده دېرګنی په بی بی هغه علاګه نشته چه هغه لره سری فرض کړی بل سره ئې نکاح حرام وی تتمه اولی ص ۹

دمرتدی ښځې دتوبې نه وروستو دخپلې مکښې

خاوندنه بغیربل چاسره نکاح نه دی کول پکار

سوال:(۳۲۸) جنتی کالی دریمه حصه ، ددین څه داورید وپه بیان کښې یې دامسئله لیکلی ده چه که چاد کفرخبره دخپلې ژبې نه اوویسته نوایمان یې لاړو او څومره نیکې او عبادتونه چه یې کړیدی ټول ضائع شول اونکاح یې ماته شوه نوکه یوې زنانه دکفرخبره دخولې نه اوویسته اوتوبه یې اوویسته بیامسلمانه شوه اوس هغه وایې چه زه به بل سړی سره نکاح کووم نواوس ددی زنانه دوړومبی خاوند دچاپه نکاح کښې چه وه طلاق اخستوضرورت شته یانه دشریعت چه څه حکم وي هغې اووئیل ؟

جواب:وړومبی خو هغه خبری دکفرچه کوم فقها، لیکلی دی هغې کښې تاویل ممکن دی په دی وجه په دوي دکفرفتوي نه دی لګول پکار مقصوددفقها، زجراورتنه ده اوکه داسی خبرېې اوکړه چه هغې کښې دتاویل احتمال نه وه بیاهم اګرچه هغه کافره شوه خو هغه نه به دبل سړی سره نکاح نه کوي فی الدرالمختار ولیس للمرتدة التزویج بغیرزوجهابه یفتی وایده فی ردالمحتار ج۳ / ص ۴۶۹ / فقط .جمادی الثانی/۱۳۲۹هـ (تتمه اولی / ص ۹۲)

لفظ قبول په ځای الحمدلله وئیلوسره نکاح نه کیږی

سوال:(۳۲۹) زیددلفظ قبول په ځای الحمدلله اووئیل دانکاح اوشوه یانه ؟

جواب:فی الدرالمختارو ینعقد بایجاب وقبول وضعاللمضی وبماوضع احدهماله ای للمضی والاخرللا ستقبال اوللحال فالاول الاماخ . وفی ردالمحتارتحت قول الدرالمختار لوقال هاباعرسی فقالت لبیک اخ مانصه صوابه لم ینعقد فقد صرح فی البحرعن الصیرفیه بان الانعقاد خلاف ظاهرالروایة ومثله فی النهروکذاشرح المقدسی عن فوائدتاج الشریعة اخ . ج ۲ / ص ۴۳۳مصری / دی نه

معلومه شوه چه الحمدلله وئیلوسره نکاح نه کیږی خو څه جزئیه ملاونه شوه بهتره داده چه څوک بل ځای هم تحقیق اوکړیشي فقط ۴ ربیع الثانی ۱۳۳۰هـ

دجینی چپ والی هغه وخت اذن دی چه ولی

تپوس اوکړی کنی په ژبه جواب ضروری دی

سوال:(۳۳۰) دی طرفته دارواج دی چه دکومې بالغې جینی نکاح کیږی نوپه دی طریقه کیږی چه داجینی چه کوم په پرده کښې ناسته وي هلته دری داسی سړی ځی کوم چه ډیر نزدی خپلوان وي او په هغې کښې یو وکیل وي اودوه ګواهان وي دجینی مورددی جینی خورته وایې چه مادخپلې نکاح ترلودپاره ، دوکیل نوم واخلی چه ، فلانکې ته می اختیار ورکړی وه جینی خویابالکل چپ شي یاپه ژړاشي یاسراوخوزوي نوهغه دریواړه سړی بهراوځی هغه ځای ته کوم ځای کښې چه دواده هلک قاضی وغیره موجودوغیره موجود وي اوهغه دوه چه کوم ګواهان دی دقاضی مخامخ دابیان کوي چه فلانی لوردفلانی دخپلې نکاح دپاره فلانکې سړی ته چه دهغې نه وکیل مراد وي اختیارورکړیدی زمونږ په مخکښې بیاقاضی دوکیل نه دمهراندازه معلوموي اودنکاح لوستلواجازت غواړی هرکله چه وکیل اجازت ورکړی نوقاضی صاحب خطبه وغیره اولوستلو اودواده هلک ته یې ووئیل چه مسماة فلانی لوردفلانی دخپل نفس اختیارپه بدله ددومره مهر، چه څومره مقررشوي وي ، نیم معجل اونیم موجل کښې تاته درکړو هغه وایې چه ماقبول کړو اودغه دوګواهانو اودوکیل نوم سره دقاضی دناوي اودهلک نوم په سرکاری رجسترکښې اولیکلی شي نوداخبره معلوموو چه داقاعده چه کوم ذکرشوه صحیح ده یانه که صحیح نه وي نواصلاح اوفرمایې ؟

جواب:داچپ والی دجینی چه هرکله تپوس کوونکې ولی نه دی معتبرنه دی نودا وکالت صحیح نه دی دګواهانو داوینا چه جینی اختیارورکړیدی دروغژنه ګواهی ده نودا نکاح صحیح نه شوه البته دوي نه وروستو چه کله رخصتی اوشي اودهلک کورته راشي اودکورته راشي اودکوروالی په وخت یې انکاراونه کړه نودغه وخت هغه نکاح چه تراوسه پورې معلق وه صحیح شوه . خو چونکه دنکاح لوستلو په وخت کښې نه وه صحیح شوي په دی وجه داخلوت (خانه له والی) دیته لاس لګول برېندول اوبرېنده لیدل اوبی پرده کول داځرنګه جائزشول په دی وجه ددی اصلاح داده چه که جینی نابالغه وي نوبیاخودولی نه اجازت

داوغواړی اوکه بالغه وي نودی جینی ته دولی معلومات اوکړی دهغه په معلومات کولو باندی که داچپ شوه نودغه اذن دی نو دولی اجازت ورکول بیاصحیح دی اوکه خامخاوکیل جوړول ضروری وي نوبیاضروری دی چه هغه جینی په خپله ژبه دغه وکیل ته اجازت دنکاح اوکړی اوکه په ژبه یې اونه وئیل نوهم هغه خرابی به وي کومه چه بره ذکرشوه دامسئله خاسته طریقی سره په خلقوکې خورول پکاردی (تتمه اولیٰ /ص۹۴)

جوازنکاح بایجاب وقبول وکیل روبروئی شاهدین

سوال:(۳۳۱) یوه مسئله دحضرت قبله صاحب په خدمت کې پیش کوو دزیداوزینب په مینځ کې دنکاح اقراراوشوزینب زیدته اووئیل چه زماتاسره نکاح کول منظوردی زه تا خپل وکیل مقرروم زمانکاح دخپل ځان سره ددووگواهانوپه مخکې اوکړه زید ددوو گواهانوپه مخکې داخبره پیش کړه اووي وئیل چه زه بحثیت وکیل په مسماة زینب کې دزینب نکاح دخپل ځان سره دوچه دهغی دقبولوالی نه کوم اوزه په خپل قبلولوالی سره دانکاح منظوروم اوزه ددی نکاح اقرار کوم تاسوددی خبری گواه شي گواهانودغه گواهی دزینب اوزیدپه نکاح کې منظوره کړه آیادغه شان نکاح جائزده ؟

جواب: جائزده. ۲۲رجب/ ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه/ ص ۵۷)

حکم نکاح فرزندخودبادخترمزینه خودکه زوج ان مزینه زنده است وشبه است که دختر ازنطفه زانی باشد یاازشوهرمزینه

سوال:(۳۳۲) څه فرمايي علماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه زید دبکر په موجودگی کې دبکر ښځی سره ناجائزتعلقات جوړکړه چه هغي سره دبکردښځی یوه لورپیداشوه دلته داشک دی چه دالورمعلومه نه ده چه دزید دنطفی نه ده که دبکردچا دنطفی نه پیداشویده اودزیددخپلی ښځی نه دزیدخوي پیداشویدی اوس دغه جینی اوهلک کې نکاح جائزده یانه بینواتوجروا؟

جواب: دفتوي مطابق خوجائزدی خواحتیاط نه خلاف دی. ۱۵رمضان/ ۱۳۳۱هـ (تتمه/ ص ۷۰)

حکم نکاح مردوزن که هردومدعی زوجیت اند وقبل ازان نکاح نه شده باشد

سوال:(۳۳۳) څه فرمايي علماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه مسماة هنده دوماڼو دولی نه وه اودهغی پیشه گانی بجانی وغیره وي هرکله چه زید سره ددی تعلق پیداشو نوزید هغه پوه کړه اودگانوبجانووغیره نه یې پرې توبه ویسته اوهندی هغه کار بالکل پریخودواودزیدپه کورکې یې اوسیدل شروع کړل اوزید نه علاوه دی کورته بل څوک نه شوراتلی اوزید اوهنده دښځی خاوندپه شان اوسیدل اودی دواړو ددوکسانو په مخکې اووئیل چه خاوند دواړه ښځه خاوند یواوس دااوفرمايي چه داهنده دزیدښځه شوه یانه ؟

جواب: فی ردالمحتارعن الفتح قال قاضی خان وینبغی ان یکون الجواب علی التفصیل ان اقربعقد ماض ولم یکن بینهماعقدلایکون نکاحاوان اقرالرجل انه زوجها وهی انها زوجته یکون نکاحا ویتضمن اقرارهما الانشاء الخ ج۲ /ص ۴۳۵ / دی روایت نه معلومه شوه چه هرکله دواړوددوؤگواهانوپه مخکې اقراراوکړو (په دی شرط چه دواړه گواهان سری اوددواړواقرارپه یومجلس کې وي) نودانکاح اوشوه. ۱۲شوال/ ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانی/ ص ۷۹)

سوال:(۳۳۴) څه فرمايي علماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه څه دولس کاله اوشول چه یو سړی یوزنانی بغیردنکاح نه تعلق پیداشوچه دهغی نه یوهلک پیداشو اوڅه ورځ هغی زنانه هلک بوتلواوبل ملک ته لاړله هلته اوسیده څوکاله پس هغه سړی هم هغه ملک ته لاړو هغه ښځه دی سړی ته په خپله راغله اوداسړي یې خپل ځای ته بوتلواوخلقوته یې اووئیل چه زماخاوند راغی اوسړي هم خلقوته اووئیل چه موږ په بل ملک کې دري کاله تیرشوي دی یوځای اوسیدو. سړی دهرچامخکې دی زنانه ته خپله ښځه وایې اودازنانه هرچامخکې دی سړی ته خاوند وایې اومحلی واله هم سړی ته ددی خاوند اوښځی ته بی بی دده وایې اودوي پیژنی اودغه سړی اوښځه دمحلی والو داوینا قبلوي داسی حالت کې ددواړوڅه حکم دی دزمانی درواج مطابق دنکاح ضرورت شته یانه دښځی وارث دمخکې نه نشته دشریعت محمدی ﷺ په روسره ددی څه حکم دی ؟

جواب: په دی کې ډیراقوال دی اوقاضی خان داتفصیل غوره کریدی. ان اقربعقدماض ولم یکن بینهماعقد لا یکون نکاحاً وان اقرار الرجل انه زوجها وهی انها زوجته یکون نکاحاً ویتضمن اقرارهما الانشاء الخ. کذافی ردالمحتارعن الفتح. ۲ج/ ص ۴۳۵ / ددی روایت په بنیاد ددی

سری اوښځی په دغه وینا باندی نکاح نه ده شوي. لان قول المرأة يتضمن الا قرار بعقد ماض لان معناه ان الرجل الذي هو زوجي قبل المجئي قد جاء. دوي اوس نکاح باقاعده کول پکاردی. ۴ رمضان/ ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه/ ص ۱۲۰)

جواز نکاح زن با پدر نسبی برادر رضاعی خود

سوال: (۳۳۵) عبدالقدوس نومی یو سړی دی دهغی بی بی نه یو خای ترور (مورخور) هغی بچی ته خپل پی ورکړی او چا چه داپی ورکړیدی هغه په رشته کې داسی ترور ده چه دعبدالقدوس دبی بی دمور وفات نه وروستو دعبدالقدوس دی بی بی پلار دویم واده اوکړه دغه دویم چه کومه زنانه ده او داکوم چه پی ماشوم ته ورکړی خویندی دی دغه شان دهغه زنانی یو لوروه. عبدالقدوس دبی بی دوفات نه وروستویی ددغه لور نکاح دعبدالقدوس سره اوکړه آیا دا نکاح جائزده یا نه ؟

جواب: پدی صورت کې دا لور چه دعبدالقدوس دښځی دمیرانه مورخورزه ده دعبدالقدوس دخوي رضاعی خورده نو دهغی نکاح چه دعبدالقدوس سره اوشوه نو دخپل رضاعی وروړ نسبی پلار سره اوشوه نو داجائزده. في الدر المختار يجوز تزوجه بام اخيه وتزوجها باب اخيها الخ ،مع ردالمحتار ۲ ج/ ص ۲۲۹ / ۲۵ ذي الحجه / ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانيه / ص ۱۰۰)

غلطی نکاح خوان درعقد بمرد دیگر وعدم صحت این نکاح

سوال: (۳۳۶) څه فرمایي علماء دین او مفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه مسماه رقیه چه بالغه جینی ده پلار خپل خوي مسمی داؤد ته چه ددی جینی میرانه ورور دی اجازت ورکړو چه رقیه نکاح دزید سره ولوله دهغی نه وروستو داؤد په یو داسی جلسه کې دنکاح لوستلو دپاره لاړو چه هلته ددوه دریو هلکانو نکاح وه دغلطی دوجی چه ولایت د داؤد وه او قاضی دعمرو نه قبول وکړو بیادغه جلسه کې داؤده انکار وکړو چه عمرو سره نکاح کولو ته یم راغلی نو بیا قاضی په دغه جلسه کې دزید قبول واخسته اوس دی صورت کې درقیه نکاح عمرو سره صحیح شوه که زید سره ؟

جواب: داود وکیل دی او قاضی عمرو سره نکاح لوستلو کې فضولی دی دقاضی داتصرف دجینی دپلار په اجازت موقوف دی خو چه دداود اجازت سره قاضی زید سره نکاح ولوسته

نو دا دوکالت دوجی نه داسی وشول لکه چه په خپله دجینی پلار دا نکاح لوستلی وي. او دفضولی تصرف موقوف کیدو نه وروستو که اصیل یادهغه وکیل چه په منزله داصیل دی دفضولی د تصرف خلاف تصرف کوي نو دی سره هغه تصرف چه فضولی وه او هغه موقوف وه هغه تصرف باطل شویدی وجی عمرو سره چه کومه نکاح ولوستی شوه هغه باطل ده او زید سره چه کومه نکاح اولوستی شوه هغه صحیح شوه خو داجواب په هغه صورت کې دی چه دجینی پلار داود ته ددی هم اختیار ورکړی وي چه قاضی باندی نکاح اولوله گنی وکالت صحیح نه دی او زید سره چه کومه نکاح ولوستی شوه چه هغی کې ایجاب مستقل شوي دانه چه دعمرو په ایجاب پې پوره والی کړی وي دی دوو خبرو کې یو خبره هم کمه وي یعنی یا خو داود ته ددی اجازت نه وي ورکړی شوی چه قاضی ته د نکاح لوستو اجازت ورکړه یا دعمرو په ایجاب پې پوره والی کړی وي نو بیا داجواب نه دی دوباره بیا سوال وکړی. (تتمه ثانیه / ص ۱۴۸)

دری ځله ایجاب او قبول کول مستحب نه دی

سوال: (۳۳۷) نکاح کې چه ایجاب او قبول دری ځله کولی شي آیا دا واجب دی یا سنت مؤکده یا مستحب. بینوا توجروا. بحواله کتب معتبره حنیفه؟

جواب: هیڅ هم نه دی. ۲۰ جمادی الثانی / ۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه / ص ۱۴۸)

ابن الزناء سره دصحیح النسب زنانی دنکاح حکم

سوال: (۳۳۸) یو کس ولد الزنادی چه هغه عمر شل کاله دی تراوسه هغه واده نه دی کړی چه چرته پیغام یوسی نو خلق داعذر وړاندی کوي چه داسی سړی پسی لمونځ جائز نه دی نو نکاح په څنګه صحیح شي پدی خبره ورسره نسبت نه قائمه وي نو دی صورت داسی سړی سره صحیح النسب زنانی نکاح صحیح ده یا نه که وکړیشي برابره خبره ده که یوه بالغه زنانه ورسره خپله وکړی یا دیوي نابالغه زنانه ولی ورسره وکړی صورتونو کې نکاح صحیح ده یا نه داسړی یقیناً ولد الزنادی بینوا توجروا؟

جواب: دکومی بالغی زنانه چه ولی نه وي یا دویوي بالغي زنانه ولی وي هغه زنانه او داولی دواړه ده سره نکاح کولو باندی رضاوي نو دا نکاح صحیح ده نورو صورتونو کې اختلاف دی

پدی وجه دنابالغ ده سره نکاح کول یادبالغه نکاح بغیردولی درضانه کول دواړه نه دی پکار . ۱۰ رمضان / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص ۱۲۲).

ولدیت کې غلطی سره نکاح نه منعقدکیږی

سوال: (۳۳۹) په دنکاح وخت کې که دبالغې ښځې اوخاوند دپلارنوم په بیانولکې که فرق راشي نونکاح وشوه یانه ؟

جواب: فی الدرالمختارغلط وکیلها بالنکاح فی اسم ابیها بغیرحضورها لم یصح للجهالة وکذالوغلط فی اسم ابنته الا اذاکانت حاضرة اشاراليها فیصح وفی ردالمحتار قوله الا اذاکانت راجع الی المسالتین الخ دینه ثابته شوه چه دپلارنوم کې غلطی کولو سره نکاح نه کیږی البته که هغه پلاربې مخامخ وي اوهغه طرف ته دنوم اخستوپه وخت کې یې اشاره کړی وي نودانکاح وشوه . ۱۰ محرم / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۷).

جمع درمیان زنی وزوجه پدراو

سوال: (۳۴۰) زید دخپلې ښځې په ژوند کې دخپل خسرکندی ښځې سره یعنی دخپلې ښځې میرانه سره نکاح وکړی نوشرعاً دانکاح جائزشوه یانه ؟

جواب: فی الدرالمختارفجازالجمع بین امرأة وبین زوجها. ددی روایت نه ثابته شوه چه دانکاح جائزده . ۱۰ شوال / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۸۷).

جواززیادت علی الاربعة دراماء

سوال: (۳۴۱) دکوم زید چه یویادوه دري یاڅلورښځې ازادی موجودوي نودازیددخپلې وینځې سره چه په پیسویې واخلې وطی بغیردنکاح نه کولی شي یاوینځې سره وطی ته هم دګواهانوپه حضورکې نکاح شرط ده ؟

جواب: فی الدرالمختاروصح نکاح اربع من الحرائروالاماء فقط للحره اکثروله التسریٰ بماشاءمن الاماء فلوله اربع والف سریة واراد شراء اخریٰ فلامه رجل خیف علیه الکفر الخ. دی روایت نه ثابته شوه چه دڅلوروښځې نه پس هم وینځه دکوروالی دپاره اخستل صحیح دی اودی سره دنکاح کولوضرورت نشته۔ خودایادساتی چه هندوستان کې چه کوم وینځې دی شرعاً

وینځې نه دی دوي سره کوروالی کول جائزنه دی داپه حکم داصیلو ازادوزنانوکې وي . ۱۰ شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه ثالثه / ص ۸۷)

تحقیق نکاح زن مکرره الاعضاء

سوال: (۳۴۲) څه فرمایی علماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه دهندی دوه لونړه یوځای پیداشوي چه دهندی دوه دوه خپې دوه دوه لاسونه ، سرجداجدا ، دوروکې اودس ماتی ځای ددواړویودی دملاتنه لره حصه جداجداده اودملاتنه ترمقصدپوری یوده اوس دایوشمیرل پکاردی یادوه که زیددنکاح اراده وکړی نوڅه اجازت دی بینواتوجروا؟

جواب: کوم اندامونه دی چه مکرروي که دهغی دواړونه دهغوي خاص کارونه راوتی شي نوبیاخودوه جینکې دی که داسی نه وي نوبیا یوه جینی ده که یوه وي نودی صورت کې دهغی نکاح سرې سره جائزده نوراندامونه به یې زیاتی وګڼل شي اوکه دوه وي نودی صورت کې به کتی شي چه دابه دواړه دغه شان وي یادحکمانوپه مشوری سره به دوي جداجداکولی شي که جداجداکړیشي نوبیادواړونکاح ددووسړوسره صحیح ده اوکه دغه شان یوځای نوبیاده دوي نکاح هیڅچا سره صحیح نه ده ځکه که ددواړونکاح دیوسړی سره وکړیشي نوبیاخودواړه خویندی یوسړی سره نکاح نه شي کولی اوکه یوسړی سره دیوي نکاح وکړي نوبیاځکه جائزنه دی دیوي نه فائده اخستل بغیردبلی داخستونه ممکن نه وي اوغیرمنکوحه نه فائده اخستل حرام دی ، نوموقوف علی الحرام هم حرام وي خصوصاً داچه عضومشترک کې احتمال دی چه کېدیشي دادغیرمنکوحی وي یا منکوحه اوغیرمنکوحه کې مشترک وي لکه څنګه چه دخنثی (هیجړا) سره نکاح کول ددی اشتباه دوجی نه باطل دی وقدصرحوابه . ۱۰ شعبان / ۲۵ھ (تتمه خامسه / ص ۲۰).

عدم جوازنکاح بادوزنان که باهم توام ومتفق اند

سوال: (۳۴۳) نن صباډیری خبری ښکاره کیږی دریاست میسوردپنډتانودوه جینکې بالکل یوځای شویدي دیوي ښې توتی دبلی کس توتی سره پیدائشي ملاؤشویدی دغه شان یوازی نه یوه کېناستی شي نه پاڅیدی شي نه خلاستی شي نه اودس ماتی ته تلی شي نه داوړه جداجدا پرتوګ اوچولی شي ددواړه یولنګ دی څلورخپی څلورلاسونه غرض داچه نورټول اندامونه بیل بیل دی اوداټول ماحافظ یعقوب صاحب ګنګوهی او حاجی احمدمرزا صاحب

ته په سترګو سره خودلی دی او په سوونو خلق هره ورځ ددوي کتلو د پاره راځي . دا خو د بېل ځانه معلوم شول چه لوړه تنده خوب او دس ماتي حاجت ديوي شته دېلي نشته چه يوه دوروکې اودس ماتي ته فارغه شي نو بله هم ورسره په خپله فارغه شي دحيض راتلو ځايونه بېل بېل دي ددې حالت پيش کولو نه مقصود دا غرض دی چه که دا دواړه مسلمانان وي يا مسلمانان شي نو شرعاً دوي سره دنکاح کولو څه صورت دی ؟

جواب: فی الدرالمختار حکم المفضاة مانصه وانه لایحل وطؤها الا ان امکن الاتیان فی القبل بلاتعد ص ۱۴۱ ددی نه يوه کليه ثابته شوه چه کوم زنانه سره وطی کول بغير دګنهګاريدو نه عادةً ممکن نه وي هغې سره وطی کول حرام دی او ښکاره خبره ده چه دلته که وطی وکړيشي نو وطی کوونکي ته دېلې نه فائده اخستل حلال نه دی ځکه چه دواړه خويندې دی او نه دی دويمې ته دلاس لګولو نظر کولو او برېنډيدو نه بچ کېديشي پدی وجه ددی کليه په بنياد منکوحه سره هم وطی حرام شوه دا حکم خو دوطی دی باقی دنکاح په صحيح کېدو کې خو څه داسې خبره نشته چه نکاح منع کوونکې وي خو دا نکاح دفائدې نه دخالي کېدو دوجه نه لغيره منهي عنه ده لکه دمنکوحې که چرې يو سړی حق ادا نه کړيشي نو دهغې تعبير په ظلم سره کېږي پدې وجه دفقهاء دتصريح مطابق نکاح کول مکروه دی او دغه شان منکوحه که چرې مصاهرةً ګنې حرام شي نو نکاح خو باقي ده خو دهغې خائسته طريقې سره ساتل ممکن نه دی پدې وجه ښې طريقې سره پريخودل يې واجب دی دلته به وروميې دنهی عن النکاح حکم کولی شي ولو لغيره ومع حکم الصحة ۲ جمادی الاخری/۱۳۴۳ھ (تتمه خامسه/ص ۳۲۳)

مشوره:- کچيرې ډاکټر ددواړو خرمن پريکړي او جدا يې کړي نو بيا ټول اشکالات ختم شول

خلوت صحيحه بودن ازفرار زوجه ازمکان خلوت

سوال: (۳۴۴) يو سړي خپلې ښځې ته لاړو او دروازه يې بنده کړه زنانه فوراً دروازه کولاؤ کړه او بهر ته او وتله دی يو منټ دی کور کې تير کړي وي آيا دا خلوت صحيحه دی مهر به پوره ورکولی کېږي يا نيم . فقهاء دا قيد لګوي چه څه منع کېدوونکي نه وي خو دوخت اندازه نه ښايي او دلته يوه قصه داسې وشوه سوال کوونکي ته څنګه جواب ورکړو ؟

جواب: دجزيې تحقيق ددېوبند نه وکړي باقي دقاعدونه چه زما کوم شرح صدر (سينه کولاؤ) اوشوه هغه دا چه خلوت قائم مقام دوطی ځکه دی چه ديکې امکان دوطی دی او څو مره موانع

چه دخلوت ذکر شوي دی په هغې کې امر مشترک عدم تمکن من الوطی دی . نو معلومه شوه چه اصل منع کوونکې شي هغه عدم تمکن دی او دی مسئله کې هغه محقق دی نو دهغې مقتضا دا ده چه دې صورت کې خلوت صحيحه نه دی والله اعلم .۲۵/ ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه/ص ۱۳۹)

صحيح بودن نکاح بقبول وکيل ولی دختر

سوال: (۳۴۵) څه فرمايي علماء دين او مفتيان شرع متين په دې مسئله کې چه دلته دنکاح طريقه داده چه وړومبی نسبت وي چه هغې کې په ټولو خبرو باندې فيصله اوشي نو ددې چه دنکاح دوخت نه څو ګهنټې مخکې قاضي صاحب ته دولی دطرفه ددې اطلاع ورکړيشي چه دفلانې سره په دومره مهر کولی شي او فلانی فلانی به وکيل او ګواه وي او ته به نکاح اوتړې قاضي صاحب په خپل رجستر کې دقاعدې مطابق ټولې خبرې اوليکي بيا په خپله ولی يا دهغې اجازت واخلي . جينۍ چپ کېدو وغيره سره (يعنی سکوت) اجازت ورکوي او س وکيل او دواړه ګواهان قاضي صاحب سره نکاح په مجلس کې حاضريږي مجلس کې ډير خلق وي قاضي صاحب دوکيل نه نکاح اجازت اخلي خطبه لولي او خطبې نه پس وکيل طرفته مخاطب شي او قاضي اوچت اواز سره وايي (ځکه چه وئيل عام طور سره خپل مطلب ښې طريقې سره نه شي ښکاره کولی) تا په خپل وکالت سره ددې دواړه ګواهانو (ګواهانو طرفته اشاره وکړي) په ګواهی سره او ددې مجلس حاضرينو په ګواهی سره پنځوس تولې خالص سروزرو په عوض کې فلانی چه دفلانی لورده فلانی ته چه دفلانی ځوی دی په نکاح کې ورکړه وکيل جواب ورکوي چه او ورمې کړه بيا قاضي صاحب وايي چه کوم الفاظ زه وايم هغه الفاظ ته هم او وايه . نکحتها وقبلتها وزوجتها . هلک دغه الفاظ بيا بيا وه وايي مجلس خلق دا ټولې کار روايي اوري او وينې عام طور سره دلته په دې طريقې سره نکاح کېږي خواوس بعض عالمانو اعتراض وکړو او دې فرمايېل چه دا ايجاب وقبول داعتماد قابل نه دی او نکاح نه ده شوي ځکه چه دوکيل په موجودګي کې قاضي صاحب دواسطې ضرورت نشته دالفاظ دی خپل وکيل او وايي او هلک دجواب ورکړي دقاضي ترجمانی نکاح د پاره مفسد ده او س سوال دی چه آيا واقعي دې صورت کې نکاح اونه شوه او يا دا مسئله دعالمانو په مينځ کې اختلافي ده يا داحنافو او شوافع په مينځ کې مختلف فيه ده څنګه ده . مونږ کې بعض ملګری شافعي هم دی مهرباني او کړی جواب کې دکتابونو حوالې هم راکړی او دمذهب

حواله هم راکړی بلکه که عبارت نقل راکړی ډیره مناسب ده که چرته جیني اوهلک کې دواړو کې یو شافعي وي بل حنفي وي نو آیاحکم کې به هم فرق وي داسوال هم دی دپاره دی چه دلته کله کله خاوند حنفي وي او ښځه شافعي وي داسې حالت کې په دواړو طرفونو کې اختلاف راځي بهرحال په جواب کې تول شقونه صفا کړی چه بیادپاره دامسئله پوره کړی شوي اوګنړی شي اوداختلاف نه دپرهیزتدبیراختیار کړیشي فقط والسلام

جواب: فی الدرالمختاروالاصل عندنااِن کلمن ملک قرل النکاح بولایة نفسه انعقد بحضرته الی قوله والاصل ان الامرمتی حضرجعل مباشراً له فی ردالمحتارلانه اذاکان فی المجلس تنقل العبارة الیه کماقدمناه (فی الصفحة السابقة) ج۲ /صـ۴۴۸-۴۴۹ / دی روایت نه معلومه شوه چه داولی چه کوم مامورډی که دی مجلس کې موجوددوي اوهیڅ هم اونه وایي بیاهم دقاضي صاحب دنکاح ترلوپه وخت کې دده موجودګی دنکاح صحیح کېدودپاره پوره ده اودلته خودقاضي دسوال په وخت ده خپله وئیلی دی نوحقیقت کې نکاح ده ترلی ده دنکاح دنه جائزکېدوځه وجه نشته اودشافعي دمذهب ماته څه پته نشته نه ماسره کتاب شته نه مهارت خو ښکاره ده چه په دیکې داختلاف څه خبره نشته غوره داده چه چرته دشافعي عالم نه تپوس وکړیشي ۸ محرم ۱۳۴۰هـ (تتمه خامسه / ص ۲۱)

وړوکوالي کې دواده حکم

سوال: (۳۴۶) قوله دی کې څه شک نشته چه یومسلمان دپاره دالله دحکم نوعیت پدلول یوازی حرام نه دی بلکه نافرمان اومجرم جوړیدل دی خودنابالغوجینکودنکاح جوازچرته په اسلام کې نه ملاویږی اسلام کې ددی څه حیثیت نه موندلی کېږی ددی خلاف قران کریم څلورمه پاره دولسمه رکوع کې دنکاح عمرخودلی شویدی . وابتلوا الیتمٰی حتی اذابلغوالنکاح . **اقول** :- سړي چه په کوم فن نه پوهیږی په هغې کې ولی ګوتی وهی دایت مفهوم دتفسیرونو کې اوګوری دلته دقابلیت نکاح نه مراد پوره قابلیت بالغیدوسره راځي ځکه چه دهغې نه مخکې دی دتوالداوتناسل (اولادپیداکیدل اونسل چلیدلو) صلاحیت نه لری اودنکاح اصل مقصوددغه دی نوپوره قابلیت نه کېدونه لازم نه راځي چه دهغې نه مخکې دنکاح جائزنه وي ګنی دابه لازم شي چه ترتنه پوری په قران نه څوک عالم پوهیږی اونه څوک مجتهد ځکه چه دمجتهد ینواجتماعي فتوي نه دمذهب کتابونه لیکلی شویدی

چه نابالغ نکاح جائزده . **قوله** :- دنابالغی دنکاح په جوازکې ډیرخلق دحضرت عائشه ؓ نکاح پیش کوي خودابالکل غلط دی چه دصدیقه ؓ نکاح حضرت ﷺ سره داسې حالت کې اوشوه چه نابالغه وه مونږه فروری ۱۹۲۲ هـ په بلاغ کې دوي غلطي تصحیح کړیده کتاب اکمال فی اسماء الرجال په ترجمه صفحه ۱۲ باندی دحضرت اسماء ؓ په حالاتو کې لیکلی دی چه دنه لس یاشل ورځی وفات شوي ده دی نه معلومه شوه چه دحضرت اسماء وفات هم په کال ۷۵ هـ کې شوي دی اودوفات په وخت کې ددی عمر سل کاله لیکلی شویدی دی نه داثابتیږی چه ددی پیدائش دهجرت نه اوویشت کاله مخکې شویدي اوحضرت عائشه (رض) دحضرت اسماء ؓ نه لس کاله کشره وه په دی وجه حضرت عائشه ؓ دهجرت نه اوولس کاله مخکې پیداشویده یاداسې اووایه چه دهجرت په وخت ددی عمراوولس کاله وه اوپدیکې چاته هم اختلاف نشته چه ددی واده دهجرت نه دوه یادرې کاله پس شویدي نودا اظهرمن الشمس ده چه دواده په وخت کې دحضرت عائشه (رض) عمر نوولس یاشل کاله وه دینه ثابته شوه چه دحضرت عائشه (رض) نکاح په بالغوالی کې شویده اوس خودددی صحیح سند موجوددی . **اقول** :- څه خائسته سند موجوددی په کوم اکمال کې چه یې دغه لیکلی دی په دغه اکمال کې دحضرت عائشه ؓ په حالاتو کې داهم لیدل پکاردی چه دنکاح په وخت کې دحضرت عائشه ؓ عمر نهه کاله وه اوواده دهجرت نه اتلس میاشتی یااوه میاشتی پس شویدی اونکاح ددنه دری کاله مخکې شویده نودنکاح په وخت کې شپږیااوه کالووه اودحضرت ﷺ په مذمت کې نهه کاله پاتې شویده اودحضرت ﷺ دوفات په وخت کې داتلسو کالووه آه داڅنګه خبره ده چه داکمال یوجزؤ اومنې اوبل نه منی اوس اکمال پریږده چرته بل ځای کې ثابت کړه مونږداکمال نه په زیات قوي دلیل سره ثابتوؤ واوره صحیح مسلم کې حضرت عائشه ؓ په خپله خپله قصه بیانوي چه حضرت ﷺ ماسره نکاح اوکړه چه کله زه داووه کاله اؤم اوواده اوشوه کله چه زه دنهه کالوا وم اوحضرت ﷺ وفات وشوه کله چه زه داتلسو کالووم دصحیح حدیث په مقابلې کې تاریخ څه حیثیت نه لری مورخین سره دمحدیثنو په شان سند نشته .

فائده متعلقه بمبحث نکاح صغرسن که درقانون ساختن یانه ساختن اودرمیان قوم اختلاف افتاد

نمبر(۱) دحضرت عائشه (رض) حدیث فعل دی چه هغې کې جاهل نه داشبه کېدیشي داخصوصیت دحضرت ﷺ وي زه یوقولی حدیث لیکم چه قانون دی چه په هغې کې داشبه نه

شي کيدی هغه حديث دادی عن عمر ابن الخطاب ﷺ وانس بن مالک ﷺ عن رسول ﷺ قال فی التوراة مکتوب من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة ولم يزوجها فاصابت اثماً فاثم ذالک عليه. رواه البهيقی فی شعب الايمان (مشکوة باب الولی فی النکاح) **نمبر(۲)** تول خرابي دی خای نه وشوه چه مضمون ليکونکو اصلی دليلونو يعنی قران اوحديث نه استدلال شروع کروجاهلانوپه هغی کې شبهې شروع کړی داکار دمجتهدينو عالمانو دی مونږته دومره پوره دی چه کوم مذهبی کتابونه منلی شوي وي يعنی دفقه کتابونه چه هغی لره ګورنمنټ هم مذهبی کتابونه منلی دی په هغی کې جوازموجود دی نو دجواز حکم مذهبی شو. **نمبر(۳)** لويه شبه ددی جاهلانو داده چه شرعی جائزپه قانون کې منع کول مذهب مداخلت نه دی ګڼی تيکه، هغه پيسې چه دناوي پلارهلک کورته واده نه مخکې ليږی نه انکار جائزدی اوقانون کې داجرم دی نوديته هم مداخلت وئيل پکاردی حالانکه ديته څوک مداخلت نه وايي ددی دوه جوابونه دی يوالزامی بل تحقيقی الزامی خودادی چه غواګانی زبح کول هم واجب نه دی جائزدی نوڅوک مسلمانداغواړی چه دادقانون کې جرم دی اوتحقيقی جواب دادی چه دجائزدوه درجی دی يومحض مباح چه هغی کې څه حيثيت ددين اوطاعت نشته لکه دمرضونوعلاج اودهغی پريخول اودويمه درجه چه په هغی کې څه حيثيت ددين اطاعت هم شته اودبعضی معيار دادی چه دهغی ترغيب اوفضيلت په شريعت کې راغلی وي لکه نکاح چه ددی تاکيدراغلی دی اوبغيرعذرنه ددی په پريخودوسزاهم دادی دين نه کېدوصفادليل دی. پدی وجه فقهاء چه دنکاح قسمونه اودهغی حکمونه ليکلی دی په هغی کې څه درجه دمباح نشته آودڅه عارض په وجه مکروه ګرځيدلی شي خوفی نفسه طاعت دی اوفقهاؤدادومره درجه کې طاعت ګرځولی دی چه دی لره يې داشتغال بالتعليم والتعلم والتحلی للنوافل هم افضل بيان کړيده. کذافی الشامی. نودنکاح نوي قانون جوړول مداخلت دی په دين کې اومعالجه دپاره قانون جوړول مداخلت نه دی په دين کې دواړوکې فرق دی. که څوک اعتراض وکړی چه مداخلت نکاح دين دی خو په قيددصغر سن (وړوکوالی) دين نه دی ددی جواب چه څه مهارت دعلم دين لری په هغی موقوف دی هغه داچه چه شرعی فقهی قاعده ده چه کوم عمل اطلاق په درجه کې کوم شان سره چه موصوف وي هغه چه کوم جائزقيدسره هم اولګی هغه شان سره په موصوف وي لکه دماسپخين نمونځ فرض دا اوددی خاص داقيدچه دوه بجی کول جائزنه دی نودايقيناً دين کې مداخلت دی دغه رنګ چه هرکله مطلق نکاح دين دی نوکه وړوکوالی حالت کې وموندی شي نوديته هم دين وئيلی شي نوددی

ده منع کول قانون جوړول په دين کې مداخلت دی دغه رنګ قربانی کې وئيلی شي چه قربانی عبادت دی که په قيد دغواسره وي نوهم عبادت دی نوددی منع کول دين کې مداخلت دی خان بنه پوه کړه. اخرمحرم / ۱۳۲۷ھ (تتمه خامسه / ص ۲۳۴)

رساله ضم شارالابل فی ذم شاردابل

بسم الله الرحمن الرحيم

سوال: (۳٤۷) دحمدوصلوة نه وروستومختصر ليکم په نوم دضم شارالابل فی ذم شارالابل چه ددی معنون کول په دی عنوان سره ددويم جزونه معلوميږی. اوړومبی جزوددويم جزودپاره غايه ده يعنی چه کوم خلق دناپوهونه يانی په زوره خان پوه کړيدی پدی وجه دخپل هغه اصلی اوحقيقی خای نه خواره واره دی هغوی لره په دغه خپل خای جمع کول دامقصوددی. اوتراوسه مې خاص طورپه دی موضوع باندی حاجت ددووجونه نه ګڼړلو. يوپه دی وجه چه دامسئله دومره ښکاره اوواضحه ده چه ديته داشاری کولوهم حاجت نشته ددی دقوت دپاره څه ليکلوسره داوهم راتلوچه دابه نوره خفی اوپټه وی کوم چه دواقع نه خلاف دی. دويمه دی وجه، چه لويولويوعالمانوپه دی باندی دضرورت نه زيات ليکل کړيدی چه هری طريقی سره کافی دی يعنی شرعی طورسره هم بعض ملګرودعلم خاوندانوپدی اميدچه دی کښی به اعتراض کوونکواوشك کوونکوته فائده وی نوهغوی خاص په دی عنوان سره مجبورکړم بل داچه ددی متعلق اکثروضاحت کښی استفساګانی هم راځی چه دهغه جواب تراوسه پوری په قاعدی سره ورکيده چه لږی نه ده کيدښې سوال کوونکوهغی يووختی شی ګڼړلی وی دی تحريرسره به دهغوی دمرضی مطابق جواب هم اوشی اودادواړه خبری اګرچه کمزوری دی خودمرتکب کوونکوددعاپه برکت دفائدی چه اميدسره دايوڅوکرښولیکلوخيال می راغی.

قول رومی.

کوی نوميدی مرواميدهاست سوی تاريکی مږدخورشيدهاست

والله المستعان وعليه التکلان

اطلاع (خبرداري) اصل مقصد خوددی ليکلونه شرعی تحقيق دی اوهغه هم په علمی اصطلاحاتوکې ځکه چه ددی وړومبی مخاطب هغه اهل علم دی چه کوم ددی تحرير محرک

دی بیاهغوي په خپل خیال سره اهل علم لره دویم نمبر کې مخاطب جوړولی شي او سیاسی طرفته پدی کلام څکه مقصدنه دی چه زه نه علماً په دی قدرت لرم چه ددی نه بچ کېدو چلونه درته اوښائم باقی چرته په څه موقع باندی غیرسیاسی طریقی سره پدی باندی تبعاً او استطراداً ذکراتلل بله خبره ده اوددی تحریر ورومبنی عنوان نه په دعطن نوم ورکوم او په مقصدباندی نظر کولو سره داپه څوعطن کې تقسیموم فقط

عطن اول :- داتحقیق چه مطلق نکاح قطع نظر ددي نه چه نکاح کوونکې بالغ وي او که نابالغ وي آیاددیناکار دی یاددین ،دادی دپاره چه په دی پوهیدل اسان شي چه دین کې تصرف کول داتصرف په دین کې په دینا کې نوددی یومعیار دی هغه داچه دکوم کار شریعت کې تاکید یعنی وجوبی یاترغیبی یعنی استحبابی حکم کړی شوي وي یاپه هغی دثواب وعده کړی شوي وي دکوم هغه ددین کاردی که دهغی په پریخودلو باندی څه وعید سزایانار اضګی هم راغلی وي هغه فرض یاواجب دی اودکوم په پریخودوچه څه عذاب یانار اضګی نه وي راغلی هغه مستحب دی اوپه کوم کې چه داخبره نه وي هغه ددیناکاردی که دهغی متعلق څه حکمونه راغلی وي هغه حکمونه په هرحال کې دین دی او که څه عقیدی یاعمل سره په دی کې تغیراوشي نوداهم تغیرفی الدین دی اوس نکاح هم په دغه معیارباندی وګوره نوصفابه معلومه شي چه داددین کاردی څکه چه بعض حالتونو کې ددی تاکیدی، اوبعض کې ترغیبی حکم راغلیدی اوپه دی دثواب وعده هم ده اوددی په پریخودومذمت اوبدی هم راغلیده پدی وجه قران مجید کې ارشاددی [وانکحوا الایامی[1] منکم ا(سورة نور) تاسو کې چه کوم خلق بی نکاح دی هغوي ته نکاح وکړی دادامرصیغه ده چه دهغی مدلول وجوب دی او که دڅه وجه نه وجوب مرادنه خلی نوبیادڅه قرینه دوجه که ددی پریخودوته ترجیح ورکړی نواستحباب مرادی ګنی اباحت اودلته په مقصود دنکاح باندی قرینه موجودده کماسیذکرعنقریب اودغه معیاردی دماموربه (چه په کوم باندی حکم کړی شویدی) ددین کېدونوثابته شوه چه نکاح یودینی امردی اوهغه قرینه پدی ایت کې ارشاددی ان یکونوا فقراء یغنهم الله من فضله (یعنی ددی بی نکاحو په نکاح کې دخپل عزیزنکاح کوونکې غریبی یادخپلی عزیزی منکوحی دخاوند غریبی منع کوونکې مه ګنړی چه هر کله

[1] فی القاموس الایم یقال لکل من لازوج لهابکراً اوثیباً ومن لاامرأة له آه واما اطلاق الایم فی بعض الاحادیث علی غیرالبکر فمجازبقرینة المقابلة ویحتمل الروایة بالمعنی حیث وردفی بعضها الثیب مکان الایم ۱۲۔

بالقوه هغوي کې دخدمت اودګټلو ماده وي څکه چه که هغوي غریب وي نوالله که چرته اوغواړی نوخپل فضل سره به یې مالداره کړی الخ اوددی قرینه کېدل په دی شان سره دی چه زکات اوحج پوری چه دااسلام شعائر(نخښی) دی پدیکې دمختلفو حالتونودوجه وجوب بااستحباب دپاره دغه غریبی منع کوونکې ده خوپه نکاح کې دغه مانع نشته برابره خبرده که مستقل دلیل سره څه بل شي منع کوونکې وي وي سره بالکل صفادنکاح دمطلوبیت ترجیح ثابته شوه اوددی سره ددی دین کېدل ثابت شول اود دی فرق رازدادی چه په غریبی کې زکات اوحج نه اداکولو سره په څه ګناه کې دغورزیدو احتمال نشته اونکاح نه کولو کې په زنا کې دمتبلاکېدوویره ده که پدی باندی سوال وي نودلته په بل راتلونکې ایت کې ارشاددی، اولیستعفف الذین لا یجدون نکاحاً حتی یغنیهم الله من فضله(داسی خلقودپاره چه دچادنکاح طاقت نه وي هغوي له پکاردی چه ځان پاک اوساتی تردی چه الله هغوي دخپل فضل نه مالداره کړی الخ دلته یې فقر(غریبي) منع کوونکې دنکاح اوګرځوله جواب :- دادی چه دقران په مضمونونو کې خاص کرپه هیڅ مقام کې دتعارض احتمال نه شي کیدی، ترڅو چه څه دلیل دنسخ نه وي نوحقیقت دادی چه دلته یې فقرته مانع اونه وي بلکه ښځی نه ملاویدوته یې مانع اووي پدی وجه عنوان لایجدون هم دانښایې یعنی په چازورخونښته ملاؤشوه اوکره ملاؤنه شوه په صبرسره کېنه اودامعنی یې بل ایت کې عدم استطاعت (چه طاقت یې نه وي) سره تعبیرکړیده ومن لم یستطع منکم طولاً ان ینکح المحصنت المومنات فمن ماملکت ایمانکم (سورة نساء) یعنی کوم سړی چه تاسو کې پوره طاقت نه لري ازادومسلمانوزنانو سره دنکاح کولونوینځوسره دنکاح وکړی دلته هم په اتفاق سره نه ملاویدل مرادی سره دملاویدونه دغریبی په وجه نه کول مرادنه دی باقی دحنفی شافعی اختلاف په قید احترازی کې هغه بله خبره ده اودی حدیث کې هم دعدم استطاعت نه دامرادی [1]، ومن لم یستطع فعلیه بالصوم داخودقران نه اثبات وه چه نکاح یودینی امردی اوس حدیث را واخله عن عبدالله بن مسعودؓ قال قال رسول الله ﷺ یامعشرالشباب من استطاع منکم الباءة فلیتزوج فانه اغض للبصرواحصن للفرج ومن لم یستطع فعلیه بالصوم فانه له وجاء متفق علیه (مشکوة) دعبدبن مسعودؓ نه روایت دی چه رسول الله ﷺ ارشاد

[1] دلیله الحاشیة الآتیة من المرقات ۱۲

فرمایي چه ای دځوانانوډلې که څوک تاسو کې دکودباراوچتولو(۱)طاقت لري (بالقوة بالفعل
کماذکرفی تغیرالاتیه) نوهغې ته نکاح کول پکاردی ځکه چه نکاح سره سترګې ځکته شي
اوشرمګاه هم محفوظ شي اوکوم سړی چه طاقت نه لري (اوهغه(۲)په دی وجه نکاح نه شي
کولی) هغې دروژې نیسی داروژه ده لره محفوظ ساتونکې ده. وعن انس قال قال رسول
الله ﷺ اذاتزوج العبدفقداستکمل نصف الدین فلیتق الله فی النصف الباقی رواه البیهقی(
ترغیب) انس رضی الله عنه نه روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایېل چه کله بنده نکاح اوکړی
نودهغه نیم دین مکمل شواوس هغه ته پکاردی چه په پاتې نیم کې دی دالله نه ویره
اختیارکړی. عن ابی نجیح ان رسول الله ﷺ قال من کان موسرالان ینکح ثم لم ینکح فلیس
منی رواه الطبرانی باسنادحسن (ترغیب) دابونجیح نه روایت دی چه رسوالله ﷺ اوفرمایېل
چه کوم سړی په تاسوکې دنکاح کولوطاقت لري بیاهغه نکاح ونه کړی دهغه ماسره تعلق
نشته. وعن ابی ذرفی حدیث طویل قال رسول الله ﷺ لعکاف یاعکاف هل لک من زوجة
قال لا قال ولاجارية قال وانت موسربخیر قال وانابخیرقال انت اذامن اخوان
الشیاطین لوکنت من النصاریٰ کنت من رهبانهم ان سنتناالنکاح شرارکم عزابکم واراذل
موتکم عزابکم بالشیطان تمرسون ماللشیطان سلاح ابلغ فی الصالحین من النساء الاالمتزوجون
اولئک المطهرون المبرءون من الخنائی قوله ویحک یاعکاف تزوج والافانت من المذبذبین رواه
احمد(جمع الفوائد) ابوذر رضی الله عنه نه یواوږد حدیث کې روایت دی چه رسول الله ﷺ اوفرمایېل
عکاف ته اوفرمایېل ای عکاف چه آیاستابی ښځه شته هغه عرض وکړوچه رسول الله ﷺ
اوفرمایېل چه وینځه هم نشته وایې وینځه هم نشته حضرت ﷺ اوفرمایېل چه ته مالداره
یې آومالداره یم حضرت ﷺ اوفرمایېل چه دی حال کې خوته دشیطان په وروڼوکې یې که
ته دنصاریٰ نه وې نودهغوي راهب به وې بی شکه زمونږه طریقه نکاح ده په تاسوکې بدترین
بی نکاح سړي دی اوپه مړکېدونکوکې بدترین بی نکاح سړي دی آیاتاسوشیطان سره
ملګری تیالری شیطان سره دښځونه لویه وسله نشته چه په نیکانوکې هم کاروکړی مګرچه

(۱) کذافی المرقات ونصهاوفیه حذف مضاف ای مؤنة الباءته من المهروالنفقة لان قوله ومن لم یستطع عطف علی من استطاع ولوحمل الباءعلی الجماع لم یستقم قوله فان الصوم له وجاء لانه لایقال للعاجزهذا ۱ه
(۲) دلیله الحاشیه السابقة من المرقات ۱۲

چانکاح کړیده داخلق بالکل پاک دی اودبی حیایې نه بچ دی اودایې هم اوفرمایېل چه ای
بدبخته عکاف نکاح وکړه ګنې ته به دشاګړوشوونه وګرځې. داځلورحدیثونه دنمونې په
طورذکرشول اوپه دی باب کې ډیرحدیثونه راغلیدی پدیکې وړومبی حدیث کې دامرصیغه
راغلیده چه په هغې کې دنکاح سبب سره دسترګواودشرمګاه حفاظت کېدیشي چه دادولره
دین دی اودهغې بدل یې روژه اودرولی ده چه کله دنکاح نه عاجزوي دادنکاح مظلومیت
صفامفهوم دی که واجب وي که مستحب په اختلاف دحالتونوسره دویمه حدیث کې یې
دهغې فضیلت بیان کړیدی چه نکاح مکمل ایمان دی. اودریمه حدیث کې طاقت باوجودهم
نکاح کولوباندی دخفګان اودبی تعلقی اظهارکړیدی چه داعلامه دوجوب ده. اوڅلورم
حدیث کې خوپه څوطریقوسره په نکاح نه کوونکوباندی بدې اومذمت بیان کړیدی چه داهم
علامه دجوب ده اګرکه بعض اعتبارسره وي اوداتول دنکاح دامرونهی کېدومعیاردی. البته
چه چرته شرعی وینځه پیداکېږی هلته وینځه ساتل یې هم دنکاح بدل فرمایلی دی اګرکه
اکثروحالتونوکې خلاف اولیٰ ده. خوکه چرته وینځه هم نه وي هلته بیاهم نکاح متعین ده
لکه هندوستان کې. فائده:- په کوم حدیثونوکې چه دوسعت اواستطاعت قیددی
داقید دامربالنکاح دپاره شرط نه دی چه دهغې په خوت کېدوسره مشروط یعنی امربالنکاح
خوت شي بلکه اقتضاء دپاره دی یعنی دا استطاعت مقتضي دی امربالنکاح ته اومقتضی
خاص ته مقتضی نفی مقتضی نه ده لکه ایت (فمن کان یرجوالقاء ربه فلیعمل
عملاصالحاولایشرک بعبادة ربه احدا) دیکې رجاءلقاءمقتضی ده نیک عمل اوشرک
پریخودوته دانه چه که دارجاءنه وي نونیک عمل اوشرک پریخودل به مطلوب اوانتفاءلازم
مستلزم ده انتفاءملزوم ته اوددی عکس نه شي کیدی نوداحدیثونه معارض نه شول دی ایت
ان یکونوافقراءیغنهم الله من فضله سره. نودی حدیثونوسره دفقرمانع نکاح کېدووهم ونه
کړیشي. تردی پوری دنکاح امردین کېدواثبات دقران دحدیث نه وشواوس
دعالمانواواماماتوددی امت اقوال راواخله درمختارکې دی، لیس لناعبادة شرعت من
عهدادم الیٰ الان ثم تستمرفی الجنة الا النکاح والایمان. مونږدپاره دنکاح اودایمان نه علاوه بل
څه عبادت نشته کوم چه دادم علیه السلام نه تردی وخته پوری مشروع دی اوجنت کې به هم
جاری وي. پدیکې دنکاح عبادت کېدوتصریح ده اوعبادت هم داسې چه
تماموشریعتونوکې مشترک اوعبادت دینی کارکېدوکې څوک خبري کولی شي اګرکه ددی

په جنت کې جاري کېدو باندې بعضو کلام اوخبرې کړېدی اونور جزونه دتولو په نزد منلی شوي دي اوردالمحتارکې راغلیدي. وقدمه علی الجهاد‌ای قوله وکـذا علی العتـق والوقـف والاضحة وان كانت عبادات ایضاً لانه اقرب الیٰ الارکان الاربع حتی قالوان الاشتغال به افضل من التخلي لنوافل العبادت ای الاشتغال به ومایشتمل علیه من القیام بمصالحه واعفاف النفس عن الحرام وتربیة الولدونحوذالک. اودنکاح باب یې (په ترتیب دبابونو کې په باب) جهاد مقدم کړودغه رنګ په اعتاق قرباني اووقف په بابونویې هم مقدم کړواګرچه هغه هم عبادتونه دی (هم دامطلب چه لکه څنګه نکاح عبادت دی دغه شان هغه هم عبادتونه دی خوبیایې هم نکاح په هغې مقدم کړه) پدې وجه چه نکاح (دعبادت کېدو په وصف کې) څلوررکنونو لمونځ، روژه زکات حج) سره (په نسبت داعتاق وقف اوقرباني) زیاته نزدې ده. په دې وجه ددې رکنونو دبابونو نه پس یې دنکاح باب راوړوتر دې چه فقهاء اوفرمایېل چه نکاح کې مشغولیدل نفل عبادت دپاره بالکل فارغیدونه هم افضل دی یعنې په خپله په نکاح کې مشغولیدل اونکاح چه په کومو څیزونو مشتمل ده (په هغې کې مشغولیدل) لکه دنکاح مصلحتونو اهتمام) کول اونفس دحرامونه بچ کول اواولادتربیت کول اودغه شان چه نورڅیزونه دی الخ. اوګوره په دې عبارت کې څنګه په سختی سره دنکاح فضلیت دینی بیانوي (۱) اعتاق، وقف، قرباني چه دهغې په ثواب باندې ډیرنصوص راغلیدي اونکاح یې دهغې نه مخکې ذکرکړه (۲) داسلام رکنونو سره په نسبت سره نوروعبادتونوته ددې زیات مناسبت رانقل یعنې ددې نکاح زیات مناسبت دی داسلام رکنونو سره څکه یې ورکړه نزدې راوړه ولعل السرفیه ان ارکان الاسلام فیهااکبار الاسلام باظهار الاحکـام والنکـاح فیـه اکبارالاسلام باکثاراهل الاسلام واشیرالیه فی قوله علیه السلام فانی اباهی بکم الامم فی تعلیـل التزویج فاشبه الارکان لاسیماالصلوة فان فی النکاح اعلاناً ادناه نصاب الشهادة کمـافی ان فی الصلوة اذاناوان فی اوله ثناء وتوحیداوقراناوفی اخره دعاء کمافی اولهاثنـاء وتوحیـداوقراناوفی اخرهادعاء بالسلام علی الملائکة والمصلین ولیس کولهمافی الجسدفهوبالصلوة اشبـه (۳) نکاح اوهغې په متعلقاتو کې مشغولیدل نفل عبادتونو کې دمشغولیدونه افضل کېدل ددې تصریحاتونه پس دنکاح په امردینی کېدوکې څه پټوالی پاتې کېدیشي **عطن ثاني** - مخکې دلیلونو سره مطلق نکاح عبادت کېدل ثابتیږي هغه په خپل اطلاق سره هرنکاح خالي عن

الموانع ته عام دی برابره خبره ده که نکاح کوونکې بالغ وي یایوبالغ وي یایوناباالغ وي اودعام دلالت خپلو افرادودپاره په حکم ثابتولوکې قطعي وي څوپورې چه دلیل دخصوص نه وي برابره خبره ده که داعام ثبوتاً ظني وي خودلته ثبوت هم قطعي دی دکتاب الله قطعي کېدل خوظاهر دی اوحدیثونه هم معنیً متواتردی اوکه احادهم وي خوپه یوخای کېدوداجماع نه پس قطعي شو په دې حالت کې خصوصیت سره دنابالغودنکاح مشروعیت ثابتولوته څۀ حاجت نشته خوتبرعاً خصوصي سره هم ثابتیدی شي دالله ﷻ ارشاددی (ویستفتونک فی النساء قل الله یفتیکم فیهن ومایتلی علیکم فی الکتب فی یتمی النساء اللاتي لا تو تونهن ماکتب لهن وترغبون ان تنکحوهن) الایه ، اوخلق ستانه دزنانوپاره کې حکم معلومول ته ورته ووایه چه الله ﷻ دهغې باره کې تاسوته حکم کوي اوهغه ایتونه هم (حکم ورکوي) چه کوم (ددی نه مخکې) په قران کې په تاسولوستی کېږي په باره دیتیمانوزنانوکې هغې چه تاسوهغوي ته خپل حق نه ورکوي اوهغوي سره نکاح کولونه نفرت کوي. **فائده** :- دامضمون مختصردی حدیثونوکې دوې شرح راغلیده چه یتیمانان بچي چه کوم دخپلوانو په پرورش کې وه تاسودهغوي سره دبعضوخلقوداروبه وه چه هغوي به خائسته وي نوتاسوبه په خپله په نکاح کړی خودهغوي پوره مهربه مونه ورکولو اوکه خائسته به نه وي نودبې رغبتی دوجه نه نه موبه خپله ورسره نکاح کوله اونه دمال دقبضی نه دوتودویری نه موبل چاته په نکاح ورکولی په هغې داایت نازل شو پدې ایت کې دیتیمی دمحل نکاح کېدوتصریح ده اولفظ یتیم لغةً اوشرعاً خاص دی نابالغ سره قاموس کې راغلیدی. ولایتیم ویتیمان مالم یبلغ الحلم لایتم بعداحتلام. رواه ابوداود .عن علی ﷺ الی قوله وحسنه النووي متمسکابسکوت ابي داؤد لاسیماوهوعندالطبراني فی الصغیرمن وجه اخرعن علي بل له شـواهدعن جـابروانس وغیرهماکذافی المقاصدیتیم اویتیمان اطلاق هغه وخت پورې کېږي څوپورې چه بلوغت ته نه وي رسیدلی اوحدیث کې راغلي دی بلوغت نه پس یتیمي نشته داروایت ابوداؤد کړیدی دحضرت علي ﷺ نه مخکې وایې چه امام نووي دابوداؤدپه سکوت تمسک کړیدی نودی حدیث نه یې حسن وئیلی دی خصوصي په دې حالت کې چه داحدیث طبراني په صغیرکې هم بلې طریقې سره دحضرت علي ﷺ نه نقل دی بلکه ددې نورهم شواهدشته حضرت جابر ﷺ اوحضرت انس ﷺ ددې نه علاوه نوروهم دغه شان راغلیدي مقاصدحسنه کې پاتې شواحتمال دمجازدابې دلیله دی اوکه لفظ نساء ته ددې دلیل اووایې نودهغې جواب دادی

چه دلفظ نساء عام حکمونه دبالغو اونابالغو په نصوصو کې ډیر راغلیدی لکه عطن راجع کې په بعض دنمونی په طورذکر کړیشي اودلفظ یتامی داسی حکمونه دومره کم راتلل ددی دلیل دی چه ایت کې نساء کې دمجازقائل کیدل راجع دی په نسبت دیتیم کې دمجاز قائل کیدو. اوکه په دی هم چاته شبه وي نوهغه څکه نقصانی نه ده چه نوروډلیلونوسره اصل مدعاثابت شویده پدی وجه حدیث کې دحضرت عائشه ؓ نکاح دنابالغی حالت کې کیدل متواتردی بیااجماع سره پری هم تائیدشویدی دهغی نه پس دشبه څه ګنجائش نشته اجماع خوښکاره ده اوحدیث دادی وعن عائشة ؓ ان النبی ﷺ تزوجهاوهی بنت سبع سنین وزفت الیه وهی بنت تسع سنین ولعبهامعهاومات عنهاوهی بنت ثمان عشرة رواه مسلم (مشکوة) حضرت عائشه ؓ نه روایت دی چه نبی ﷺ ماسره نکاح اوکړه اوزه داوه کالو اوم اوزه کوردنبی ﷺ ته راغلم اوزه دغه وخت دنهه کالواوم اوګوری (چه تصویروالا نه وي) هم ماسره وي اونبی ﷺ دینانه رخصت اوفرمایه چه زه داتلسو کالو اوم داروایت مسلم کړیدی ښکاره خبره چه داوه کالوعمریقیناً دنابالغ والی عمردی سره مدعاصفاثابت ده اوکه چاته شبه دخصوصیت وي نوهغه دغیرناشي عن دلیل کیدو دوچه نه محض لغوده یعنی دلیل ورسره نشته په خپلی مدعابانَدی. **عطن ثالث** :- هرکله چه بره دنابالغودنکاح مشروعیت ثابت شونوکوم چه قانونی نابالغه دی دهغوي دنکاح مشروعیت خوبدرجه اولیٰ ثابت شوځکه چه قانونی نابالغه شرعاً یابه بالغ وي یابه نابالغ وي اوددواړودنکاح مشروعیت ثابت څه مستقل دلیل اودرولوحاجت نشته چه په هغی کې دقانونی عمرنه کم عمروالا تصریح سره دنکاح حکم وي خوداحسان اوتبرع په طورداسی مستقل دلیل ذکرکوؤ اوهغه دالاندینی حدیثونه دی چه په هغی کې په یوکې په عنوان دشمیرسره دعمرتصریح ده چه په هغی کې بعض وختونو کې شرعی بلوغ هم نه وي اویوکې په عنوان دشمیرسره دعمرتصریح ده چه په هغی کې بعض وختونو کې شرعی بلوغ هم نه وي اویوکې په عنوان دبلوغ سره چه دهغی اخیری درجه پنځلس کاله ده دعمرذکردی [عن ابن سعیدوابن عباس قالاقال رسول ﷺ من ولدله وَلدفلیحسن اسمه وادبه فاذابلغ فلیزوجه فان بلغ ولم یزوجه فاصاب اثماً فانمااثمه علی ابیه وعن عمربن الخطاب وانس بن مالک عن رسول الله ﷺ فی التوارة مکتوب من بلغت ابنته اثنی عشرة سنة ولم یزوجهافاصبت اثماً فاثم ذالک رواهماالبیهقی فی شعب الایمان (مشکوٰ) دحضرت ابوسعیداوحضرت ابن عباس نه روایت دی دواړه فرمایي چه رسول الله ﷺ

اوفرمائیل چاځه اولادپیداشي هغه ته ښکاردی چه ښه نوم ورته کیږدی اوښه تعلیم ورته ورکړی بیاچه کله بالغ شي (چه دهغی اخری درجه پنځلس کاله دی چه دهلک دقانونی عمرنه کم وي) نودهغه نکاح دی وکړی اوهغه بالغ شي اودی یې نکاح ونه کړی اوهغه په څه ګناه کې مبتلاشي نودهغی ګناه (تسبب په درجه کې) صرف په پلاربانَدی وي (اګرچه دګناه دکولودوجه نه په خپله په دی بچی ده) اوحضرت انس نه روایت دی چه هغه درسول الله ﷺ نه روایت کوي چه تورات کې لیکلی دی دچالوردولسو کالوته اورسی (دچینی قانونی عمرنه کم دی اوقرائنوسره دنکاح حاجت معلوم وي) اوداسری دهغی نکاح اونه کړی بیاهغه په څه ګناه کې مبتلاشي نودهغی ګناه دهغی په پلارده دادواړه حدیثونه بهیقی په شعب الایمان کې روایت کړیدی (مشکوة) دحدیثونودلالت په مدعابانَدی بالکل ښکاره دی. **عطن رابع** :- دمسئلودمتعلقه دځینوشبهاتوپه جواب کې **شبه اول** قران مجید کې محل دنکاح نساء فرمایلی ده مثلاً [فانکحواماطاب لکم من النساء] اونساء خاص ده بالغاتوسره **جواب** که څرته ددی حقیقت لغوي کیدل هم ثابت شي خوحقیقت شرعی کې کلام دی اوحقیقت اومجازکې هغه اصطلاح معتبرده چه په هغی کې تخاطب وي اګرچه قران مجید کې کوم حکمونه عام دی ورواولویوتولوته په هغی کې ځای په ځای لفظ نساء راغلیدی لکه ارشاددی لایسخرقوم من قوم عسی ان یکونواخیرا منهم ولانساء من نساء عسی ان یکن خیراً منهن (حجرات) سړوته سړوسره مسخره کول نه دی ښکارکیږ یشي هغه ددوي نه ښه وي اونه ښځوته دښځوسره مسخره اوخنداښکارده. کیدایشي هغوي ددوي نه ښه وي اودغه شان ارشاد دی. فان کن نساء فوق اثنتین فلهن ثلثاماترک. بیاکه چرته (وارث اولادکې) زنانه موجود وي (دوه یا) دوونه زیاتی نوهغوي ته به دمړی دمال نه دوه ثلثه ملاویږی. اوس ښکاره خبره ده چه دی دواړوحکمونوکې بالغواونابالغوکې څه فرق نشته اوچه دمستضعفین (کمزوری کړی شوي) په تفصیل کې داستعمال لغوي په بنیاد بانَدی دنساء نه وروستوولدان هم زیات کړوهلته دعذرپه وجه دضعف یادعفوتفویت راتلل داصل نه داوریدوسبب اوګرځیدواومابقی (چه کوم پاتی دی) هغه په خپل اصل پاتی شول. اودغه شان په نورروایتونوکې هم نساء په عام معنی کې راغلیده اوکه دیکې شرعی مجازهم اومنلی شي بیادنوروقطعی دلیلونه چه کوم مخکې تیرشول دیکې دتعارض نه دبچ کیدودپاره نساء په مجازبانَدی محمول کول واجب دی. **دویم اودریم شبه** دطرفه

دبعضو ایډیټرانو داخبارچه یوه شبه دایت مسکن ده دحدیث متعلق .چونکه ددی جواب مخکښ لیکلی شویدی (یعنی ددی رساله دلیکلو نه مخکښ) په دی وجه زه هغې لره سره دجواب هم هغه شان نقل کوم قوله سره دشبه تقریر او اقول سره دجواب تقریر لیکلی شي قوله :- دی کښ څه شک نشته چه یو مسلمان دپاره دالله دحکم نوعیت بدلول یوازی حرام نه دی بلکه نافرمان او مجرم جوړیدل دی خود نابالغو جینکو دنکاح جواز چرته هم په اسلام کښ نه ملاویږی اسلام کښ ددی څه حیثیت نه موندی کیږی ددی خلاف قران کریم څلورمه پاره کښ دولسمه رکوع کښ دنکاح عمر ښودلی شویدی . وابتلوا الیتمی حتی اذابلغوا النکاح **اقول** :- سړی چه په کوم فن نه پوهیږی په هغې ولی ګوتی وهی دایت مفهوم دتفسیرنو کښ اوګوری دلته دقابلیت نکاح نه مراد پوره قابلیت دی او پوره قابلیت بالغیدو سره راځی ځکه چه دهغې نه مخکښ دی دتوالد او تناسل (اولاد پیدا کیدل او نسل چلیدل) صلاحیت نه لری او دنکاح اصل مقصود هم دغه دی نو پوره قابلیت نه کیدو سره دا لازم نه دی چه دهغې نه مخکښ دنکاح جائز نه وي ګنی لازم به شي چه ترننه پوری چه قران نه څوک عالم پوهیږی او نه څوک مجتهد . ځکه چه دمجتهدینو داجماعی فتوي نه دمذهب کتابونه لیکلی شویدی چه دنابالغ دنکاح جائزده . **قوله** :- دنابالغ دنکاح په جواز کښ ډیر خلق دحضرت عائشة نکاح پیش کوي خو دابالکل غلط دی چه دعائشه نکاح دحضرت ﷺ سره داسی حالت کښ اوشوه چه هغه نابالغه وي مونږ فروری ۱۹۲۲ھ په بلاغ کښ ددی غلطی تصحیح کړیده کتاب اکمال فی اسماء الرجال په ترجمه ص ۱۲ باندی دحضرت اسماء په حالاتو کښ لیکلی دی چه دحضرت اسماء خوي عبدالله بن زبیر ﷺ ۷۳ھ کښ په پانسی خیژولی شوي وه او دا ددی واقع نه لس یاشل ورځی پس وفات شویده دی نه معلومه شوه چه دحضرت اسماء وفات هم ۷۳ھ کښ شویدی او دوفات په وخت کښ ددی عمر سل کاله لیکلی شویدی دی نه معلومه شوه چه دحضرت اسماء وفات هم ۷۳ھ کښ شویدی او دوفات په وخت کښ ددی عمر سل کاله لیکلی شویدی دی نه دا ثابتیږی چه ددی پیدائش دهجرت نه اوویشت کاله مخکښ شویدی او حضرت عائشه دحضرت اسماء نه لس کاله کشره وه په دی وجه حضرت عائشه دهجرت نه اولس کاله مخکښ پیدا شویده یاداسی ووایه چه دهجرت په وخت ددی اوولس کاله وه او پدیکښ چاته هم اختلاف نشته چه ددی دهجرت دوه یادری کاله پس شویدی نو دا اظهر من الشمس ده هم چه دواده په وخت دحضرت عائشه عمر نولس یاشل کاله وه دینه ثابته شوه چه

دحضرت عائشه نکاح په بالغوالی کښ شویده اوس خو ددی صحیح سند موجود دی . اقول :- څه خانسته سند موجود دی په کوم اکمال کښ چه یې دغه لیکلی دی په دغه اکمال کښ دحضرت عائشه په حالاتو کښ داهم لیدل پکاردی چه دنکاح په وخت کښ دحضرت عائشه عمر نهه کاله وه او واده دهجرت نه اتلس میاشتی پس شویدی او نکاح ددی نه دری کاله مخکښ دهجرت نه شویده نو دنکاح په وخت کښ دشپږو یا اوه کالو وه او دحضرت ﷺ په خدمت دا اتلسو کالو وه آه داځنګه خبره ده چه دا اکمال یو جز ومنی او بل نه منی اوس اکمال پریږده چرته بل ځای کښ ثابت کړه مونږ دا اکمال نه زیات په قوي دلیل سره ثابتو او وره صحیح مسلم کښ حضرت عائشه په خپله خپله قصه بیانوي چه دحضرت ﷺ ماسره نکاح وکړه چه کله چه زه داوه کاله اوم او واده اوشو کله چه زه دنهه کالو اوم او دحضرت ﷺ وفات اوشو کله چه زه اتلسو کالو اوم دصحیح حدیث په مقابله کښ تاریخ څه حیثیت نه لری مورخینو سره دمحدیثنو په شان سند نشته . **څلورمه شبه** :- متعلق ده دحدیث عائشه سره چه داحدیث فعل دی کیدیشي چه دادحضرت ﷺ خصوصیت دی . **جواب** :- دڅه خصوصیت احتمال دغیر ناشي عن دلیل سره نه ثابتیږی بیا عام او خاص دلیلونه چه ذکر شول دا دخصوصیت نفی کوي . **پنځمه شبه** :- دعالمانو دتصریح موافق نکاح عبادت محصنه نه دی ردالمحتار کښ راغلی دی . ذکره عقیب العبادت الاربع ارکان الدین لانه بالسنة الیها کالبسیط الی المرکب لانه عبادة من وجه معاملة من جه . مصنف کتاب النکاح دڅلورو وارو عبادتونو لمونځ زکات روژی او حج نه پس ذکر کړه چه ددین رکنونه دی ځکه دانکاح په نسبت سره دد عبادتونو داسی ده لکه څنګه چه بسیط په نسبت دمرکب وي ځکه چه دا من وجه عبادت دی من وجه معامله ده (نو دیکښ دوه صفتونه راغلل او ددی څلورو عبادتونو کښ صرف یو وصف دی دعبادت او دا ښکاره خبره ده چه یو او دوو کښ دبسیط او مرکب نسبت وي) [جواب] عبادت محضه کښ خو بعض حالتونو کښ هغه امورهم نه پاتی کیږی چه دهغې ددین جزو کیدل بغیر داختلاف نه منلی شویدی لکه روژه چه بعض حالتونو کښ پدیکښ وصف دعقوبت هم راځی لکه چه اصولیانو دکفاری په روژه کښ ددی تصریح کړیده خو سره ددی نه چه دیته څوک امر دینوي نه وایې دغه شان که چری نکاح کښ بل وصف دمعامله کیدو هم وي نو ددی سره ددی امر دینوي کیدل څنګه ثابت شول بلکه سوچ کولو سره معلومیږی چه وصف دعقوبت په نسبت سره وصف دمعامله ته عبادت نه ډیر لری دی ځکه چه عقوبت معصیت (ګناه) سره

مسبب دی چه دعبادت منددی اومعامله معصیت نه مسبب نه ده بلکه ډیروختونوکې عبادت سره مسبب کېږی لکه دحقوق واجبه اداکولو سره نوهرکله چه عبادت سره وصف دعقوبت یوځای شوبیاهم دی عبادت نه امردینوي جوړنه شونو عبادت سره وصف دمعامله یوځای کېدوسره دی عبادت نه څنګه امردینوي جوړیدی شي داسې مرکباتوکې غالب ته اعتبارورکېږي اونکاح کې ددغه عالمانودقول مطابق چاچه دیکې وصف دمعاملې مثلې دی غالب وصف پکې عبادت دی په دی وجه عطن اول کې چه کوم عبارت د ردالمحتارنه نقل کړی شوي وه (درسائلوچه کوم عبارت نقل شویدی دهغې عبارت جزودی) په هغې کې داوضاحت دی چه نکاح ته زیات نزدیکت دی څلوررکنونوسره دی جهاد، نفاق، وقف اوقربانی باندی ددی مخکې والی پدی بنیاد کړیدي اوښکاره خبره ده چه جهاد اودهغې په نورورکنونوکې جهت دعبادت غالب دی نوهغه شي ددی نه زیات دی څلورورکنونوسره مناسبت لري پدیکې وصف دعبادت غالب کېدوکې څه شبه کېدیشي اودی عالمانودااقوالونه قطع نظرددی مناسبت مضبوطوالی دحدیث مرفوع نه هم کېږی عن علی ان النبی ﷺ قال یاعلی ثلث لا تواخرهاالصلوة اذا انت والجنازة اذاحضرت والایم اذاوجدت کفواً رواه الترمذی (مشکوة) پدیکې دافرمایې چه نکاح زرکول واجب دی دایې دمانځه سره یوځای اوګرځول دی سره ددی مناسبت پوره تقویت کېږی وذکرسره فی العطن الاول وبتایدایضاکون وصف العبادة فیه غالباً علی وصف المعاملة بان المعاملات التی یتوقف انعقادهاعلی تراضی الجانبین یتوقف فسخهاایضاً علی تراضیهاوالعبادات المحضة یتفردالعامل بفسخها وکذالک النکاح یستقل الزوج بابطاله فسخهافکان مشابهة باالعبادات اقوی وباالمعاملات اضعف . [عطن خامس بلقب بحق وطن] په دیکې ددی قانون دنسخ دغوختومتعلق یومختصر کلام دی پدی وجه ددی عنوان اګرچه تغلیباً عطن کېخودی شو خواصل لقب حق وطن دی څکه چه ددی تعلق خاص دخپل ملک اودوطن دفائدواومصلحتونوسره دی خطبه کې داطلاع په عنوان کې ماددی مادی سیاسی طرف باندی دکلام کولوخپل علمی عذرپیش کړیدی اوهلته کې می دااحتمال هم ذکر کړیدی چه کېدیشي غیرسیاسی طور باندی په څه موقع ددی ذکرراشي نوهغه موقع داده چه دیکې دسیاسی کلام په ځای می خپلوورونړوته یوه مشوره پیش کړیدی اوهغه دادی چه حکومت

ته ددی قانون دنسخ درخواست په دووبنیادونوورکېدیشي یوپه دی بنیاد چه داقانون خلاف دی معاهده عدم مداخلت فی المذاهب دی که دابنیاداختیارکړیشي نوددی هم ضرورت دی چه په هغې کې تلاش کولوسره څواحتماله دی . (۱) یوداچه مراد ددی که هغه اموردی چه هغې ته احقرپه عطن اول کې امردینی وئیلی دی چه هغې کې نکاح هم داخله ده . (۲) دویم احتمال دادی چه ددی نه دهم عام معنی مرادوي یعنی هغه تول امورچه دهغې شریعت قانون ښودلی دی په دیکې تول دیانات اومعاملات راغلل (۳) دریم احتمال دادی چه دی نه مراد هغه اموردی چه عام خیال سره هغه ددین کارګنرلی شي برابره خبره ده که دین کې دهغې څه اصل وي اوکه نه وي په دی کې چه څه رنګ دینی اموریعنی لمونځ، اذان، روژه، حج، زکات، اونکاح وغیره داخل دی دغه شان په دیکې دمحرم رسمونه، شب برات، شعبان پنځلسم شپه، اودقبرونوعرسونه هم داخل دی (۴) څلورم احتمال دادی چه دی نه مراد تول معنی دریم سره دشفع، میراث وقف اوقربانی اوددی په شان دنوروڅیزونووي اونور عقلی احتمالات اګرچه نورهم کېدیشي خوتلاش سره دغه احتمالات اولیکلی شول چه دهغې یادژبوراخی اوکېدیشي چه ددي نه علاوه څه پنځم مفهوم وي اوهرحالت کې چه دلفظ مذهب مفهوم متعین کړیشي نواساني سره به دمعاهدی دخلاف کېدواونه کېدوفصیله هم وکړیشي اوډیراختلاف به ختم شي اوډیرسوالونه به هم حل شي په دی وجه څه سوالونه چه په ژبوباندی جاری دی دهغې جوابونه دنمونې په طور ذکرکولی شي

[اوړومبی سوال] که چری دنکاح داقانون مداخلت فی الدین وي نوبیع اوشراء (اخستل اوخرڅول) اودصحت دحفاظت قوانین هم مداخلت فی الدین دی حالانکه دهغې متعلق څه مطالبه نه شي کیدی. [جواب] دمذهب چه کوم معنی ذکر شویدی چه دهغې معنی په اعتبارسره دواړوکې فرق نه وي په هغې باندی خوجواب دادی چه دعدم التفات (توجه نه کولو) په وخت کې سکوت کولوسره دالتفات په وخت کې هم سکوت (چپ اوسیدل) کول لازم نه دی اودکوم معنی په اعتبارسره چه دواړوکې فرق وي نوجواب ښکاره دی اوهغه جواب چه په فرق مبنی دی ماپه خپل یوتقریرکې ذکرکړیدی. [اوهوهذا] الوپه شبه ددی خلقوداده چه شرعی جائز په قانون کې منع کول مداخلت کیدل پکاردی حالانکه دیته څوک مداخلت نه وایې ددی دوه جوابونه دی یوالزامی بل تحقیقی . الزامی جواب خو دادی چه

غوا گاني ذبح كول خو هم واجب نه دي جائز دي نو آيا يو مسلمان داخيال كولی شي چه دا د قانوناً جرم و گرځي او تحقيقي جواب دادی چه د جائز دوه درجې دي يو محض مباح چه په هغې کي څه حيثيت د دين او طاعت هم دي او معيار د هغې دادی چه د هغې ترغيب او فضيلت شريعت کي راغلی وي لکه نکاح چه د دې تاکيد راغلی دي او بغير د عذره د دې په پريخودو سزا هم راغليده دا د دي ده دين کيدو صفا دليل دی. په دې وجه فقهاء چه د نکاح قسمونه او حکمونه ليکلي دي په هغې څه درجه د مباح نشته او د څه عارض په وجه مکروه کيدېشي خو في نفسه اطاعت دی او فقهاء ديته د دې درجې اطاعت وئيلی دي چه دا يې داشتغال بالتعلم والتعلم والتخلی للنوافل نه هم افضل خودلی ده كذا فی الشامی نو د نکاح څه نوي قانون جوړول په دين کې مداخلت دي او د معالجه قانون جوړول دين کې مداخلت نه دی. **[دويم سوال]** مطلق نکاح دين دي په قيد د صغر سن (د ماشوموالی) خو دين نه دی **[جواب]** په دغه ذکر کړی شوؤ معنی کې چه کومه معنی هم وکړی نو دين دی په ديکې څه قيد نشته لهذا په هر عمر کې دين دا خو د دي جواب قانونی حقيقت دی او شرعی حقيقت د دی جواب په هغه چا موقوف دی چه څه مهارت د علم دين لري هغه دا چه شرعی فقهی قاعده ده چه کوم عمل د اطلاق په درجه کې چه کوم شان سره موصوف وي هغه کوم جائز قيد سره هم ادا کړيشي هغې شان سره موصوف وي لکه د ماسپخين لمونځ فرض دی او خاص په دی قيد سره چه دوه بجې باندی دا فرض نه دی خو که دوه بجې لمونځ او کړونو هغې ته به هم فرض وئيلی کېږی که څوک داسی قانون جوړ کړی چه دوه بجې کول جائز نه دی نو دا په دين کې مداخلت يقيناً دی دغه شان هر کله چه مطلق نکاح دين دی نو که صغر سنۍ (ماشوموالی) حالت کې او موسی دغه فرد ته به هم دين وئيلی کېږی نو د دی د منع کول قانون جوړول مداخلت فی الدين دی. او دغه شان قربانی کې وايې چه قربانی عبادت دی که چرته په قيد د بقره (غوا) وي نو هم عبادت دی نو د دی منع کول هم مداخلت فی الدين څخه بنه پوه کړه **[دريم سوال]** قانونی بالغيدونه مخکې څه خاص عمر کې فرض او اجب نشته **[جواب]** بعض حالتونو کې فرض او واجب هم کېديشي لکه بدن روغ وي او قوت مزاجيه زياته وي او تقاضا سخته وي داسی حالت کې فرض او واجب کېديشي دويم دا چه کوم معنی واخلی هم دين دی په ديکې د فرض او غير فرض څه فرق نشته لکه فرض لمونځ او نفل لمونځ نه منع کول دواړه برابره وي او دری دويم جواب مرجع هم هغه ده کوم چه د دريم سوال په جواب کې

ذکر شو دا ټول کلام په هغه وخت کې وه چه کله د نسخې ده درخواست بنياد په معاهده عدم مداخلت فی المذاهب وي او يو بل بنياد د نسخې د درخواست هم دی او دا بل بنياد د يا اسلم دی خاص کر هغه خلقو د پاره کوم چه سياست کې علماء او عملاً کمزوری دی هغه ته خوزه خاص کر د دی بنياد اختيار ولو مشوره ورکوم يعنی که کوي او د تحريک عام کولو د پاره کول خو ډير فائده مند دی او هغه دا دی چه حکومت ته به دا درخواست وکړی چه که چری دا قانون د خلاف معاهده کېدو په بنياد تاسو نه منسوخه وي نو د رحم او راحت ارام رسولو په بنياد يې منسوخ کړی آيا د قوم صرف د غه حقونه دی چه د فهرست معلوم کړيشي آيا د هغوي دا حق نه دی چه هغوي د تکليف او خفگان نه بچ کړيشي آيا وخت د حکومت د طرفنه د مصلحتونو رعايت نه شي کيدی او دی قانون سره چه کوم تکليفونه او مصيبتونه دی آيا هغه يقينی او ښکاره نه دی بيا د دی دوو مقدمونه پس د نتيجه ترتيب يعنی چه د قانون منسوخ کولو ده د هغې انتظار دی. دا خو حاکمانو ته خطاب وه خو په دی به اکتفا نه کوي بلکه د الله تعالی ﷻ نه هم دی غواړی چه الله ﷻ زموږ گناهونه معاف کړی دا گناه اصل ده د دوا يې د نازليدو او د حاکمانو زړونه د رعايت او لحاظ کمولو نه صفا کړی چه مناهی د عفو د پاره فرع ده والله الموفق تمت الرسالة نصف رجب / ۱۳۴۸هـ (النور/ ص ۳ تا ۱۹ / بابت ماه شعبان / ۱۳۴۸هـ

د ايت وابتلو اليتمیٰ نه د استدلال کول

چه د ماشوم نکاح جائز نه ده د هغې حکم

سوال :(۳۴۸) زيد د دی ايت وابتلوا اليتمیٰ حتی اذا بلغوا النکاح نه د استدلال کوي چه د بالغيدو نه مخکې د ماشوم هلک او جينی نکاح بالکل جائز نه ده که د ولی په اجازت سره وي او که نه وي ځکه چه بلغوا النکاح نه بالغيدل مراد دی تفسير بيضاوي کې راغلی دی حتی اذا بلغوا حد البلوغ بان يحتلم وبلوغ النکاح کناية عن البلوغ لانه يصلح للنکاح عنده او د بيضاوي په حاشيه کې دی لان المقصود من النکاح التوالد ولا توالد الا عند البلوغ. د دی عبارت نه معلومه شوه چه شريعت کې چه د نکاح کوم وخت مقرر دی هغه دی چه هغې کې په انسان کې د نکاح صلاحيت وي او د هغې نه مخکې نکاح کول صحيح نه وي لکه لمونځ کول د وخت نه مخکې او س دا معلومول غواړو چه دی ايت کې د نکاح نه عقد نکاح تړل مراد دی که وطی او دی ايت نه دا مسئله مستنبط کېديشي د دی خبری و يو نکې يو غير مقلد دی چه

دجمهورخلاف خبری کوي ددی دجواب ضرورت دی نو ددی دلیل څه جواب ورکول پکاردی مختصرنجور اولیکي چه خپله هم سری خوشحاله شي او بل چاته هم فائده وي

جواب: قوله لانه یصح عنده اقول. صلاحیت نه مراد تامه یعنی پوره صلاحیت دی قوله المقصود من النکاح الخ اقول صلاحیت تامه نه دغه صلاحیت دتوالد مراد دی. قوله دی عبارت نه الخ اقول اول خو عبارت معنی معلومه شوه دویم دبیضاوي تقلید به کله صحیح وي قوله او مخکي دوخت نه اقول وخت نه مراد یا وخت دجائز کېدو دی یا وخت دواجبیدو که وخت دجائزکېدو دی نو دا منو نو ددی وخت دجائزکېدو ثابت نه دی. اوکه وخت دواجبیدو مراد وي نو دا مقدمه نه منو په دی وجه اوس مخکي دوخت نه جائز دی قوله عقد که وطی اقول دواړه صحیح کېدیشي توله کیدیشي اقول نه قوله مختصر نجوړ اولیکي اقول ددی دلیل جواب خو اوشو چه هغی نه وروستو ده دعوي بغیر د دلیل نه پاتی شوه اوس دده نه بیا د دلیل مطالبه کافی ده او څوپوری چه هغه دلیل رانه وړی نو دهغه دعوي به نه شي اوریدی او جمهور قول صحیح دی اوس خاص دی مسئله باندی داحسان په طور دلیل پیش کولی شي چه په خپله حضرت ﷺ چه کله حضرت عائشه (ض) سره نکاح وکړه دا هغه وخت نابالغه وه دا په صحیح حدیثونو کي راغلی دی. ۱۸ رمضان/ ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی/ ص ۲۲۰)

خنثی (هیجړا) حکم

سوال: (۳۴۹) زمایو ورور دی په هغه کي څه نخښي پیدا شویدی چه هغی سره نه شي پیژندی چه نر دی که ښځه. (۱) وړومبی نخښه دا ده ذکر یي نشته او د ذکر په ځای دوړی ګوتی دسربرابر یو تکړه غوښه ده هغه غوښه دښځو د شرمګاه په شان هم نه ده او دهغی نه متیاز راوزی. (۲) دویم نخښه دا ده چه خصتین (اګی) هم نشته. (۳) هره میاشت دښځو په شان حیض هم راځی (۴) څلورمه نخښه دا ده چه دوه تیونه یي هم دښځو د تیونه په شان راوتی دی (۵) پنځمه نخښه دا ده چه شهوت یي هم شته که سړی سره څملی نو هغه طرفته یي خیال ځی او که ښځی سره څملی نو هغی طرفته خیال یي ځی (۲) شپږم دا ده چه منی یي چرته نه دی وتلی کېدیشي چه بندوي تاسو مهربانی وکړی ددی مسئلی جواب راکړی چه دا دښځو په حکم کي دی سړو. او دمونځ روژی اداکولو په وخت کي دڅنګه اداکولو حکم دي؟

جواب: دسوال نه معلومیږی چه دا کس بالغ دی په دی وجه دوړو یولو احتمالات خو نخښی نه جوړیږی. کمافی العالمگیریه بعدذکر هذه الاحتمالات قالوا وانما یتحقق هذا الاشکال قبل البلوغ فامابعدالبلوغ والادراک یزول الاشکال فان بلغ وجامع بذکره فهو رجل وکذا اذلم یجامع بذکره ولکن خرجت لحیة فهو رجل کذافی الذخیرة وکذا اذا احتلم کمایحتلم الرجل اوکان له ثدی مستور لوظهر له ثدی کثدی المرأة اونزل له لبن فی ثدیه اوحاض اوحبل اوامکن الوصول الیه من الفرج فهوامراة وان لم تظهر احدیٰ هذه العلامات فهوخنثی مشکل وکذا اذاتعارضت هذه المعالم کذافی الهدایة واماخروج المنی فلااعتبارله لانه قدیخرج من المراة کمایخرج من الرجل کذافی الجواهرالنیرة قال ولیس الخنثی یکون مشکلابعدالادرک علی حال من الحالات لانه امان یحبل اویحیض اویخرج له لحیة ویکون له ثدیان کثدی المراة وبهذا یتبین حاله وان لم یکن له شئی من ذالک فهورجل لان عدم نبات الثدیین کمایکون للنساء دلیل شرعی علی انه رجل کذافی المبسوط شمس الائمه السرخسی رحمه الله جلد ۷ ص ۲۸۵. دی روایت نه معلومه شوه چه کوروالی کول ګیره راوتل او دسړو په شان احتلام کیدل او تیونه نه راوتل دا ټولی نخښی ددی دی چه دا نر دی او تیونو کي یي راتلل یا حیض راتلل یا سړی ددی په فرج کي کوروالی کولی شي دا ټولی نخښی ددی دی چه دا ښځه ده د لته سوال نه معلومیږی چه دده حیض راځی او تیونه یي راوتی دی دا نخښی دده دښځی والی دی اوس دا کتل غواړی چه دتر په نخښو کي دده څه نخښه شته که نشته نو دا خنثی مشکل دی ګڼی دا ښځه ده او دښځو حکمونه زیات مشهور دی او دخنثی حکمونه هم کتابونو کي ذکر شویدی که بیا هم دتپوس ضرورت وي نو وکړی. ۱۲ ربیع الاول/ ۱۳۴۲هـ (تتمه خامسه/ ص ۲۵۳)

کنډولره ددویمی نکاح نه دمنع کولو حکم

سوال: (۳۵۰) کنډو ښځو لره ددویمی نکاح نه مبذول؟

جواب: فلماقال الله تعالی فلا تعضلوهن ان ینکحن ازواجهن اذاتراضوابینهم بالمعروف ذالک یوعظ به من کان منکم یؤمن بالله والیوم الاخرذالکم وازکی لکم واطهرالایه. وقال الله تعالی وانکحواالایامی منکم. وقال رسول الله ﷺ یاعلی لاتوخرثلثا وعدمنهاالایم اذاوجدت لها کفواالحدیث. اوکه داشرم عیب ګڼړی نو ویره دکفر ده لقوله تعالی فلاوربک لایومنون حتی

یحکموک فیماشجربینهم ثم لایجدوافی انفسهم حرجاًمماقضیت ویسلموا تسلیماً الایه ، ولقوله علیه السلام لایؤمن احدکم حتی یکون هواه تبعاً لماجئت به الحدیث ، امداد ، ص ۱۲۲ / ج ۲ ،

دیو سړي څوښځې وي نوځاوندلره دهري يوې کورکې شپه تيرول ضروري دي باديوي ښځې کورته تولي راوغواړي اوشپه تيره کړي داکافي دي

سوال : (۳۵۱) ديو سړي ددې ياځلورښځې دي هغه صرف يوې ښځې کره اوسيږي اوهلته خوراک څکاک اوخوب کوي اوبناهره غيروالـه ښځه هغه کورته دهغې دخوشحالي نه بغيراغواړي اوشپه تيروي هغه ښځې دخپلي بنی کورته تلل نه خوښوي بلکه مرګ پدی باندې غوره کوي اوهغه سړي وايي چه ماباندې صرف دالازم دي چه زه شپه تيرولوکې برابروالي وکړم اودهريوې نمبروالـه کورته تلل اوهلته شپه تيرول واجب نه دي اوهغه داهم وايي چه اګرچه حضرت ﷺ دهري نمبري والـه زنانې کورته تلواويوه بې بې يې دخپلي بنی کورته نه راغوختله خودهغه داعمل اختياري وه دهغه دي فعل سره په امت باندې داسې کول واجب نه دي اود يبيت عندها واقام عندها معنی داسې کوي چه ددې نه صرف شپه تيرول مقصوددی دانه چه هلته شپې تلل اوپاتې کيدل ثابت دي آيادې سړي دپاره داسې کول جائزدي اوداسې معنی کول دده صحيح دي بينوا توجروا؟

جواب : فی الدرالمختارولومرض هوفی بیته دعاکلافی نوبتها الخ وفی ردالمختارهذااذاکان له بیت لیس فیه واحدة منهن والافان لم یقدرعلی التحول الی بیت الاخری یقیم بعدالصحة عندالاخری بقدرمااقام عندالاخری ثم یقسم بینهما (قبیل الرضاع) وفی العالمگیریه لایجوزان یجمع بین الضرتین اوالضرائرفی مسکن واحد الابرضاء لهن للزوم الوحشة ولواجتمعت الضرائرفی مسکن واحدبالرضایکره ان یطاء احدهما بحضرة الاخری حتی لوطلب وطیها لم یلزمها الاجابة لاتصرفی الامتناع ناشزة ولا خلاف فی هذا المسائل (قبیل الرضاع فیما یتصل بذالک من المسائل) داروايت ددې سړي هري خبري لره باطل کوونکې دي اوددې سړي داکار بالکل جائزنه دي.

۲۷ رجب / ۱۳۵۲ هـ النور / ص ۷ / رمضان / ۵۷هـ ، کتبه اشرف علی عفی عنه

الصراح فی اجرة النکاح

په نکاح باندې پيسې اخستلوباره کې بيان

بعدالحمدوالصلوة والسلام الله تعالیٰ علی رسوله واله واصحابه الکرام . زما په زړه کې ډیر سخت داخيال وه چه دنکاح لوستونکې دپيسو اخستلو متعلق څه تحقيق وکړم خواتفاق سره نن خاص طورسره داسې استفتاء راغله نودهغې جواب چونکه لږتفصيل وليکلې شو چه هغې سره هغه ديوې رسالې برابرشويدی وجه دمضمون مناسبت سره الحق الصراح فی اجرة النکاح ددې نوم کېښودل مناسب معلوميږي داستفتاء وجه داوه چه احقريوځای يو حافظ صاحب دنيابت نه منع کړی وه پدې وجه دهغه خوې خپل پلارته ددې حکم شرعي باندې خبرولوباره کې داتحقيق وکړودهغه قيام بل ځای کې دې فبارک الله تعالی فيهم العبد محمداشرف علی عفی عنه

سوال : (۳۵۲) حضرت اقدس جناب مولاناصاحب مدظله العالی . السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته . حافظ صاحب رجسټرنکاح داونيل اوواپس يې کړه چه مولوي صاحب فرمايې چه اول خودامدنې جائزنه ده اوکه په رضايانارضا سره جائزهم وي نوداسې طريقې سره ناجائزکيږي چه تاسوديکې څه حصه قاضي صاحب ته ورکوي چه مقدمه درشوت ده رشوت جبريه خوجائزدی خودارشوت طبعي دي بغيردڅه دباؤنه صرف دقاندې اخستوپه غرض اخستل داپدي وجه ناجائزدي ، جناب والدصاحب دلته نشته چه داکاريې خپله کړی وي يايې څه انتظام کړی وي لهذازماداعرض دی چه دهغه خدمت کې تول حکمونه ددی دجائزکيدو متعلق ددې خط په ذريعه وراندې کړم چه انتظام کې اسانې وي ګنې خداې خبردی چه څنګه انتظام به کوي اوناحق هم په ګناه کې مبتلا کيدل راشي نوعرض دادی چه دضروري حکمونو متعلق راته خبرراکړی اوپه دې هم خبرراکړی چه آيادتنخواه په طورکه دچانه داکاروا خستې شي نوجائزدی يانه اوداهم داطلاع په طورعرض دی چه خلق دنکاح لوستونکې حق صرف ځلورانې ګڼړی باقي پوره روپۍ دقاضي په نوم وي چه هغې ته عطيه باندرانه څه چه وي وئيل پکاردي اوداسې هم ډيرکيږي چه دقاضي صاحب دنوم پيسې چه هغوي نکاح لوستونکې ته ورنه کړی نوخپله راځي او ورکوي يې ، اوس سوال دادی چه که

حافظ صاحب داکارونه کړی نو نورو خلقو نه دا امید نشته چه هغوي د مسئلو تحقیق وکړی نو دیری نکاح به د شریعت نه خلاف ترلی کیږی ؟

جواب : د دی مختصر جواب خو دادی چه مولانا محمد اسحق په مسائل اربعین د داسی سوال په جواب کي د خزانة الروایات نه دلیل نیولی دی او ددی د ناجائزوالی فتوي یي ورکړیدی پدی وجه هغه سوال او جواب سره د روایات نه نقل کولی شي . [**مسئله**] بعد نکاح بقاضی ووکیل وشاهدان که ازطرف عروس می ایند بخوشي خود بدون مطالبه شان چیزی دادن جائزاست یانه ؟ [**جواب مسئله**] دادن این مردما بدون مطالبه وجبر ازطرف ایشان مباح است واگر جبر کنند وخواه مخواه بکدد اصرار طلب نمایند وبگیرند پس مباح ومماسنه القضاة ل دراسلام ظلم صریح وهوان یاخذوامن الانکحة شیئا ثم یجزون اولیاء الزوج والزوجة بالمناکحة فانهم مالم یرضوابشئی من اولیاء هما لم یجیزوبذالک فانه حرام للقاضی والمناکح انتهی الجواب المذکور قلت فکماان الاجازة غیرمتقومة لایحل العوض عنها کذالک الجاه والعقود الفاسدة التی هی المنشاء فی الاکثرلهذاالاخذ کماسیاتی غیرمتقومة لایحل العوض عنـــها . او تفصیلی جواب دادی چه څه شي چاته ورکولی شي د هغی دوه حالتونه دی په عوض یا خو په عوض کي ورکولی شي یا بغیر د عوض نه او په کوم په عوض کي ورکولی شي هغه د دوحالتونو نه خالی نه دی یا خو د داسی شي په عوض کي وي چه شرعاً متقوم او د عوض قابل وي یا د داسی شي عوض کي وي چه شرعاً متقوم او قابل د عوض نه وي برابره خبره ده که حقیقتاً وي لکه عقود باطله کي چه کیږی یا حکماً لکه عقود فاسده کي چه کیږی او کوم چه بغیر د څه عوض نه ورکولی شي هغه هم د دووحالتونو نه خالی نه دی یا خو صرف د زړه خوشحالولو او ازادی سره ورکولی شي یا په ناخوښی سره ورکولی شي برابره خبره که ناخوښی کمه وي او که زیاته داټول څلور قسمونه شول . [**وړومبی قسم**] چه د متقوم شي په عوض کي حاصل شي

[**دوهم قسم**] چه د غیرمتقوم شي په عوض کي حاصل شي . [**دریم قسم**] چه بغیر د څه عوض نه د زړه په خوښی حاصل شي . [**څلورم قسم**] چه بغیر د څهٔ عوض نه په ناخوښی حاصل شي وړومبی قسم د اجرت (مزدوری) یا ثمن کیدو د وجه نه او دوهم قسم د هدیی او عطی کیدو د وجه نه حلال دی او دویم قسم د رشوت یا سود کیدو د وجه نه که د اسود حقیقیٔ یا حکمی او څلورم قسمی د ظلم او جبر کیدو د وجه نه حرام دی او س دا کتل پکار دی چه د نکاح لوستلو امدنی کوم قسم کي داخل ده چه د هغی هغه شان حکم ولګی که وړومبی قسم کي

سوال: (۳٦۵) زکوة کښی تصریحده چه دزکوة اداکولوپه وخت کښی که چرته نیت نه وی کړی نوخوبوری چه مال دفقیرپه قبضه کښی باقی دی دزکوة نیت کول جائزدی. بیرکس ښځی ته مهرورکړوخودورکولووخت کښی نیت نه ووکړی نوآیاداهم په هغی قیاس کیدیشی چه څوبوری مال ددی لاس کښی دی نیت کول جائزدی اووروستونیت کولوسره بغیراداکیږی که دوباره اداکول پکاردی ؟

جواب: هرکله چه ئی دورکولووخت کښی نیت نه ووکړی نوښکاره خبره ده چه داتملیك هبه ده اودادین اونه شوه اوددرمختاردتصریح نه معلومیږی چه دهدیه کیدونه وروستودامهرنه جوړیږی فی باب المهرمنه ولوبعث الی امرءته شیئاولم یذکرجهة عندالدفع غیرجهة المهرکقوله لشمع اوحناء ثم قال انه المهرلم یقبل قنیة لوقوعه هدیة فلاینقلب مهراخ قلت علله بوقوعه هدیة ووقوعه هدیع یکون باالذکرقضاء وبلاذکره دیانة فلمالم یتوکونه من المهروکان کونه مهرامترقفاعلی هذه النیة دیانة وقع هدیة فلاینقلب مهراً. په خلاف دزکوة چه په خپله زکوة هم تبرع ده اوهدیه هم تبرع ده. ددی بدلیدل غیرتبرع طرفته لازم نه راځی پدی وجه زکوة اداکیږی اومهرنه اداکیږی فقط والله اعلم. ۱۸ ربیع الاول (امدادص ۴۴)

ایامهرپه قسطونواداکول اونان نفقه ساقط کول جائزدی

سوال: (۳٦٦) دوه زره روپی مهرکه چرته دی شرط باندی مقررکړیشی چه میاشت کښی پنځه روپی دخرچ خوراك څکاك کپړوجامودپاره اداکړیشی نوداسی شوه لکه چه کال کښی شپیته روپی اداشوی نوداتعیین دمهرجائزدی یاکومی طریقی سره جائزکیدیشی ؟

جواب: دسوال عبارت واضح نه دی سوچ کولوسره دامعلومه شوه چه دسوال دوه جزه مقصوددی اول داچه مهرپه گڼروقسطونوسره اداکول چه په حساب دص دومره روپی به میاشت کښی درکوم دویمه داچه دمهرنه علاوه کومه خرچه نان ونفقه واجب ده هغه ئی ساقط کړه نوکه چرته دامقصودوی نوورومبی جزوجواب دادی چه داشرط جائزدی ځکه چه ددی حاصل مهرمؤجل

کیدل دی او دنیتی نی داصورت گرځولی دی نو دیکښې څه خبره دجواز منع کوونکی نشته دویم جز جواب دادی چه دی سره هغه نفقه (خروج) چه واجب ده نه ساقطیږی ځکه چه دهغې وجوب شیناً فشیناً دی چه کوم جز، ترڅوپورې واجب نه دی دهغه اسقاط کول لغو دی البتہ چه کومې ورځې تیرې شویدی هغې کښې معاف کولو سره هغه مخکښې هم معاف شوا و آینده دپاره چه ښځه مطالبه او کړی ورکول واجب دی او که منشاء دسوال داشبه وی چه نفقه اسقاط یو شرط فاسد دی او تعین دمهریه دغه ذکر شوی اندازې سره مشروط دی دی فاسده سره نو کیدیشی چه داتعیین هم فاسدوی نو ددی جواب دادی چه تعیین دمهر مبادله مال به مال نه ده او داسې عقود شرط فاسده نه فاسدیږی بلکه په خپله هغه شرط فاسد دی او هغه عقود صحیح پاتی کیږی کمافی الدر المحتار قبل باالصرف . ۱۲ رمضان س ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی ص ۷۹)

دپنځه ویشت نقدو روپو مهر په بدله کښې پنځه ویشت روپو سپین زرورکولو حکم

سوال : (۳۶۷) دزید مهر پنځویشت روپی دی او هغه یو یادوه کالی دپنځویشت روپو مهر کښې ورکړل ښځه او دهغې دکور خلق وائی چه دسپینوزرو نرخ نن صبا ډیر ارزان دی مونږته چه دپنځویشت روپو څومره سپین زر ملاویږی هغومره وزنی کالی ملاؤیدل پکاردی او خاوند وائی چه سپین زر دسپین زر په مقابله کښې برابر برابر حکم لری زمونږه مهر اداشو که چرته دینه زیات ورکړم نو سود به لازم شی دی صورت کښې دزید دذمه نه مهر ساقط شو یا دښځې دوینا مطابق په نورور کول پکاروی ؟

جواب : دزید په ذمه نقدی دی دهغې په بدله کښې غیر نقد ورکول ددواړو په رضا باندې مؤقوف دی او کوم شق چه خاوند رضا دی په هغې ښځه رضا نه ده او په کوم چه ښځه رضا ده هغه جائزنه دی په دی وجه حکم دی چه کالی دی واپس واخلی او نقدی دورکړی والله اعلم . شعبان ۱۳۲۹ھ (تتمه اولی ص ۹۲)

دمهر فاطمه رضی الله عنها تحقیق

سوال : (۳۶۸) ۳۲ نمبرته خلق مهر شرعی وائی ددی اصل څه دی دفاطمه رضی الله عنها مهر دانگریزی سکه مطابق څومره وو او داوقیه مقدار څومره دی ؟

جواب : معلومه نه ده چه ددی اصطلاح څه دلیل دی او دحضرت فاطمه رضی الله عنها او دغه شان دنورو خویندو رضی الله عنهم نی دولس نیمی اوقیه وو او یو اوقیه څلویښت درهم دی

نو پنځه سره درهمه شول او د درهم حساب یو خل مالګولی و څلورانی اودانی دولسمی حصی برابره دی انگریزی سکی سره نو پنځه سوه درهم او څه دپاسه بیسی شوی . (تتمه ثانیه ص ۳۳)

مرګ سره دمهر مؤجل تحقیق

سوال : (۳۶۹) څه فرمائی علماءدین او مفتیان شرع متین دی باره کښې چه دزید نکاح دهندی سره پنځه شپږ کاله وا و شول په بدل ددوه زرو مهر مؤجل شویوه دمهر څه حصه نکاح په وقت کښې نه ده اداکړی شوی دنکاح نه وروستو ښځه همیشه خاوند سره او سیده او دهغې دوه دری بچی پیداشول چه وفات شول . ښځه دغم او خفګان دوجه نه دخاوند د رضا نه بغیر مورپلار کره لاړه او دخپلو انو په بوتللو خپل ټول مهر غواړی او خاوند کورته نه راځی . حالانکه خاوند ددی په رابللو باندی خوشحال دی تر اوسه پورې څه قسم طلاق وغیره هم نه دی شوی داسې صورت کښې دنتجی مهر غوختل شرعاً جائزدی یانه . او ښځې ته پدی صورت کښې دمهر وصولولو حق حاصل دی یانه دزید دوروولی رواج دمهر مؤجل دی او تر اوسه پورې یو ښځې ته دخاوند دطلاق نه مخکښې په ژوند کښې مهر نه دی اداکړی شوی او نه چا غوختلی دی او نه داسې رواج دی . دطلاق او دمرګ یا دخاوند دمرګ نه وروستو دمهر لین دین رواج دی ؟

جواب : مؤجل هغه ته وائی چه هغې کښې وروستووالی شرط وی او چه کوم کښې څه شرط نه وی هغه معجل دی اګر که تعجیل شرط نه وی که چرته دا شرط مقرر کړی چه طلاق او مرګ پورې مهلت دی نو بیا نو مؤجل دی او که دا شرط نی نه دی مقدر کړی اګر که دا شرط هم نه وی مقدر کړی چه مخکښې به اخلم نو هغه مؤجل دی غالبا سوال کوونکی لکه څنګه چه دعبارت دطرزنه معلومیږی دتعجیل شرط نه مقررولو سره مهر مؤجل حساب کړیدی خودا صحیح نه دی او فقهاء چه کوم تاجیل باالطلاق والموت نه جائز و ئیلی دی دهغې معنی داده چه دغه شان دتاجیل شرط مقرر کړیشی او که چرته شبه وی چه واقعی تاجیل شرط سره کیږی خو عرف او عادت په منزله دشرط دی او په سوال کښې تصریح ده چه دهندی داکار درواج خلاف دی نو عریف او عادت دوجه نه موجل باالطلاق والموت کول پکاردی لکه څنګه چه شرط سره کیږی ددی جواب داچه ددی داعرف او عادت مطلقاً کیدل غیر مسلم دی داعرف هغه وخته پورې دی څو پورې چه خپله کښې موافق وی کنی غم او خفګان کښې مطالبه کول هم عرف او عادت دی نو زما په نزد شرعاً هندی ته دمهر غوختلو حق حاصل دی . ۱۹ رجب س/۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۵۶)

یوه زنانه دمرض دوجه نه دکوروالی قابله نه وي دهغي دمهر حکم

سوال : (۳۷۰) څه فرمائي علماء کرام په دی مسئله کښي چه زید هندی سره نکاح اوکړه اوواده نه پس ئي کورته راوسته چه کله ئي شپي ته اراده دکوروالي اوکړه نودد خول ځاي ډیرتنگ اوتامعلوم وو زمونږپه زمانه کښي یوماهرپوهه حکیم سره ددی خبره اوشوه نوهغه دکتلونه ورستو صفااووئل چه دا ښځه حقیقت کښي ښځه نه ده بلکه مخنثه ده (هیجړا) اوداتکلیف هیچري هم نه صحیح کیږي اوداهیجړي دسړي لائق نه شي جوړیدی نوداسي صورت کښي هنده دزید نه خپل مهراخستي شي یانه که اخستي شي نوڅومره اخستي شي اودهندی ولي چه دده هوکه اوفریب دوجه نه کوم واده دهندی اوکړه زید دخپل واده خرچه اخستي شي یانه بینوتوجروا؟

جواب : فی الدرالمختارباب المهروخلوة متبداخیره قوله الا تی کالوطی بلامانع حسی وطبعی وشرعي ومن الحسی رتق بفتحتین التلاحم وقرن باالسکون عظم وعص بفتحتین غدة الخ . وفی ردالمختارقوله عظم فی البحرعن المغرب القرن فی الفرج مانع یمنع من سلوک الذکرفیه اماغدة غلیظة اولحم اوعظم قوله عفل بالعین المهملة والفاء وقوله غدة بالغین المعجمة ای فی خارج الفرج ففی القاموس انه شئی یخرج من قبل المرءة وشبیهة بالادرة للرجال (ج۲/ص۵۵۵) ددی روایت نه معلومه شوه چه صرف دی مرضونوکیدوسره دانه ده چه ښځه پاتي نه شوه البته خلوت داسي ښځي سره دکوروالي په حکم نه دی په دی وجه دی خلوت سره پوره مهرلازم نه راځي البته که چرته طلاق یې ورکړونونیم مهرلازم راځي . اوکه ښځه خاوند کي یومړشي نوپوره مهرلازم دی . ۱۲ ذی قعده/ ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه/ص۹۴)

رساله تعدیل اهل الدهرفی درجة تقلیل المهر [1]

تمهید/ دمهردکموالي تحقیق

سوال : (۳۷۱) دریاست جاوره طرفنه یوخط سره دمضمون نه دمشورې په طورراغی دمهرزیاتوالي سره متعلق ووچه دازیاتوالي دکم کړیشي چه دهغي جواب دلته نه اولیکلي شوروسبي دخط نقل کولي شي بیاجواب چه هغي کښي ددی مضمون خلاصه اخسته شویده نقل کولي شي

دریاست جاوره دخط مضمون

په خدمت کښي دمولانااشرف علی تهانوی دام فیضه السلام علیکم!
جاوره یواسلامي حکومت دی ددی مسلمانان دومره زیات مهرمقرروي چه هغه طریقي سره نه شي اداکولي دابي اعتدالي مذهبي نقطه نظرسره هم بنده ده زمادهدایت مواقق دلته دښار مفتي صاحب داتجویزپیش کړیدی په دی کښي دحیثیت مطابق صفاحدبندي نشته په دی وجه دخدمت مکلف یم که تجویزکښي بدلیدوځه گنجایش وي نومهرباني اوکړي دهغي اصلاح اوفرمائي یادشریعت دحکمونودلاندی داسي تجویزاوفرمائي چه دی سره داذکرکړی شوی بی اعتداليانی بندی شي . فقط ؟

جواب : (کماف ردالمختارباب المهرتحت قول الدرالمختارورواية الا قل تحمل على المعجل) ويعضوځايونوکي دمخکي اوورووستوروکولوکي نيم مهرورکولو عرف اوعادت هم دی په دی وجه که قضاءً داتجویزوکړی شي چه نیم مهرمعجل یعني مخکي دډخول نه ورکړی اونیم موجل یعني موخرالی الاجل المشروط والمعروف ورکړی خودی صورت کي حدهم رانغی اواصل مقصود یعني کموالي دمهرپه اندازی دوس ورکولوهم حاصل شوځکه چه دوس نه زیات نیم ورکول هم عادتاً گران دی الخ که دتجویزحاصل دادی نوجوابکي عرض دادی چه مقدمي تول صحیح دی خودی یوجزوبل هم زیاتول پکاردی هغه داچه که دزیات مهراندازه په یوه ډله کي رواج وي نوترڅوچه رواج نه وي بدل شوي هغه وخته پوری به دغه اندازه دزیات

---

[1] دی رساله ته رساله بالاالتشبيه لاهل السفاح سره زیات مناسبت دي ځکه اول کي بعضوصورتونوکي دزیاتوالي دمهرمانعیت عن النکاح نفی مقصودده اودویمه کي بعضوصورتونوکي دزیاتوالي دمهرممنوعیت فی النکاح اثبات مقصودي ۱۲ منه

مهرشرعاً مهرمثل اوگرخولی شی اوډیرحکمونه ، لکه ددی نه په کم باندی بعضوصورتونو کې
نکاح نه صحیح کیدل اوبعضوصورتونوکې نکاح فسخ کیدل وغیر ذلک هغه به دی اندازې
سره متعلق کریشی . البته په خپلوددی رواج بدلیدل به بیاهم یوه درجه کې ماموربه وي . اوس
ددی زیاتوالی نه پس دهغی ذکرشوي تجویزباره کې عرض دی ، اول څوروایتونه لیکم چه کوم
سره دمسئلی تعلق دی بیادهغی نتیجه پیش کوم . **الروایات هذه الروایة الاولیٰ** :- فی الهدایة
کتاب الکراهة ولاینبغی للسلطان ان یسعرعلی الناس لقوله ﷺ لا تسعروا الحدیث ولان الثمن
حق العاقدفالیه التقدیرفلاینبغی للامام ان یتعرض لحقه الا اذاتعلق به دفع ضررالعامة علی ماتبیّن
الیٰ قوله فان کان ارباب الطعوم یتحکمون ویتعدون عن القیمة تعدیافاحشاً وعجزالقاضی عن
صیانة حقوق المسلمین الابالتسعیرفحینئذٍ لاباس به بمشورة من اهل الرآی والبصیرة فاذافعل
ذلک وتعدی رجل من ذلک وباع باکثرمنه اجازه القاضی وهذا ظاهر عنداَبی حنیفة رحمه الله لانه
لایری علی الحروکذا عندهما الا ان یکون الحجرُعلی قوم باعیانهم الخ . وفی النهایة ای
کذاظاهرعندهما لانهما وان رأیاالحجرعلی حرمعین اوقوم باعیانهم اماعلی قوم مجهولین فلارءهما
کذلک فلایصح الخ . **الروایة الثانیه** فی روح المعانی تحت قوله تعالیٰ اطیعوالله واطیعوالرسول
واولی الامرمنکم وهل یشمل (المعروف) المباح ام لا فیه خلاف فقیل انه لایجب طاعتهم فیه
لانه یجوزلاحد ان یحرم ما حلله الله ولا ان یحلل ما حرم الله وقیل تجب ایضاً کمانص علیه
الحصکفی وغیره وقال بعض محققی الشافعیة تحت طاعة الامام فی امره ونهیه مالم یامربمحرم وقال
بعضهم الذی یظهران ماامربه فمالیس فیه مصلحة عامة لایجب امتثاله الاظاهراً فقط . بخلاف
مافیه ذلک فانه یجب باطناو کذایقال فی المباح الذی فیه ضررللماموربه الخ . (قلت وهذا
الظاهریجمع بین جمیع الاقوال فالوجواب یحمل علی الظاهروعدم الوجوب علی الباطن
وفیمایضرالعامة علی الوجوب ظاهراً اوباطناً والقواعد تقتضی ترجیح هذاالظاهر والله اعلم]
الروایة الثالثة] فی الهدایة کتاب احیاء الموات فصل کری الانهار فیا لاول (ای النهرالذی
هوغیرمملوک لاحد) کریه علی السلطان من بیت مال المسلمین فان لم یکن فی بیت المال شئی
فالامام یجبرالناس علی کریه احیاء لمصحلة العامة اذهم لایقیمونها بانفسهم وفی مثله قال

عمر رضی الله عنه لوترکتم لبعتم اولادکم الاانه یخرج له من کان یطیقه ویجعل مؤنته علی المیاسیرالذین
لایطیقونه بانفسهم الخ .

[**الروایة الرابعه**] وفی الدرالمختارتکبیرات العیدین عن المعراج طاعة الامام فیمالیس بمعصیة
واجبة وفیه بعد اسطران امرالخلیفة لایبقی بعدموته اوعزله کماصرح به فی الفتاویٰ الخیریة رحمه
الله لونهی عن سماع الدعویٰ بعدخمس عشرة سنة لایبقی نهیه بعدموته والله اعلم [**الروایة
خامسة**] فی ردالمختار کتاب الحجرتحت قول الدرالمختار بل یمنع مفت ماجن وطبیب جاهل
ومکارمفلس ما نصه اشاربه الی انه لیس المرادحقیقة الحجروهوالمنع الشرعی الذی یمنع
نفوذالتصرف لان المفتی لوافتیٰ بعدالحجرواصاب جازوکذا الطب وباع الادویة نفذفدل علی ان
المرادالمنع الحسی کما فی الدرر عن البدائع الخ ، اوس دی روایتونو باندی نتیجه متفرع کوم چه
داذکرشوي تجویزونه دوجه دجامعیت نه اوبل داچه دیکې تول رعایتونه دشریعت اوعادت
موجودوي په دی وجه ډیرغوره اومستحب دی دی وخت کې ددی نه ښه تجویزماذهن کې
حاضرنه دی اودزیات سوچ قابل داخبره ده چه ددی تجویزدتنقید درجه به څه وي که چرته قانون
لازمی جوړول دی په دی شان سره چه که متناکحین ددی خلاف معامله وکړی یعنی نیم
مهرنکاح نه مخکې ورنه کړی نودی معاملی ته به باطل اوکالعدم وونیلی شی اوبه زوره یې
دمهرمخکې ورکولوډپاره مجبورکړی نوبیاخوشرعاً داسی قانون جوړول جائزنه دی . **دلیله
الروایة الاولیٰ** که چرته په دی باندی شبه وکړیشی چه مسلمان حاکم ته اګرچه داسی قانون
جوړولواختیارنشته چه هغی سره شرعی حکم کې بدلیدل راشی خوبعضی مالی تصرفاتوکې
وختی طور باندی دامتناعی حکم ورکولو اختیارشته چه دهغی مکمل قانون دفقی په
کتابونوکتاب الحجرکې ذکرشویدی اودحجر حقیقت یالازم بطلان تصرف دی دهغی جواب
دادی وروسبی خودلته دحجرسبیونه نشته لکه څنګه چه ښکاره ده اودحجردسبیونوپه صورت
کې دمنع کولونه وروستوامام هم تصرف نه شی باطلولی دلیله الروایة الخامسه حیث لم یبطل
بیع الادویة وغیرها بعدالمنع ایضاً ، دویم دیکې شرط دادی چه هغه محجورعلیه معین وي
برابره خبره ده که یوازی وي اوکه ډله وي په وروسبی روایت کې هغی هم تصریح ده فی قوله
فاذافعل ذلک الی قوله فلایصح اوښکاره خبره ده چه محل تکلم فیه که څه ډله هم معین نه ده
محجورعلیه همیشه بدلیږی پدی وجه حجرقاعده هم دلته نه شی جاری کیدی اوکه داشبه وي

چه اګرچه زیاتوالی دمهرمباح دی خوکه مسلمان حاکم څه مباح منع کړی نومحکومینوباندی دهغی اطاعت واجب دی اودواجب په پرېخودوباندی تعزیرجائزدی بس تنقیدپه طوردحجرسره دنه کیږی ترڅو زیاتوالی دمهربادتاجیل مهرالتزام دی باطل نه کړیشی خوخلاف کولوباندی تعزیرمقرروي اودمسلمانانوحاکمانواطاعت واجب دی ددی تصریح په قران اوحدیث کې شته اوښکاره خبره ده چه ددی محل هغه امردی چه فی نفسه مباح وي کنی واجب یاحرام کې په خپله امراونهی شرعی پوره ده په دی کې داولی الامرڅه دخل ؟ ددی جواب دادی چه اول خویه خپله ذاتی طوردامسئله خلاف ده چه هغی کې تحقیق دادی چه که چرته هغه امرداسی وي چه هغی کې عام مصلحت وي اوخلاف کولوعام ضرروي نوبیااطاعت ظاهراً اوباطناً واجب دی اوکه چرته داسې نه وي نوصرف ظاهراً واجب دي دی پاره چه فتنه نه وي باطناً واجب نه دی ځکه چه دخپل ضرر دالتزام هرچاته اختیاردی اوکه ددي نه قطع نظراطاعت مطلقه ته واجب اوګڼلی شی بیاهم حاکم ته داسی جبری حکم ورکول جائزنه دی اګرچه دحکم ورکولونه پس اطاعت واجب دی داټول تفصیل دویم روایت کې دی اودغه شان دضررعام قیدپه دریم روایت کې ذکردی اوحاکم دپاره دداسی دعام جائزکیدوتائیدپه مسلم شریف فضائل فاطمه کې موجود دی. عن المسوربن مخزمه فی قصة خطبة علیؓ بنت ابی جهل قال ﷺ انی لست احرم ولااصل حراماً الحدیث. وګوره حضرت ﷺ سره دناخوښی نه حضرت علیؓ ته نهی اونه فرمائیله بلکه هغه نهی یې تحریم حلال کې داخله کړه. دغه شان حضرت مغیثؓ دحضرت بریرهؓ تامرنی. حضرت ﷺ بریره ته امرونه فرمائیلوبلکه دهغی په دی تپوس باندی چه یارسول الله ﷺ مجبوره نه کړه کذافی المشکوة باب بعدباب المباشرة عن البخاری واماامره ﷺ عبد اللهؓ وزینبؓ بالنکاح فکان للمصلحة العامة التشریعیة فی مثل هذاالمقام اوهومن خصوصیاته ﷺ فی خصوص الواقعه اوکان المعالجة التحقرة وهومن باب ازالة المنکر. بیاددی ټولونه قطع نظرداسی حکم دائمی نه شی کیدی دحاکم ژوندپوری به باقی پاتی کیږی بیابه باطل کړیشی دهغی نه پس حاکم ته به خصوصیت سره دتجدیدحاجت وي. کمافی الروایة الرابعه. اوکه داشبه وکړیشی چه هرکله ته سزاورکول پکاردی لکه څنګه چه عام منکراتوکې اجازت دی. جواب دادی چه دامنکرپه درجه دمعصیت کې نه دی چه په هغی باندی سزاورکول جائزوي داداسی منکردی لکه طلاق بلاوجه چه دیته په حدیث کې البغض وئیلی شویدی اومهرکې داسی یولفظ هم نه دی راغلی بیاهم په

طلاق څه سزانشته که چرته داووئیلی شی چه بعض حدیثونوکې مهرادانه کولوباندی دنیت نه کولووعید راغلیدی چه دهغی تشبیه زانی سره ورکوي چه دی سره ددی معصیت کیدل معلومیږی اوښکاره خبره ده چه دبرداشت نه زیات مقدارد پاره عدم نیت عادتاً لازم دی جواب دادی په داوعید مهرپه زیاتوالی باندی نه دی بلکه نیت عدم اداء یاعدم نیت اداء باندی دی اودی دپاره نه زیاتوالی مستلزم دی اونه کموالی مانع دی دواړوسره ددی تحقیق اوعدم تحقیق جمع کیدیشی. دویم علت ددی وعیدخداع (دهوکه) ده لکه چه ددی حدیث په بعضوطرقوکې موجوددی او کله منکوحې ته معلوم وي اوهغه پدی خوشحاله وي نوعلت وه نه موندی شوددی پوره بحث داحقرپه رساله تحقیق التشبیه[1] باهل السفاح لمن لایریداداء المهرفی النکاح کې دی. نوددی معصیت کیدل چه موجب وګرځی دتعزیرثابت نه شو. داټول کلام په هغه صورت کې دی چه کله داصل تجویز تنقیدپه درجه دجبرکې وي اوکه صرف په درجه دترغیب اومشوره کې وي نوهیڅ باک نشته هرطریقی سره ښه خبره ده لکه څنګه چه ښکاره ده اوکه شبه وکړیشی چه وګوره په وروستی روایت کې تسعیرجبری ته فی نفسه ناجائزوئیلی دی خودتعدی فاحش په وخت کې یې جبرته هم اجازت ورکړیدی دغه شان که کموالی دمهرباندی که چرته هم فی نفسه ناجائز ووایې خوزیاتوالی سره تعدی فاحش پیداشی نودیکې هم جبرته اجازت ورکول پکاردی بلکه درمختارکتاب الکراهة عام غلاء کې دامام مالک ؒ نه دوجوب تسعیرقول نقل شویدی جواب دادی چه هلته په عدم تسعیرکې عام ضرردی اودلته په زیاتوالی دمهرکې یاعدم تعجیل کې خاص ضرردی چه په هغی باندی ښځه اوخاوندراضی شی فافترقا دی سره دیوي بلی شبه هم جواب وشوچه احتکاراقوات (دخوراک سامان جمع کول) کې مخالفت باندی تعزیرمشروع دی کمافی الدرالمختارکتاب الکراهة فان لم یرجع بل خالف امرالقاضی عذره بمایراه ردعاً له الخ. جواب دادی چه دیکې ضررعام دی اوکه داشبه وکړیشی غالباً دا اخیری شبه ده چه امرمجتهدفیه کې که مسلمان حاکم یوشی متعین کړی نوهغه واجب ګرځی اومخکې ورکول دبعضی مهروجوب مجتهدفیه دی لکه څنګه چه دسوال په خلاصه کې ذکرشواودواجب په پرېخودوباندی تعزیرجائزدی. الجواب:- دادی چه دابعض معلومه نه دی خاتم حدید (اوسپنی ګوتی) سره هم په دی شرط چه ښځه رضاوي واجب اداکیږی نوددی سره دنیم مهرمخکې ورکولووجوب څنګه ثابت شو. ولکن هذا

[1] دارساله وضعی ترتیب سره ددی رسالی سره متصل ده ۱۲ منه

اخر الكلام +ف هذالمقام +والله ولي الاحكام ف كل حلال وحرام +واری تسمية هذالعجالة بتعديل اهل الدهر+ف درجة تقليل المهروتلقيهابحسن المشاورة+ ف استفسار رباسته جاوره والحمدلله المفضال المنعام على اقام المرام وصلى الله تعالى على نبيه سيدالانام الف الف صلوة وسلام الى يوم القيامة . ۲۷رجب/ يوم الجمعة ۱۳۵۲ھ (النور/ شعبان/ ۱۳۵۳ھ/ صـ ۷)

قبض بودن تخلیه صاحب حق

سوال : (۳۷۲) یوزنانه خپل مهرنه اخلی اونه خاوندمعاف کوی داسی حالت کښی سری خپله غاړه څنګه خلاصولی شی ؟

جواب :دهغی مخی ته به داسی کیږدی چه که هغه اوچتول غواړی نواوچتولی شی اودهغی خای نه به ته لری شی ستاغاړه خلاصه شوه اوکه هغی زنانه اوچت نه کړه بل چااوچت کړل نوهغی روپی دښځی ضائع شوی اودخاوندغاړه خلاصه شوه اوکه بیاخاوندرااوچتی کړی نوخاوندسره به امانت وی په پدی خاوندی ته تعرف کول جائزنه دی . (تتمه ثانیه ص ۱۳۵)

حکم معاف کردن منکوحه حقوق خودبذمه شوهر

سوال : (۳۷۳) که چرته یوه ښځه بغیردجبراواکراه صرف په خپله خوښه یاخپل څه مصلحت سره خپل ټول حقوق چه خاوندسره متعلق دی یوخاص وخت پوری یاهمیشه دپاره معاف کړی یاڅه خاص حق معاف کړی نوخاوند دهغی نه دهغی دحقونومتعلق خلاص دی؟

جواب : آوخوهغه ښځی ته دهغی وخت نه وروستوهروخت دواپسی اودرجوع حق شته اوخاوندباندی واجب دی چه دهغی اطلاع هغی ته ورکړی چه تاته هروخت درجوع حق شته . ۲۵/ جمادی الاخری/ ۱۳۳۲ھ (تتمه خامسه / صـ ۸۸)

ترجیح عدم عفومهردرصورت کثیربودن مال متروک میت

سوال : (۳۷٤) زیدوفات شودوته ورنڼه یوه خورموراوښځه تری پاتی شول اومال ئی هم دومره پریخودوچه دښځی مهراداکولونه وروستوهم ډیرمال پاتی کیږی خودزیدورورخواوموردغه مال اومهردی ښځی ته معاف کول غواړی اوڅه دنیانه غواړی دی صورت کښی معاف کول غوره دی که اخستل ؟

جواب : ظاهرا خومعاف کول غوره دی خوچه ژورنظرسره اوګورونواخستل افضل دی څکه چه ددی معافی غوختوبناء په حرص دی چه ډیرپدشی دی اودامعاف کول په دغه بدشی کښی امداد کول دی . رمضان س ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص ۲۹۵)

دیوهندوښځی سوالونه داسلام اوجهیزدکالواودخپلی لوروشیره په باره کي

سوال : (۳۷۵) زه دهندانونه یم اوداتوکالوکنړه شوی یم مادخپل مذهبی رسمونوموافق دخپلی لس کلنی لورواده کړیدی خولوس رخصتی درواج موافق نه ده شوی آیامونږدواړه مسلمانیدی شو؟

جواب :آومسلمانیدی شی

حکم معافی مهرصغیره بعوض طلاق

سوال : (۳۷٦) اودمسلمانیدوپه صورت کي زمادلورخسرګنی په عدالت کي څه قسم دعوي کولی شی ؟

جواب : دعدالت قانون خودوکیلانونه تپوس وکړه باقی دشریعت حکم دادی چه مسلمانیدوسره نکاح ماته شوه اوخسرګنی ته دعوي کولوڅه حق نشته بلکه که چرته جینی نابالغه وي نودمسلمانیدوسره دجینی نکاح ماته شوه

حکم معافی مهرصغیره بعض طلاق

سوال : (۳۷۷) څه فرمائی علمادین په پدی مسئله کښی چه یوه جینی چه دهغی عمرڅوارلس کاله دی اودهغی خاوندبالغ دی دجینی دبالغیدوڅه نخښی نه دی ښکاره شوی اودهغی تره بل خال کښی موجوددی اوموریلاردهغی نشته وارث ئی تره دی هغه جینی دخپلو ماماګانوسره ده اوس که چرته جینی خپل مهربخښل غواړی نوڅنګه به بنی بخښنی که چرته دهغی تره منظورنه کړی نوهغه به څرنګه بخښی دهغی خاوندهغی ته دمهربخښلوپه شرط باندی طلاق ورکول غواړی .بینوتوجروا؟

جواب : چونکه هغه نابالغه ده دهغی تره منظورهم کړی بیاهم مهرنه شی معاف کیدی که خاوند طلاق ورکړی نوطلاق اوشوخومهرساقط نه دی، ف الدرالمختارخلع الاب صغيرته

یطأها ومهرها حلقت فی الاصح کما لو قلت هی وهی ممیزة ولم یلزم المال لانه تبرع الیٰ قوله وان شرط ای الزوج الضمان علیها ای الصغیرة فان قبلت وهی من اهله بان تعقل ان النکاح جالب والخلع سالب طلقت بلاشئ بعدم اهلیة الغرامة وان لم تقبل اولم تعقل لم تطلق وان قبل الاب فی الاصح زیلعی ولو بلغت واجازت جاز فتح وفی رد المحتار قوله وان قبل الاب لان قبوله شرط وهو لایحتمل النیابة فتح قوله فی الاصح وفی روایة یصح لانه نفع محض اذ تتخلص من عهدته بلامال فتح ج ۲ ص ۹۳۵ / رمضان / ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۲۷)

باب المحرمات وغیرها / باب دی په بیان دهغه ښځو حرام کړوشو وغیره کښې

سوال : (۳۷۸) هنده دزید دزنانه شوېده چه دهغې پلار هغې پلار عمرو دی دزید نکاح سره جائزده یانه . بعضو عالمانو فتوې ورکړېده چه جائزنه ده ځکه چه حنفیاتو په نزد زناسره حرمت مصاهرة ثابتیږی خوزید وایي چه که هندی سره زما نکاح وشوه نوزه به دټولو لویو ګناهونو نه چه اوس یې کوم توبه به اوباسم داسې صورت کښې که دی دبل امام په مذهب چه دکوم په نزد زناسره حرمت مصاهرة نه ثابتیږی عمل وکړی نوجائزدي یانه ؟

جواب : چونکه تقلید شخصی پرېخودل بغیردسخت ضرورت نه په صحیح دلیلونو سره ثابت شوېدی او دزید داعذرپه سخت ضرورت کښې داخل نه دی پدی وجه حنفی ته په دی باب کښې دبل امام په مذهب باندی عمل کول جائزنه دی او دانااشنا خبره ده چه که چرته ددی اجازت اوشونوزه به دټولو لویو ګناهونونه توبه اوباسم اول خو داپه خپله غټه ګناه ده نو داوښیل داسې دی چه که چرته درشوت اجازت اوشی نوزه به سود نه توبه اوباسم بل داکه توبه اوباسې نوبه چاباندی احسان دی اوتوبه اونه باسې نودچانقصان دی معاذالله . داخو ګویاشریعت باندی دباؤ اچول دی بس شریعت باندی عمل کول دخپل کامیابی دپاره دی شرع مستغنی محض ده . فمن شاء فلیؤمن ومن شاء فلیکفر . یمنون علیك ان اسلموا . دریم داچه که چرته اوس هم توبه اونه کړی نودچابه څه اوکړی دنامعلومی فائدی دپاره یقینی ضرور اجازت ورکولو به وبال کښې به ځوك ګرفتاروی . فقط ۱۸/ شعبان س/ ۱۳۲۱ (امداد ص ۴۸ ج ۲)

حکم زنی که باوجود شوهر بادیگر نکاح کند

سوال : (۳۷۹) یوه ښځه دخپل خاوند نه په پټه بل سړی سره بل ځای ته لاړه او هغه سره ئې نکاح اوکړه دتلاش نه وروستو دی سړی خوورځې پس داښځه اوموندله خپل کورته ئې راوسته اوس داښځه ددی بدکاری نه توبه کوی اوس داهغه سړی څنګه ساتلی شی دوباره نکاح پکار ده یابغیر دنکاح ساتل پکاردی اودهغې دپاره څه کفاره ده څنګه چه شریعت کښې حکم وی چه په هغې عمل اوکړېشی ؟

جواب : چونکه بدکاری سره نکاح نه ده ماته شوي اوبل سړی سره چه یې نکاح کړی ده هغه نکاح هم صحیح نه وه . دی سره دورومبی خاوندنکاح باقی ده اوس دیته ددوباره نکاح کولو ضرورت نشته بغیر دنکاح تازه کولونه خپله ښځی ساتلی شی اوددی کفاره صرف خالصه توبه ده چه الله رب العزت په عاجزی اوپښېمانتیا سره فریاد وکړی اوآئنده دپاره مضبوطه وعده وکړی چه داسې حرکت به نه کوم البته دی خاوند دپاره مستحب دی چه کله داښځه دی بل سړی تلی وه هغه وخت نه چه کله دیته حیض راشی بیادی سره دکوروالی وکړی خوکه حیض راتلو انتظارونه کړی بیاهم ګناه نشته صرف بهتره ده . فی الدر المختار وکذا العدة لوتزوج امرأة الغیر ووطئها عالما بذلک وفی نسخ المتن ودخل بها ولابدمنه وبه یفتیٰ ولهذا یحد مع العلم بالحرمة لانه زنا والمزنی بها لاتحرم علی زوجها وفی شرح الوهبانیة لوزنت المرأة لایقربها زوجها حتی تحیض لاحتمال علوقه من الزنا فلایسقی ماءه زرع غیره فلیحفظ لغرابته الخ . وفی رد المحتار قوله والمزنی بها لاتحرم علی زوجها فله وطیها بلااستبراء عندهما وقال محمد لا احب له ان یطأها مالم یستبراء ها کما مرفی فصل المحرمات قوله فلیحفظ لغرابته امربحفظ لا لیعمدبل لیجتنب بقرینة قوله لغرابته ای قوله فقدظهربما قررناه الفرق بین جواز وطی الزوجة اذا رآها تزنی وبین عدم جواز التزوجها وهی حبلی من زنا فاغتنمه الخ . البته که چرته دی دویم سړی ته داخبره وه چه دادچاپه نکاح کښې ده اوبیایې ورسره نکاح کوله نودی صورت کښې داګرچه ورومبی خاوندته راتله خودوي ته به دری حیضونه پس کوروالی رواوه . وفی الدر المختار وعقب القول المذکور بخلاف ما اذالم یعلم حیث تحرم علی الاول الاان تنقضی العدة وفیه ایضا الموطوءة لشبهة ومنه تزوج امرأة الغیر غیرعالم بحالها الی قوله ولم یکتف بحیضه احتیاطا الخ . هذه العبارات کلها فی باب العدة ۱۴ ذی الحجه / ۱۳۲۱ھ امداد ج ۲ ص ۵۰

دحرمت مصاهرة ثبوت دپاره دشهادت ضروری کیدل

سوال: (۳۸۰) هندي يو يادوه سرو يا يو دوبنځوته اووئيل چه خسر ماسره بدكاري كړيده هغه خلق ددي دژبي وينا گواهي وركوي او اوس هنده په خپله انكاركوي اودغه شان دهندي خوابني هم اووئيلي چه زما خاوند دخپلي انگور سره بدكاري كوي چاته يې اووئيل هغوي اقراركوي خو اوس دهندي خوابني منكره ده يو عادل سړي طالب العلم گواهي وركوي چه ما وكتل چه دهندي خسر په شهوت سره دهندي په اوږه لاس كيخوده . او يو بل سړي وايي چه ما وكتل چه ورځي دروازه بنده كړه او هنده خسره يې دواړه يوه كپړه كې پټ شوي وه. او قرائن خارجيه سره هم ددي سړي داسي حال معلوميږي دهغي ځاي كوم چه درانه خلق دي هغوي هم ددي خبر وقائل دي نو داسي صورت كې چه څه زنانه او څه سړي يوازي يوازي بيل بيل وختونو كې په جدا جدا ورځو گواهي وركوي او دوي دواړه منكر دي نو دي سره حرمت مصاهره ثابت شو جدا كول يې پكاردي يا نه ثابت شوي او داعي زنا دپاره آيا چه دزنا ثبوت په څه باندي كيږي يادي

شعر

فرق النكاح جمعاً نافعاً × × فسخ الطلاق وهذالدر يحكيها

نه ډيره ښه معلوميږي خو بعضي عبارتونه مخالف هم شته فقط.

جواب: في الدرالمختار قبل ام امراته حرمت امرأته مالم يظهر عدم الشهوة وفي المس لاتحرم مالم تعلم الشهوة لان الاصل في التقبيل الشهوة بخلاف المس والمعانقة كالتقبيل وفيه بحرمة المصاهرة لايرتفع النكاح حتى لايحل لها التزويج باالاخر الابعدالمتاركة وانقضاء العدة وفي ردالمحتار الابعد تفريق القاضي اوبعدالمتاركة وفي درالمختاران ادعت الشهوة في تقبيله اوتقبيلها ابنه وانكرها الرجل فهومصدق لاهي الا ان يقوم اليهامنتشرا آلته فيعانقها القرينة كذبه اوياخذثديها اويركب معها الخ. وفيه تقبل الشهادة على الاقرارباللمس والتقبيل عن شهوة وكذاتقبل على نفس اللمس والتقبيل والنظرالي ذكره اوفرجها عن شهوة في ردالمحتارتجنيس لان الشهوة ممايوقف عليها في الجملة بالانتشاراوالاثار، دی روايتونونه دا امورمعلوم شول . (۱) كه چرته هنده منكره هم نه وي بيا هم صرف دبنځي دعوي قبول نه ده . (۲) دهندي خوابني صرف گواه ده اودگواهي دقبليدو شرطونه نشته . (۳) طالب العلم صرف دلاس لگولو گواه دي اوپه وجود دشهوت باندي ده سره

څه دليل نشته او بغير دعلم دشهوت نه صرف لاس لگولو سره حرمت نه راځي . (۴) صرف دروازي بندولو سره استدلال كافي نه دي او كه يوه كپړه كه يې دواړه ليدلي دي نو دا البته دكرب معها په شان قرينه دشهوت دپاره كافي دي خو دشهادت نصاب كافي نه دي او دنورو درنو خلقو دگواهي كيفيت نه دي ذكر شوي كني هغي كې هم كتلي شوي وه په دي وجه حرمت مصاهرة قضاءً نه شي ثابتيدي البته كه صاحب واقعه ته علم شته نو ديانةً حرمت ثابت دي. فقط والله اعلم . ۱۹ محرم/ ۱۳۲۲ه (تتمه اولیٰ/ ص ۷۳)

حرمت مصاهرت كې مراهق هم دبالغ په شان دي

سوال: (۳۸۱) په دي صورت كښي څه حكم دي چه زيد او هندي دمراهقت (نابالغ والي) حالت كښي داعي دشهوت لكه خكلول او مباشرت فاحشه وغيره كړي وو خو صحبت ئي نه وو كړي دبالغيدو نه وروستو دزيد نكاح زاهدي سره اوشوه او دهندي نكاح عزيدالدين سره اوشوه دزيد دزاهدي نه ساجده پيدا شوه او دعزيدالدين دهندي نه محمد حسن . دزيد اولاد سره ميمونه هم په ماشوموالي كښي دزاهدي پي: او خښكلي اوس داتپوس كول غواړو چه دمحمد حسن نكاح چه دهندي نه دي ساجده سره چه دزيد لورده يا ميمونه سره چه دزيد رضاعي لورده كيدیشي يانه او حالت مراهقت كښي دواعي شهوت سره حرمت مصاهرت ثابتيږي كه زنا شرط ده. اميد دي چه سند دكتاب هم اوليكي ضرورت دي؟

جواب: (۱) چونكه حرمت مصاهرت كې دمراهق حكم هم دبالغ په شان دي كما في رد المحتار عن فتح القدير مس المراهق كالبالغ وفي البزازيه المراهق كالبالغ حتى لوجامع امرأة اولمس بشهوة ثبت حرمة المصاهرة الخ ج۲/ص۴۲۱ ځكه چه محمد حسن او ساجده نسب او مصاهرة سره او محمد حسن او ميمونه رضاع او مصاهرة سره خپله كې وروڼه او خويندي او ددوي مينځ كې نكاح صحيح نه ده . (۲) ۲۵ ذي الحجه/ ۱۳۳۲ه (تتمه ثانيه/ ص۱۰۱)

---

[1] داجواب دبعضو روايتونو موافق دي چه دېكې احتياط اخستى شويدي دبعضو نورو روايتونو موافق جواب دادي دمحمد حسن او دساجدي نكاح صحيح ده ځكه چه دمزنيه رضاع دنسبت په حكم كې نه ده ص ۲۱۵ او گوره ۱۲ منه

[2] هركله چه دبنځي دخوی نكاح دخاوند لورسره بالاتفاق او بي شكه صحيح ده نو دابن مزنيه نكاح بنت زاني سره او رضيعه زاني سره په طريقه اولیٰ صحيح ده ۱۲ رشيد احمد عفي عنه

اشتراط شهوت عندللمس برائ حرمت مصاهرت وشرط مشتهات بودن

سوال : (۳۸۲) دزيدرشته يوخاى شوى ده زيد يوه ورخ دوريژونمونه كورته يوره اوخپل خسرصاحب ته ئى وريژى په خپل لاس كښى خودلى په ديكښى دزيد خوابښى هم راغله هغى هم وريژى دزيددلاس نه اوچتى كړى كتلى ئى نودزيدپه زړه كښى څه وسوسه غندى پيداشوه اوشهوت وغيره څه نه وونوداپه لمس كښى داخليدوسره څه شره حدخونه قائميږى يعنى درزيدنكاح چه ددى دلورسره كيږى په هغى كښى څه فرق خونه دى راغلى ؟

جواب : فى الدرالمختار والعبرة للشهوة عنداللمس والنظر لابعدهماوحدهمافيهاتحرك الة اوزيادته به يفتى وفى امراة وشيخ كبيرتحرك قلبه اوزيادة وفى ردالمختارقال فى الفتح ثم هذاالحد فى حق الشباب اماالشيخ والعنين فحدهماتحرك قلبه اوزيادة لوكان متحركالا مجردميلان النفس فانه يوجدفيمن لاشهوة له اصلاكالشيخ الفانى ثم قال ولم يحدواالحد المحرم منها اى من المرأة والقلبه تحرك القلب على وجه يشوش الخاطراخ . وفى الدرالمختار. واصل الممسوسة بشهوة واصل ماسته وفروعهن فى ردالمختارقوله واصل ماسته اى بشهوة قال فى الفتح وثبوت الحرمة بلمسها مشروط وبان يصدقها ويقع اكبرراله صدقها. دى روايت نه معلومه شوه چه دزيدتندرستى داسى ده چه دشهوت په وخت كې دهغه اله منتشره كيږى نودلاس لگولوپه وخت كې كه چرته دالى انتشاروي نودى ته به شهوت ونيلى شى اوكه انتشارنه وي شوي نودى ته به شهوت نه شى نيلى اوكه دده تندرستى داسى نه ده نوكه چرته زړه ته داسى حركت شوي وي چه طبيعت يې گډووشوي وي نوديته به شهوت ونيلى كيږى اوكه داسى نه ده نوهغى ته به شهوت نه شى ونيلى داخو په زيدكې دشهوت اندازه ده دغه شان كه چرته لاس لگولى وخت كې دى خوابښى زړه حركت راغلى وي نوداهم شهوت دى غرض داچه زيديادهغى خوابښى حال دهغى بيان سره چه چا كې هم شهوت موندلى شوي وي نوجينى حرام ده .اوكه نه وي موندلى شوي نوحلال ده اودخوابښى حال دهغى دبيان نه معلوميږى شى كه څه قرينه سره دهغى شك وي نو معلومات كول ضرورى دى كنى هيڅ حاجت نشته والله اعلم ۲۰ / ذى الحجه / ۱۳۲۲ھ

سوال : (۳۸۳) زيديوى زنانه دهندى سره بدنام كړوچه زيددشپى رانزامره كړى كوم ځاى هنده اوده كيږى هلته راځى خودى زنانه زيدلره دهندى سره په ناجائزه كارباندى مبتلانه دى موندلى صرف شبه اوشك بيانوى هركله چه دزيدلورداخبره واوريده نوداززنانه ئى ددى خبرونه منع كړه خوخپله دى لورته داشك پيداشوچه آياواقعى زيددهندى سره په دى ناجائزه كارمبتلادى يادى زنانه په شك باندى بدنام كړيدى اودى لوردغه هنده دشك دوجه نه ډيره ملامته كړه اوتاكيدئى پرى اوكړه چه اوس كه زيددشپى تانه راشى نوچيغى جوړى كړه چه دى هندى دغه شان اوكړل يوه ورخ ئى په اوچت آوازاونيل چه اوگورى زيدمادخپونه نيسى دى بى وجه آوازسره دزيددلورسترگى كولاوشوى اوځه ئى اوليدل چه زيددهندى داوده كيدودځاى نه يودوه گزه لرى روان دى چه كوم ښكاره حالت ووعرض داچه نورباطنى حالت الله ته ښه معلوم دى آياداواقعى چه كوم مخى ته راغليدى دى سره حرمت مصاهرت ثابتيږى يانه رپوه شوه چه زيدړوندى، اودزيددخوى نكاح هندى سره صحيح ده يانه .زيدپه خپله دخپل خوى دنكاح پيغام هندى ته ليږلى دى اوداخبره دهم واضحه وى چه دزيدخوى ته دهندى اودزيدددى قيصوپته نشته اوس هندى ته هم داخبرنشته اونه ئى څوك خبرول غواړى ځكه چه دى سره دلوئى بدنامى ويره ده اونه څوك معتبرگواه شته سيوادزيددلورنه ځكه وروسبى چه كومى ښځى بدنام كړى ووهغه مره ده اوپاتى شوه صرف لوردزيد.دامام شافعى رحمه الله په نزدزناسره حرمت مصاهرت نه ثابتيږى داقول دامام شافعى صاحب څنگه دى ؟

جواب :كه هنده په دغه وخت دنهه كالونه كمه وه نوبياخوحرمت مصاهرت نه ثابتيږى فى الدرالمختاروبنت سنهادون تسع ليست بمشتهاة به يفتى . اوكه دنهوكالونه زياته وه نودزيداودهندى نه دتپوس اوكړيشى كه چرته يوهم اووائى چه ماته شهوت وونوحرمت مصاهرت ثابت .فى الدرالمختارونكتفى الشهوة من بعدهااوكه دواړه دشهوت نه انكاركوى خپوته دلاس لگولونه علاوه بل څه خبره نه وى شوى نوحرمت مصاهرت ثابت نه دى فى الدرالمختاروفى المس لاتحرم مالم تعلم الشهوة اوكه څه بله خبره دسړى يادښځى دبيان نه معلوميږى نودهغى متعلق دوباره تپوس كول پكاردى اودامام شافعى رحمه الله دمذهب دتحقيق داځاى نه دى والله اعلم ۱۵ جمادى الاخرى من ۱۳۳۵ھ امداد/ج / ۲/ص ۴۱،

سوال : (۳۸۴) شخصى به شب بعدنمازعشابربسترخودخوابيده بعدازان بجهت تنگى جاى گاه دخترش مراحقه منكوحه باجازت زنش كه مادزدخترمذكورشده بربوريه كه برآن بسترشخص مذكورشده خفته وشخص مكوردرخواب رفته واورااين امربالكليه هيچ معلوم نشدناگاه درشب چنان گرديده هردوپايش برهردوساق دخترشده وآله تناسلش انتشاريافت يعنى هرگاه بيدارشده آله اش ازپيش منتشربوديعنى درحالت متشرشده ودرحالت بيدارى منتشريافته وبعدبيدارشدن درانتشارزيادتى پيدانه گشت ليكن .هيچ خطرة ازشهوت ولذت

اشتراط شهوت عندالمس برائی حرمت مصاهرت وشرط مشتهات بودن

سوال: (۳۸۲) د زید رشته یو خپل شوی ده زید یو ورځ د ورکړی نور نه کور ته بوزه او خپل خسر صاحب ته ئی وویل چه په خیال لاس کښی خولی په دی بکښی د زید خواښی هم را لګه هغی هم ورباندی د زید لاس ته اوچت کړی کتلی ئی نو د زید په زړه کښی څه وسوسه هم نه وه پیدا شوه او شهوت او نیهوړه څه نه وو او وایه لمس کښی داخلیدو سره څه شره حد خو نه قائم پری بعض د زید نکاح چه ددی د لور سره کیږی په هغی کښی څه فرق خو نه دی را غلی؟

جواب: فی الدر المختار والعبرة للشهوة عند المس والنظر لا بعدهما وحدها فيهما تحرك آلته او زيادته به يفتى وفي امرأة ونحو شيخ كبير تحرك قلبه او زيادته وفي رد المحتار قال في الفتح ثم هذا الحد في حق الشاب اما الشيخ والعنين فحدها تحرك قلبه او زيادته لو كان متحركا لا مجرد ميلان النفس فانه يوجد فيمن لا شهوة له اصلا كالشيخ الفاني ثم قال ولم يحدوا الحد المحرم منها اي من المرأة واقله تحرك القلب على وجه يشوش الخاطر الخ. وفي الدر المختار واصل الممسوسة بشهوة واصل ماسه وفروعهن ... وفي رد المحتار قوله واصل ماسته اي بشهوة قال في الفتح وثبوت الحرمة بلمسها مشروط بان يصدقها ويقع اكبر رأيه صدقها ... دی روایت نه معلومه شوه چه د [illegible] لګولو [illegible] که چرته [illegible] د چه د شهوت په وخت کی دغه اله منتشره [illegible] شهوت نه [illegible] دالی انتشار وی نو دی ته به شهوت وئیلی شی او [illegible] طبعیت [illegible] شی نیلی او که د ده تندرستی داسی نه ده نو که چ[illegible] ته شی [illegible] شهوت وئیلی [illegible] خواښی [illegible] بیان سره [illegible] نو حلال [illegible] چه چا کی هم شهوت [illegible] او د خواښی حال [illegible] کول ضروری دی [illegible]

سوال: (۳۸۳) [illegible]

[illegible]

منع کړه خو خپله دی لور ته داشان پیدا شو چه آیا واقعی زید د هندی سره په دی ناجائزه کار مبتلا دی یا دی زنانه په شان بانندی بدنام کړیدی او دی لور دغه هندی د شان د وجه نه ډیره ملامته کړه او تاکید ئی پری اوکړه چه اوس که زید د شپی تا نه راشی نو چیغی جوړی کړه چه دی هندی دغه شان اوکړل یوه ورځ ئی په اوچت آواز اوئیل چه اوګوری زید ما د خپونه نیسی دی بس چه آواز ئی سره د زید د لور سترګی کولاؤ شوی او څه ئی اولیدل چه زید د هندی د اوده کیدو ځای نه یو دوه ګزه لری روان دی چه کوم ښکاره حالت وو عرض دا چه نور باطنی حالت الله ته ښه معلوم دی آیا د واقعی چه کوم منځی ته راغلیدی دی سره حرمت مصاهرت ثابتیږی یا نه یو شوی چه زید رو بندی او د زید د خوی نکاح د هندی سره صحیح ده یا نه زید په خپله د خپل خوی د نکاح پیغام هندی ته لیږلی دی او د اخبره د هم واضحه وی چه د زید خوی ته د هندی او د زید ددی قیصو نه نشته اوس هندی ته هم د اخبر نشته او نه ئی څوک خبرول غواړی ځکه چه دی سره د لوئی بدنامی ویره ده او نه څوک معتبر ګواه شته سیوا د زید د لور نه ځکه ورومبی چه کومی ښځی بدنام کړی وو هغه مړه ده او ریاتی شوه صرف لور د زید. د امام شافعی رحمه الله په نزد نا سره حرمت مصاهرت نه ثابتیږی دا قول د امام شافعی صاحب څنګه دی؟

جواب: که هنده په دغه وخت د نهه کالو نه کمه وه نو بیا خو حرمت مصاهرت نه ثابتیږی فی الدر المختار وبنت سنها دون تسع ليست بمشتهاة به يفتى او که د نهو کالو نه زیاته وه نو د زید او هندی نه د تپوس اوکړی شی که چرته یو هم اووائی چه ما ته شهوت وو نو حرمت مصاهرت ثابت. فی الدر المختار وتكفي الشهوة من احدهما او که دواړه د شهوت نه انکار کوی نو بیا خو حرمت مصاهرت ثابت نه دی فی خپونه د لاس لګولو نه علاوه بل څه خبره نه وی شوی نو حرمت مصاهرت ثابت نه دی فی الدر المختار وفي المس لا تحرم ما لم تعلم الشهوة او که څه بله خبره د سری یادښتی د بیان نه معلومیږی نو د هغی متعلق دوباره تپوس کول پکار دی او د امام شافعی رحمه الله د مذهب تحقیق دا ځای نه دی والله اعلم. ۱۵ جمادی الاخری سن ۱۳۳۵ هـ امداد ج/۲/ص ۴۱.

سوال: (۳۸۴) شخصی به شب بعد نماز عشا بر بستر خود خوابیده بعد از آن بجهت تنگی جای بر آن گاه دخترش مراهقه منکوحه با جازت زنش که ما در دختر مذکور شده بر بوریه که بر آن بستر شخص مذکور شده خفته وشخص مذکور در خواب رفته واو را این امر بالکلیه هیچ معلوم نشد ناګاه در شب چنان ګردیده هر دو پایش بر هر دو ساق دختر شده وآله تناسلش انتشار یافت یعنی هرګاه بیدار شده آله اش از پیش منتشر بود یعنی در حالت منتشر شده و در حالت بیداری منتشر یافته وبعد بیدار شدن در انتشار زیادتی پیدا نه ګشت لیکن هیچ خطرهٔ از شهوت ولذت

دردلش بجانب دختریافت وفی الفوربا کشیده اوراز دست خود مس نموده بنام اوپرسیدکه توفلان هستی دخترش جواب دادبلی بعدازان ازدختروتافته پشت داد. آیادرنکاحش نقصانی افتادیانه چونکه این امربوقوع آمده وبس که درگرداب حیرانی وغمم لهذادررمضان خصوصاً ایام اعتکاف تصدیع میدهم ازعبارت درمختارفلوایقظه الخ وکذالوفزعت قدخلت الخ. دردل اضطراروبیقراری بهم رسیدوازعبارت شامی وقال الفتح وفرع علیه مالوانتشرو طلب امرءته فاولج بین فخذی بنتها خطاء لاتحرم الخ. ودردل قدری تسلی می آیدمکراین مس مذکوربرائی پرسیدن شده نه امری دیگرفی قوله مس نموده بنام اوپرسیدالخ ۱۲ منه.

جواب: درین صورت حرمت مصاهرة ثابت نشده فی الدرالمختاروحدها(ای الشهوة) فیهما(ای المس والنظر) تحرك آلته اوزیادته وبه یفتی وفی ردالمختاروفرّع علیه مالوانتشروطلب امرءته الی قوله لاتحرم امهامالم یزددالانتشارج ۲ ص ۴۵۹. ۲۵ /شوال ـــــ ۱۳۳۰ هـ (تتمه اولی ص ۹۵)

دخسرالکورته صرف لاس لګول الخ

سوال: (۳۸۵) بکردزیدخوي دی چه دهغه عمراولس کاله دی بظاهرنابالغه معلومیږی دهغه ښځه هنده دعويٰ کوي اوقسم خوری چه زیدزماخسرنیمه شپه کې زماکټ ته دخپل مکان نه چه زمامکان سره یوځای دی په روښانه لاره چه دوارومکانونو په مینځ کې دتلوراتلو دپاره کولاؤ ده راغی اودزناپه اراده یې ماته لاس اولګولوهرکله چه ماناڅاپه چغه کړه نووي وئیل چه چپ شه زه یم بیاماچغه کړه نوبیاګاوندیانوته هم خبراوشوزیدخپل مکان ته لاړوګاوندیانوته چااووئیل چه غل وه دروازه یې لرې اوخوزوله اواوتخیدوزیدنه معلومات وکړه چه تادکارکړیدی زیدقسم اوخوروچه ماته دی کړی اونه زه دی مکان ته تلی یم دایه مابانـدی تهمت دی نوصرف دهندی په دعويٰ چه قسم سره دعويٰ کوي اوزیدقسم سره انکارکوي دی سره هنده په خپل خاوندحرامه شوه یانه فقط بینواتوجروا؟

جواب: فی الدرالمختارفصل المحرمات وفی اللمس لاتحرم مالم تعلم الشهوة لان الاصل فی التقبیل الشهوة بخلاف اللمس الخ. دی روایت نه معلومه شوه چه صرف لاس لګولوسره دعويٰ دشهوت کول صحیح نه دی هرکله چه شهوت ثابت نه دی نوحرمت هم رانغی البته که زیدشهوت سره لاس لګولواقراروکړی نوحرمت ثابتیږی.

عدم حرمت مصاهرت بمس صغیروصغیره

سوال: (۳۸٦) دزیدیوولس کاله دری میاشتی یاځه کم وزیات غرض داچه ددولسو کالونه کم دی په یومکان کښی دوه پالنګه کیخودی شوی وویوپالنګ کښی دزیدچاچی اوه وه اودویمه پالنګ کښی دزیدتره اوده ووا اوزیدخپل تره سره اوده وواخره شپه کښی چه زیدراپاسیده نوتره ئی په خپل کټ باندی اولیدوزیدورته اوویل چه ځه کوی خپل لاس ئی دهغه په کټ باندی کیخودونودالاس کیدیشی چه په تره لګیدلی وی یاکیدیشی په چاچی لګیدلی وی.

دویمه خبره داده دغه ورځو کښی یوه ورځ یومکان ته چه هلته دزیدتره اوچاچی دواړه ووزیدناڅاپه لاړونووی لیدل چه دزیدتره اوچاچی دواړه په یوکټ کښی دی اودچاچی بدن پالنګ برینډ په نظرراغی زیدچه داحالت اولیدونوبهرلاړولږساعت وروستودیوال باندی زیداوکتل نودغه وخت ئی دچاچی بدن په نظرانغی ځکه چه دغه وخت دزیدتره کوروالی کښی مشغول وونووی نه لیدل اوس زیدځوان شواودزیدرشته دغه دچاچی لورسره شویده نواوس په شریعت کښی څرڅه حدپه زیدنه دی قائم شوی چه هغی سره نکاح نه جائزکیږی ښه تفصیلی جواب سره ددلیلونوبیان کړی؟

جواب: فی الشامیه عن الفتح مس المراهق کالبالغ وعن البزازیة المراهق کالبالغ حتی لوجامع امرأته اولمس بشهوة تثبت حرمة المصاهرة وبعدسطرلا بدفی کل منها من سن المراهقة واقله للانثیٰ تسع وللذکر اثناعشرج۲ /صـ ۴۲۱/ دی روایت نه معلومه شوه چه ددولسو کالونه کم عمروالا دهلک لمس وغیره قابل داعتبارنه دی ددی نه علاوه پدی مسئلهٔ کې په خپله شک دی چه ته یې لاس لګولی نه دی اوبرینډبدن یې اولیدوخوپوری چه فرج داخل ته اونه ګوری حرمت نه ثابتیږی غرض داچه هیڅ طریقی سره دالمس موجب دحرمت مصاهرت نه دی په ددی وجه دزیدنکاح ددی چاچی لورسره صحیح ده فقط. ۲۰ربیع الاول سنه ۱۳۲۲هـ ج امداد ص :٦۱ ج)

سوال: (۳۸۷) یوسړی دڅلورو پنځوکالوخپله لورځان سره اوده کړه خوب کښی ده وویل چه کنی دامی ښځه ده دهغی جینی ښکل کړه اوځان سره ئی راجخته کړه خوبوه لویه تکیه ئی مینځ ایښی وه اوده وواوس دهغه ښځه په ده حلال ده یانه؟

جواب: دی سره حرمت مصاهرت نه راځی ښځه حلال ده لانها صغیرة جداً. ۳۰ رمضان/ ۱۳۲۹هـ (تتمه اولی/ صـ ۹۳)

عدم ثبوت حرمت مصاهرت وقتی که انزال شود

سوال: (۳۸۸) بهشتي زيور کښې يوه مسئله ده چه يو سړي يوې ښځې بدنيتي سره لاس اولګوی نودهغې موراولورپه هغه باندې حرامیږي نواوس زيد عالمانو نه استفسار عرض کوی چه په خپلې خوابنې ئې په تيلوباندې دخپل زنګون اوملامالش کولو خواښې دهغه پاك نيت دوجه په غرض دعلاج مالش اوکړه اوزيد دمالش په حالت کښې دنفس خواهش کيدواودمالش په وخت کښې دهغې خواښې لاس دده داله تناسل سره بيابيالګيده چه هغې سره زيدډيرخواهش راغي تردې چه جوش کښې راغي اوانزال ئې اوشوخوزيدپدې جوش کښې خپلې خواښې ته لاس نه دی لګولې اونه ئې په خپلې خواښې داله تناس مالش کړيدې اونه دهغې خواښې په زړه کښې څه راغلي دي اونه زيدپه بدکارسره هغې ته لاس لګولې دی اوس دی صورت کښې دزيدښځه چه ددې خواښې لورده په زيدباندې حلاله ده يانه ؟

جواب: في الدرالمختاروتكتفي الشهوة من احدهمافي ردالمحتارهذاانمايظهرفي المس وفي الدرالمختارفلوانزل مع مس اونظرفلاحرمة به يفتي نودې مسئله چه انزال شويدې اوس زيدباندې خپله ښځه حرامه نه دې البته که چرته بيامالش کولواتفاق اوشواوپه هغې کښې انزال اوشونوهغې سره به په زيدخپله ښځه حرامه وی. والله اعلم ۱۹ رمضان المبارك سنه ۱۳۲۴ه امدادص ۳۴ج ۲

رضاعي وريرې سره نکاح حراموالي

سوال: (۳۸۹) دوه زنانه دي ديوی نوم عظمين دی اودبلې رحيمت ،دعظمين خوی دپنځه شپږومياشتودی اودرحيمن خوی دڅلورپنځوورخوی دی اوڅه بيماهم دی هغه دخپلې مورپئ پدې وجه چه په تيوتوکښې پئ ډيرکم دی دهغه خوله کښې اسانۍ سره تی نه راځي پئ نه شی څکلي رحمين په دی غرض سره چه تيونه لګ سپك شی دعظمين خوی ته ئې پئ ورکړل اوس دعظمين خوی خوان شويدی اودهغه واده هم شويدی اودهغه يوه لورهم پيداشويده ادرحمين هم اوه اته بچي شويدی اوس رحمين دخپل اتم خوی واده دعظمين دخوی لورسره کول غواړی کوم ته چه ئې پئ ورکړی وی آياشريعت کښې دانکاح کيدشی ؟

جواب: دادعظمين تمسې دی درحمين دهغه خوی رضاعي وريره ده لهذادانکاح شرعاً حرام اوباطل ده . لقوله ﷺ يحرم من الرضاعة مايحرم من النسب. فقط ۲۰ جمادی الاخر ۱۳۲۲ه (تتمه اولی ص ۷۲)

حرمت نکاح باعم رضاعي وخال رضاعي

سوال: (۳۹۰) زيددخپلې حقيقي خورهندی پئ په ماشوموالي څکلي دی اوس زيدغواړی چه دخپلې لورنکاح دهندی دخوی سره اوکړی اوداخوی دهندی کومې سره چه زيددخپلې لورنکاح کول غواړی دهندی هغه خوی نه دی چه هغه سره يوځای زيددهندی پئ څکلي دی بلکه داهندی بل خوی دی نودانکاح شرعاًڅنګه ده ؟

جواب: دهندی داخوی دزيددری لوررضاعي تره دی حقيقي تره په شان حرام دی په دی وجه دانکاح حرام ده اوزيسره دپيوڅکلوديته څه دخل نشته . ۱۵ شوال سـ ۱۳۲۱ه (امدادص ۵۱ ج ۲)

سوال: (۳۹۱) (۱) زمادتره لورده هغه جينۍ دمجبوری دوجه نه دری څلورورځې زمادښځې پئ څکلي دی نودهغه جينۍ زمادوړوکي وروروپه نکاح کښې راتلی شی يانه يعنی شريعت کښې جائزدی يانه ؟ (۲) اوهغه جينۍ زماحقيقي اوښې ته کيديشی يانه (۳) زما ماما زما دموريعنی دخپلې خورپئ څکلي دی نودډغه ماما لورسره زمونږنکاح جائزده يانه

جواب: (۱) نه کيږی ځکه چه هغه وړوکي ورورددې جينۍ رضاعي تره دی (۲) نه کيږی ځکه چه هغه اوښې ددې جينۍ رضاعي مامادی (۳) نه کيږی ځکه چه ته ددې جينۍ رضاعي تره ئې ۹ ربيع الاول سـ ۱۳۳۰ (تتمه اولی ص ۹۶)

عدم جوازنکاح بادختر مرضعه که ازشوهرثاني پيداشوه

سوال: (۳۹۲) څه فرمائي علمادين اومفتيان شرع متين په دی مسئله کښې چه زيداوحارث سکه وروڼه دی ددواړوواده اوشواوپه يووخت کښې دالله په فضل سره صاحب اولادشول دزيدخوی ژوندی وواودحارث خوی خومياشتې پس فات شودحارث دښځې چه کله پئ راغلل نوتبه پرې راغله اواندامونه ئې ماتيدل باالکل قيامت راغي تولورائې ورکړه چه زيدخوی ته ددې تکليف لږکولودپاره پئ ورکړه په دی وجه هغه بچي اوڅکلي خوڅه لږغوندی تکليف لږی شودوه څلورخلي ئې داسې اوکړل اتفاق سره حارث وفات شودده ښځې دعدت تيريدونه پس بل واده اوکړودبل خاوندنه ئې يوه جينۍ پيداشوه دزيدخوی ددې جينۍ سره نکاح کيديشی

یانه. خوداخیال دوی چه داکارپه طورددوائی شویدی لکه څنګه چه یوسړی دوه دری ورځی دی حالت کښی هغه داسلام نه نه شی وتلی یامسلمان هغه څه عرض لرلی شی دغه مثال دی جواب زرراکړی دتکلیف لری کولوپه اراده شویدی. بینوتوجروا؟

جواب: دانکاح جائزنه ده درضاعت حکمونه په هرحالت کښی پیوښکلوسره ثابتیږی اګرچه هغه پی ښکل هری طریقی سره چه وی ونی الدرالمختارومخلوط بمااداء الخ ۴ رجب س ۱۳۳۶هـ تتمه خامسه ص ۶۱

ترور، پلارځوی، اووریره په یونکاح کې جمع کول حرام دی

سوال: (۳۹۳) زیدصاحب اولاددی اوډیرمتقی سړی دی اوډخلوبنتوکالودی وروسبی ښځه یې ژوندی ده دهغی نه وروستواوس زیددخپلی ښځی ترورسره نکاح کوي آیادانکاح جائزده یانه اوچه کله چاورتلونه بیاهم په خپل کاربانډی اصرارکوي اوداوايې چه ماهیڅ کتاب کې هم نه دی لیدلی چه دانکاح ناجائزده. آیاداسړی متقی دی ایاده پسی لمونځ کیږی یانه ایاددی کفرحدته رسیدی شی تاسوفتوي راکړی؟

جواب: فی الدالمختارباب المحرمات وعمته وخالته الیٰ قوله ویدخل عمة جده وجدته وخالتها الاشقاء وغیرهن وفی ردالمحتارقوله الا شقاء وغیرهن لا یختص هذا التعمیم بالعمة والخالة فان جمیع ماتقدم سوي الاصل والفرع کذلک کماافاده الا طلاق الخ . ج۲ ص ۴۵۵/ وفی الدرالمختاروحرم الجمع الی قوله بین امراتین ایهما فرضت ذکراً لم تحل الاخرابداً الحدیث مسلم لا تنکح المرأة علیٰ عمتها وهویصلح مخصصاللکتاب وفی ردالمحتارقوله وهومشهورفانه ثابت من صحیحی مسلم وابن حبان وراه ابوداؤد والترمذی والنسائي وتلقاه الصدرالاول بالقبول من الصحابة والتابعین ورواه الجم الغفیرمنهم ابوهریره رضی الله عنه وجابر رضی الله عنه وابن عباس رضی الله عنه وابن مسعود رضی الله عنه ابوسعید الخدری رضی الله عنه الی اخرماقال واطال. ج۲ ص ۴۲۲ / وروسبی روایت نه معلومه شوه چه ترورکه سکه وي اوکه میرانه وي یعنی دپلارعلاتی (پلارشریکه) خوریااضافی (مورشریکه) خورتول حرام دی اودویمه روایت نه معلوم شوه چه په کوموزنانوکې چه یوسړی فرض کړی نویلی سره نکاح حرامیږی نودهغی جمع کول حرام دی اوپه دی مسئله کې چه کومی زنانه یې کریدی یعنی ترورداوریری سره. چه دیکې یوه سړی

فرض کړی نویلی سره نکاح کول حرام راځی. للروایة الاولی نوبس ددواړه جمع کول بالکل حرام دی للروایة الثانیة. داسی کړی هیڅ کله متقی نه دی که چرته دی ددی کارنه توبه اونه باسی ترورېری نه پړدی فاسق دی اودافسق کفرته نژدی دی سړی امامتی جائزنه ده فقط. ۲۵ شوال/ ۱۳۲۲هـ (تتمه اولی/ ص ۷۲)

دنکاح نه وروستودخاوند ځېل حمل دځوم نه ځودل

سوال: (۳۹۴) دیوی جینی نکاح دیوکس سره اوکړی شوه دهغی مورکنده وه دهغی حمل بنکاره شوپوره تپوس کولوباندی هغی اووئیل چه داحمل دفلانی سړی نه دی چاسره چه ددی دلورنکاح شوی وه دنکاح میاشت دوه میاشتی اوشوی اوحمل دشپږومیاشتودی اودجینی نیکه دواده کولونه انکاراوکړه نوآیادامخکنی نکاح صحیح شوه یانیکه ته اختیارشته چه یل چاسره ددی نکاح اوتړی

ددی سوالوپه نسبت سره دمولوي محمدرشیداحمدصاحب استفتاء

سوال: (۳۹۵) یوه مسئله په خدمت دحضرت والاکښی لیکل غواړوددی نسبت خوبظاهر معلومیږی چه نکاح صحیح نه ده څکه چه فقها چه داليکلی دی چه حرمت مصاهرت سره نکاح نه مرتفع کیږی ددی نه بظاهردامراددی چه دنکاح نه پس چه کوم حرمت راپیش شی وبحرمة المصاهرة لایرتفع النکاح الخ. درمختارکښی دنکاح فاسداوباطل په تحقیق کښی درمحتاراوشامی هم قبل غورده په هغی کښی ددوخویندویه نکاح کښی نی لیکلی دی چه دیوی نه پس که چرته بلی سره عقداوکړی نودادویمه نکاح باطل ده نوهرکله چه زناسره جینی حرام شوه نونکاح باطل کیدل پکاردی خوفقها، دمحرمویه نکاح کښی دفاسدیدو یا باطلیدوکښی اختلاف کړیدی لکه څنګه چه شامی نکاح فاسدوباطل کښی لیکلی دی آیاپه دی کښی کوم یوقول صحیح دی اوفاسدکښی غالباً دطلاق یاجدائی ضرورت دی اوباطل کښی ضرورت نشته اوبحرچه لیکلی دی چه نکاح فاسدهغه ده چه هغی کښی دفقهاؤاختلاف دی اوباطل هغه ده چه هغی کښی اتفاق دی اختلاف دی سره داشبه راځی چه دانکاح فاسده څکه چه دیکښی دامام شافعی رحمه الله اختلاف دی دهغوی په نزدحرمت مصاهرت زناسره نه ثابتیږی غرض داچه دیرشبې راځی پدی کښی دعلی حضرت څه رائی ده؟

جواب: زماخیال کي راځي چه نکاح باطل ده چه چرته محل هم صالح نه وي او فاسد هغه ده چه هلته محل خو صالح وي خو د جائز کیدو څه شرط پکښي موجود نه وي نو باطل خو سر نه منعقد کیږي هم نه. او فاسد منعقد کیږي خو بعضي احکامو سره ثابت ده تفریق او جدايي پکښي واجب ده او ما اختلف العلماء في جوازه. زما په نزد صحیح نه دی دغه شان په فاسد او باطل کي فرق نه کول هم موؤل دی دی سره چه د بعضو په کلام کي فاسد تعبیر په باطل سره شوي دی نو مطلب دا دی چه د دی بعضو په کلام او اصلاح کي څه فرق نشته خو دا نه چه د دوارو معنو کي دی هم څه فرق نه وي نو په دی بنیاد باندی چونکه د انکاح محرم سره شوي ده چه دی کي د محل کیدو صلاحیت هم نشته په دی وجه دا نکاح باطل په معنی د غیر منعقد ده او بغیر د طلاق نه د اجیني د بل سړي سره نکاح کولی شی خو په دی شرط چه زید هم د دی اقرار کوي چه هندی سره مازنا یا مس بالشهوة کړي دی. او که چرته هغه انکار کوي نو جیني ته ښیل ګمان باندی یو ښکاره ثابت حق ختمول او رفع کول جائز نه دی والله اعلم. ۵ شعبان / ۱۳۲۸ هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۸۲)

ددی سوال په نسبت سره د مولوي محمد رشید صاحب دوباره استفتاء.

څه چه اعلی حضرت لیکلی دی تول صحیح دی خو دومبی مسئلي په نسبت دا ترددراځي چه محرمات سره د نکاح کولو متعلق شامی اختلاف نقل کړیدی او یو طرفته یي ترجیح نه ده ورکړی در مختار په حدود کي لیکلی دی چه نسب ثابتیږی په دی وجه ښکاره خبره ده چه باطل نه ده کنی وجود او عدم وجود به برابر وه نو اعلیٰ حضرت باطلیدو ته په کوم روایت سره ترجیح ورکړیده؟

جواب: ا شامی هم په دی باندی کلام نقل کړیدی او دغه شان یي د نکاح فاسد په بحث کي هم لیکل دی لایثبت النسب ولاالعدة في نکاح المحارم الخ. او که چرته دا فاسد هم وي بیا هم ښځی او خاوند ته بغیر د بل رضا نه د نکاح فسخ کولو او تفریق اختیار شته لکه څنګه چه شامی د چلپی نه نقل کړیدی تحت قول در مختار من وقت التفریق ای تفریق القاضی ومثله التفریق وهو فسخهما او فسخ احدهما ج ۲ / صـ ۵۷۲/ بس ثبوت نسب هم متفق علیه نه دی او ما چه باطل کیدو ترجیح ورکړیده هغه درایت سره ده او بیا[1] فاسد او باطل په دی امر کي برابر هم دی کوم کي چه تاتپوس کړیدی کمامر.

---

[1] قابل اظهار دا امر دي چه ماته باوجود دي تفصیل نه شرح صدر او نه شوه کتونکي دی په ښیل طور سره تحقیق وکړي ۱۲.

خسر ښیل ځوي ته د نکاح نه وروستو الکوږله دلوروښیلو حکم

سوال: (۳۹٦) زما پلار زما د مور د مرګ نه وروستو یوله نکاح وکړه هغه ښځی سره یوه خوانه جیني وه کوم وخت چه هغه جیني خوانه شوه نو ماسره یي د هغی نکاح وکړه د نکاح په وخت کي زما پلار قاضی وکیل او ګواهانو ته او وئیل چه دا جیني د بل خاوند نه ده د دی نکاح ښیل خوي سره کوم قاضی و ئیل جائز دی نو زما نکاح وشوه څه موده پس زما یوه لور پیدا شوه او زما د نکاح یو کال تیر شو او کال پس زما مور او پلار ما ته مخالف شول او دا تجویز جوړ وي چه صورت داسی جوړه وي چه داجیني جدا کړو. اوس دا وايي چه دا جیني زمانه پیدا شویده هر کله چه ده ته دا پته وه نو ماسره یي د دی نکاح ولی کوله ما ته فتویٰ راکړی.

جواب: ستا د پلار دا خبره چه دا جیني زما د نطفی نه ده ستا په حق کي دا خبره معتبره او قابله توجه نه ده ستا نکاح بالکل باقی ده بی فکره اوسه. فی الدر المختار وشرط العدالة فی الدیانات وفی ردالمختار ای المحضة درر. احترازعما اذا تضمنت زوال ملک کما اذا اخبر عدل ان الزوجین ارتضعامن امراة واحداة لا تثبت الحرمة لانه یتضمن زوال ملک المتعة فیشترط العدد والعدالة جمیعاً اتفاق آه القول فاذا کان هذا حال خبر العدل فی ذلک فکیف بخبر غیر العدل. ۲ ربیع الاول / ۱۳۲۹ هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۸۹)

ښځی ته په خوب کي ځوي لوروښیلو حکم

سوال: (۳۹۷) یو سړی په خوب کښی ښیلی ښځی ته خوی یا لور او وئیل او دغه شان د خامنو غندی مینه ئی ور سره او کړه د دوی نکاح پاتی ده یا نه؟

جواب: نکاح باقی پاتی ده. ۳۰ رمضان ۱۳۲۹ هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۹۳)

که چا خور سره زنا وکړه نو ددی خور مزینه دا ولاد نکاح ښیل اولاد سره کولی شی یا نه

سوال: (۳۹۸) زید ښیلی خور هندی سره د ښیلی ښځی په دهوکی سره یا په قصد سره په زوره یا د هغی په رضا سره زنا وکړه خو هنده د زید نه حامله شوه د زنا د وخت نه څلورپنځه کاله وروستو د هندی د ښیل خاوند نه اولاد پیدا شو نو اوس دا تپوس کوو چه زید د ښیل اولاد د نکاح د هندی اولاد سره کولی شی یا نه؟

جواب: کولی شی ځکه چه ددی دواړواولادته ددی کوروالی په اعتبارسره داسی نسبت دی لکه څنګه چه سری خپل اولادته چه دهغی منکوحی دوړومبی خاوندنه اولادسره چه کوم نسبت دی.
(تتمه اولیٰ/ص ۹۵)

عدم حرمت مصاهرت بنکاح فاسد

سوال: (۳۹۹) څه فرمائی علمادین په دی مسئله کښی یوکس یوی ښځی سره معاذالله څه مودی پوری په پټه زناکوله دهغی نه پس ئی دهغی نابالغی لورسره نکاح اوکړه خودمنکوحی سره وطی نه ده کړی اوس ددی دواړوښځوکښی په ده باندی کوم یوحلال ده اوکوم حرام ده اوپه کوم شرط اوقاعدی باندی؟

جواب: هرکله چه ئی دی ښځی سره زنااوکړه نددی لورپه ده باندی حرام شوه اوس چه ئی دی لورسره نکاح اوکړه دانکاح صحیح نه ده اونکاح غیرصحیح سره حرمت مصاهرت نه راځی څو پوری چه لمس بالشهوة وغیره نه وی. لماقال الدرالمختاروحرم بالمصاهرة بنت زوجة الموطوءة وام زوجه وجداتها مطلقابمجردالعقدالصحیح وان لم توطاء الزوجة الخ فی ردالمختارقوله الصحیح احترازعن النکاح الفاسدفانه لایوجب بمجرده حرمة المصاهرة بل بالوطی اومایقوم مقامه من المس بشهوة والنظربشهوة لان الاضافة لان الاضافة لاتثبة الابالعقدالصحیح بحر. نوکه دسری دغه لورسره په شهوت سره (۱) لاس لګولی وی نوموړئی هم پری حرامه شوه اوکه صرف نکاح شوی وی نوهغه نه دطلاق ورکړی دهغی مورسره نکاح کولی شی لکه څنګه چه مخکښی ذکرشول چه نکاح فاسدسره دجینی موردی سړی خوابنی نه شی جوړیدی ۱۵ جمادی الثانی سنه ۱۳۳۱ھ (تتمه ثالثه ص ۴۴)

عدم ثبوت حرمت مصاهرة بزناکردن دامادبازوجه پدرزوجه خود

سوال: (۴۰۰) څه فرمائی علمادین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کی چه دزیددوه ښځی دی اودواړه نه اولادشته اوددی دواړوکښی دااتفاق ووچه که چرته یویه دیکښی خپل خوی پریخودوځه کارته به لاړه نوبلی به دی هلك ته یی ورکول ددویمی ښځی دلورواده اوشوچونکه زیدوفات شوی ووخوم ئی دخپل کورکاروباردپاره ساتلی ووخوورځوکښی دوړومبی ښځی سره

۱- الموطوءة کوتهامشتهاة ۱۲ رشیداحمدعفی عنه ختم

ئی تعلق جوړشواودهغی نه دزناپه ذریعه هلك پیداشوددی صورت کښی دلوی ښځی دلورنکاح باقی ده یانه بینواتوجروافقط؟

جواب: دنکاح ولی عصبه بنفسه وي په ترتیب دمیراث ورلوا و محروم باتي کیدلو د میراث نه یعنی اولاً جزأ ثانیاً اصل ثالثاً جزءاصل قریب رابعاً جزواصل بعید. او که عصبه نه وي نو بیا ولایت دمور دی بیا نیا د پلار مور ته دی او بعضو[1] بالعکس هم خودلی دی. بیا لور ته دی بیا دخوي لور ته بیا دلور لور ته بیا دخوي نمسی ته بیا دلور نمسی ته دغه شان دفروع اخره پورې. بیا خپلې سکه خور ته بیا پلار شریک ته بیا مور شریک ورور او خور ته بیا ذوي الارحام ته ورومبی ترور (دپلار خور) بیا ماما ته بیا ترور (مور خور) بیا دتره لور ته بیا داسې ترتیب سره ددوي اولادته. بیا مولی الموالاة. درمختار کې دا تفصیل موجود دی. فلیراجع الیه والله اعلم. (امداد / ص ۱۸)

سوال: (۴۳۹) دنابالغه زنانو په واده کې چه کوم اولیاء دشریعت مطابق په ترتیب سره راځی نو دا ولایت په اعتبار دوراثت سره دی یا په اعتبار دخیرخواهی سره دی که په اعتبار دوراثت سره وي نو وراثت دپاره څنګه چه مناسب وي خیرخواهی او صله رحمی شرط ده یا نه؟

جواب: فی الدر المختار علی ترتیب الارث والحجب. دینه معلومه شوه چه عصبات کې ولایت په ترتیب داورلو دمیراث او دمحروم کیدلو دمیراث سره دی. وفی ردالمحتار الجد الاول / ص ۴۸۴ / وبه ظهران الفاسق المتهتک وهو بمعنی سیئ الاختیار لاتسقط ولایته مطلقاً لانه لوزوج من کفو بمهر المثل صح کماسیأتی بیانه وماقی البزازیة من ان الاب والجد اذاکان فاسقاً فللقاضی ان یزوج من الکفو قال فی الفتح انه غیرمعروف فی المذهب. دې روایتونو نه معلومه شوه چه دولی دخیرخواهی نه کیدو دا اثر خودی چه بعضو ځایونو کې دده کړی شوي نکاح کې دعالمانو کلام دی خو دا اثر چرته هم نشته چه دده په موجودګی کې دلری ولی نکاح نافذه شی. ۱۱ ربیع الاول ۱۳۲۵ھ (امداد ج ۲ / ص ۲۳)

تحقیق ولایت ام بوقت فقدان یا غیبت منقطعه عصبات

سوال: (۴۴۰) که چرته پلار او نیکه مره شول او تره وغیره چه دشریعت مطابق په ترتیب سره دولی کیدو حق لری دا ټول دنابالغی جینی په نکاح کښی دوجه دحسد نه یا غم نه یا دبل څه بل سبب سره په ډډه شی یا په وخت دنکاح کښی موجود نه وی یا چرته تللی وی یا مره شوی وی نو مور ولی جوړیدی شی یا نه؟

[1] او ام الاب نه پس ام الام ده کذافی الحاشیه ۱۲ منه

جواب: فی الدرالمختار فان لم یکن عصبة فالولایة للام وفیه للولی الابعدالتزویج بغیبة الاقرب وفی ردالمحتار عن الذخیرة الاصح انه اذاکان فی موضع لوانتظر حضوره اواستطلاع رایه فات الکفو الذی حضر فالغیبة منقطعة اه، ونقل ترجیحه عن کثیرمن الکتب. ددینه دمااموروثابت شول ورومبی داکه اولیاء عصبه نه وی نوموزته ولایت ملاویدی شی. دویمه چه کله داعصبات وی نوموزته ولایت نه ملاویږی اګرکه حسداوغم لری. دریم که دومره لرې وی چه دهغوی نه رائی اخستوپوری موقع دلاس نه اوځی بیاهم ولایت ثابتیدی شی فقط. ۱۱/ربیع الاول س/۲۵هـ (امداد/ج/۲/ ص ۲۵)

زاینه ته حق دپرورش کولونشته

سوال: (۴۴۱) یوزناکاره زنانه مره شوه اودی دحرام اولادنه یوه ماشومه جینی پریخوده اودی زنانه یوه ترور (دمورخور) اودوه دتروربچی دی اویوحقیقی سکه خورده ددی ماشومی دپرورش کولوحق په دی کښې چاته دی اوددی ترورهم دمه اوزناکاره ده اوخوروغیره ئې هم داسې دی. اوددی ولی څوک کیدیشی؟

جواب: دپرورش حق په دی خلقوکې هیچاته هم نشته فسق وفجوروغیره سره خوپه خپله دمورهم حق دپرورش ساقطیږی نوددی خوپه درجه اولیٰ ساقط دی. احق الناس بحضانة الصغیرة حال قیام النکاح اوبعدالفرقة الام الا ان یکون مرتدة اوفاجرة غیرمامونة کذافی الکافی وکذالوکانت سارقة اونائحة اومغنیة فلاحق لهاهکذافی النهرالفائق عالمګیری ج۲/ صـ۵۵۲/ اوددی ولایت عام مسلمانانوته دی هغوي ددی پرورش وکړی. والله اعلم. ۲۹ شوال/

دتره څوي په موجودګی کې مورشریکې وروره دنکاح ولایت نشته

سوال: (۴۴۲) دتره څوي په موجودګی کې مورشریکې وروره دنکاح ولایت رسیدی شی یانه؟

جواب: فی الدرالمختارباب الولی فان لم یکن عصبة فالولایة الیٰ قوله ثم لولدالام الذکروالانثیٰ. پس دی روایت نه معلوم شوه چه دتره څوي په موجودګی کې مورشریک وروره دنکاح ولایت نه رسی (تتمه اولیٰ/ صـ ۷۹)

دتره په موجودګی کې ماماته ولایت نشته

سوال: (۴۴۳) یوه نابالغه جینی ده دهغی موروپلارمره دی خودهغی تره اوماماژوندی دی دموروپلارپریخودی شوی جائداداودایتیمه په قبضه اوانتظام دتره کښې دجینی ته دنکاح پیغام چرته نه راغی هغی پیغام په خپلواتویه رائی اودتره په رائی سره مضبوط شویه کومه ورځ چه جینی راغی نودی تره ئې په دی خیال که چرته نکاح اوشوه نودواده نه وروستوبه داجائدادزماده قبضی نه اوځی دنکاح اجازت ورکولونه ئې انکاراوکړو خپلوانودیریوه کړوچه دادجینی واسطه ده ته اجازت واخستواوددجینی نکاح ئې اوکړه اوس سوال دادی چه دی صورت کښې ددی جینی دانکاح جائزشوه یانه؟

جواب: جائزنه شوه خوتراوسه پوری که چرته دی تره دانکاح ردکړی نه وی اوصریح لفظونوکښې خپله ناراضګی ښکاره کړی نه وی خوچې پاتی شوی وی اوپه دغه وخت کښې جینی بالغه شی اوددی نکاح اجازت ورکړی نوجائزه شوه فقط ۲۹ رجب/۲۹/ سـه (تتمه اولیٰ / صـ۹۲)

ترتیب دولی مجنون

سوال: (۴۴۴) څه فرمائی علمادین په دی مسئله کښې چه هنده وفات شوه اوڅه جائداد وغیره ترینه پاتی شوی خوڅه اولادئې نه دی پریخی صرف یوسکه ورورئې پاتی دی چه هغه لیونی دی اودیووفات شوی وروروچه په موجودګی کښې وفات شویدی) څه لونړه اوخامن ئې شته اویونمسی ئې هم شته اوڅه پلارشریک ورونړه خویندی ئې پاتی شویدی اویومیرانه مورده اوددی لیونی ورورئې صرف یوه لورسلمه ده اوخامن ئې نشته دشریف مطابق دهندی وارثان څوک څوک ګرځیدلی شی اوخومره حصه هریوته رسیدی شی اوددی سکه لیونی وروروحق دولایت چاته رسی دسلمه خاوندڅپل لیونی خسردجائدادولی کیدل غواړی دشریعت مطابق

ده ته ولایت رسیدی شی یاپلار شریك وروکښی چاته رسیدی شی یا ددی وفات شوی وروریډه نارینه اولاد کښی چاته رسیدی شی جواب د کتابونو په حواله سره اولیکئ؟

جواب: بعد تقدیم ماتقیدم علی المیراث تو له ترکه دهغه دی به دوه حصو باندی تقسیم شی یوه حصه به خپل سکه نمسی ته او یوه حصه به سکه وروره ته ملاؤشی نور ټول محروم دی او دلیونی د مال ولایت دوه قسمه دی یو ولایت د تصرف دویم ولایت د حفاظت. وړومبی قسم کښی دا ترتیب دی وولیه ابوه ثم وصیه ثم جده الصحیح ثم وصیه ثم القاضی اووصیه کذافی الدرالمختار او دا په هغه وخت کښی وی چه هغه د بالغیدو نه مخکښی لیونی نه وی کنی داولیت به صرف قاضی ته یا قاضی چه څوك تجویز کړی هغه ته به حاصلیږی کمافی ردالمحتارثم هذا اذابلغ مجنونا امااذابلغ عاقلاثم علته لاتعدد الولایة الی الاب بل الی قاضی اوالسلطان الخ. ج/۵/ص/۱۴۹. او د بعض په نزد به بیاد هغوی د طرفته عود اوکړی. او دریم قسم هغه کس دپلار دی چه د دی لیونی نګرانی او خدمت کوی او که چرته دیکښی اختلاف وی نو حاکم یا عام اصلاح والاخلق خپل یا پردی چه کوم دیندار او با اعتماده وی څوك به تجویز کړی هغه به ولی شی دی ولی ته د دی لیونی په مال کښی د تجاوز کولو حق حاصل نه دی صرف ضروریات ده دپاره اخستل یا پوښی منقول زیاتی وی یا یوشی خراب شی دهغی خرڅول دا جائزدی. وفی ردالمحتار فی السابع والعشرین من جامع الفصولین ولولم یکن احدمنهم فلوصی الام الحفظ وبیع المنقول من الحفظ ولیس له بیع عقاره ولاولایة الشراء للتجارة الاشراء ملابدمنه من نفقة وکسوة الخ ج/۵/ص/ ۱۷۴ وفی الدرالمختار وعندعدمهم تتم بقبض من یعوله کعمه وامه واجنبی ولوملتقطا والوف حجرهما والا لا جلد۴، ص/ص۷۸۴/ والله اعلم. ۲۰ جمادی الثانی سـ ۱۳۳۳هـ (تتمة ثالثه ص/ ۴۱)

دفع شبهات از مسئله کفائت

سوال: (۴۴۵) څه فرمائی علمادین په دی لاندی مسئله کښی (۱) قرآن کښی چرته داسی حکم شته چه دعجم نوی مسلمانانو نه اباقی مسلمانان زیات شریف دی که وی نو کومه پاره کښی او کوم رکوع کښی دی یا د صحاح سته په کتابونو کښی د دی مضمون حدیث شته چه دعجم نوی مسلمانانو آباقی مسلمانان زیات شریف دی او که وی نو کوم کتاب او په کومه صفحه کښی دا حکم دی (۲) آباقی مسلمانان شریف دی هغه نوی مسلمانانو نه چه کوم په خپله مسلمانان شویدی یا د هغوی پلار مسلمان شوی وی دا قول د معصوم دی یا د عالمانو دی

څکه چه دا قول کافرانو او مشرکانو له د ایمان راوړلو نه منع کوی دا قول د عمل قابل دی یا نه (۳) د عجم آباقی مسلمانانو په مقابله کښی د عربو نوی مسلمانان زیات شریف دی؟

جواب: د دی سوالونو په ضمن کښې دی تپوس کوونکي څه دعوې هم کړیدی په هغه څه د نموني په طور سره ذکر کولی شی. قوله قران کریم کښې چرته داسی حکم هم شته الخ. وقوله په صحاح سته کښې د دی مضمون څه حدیث شته الخ. په دی کښې دعوې ده چه صرف قران او حدیث خصوصاً د صحاح سته حدیث حجت دی صحاح سته نه علاوه نور حدیثونه او اجماع او قیاس حجت نه دی. قوله دا قول معصوم دی یاد عالمانو الخ. ظاهراً خو معصوم نه مراد رسول الله ﷺ دی بیا خو دیکښې هم هغه دعوې ده کومه چه مخکښې تیره شوه خو که معصوم کښې اجماع والاهم داخل کړیشی په دی بنیاد باندی چه دیکښې اګرچه هر هر واحد خو معصوم نه دی خو مجموعه معصوم دی لحدیث ان الله لایجتمع امتی علی الضلالة. نو بیا د قیاس د حجت نفی اوس هم باقی ده. قوله څکه چه دا قول کافران او مشرکین د ایمان راوړلو نه منع کوی الخ. که چرته دا ویره یې په دوارو تقدیرونو باندی لازم کړی وي یعنی د معصوم په قول یا د عالمانو په قول نو بیا خو دیره شنیع او بدترینه دعوې ده چه د معصوم قول صرف یوې رایې سره رد دی که چرته د معصوم نه مراد پیغمبروي نو د دی د بدترکید و څه حد نشته چه د نص نه انکار دی او که صرف د عالمانو په قول یې دا ویره لازمه کړې وي نو وړومبی خو نفس مسئله تفاضل بالاسلام وبالعربیه کښې د چا تابعداری کوونکې خلاف منقول نه دی اګر که بعضو جزئیاتو کښې اختلاف وي نو مسئله اجماعی شوه نو د اجماع رد دی او که اجماعی هم نه وي بیا هم په دی کښې د یرو ګنړ علمانو ته نسبت د کم عقلتوب او د جهالت دی چه دوي د ومره لوي نقصان احساس نه دی کړی او دا تول لازم دی دعوو له. د دی نه علاوه چه دی کښې د ممانعیت کومه دعوې کړیده چه دا خول مشرکانو او کافرانو له د ایمان راوړلو نه منع کوي الخ. نو اوس د ممانعیت د ټولو کفارو په اعتبار سره دی که د بعضو په اعتبار سره. وړومبی شق خو مشاهدةً باطل دی څکه چه سره د مشهوریدو د دی مسئلی نه په هره زمانه په زرګونو کافران برابر اسلام قبلوي او چاته چه وروستو دا مسئله معلومه شی هغوي هم ټول نه مرتد کیږی او په دویم شق باندی د دی مسئلی څه تخصیص دی بعضی کافران لره خو نوری هم داسی مسئلی مانع عن الاسلام ګرځی چه قطعی الثبوت، قطعی الدلالت د نصوصو نه ثابت دی لکه جهاد، استرقاق، وتعدد نکاح ومشروعیة طلاق وذبح حیوانات وغیرها من الاحکام التی لاتتناهی. نو آیا دا تپوس کوونکي د دی ټولو مسئلو د ابطال التزام کولی شی بلکه په خپله د دی مسئله مقابل مساواة مطلقه

بعضی کافرانولره مانع عن الاسلام کیدیشی مثلاً که چرته یومشر عزت مند د هندوراجاخوي ته معلوم شی چه که مسلمان شوم نوشرافت کې دیونوې مسلمان بنګی یاچمیاربرابر ګڼلی شم اوکه هغه زمالورته دنکاح پیغام اولیږی نودخاندانی تفاضل یعنی عدم کفائت عذرکول به مالره سبب ګناه اوسبب دعذاب نوبیاددی مانعیت څه دی. بهرحال داسوالونه دی عنوان سره دومره دعوولره مستلزم دی که چرته اوس هم داعنوان باقی ولری شی نودادعوې دی ثابت کړیشی کنی داعنوان دبدل کړی چه په هغې کې دغیرمسلم مقدمودعوې نه وي فقط. ۱۷ جمادی الثانی/ ۱۳۵۲ھ (النور/ صفر/ ص ۷ / ۵۲ھ)

حصول کفائت درمال باقدرت

سوال : (۴۴۶) بهشتی زیورڅلورمه حصه اولسمه صفحه ورومبی کرخه کښی نی لیکلی دی چه څوك مهرمعجل ورکولی شی هغه دلویولویودولت مندوکفوګرځی آیاصرف مهرمعجل باندی قدرت کافی دی یاهغې سره نان نفقه باندی هم قدرت ضروری دی درسی کتابونوکښی په نفقه باندی قدرت لرل نی هم شرط لیکلی دی ؟

جواب :مراددامعلومیږی چه ټول مهرباندی قدرت شرط نه دی نومقصودنفی کول دی دشرط کولودقدرت دمهرمجل نه دنان نفقه په دی وجه تعارض نشته البته که صحت نامه کښی دلفظ مهرمعجل نه وروستوبل لفظ نفقه هم زیات کړیشی نوزیات وضاحت به اوکړیشی. ۱۷ جمادی الاولیٰ سـ ۱۳۲۲ھ

نکاح ولی باغیرکفو بوقت عدم تلبیس وغیره

سوال : (۴۴۷) زیددخپلی لورفاطمه نکاح وعمروسره اوکړه اولوئی ددستورمطابق واده هم کړه بیادهغه رواج مطابق چه په څلورمه ورځ کیږی داجینی دپلارکورته راغله بعض خلقوداخبره مشهوره کړه چه عمرودمی نه پیدادی اوحرامی دی اوبی دنکاح نه وه یعنی دعمرودمورنکاح نه شوی اودتحقیق نه پس هم حقیقت کښی دامعلومه شوه اوداهلك عمروواٸی چه زه خوداپیژنم چه قاضی صاحب زماپلاردی اودخلقوتحقیق دادی چه داهلك ددریوکالوووچه دادقاضی صاحب کورته تلی ده اوس دامعلومه نه ده چه دعمرودمورنکاح چاسره شویده یانه اوس دجینی والاخلق جنګ کوی اوجینی نه پریږدی په دی کښی دوه فرقی پیداشوی یوه فرقه واٸی چه داجینی رخصتول پکاردی خکه چه نکاح شویده اوجینی یودوه

شپه خاوندسره پاتی شویده چه کوم داغ لګیدل ووهغه اولګیدل اوکومه بدنامی چه کیده هغه اوشوه دانه شی ورانیدی بیادویمه نکاح کول ممکن نه دی اومشکل دی اودویمه فرقه واٸی چه جینی رخصتول نه دی پکارځکه چه عقدنه دی شوی پدی وجه فیصله کوونکی جواب دشریعت مطابق پکاردی دهلك عمرتقریباً دپنځویشت دیرش کالوپه مینځ کښی دی اودجینی عمردشپارس اولس کالوپه مینځ کښی دی اوس څه فرماٸی علمادین اومفتیان شرع متین چه نکاح اوشوه یانه که نه وی شوی نوڅه کول پکاردی اوکه شوی وی نوبیادشریعت مطابق څه کول پکاردی آیافارغول اوخلاصول پکاردی یانه څه حکم دی اوداجینی دنکاح کولواودولودوخت نه مخکښی بالغه وه څه شك نشته چه دهغی دموریادنوروپه ژبه معلوم شوی وی ؟

جواب :فی الدرالمختارولوزوجهابرضاهاولم یعلموابعدم الکفائة ثم علمولاخیرلاحدالاا ذاشرطوا الکفائة اواخبرهم بهاوقت العقدفزوجهاعلی ذالك ثم ظهرانه غیرکفوکان لهم الخیارولوالجهة فلیحفظ وانظرمافی ردالمحتارعلی قوله لاخیارلاحدوعلی قوله کان لهم الخیارتجدفیه نفائس ص /۵۲۱/ ج/ ۲ .دی روایت نه معلومه شوه چه دی صورت کښی دانکاح صحیح اولازم شویده خوپوری چه خاوند طلاق ورنه کړی. نه ئی څوك فسخ کولی شی اونه دبنځی دویمه نکاح کیدیشی. شعبان سـ ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۶۴)

سوال : (۴۴۸) زیدصدیقی شیخ دی ده دیوسړی په بیان باندی دخپلی نابالغی لورنکاح یوداسی هلك عمروسره اوکړه چه دډمی خوی دی. اوده اوس دخپلی پیښی نه توبه کړیده اودخپلوخپلوند ونکاح نی کړیده دنکاح کولونه پس معلومات کولوسره داحالات معلوم شول چه کوم سړی دابیان کړی ووهغه هم اقرارکوی چه واقعی موږنه غلطی شویده اوغلط بیان موکړی دی. ددی نه علاوه عمرونسلاً عجمی هم دی بینوابسندالکتاب توجروابیوم الحساب ؟

جواب :په سوال کښی داتصریح نشته چه دده دامورچه ډمه وه هغی چاسره نکاح کړی وه چه دهغی نه داهلك پیداشویابغیردنکاح شویدی. اوکه نکاح شویده نوهغه سړی څنګه ووهغه څه کسب وو دویم داتصریح نی نه ده کړی چه دنکاح په خبروکښی آیادی سړی دخپل نسب په باره کښی غلط بیان کړی وویاداچه دی چپ پاتی شوی وو بهرحال که چرته دی هلك یعنی دډمی دی خوی څه غلط بیان نه وی کړی صرف پاتی شوی وی اودجینی اولیاء ته په ناواقفی کښی دهوکه شوی وی لکه څنګه چه دسوال دعبارت نه ظاهراً دامعلومیږی نودی صورت کښی دانکاح

صحیح اولازم شویده اوس نه شی فسخ کیدی البته که خاوند طلاق ورکړی نوبله خبره ده. فی العالمگریه وان کان الاولیاء هم الذین باشروعقدالنکاح برضاهاولم یعلمواانه کفوا وغیر کفو فلاخیارلواحد منهماواماراذاشرط الکفاءة اواخبرهم بالکفارة ثم ظهرانه غیر کفو کان لهم الخیار ج ۲ ص ۷ والله اعلم سلخ ربیع الثانی /سنـــــ ۱۳۲۱هـــ (امداد ج ۲ ص ۴۶)

دموره نابالغی لورنکاح کولوحکم غیرکفوته

سوال: (۴۴۹) دیوه نابالغه جینی چه دهغی عمرلس کاله وودی جینی کندی موردی نکاح په غیرکفوکښی دیوهلك نابالغ سره ددی دپلارپه استدعاسره وکړه اوددی نابالغه هلك موروفات شوی وه په دی وجه جینی خسربذنیت سره دی جینی ته یعنی دی انګورنه خواهش دزنااوکړوکله چه دی جینی ته دابدخواهش ښکاره شونونفرت نی اوکړونوپه کورکښی هروخت جنګ فسادوهل ټکول شروع شول اودجینی په سرکښی زخم زیات نوبیاګاوندیانوددی جینی مورته چه ددغه خای نه لرې لری وه خبراورسولودی خبرسره دی مورخپله لورکورته راوسته اوس جینی وائی چه زه هرګزهم نه خم بل خای کښی چرته ښه سړی سره می نکاح اوکړه اواوس ددی جینی عمردیارلس کاله دی اوتراوسه بالغه نه ده لهذااګزارش دی چه دی مقدمه کښی دشریعت مطابق څه حکم دی اوفرمائی چه څه اوکړو، فقط.

جواب: فی الدرالمختارنکاح الصغیروان کان الزوج غیرهاای غیرالاب وابیه الی قوله لایصح النکاح من غیر کفواوبغبن فاحش اصلا. ج ۲ صــــــ ۵۰۰ دی روایت نه معلومه شوه چه ددی جینی مورچه دانکاح په غیرکفوکښی کړی وه هغه منعقدنه ده په دی وجه ددی نکاح بل خای کښی جائزده. ۸ ذی قعده ســ ۱۳۲۸ هـ (تتمه اولی صــ ۷۸)

کفائت کښ هنراوچال چلن معتبرکیدل

سوال: (۴۵۰) دمسلمانانوکښی چه فرق په ذاتونوکښی دی لکه شیخ، سید، مغل، پښتون، جولا، تیلی (چه تیل اوباسی اوخرڅوی) ګوجر، زمینداروغیره دآخرت معامله کښی اګرچه څه فرق معتبرنه دی صرف دعمل ضرورت دی خودینی امورو کښی لکه نکاح وغیره کښی داټول یوګڼړی شی یاڅه تفاخرته په دی کښی څه دخل شته زیدوائی پښتانه، مغل داهرګزدذلیل قوم برابرنه دی لکه جولاوتیلی شول. نکاح وغیره کښی ددی ټولومعامله پوشان نه ده

یکاراوکفوه وغیر کفوه کیدل ماسیوادشیخ اوسیدنه په نوروقومونوکښی په اعتبارد پیشی اوچال چلن وغیره سره به کتی شی اوداسی تفاخراووړوکی قوم کښی نکاح وغیره کښی شرم کول شرعاً جائزدی اوس دعالمانودشریعت نه سوال دی چه دی دواړوکښی په حق څوك دی اونسب اوحسب کښی څه فرق دی لکه څنګه چه فخربه نسب کیدیشی آیاشرعاً په حسب باندی هم جائزدی یانه - بینواتوجروا؟

جواب: اخرج الدارقطنی ثم البیهقی فی سننهماعن جابربن عبدالله رضی الله عنه قال قال رســول الله ﷺ لاتنکحوا النساء الامن الاکفاء الحدیث کذافی تخریج الزیلعی فی فتح القدیر لکنه حجة بالنظائر والشواهدثم قال بعدذکرالشواهد فوجب ارتفاعه الیٰ الحجة بالحسن لحصول الظن بصحة المعنی وثبوته عنه ﷺ الخ . وفی فتح القدیرعن الدرقطنی عن ابن عمر رضی الله عنه مرفوعاً الناس الکفاء قبیلة بقبیلة وعربی بعربی ومولی بمولیٰ الا حائکا اوحجاماً وفیه وبعض طرقه کحدیث بقیته (هوالــذی روی الفا) لیس من الضعف بذلک فقدکان شعبة معظمالقیه وناهیک باحتیاط شعبة وایضاً تعدد طرق الحدیث الضعیف یرفعه الی الحسن الخ . وفی الدرالمختاروحرفة الخ وفی ردالمحتارذکرالکرخی ان الکفائة فیها معتبرة عندابی یوسف رحمه الله وان اباحنیفة رحمه الله بنی الامر فیها علیٰ عادة العرب ان موالیهم یعملون هذاالاعمال لایقصدون بهاالحرف فلایعیرون بهاواجاب ابویوسف رحمه الله علی عادة اهل البلاد وانهم یتخذون ذلک حرفة فیعیرونَ بالدنی منهافلایکون بینهماخلاف فی الحقیقة بدائع فعلی هذه لوکانقمن العرب من اهل البلاد من یحترف بنفسه تعتبرفیهم الکفاءة فیهاوحینئذ فتکون معتبرة بین العرب والعجم . ۲ج/صــ ۵۲۵-۵۲۲/ وفی ردالمحتاربعدالکلام فی التکافؤ حرفــة عن الفتح ان الموجب هواستنقاص اهل العرف فیدورمعه ج۲/صــ ۵۲۷/ وفی درالمحتاران المعتبرفی کل موضع مااقتضاء الدلیل من البناء علی احکام الاخرة وعلم الی قوله قلت ولعل ماتقدم عــن المحیط من ان تابع الظالم اخس من الکل کان فی زمنهم الذی الغالب فیه التفاخربالدین والتقــوی دون زماننا الغالب فیه التفاخربالدنیا فافهم ج۲/صــ ۵۲۸/ دی روایتونو حدیثونواوفقهیونه ثابته شوه چه دعمروقول صحیح دی اوداچه مبنی ددی په عرف باندی ده چه حدیث کښ هم دهغی اعتبارکړی شوی دی اوداهم معلومه شه چه عجموسره چه کوم کفائت معتبرنه دی په نسبت کښ فقهاؤ لیکلی دی داهم مقیددی دی سره چه عرف کښ ددی تفاوت اعتبارنه وي کنی هغه

هم په اعتبار دنسب او قومیت معتبر دی کما مر من الاستثناء فی الحدیث من مولی بمولی (ای عجمی بعجمی) لقوله الا حائکا او حجاما ومر من قول الفتح ان الموجب هو استنقاص اهل العرف الخ. په دی وجه په خپله دعربو په مینځ کې هم سره ددی نه چه دوي شریک دی په شرافت دنسب کې ددی عوارض عرفیه دوجه نه یې بنو باهله کې دتکافو نه مستثنی کړیدی کما فی الهدایه والعرب بعضهم اکفاء بعض الی قوله وبنوباهلة لیسوباکفاء لعاذالعرب لانهم معروفون بالخساسة. او دی عوارض عرفیه مدار کیدو باندی صاحب فتح په دغه اطلاق داستثناء کې تطرکړیدی. حیث قال وقداطلق ولیس کل باهلی کذلک بل فیهم الاجود وکون فصیله منهم اوبطن صعالیک فعلی ذلک (ای اخذعظام المیتة وطبخها واخذ دسومتها) لایسری فی الکل اودغه عرف معتبر کیدو په بنیاد داقول دمتونو والعرب اکفاء فلایکافیهم غیرهم اطلاق اهل فتاوي مقید کړیه دی وجه ردالمحتار کې راغلیدي ولکن قیده المشائخ الی قوله وکیف یصح لاحدان یقول ان مثل ابی حنیفة او الحسن البصری وغیرهما ممن لیس بعربی انه لایکون کفوا لبنت قریشی جاهل اولبنت عربی جوال علی عقبیه ج۲ ص ۵۳۰ او نسب کې نسبت وي پلار انو ته او حسب لغت کې عام دی کما فی القاموس خو عرف کې خاص دی دنسبت شرف سره برابره خبره ده که دنیوي وي یادیني وي او په کفائت کې داهم په شان دنسبت معتبر دی په دی وجه دفقهاؤ دیانةً ومالاً وحرفةً وئیلو دی صریحي دلیل دی اوددی مدار هم په عرف باندی دی. کمایظهر من التصریحات الفقهیه والله اعلم. ۲۵ رمضان ۵۷ھ (تتمه اولی ص ۸۰)

اشتراط قضاء قاضی درفسخ نکاح بغیر کفو

سوال : (۴۵۱) که چرته دنابالغی جینی نکاح په حقیقت کښی دهغی په کفوه کښی اوشی خو دهغی لپاره شرعی په خپل خیال کښی په خپله کفوه کښی نه ګڼړی په دی وجه نی پدی نکاح باندی خپله نارامنګی ښکاره کړه نو دادوی درضامندی خلاف جائز شوه یانه؟

جواب : (۱) فی الدالمختار وله ای للولی اذاکان عصبة الاعتراض فی غیر الکفو فیفسخه القاضی فی ردالمحتار فلاتثبت هذه الفرقة الابالقضاء لانه مجتهد فیه.

۱- داختلاف ختمولو دپاره دقضاء ضرورت دی کښی مفتی به قول باندی په غیر کفو کښی بغیر ددوی درضا نه نکاح منعقد کیږی هم نه ۱۲- رشید احمد عفی عنه.

اعتبار کفائت دربعض اقوام عجم وعدم اعتبار نسب عادر در کفائت

سوال : (۴۵۲) په هندوستان کښی چه قومونه دپښتنو او دراجاخامن وغیره دی ددوی په نزد سخت شرم دی چه یو قوم ددبل سره نکاح اوکړی لکه افغان قوم تیلی (تیل خرخوونکی) سره که هر څمره مالداروی نکاح نه کوی که داسی واقعه چرته اوشی نو هغه دخپل خاندان نه غورزیدلی شوی ګڼړلی آویه ښارونو کښی چه چرته پنځه میله آبادی ده لکه دهلی وغیره هلته خلق دخپلوئی اوورورولی هیڅ خیال نه کوی اودفقه په کتابونو کښی لیکلی دی چه دنسب اعتبار سیوا دعربو نه په نورو قومونو کښی نشته ځکه چه عجمیان ضائع النسب دی اوس سوال دادی چه کوم قوم عجمی دی په خپل نسب باندی په مقابله دنورو قومونو فخر کوی او نور خوك خپل برابر نه ګڼړی درواج اودعرف مطابق په دوی کښی دکفائت مسئله جاری کیږی او کوم سړی چه دمور پلار دطرفنه اشرف وی او کوم سړی چه پلار خوئی ښه وی او مورئی دادنی خاندان نه وی اګرچه نسب کښی هغه په اعتبار دپلار نه شمارلی کیږی خو چه دچا مور پلار دواړه داعلی نسب نه وی دهغوی به دی غیر کفوه شمارلی کیږی یانه؟

جواب : فی الدرالمختار باب الکفاءة وامافی العجم فتعتبر حریة واسلاما الخ، وفی ردالمحتار افاد ان الاسلام لایکون معتبرا فی حق العرب لانهم لایتفاخرون به انما یتفاخرون بالنسب الخ وفی ردالمحتار ویؤخذ من هذا ان من کانت امها علویة مثلاً وابوها عجمی یکون العجمی کفواً لها وان کان لها شرف مالان النسب للآباء ولهذا جاز دفع الزکوة الیها فلایعتبر التفاوت بینهما من جهة شرف الام ولم ارمن صرح بهذا والله اعلم ج ۲ ص ۵۲۳ وفی ردالمحتار عن الفتح تحت قول الدالمختار فمثل حائك الخ مانصه ان الموجب هو استنقاص اهل العرف فیدور معه وعلی هذا ینبغی ان یکون الحائك کفو اللعطار بالاسکندریة لماهناك من حسن اعتبارها وعدم عدها نقصاً البتة الخ ج ۲ ص ۵۲۷ وفی ردالمحتار تحت قول الدرالمختار واما اتباع الظلمة فاخس من الکل مانصه لاشك ان المرءة لاتعیربه فی العرف الهی قوله لان المدار هنا علی النقص والرفعة فی الدنیا ج ۲ ص ۵۲۸. پس هرکله چه مدار په عدم عار باندی دی اوددی قومونو کښی دیوبل سره په نکاح کولو کښی عار دی یعنی شرمیږی نو دی کښی مسئله دکفائت جاری کیږی او دریم روایت نه معلومه شوه چه دمور فی نفسه اعتبار نشته اوبل زمونږ عرف کښی هم داسی زیات اعتبار نه کیږی لکه چه مشاهده ده والله اعلم. ۵ ربیع الثانی سنه ۱۳۲۴ ھ (امداد ج ۲ ص ۳۰)

کفائت درمیان قریش و انصار

سوال : (۴۵۳) بهشتی زیور څلورمه حصه پخلسمه صفحه کښی نصاری کفوه دشیخ سیداورعلوی لیکلی ده قمهاوؤدقریشوبعضی قبیلی په خپل مینځ کښی دیوبل دپاره کفوه لیکلی دی اوقریش نه علاوه نوری قبیلی هم په خپل مینځ کښی شیخ،سید علوی اوقریش دی آیاانصاری هم دقریشونه وو که دقریشونه وه نوخیردی کنی مشکله ده ؟

جواب: انصاردقریشونه خونه دی دعالمګیری دعبارت نه هم ددی تائید کیدیشی .غیر القریشی من العرب لایکون کفواً بلقریشی والعرب بعضهم اکفاء لبعض الانصاری والمهاجری وفیه سواء کذاف فتاوی قاضی خان ،خوسره دقریشی نه کیدوهم چونکه عالمګیری کښی ئی صحیح قول دیته وئیلی دی چه عرب ټول په خپله کښی کفوه دی په دی وجه قریشی اوانصاری په کفوه ګڼرلی شی ،عبارته هکذاوالصحیح ان العرب کلهم اکفاء کذاذکرابوالیث فی مبسوط کذالکاف ، ددی نه لرمخکښی داجزئیه ده قالواالحسیب کفواً للنسیب ، اوددینه داده چه اعتباردکفایت دفع دعاردپاره دی اومداردعارپه عرف دی اوعرفاً انصاری دقریشی برابره ګڼرلی شی اومتقدمینوپه زمانه کښی مساواة اوبرابری نه وه په دی وجه دزمانی په اختلاف سره داحکم بدل شوبهرحال دبهشتی زیورمسئلی صحیح ده ،۷جمادی الاولیٰ سن ۱۳۲۲ھ ،امدادج ۲ ص ۱۹،

دسکه پلارپه موجودګی کښی میرانه پلاردطرفنه دنابالغ دنکاح کولوحکم

سوال : (۴۵۴) دسکه پلارپه موجودګی کښی میرانه پلاردهندی نابالغی نکاح زیدسره اوکړه اوکوم وخت چه هنده بالغه شوه په دغه مجلس کښی هندی دخوسرومخکښی اووئیل چه زه خپله نکاح دزیدسره چه زمانه دمیرانه پلارپه ولایت کښی شوی وه فتح کوم دهغه نه پس بمبی بنارته قاضی محمدعلی صاحب مدظله ته ئی داعرض ورانډی کړوچه ماداداوکړل قاضی صاحب دهندی ددعوی دثابتیدونه وروسته دااولیکل چه دهندی دافتح مونږه هم قائم لروآیادقاضی صاحب داوظیفه په دی طریقه سره کول دشریعت موافق دی یانه ؟

جواب:دانکاح موقوف وه هرکله چه سکه پلارهم اجازت ورنه کړواودی منکوحی دبالغیدونه وروسته ردکړه نودانکاح باطل شوه دقاضی صاحب فیصله دشریعت موافق ده البته که چرته

دی سکه پلارپه خپلی ژبی سره دانکاح جائزه لرلی دی نوهغه کیفیت دِ ښکاره کړی اودوباره دسوال اوکړیشی . ۷شعبان سنه ۱۳۲۷ھ(تتمه اولیٰ ص ۷۸)

شرائط خیارفسخ نکاح الخ

سوال : (۴۵۵) زمانکاح دسمی بانوسره چه دلاولی جان لورده اوعمریې اولس یااتلس کاله دی په موجودګی دمور اوماما اودوي منکوحی په عوض دپنځه دیرش روپولس انی مهراوشوه اودخلوت صحیحه کیدونه مخکښي مهراداکړي شي اوددوي دخاندان پته ماته اوس ولګیده خیرتراوسه پوری داسمی بانوزماکورته نه ده راغلی صرف دری میاشتی ماسره وه اوحمل یې هم اخستی دی چونکه داخاندان دزماتودی په دی وجه ددی دپلارڅه صحیح نه دی ددی موردټولی خیری مالکه وي اوس دی جیني زماپه نوم لیکل ورکړی دی چه اوس زه بالغه شوم اوزمادموريه ولایت کښي زمانکاح شویده په دی وجه ماخپله نکاح فسخ کړه اوده ننن نه پس نه زماخاوندنې اونه زه ستاښځه یم خودخلوت صحیحه کیدودوجه نه زمامهرپه تاباندی اداکول واجب شوي دی لهذاحضورانورداټول عبارت ښه وګوری اوفتوي ٰراکړی چه علمان ددی متعلق څه فرمایي اوس داسی حالت نکاح فسخ کیدیشی یانه ؟

جواب:فی الدرالمختاروالجاریة بالاحتلام والحیض والحبل فان لم یوجدفیهماشئی فحتیٰ یتم لکل واحدمنهماخمس عشرة سنة به یفتی .وفی ردالمختار وبه یفتی هذاعندهماوهورواية عن الامام وبه قالت الائمة الثلاثة وعندالامام حتی یتم له ثمانی عشرة سنة وسبع عشرة سنة. ج۲/ص۱۴۸/دی روایت نه معلومه شوه چه مسماة سمی بانو دنکاح په وخت بالغه وه که دپوره اولس کالووه نوپه اتفاق سره اوکه داولسوکالونه کمه وه نوپه قول دمفتی به پنځلسوکالوپه عمرکښي به دبلوغت حکم لګولی شی اودبالغی نکاح چه کله دهغی ولی وکړی اوهغه بالغه واوری اوچپ پاتی شی نوهغه لازم ګرځی اوکه دولی نه بغیربل چاوکړه نوچه کله هغه کوروالی ورکړی نودغه وخت دغه نکاح لازم ګرځی . وفی الدرالمختار ولاتجبرالبالغة البکرعلی النکاح فان استاذنها فهو اووکیله اورسوله اوزوجها فسکتت فهواذن وکذا اذازوجهاالولی عندها .ای بحضرفافسکتت صح الاصح فان استاذنها غیرالا قرب فلابل لابدمن القول کالثیب البالغة اوماهوفی معناه کطلب مهرها ونفقتهاوتمکینهامن الوطی ودخوله بهابرضاهاوفی ردالمختارعن البحر عن الظهیریة ولوخلابهابرضاهاهل یکون اجازة لارواية بهذه المسئلة وعندی انهااجازة الخ. وفی

الزازیه الظاهر انه اجازه. ج۲ ص۴۹۴/ بس که دمورنه علاوه ددی بل څوک ولی نه وه نوبیا خود نکاح کولو په وخت کښې که چرته دامنکوحه بالغه چپ پاتی شوې وې نو دا نکاح لازم شوه او که چرته بالغرض دمورنه زیات بل ولی وه او هغه نکاح کښې شریک یا رضانه وه بیا هم که چرته منکوحه چپ پاتی شوې وې بیا دکوروالی په وخت کښې یې انکار او مخالف نه وې کړې نو هغه نکاح اوس لازم شوه غرض دنکاح په وخت کښې بالغې ته په شریعت کښې دفسخ کولو اختیار حاصل نه دی او که چرته بالغرض دانابالغه هم وه دخیار فسخ دپاره دمنکوحې دا وئیل چه مافسخ کړه کافی نه دی بلکه قاضی یعنی دمسلمان حاکم دی دپاره شرط دی چه دهغی زمونږ په مسلک کښې څه انتظام نشته في الدر المختار وشرط الكل القضاء الاثمانية وفي رد المحتار تحت قوله الاثمانية وخيار البلوغ مبنى على القصور الشفقة وهو امر باطني والاباء وربما يوجد وربما لايوجد (اى بهذا السبب يشترط له القضاء) كذا في البحر ج۲ / ص۵۰۴-۵۰۵-۵۰۵/ او واقعه مسئوله عنها کښې خود منکوحې بالغه نه دخیار فسخ هدو احتمال نشته. ۲۲ شوال / ۱۳۳۳ھ

دنکاح متعلق مختلفې مسئلې

ضروري خبرداری: دمسئله مفقود متعلق امداد الفتاوي کښې لیکلې شوې فتاوي ۱۳۰۰ھ نه ۱۳۴۲ھ پورې مختلف واقعاتو کښې لیکلی شویدی. ۱۳۴۲ھ کښې اتفاقاً داسې واقعات ډیر زیات شول چه په هغې کښې دزنانو د تنګۍ دوجه نه دمرتد کیدو واقعې ډیرې راپیښ شوې چه په هغې کښې حضرت سیدی حکیم الامت اسناتیا او رخصت تلاش کولو دپاره دفقهی او شرعی اصولو دلاندې څلورو وارو مذهبونو عالمانو سره خط وکتابت او کړو او دپنځه کالو غور فکر کولو نه وروستو یو مستقل کتاب الحیلة الناجزه للحلیة العاجزه په نوم سره تصنیف کړو چه هغې کښې دتولو نه مخکښې په مسئله مفقود باندې بحث دی او دهغې مسئلې متعلق دحضرت اخري فیصله هم هغه ده چه کومه په هغه کتاب کښې لیکلې شویده هغه دې ضرور و کتلې شي که په فتاوي کښې دهغې خلاف خبره په نظر راشي نو هغه دمرجوع عنه او ګڼړلی شي.

سوال: (۴۵۶) مسمی زید حنفی المذهب زوجه خودرا بوطن گذاشته بسفر رفت عرصه بیست گذشت که مفقود الخبر است زوجه از نان و پرچه وغیره تنگ وعاجز آمده از دیگر میخواهد پس این امر شرعاً جائز و نافذ می تواند شود یا چه وبعد[1] آمدن شوهر او چه صورت خواهد شد؟

جواب: درین مسئله مذهب امام اعظم ان است که تا عمر نوی سال انتظار زوج کرده شود پیش ازین نکاح بمردی جائز نیست ومذهب امام مالک وامام شافعی ان است که بعد چهار سال ازگم شدنش عدة وفات یعنی چهار ماه وده روز تمام کرده اگر بمردی دیگر نکاح کند جائز است لیکن اگر ضرورت شدیده وخوف فتنه باشد عمل بمذهب امام مالک وامام شافعی جائز است باین طور که از کدامی عالم شافعی المذهب یا مالکي المذهب فتوي گرفته[2] نکاح کند باز زوج اول را هیچ دعوي نه رسد خلافا لمالك فان عنده تعتد زوجة المفقود عدة الوفاة بعد مضی اربع سنين وهو مذهب الشافعي القديم (وقال بعد سطور) وقد قال في البزازيه الفتوىٰ في زماننا على قول مالك وقال الزاهدی كان بعض اصحابنا يفتون به للضرورة واعترضه في النهر وغيره بانه الادعىٰ الى الفتاء بمذهب الغير لامكان التواقع الى مالكي يحكم بمذهبه وعلى ذلك مشى ابن وهبان في منظومة هناک شامی. ج۳ / ص۳۳۰ / والله اعلم. ۲۳ جمادی الثانی / ۱۳۰۰ھ (امداد / ج۲ / ص۳)

سوال: (۴۵۷) یو کس ښځه یا دینه زیات لس دولس کاله او شول چه مفقود الخبر دی او بل سری دی او بل سری ژوندی دی معروف الخبر دی یعنی معلوم شویدی چه ژوندی دی خود خپل ملك نه لرې فاصله باندې دی او همیشه نې خبر راخی او دهغه ښځه خوانه ده او سړی ته دهغې خواهش ته او نان نفقه ته هم محتاج ده او ویره ده چه زنا کښې مبتلا نشي او ددې ښځه خاوند چه معروف الخبر دی او دنان نفقه خبر په دی وجه نه اخلی چه بله ښځه نې چرته دبل کلی نه په خپل نکاح کښې راوستې ده او ددې مخکښې ښځې سره ده بچې یعنی یو هلك او یوه جینئ هم دی نو داسې صورت کښې ددې دپاره څه حکم دی او دا ښځه په داسې موقع کښې دامام مالك رحمه الله په مسئله عمل کولی شي چه دحضرت عمر رضی الله عنه نه مروی دی چه حضرت رسول مقبول صلی الله علیه وسلم فرمائیلی دی او دحضرت علی رضی الله عنه نه مروی دی بلکه

[1] وقت تجربه جواب ذهن ازین جزو سوال ذهول نمود وجوابش آنست که این نکاح ثانی باطل گفته خواهد شد وزن بسوی زوج اول واپس خواهد گشت ۱۲ منه۔
[2] مگر شرط آنست که قضاء قاضی مسلم نیز باین فتوی منضم شود محض کافی نیست ۱۲ منه۔

داهم لیکلی شوی دی چه حضرت عمر رضی الله عنه د حضرت علی رضی الله عنه قول طرفته رجوع کړیده او ډیرو صحابه کرامو مذهب هم دغه دی لکه څنګه چه نورالهدایه په ترجمه د شرح الوقایه کتاب المفقود کښی راغلیدی د کتابونو تفصیل عبارت اولیکی داسوال زمانه یوی لوی دلی کړیدی اوونیلی دی چه ددی فیصله د شریعت مطابق اوکړی ما دهغی په جواب کښی داعبارت چه د فتاوی مولانا عبدالحی لکهنوی کتاب کښی راغلیدی دهغی نه چه راخستی دی اولیکلی دی اوستاسو په خدمت کښی می دراولیږلو چه تاسو په خپله اود نورو عالمانو ددی تصحیح اوکړی او مونږته ئی رااولیږی اوددی اجر دالله رب العزت نه اوغواړی وهوهذا.

جواب: ([1]دی مسئله کښ د صحابه کرام (رضی الله عنهم) او د تابعینو اختلاف دی حضرت عمر رضی الله عنه او ډیر ګڼ شمیر صحابه رضی الله عنهم دی طرفته تللی دی چه مفقود ښځه به څلور کاله انتظار کوي دهغی نه پس به نکاح کوي او بعضو به دی باندی د صحابه رضی الله عنهم اجماع نقل کړیده امام مالک رحمه الله موطا کښ روایت نقل کړیدی. ان عمربن الخطاب قال ایماامراة فقدت زوجها فلم تدراین هوفانهاتنتظراربع سنین ثم تعتد اربعة اشهروعشرثم تحل للازواج او محمدبن عبدالباقی زرقانی رحمه الله د موطا په شرح کښ لیکي. روي نحوه عن عثمان وعلی قیل اوجمع الصحابة علیه ولم یعلم لهم فخالف فی عصرهم وعلیه جماعة من التابعین انتهی. او بعض صحابه رضی الله عنهم لکه ابن مسعود او علی رضی الله عنه د روایت په بنیاد دی طرفته تللی دی چه د مفقود ښځه به د خاوند د مرګ خبر راتلو پوری انتظار کوي او دا مذهب د شعبی او نخعی هم دی لکه فتح القدیر کښ چه راغلیدی، الحاصل ان المسئلة مختلفة فی مابین الصحابة فذهب عمر الی ماتقدم وذهب علی الی انهاامراة له حتی یاتیهاالبیان وروی عبدالرزاق عن ابن جریج قال بلغناان ابن مسعود رضی الله عنه وافق علیا رضی الله عنه ان امراة المفقودتنتظرابداً واخرج ابن ابی شیبة عن ابی قلابة وجابربن سعیدوالشعبی والنخعی لکنهم قالوالیس لهاان تیزوج حتی یستبین موته انتهی. یو مرفوع حدیث هم د حضرت ﷺ نه د علی رضی الله عنه د رایې موافق راغلیدی خو دهغی سند کښ ضعیف دی په دی وجه زیلعی تخریج احادیث هدایه کښ لیکلی دی اخرج الدراقطنی فی سنة عن سوار ابن مصعب حدثنامحمدبن شرحبیل عن المغیرة بن شعبة قال قال رسول الله ﷺ امراة المفقودامراة له حتی

---

[1] داجواب په خپله سوال کوونکی د مولانا عبدالحی رحمه الله د فتاوی نه اخذ کړي او لیکلي دي او داحقرجواب به دي نه وروستو راځی ۱۲ منه!

یاتیهاالبیان ووجدته فی نسخة مصری حتی یاتیهاالخبر وهوحدیث ضعیف عن محمدعن المغیرة فی امراة المفقود فقال ابی هذا حدیث منکر محمدمتروک الحدیث ویرویٰ عن المغیرة مناکیراباطیل وذکره عبدالحق فی احکامه من جهة الدارقطنی وعلیه محمدبن شرحبیل وقال انه متروک وقال ابن القطان فی کتاب سوار ابن مصعب شهرفی المتروکین انتهی. او دغه شان بدرالدین عینی هم په بنایه شرح الهدایه کښ لیکلی دی او س پوهیدل پکاردی چونکه په دی مسئله کښ حدیث په طریقه د ضعف راغلیدی او صحابه (رضی الله عنه) په خپله مختلف دی په دی وجه ائمه مجتهدین په خپل مینځ کښ په دی مسئله کښ مختلف شویدی حنفی امامانو د حضرت علی (رضی الله عنه) رایې ته د حدیث مرفوع په پیوست کولو ترجیح ورکړیده او مالکي امامانو د حضرت عمر رضی الله عنه او حضرت عثمان رضی الله عنه وغیره رایې غوره کړیده خو په وخت د ضرورت کښ حنفی امامانو تصریح ورکړیده چه د امام مالک رحمه الله صاحب قول د یوي ډله د صحابه سره موافق دی په دی وجه دهغه قول باندی فتوي ورکول صحیح دی بل چه ویره د واقع کیدو وي نو مسلک مالکي باندی عمل کول جائز دی جامع الرموز کښ راغلیدی قال مالک والاوزاعی الی اربع سنین فتنکح عرسه بعده کمافی النظم فلوافتی بها موضع الضرورة ینبغی ان لاباس به علی ماظن. او ردالمحتار حاشیه درمختار کښ راغلیدی ذکرابن وهبان فی منظومة ان لوافتی بقول مالک رحمه الله فی موضع الضرورة یجوزواعترضه شارحهاابن الشحنة بانه لاضرورة للحنفی الیٰ ذلک وقال الشارح فی الدرالمنتقیٰ هذالیس باولیٰ لقول القهستانی لوافتی به فی موضع الضرورة لاباس به علیٰ ماظن. او نفقه باره کښ الله رب العلمین په خپل قران عظیم کښ ارشاد فرمایي وهوهذاعلی المولودله رزقهن وکسوتهن بالمعروف. رزق لباس او ځای داوسید و زنانه د پاره مسلمانه وي که کافره لویه وي که وړه داسی چه هغې سره وطی کیدیشی په سړی باندی واجب ده. اګرکه ډیره وړه وي چه په وطی قدرت نه لری لکه څنګه چه قران کښ دغه برخی ایت دی او که خاوند د نفقه ورکولو نه عاجزه وي نو ددوي په مینځ کښ جدایې نه راولی بلکه په سړی باندی به قرض راخلی او خوری به. هرکله چه خاوند مالداره شی نو بیا ددی اداکړی خو امام شافعي په نزد په جدایې راولی خو دا سړی خود نفقه ورکولو نه عاجز هم نه دی او څه غریب هم نه دی څکه چه هغه بله ښځه چه دده په نکاح کښ ده ښه په ارام کښ د خوراک او جامو طرفته ښه فارغه ده فقط. دده مخکښ ښځی ته تکلیف ورکول منظوردی او نفقه

دطرفنه خوصفا انکاردی بلکه یوشان ظلم دی چه نه نفقه ورکوي اونه طلاق اوس دی ښځی ته څه کول پکاردی ایا دامام شافعی په نزد دوارومیاشتو کې جدایې وکړیشی څه حکم دی دشریعت مطابق خبرداری راکړی ددی چه دادویمه نکاح کولی شی یانه . اودویم سوال دادی چه یوسړی دوجه دظلم نه په خپلی ښځی خاوندانه شفقت اوپلارانه محبت دخپل اولادسره نه کوي دبچوترتیبت کوي په دی وجه هغه ښځه اوهغه بچی ددی سړی نه جداشول اوپه څه اودابنځه دهغوي داطاعت نه محروم پاتی شول اوس دی حالت کې گنهگارڅوک دی اودچانه به په څه باره کې تپوس کولی شی سره دی نه چه ښځه اولاد په خپل خواهش سره داطاعت نه محروم نه دی نوداسی صورت کې چه دنافرمانی ابتداء دښځی اودبچودطرفنه نه وي نودوي به بیولی کیږی یانه . نوقصه ددی ښځی چه دبره نه راروانه ده داسی ده چه کوم وخت داهلک دڅلورکالویازیات شواوجیني ددری میاشتووه . په دغه وخت ددی خاوندبل ملک ته لاړوتقریباً دولس کاله وشول چه اتروسه پوری یې دنفقه خبرکماحقه نه دی اخستی فقط . دی په خپل محنت ضروری سره دخپلوبچوپرورش وکړو پس کوم وخت چه دی ملک کې قحط راغی نوهغه وخت ددی زنانه ژوند دخپلو ددوبچوسره په دی ملک کې مشکل شودغه وخت چه ددی خاوندپه بل ملک کې وه ددی خیرخبردپاره راغلونوددی خاونددبلی ښځی سره چه دبل قوم نه وه نکاح کړی وه اوس دی ښځی چه کله خپل ملک پریخودواودی سړی خواته راغله چه خپل تکلیف اودخاونددجدایې داتکلیف لری کړی خودلته دبلی ښځی دوجه نه ددی تکلیف نورهم زیات شواوددی خاونددبی رحمی اودتکلیف داوخت تیرشونودابنځه جداشوه اوبیایې په خپل محنت ضروری سره دخپلوبچوترتیبت کولودهغی نه وروستوددی خاوندبل ځای ته لاړو دهغه دتلونه پس ددی بل خوي پیداشوخوده یې دنان اونفقه څه خبروانه جستودمجبوری نه دی ښځی په حکومت کې یوبیان په دی مضمون ورکړوچه زماخاونددیارلس څورالسوکالونه زمادنان اونفقه خبر بالکل نه اخلی حکومت دی ماته طلاق راواخلی کوم وخت چه کمشنربهادرصاحب دطرفنه کاغذددی خاوندته لاړونوپه دغه وخت ددی خاونددیته راغلواوورته یې اووئیل چه تادا دعوي ولی کړیده اوس ماسره راځه چه ته چرته زه ځم هلته به ته هم ځی اوچرته چه اوس زه اوزمابله ښځه اوسیږی هلته به ته هم ځی اودیره دهمکې یې ورکړه دی ښځی دخپل ځان دویری نه اوبل دهغه بنی دویری نه چه دیته مخکې یې دهغی ډیرتکلیفونه اوچت کړی وه لاړله اوخاوندیې

لاړوبیادوباره راغی اوبیاهغه شان راوغوخته چه ماسره لاړه شه خودی ښځی چه مخکې کوم انکارکړی وه هغه شان یې بیااوکړو اوورته یې اووئیل چه ماته تاسره اوسیدل منظورنه دی ماته طلاق راکړه ددی خاوندڅه جواب ورنه کړوبلکه چه څه لوښی اوکپړی وغیره وي هغه یې هم یووړه اوهغه هلک چه یې ډیرماشوموالی کې دڅلور پنځوکالوپریخودی وه اوبل ملک ته تللی وه هغه یې هم ځان سره بوتلواوهلک ډیرانکار کولوچه زه نه ځم بلکه زه نه پیژنم چه ته څوک یې خیردخلقوپه پوهولواواصرارکولوسره هلک لاړواودی خاوندښځی ته اووئیل چه که ته نه ځی نوماته هم ضرورت نشته خوداهلک اوجیني به بوزم کوم وخت چه هلک ځان سره روان کړوهغه وخت یې هغه جینی هم راوغوخته چه ماسره لاړه شه جینی خوهغه شه پیژنده اودپلاره هغه بی رحمی ورته معلومه وه اوهغه هلک چه ددی ښځی په محنت مشقت باندی لوي شوي وه اواوس یې شپاړلس یااوه لس کاله عمروه اومزدوري وغیره یې کولی شوه اوموږته یې هم ډیرامید دی چه هلک اوس هوښیارشومزدوری به کوي اوزموږپرورش به کوي هغه یې دځان سره بوتلواواوس دی وخت کې هغه جینی اوماشوم هلک چه دڅلورومیاشتودی هغه دی اوموریې دی وخت کې دسترگونه معذوره ده اوعمریې هم دڅلویښت کالونه زیات دی وخت دکمزوری دی اوخاوندیې داغواړی چه داجینی هم بوزه اودابنځه یوازی پریږدم دی جینی نه یې تپوس وکړو نومعلومه شوه چه پلارسره دتلونه بالکل انکارکوي چه خپله مور یوازی نه پریږدم اوکه زه یې په زوره بوتلم نوضروربه خپل ځان هلاک کوم اودی وخت کې ددی جینی عمردولس کاله څه کم اوزیات دی اوس چه دی حالت کې ددی جینی موردسترگونه معذوره هم وي اوکمزوری هم وي اوخپل محنت مزدوری سره یې ددی بچوترتیبت هم کړی وي اوداسی وخت داجینی دخپلی مورملاتړی اوامدادی شی نودخاونددا جینی په زوره بوتلل داسی وخت کې اوس دشریعت دی باره کې څه حکم دی اودمورحق په خپلوبچوباندی هم خصوصی دی اوس دی وخت کې په دی جینی څه شته یانه اوداجینی چه اوس لویه شوه ځان سره یې بوتللی شی یانه داپه صحیح سند سره اولیکې اودیرزربې جواب راولیږی فقط؟

[**جواب**] ددی سوال دوه جزه دی یودمفقودمتعلق دویم دنان اونفقه نه ورکولومتعلق . ده دواړوجواب په ترتیب سره لیکلی شی . [**جواب دوړومبی جزء**] فی الـــدرالمختار کتاب المفقودقلت وفی واقعات المفتین لقدری افندی معزیا الی القنیة انه لایحکم بموتـه بقـضاء لانـه

امر محتمل فمالم ینضم الیه القضاء لایکون حجة. بس دمفقود په بنځه کښې حنفی مذهب راجح دی نه دمالیکه دابحث اخرمتعلق داختلاف سره دی خو ضرورت کښې چه احنافو په دی عمل جائز کریدی نو دهغی دامطلب نه دی چه صرف فتوي عمل دپاره کافی ده بلکه په هغه کښې حسب روایات بالانضمام دمسلمان قاضی دفیصلی ضرورت دی نو داعمل داصورت کیدیشی چه دمسلمان حاکم په اجلاس کښې داواقعه پیش کریشی او وه دي وائی چه زه ددی مفقود دمرگ حکم کوم ددی حکم نه پس به هغه زنانه دوفات عدت پوره کړی نو دغه وخت دبل سړی سره نکاح جائزده والله اعلم. **[ددویم جزء جواب]** فی الدرالمختارباب النفقة ولایفرق بینهمالعجزه فیهاؤلابعدم ایفائه لوغائباحقهاولوموسراً اوجوزه الشافعی باعسارالزوج وبتضررها بغیبة ولوقضیٰ به حنفی ولم ینفذنعم اوامرشا فعیافقضی بــه نفــذوفی ردالمحتارتحت قولــه وبتضررهاوالحاصل ان عندالشافعی اذااعســر الــزوج بالنفقــة فلهاالفســخ وكــذااذاغالب وتعذرتحصلهاعلی مااختار ه کثیرون منهم وفیه بعدصفحة نعم یصح الثانی ای القــضاء علـی الغائب عنداحمد کماذکرفی کتب مذهبه وعلیه یحمل مافی فتاوی وقاری الهدایة حیث سئل عمــن غاب زوجهاولم یترک لهانفقة فاجاب اذااقامت بینة علی ذلک وطلبت فسخ النکاح مــن قــاض یراه ففسخ نفذوهوقضاء وعلی الغائب روایتان عندنافعلی القول بنفــاذه یــسوغ للحنفــی ان یزوجهامن الغیربعــد العــدة الخ وفی ردالمحتارقبیل کتاب الطهارة وادعی فی البحران المقلد اذاقضی بمذهب غیره اوبروایة ضعیفة اوبقول ضعیف نفذ الخ. دی واقعه کښې هم دجزواول دواقعی په شان صرف فتوي دجدایي دپاره کافی نه ده بلکه دقاضی دفیصله حاجت نشته بس که مسلمان حاکم اووایي چه مادفلانی سړی اوفلانی ښځی په مینځ کښې تفریق اوجدایي وکړه نکاح ماته شوه اودطلاق عدت به دهغه ځای نه شمارکړی بله نکاح کولی شی اوکه چرته دی دواړو جزونو کښې داشکال وي چه مسلمان حاکم په هندوستان کښې دکوم ځای نه راولی چه ددی مشکلاتو انتظام وکړی نو پوه شه چه درمختار کتاب القضاء کښې راغلیدی ویجوزتقلید القضاء من السلطان العادل والجائرولو کافرذکره مسکین وغیره. بس ددی صورت دادی چه انگریزی حاکمان کوم چه بااختیاره دی هغوي دمهربانی وکړی په دی واقعاتو کښې دیو مسلمان عالم ته دفیصلو کولو سره پوره اختیارات ورکړی هغه مسلمان عالم داختیاراتو دملاویدونه دوجه نه په ځای دقاضی وگرځیدواودهغه حکمونه دي په داسې

واقعاتو کښې نافذ کړیشی اوداضروری نه ده چه داسې اختیارات دهمیشه دپاره ورکړی بلکه خاص ددی دوو واقعو فیصله کولو اختیارات ورکول پوره دی اوددی فیصله کولو نه وروستو به داسړی بی اختیاراومعزول کړیشی اوکه چرته ټول مسلمانان اتفاق وکړی چه همیشه دپاره ددا سې فیصلو دپاره حاکمانوته درخواست وکړی چه عالم مقرر کړی نو همیشه دپاره به مصیبت ختم شی. **[ددویم سوال جواب]** فی الــدرالمختارباب الحــضانة ولاخیارللولدعندنامطلقاً ذکراً کان اوانثی خلافاً للشافعی قلت وهذاقبل البلوغ امابعده فیخیربین ابویه وان ارادالانفرادفله ذلک الیٰ قوله لایخیرهما وفی ردالمحتارتحت قوله لالغیرهــم فــلاب ان یضمهاالیه وکذاللاخ والعم الضم ،ذالم یکن مفسداً فان کان فحیئذاً یضعهاالقاضی عند امــراة ثقة الخ. وزاد الزیلعی وکذالحکم فی کل عصبة ذی رحم محرم منهاالخ. وهذالــذی مــشی علیه المصنف بعد. بس دی واقعه کښې چه کوم اولادبالغ دی په هغوي باندی دبالغیدودوجه نه دپلارزورنشته. بلکه دی اولادته اختیاردی چه مورسره پاتی کیږی اوچه کوم نابالغ دی چونکه داسړی داسې ظالم دی ددی نه اولادته دنقصان رسیدوویره ده په دی وجه نابالغه اولادهم نه شی بوتلی. ۲۲ جمادی الاول (امداد/ج ۲ /ص ۳۲)

سوال: (۴۵۸) یوه زنانه محتاجه غریبه ده اودهغی خاوند دډیروخت نه ورک دی اوبغیردخاوند نه دژوند تیرولو څه صورت نه معلومیږی دزمانه حال ښکاره دی ددومره لوږی په حالت کښې دینه ددویمی نکاح څه حکم دی؟

جواب: اگرچه بعض عالمانو دشافعی اومالک رحمه الله په قول باندی دعمل کولو اجازت ورکړیدی خو دلیکلو نکښې په تجربه کښې دامام ابو حنیفه رحمه الله په قول پریخودو کښې ډیر فسادونه موندی شوي دی پدی وجه زماپه نزد دامام صاحب دفتوي متفق دویمه نکاح دخپل مقرر وخت نه مخکښې جائزنه ده[1] فقط والله اعلم. (امداد/ص ۴۵/ج ۲)

سوال: (۴۵۹) شخصی ازچند سال مفقود شده خبری ازپیغام ونامه نمی اید وزنده ومرده مطلق نیست وجوان بود وزنی جوان دارد ان جوان درجوش جوانی ایمان رابرباد میدهد وعزت اقوام برخاک میریزد وفتورکمال درمسلمانان می اندازدوصورة نکاح این زن بشرع نبوي درمذهب مایان می تواندشد؟

---

[1] یعنی نوي کاله چه دخاوند عمرشی هغه هم په شرط دقضاء دقاضی ۱۲ منه

جواب: مسئله مجتهد فیه است اگر قاضی کو مولی از سلطان باشد یا از عامه مسلمین بر مذهب شافعی و مالک بعد چار سال حکم بموت مفقود و فسخ نکاح زن کند نکاح فسخ شود از ان پس چار ماه و ده روز از عدت گزراینده نکاح جائز است و بدون قضاء فسخ نتوان شد و نکاح ثانی جائز نیست. ۱۰ رجب/ ۱۳۲۱ھ، امداد/ص ۴۲/ج ۲،

سوال: (۴۶۰) دزید دیرش پنځه دیرش کاله او شول چه دځپل ښار نه تلی دی په دی مینځ کې دوه پرو ښارونو نه لکه بمبی حیدر اباد نه دزید دژوند خبرونه دخلقو زبانی راځی خو دولس دیارلسو کالو نه دزید دمرګ اوژوند خبر دهیڅ ځای نه هم نه دی راغلی نه دچازبانی او نه په خط او کتابت سره سره ددی نه چه زمونږ دښار خلق په ډیرو کلو ښارونو کې دعطر او تجارت دپاره موجودی اوس دری کاله تیرشول چه دزید ښځی عمرو سره نکاح وکړه لهذا گزارش دی چه دشریعت مطابق دانکاح جائزده یا نه ځکه چه دانکاح دحنفیانو د مذهب نه خلاف ده که چرته دانکاح جائزوي نوولی جائزده سره ددلیلونو ولیکې دلته په خپلوانو کې اختلاف راغلیدی او که دازیدراشی نو دده دښځی به څه کول شی بینوا بسند الکتاب توجروا عند الله بحسن الماب؟

جواب: ددی نه علاوه چه دادحنفی مذهب نه خلاف ده یو خرابی او کمی دیکې دادی چه صرف څه موده تیریدل مفقود باندی دمرګ حکم کولو دپاره کافی نه دی څو پوری چه پری شرعی حاکم دمرګ حکم نه وي کړی دهغی نه پس به عدت تیر کړی نو بیانکاح کولی شی. ف الدرالمختار قلت وفی واقعات المفتین لقدری افندی معزیا للقنیة انه انمایحکم بموته بقضاء لانه امر محتمل فمالم ینضم الیه القضاء لایکون حجة الخ. په دی وجه دادویمه نکاح صحیح نه شوه البته که چرته دمسلمان حاکم په اجلاس کې اگرچه هغه انگریزی ملازوي دامقدمه پیش کړی او هغه دیو عالم نه فتوي واخلی او او وایې چه هغه مفقود مړشو په دی وجه زه دهغه نکاح دی ښځی سره ماتووم اوس عدت دوفات پوره کړی بیا ورته دویمه نکاح جائزده او دهغی نه پس هم که ورومبی خاوندراشی نو دا ښځه به هغه ته واپس ورکړیشی فی الدر المختار قال تم بعد رقمه رأیت المرحوم ابالسعود نقله عن الشیخ شاهین ونقل انه زوجة له والاولاد للثانی،
۲۱ ذی الحجه ۳۱ھ، امداد ص ۵۰ ج ۲،

حکم نکاح زوجه مفقود درصورتیکه عادة موت زوج یقینی باشد

سوال: (۴۶۱) زید در جهازیکه او کلکته به لندن وامریکه وغیر می رود نوکری می کرد قضارا چون باری جهاز درمیان دریا رسید روزی در کار معهود خود رفته گم شد دیگران خبر بکپتان رسانیدند کپتان نیز بعد او تتبع بسیار از ونشانی نه یافت بانکه جهاز از ساحل شش روز راه دور بود چون جهاز بساحل رسید نیز تتبع کرده آمد اما اورا نیافتند قریب یک سال است سه کس که درهمراه او در جهاز نوکری میکردند بملک آمده خبر مذکوره باقارب اورسانیدند آیا درین صورت روا بود که زوجه اش را بدیگری نکاح داده آید اگر جائز بود عدتش از کدام وقت گرفته شود از ظاهر عبارت شامی که در آخر کتاب مفقود است بعضی حکم جواز نکاح میدهند حضور درین چه می فرمایند نقل عبارت شامی. اوذافقد فی المهلكة فموته غالب فیحکم به کما اذا فقد فی وقت الملاقات مع العدو او مع قطاع الطريق اوسافر على المرض الغالب هلاکه او کان فی سفر البحر وما اشبه ذلک حکم بموته لانه الغالب الخ، جلد ثالث کتاب المفقود ص ۵۱۱؟

جواب: در رائ من درین صورت موت او عادةً یقینی است لوقوعه فی البحر واحتیاج نیست بتمسک بعبارت شامیه چراکه عبارت مذکوره درصورت احتمال است برائ ترجیح آن احتمال حاجت است بسوئ رائ امام یا قاضی درمصداق عبارت مذکوره موت نه ثابت باشد ونکاح درست ن باشد پس اگر صورت مسئوله عنها را در عموم مدلول عبارت مذکوره داخل کرده شود حاجت بحکم القاضی بموته خواهد افتاد وآن غالباً درین بلاد مفقود است پس حکم بجواز نکاح چگونه کرده آید صورت مسئول عنها چنان است که شخصی درنظر مابمیرد ودفن کرده شود باوجود احتمال عقلی که شاید مسکوت باشد حاجت بقضاء قاضی گفته نمی شود لانه احتمال ضعیف خلاف العادة هم چنین درصورت مسئوله گو احتمال عقلی است که در بحر شناوری کرده بیرون بحر آمده باشد لاکن لاکن چون خلاف عادت است اعتبار نه کرده خواهد شد پس یقیناً میت است واز همان وقت عدت تمام کرده بازوج دیگر نکاح زنش درست باشد: ۱۱ ذی الحجه/ ۱۳۳۱ھ، حوادث/ص ۱۲۴/ج ۱، **(خلاصه**

سوال: (۴۶۲) از نکاح زن که زوج آن مفقود باشد!

(خلاصه جواب) نزد حنفیه برروایت چهار سال بموجب قول امام مالک رحمه الله جائز است بشرط قضاء قاضی! **تسامح** درنقل عبارت قدرآی آفندی درسند قاضی!

اصلاح تسامح: [1] تلفیق درمیان دومذهب بالاجماع باطل است وان الحکم الملفق باطل بالاجماع ۱۲ الدرالمختار جلد ۱ صـ ۷۷ هرگاه درباره مفقود مذهب امام مالک رحمه الله اختیار کرد درین باره تمام شرائط از قضاء قاضی وغیره مذهب او رعایت باید کرد وان یجوز العمل بما یخالف ما عمله علی مذهب مقلداً فیه غیر امامه مستجمعا شروطه ۱۲ ردالمحتار جلد ۱ صـ ۷۷ پس مجیب مدظله درمانحن فیه حکم بر مذهب امام مالک رحمه الله کرده است وضروریات شرط قضاء قاضی از مذهب حنفیه آورده است که بعد موت اقران یا بعد مدت که مفوض ای الامام است قاضی حکم کند ددرین باره روایت ماروی قدری افندی صاحب درالمختار سند آورده است ثم رایت عبارة الواقعات عن القنیة ان هذا ای ماروی عن ابی حنفیة رحمه الله بقضاء لانه امر محتمل الخ ردالمحتار جلد ۳ صـ ۵۱۲ پس تلفیق حاصل ست وآن بالاجماع باطل ست واجب بود رمجیب قدس سره که از مذهب امام مالک رحمه الله بابت ضرورت وعدم ضرورت قاضی سند تحریر فرموند این روایت موجود نیست مگر فتویٰ اهل علم موجود ست بعینه درج ست از کتب مذهب امام مالک رحمه الله معلوم می شود که تفریق باید کرد وتفریق کننده اگر قاضی نه باشد جماعت مسلمین تفریق کنند واین کافی ست ولزوجة المفقود الرفع الیٰ القاضی والولی ووالی الوالی والافجماعة المسلمین ۱۲ شرح خلاصه دردی فی مذهب الامام مالک رحمه الله فقط؛ والله تعالیٰ اعلم بالصواب کتبه عزیزالرحمنٰ مفتی مدرسه عربیه دیوبند ، ۱ ذی الحجه ۳۰ هـ؛

الجواب صحیح محمد سئول عفی عنه مدرس مدرسه دیوبند	الجواب صحیح بنده محمود عفی عنه (ملحقات تتمه اولیٰ ص ۳۳۷)

شرط نکاح مفقود الزوج

سوال : (۴۶۳) په دی مسئله کښ چه دهندی خاوند داتو کالونه ورک دی او دتلو په وخت یې څه داسی سامان په کور کښ نه دي پرېښی چه په هغی دهندی یوه هفته هم تیره شی داسی صورت کښ هندی ته ددویمی نکاح کولو په شریعت کښ څه حکم دي ؟

جواب: دمفقود الزوج دنکاح په جواز کښ چه دامام مالک رحمه الله دمذهب موافق چه کوم شرط دي کما فی الدرالمختار کتاب المفقود که دهغی چرته انتظار وکړیشی نو جائزده هغه داچه

[1] دامام مالک رحمه الله دمذهب تحقیق ددی فهرست دختمیدو نه پس لیکلی شویدي هغه دي وکتی شی ۱۲ اشرف علی؛

دیو مسلمان بااختیاره حاکم په اجلاس کښ به دابنځه استغاثه (فریاد) وکړي او هغه به دحملی والونه تحقیقات وکړي او او به وائی چه زمونږ په نزد هغه مفقود مړ شویدی موږ هغه مړ ګڼړو نو دده ددی وینان پس به څلور میاشتی لس ورځی عدت تیر کړي او بیا به نکاح وکړي او ددي نه بغیر صحیح نه ده صبر دي وکړي ۲۵ ربیع الاول ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثانی صـ ۲۱)

سوال : (۴۶۴) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئله کښ چه دیو ولس کالو هلک او دنهو کالو جینئ وه مور او پلار مړه شول دواړه مرګ دویری نه چرته لاړو چه دهغی اته نهه کاله تیر شول هلک واپس رانغی او نه دهغه دژوند خبر ملاؤ شو او نه ددی هلک په خاندان کښ څوک ولی او وراث پاتی شویدی ددی هلک مور او پلار دواړه په یوه ورځ طاعون کښ مړه شوي وه چه دهغی نهه کاله اوشلو او هغه ناوی خپل مور پلار کره اوسیدله اوس هغه بالغه شوي ده اوس اوفرمائی چه ددی واده بل چاسره وکړیشی که چرته نه کیږي نو بیا خو ددی په پاکدامنی کښ فرق راځی څه کول پکاردی او دیته به روتی کېږه څوک ورکوي اوس یې مور پلار هم نشته ؟

جواب: چرته اسلامی حکومت نه دي لاړشی چه کوم ځای مسلمان قاضی وي لکه بهوپال ددی جینی دطرفنه به فریاد وکړیشی او داقاضی په تحقیقاتو کولو نه پس اووائی چه هغه هلک مړ شودی ددی وینانه پس به څلور میاشتی اولس ورځی عدت تیر کړي او بیا دی دا ناوی بل ځای کښ نکاح وکړي ۲۷ شوال ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثانیه صـ ۸۱)

سوال : (۴۶۵) زید دلسو کالونه مفقود الخبر دی دهغه دمرګ ژوند څه پته نه لګی حتی الوسع تلاش وکړیشی څه پته یې ونه لیګده هنده دهغه ښځه ځوانه ده ددی وخت دا نازک حالت یې وکتلو نو مور پلار او رورېې اراده ده چه ددی دویمه نکاح چرته یو نیک سړي سره وکړي او فتاوی رشیدیه کښ یې غالباً لیکلی دي چه دامام مالک یا هم په دي مسئله باندی عمل کولی شی لهذا اخدمت دي چه دحضور والا په دي مسئله کښ څه ارشاد دي چه دهغی موافق عمل درامد وکړیشی ؟

جواب: فی شرح الزرقانی المالکی علی موطاالامام مالک رحمه الله فی عدة التی تفقد زوجها مانصه وضعف الاول (ای الوجه الاول للتحدید باربع سنین) بقول مالک رحمه الله لو اقامت عشرین سنة ثم رفعت یستانف لها الاجل ثم قال والثانی (ای الوجه الثانی) لقول مالک ایضاً تستانف الاربع من

بعدالياس واقامن يوم الرفع ثم قال فلاسبيل لزوجها الاول اليها اذاجاء اوثبت انه حي لان الحاكم اباح للمراة الزوج الیٰ قوله ثم رجع مالک عن هذاقبل موتـه بعـام وقـام لایفتیهـاعلی الاول الادخول الثانی غیرعالم بحیاته ثم قال وفرق بینها(ای المراة یطلقهازوجهاوهوغائب عنها الخ) وبـین امراة المفقودبانه کم یکن فی هذه امرولاقضیه من حاکم بخلاف امراة المفقود(کان فیهاقضاء مـن الحـاکم) اه اپه دی عبارت کي څلورخایه داتصریح ده چه دامام مالک په مذهب کي دمفقودښځه بغیردحکم دحاکم اسلام نه دویمه نکاح نه شی کولی بس دامام مالک رحمه الله په قول باندی عمل کول دادي چه پدي قیدباندي هم عمل وي اوکه داسی اونه وکړیشی نودویمه نکاح جائزنه ده اوښکاره خبره ده چه اوس څه داسی انتظام نشته ؛ نوداسی نکاح د هغه په مذهب مطابق هم جائزنه ده ؛ ۲۲رمضان المبارک / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثاني / ص ۱۲۸)

جواب مسئله مفقوداز حضرت مولانا گنگوهی رحمه الله که از قاضی عبدالحق شدواحقرخط مولاناشناخته ؛ کوم وخته نه چه دخاوند دخبرڅه پته نه لګي دډیرتحقیق نه پس هم څه نخښه ملاؤنه شوه دهغې وخت نه پس به څلورکاله پوره تیروي اوبیامسلمان حاکم ددوي مینځ کي تفریق وکړي دتفریق نه وروستودغه ښځه څلورمیاشتی اولس ورځی عدت تیرکړي اوبیابه دبل چاسره نکاح وکړي دادامام مالک رحمه الله مذهب دي پدي باندی دي وخت کي فتوی ورکولی کیږي والله اعلم کتبه احقررشیداحمدعفی عنه ،مهر (تتمه خامسه / ص ۱۵۱)

سوال : (۴۶۶) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کي چه دمفقودالخبرښځه څومره موده وروستودویمه نکاح کولی شی اوداموده به دورکیدو ورځی نه شماریږي یاقاضی صاحب ته دخبراورونه پس به شمرلی کیږي ؛ **ورومبیی دفعه** مولاناعبدالحق لکهنوی رحمه الله په خپله فتاوی دریم جلدصفحه ۱۵۰ کي په حواله درحمة الامه لیکلی دي که امام مالک رحمه الله می فرمایند که ازروزفقدان اوهرگاه چهارسال وچهارماه وده روزبگزرندنکاح زن اوجائزاست کذافی رحمة الامت دافتوی دي زمانه کي قابل ده یانه ؟

جواب :دانقل درحمت الامت بلاسنده دي ؛ **دبرنی سوال تتمه** دفقه مالکی په کتابونه مدونه کیږي وغیره کي یي دامام مالک رحمه الله مذهب دالیکلی دي چه ښځه کوم وخت چه قاضی ته خبري بوزی دهغه وخت نه څلورکالوموده مقرریږي اوکوم وخت چه ددي نه مخکي تیرشویدی دهغې څه اعتبارنشته اګرکه شل کاله وي لکه څنګه چه حضرت مفتی صاحب [illegible]ندی لیکلی دي دکفایت لطالب عبارت هم ددی تائید کوي ؟ **جواب** مدونه نقل کړي

من توسط بین الرتبتین بحیث لم یصر کالمجنون وهذامحل النظروالادلة تدل علی عدم نفوذ اقوال ملخصامن شرح الغایة الحنبلیة الیٰ قوله وهذالموافق عندنالماقی مرادالمدهوش یعنی غضب په دری قسمه دی رومبی قسم ابتدائي غضب په دی طریقی سره چه دده په عقل کښ څه فرق رانه شی اوپه دی حالت کښ یې چه څه وئیلی وه. اوس هغه ښه معلومه ولی شی دی صورت کښ دده اقوال شرعاً معتبردی یعنی طلاق وغیره دده شرعاً ضرورواقع کیږی. دویم صورت دادی چه دده غضب دی حالت ته ورسی چه غضب حالت کښ ده څه وئیلی وه اوکړی وه هغه اوس نه شی معلوم ولی بالکل بی هوشه اولیونی شی دی حالت دده اقوال شرعاً نافذاومعتبرنه دی یعنی طلاق وغیره دده هرگزنافذاوواقع نه دی اودریم صورت دادی چه دده غضب بین المرتبتین دی چه دده غصه نه په شان دلیونی وی چه دی فلایعلم مایقول ولایریده درجه نه وی رسیدلی دی حالت کښ دی غصه کښ دی خو دده عقل ثابت اوقائم دی اودغه حالت کښ چه ده څه وئیلی وه هغه معلومولی شی اودامطلب بحیث لم یصر کالمجنون نه معلومیږی. اودی دریم صورت کښ دده اقوال شرعاً نه نافذ کیدواونه معتبرکیدوباندی ډیردلیلونه دلالت کوی یعنی طلاق وغیره دده نه نافذ کیږی اوس صرف ددی دریم صورت مطلب صحیح دی یانه اوفرمائی چه دی دریم صورت کښ دلته اختلاف راغلی دی یوکس وائی چه زه یووخت ډیرغصه کښ ووم چه دغصی دوجه نه زمابدن تول رپیدوپه یوخای باندی اطمینان سره نه شوم اودریدئ اوزمامخ اوسترگی سری شوی وی خوزماعقل اوهوش صحیح وه هغه وخت چه ماڅه وئیلی وه اوس ماته ښه معلوم دی دی حالت ده خپلی منکوحی ته دری طلاقه ورکړیدی اوس ددی دریم صورت دمطلب مطابق دده دطلاق نه واقع کیدوباندی فتویٰ اولیکلی شوه اوبعضی خلق وائی چه اگرچه که دده داوینادریم صورت دمطلب مطابق هم وی بیاهم دده طلاق واقع دی ځکه چه دادلیل په ائمه ثلاثه کښ دچاهم قول نه دی صرف دابن القیم ﷺ قول دی په دی باندی عمل اوفتویٰ نه شی کیدي دهغه په جواب کښ داوئیلی شی چه هرکله داقول شامی کښ نقل شووالادلة تدل علی عدم نفوذاقوله موجوددی بی شکه داقول قابل دعمل اودفتوي دی اوس دری طلاق ورکوونکښ داقول ددریم صورت دمطلب موافق دي یامخالف که مطابق وی نوشرعاً دده دری طلاقه واقع دی یانه ضرورارشاداوفرمائی. اوددی اختلاف ختمیدل صرف ستاسوپه ارشادباندی موقوف دی تفصیل سره ولیکښ؟

جواب: دا دریم صورت تقریر په سوال کې ډیر مختصر او واضح نه دی پوره تقریر دادی چه په دې دری قسمونو نه په وړومبي قسم کې یې دا دوؤ خیزونو اثبات کړیدی یعلم او یقصد او دریم قسم کې یې ددې دواړو نفی کړیده په دې وجه وئیلی دی چه لایعلم او لایرید چه مرادف دلایقصد دی دغه نه پس دریم قسم کې بین المرتبتین وئیل نو ښکاره خبره ده چه د بین المرتبتین دا معنی ده چه په دیکې دا دواړو امرونو نه اثبات دی نه نفی بلکه د یو اثبات دی چه هغه سره دا من وجه د وړومبي قسم سره مشابه دی او د امر نفی ده چه هغې سره دا من وجه د دریم قسم مشابه دی اوس دا کتل پکار دی چه دې دواړو امرونو کې د یو اثبات او د بل نفی عقلاً د دوؤ قسمونو احتمال لری یو دا چه د علم اثبات وی او د اراده نفی وی او دویم د دې عکس یعنی د ارادې اثبات وی او د علم نفی وی او دا ښکاره خبره ده چه دویم احتمال محض غلط دی ځکه چه اراده خپله موقوف ده په علم باندې پس دا ممکن نه ده چه موقوف وجود وی او موقوف علیه نه وی نو خامخا وړومبي احتمال متعین شو یعنی د علم اثبات او اراده نفی نو د بین المرتبتین دا معنی شوه چه ددې سړی په غلبه د غصه کې دا حال شو چه بې اراده یې د خولې نه داسې وئیل خو علم یې وه لکه ځنګه چه د مخطی حال وی چه وائی بې اراده خو کیږی دې صورت کې واقعی د مقتضی اولی نه دا معلومیږی چه واقع نه دی لکه ځنګه چه مخطی کې فیمابینه وبین الله نه واقع کیږی صرح فی الفتح القدیر عبارته هکذا والحاصل انه اذا قصد السبب عالماً بانه سبب رتب الشرع حکمه علیه اراده اولم یرده الا ان اراد مایحتمله واما انه اذا لم یقصده اولم یدرماهو فیثبت الحکم علیه شرعاً وهو غیر راض بحکم اللفظ ولا باللفظ فممایبنوعلیه قواعد الشرع الخ ۱۵۴ ص، قلت نعم لاتصدقة المرأة کمافیه ایضاً بعد سطور لانها کالقاضی لاتعرف منه الا الظاهر نو دې صورت کې که څه ددې سړی د سرنه قصد هم نه وه بیا هم خو دریم صورت کې داخل دی کنې نه دی بیا دریم قسم کې د داخلیدو نه وروستو غایه سره ددې خلاف په خپله شامی نقل کړیدی او د اقوال والادلة الخ د شامی قول نه دی بلکه د ابن القیم رحمه الله دی او ددې دا ترجمه چه ډیر دلیلونه الخ صحیح نه ده دلته الف لام استغراقی د عربی نه دی بلکه د جنس دی کمافی قوله تعالی الرجال قوامون الایه کمایشهر به الزوق پس ددې سړی په دریم قسم کې داخلیدل موقوف

دی په دې باندې چه دده نه د قصد او د عدم تحقیق او کړیشی کوم چه دې سوال کې نه دی ذکر شوی واللہ اعلم وعلمه اتم ۸ رمضان المبارک ۱۳۲۳ھ (امداد ص ۲۳ ج ۲)

حکم طلاق مریض مدعی اغما، که خلاف ظاهر باشد

سوال: (۴۹۲) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه مسمی امام الدین تبه ده د تبې په حالت کې ورته پلار او وئیل چه زما دوه دری بچې اوس نور هم مړه شویدی معلومیږی چه ددې نا امیدی کې ښځې د وجه نه په ته هم ضرور د خاورو دلاندې شی ته خپله ښځه پریږده دی خبری اورید و سره امام الدین او وئیل چه ما ښځه پریخوده ما ښځه پریخوده ما ښځه پریخوده دینه وروستو د طلاق واقع کیدو ویری نه او بل ددیتوی مصلحت د وجه نه دده پلار وائی چه امام الدین دینه یوه ورځ مخکې بې هوشه وه عین بې هوشی په حالت کې ددنه دا کلمات ادا شویدي په دې بنیاد دلته بعضی مفتیان صاحبانو دا فتوی ورکړیده چه د بې هوشه طلاق نه واقع کیږی په دې وجه امام الدین طلاق نه دی واقع شوی اوس هر کله چه امام الدین د ما شو موالی نه لیونی او بې هوشه نه دی صرف د یو دوؤ ورځو د پاره د خود غرضی د وجه نه یې بې هوشه او ګرځولو اوس دی مصنوعی او فرضی بې هوشی په حالت یې د خپل پلار کلام لره کما قعه او پیژند و څه بل څه یې او نه وئیل بلکه مناسب جواب یې ورکړو او د طلاق په شمیر کې هم دریو نه مخکې لا تر و په دې صورت کې امام الدین دی الفاظو سره دده ښځه طلاقه شوه یا نه او هر کله چه دده د پلار په کلام کې اضافت موجود دی دده په جواب کې دا اضافت نه کیدو د وجه نه په طلاق واقع کیدو کې څه خلل او نقصان راځی یا نه بینوا توجروا؟

جواب: په دې سوال کې ددې بې هوشی متعلق په خپله د خاوند څه دعوی هیڅ هم نه ده او د بې هوشی د حکم څه احتمال هم نشته او که هغه دعوی نه ده ذکر شوی بس که هغې ددې مدعی نه وی بلکه د هوش اقرار کوی بیا خو د خاوند د پلار دعوی هیڅ هم نه ده او د بې هوشی د حکم څه احتمال هم نشته او که هغه دعوی کوی نو چونکه دا امر د ظاهر نه خلاف دی په دې وجه دده دا دعوی نه شی اوریدلی کیدی کنې هر یو طلاق کوونکې داسې دعوی کولی شی بلکه د هغې اعتبار د پاره دا شرط دی چه د هغه دا حالت د نورو عام لیدونکې د پاره هم ښکاره او محسوس وی برابره خبره ده که عین د هغه وخت پری دا حالت شروع شوی وی یا د هغه وخت مشتبه وه

خومخکې نه شروع کیدل دعامو خلقو په نزد معلوم وی او دهغی زوال یقینی نه وه او په دی اخیری صورت کې قسم هم دخاوند نه اخستلی شی دلیل ذالک الابقوله کان القول قوله الخ ج ۲ / ص ۲۹۹ / او دلته دا شرط نشته بلکه ددی خلاف دلیل موجود دی یعنی ددی هوش او محاوری دوجه نه دا لفظ موجب دطلاق دی او دویم دا چه په لفظ کې اضافت نه کیدل دوجه دقرینی دمقام او وقوع فی الجواب نه مانعه دطلاق نه دی دورومبی خبری دلیل دا دی فی ردالمحتار بخلاف فارسیته قوله سرحتک وعورها کردم لانه صار صریحا فی العرف علی ماصرح به نجم الزاهد الخوارزمی فی شرح القدوری الخ. ج ۲ / ص ۷۲۲ / قلت کذا قولهم فی الهندیه چهوړا پریخودل ، او ددویمی خبری دلیل دا دی فی ردالمحتار وسیذکر قریبا ان من الالفاظ المستعر الطلاق یلزمن الحرام یلزم منی وعلی الطلاق وعلی الحرام فیقع بلانیة للعرف الخ. فاوقعوا به الطلاق مع انه لیس مع الله لیس فیه اضافة الطلاق الیها صریحا فهذا مؤید لما فی القنیة وظاهره انه لایصدق قاضی انه لم یرد امرأة للعرف ج ۲ / ص ۷۰۵ / خلاصه دا چه دی صورت کې طلاق مغلظ واقع شو. ۱۸ ذی قعده ، ۱۳۳۱ھ ، تتمه ثانیه ص ۵ ،

ازترجیح الراجح جلد خامس ص ۲۰

په بهشتی زیور خلورمه حصه ص ۳۲ . باب طلاق ثلثه فرمودند ، برابره خبره ده که صفا الفاظو کې دری طلاقه ورکړی وی یا ګول مول لفظونو کې دتولو یو حکم دی ، این عبارت این دوصورت مرقومه ذیل شامل است حالانکه طلاق ثلثه واقع نمی شود . (۱) واذ طلقاطلیقة بائنة ثم قال طاق عدقالت علی حرام اوخلیلة اوبرئیة اوبائن اوبتة اوشبه ذالک وهو یریدبه الطلاق لم یقع علیها شی . الخ ۱۲ .شامی ۷۷۳ / (۲) ، ولایلحق البائن البائن الخ . کانت بائن اوابتک بتطلیقه فلایقع ۱۲ . الدرالمختار ص ۲۲۴ / خلاصه بائن ببائن باستثناء درصورت مرقوم فقه لاحق نمی شود پس هرګاه که درالفاظ (ګول) کنائیه سه بار بائن بائن یابائن خلیه تبة ګفت دواخیره واقع نه خواهد شد پس اکثر معلمین ومتعلمین خالی الذهن وعامی می باشد درغلطی می افتند پس کدام تقیید درحواشی زائد فرمایند تاکه اصلاح شود

عدم وقوع طلاق سکران ازمباح

سوال:(۴۹۳) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کې چه یوکس په ناپوهی کې یو قسم متهائی چه هنګ پکې ګډ شوی وه او خوړه نوشی په حالت کې یې خپلی ښځی طلاق مغلظه ورکړه او چه حالت یې ډیر خراب شو التی یې اوکړی او چاپری څه ترشی او خوروله نوشه ترینه لاړه نو معلومه شوه چه دا دبهنګ ګډ کړی شوی متهائی نشه وه چه په ناپوهی کې یې خوړلی وه نو سخته توبه یې اوویسته او چونکه دغه طلاق ورکول ورته بالکل یاد نه وه دچا په خولی ورته معلوم شول نو ډیر زیات خفه شو او احتیاطاً دښځی نه جدا شو نو اوس دی صورت کې طلاق اوشو یا نه بینوا توجروا؟

جواب:فی الدرالمختار نعم لوزال عقله بالصداع اوبمباح لویقع وفی ردالمحتار کما اذا سکر من ورق الرمان فانه لایقع طلاقه ولاعتاقه ونقل الاجماع ذالک صاحب التهذیب کمافی الهندیة قلت وکذالوسکر ببنج اوافیون تناوله لاعلی وجهه المعصیة بل للتداوی کمامر . ج ۲ / ص ۲۹۲ / دی روایت نه معلومه شوه چه دی صورت کې طلاق نه دی واقع شوی فقط . ۹ جمادی الاول / ۱۳۳۱ھ

حکم تعلیق طلاق وتعلیق ظهاربشرط محدود

سوال:(۴۹۴) زید خپلی ښځی ته وونیل چه نن تادا کار اونه کړو نوماتا ته طلاق درکړو او دالفظ دری ځله زید خپلی ښځی ته مخاطب شوا اوړی وئیل خو دده ښځی په دغه ورځ دده په وینا باندی عمل اونه کړو نو دا طلاق واقع کیږی یا نه .او زید دا الفاظ ویرولو د پاره وئیلی وه چه خبره اومنی . لایلحق البائن البائن مطلق نه دی بلکه دا په هغه صورت کې دی چه بائن ثانی کې سنت دطلاق نه وی او اخبار داول نه وی یا یې څه نیت نه وی لاندینی عبارت نه داتفصیل معلومیږی .فی العالمګیریه ج ۲ / ص ۷۰ ، ولایلحق البائن البائن قال لها انت بائن ثم قال لها انت بائن لایقع الاطلقة واحدة بائنة لانه یمکن جعله خبراً عن الاول وَهو صادق فیه فلاحاجة الی جعله انشاء لانه اقتضاء ضروری حق قال لوعنیت به البینونة الغلیظة ینبغی ان یعتبر ویثبت به الحرمة الغلیظة الی ان قال کذافی العینی شرح الکنز الخ ؟

جواب:فی الدرالمختار مع ردالمحتار ج ۲ / ص ۸۴۲ / فی ایمان الفتح مالفظه وقدعرف فی الطلاق انه لوقال ان دخلت الدارفانت طالق ان دخلت الدارفانت طالق ان دخلت الدارفانت طالق وقع الثلث لصح

اقره المصنف ثم. دی روایت نه معلوم شوه چه دی صورت کښې دری طلاقه واقع شول اوس حلالې نه بغیر نکاح نه شی کیدی او که دسوال کونکې څه بل بنت وه نو دوباره تپوس اوکړی والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم واحکم. ۱۵ ذی قعده ۱۳۲۳ھ (امداد ج ۲ ص ۲۵)

سوال:(۴۹۵) زید خپلې ښځې ته اووئیل چه که دوه میاشتې مې تاسره خبرې وکړې نو مور سره مې زنا کړې وی ایا په زید باندې شرعاً دې کلام سره څه ګناه راځی یا نه؟

جواب: د زید د دې عبارت نه مقصود دا دی چه زه به دوه میاشتې تاسره خبرې نه کوم او دا مقصود یې د تعلیق په طور مؤکد کړیده او په کوم عنوان یې چه مؤکد کړیدی په هغې کښې دوه احتماله دی یو دا چه مقصد د دې نه تعلیق د طلاق وی یعنی دا مطلب وی چه که دوه میاشتې کښې مې تاسره خبرې وکړې نو په تا د طلاق وی که مقصود دا وی نو که دوه میاشتې کښې یې خبرې اوکړې طلاق بائن واقع شو په دیګې رضامندی سره د نکاح تازه کولو ضرورت دی او که د دوو میاشتو نه پس یې هنرې وکړه نو هیڅ نشته. او دویمه احتمال دا دی چه مقصود د دې نه تعلیق د ظهار وی یعنی دا مطلب وی چه که دوه میاشتې کښې مې تاسره خبرې وکړې نو ظهار به منعقد وی که دا مقصود وی نو دوه میاشتې کښې د دنه خبرو کولو سره هیڅ نشته او که بل څه مقصود وی نو سوال کښې د هغې وضاحت پکار دی. ۲۱ شوال ۱۳۲۵ھ (امداد ج ۲ ص ۲۴)

تتمه سابعه ترجیح الرجح از النور جمادی الاول ۱۳۵۷ ص ۴

تحقیق احکام اقسام ثمانیه تعلیق طلاق ثلث مرات

سوال:(۴۹۶) جنتي کالی څلورمه حصه ص ۳ مسئله نمبر دویمه مطبوعه اشرف المطابق ۴۵ھ داسې ښځې ته (غیر مدخول بها) وائی چه که فلانی کار دې وکړو نو طلاق دې طلاق دې او هغې دا کار وکړو نو د هغې کولو سره دری طلاقه واقع شول (ص ۴۵۵ / ج ۲ / درمختار) دې صورت کښې دری طلاقه واقع کیدو کښې غور دې خکه چه کوم وخت شرط مقدم وی او د اطلاق لفظ مکرر وی نو د هغې دوه صورته دی یو تکرار په ذریعه د صرف عطف دویم بغیر د صرف عطف نه. ورومبی صورت کښې د امام صاحب په نزد د شرط موندې کیدو وخت کښې یو طلاق واقع کیږی او باقی طلاقونه لغو ګرځی او صاحبین په نزد دری واړه واقع کیږی او که تکرار بغیر د صرف عطف نه وی لکه څنګه چه مؤلف کړیدی نو دې صورت کښې ورومبی معلق

ګرځی او دویم فی الحال واقع کیږی او دریم لغو ګرځی. وان علق بطلاق بالشرط ان کان مقدما فقال ان دخلت الدارفانت طالق وطالق وطالق وهی غیرمدخولة بانت بوحداة عند وجود الشرط فی قوله ابی حنیفة رحمه الله تعالیٰ ونعالباقی وعندهما یقع الثلاث هذاکله اذاذکره بحرف العطف فان ذکره بغیرحرف العطف ان کان الشرط مقدمافقال ان دخلت الدارفانت طالق طالق طالق وهی غیرمدخولة فالاول معلق بالشرط والثانی یقع للحال والثالث لغوثم اذاتزوجهاودخلت الداریزل المعلق وان دخلت بعدالبینونة قبل التزوج حنث ولایقع شئی. عالمکیری مختصراً ۳۹۹/ج ۱/ مصری وفی البحر ص ۲۹۲/ ج ۳/ وقیدبحرف العطف لانه لوذکربغیرعطف اصلاً کان دخلت الدرفانت طالق واحدة واحدة واحده ففی فتح القدیریقع اتفاقاً عندوجود الشرط ویلغومابعده لعدم مایوجب التشریک الخ. وقال العلامة ابن عابدین علی قوله وقیدبحرف العطف فی ایمان البزازیة من الثالث فی یمین الطلاق ان دخلت الدارفانت طالق طالق طالق وهی غیرملموسة فالاول معلق بالشرط والثانی ینزل فی الحال ویلغوالثالث وان تزوجهاودخلت الدارنزل العلق ولودخلت بعدالبینونة قبل التزوج انحل الیمین لا الیٰ جزاء ولوموطؤة تعلق الاول ونزل الثانی والثالث اه. وهذاکماتری مخالف لما نقله هناعن الفتح الایفرق بین واحدة واحدة وطالق وطالق وهذاهوالظاهر اه هذاماظهرلی والله اعلم بالصواب. که چرته د اشکال دې او په عبارت کښې د څه ترمیم ضرورت وی نو ترمیم وکړی چه اصل مسئله ښکاره او په معنی باندې په حاشیه کښې نوټ اولیکلی شی.

(الجواب ومنه الصدق والصواب) طلاقه ثلثه معلق کښې په اعتبار د مطلقه مدخول بها او غیرمدخول بها او په اعتبار د تقدیم د شرط او تاخیر د شرط او په اعتبار د عطف او عدم عطف په واوسره اته صورتونه دی چه هغې ورومبی لاندې نقشه کښې او بیایې په عبارت کښې لیکم بیا د تولو حکمونه نقل کوم او د سوال جواب به پیش کوم نقشه دا ده

طلاقه ثلثة معلق بالشرط							
بغیرالمدخول بها				للمدخول بها			
تقدیم الشرط		تاخیرالشرط		تقدیم الشرط		تاخیرالشرط	
مع العطف بالواو	بغیرالعطف	مع العطف	بغیرالعطف	مع العطف	بغیرالعطف	مع العطف	بغیرالعطف
نمبر۱	نمبر۲	نمبر۳	نمبر۴	نمبر۵	نمبر۲	نمبر۷	نمبر۸

عبارت دادی

نمبر(۱)، بغیرالمدخول بهابتقدم الشرط مع العطف. نمبر(۲)، بغیرالمدخول بهابتقدیم الشرط بلاعطف
نمبر(۳)، بغیرالمدخول بهابتاخیرالشرط مع العطف. نمبر(۴)، بغیرالمدخول بهابتاخیرالشرط بلاعطف
نمبر(۵)، للمدخول بهابتقدیم الشرط مع العطف. نمبر(۲)، للمدخول بهابتقدیم الشرط بلاعطف
نمبر(۷)، للمدخول بهابتقدیم الشرط مع العطف. نمبر(۸)، للمدخول بهابتاخیرالشرط بلاعطف

حکمونه یې دادی

فی العالمگیریة الفصل الرابع مع الباب الثانی من کتاب الطلاق وان علق الطلاق بالشرط ان کان الشرط مقدمافقال ان دخلت الدارفانت طالق وطالق وطالق وهی غیرمدخول بها(وهی الصورة الاولیٰ) بانت بواحدة عندوجودالشرط فی قول ابی حنیفة رحمه الله ولهاالباقی وعندهمایقع الثلث اون کانت مدخولة (وهی الصورة الخامسه) بانت بثلث اجماعاً الاٰن علی ابی حنیفة رحمه الله یقع بعضهابعضاً فی الوقوع وعندهماالثلاث جملة واحدة وان کان الشرط موخراً فقال انت طالق وطالق وطالق ان دخلت الداروذکره بالفاء (الظن بانهاومکان الواو) فدخلت الداربانت بثلث اجماعاً سواء کانت مدخولة اوغیرمدخولة (وهی الصورة الثالثه والسابعه) هذاکله اذاذکره عرف العطف فان ذکره بغیرحرف العطف ان کان الشرط مقدمافقال ان دخلت الدارفانت طالق طالق طالق وهی غیرمدخولة (وهی الصورة الثانیه المذکورة فی هشتی زیور) فالاول معلق بالشرط والثانی یقع للحال والثالث لغو(وهوالذی ذکره المستفق) ثم اذاتزوجهاودخلت الداریزول المعلق وان دخلت بعدالبینونة قبل التزوج فالاول معلق بالشرط والثانی والثالث یقعان

فی الحال وان اخرالشرط فقال انت طالق طالق طالق ان دخلت الداروهی غیرمدخولة (وهی الصورة الرابعه) فالاول یزل للحال ولهاالباقی وان کانت مدخولة (وهی الصورة الثامنه) یزل الاول والثانی للحال ویعلق الثالث بالشرط کذافی السراج الوهاج وفی الدرالمختارباب طلاق غیرالمدخول بهافی نظیرالمسئلة وقع واحدة ان قدم الشرط وفی ردالمختارهذاعنده وعندهماالثنتان ایضاً ورجحه الکمال (فی فتح القدیر) واخرة فی البحر الخ. اوس سوال جواب پیش کوم چه دجنتی کالی مسئله مبحوث عنهاظاهراً دویم صورت دی چه دهغی حکم دادی چه ورومبی طلاق معلق دی اودویم فی الحال واقع دی اودریم لغودی لکه څنګه چه سوال کښې هم نقل کړې شویدی اودجواب په روایتونوکښې هم پدی بنیاددجنتی کالی په عبارت باندی اشکال صحیح دی اوددی تصحیح دپاره دعبارت ترمیم کافی نه دی بلکه دامسئله حذف کول پکاردی خودا امر قابل دسوچ دی چه ددی حکم بنیادپه تکراربلاعطف دی لکه څنګه چه صیغه مفروضه نه ښکاره کیږی اودارد وپه محاوراتوکښې عام اهل زبان په دی صورت ک دعطف قصد کوی ممکن دی چه دجنتی کالی مولف (چه مولوی احمدعلی صاحب چه احقرپه بعض تحریراتوکښې هغه شائع کړی هم ده) داپه عطف کښې داخل کړی وی چه په اتوصورتونوکښې وروم‍بی صورت دی. اوپه دی کښې امام صاحب اوصاحبین چه کوم اختلاف کوی مؤلف دصاحبینوقول راجح ګڼرلی دی څکه یې اخستی دی لکه څنګه چه دی بره روایتونوکښې فتح القدیراوبحرنه دهغی راجح کیدل نقل شویدی په دی صورت کښې به دااشکال ختم شی خلاصه داچه دبهشتی زیوردحکم صحت په دومقدموباندی موقوف دی یوداچه عطف اوعدم عطف زمونږپه محاوره کښې یوشان دی دویم داچه دصاحبینوقول راجح دی بس که چرته دامقدمات مسلم وی نوحکم صحیح دی ګنی غلط. اوجنتی کالی کښې درمختار دکوم مقام حواله چه ورکړې شویده هغه ځای سره دتلاش کولونه ملاؤنه شومستفتی دهغی نه تعرض وکړوممکنه ده چه دهغی کتلوسره نورهم بصیرت حاصل شوی وی بهرحال که چرته حذف کړیشی نودځه تلکف ضرورت نشته اوکه په خپل حال دپریخودونو یوه حاشیه دی په هغی باندی ولیکښې شی چه دامسئله دافقهاء دظاهرعبارت مطابق صحیح نه ده خوکه چرته داردومحاوری په بنیادباندی دی لره په عطف کښې په حذف دعاطف داخل کړیشی اوپه دی مسئله کښې چه کوم اختلاف دی په هغی کښې دصاحبینو قول واخستی شی نودی توجیه باندی مسئله صحیح کیدیشی اوس عواموله پکاردی چه دخپل

معتقد فیه عالم په فتوی باندې عمل وکړي. والله اعلم. ۲۲ ربیع الاول/ ۱۳۵۲ھ (النور ص ۱۴ جمادی الاول/ ۵۷ھ)

روپیه دادن کسی شوهرزنی راکه اوراطلاق دهد

سوال:(۴۹۷) هنده دزيد ښځه ده، يې اتفاقي دوجه نه خپل مور او پلار کره لاړه او هلته يې دوه کاله تیر کړل بيا خلقو په دورغه قسمونه او خوړل چه زيد ديته طلاق ورکړيدي بکر سره يې نکاح وکړه څه موده نه بکر سره وه اوس که چرته زيدته څه روپۍ ورکړيشي چه ديته طلاق ورکړي دي دپاره چه دانکاح صحيح طريقې سره اداشي نو دا کار جائز دی يانه؟

جواب: روپۍ ورکولو سره چه ښځې ته کوم طلاق ورکولې شي داکتل پکار دي چه نيت څه دی که روپۍ ورکوونکې داګڼړي چه روپۍ ورکولو سره په ښځه باندې زما حق او اختيار اوزور راشي چه دادخان سره په نکاح کولو باندې مجبوره کړې شم. يا که چرته دا نکاح نه کوي نوزه به دا په زبردستۍ سره خپل خان سره اوساتم او طلاق ورکوونکې هم داګڼړي چه ښځه ګويا چه زما شي دي، زه خپل داشي ددې روپو په بدل کې دې سړي ته ورکوم بيا خو داروپۍ اخستل او ورکول دواړه حرام دي البته که طلاق يې ورکړونو طلاق واقع کيږي خو په ښځه به څه زور او حق نه وي. لان البضع فی حق غیر المحرم غیر متقوم والا عتیاض غیر المتقوم رشوة الافیماورد فیه النص وهذه لم یرد فیه النص کاهل المراة اخذوا شیئاً عند القسیم فللزوج ان یسترده لانه رشوة درمختار. اوعام نيت دجاهل عوامو هم دغه وي چه کوم ذکر کړې شو نو شرعاً دا باطل او حرام دي او که دانيت وي چه فی الحال ددې ښځې او خاوند جهګړه ختم شي او بيا ښځې ته اختيار وي چه دعدت نه وروستو نکاح کوي يا نه کوي او که نکاح کوي نو دا ضروري نه ده چه چاروپۍ ورکړيدي هغه سره داوکړي غرض دا چه طلاق ورکوونکې داګڼړي چه روپۍ واخلي نو هغه روپۍ ورکوونکې ته به اختيار نه وي بلکه ښځې ته به په خپل ذات باندې اختيار وي او روپۍ ورکوونکې هم داګڼړي چه روپۍ ورکولو سره به زما هيڅ اختيار په ښځه نه وي بلکه ښځې ته به هر نګه اختيار وي نو بيا جائز دي لان بدل الخلع يصح التزامه من الاجنبی کمافی الهداية. او اګرچه دعوامو نه ددې نيت اميد ډير کم دی خو که چرته دانيت وي نو حکم دجواز به ورکولې شي البته که چرته دښځې دنکاح په وعدې باندې دې سړي داروپۍ ورکړي وي او بيا دوعدې خلاف او کړي نو ښځې نه خپلې روپۍ واپس کولې شي خو په نکاح باندې جبر نه

شي کولی کمعتدة الغیر الفق علیها رجل بشرط ان یتزوجها وابت فلـه الرجـوع کـذافی الدرالمختار فقط والله اعلم. ۲۳ ربیع الثانی/ ۱۳۲۴ھ (امداد ص ۲۷ ج ۲)

حكم وقوع طلاق بتلفظ این کلمه که ((واسطه نشته))

سوال:(۴۹۸) استعمال کړې شوې لفظونو کې يو لفظ دی ((زما تا سره څه واسطه نشته دی)) سره په نيت دطلاق طلاق واقع کيږي يانه. عالمګيري کې ددې دوه نمونې ليکلې شوې دي. ولو قال لم یبق بینی وبینک شئی ونوی به الطلاق لایقع وفی الفتاوی لم یبق بینی وبینک عمل ونوی یقع کذافی العتابية اه عمل او شي کې څه فرق دی او دا صورت دڅه مشابه دی بحر الرائق کې راغليدي فی جمع برهان قال لم یبق بینی وبینک عمل ونوی الطلاق لایقع وفی فتاوی الفضلی خلافه دينه معلومه شوه چه لفظ عمل کې هم اختلاف دی؟

جواب: القادرباني (چه زره کې الله خبره واچوي) سره دا معلوميږي چه ددې الفاظو حکم په عرف مبنی دی پس چه چرته حقيقي او مجازي معنی کې عرفاً يو خاي والی او تعلق ګڼړلی شي هلته نيت صحيح کيږي کنې نه دی صحيح په دې بنياد باندې به شي او عمل کې فرق راغلو چه يو کې عرفاً تلبس وه او بل کې نه وه بيا زماني بدليد و سره لفظ عمل کې اختلاف شو څکه چه که چرته تلبس شرط نه وي نو لازميږي چه دزيد قائم نه که دطلاق نيت وکړي نو صحيح دی (وهو باطل) هر کله چه دا معلوم شول نو اوس خپل عرف غالباً دادی چه دا ډيرپه نيت دطلاق استعمالولې شي په دې وجه زما په نزد که چرته دطلاق نيت يې کړي وي نو طلاق واقع کيږي والله اعلم. ۲۹ ربیع الثانی/ ۱۳۲۴ھ/ (امداد ص ۲۸ ج ۲)

حكم جمع بين الكنايه والصريح

سوال:(۴۹۹) يو کس په غصه کې خپلې ښځې ته او وئيل چه څه لرې شه موتړه طلاق درکوډ هغې نه پس پيښمانه شو او بيا يې څه اونه وئيل لږ ساعت وروستو هغه ښځه په ژړا شوه نو ده ورته او وئيل چه اوس څه ته ژاړې چه څه کيدل وه هغه وشول داکوم قسم طلاق واقع شو اوس داخاوند رجوع کولې شي يانه؟

جواب: دادري جملې دي چه څه لرې شه موتړه طلاق درکوډ ورومبی دکنايات دقسم اول نه دی چه هر حال کې په نيت باندې موقوف دی کمافی الدرالمختار باب الکنايات. او دريمه طلاق

صریح دی او س که ورومبی سره یې طلاق د نیت نه وی کړی بلکه صرف رټنه مقصود وی نو صرف دویم لفظ سره یو طلاق رجعی واقع شو عدت کې دننه رجوع کولی شی او که دوړومبی دواړو لفظو نو سره یې جدا جدا طلاق نیت کړی وی نو هغې سره دوه بائنه شول او دریمه سره د حلالې ضرورت دی او که ورومبی سره یې نیت کړی وی او دویم سره یې نه وی کړی یا بالعکس نو دوه طلاقه بائن شول بغیر د حلالې نه نکاح تازه کول جائز دی چه کله دواړه رضاوی ۱۳۲۴ھ امداد ص ۲۸ ج ۲

ترجیح الراجح جلدثالث ص ۲۰۰

سوال:(۵۰۰) فتاوی امدادیه دویم جلد باب طلاق ص ۲۸ خلاصه سوال از طلاق بائن الفاظ څه لږی شه مونږه طلاق در کوؤ خلاصه جواب دادري جملې دی الخ (**تسامح**) په دی عبارت کې که چرته ورومبی دواړو لفظونو سره یې د جدا جدا طلاق نیت کړی وی نو هغې سره طلاق بائن شو او دریم سره د حلالې ضرورت دی (**اصلاح تسامح**) مسئله متفق علیه است که بائن به بائن لاحق نمی شود لایلحق البائن البائن اذاامکن جعله اخباراً عن الاول کانت بائن بائن او ابتتک بتطليقة فلايقع لانه اخبارفلاضرورة فی جعله انشاء الخ قوله فلايقع ای وان نوی کماف البحر عن الحاوی ولایقع بکنایات الطلاق وان نوی ۱۲ شامی علامه شامی درشرح قول درمختار اذاامکن که بحث بحرالرئق درباره نیت دربائن ثانی اورده خوب جواب داده دران نظرمعان فرمایند تمام اهل فقه چه درشرح وچه درمتون وچه درفتاوی متفق اند که دربائن ثانی که بائن ثانی واقع نمی شود پس درصورت مانحن فیه اگرنیت طلاق است ازدولفظ کنایه یک واقع شدویک دیگربصریح پس حاجت حلاله نه ماند؟

جواب:علامه شامی تحت قول صاحب درمختاراذاامکن خلاصه بحث چنین براورده فعلم ان قولهم اذامکن احترازعمااذالم یمکن جعله خبراً الخ وتحت درمختارلانه اخباراورده لانه امکن ذالک وظاهراست که لفظ لږی شه اخبار گردانیدنش ممکن نیست چناچه درابنتک بالنت بائن ممکن ست پس هرگاه شرط عدم الحاق نیافته شده حکم عدم لحاق چگونه کرده خواهد شد پس الحاق لازم باشد ۲۲ رجب ۱۳۲۳ھ

په دی باندی دلاندینی سوال راغی

سیدی سندی مدظلکم تسلیم سرفرازنامه رسیدفخرداربن بخشیدبرکمال انصاف جناب شکراداکردم جواب سابق درباره ردسلام بوقت استبرارکه ازحضورامده بسروچشم تسلیم کرده شود که فکرکامل جناب بصواب امدواین جواب مسئله طلاق تلفظ څه لږی شه فتاوی امدادیه ص ۲۸ حضورفرستادندتاحال درفهم بنده نه امده ارشادحضور وظاهراست که لفظ لږی شه اخبارکردیند نش ممکن نیست بسبب کمال نقصان ذهن بنده این ظهوربنده راخفی نظرمی ایدهرچندفکرکرده شدکدام دلیل ظهورظاهرنه شد بلکه دلائل مقال آن اظهرمن الشمس اندران قول شامی که ارشادفرمودندفعلم ان قولهم اذامکن الخ این لفظ موجودست کمافی ابنتک باخری پس لفظ اخری مانع ازامکان اخبارست وباقی صورکه در درالمختاراوردندکه دران امکان اخبارنیست مانحن فیه ازان صورداخل نیست کماهو الظاهرپس کدام وجه است که درمانحن فیه اخبارازاول غیرممکن ست فعلیکم البیان باوضح البرهان درکتب مصرح است که دوطلاق بائن به یک دیگرملحق نمی شوندعام اندبیک لفظ باشندچناچه انت بائن انت بائن یالفظ دیگرباشندچناچه انت بائن انت خلیة واشاربه الی انه لاشترط اتحاداللفظین الخ شامی تحت قول الدراوابنتک بتطلیقه الحاصل قابل توجه است که شخصی زوجه خودراگفت اذهبی اغربی مرادونیت اوطلاق است ظاهراست که بموجب قاعده معروفه یک طلاقه بائن واقع شودکه ظاهراست اغربی رااخبارکردن ازاذهبی ممکن است یعنی تباعدی عن که من ترابه لفظ اذهبی طلاق داده ام واذاطلقی تطليقه بائنة ثم قال اعتدقالت علی حرام اوخلیه اوبریه اوبائن اوبتته اوشبه ذالک وهویریدالطلاق لم یقع علیهاشئ لانه صادق فی قوله هی علی حرام وهی مبنی بائن ای لانه یمکن جعل الثانی خبراً عن الاول الخ ۱۲ شامی تحت قول الدرلایلحق البائن البائن واین هم برابراست که کنایه دوم اندعدت دریک کلام ومجلس باشدیادردوولانه یوهم ان یلزم کون فی مجلس واحدوهوغیرلازم ۱۲ شامی پس کدام مانع درمانحن است که ثانی ازاول اخبارنمی شودمرادازاخباراخبارعماصدراولاست نه اخبارنحوی تاکه صیغه امرمانع باشدپس المرادالاخبارالنحوی بل الاخبارعماصدراولا ۱۲ شامی بنده رادرین استدلال تامل است جناب خوض نمایند درترجمه درالمختارغایة الاوطاراورده اوراذهبی بمعنی جاالخ اوراغربی بمعنی لږی شه الخ ۱۲ ظاهرشدکه صورت امدادالفتاوی بعینه صورت سابقه

قابل توجه مذکوره است هکذا والله تعالی اعلم بالصواب خلاصه مفصل بجواب عنایت فرمایند اگرچه جناب راتلکیف است مگرعوام راازجاه ضلالت بیرون کردن اهم ازاهم فرائض انجاب است چون ازین گستاخی خاطرجناب گرامی نمی شود بلکه بکمال عرفان دانسته اند که مقصود مسائل ظهورحق است لهذابارثانی معروض ست ورنه چه نسبت خاک راباعالم پاک امیدکه وقتی پیدا اید که خودبخود جناب برین غلام فیض باران خواهندفرمود فقط ددی جواب دلته نه داورکړی شوچه دوباره په تحقیق وکړیشي خوماته وخت ملاؤنه شوناظرین دی دنوروعالمانو تحقیق وکړی اوددی مضمون یوه فتوی چه سائل درائی موافق ده امدادالفتاوی / ج ۲ / صـ ۷۳/ مسئله مرقومه ۸ رجب /۱۳۲۵هـ / په عنوان دعدم لحاق کنایه بائن الخ کې طبع کړی شویده دوباره تحقیق په وخت کې هغه دهم دنظر دلاندی اولری فقط

دناجوړی دطلاق حکم

سوال:(۵۰۱) یوسړی په بیماري کې په رضا اوشوق سره خپلی ښځی ته دمجلس حاضرینو په وړاندی صریح طلاق ورکړواوښځی هم خپل مهرخپل خاوندته معاف کړودطلاق نه یومیاشت وروستو دی بیماری کې داخاوندمړشواوس دی صورت کې به ددی ښځی عدت پس دطلاق نه حسابیږی که دخاوند دمرګ نه به حسابیږی. زیدوایی چه په قول دشامی فی حق امرأة الفار الخ والمراد بامرأة الفارمن ابانهافی مرضه بغیررضاهابحیث صارفاراومات فی عدتهاابعد الاجلین دی وروایت دوچه نه به عدت دمرګ نه حسابیږی نه دطلاق نه اوعمروائی چه په قول دشامی لواباهافی مرضه برضاهابحیث لم یصرفاراتعتدعدة الطلاق چه دمطلقه ښځی عدت به دطلاق نه حسابیږی ددی اخیری روایت په بنیادکه یوسړی مطلقه ښځی سره دطلاق عدت نه وروستونکاح وکړی نودانکاح شریعت کې جائزده یانه ؟

جواب: دبیمارخاوند دطلاق حکم چه کله ددی ښځی دعدت پوره کیدونه مخکې مړشی دادی چه دکوم طلاق نه وروستوعدت کې دننه دخاوندمړکیدوسره ښځی ته میراث ملاویږی په هغی کې عدت دابعدالاجلین نه دی یعنی عدت طلاق اوعدت دوفات کې کوم وروستوختم شو. اوکوم کې چه میراث نه ملاویږی په هغی کې عدت طلاق واجب دی نودشامی دواړه روایتونه صحیح دی اودواړه کې څه تعارض نشته ځکه چه ورومبی روایت دمیراث په

صورت کې دی اودویم روایت دعدم میراث په صورت کې دی اوس داتحقیق کول پکاردی چه ددی بیماری په طلاق باندی ایاحکم دمیراث مرتب شویدی یانه چه دی سره دعدت حکم متعین شی په دی صورتونو کې که چرته خاوند دښځی په عدت کې دننه مړشی نوښځه به وارثه نه وی یوصورت خوداشواوکه دی بیماری کې ظاهری حال سره ویره دمړکیدووه نودامرض موت دی بیاپه دی مرض موت کې داتفصیل دی چه کتل پکاردی چه طلاق رجعی دی که بائن که رجعی دی نومیراث به اوړی اودادویم صورت شو اوکه بائن دی نوکتل پکاردی چه دښځی په اجازت سره وه اوکه بغیرداجازت نه وه که اجازت سره وه نومیراث به نه وړی اودادریم صورت شو اوکه بغیرداجازت نه وی نومیراث به وړی اوداځلورم صورت شو اول اوددریم صورت دوارث نه جوړیدودی اودویم اوځلورم صورت دوارث دجوړیدودی نوواقعه په سوال کې که چرته اول اودریم واقع شوی وی نوعدت طلاق واجب دی اودهغی دختمیدونه پس دویمه نکاح جائزده اوکه دویم یاځلورم صورت واقع شوی وی نوکه عدت طلاق مخکې ختم شی نوعدت موت نه پس دویمه نکاح جائزده دهغی نه مخکې جائزنه ده والروایات مذکورة فی باب طلاق المریض وباب العدة من الکتب الفقهیه والله اعلم ۲۷ ذی الحجه / ۱۳۲۴هـ (امداد / ج ۲ / صـ ۷۰)

وقوع طلاق ازتعلیل طلاق بیکی ازشروط اربعه وبگفتن این لفظ که اگریک شرط هم متحقق شود ترا طلاق است مرا هیچ دعوی برتونیست هرجاکه خواهی نکاح کنی

سوال:(۵۰۲) زیدخپلی ښځی هندی سره ځلورشرطونه په داسی طریقی سره اوکړل چه که یو شرط هم ددی ځلورونه اوموندی شو نوتاته طلاق دی خوښه دی ده چه چرته نه نکاح کوی زماهیڅ قسم دعوی په تانشته دهغه نه وروستو دزیدنه یوشرط اوموندی شو نوهندی باندی څومره اوڅه رنګه طلاق راغی سره دعبارت دکتاب نه بیان کړی ؟

جواب: فی الدرالمختارباب الصریح یقع البائن لوقال انت طالق طلقه تملکی بهانفسک لانهالاتملک الابالبائنه دی روایت په بنیادباندی دی صورت کې یوطلاق بائن واقع شو والله اعلم ۱۲ ربیع الثانی / ۱۳۲۵هـ (امداد / صـ ۷۱ / ج ۲)

تحقیق مانع بودن قسم وقوع طلاق را

سوال:(۵۰۳) اندرین که بنگالی بزبان بنگاله خود زن خورا گفت نیزتین طلاق دیم که ترجمه اش بعربی طلقتک ثلثاباشد ویابفارسی تراسه طلاق دادم وان رابقسم یاکلمه شهادت موکد ساخت اعنی اوگفت والله طلقتک ثلاثا یااشهد ان لا اله الا الله طلقتک ثلثا پس شرعاً طلاقش واقع خواهد شد یانه؟

نقل رقعه مصحوبه این سوال

پس ازسلام مسنون معروض انکه درمختارلسٹ لک بزوج اولست لی بامرأة اوقالت لست لی بزوج فقال صدقت طلاق ان نواه خلافالهماواواکراه بالقسم اوسئل الک امرأة فقال لا تطلق اون نوی لان الیمین والسوال قرینتاارادة النفی فیهما خلاصه مطلب ددی عبارت دادی چونکه بعض خلق دی عبارت سره قسم اوسوال مطلقامانع دطلاق گنری که صریح وی اوکه کنایه، اوبعض مانع دکنایه گنری نه دصریح اودلته دعوام اوخواصوتولوتشفی دحضرت په فتوی باندی ده فقط؟

جواب:بلاشک وشبه سه طلاق واقع شد وانچه وپرچه مصحوبه ازدرمختارنقل کرده شده است ان مخصوص است بکلامی که متحمل نفی اصل زوجیت باشد پس قسم مرجح خواهد شد اراده نفی راواین مقصودنیست که قسم مطلق مثل استثنایعنی انشاء الله تعالی مانع وقوع طلاق می باشدوصریح وکنایه دران متساوی اند خلاصه جواب انکه درمقیس علیه انکارزوجیت است ودرمقیس انشاء طلاق پس قیاس صیح نه باشدفقط. والله تعالی اعلم ۲۴ جمادی الاول/ ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۷۲/ ج۲)

وقوع طلاق بلا تصریح اسم وبلاخطاب زوجه

سوال:(۵۰۴) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کې چه ماپه حالت دغصی کې داکلمی وئیلی دی (طلاق درکوم طلاق طلاق) اومادی نه زیاتی څه بله کلمه نه ده وئیلی اونه ماد خپلی ښځی نوم اخستی دی اونه می دهغی طرفته اشاره ده اونه هغه هلته موجود وه اونه دهغی څه خطائی شته داکلمه صرف په وجه دتکرار یعنی دجگهړی ۱۲ (دخپلی منکوحی

دمشرتره باره کې اوتی دی هرکله چه زماغصه سره شوه نوزرمی خپله ښځه راوستله دادوه سری دی یعنی یوزما ماماأوبل بل سری دی اوزنانه ده؛

جواب:چونکه زره کې خپلی ښځی ته دطلاق ورکولوقصدوه په دی وجه دری واره طلاقه واقع شول. کذافی الدرالمختار ج۲/ ص۷۰۵/ ۲۲ جمادی الاول/ ۱۳۲۵ھ امداد ص۷۳/ ج۲)

حکم طلاق زوجه که زوج اورابااسم غیراوطلاق دهد

سوال:(۵۰۵) یامخدومنا العلام ان رجلاله زوجة واحدة اسمهاعلیمة بنت زیدمثلاً فقال فی مجلس ان طلقت زوجتی نعیمة بنت زیدثلاثاً ولیست له زوجة الاعلیمة بنت زیدثم قال والله ماطلقت زوجة علیمة بنت زیدفقط. وهوالان یصاحبهاویوطیهافحل صادت علیمة مطلقة ام لا؟

جواب: السلام علیکم- الجواب ان علیمة لاتطلق کمافی ردالمحتارعن البزازیة ولوحلف ان خرج من المصرفامرأة عائشة کذاواسمهافاطمة لاتطلق اذاخرج الخ. ج۲/ ص۷۵۵/ ۲۸ ذی الحجه/ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه/ ص۱۰۵)

تحقیق عدم کنایه بائن بائن صریح ولحاق بقیة بابقیة

سوال:(۵۰۶) ان رجلاطلق امرأة طلاقابائناً ثم طلق بعدستة اشهرثنتین فهل یقع الثنتان اللتان بعدالاول ام لا؟

جواب:نفس مسئله کې تفصیل دادی چه ورومبی طلاق یاصریح بائن یاکنایه رجعی لکه داعتدی واستبرئی رحمک وغیره په شان یاکنایه بائن دی. دغه شان په دی وروستی طلاق کې هم داڅلوراحتماله دی. تول شپاړلس صورتونه دی په دی کې په کوم صورت کې چه مخکینی طلاق بائن وی صریح یاکنایه اووروستنی طلاق کنایه بائن وی نودی صورت کې داوروستنی طلاق نه واقع کیږی. اگرچه نیت هم دوقوع وکړی باستثنائی مستثنیات مذکوره فی الفقه اوحاصل ددی صورمستثنیه دادی چه هرکله ایقاع ثانی په اخبارباندی محمول کول ممکن نه وی اونورو باقی صورتونوکې وقوع راځی هکذافی الدرالمختارمفصلاً مبسوطاوالله اعلم ۸رجب/ ۱۳۲۵ھ امداد ص۷۳ ج۲)

تحقیق عدم ترتیب احکام تجدیدعقدبرایجاب وقبول مکرر متعارف

سوال:(۵۰۷) یوسړي په څه فعل باندې طلاق په داسې طریقې سره معلق کړوچه که فلانی کارماوکړونوکومې ښځې سره چه نکاح اوکړم هغه به طلاقه وي دهغې نه وروستوده داکاروکړواوبیایې نکاح وکړه نوښکاره خبره ده. چه هغه ښځه طلاقه شوه نوقاضي ایجاب اوقبول دوباره وکړي نوداوئیلې شي چه ورومبې ایجاب اوقبول نه پس طلاق واقع شواودویم ایجاب اوقبول سره دوباره نکاح منعقدشوه اگرچه طرفینودنکاح تازه کولوسره اراده نه وه کړې البته وروميې ځل باندې چونکه قاضي وکیل وه په دې وجه هغه وکالت ختم شو اوس دوباره ایجاب دفضولي به گڼلې شي په دې وجه په اجازت دښځې یادولي موقوف وي نودولې دې ښځې لره په رضامندۍ رخصت کول یادې ښځې لره په رضامندۍ سره وطی کول اجازت گڼلې کیږي یانه یادې ښځې ته یې داوئیل چه ته رضایې هغې ووئیل چه آو نودارضاشمارلې کیدیشي یانه. وجه دشبه دادې چه اجازت اورضامندۍ دپاره خبرد نکاح شرط دې اوولي یاښځې ته خبرددویمې نکاح نشته بلکه هغې لره فضول گڼړي داخیال کوي چه نکاح زمونږ په اجازت سره شوديده نودانشتوالي دعلم په تازه کولودنکاح دررضامندۍ دپاره نقصاني دې یانه یاداچه داکافي ده چه هغې ته دنفس نکاح علم شته اگرچه دنکاح تازه کولوعلم نشته ؟

جواب: دوباره ایجاب اوقبول نه مقصدتاکیددې نه نکاح تازه کول په دې وجه دیته عقدثاني نه شي وئیلې اودښځې رضایادولي دوروميې عقد په خیال سره دې دیته په عقدثاني باندې رضانه شي وئیلې. ۱۷رجب/ ۱۳۲۵ھ/ امداد / ص۷۳/ ج۲)

دماشوم دطلاق حکم

سوال:(۵۰۸) ټول متون اوشروح دفقه اواصول په دې خبره باندې متفق دي چه ماشوم بنفسه ایقاع طلاق نه شي کولې اونه دهغې طرفنه ولي وغیره دایقاع طلاق مجازي جوړیدې شي اوپه وخت دحاجت دماشوم دطرفنه طلاق واقع کیدیشي اوس قابل دپوښتنې دا اموردي (۱) حاجت نه کوم مراد دې هغه دري حاجتونه چه شامي صاحب تحریروغیره کړیدي یانورهم لکه خاوندماشوم وي اوښځه بالغه وي نوپه وخت دویرې دزناوغیره کې. (۲) په وخت دحاجت ماشوم په خپله طلاق ورکړي یابل څوک ورکړي دماشوم دطلاق نه واقع کیدودلیل فقهاء کرامو کل طلاق جائزالا طلاق الصبي بیان کړیدي نوداعبارت دحدیث

مرفوع دې یاداابن عباس ﷺ قول دې اوکه بل څوک طلاق ورکړي نوهغه به څوک وي ولي یاقاضي یاحاکم. اوددې دلیل څه شي دې اوداسې واقعاتو فیصله دې وخت کې څوک کولې شي یانه. (۳) دامام سرخسي ﷺ قول دماشوم به طلاق واقع کیدوباندې دلالت کوي یانه که دلالت کوي نودمتون اوشروحو خلاف داقول مفتی به دې یانه ؟

جواب: (۱) ماشوموالي دخاوند اوبالغوالي دښځې دهغې حاجتونونه نه دې بلکه په هیڅ حالت کې هم دا اسباب حق دجدائي نه لري (۲) قاضي به جدائي راولي اوددلیل تحقیق منصب دمقلدنه دې اونه دجواب ورکونکي مقلدپه ذمه ماخذبیانول شته نقل دمذهب کافي دې (۳) وروميې خودلالت نه کوي اودویم په صورت ددلالت کې معتبرنه دې فقط. ۱ ذي قعده/ ۱۳۲۵ھ/ امداد / ص۷۵/ ج۲)

لفظ ازاده کړی می یې طلاق صریح دی

سوال:(۵۰۹) زماخاوندڅو کسانوپه وړاندې دالفظ أووئ چه ماته ددې ضرورت بالکل نشته اوماخود ازاده کړې وه خلق خامخازمانه تاویږي راتاویږي نه زمادوئیلووه اونه ماساتلې ده اوس چه چرته هم لاړشم زه یې نه اخلم دالفظونه یې ووئیل ددې لفظونوگواهان دیترانوخلق دې اوس تاسودې خبره کې څه فرمایې اوس زماپه مورباندې غریبي راغلیده خرپوري واده نه شي کولې مجبوري نه مې دشرعي حکمونونیت کړیدې که ستاسواجازت وي چه نکاح وکړم زماداژوندتیرول گران دې دیناحلال حرام نه دیرکم گوري فقط ؟

جواب: داوئیل چه ازاده کړې مې یې زمونږپه عرف کې طلاق دپاره استعمالیږي پدې وجه دې سره طلاق صریح واقع کیږي پس که چرته ددې وینانه وروستوددې زنانه دري حیضه راغلي وي نودادنکاح نه ووتله چاسره چه غواړي نکاح دې وکړي. في ردالمحتارفاذاقال لها کردم الی سرحتک یقع به الرجعي مع انه اصله کنایه ایضاً وماذاک الالانه غلب في عرف الفرس استعمال في الطلاق وقدمران الصریح مالم یستعمل الافی الطلاق من ای لغة کانت فقط. ۲ جمادي الاول/ ۱۳۲۲ھ/ تتمه اولی/ ص۹۲)

سوال:(۵۱۰) څه فرمایې علماء دین اومفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه زیدخپلې ښځې ته په حاجت دغصه کې بغیرد ذکردطلاق اوبغیرد نیت نه دڅلورومیاشتوامید په دوران کې دوه ځله داووئیل چه زماتانه طلاق درکړوطلاق نوداسې حالت کې په دې باندې طلاق

اوشو یانه که چرته شوی وی نو ددی نقصان څه صورت کیدیشی چه هغه پوره شی صحیح جواب سره عند الله ماجور وعند الناس مشکور اوفرمائی ؟

جواب: لفظ «زه» هغه کنایاتو نه دی چه هر حال کې په هغې کې نیت شرط دی هر کله چه نیت نه وی نو هغې سره څو طلاق واقع نه دی پس که چرته یې لفظ طلاق ذکر کړو دوه څله وئیلی وی او ښځه مدخول بهاده نو طلاق رجعي واقع شو چه په هغې کې عدت کې دننه رجوع کولی شی او دعدت نه وروستو نکاح تازه کول په رضا دزوجین جائزده او که دری څله یې وئیلی وی نو حلالی نه بغیر بله لاره نشته . ۲۸ شعبان / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالث / ص ۶۶)

سوال: (۵۱۱) څه فرمایي علماء دین په دی مسئله کې چه دزید چال چلن عادت وغیره دواړه په وخت کې صحیح وه دواړه نه څو ورځی پس یې عادت خراب شو او دومره پوری خراب شو چه په شراب و جواری او عیاشی کې لیګاشو زید په جواری کې دبکر په لاس دری سوه روپو کې خپله ښځه هنده کیخوده او هندی دا بیان وکړو چه ته زما ویزه یې او ماته دبکر په لاس دری سوه کې خرڅه کړی یې ته هغه تدارك نه هندی دا جواب ورکړو چه دښځی بیعه نه شی کیدی غرض دهغې بوتلو د پاره بکر د هندی کور ته راغی او دا بیان یې وکړو چه زید تا لره زما په لاس خرڅه کړیده ته زما کور ته راځه هندی بکر ته جواب ورکړو چه ښځی خرڅول جائز نه دی څکه چه زه حره یم او حره خرڅول جائز نه دی او زه چرته هم نه شم تلی دهندی پلار عمرو ته دا خبر اورسید وعمرو هنده خپل کور ته راوسته لس شل ورځی پس بیا زید ددی بوتلو دپاره راغی هغه یې ډیر ملامته کړو چه تا داسی بی ځایه حرکت کړیدی چه بالکل دشرافت خلاف دی دعمرو مخامخ یې هم دا جواب ورکړو چه ته څوک یې زما ویزه ده زه به طلاق درکړم او دهندی پلار ته یې هم دا سوال وکړو چه مهر معاف کړی زه به طلاق ورکړم عمرو دخپلی لور هندی نه ددی خبری باره کې معلومات اوکړه هنده رضا شوه چه ماته طلاق راکړه نو زه به مهر معاف کړم په دی وجه هندی مهر معاف کړو د څو کسانو په وړاندی او زید هندی ته دی الفاظو سره ددغه کسانو په وړاندی دا الفاظ اووئیل په وروستنی څل یې دا ووئیل چه ماته ازاده کړی او په دویم څل یې دا ووئیل چه ماتا ته طلاق درکړو دی صورت کې دا طلاق بائن شو که رجعي ؟

جواب: فی ردالمحتار عن البزازی مانصه بخلاف فارسية قوله سرحتک وهو رها كردم لانه صار صريحا فی العرف علی ما صرح به نجم الزاهدی الخوارزمی فی شرح القدوری الخ وبعدالسطر عنه

فان سرحتک كناية لكنه فی عرف الفرس غلب استعماله فی الصريح فاذا قال رها كردم ای سرحتک يقع به الرجعی مع ان اصله كناية ايضاً وماذاک الالانه غلب فی عرف الفرس استعماله فی الطلاق وقدمران الصريح مالم يستعمل الافی الطلاق من ای لغة كانت وبعدالسطر واما اذا تعورف استعماله فی مجرد الطلاق لايفيدكونه بالنا تعين وقوع الرجعی به كما فی فارسية سرحتک (ج۲ / صـ ۷۶۲ – ۷۶۳) وفی ردالمحتار عن الفتح اخرالباب قال ابرئینی من كل حق يكون للنساء علی الرجال ففعلت فقال فی فوره طلقتک وهی مدخول بها يقع بائنا لانه بعوض الخ (ج۲ / صـ ۹۲۱) دی روایتونو نه معلومه شوه چه اګرچه دالفظونه چه ازاده می کړی او طلاق می درکړو صریحی دی خو چونکه دا په مقابله دمعافی دمهر کې دی په دی وجه دی سره طلاق بائن واقع شو . ۲۸ شعبان / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالث / صـ ۶۶)

دغه مصلحت دوجه نه دښځی خاوند اووئیل چه اوس نکاح نه ده شوی دی سره نکاح باطلیږی یانه

سوال: (۵۱۲) یو کس هندی سره نکاح وکړه خود عدالتی مصلحت دوجه نه دواړه ښځی خاوند په عدالت کې دا بیان وکړو چه اوس نکاح نه ده شوی خو کیدونکې ده نو نکاح باطله شوه بیا دنکاح ضرورت شته یانه ؟

جواب: ورومبی خو دا انشاء نه ده او ددی نه قطع نظر نیست هم دطلاق نه دی په دی وجه نکاح باطله نه شوه فی عالمگيرية لوقال لانكاح بينی وبينک اوقال لم يبق بينی وبينک نكاح يقع الطلاق اذانوی . ج۲ / ص ۲۹ جمادی الاول ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی ص ۱۰۸)

ښځی ته دالیکل چه تاته یو طلاق مغلظه اشدکالجبل

سوال: (۵۱۳) زید په بل ملک کې چرته نوکر وه . ده خپله ښځه (زینت) مخاطب کړه په دی عبارت سره (تاته یو طلاق بائن مغلظه اشدکالجبل طلاق اولیکلو دهغې نه وروستو ده هغه سلسله دکاروبار (ده په ګمان کې) دښځی دبعضو طرفدارانو دکوشش دوجه نه ختم شوه زید په غصه کې راغی یو بل خط یې په دی عنوان (چونکه زما دفلانی ځای هغه تعلق ختم شو او دا غالباً دطلاق اثر دی لهذا طلاق او هر کله چه رجوع او کړم بیا طلاق غرض طلاق باندی طلاق

، ولیکلواووی لیږلو اوس ددی خبری معلومات کوؤ چه دی صورت کښې طلاق واقع شو اورجوع به څه رنګه کوی یاددی دواړو (دزید اوزینت) دیوځای کیدو څه صورت کیدیشی یانه ؟

جواب: فی الدر المختار ویقع بقوله انت طالق بائن اوالبتة اوافحش للطلاق اوطلاق الشیطان اوالبدعة اواشر الطلاق اوکالجبال الیٰ قوله واحداة بائنة فی الکل ان لم ینوثلثا الخ دی روایت په بنیاد دباندی جواب دادی چونکه لفظ یو هم ونیلی دی چه په دی وجه ددریو واقع کیدوځه احتمال نشته. دی سره خوورومبی یوطلاق واقع شو اوپه دی وجه چه دانی مغلظه سره موصوف کړیدی په دی وجه هغه یوطلاق بائن شو دهغی نه په پس کله یې ولیکل چه بیاطلاق دی سره دویم طلاق واقع شو اوچونکه داهم بائن دی پدی وجه دی ښځی باندی دوه طلاقه واقع شول اودریم طلاق ځکه نه دی واقعی چه هغه معلق دی یوشرط باندی اوهغه شرط نه دي واقع شوی اونه واقع کیدی شی ځکه چه طلاق بائن کښې خورجوع نه شی کیدی اوس ددواړوپه رضامندی باندی ووئیلونوهغه یوپه دی دواړوسره یوځای کیږی دری طلاقه به شی اوبیابغیر دحلالی نه نکاح تازه کول هم جائزنه دی والله اعلم

(ربیع الاول / ۱۳۲۷ هـ / تتمه اولیٰ / صـ ۹۹)

ښځی ته اوزه زمونږتا سره څه واسطه نشته ښوک کور

سری اوګوره بازارکښې اوهلته اوسیره] دوئیلوحکم

سوال: (۵۱٤) خاوند خپلی ښځی ته اووئیل چه ته بل چاته ځی مونږته څه شک دی ښځی ورته اووئیل چه هرکله ستاز مونږدطرفه داخیال دی نونه مونږستاپه کورکښې اوسیږواونه ستاخوړواونه ته زماخاوند یې. بیایې خاوند اووئیل چه اوڅه زمونږتا سره هیڅ واسطه نشته چرته یو کوږسړی اوګوره خوښه دی ده چه که بازاراوسی ښځه دهغه نه جدا شوه دهغه کورته نه تله اوخاوند وائی چه غصه کښې یې اووئیل ما معاف کړه دخاوند بی ایمانی داحالت دی چه هرکله یې وړومبی خاوندنه ددی ښځی طلاق واخستواورایې وسته اوخلق یې نکاح دپاره جمع کړل نوبیایې خاوندتپوس وکړوچه ددی عدت پوره شوی دی یانه هغی اووئیل چه پوره شویدی نکاح اوترلی شوه دهغی نه وروستو معلومه شوه چه صرف شپږ اواوه ورځی دطلاق تیری شویدی نودواړوکښې تفریق (جداوالی) وکړی شو. دعدت تیریدونه پس بیانکاح اوشره اوس جواب طلب خبره داده چه شریعت کښې دداسی سړی دقول اوفعل اعتبارکیدیشی

یانه. اودی برنوکلموسره طلاق واقع شویانه. که واقع شوی وی نوکوم طلاق واقع شواوکه بیادی ښځی ته رجوع کول غواړی نوکوم صورت سره رجوع کیدیشی دالله اودرسول دحکمونومطابق جواب سره کامیابی راکړی فقط؟

جواب: داکنایات دهغه قسم نه دی چه دجواب دردکولواحتلام هم لری. اودپدرد اودجواب احتمال هم لری اوحالت دغصی دی په دی وجه دطلاق واقع کیدومدارپه نیت باندی دی که دطلاق نیت یې کړی وی نوطلاق بائن واقع کیږی اوجداجدانیت کړی وی نودری طلاقه[1]، واقع کیږی چه بغیر دحلالی نه دوباره نکاح نه صحیح کیږی کنی دوه یایوطلاق واقع کیږی چه بغیر دحلالی نه نکاح تازه کول کافی دی چه دواړه رضاوی اودنه واقع کیدوپه صورت کښې دهیڅ شی ضرورت نشته تردی درجوع کولوهم ضرورت نشته ځکه چه رجوع پس واقع کیدونه کیږی. ۱۸ ربیع الاول / ۱۳۲۷ هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۹۹)

په باب دطلاق کښې دخبرواحدحکم

سوال: (۵۱۵) زید خپلی بی بی ته دشپی شپږطلاقه ورکړل دزید موراوریدل وروستویې اقراروکړوخواوس اقرارنه کوی بلکه انکارکوی بینواتوجروا؟

جواب: فی الدر المختار الجلد الخامس صفحه (۳۳۹) قوله فی الدیانات .ای المحضة احترازعما اذا تضمنت زوال ملک کما اذا اخبرعدل ان الزوجین ارتضعامن امرأة واحدة لاتثبت الحرمة لانه یتضمن زوال ملک المتعة فیشترط العدد والعدالة جمیعاً اتفاقی. ددی روایت په بنیاد باندی جواب دادی که چرته زید دطلاق اقرارکول نودطلاق په واقع کیدوکښې څه شبه نشته اوکه انکارکوی خودزید ښځی په خپله اوریدلی دی بیاهم دزید ښځی له دزید سره دطلاق په شان معامله کول پکاردی اوکه دزید ښځی په خپله نه وی اوریدلی صرف دزید موربیان کوی اوخوک وائی نوبیادطلاق واقع کیدوحکم نه شی کیدی که واقع کښې هم زیدورکړی وی وبال ددی انکاربه په زید باندی وی ښځی باندی هیڅ ګناه نشته. ۱۹ ربیع الثانی / ۱۳۲۷ هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۱۰۰)

[1] جداجدانیت کولوپه صورت کښې یوطلاق واقع کیږی لان البائن بالکنایة لایلحق البائن ۱۲ رشیداحمدعفی عنه.

طلاق راکړه طلاق راکړه طلاق راکړه زما څه کولی شي ددې وینا څه حکم

سوال:(۵۱٦)بنده دشپاړلس اوؤلس کالو په عمر کې دخپلې مشرې جینۍ (دښځې خور) اودهغې خوابنې سره دجهګړې په وخت دااوګڼل چه داسې سره به طلاق نه راځي اودغه وخت زما ښځه دخپل پلار کور کې وه اودمخکې نه هم دامشهوره شوي وه څکه چه بنده په میاشتوخپلې ښځې ته نه تلو .بنده چه کله کورته لاړ نو هغوی اووئیل چه ته خپله ښځه راوله مااووئیل چه زما زړه نه غواړې هغوی اووئیل مونږه اوریدل وي چه طلاق دې ورکړی دی ماته په دې تهمت باندې غصه راغله اوس بنده دهغوی ددې زړه ماتیدودوجه نه دااووئیل چه ماطلاق ورکړو ورکړو ورکړو کوی زما څه کولی شي اوس هغوی اووئیل چه داسې طلاق نه کیږي خو پورې چه ګواهان نه وي اوستادې وینا سره څه کیږي نه خو طلاق ورکول مقصود وه دغه شان داواقعه اوشوه اوس بنده خفه دې څکه چه په ناپوهې سره داواقعه اوشوه اوس مسئلې اوریدو او کتودوجه نه پیښمانه یم او اوس سخکال کورته تلو اراده ایا داطلاق واقع شویانه . که واقع شوی وی نو اوس څه طریقې سره جائز کیدیشي که چرته داهیڅ طریقې سره حلاله نه ګرځي نودشرم دوجه نه دویم نکاح هم نه شي کولی بلکه دمړ کیدوویره ده اوبنده به دغریبې دوجه نه دغه شان پاتې شي

جواب: داپې په ژبه وئیلې دې چه ماطلاق ورکړو ورکړو ورکړو کوی زما څه کولی شي الخ اودې کتی چه ددې څه مطلب دې که چرته دامطلب وه چه اګرچه تراوسه پورې مې نه وه ورکړې خواوس مې ورکړو بیاخودرې طلاقه واقع شول بغیرد حلالې نه نکاح تازه کولونه درست نه دې اوکه دامطلب وه چه آوتاسو چه څه اوریدلې دې صحیح دې ماهغې ته طلاق ورکړې وه نو دهغې حکم دادې چه قضاء خودرې واره واقع شول اوکه ښځې ته ثابت شي چه هغې داپې وئیلې وه نو هغې باندې واجب دې چه دهغه نه جدااوسي او دیانةً داتفصیل دې چه که دهغې نه مخکې یې طلاق نه وه ورکړې نو بیادې دروغژن خبر سره نه واقع کیږي تردې که دې ښځې ته دا امر نه وي ثابت شوی نو دې سړې باندې دا ښځه عندالله حلال ده اوکه دمخکې نه یې ورکړې وي نو بیاخو واقع کیدل ښکاره دې . وفي ردالمحتار تحت قول الدرالمختار او هازلا عن اكراه الخانية لو اكره على ان يقر بالطلاق فاقر لايقع كما لو اقر بالطلاق وهازلا او كاذبا فقال في البحران مراده بعدم الوقوع في المشبه به عدم ديانة وان شهد قبل ذالک

لايقع قضاء ايضاً الخ .ج۲/ صـ ۶۵۴/ مصرية وفي درالمختار تحت مسئلة كلمالت طالق قال ان تزوجک اوامس الى قوله لان الانشاء في الماضي انشاء في الحال مانسعه ولايمكن تصحيحه اخبار الكذبه وعدم قدرته على الانساد فكان انشاء في الحال ،ج۱/ صـ ۶۸۳/ مصرية / قلت فيت به ان الموثرفي الطلاق ديانة هو الانشاء لا الاخبار. والله اعلم ۲۵ جمادی الاول / (تتمه اولی / صـ ۱۰۱) ددې جواب لیکلونه وروستوغور کولو سره دامعلوم شول چه مطلب ددې سړي دغه دې چه اس مې طلاق ورکړو په دې وجه متعین جواب دادې درې واره طلاقونه واقع شول

که داپې ووئیل چه که دپلار کورته لاړې نو درې طلاقه

نو دپلار د مرګ نه وروستو به هم داقسم باقي وي یانه

سوال:(۵۱۷)یو کس مثلازید خپلې ښځې هندې ته ووئیل چه که ته دخپل پلار عمرو کورته لاړې نو په تا باندې درې طلاقه .خو هندې دپلار کورته دتلونه مخکې ددې پلار عمرو مړشو خو سره دمرګ دعمرو نه هم په عرف دپلار کور ګڼړی لی شي دې صورت کې هنده دخپل پلار کورته لاړه شي نو طلاق واقع کیږي یانه ؟

جواب:في ردالمحتار لومات مالک الدار فدخل لايحنث لانتقالها للورثة الى قوله لم تكن مملوكة له من كل وجه الخ ملخصاً ج ۳ / صـ ۱۲۸ .۱۲/ دې روایت نه ثابتیږي چه دې صورت کې طلاق نه واقع کیږي البته که چرته عرف داوي چه دپلار د مرګ نه وروستو هم داوئیلې کیږي چه هغه دخپل پلار کورته تللې ده نو طلاق واقع کیږي في الدرالمختار وعندنا على العرف وفي ردالمحتار لان المتكلم الى قوله ماعهدان المراد بها فافتح صـ ۱۱۰/ ج۳ / ۲۰ ذی الحجه / ۱۳۲۷هـ (تتمه اولی / صـ ۱۰۲)

اوزه چه چرته درزه غواړې هلته لاړه نه وئیلو حکم

سوال:(۵۱۸)دهندې بیان دې چه ګڼړخله یې ووئیل چه اوخه ماتاته طلاق درکړو چه چرته دې خوښه وي هلته څۀ اووی ویستم اووي وئیل چه اوزه ته ولې نه ځې زه ستا ساتل نه غواړم ته دې کورته چار اغوښتې یې غرض دادې چه دې الفاظو سره طلاق بائن واقع شو

یارجعي او طلا بائن واقع کیدو باندي خاوند ته بیا د رجوع کولو اختیار شته یا نه او دي حالت کي څه حکم دی چه أوزه ولی نه څی. زه تاسا تل نه غواړم ته به کله أوزی ؟

جواب :لفظ «أوزه» کي مطلقانیت ته حاجت دی او لفظ چه چرته دی خوښه وی لاړه شه کي په شان دخلیة برینه په حالت دمذاکری دطلاق کي بغیر دنیت نه طلاق بائن واقع کیږی . کذافی الدرالمختار نو که چرته دهغی نه مخکي یې داهم وئیلی وی چه ماتاته طلاق درکړونودی سره طلاق بائن واقع کیږی . دغه شان که چرته دری خله یې ووئیل چه طلاق می درکړو بیاهم طلاق بائن واقع دی . غرض صریح که دری خله وی او دغه شان کنایه که یو خل هم وی دواړو طریقو باندی طلاق بائن واقع کیږی . او دانور الفاظ چه کوم دسوال په اخر کي ذکر شویدی چه او څه ولی نه څی الخ . دی سره هیڅ هم نه کیږی بس که دی ذکر شوی تفصیل سره طلاق بائن واقع شوی وی نو اګر که څوک ګواه نه وی خو چه هر کله هندی ته ددی علم یقینی وی نو هغی ته دطلاق واقع کیدو په حکمونو باندی پکاردی . ۲۱ذی الحجه / ۱۳۲۷هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۱۰۳)

سوال :(۵۱۹)دویم دا چه بغیر د ذکر دطلاق نه او بغیر دخیال دطلاق نه یو سړی خپلی ښځی ته دده دمزاج نه خلاف کار کولو باندی په غصه کي وائی چه څه زما د کوره دهغی نه لس پنځلس منټه وروستو ور سره بیا کور والی وکړی نو څه وشول او دا سی حال کي څه حکم دی؟

جواب :هر کله چه نیت یې دطلاق نه وه نو دی وئیلو سره طلاق نه دی شوی کذافی الدرالمختار وردالمحتار. ۲۲ربیع الاول / ۱۳۲۸هـ (تتمه اولیٰ / صـ ۱۰۷)

سوال :(۵۲۰)یو سړی خپله ښځه دخپل کور نه ویستله او ورته یې ووئیل چه څه. او ددی خبری لس کاله تیر شول چه هغه ښځه دخپل خاوند د کور نه وتلی ده او په دی لس کالو کي ور سره خاوند هیڅ تعلق نه دی ساتلی اوس دهغه سړی څلور کاله او شول چه دوفات شوی دی دهغه دوفات نه وروستو دا ښځه په شریعت کي ددی خاوند نه دمیراث ور لوحق لري یا نه او صرف دو مره موده کور نه وتلو سره طلاق کیږی یا نه ؟

جواب :داوئیل چه څه . دهغه کنایاتو نو دی چه په هغی کي په هر حال کي نیت دطلاق شرط دی او دنیت علم اوس نه شی کیدی په دی طلاق نه دی واقع شوی او دا ښځه دمیراث ور لوحق لري | ۱۱ربیع الاول / ۱۳۲۹هـ !

زینب سره دنکاح کولو نه مخکي داوینا چه که د زینب په موجودګی کښی می بله نکاح وکړه نو هغی نوی ته به طلاق وی ددی څه حکم دی

سوال :(۵۲۱)زید زینب سره دایجاب او قبول نه مخکي دهغی په مهر کي داعبارت ولیکلو چه ددی بی بی موصوفه په موجودګی کي به چرته هم یوی بی بی سره په پټه یا په ښکاره نکاح یا واده نه کوم که چرته می یو ځای کي نکاح یا واده وکړو نو دغه نوی واده کړی شوی ښځی باندی به صرف ایجاب او قبول کولو سره دری طلاقه بائن وی . او مهر لیکلو نه وروستو د زید او زینب ایجاب او قبول وشو . څو کاله د کورنی جهګړو د وجه زید دیو عالم نه تپوس وکړو چه دی صورت کي زه بله نکاح کولی شم یا نه . هغه ووئیل چه کولی شی نو بیا زید بلی بی بی هندی سره نکاح وکړه اوس دی صورت کي څو امور و باره کي تپوس کول غواړو . (۱) دی صورت کي دی دویمی ښځی هندی باندی صرف ایجاب و اقبول سره دری طلاقه بائن واقع کیږی یا نه (۲) تعلیق بالطلاق دپاره ملک یا اضافت الی الملک شرط دی دمهر لیکلو دومره عبارت سره چه ددی بی بی موصوفه په موجودګی کي به هیچری هم په پټه یا په څرګنده بله نکاح یا واده نه کوم دا نه ثبوت دملک دی ځکه چه دایجاب او قبول نه یې وړاندی لیکلی دی او نه اضافت الی الملک دی لکه څنګه چه ښکاره ده په تی شو دمهر لیکلو وړاندی راروان عبارت نه چه که چرته می یو ځای کي نکاح یا واده وکړو نو نوی واده کړی شوی ښځه باندی په صرف ایجاب او قبول سره دری طلاقه بائن وی ملک خو ثابت نه دی ځکه چه ایجاب او قبول نه یې مخکي لیکلی دی البته اضافت الی الملک العام ثابتیږی . اوس که چرته تعلیق بالطلاق پس د وجود ملک نه واقع شو نو نو دی واده کړی شوی ښځی باندی او هغه هم په دی صورت کي وړومبی ښځه زینب باندی واقع کیږی نه په هندی باندی ځکه چه دی سره یې د زینب دنکاح نه پس نکاح کړیده بیا په زینب باندی طلاق څنګه واقع کیږی . (۳) دی مسئله کي فتاوی عالمګیری او بزازیه وغیره عبارت ددی مسئلی جواب کیدیشی یا نه . قال لاجنبیة مادمت فی نکاحی فکل امرأة اتزوجها فهی طالق ثم تزوجها فتزوج علیها امرأة لایقع (۴) دی صورت کي دویمی ښځی هندی باندی طلاق واقع شو نو آئنده که بیا زید چرته نکاح کوی نو صرف ایجاب او قبول سره به په هر ځل باندی نوی بی بی باندی دری طلاقه بائن معلق واقع کیږی یا نه (۵) دویمی بی بی هندی سره که چرته په

دویم خل نکاح کوی نو دحلالي ضرورت شته یانه . (۲) زید زینب ته طلاق رجعي ورکړی او عدت تیر یدو نه وروستو دمبانثت په زمانه کښ دبلي ښځي سره نکاح وکړی نو هغي باندې دري طلاقه بائن معلق واقع کیږي یانه . (۷) زید زینب ته طلاق رجعي ورکړي او عدت تیر یدو نه وروستو بیا زینب سره بغیرد حلالي نه نکاح تازه کړی او بلي ښځي سره نکاح وکړی نو دري طلاق بائن معلقه واقع کیږي یانه ؟

جواب: نه واقع کیږي . پدې وجه سره نه چه دې کښ نه ثبوت دملک دی او نه اضافت دملک دی ځکه چه دکومي ښځي دطلاق نه مقصود تعلیق وی دهغي په طلاق کښ اضافت الی الملک موجود دی . کل امرأة اتزوجها په قوت کښ دان تزوجت امرأة دی لکه ځنګه چه ښکاره ده او دعالمګیری جزئیه چه پس دجزئي مذکور سوال نمبر دریم کښ ذکرده . ولو قال ان تزوجتک مادمت فی نکاحی فکل امرأة اتزوجها والمسئلة لجالها یقع ددي موندهم ده . او ددی جواب کښ داونیل چه دی مقیس علیه کښ اضافت الی الملک په صیغي سره شرط دی په دې وجه صحیح نه دی چه دیوی ښځي ملک طرفته اضافت په صیغي دشرط اضافت الی الملک نه وی بس اضافت دطلاق مقصود په طلاق سره دواړو خایونو کښ برابر دی یعني بغیر دصیغي نه شرط دی غرض دی نه واقع کیدو وجه په دې صورت کښ دا نه شوه چه دی کښ اضافت الی الملک هم نشته . بلکه هغه په دی وجه سره دی چه دیکښ یوبل شرط هم تعلیق دی او هغي تحقیق نه دی شوی ځکه چه معنی ددی کلام چه دبی بی موصوفه الخ . داسی وخت کښ چه هغي سره نکاح نه وه شوی هغه دی چه کوم دی سوال نمبر ۳ په جزئیه کښ ذکر دی قال لاجنبیة الخ . چه دهغي حاصل تعلیق دجملی کل امرأة الخ . بقاء په النکاح اجنبیة سره ده چه کوم مدلول دمادمت دی او بقاء النکاح اجنبیة یو مفهوم ممتنع الوجود دی نو تعلیق بالامر اعمال راغی او چونکه ددی تحقق چرته هم نه شی کیدي په دي وجه دا جملہ کل امرأة اتزوجها الخ . ددی شرط مستحیل الوجود معنی جزاده داهم چرته هم نه واقع کیږی په خلاف ددی ان تزوجتک الخ . چه ددی حاصل تعلیق ددی جمله سره دی . کل امرأة بقاء دنکاح پس در اتللو دنوی نکاح نه داجنبیی سره چه مدلول دی اون تزوجتک الخ او دا متحمل الوجود دی په دی وجه ددی واقع کیدو په وخت کښ به حکم دکل امرأة الخ واقع کیږی . (۲) دی اضافت الی الملک العام کښ دومره عموم نشته چه زینب دی په دیکښ داخله وی بلکه زینب ددی نه مستثنی ده ځکه چه دنوی واده الخ . دامعنی ده چه زینب په

موجودګی کښ چه کوم نوی واده الخ هغه په زینب باندی پدی وجه طلاق نه واقع کیږي . او هنده باندی دطلاق نه واقع کیدو وجه جواب دسوال نمبر ۱ کښ ذکر شوه او نورو سوالونو جوابونو حاجت اوس پاتی نه شو ځکه چه دهغي تولو بنیاد دی په واقع کیدو دطلاق په هندی باندی او بره نه واقع کیدل دطلاق ثابت شول . (تتمه اولیٰ / ص ۱۰۳)

که مونځ دی ونه کړونو په مونږه باندی حرامه یې دوئیلو حکم

سوال: (۵۲۲) مونږ دلمونځ نه کولو په وجه خپلی بی بی ته ډیر خله وئیلی وه چه لمونځ کوه خو هغي نه اوریدل نو مونږ ورته داوئیل چه که ته لمونځ نه کوی نو ته په مونږ باندی حرامه یې کوروالی می موقوف کړیدی پدی وجه تقریباً دیو کال نه مو تلل راتلل بند کړی دی اوس هغي لمونځ شروع کړونو مونږ اوس یو بل کره تلل راتلل کوؤ خو دطلاق مسئله ډیره نازکه ده په دی وجه مود حضور نه تپوس وکړو ؟

جواب: داوینا چه که ته لمونځ نه کوی نو مونږ دپاره ته حرامه یې ایلاء (قسم) دی ځکه چه ظاهراً خوده څه نیت نه دی کړی او ددی صورت کښ ایلاء وی کذافی الدر المختار . هرکله چه څلور میاشتی تیری شی نو یو طلاق بائن واقع شو اوس ددواړو په رضا باندی نکاح تازه کول ضروری دی . بغیر دنکاح نه کوروالی حرام دی . ۱۲ ربیع الاول / ۱۳۲۸ھ (تتمه اولیٰ / ص ۱۰۲)

طلاق می ورکړو یا طلاق می ورکړو پری می خودلی یا ... دامی

کورته راوسته نو دهغی موربه می رواستی وی دوئیلو حکم

سوال: (۵۲۳) وړومبی ګواه زید قسم وخوړو او داګواهی یې ورکړه چه عمرو په خپل کور کښ ناست وه او اوبښ طرفته یې نسبت وکړو وی ئیل چه دده خورته ما ریښتونی طلاق ورکړو اوی وئیل چه رجستری یې وکړی او ما دعمرو نه تپوس وکړو چه تا ځنګه طلاق ورکړو هغه جواب راکړو چه ځنګه شریعت کښ کیدیشی دویم ګواه بکر قسم وخوړو او وی وئیل چه عمرو په خپل کور کښ ناست وه وی وئیل چه ما دیته طلاق ورکړو ته په خپل کور کښ خای نه ورکوم او دهغی دلاس خوراک نه خورم ما دخلقو نه اوریدلی دی چه عمرو وئیل چه زه دانه راولم که رامی وسته نو دهغی موربه می راوستی وی بغیر دپښتني دعمرو . موافق ددی ګواهانو کوم یو طلاق واقع کیږی رجعي یا بائن که رجعي وی نو که عمرو دی ښځي سره وطی کولو سره

رجوع وکړه او دی وطی کې خوی پیداشی نو داخوی ددی عمرو وارث جوړیدی شی یا نه په تقدیر اول که یو سړی داهلک ولدالزنا اوبلې نو په ده باندی گواهی ددورو غولازمیږی یا نه دحنفی مذهب موافق څه حکم دی بینوا توجروا؟

جواب: دی ونیلو سره چه طلاق می ورکړو یاطلاق می ورکړو پری می خوده طلاق رجعی واقع شوی وه بیادهغی نه وروستو چه یې داوونیل که می رواسته نو دهغی موربه می رواستی وی پدی کې تشبیه ده مور سره انت علی کامی په شان ددی حکم دادی دویونکې نه به تپوس کیږی چه نیت دڅه وه ظهار یاطلاق یاڅه بل څه وه او تعلیق او تنجیز سره حکم نه بدلیږی کذافی الدرالمختار نو په دی بنیاد باندی چونکه داصیغه احتمال دطلاق او غیرطلاق لری نو داکنایه شوه او هغه قسم دکنائی شو چه مالایحتمل الرد ولاالسب بل یصلح للجواب فقط یاپه مرجوع احتمال سره هغه قسم هم کیدیشی چه مالایحتمل السب او دطلاق دمذاکرې په وخت کې ددواړو قسمو نو حکم دادی چه بغیر دنیت نه طلاق کیږی بس اوس داکتل پکاردی چه ددی سړی داقول چه کې دامی ویسته الخ دغه جلسه کې وئیلی وی کوم کې چه یې طلاق صریح واقع کړیدی یایې په بله جلسه کې وئیلی دی که دغه جلسه کې یې وئیلی وی نو طلاق بائن واقع شو او که بله جلسه کې یې وئیلی وی نو دهغه نه به دنیت تپوس کولی شی او دهغه دبیان موافق حکم به ورکولی شی او طلاق (یعنی چه کوم صریح دی او وړومبی کرخه کې ذکر دی) صرف رجعی واقع کیږی بیاکوم صورت کې چه رجعی واقع شی عدت دننه رجوع کول جائزدی او دهغه وطی نه اولاد ثابت النسب دی او دی ته ولدالزنا وئیل موجب دحد قذف دی او کوم صورت کې چه طلاق بائن واقع شی یارجعی کې یې دعدت نه پس رجوع کړی وی دی دواړو صورتونو کې رجوع جائز نه ده او که دی صورت کې یې وطی کړی وی نو داواضح کول پکاردی چه عدت کې دننه یې کړیده یاعدت نه وروستو او اولاد دطلاق ورکولو نه څومره موده وروستو پیدا شویدی هغه وخت تفصیلی جواب کیدیشی ۲۷ربیع الثانی (۱۳۲۸هـ تتمه اولی/ص۱۰۷)

وړومبی یو طلاق ورکول بیاوئیل چه دری طلاقه می کړل دوئیلو حکم

سوال: (٥٢٤) زید دبکر لورهنده په خپلی نکاح کې راوسته دهغی نه څو کالو وروستو زید موصوف دعمرو لورکلثوم سره بیادویمه نکاح وکړه دهغی نه وروستو دهندی پلار بکر زید ته

ووئیل چه څو پوری دکلثوم ته طلاق نه وی ورکړی تر هغه پوری هنده تاسره نه پریږدم اخر زید دمجبوری نه کلثوم ته یو طلاق رجعی وکړو بکر قابو کړو بیایې ورته ووئیل چه دری طلاق کړه زید خپله بی بی هندی لره خپل کورته دراوستو په بهانه او کلثوم ته هم یو رجعی چه مخکې یې ورکړی وه دهغی نه دزیات نه ورکولو په نیت باندی صرف مضبوتی دپاره دبکر مخکې یې او وئیل چه خیر دری طلاق می کړل اوس دزید او دکلثوم رجوع کیږی یا نه ؟

جواب: دری دواړه طلاقه وشول په دی وجه رجوع کول جائز نه دی فی ردالمحتار باب الکنایات طلقها واحدة بعدالدخول فجعلها[1] ثلثا صح کما لو طلقها رجعیاً فجعله قبل الرجعة بائناً اوثلاثاً الخ ۲۱ شعبان (۱۳۲۸هـ تتمه اولی/ص۱۰۹)

محل اومحلله کې دکوروالی په واقع کیدو کې داختلاف فیصله

سوال: (٥٢٥)[2] یو سړي خپلی بی بی طلاق بائن ورکړو محلی والو ددی طلاق کری شوی نکاح بل چاسره وکړه دی غرض سره چه کله ده طلاق ورکړو نو بیله نکاح یې وکړه څو ورځی پس دی دویم خاوند هم دیته طلاق ورکړو او وړومبی خاوند دی سره بیانکاح وکړه اوس دادویم خاوند وائی اوقسم خوری چه مادی بی بی سره کوروالی نه دی کړی او داښځه هم قسم خوری او وائی چه ده یعنی دی دویم خاوند ما سره کوروالی کړیدی په شریعت کې ددی څه حکم دی؟

جواب: فی الدرالمختار ویقبل قول الفاسق والکافر والعبد فی المعاملات وشرط العدالة فی الدیانات کالخبر عن نجاسة الماء ویتحری فی خبر الفاسق وخبر المستور ثم یعمل بغالب ظنه وفی ردالمحتار تحت قوله ولو اخبر عدل بطهارته وعدل بنجاسته الخ ما نصه فقد اعتبروا التحری بعد تحقق المعارضة بالتساوی بین الخبرین الخ دی روایت نه معلومه شوه چه دی سړی او ښځه کې که یو عادل ثقه او یو غیر عادل غیر ثقه وی او دعادل ثقه قول ته اعتبار دی برابره خبره ده که هغه دویم خاوند وی یا ښځه وی که چرته دواړه عادل دواړه غیر عادل یا دواړه مجهول الحال وی نو ددواړو په قول کې تحری (سوچ) کوی طرفته زړه گواهی ورکړی خو په دی گواهی کې به نفسانی غرض نه وی په خپله چه کوم طرفته

---

[1] الظرفی الحاشیة علی الجواب السابق علی بسبعة اعداد ۱۲منه؛

[2] داهغه سوال او جواب دی چه دهغی حواله په کتاب النکاح کې راغلیده دحوالی عبارت دشروع نه دادی داجواب په اعتبار دجوب مهرالخ ۱۲منه؛

زړه ګرځي اوکوم ریښتوني معلومیږي دهغې په قول به عمل کولی شي ځکه چه حلت اوحرمت دډیاناتو نه دی اوددیاناتو دغه قاعده برني روایت نه معلومه شوه
(۲صفرالمظفر/۱۳۲۹ھ تتمه اولی/ص ۱۱۰)

طلاق نامه دښځې منظورۍ سره دمشروط کولو حکم

سوال:(۵۲۶)زید دعمرو دحکم نه بغیر دعمرو د طرفنه یو طلاق نامه ولیکله بیا یې عمرو اوغوښتو اوهغه طلاق نامه یې ورته واورولو اوورته یې اووئیل چه په دی باندی سخط وکړه عمروخوورومبی انکاروکړوخودده دوینا اوداوریدلو دوچه نه یې په دی طلاق نامه باندی په دی شرط سره دسخط وکړوچه که زما ښځې هندی منظورکړو نو داطلاق نامه هغې ته ورکړه او زه به په ژبې باندی هم هغه ته طلاق ووایم. عمروو ائی چه دا شرط ما ځکه ولګولو چه زما ښځه هنده به دا منظورنه کړي اوزه به دخلقو دخبرو اوریدونه خلاص شم هرکله چه یې داطلاق نامه هندی ته یوړه نوهغې منظورنه کړه او فوراً دعمرو کورته راغله اوخوورځې تیری شوی اوسه پوری هغه عمرو کره اوسیږي. طلاق نامې نقل دادی دفلانی کلی اوسیدونکي هنده بنت فلان لیکوونکي ددغه کلی اوسیدونکي عمروزه تاته داطلاق نامه لیکلی درکوم چه زما تا سره دنکاح تقریباً دوه کاله شویدی خو ما سره دګزارۍ نه کولو دوجه نه زه نن تاته طلاق درکوم اوما دنکاح په وخت تاته دڅلورسوؤ پنځوویشت روپوسامان درکړي وه هغه تا سره دی پدیکې اوویشت نیمی دمهرپه بدله کې دی اونورسامان ماتاته بخلی دی بس ماتاته دخدای ﷻ دپاره طلاق درکړیدی ماتاته طلاق درکړیدی ماتاته طلاق درکړیدی دشریعت محمدی ﷺ موافق دری طلاقه درکړیدی پدی وجه زما په تابا ندی دښځې دطریقې حق نه دی پاتی شوی اوستا مهرهم ماسره نه دی پاتی شوی ته چاسره نکاح کوی یانه کوی دهغې تاته اختیاردی په هغې کې زما د طرفنه څه بندیز نشته. ۱۲ جون/ ۱۹۱۱ھ اوس سوال دادی چه طلاق نامه باندی دژبی وینانه بغیرپدی شرط سره دسخط کول چه که ښځې منظورکړل نومنظوره ده کنی نه ده اوبیا ښځې دا منظوره نه کړه نودی سره طلاق واقع شویانه. بینواتوجروا؟

جواب: هرکله چه ښځې منظورنه کړه اود طلاق شرط داوه چه که ښځې منظورکړه نو طلاق دی پدی ښځه باندی طلاق واقع نه دی ځکه چه معلق بالشرط بغیرتحقق نه نه واقع کیږي

هکذا فی عامة کتب الفقه . والله اعلم کتبه عزیزالرحمٰن عفی عنه مفتی مدرسه عربیه دیوبند
الجواب صحیح اشرف علی ۲۷ رمضان/۱۳۲۹ھ (تتمه اولی/ص ۱۱)

نه زه ستاخاوندنه ته زما ښځه ستا ماسره هیڅ تعلق نشته دوئیلو حکم

سوال:(۵۲۷)یوسړی خپلی ښځې ته دالفاظ ووئیل چه نه زه ستاخاوند اونه ته زما ښځه یې ستا ماسره هیڅ تعلق نشته آیا طلاق واقع شو دا الفاظ یې دطلاق ورکولو په نیت نه وی وئیلی بلکه هغې لره یې دویرولو په نیت وئیلی دی؟

جواب: (۱) که ددی الفاظو دوئیلو نه مخکې څه ذکر دطلاق روان وه اودهغې نه وروستو یې داالفاظ وئیلی وی بیا خو دنیت نه بغیرهم طلاق واقع شواو که څه ذکرنه وه نو بغیر دنیت نه طلاق نه دی واقع شوی ځکه چه کلمات احتمال لری دسَبّ (بدوردو) اودجواب. اودی قسم کې دغه شان حکم دی. کذافی الدرالمختار وردالمحتار.
(۱۰ رجب/۱۳۳۰ھ تتمه اولی/ص ۱۱۵)

وقوع طلاق بلفظ بائن وقت مذاکره

سوال:(۵۲۸)څه فرمائی علماء دین او مفتیان دین شرع متین په دی مسئله کې چه زید دخوکسانو په مقابله کې ووئیل چه که خپلی ښځې ته می دشپی پوری اته روپی ورنکړی نو زما نکاح به بائن وی دهغې نه وروستو خاوند صرف څلورروپی ورکړی دی صورت کې طلاق واقع شویانه اوددی خبری وجه دا اوشوه چه زید خپله ښځه په تکلیف کې ساتله اونان اونفقه ته یې بالکل خیال نه کولو محلی والو دده اصلاح دپاره واووئیل چه ته خپلی ښځې ته طلاق ورکړه یا ورسره ښه سلوک ساته اونان نفقه دپاره څه ضامن راکړه هغه جواب ورکړو چه ضامن به څوک جوړوی څوک زما ضامن نه شی کیدی زه وعده کوم چه تکلیف به نه ورکوم اونفقه دپاره اته روپی ورکوم که چرته نیمی شپی پوری می ورنکړه نو زما نکاح به بائن وی اوهره میاشت به خرچه ورکوم الغرض تذکره دطلاق کې زید دا وئیلی وه دی صورت کې طلاق واقع کیږي یانه او که واقع کیږي نو بائن یا رجعي؟

---

(۱) نه زه ستاخاوند-دشامی دتصریح مطابق داطلاق رجعي دي-لهذا ستاماسره څه تعلق نشته دی جملی سره دویم طلاق بائن واقع کیږي والله اعلم ۱۲ رشید احمد عفی عنه؛

جواب: فی الدر المختار بخلاف انت بائن اوحرام حیث یقع اذانوی ج ۲ / صـ ۷۳۳ / دی نه معلومه شوه چه دی صورت کې طلاق بائن واقع کیږی ۸ رجب ۱۳۳۰ھ

طلاق معلق کولو او بیا بیا وئیلو حکم

سوال: (۵۲۹) که یو سړی خپلی ښځی ته خو ځلی وه وائی چه که ته د پلار کور ته لاړی نو تاته طلاق دی او س که هغه لاړله نو څو طلاق واقع شو یو یا دوه یا دری که یا دوه طلاقه واقع شول نو کوم طلاق واقع شو؟

جواب: چونکه د تاکید نیت قضاءً معتبر نه دی په دی وجه دری طلاقه واقع شول ۱۰ رجب ۱۳۳۰ھ تتمه اولی صـ ۱۱۵

لفظ صریح سره طلاق ورکولو او د سوال په جواب کې د دغه الفاظو اعادی حکم

سوال: (۵۳۰) زید د څه وجه نه خپلی ښځی هندی ته په غصه کې یو ځل لفظ صریح و وئیلو چه ما تاته طلاق درکړو دی. لفظ اوریدو سره هندی خپل خاوند ته و وئیل چه څه دی و وئیل پدی باندی دی خاوند بې دوباره د الفظ اووی او چپ شولږ ساعت وروستو یو دریم سړی د هندی د خاوند نه تپوس وکړو چه څه شوی دی دغه وخت بیا زید هم دغه لفظ اووی او س معلوم مول پکار دی چه دا طلاق رجعی دی یا مغلظ؟

جواب: د سوال په جواب کې دری واقع کیدل قرینه د دی ده چه دویم او دریم طلاق ورکول مقصود نه وی بلکه د وړومبی طلاق خبر ورکول مقصود دی په دی وجه دا یو طلاق واقع کیږی دوه یا دري نه واقع کیږی او چونکه صریح لفظ سره یې ورکړیدی پدی وجه رجعی دی او عدت کې د ننه رجوع کول جائز دی. فی الدر المختار فلایقع لانه اخبار فلاضرورة فی جعله انشاء وفی ردالمختار قوله لانه اخبار ای یجعل اخبارًا لانه امکن ذالک ج۲ صـ ۷۷۴ ۹ ذی قعده ۱۳۳۰ تتمه اولی صـ ۱۱۵

سوال: (۵۳۱) گزارش خدمت آنکه که یو سړی د خپلی ښځی نه په څه وجه خفه شی او داو وائی چه اوس دا نوره نه ساتم دا یې وونیل کورنه روان شو او د بل چاځای ته لاړو نو یو کس ورته وونیل چه تا خپله ښځه پریخوده هغه جواب کې وونیل چه آو پری می خوده ددی دیره خرابه خوله ده هر وخت کنځلی کوی دویم کس دریم کس بیا دغه شان ده نه تپوس وکړو دهغه

په جواب کې یې هم دغه شان وونیل چه آو پریخودی می ده نو دی صورت کې د ده په ښځه باندی طلاق واقع شو یا نه او که طلاق واقع وی نو یو طلاق یا دری طلاقه واقع شول او که یو واقع شوی وی نو هغه رجعی دی یا بائن د دی ځای په عرف کې پریخودل د طلاق ورکولو په معنی کې استعمالیږی دویم معنی مراد نه وی والسلام؟

جواب: دی صورت کې یو طلاق رجعی واقع شو ځکه چه د خاوند استفهام با یقاع الطلاق په جواب کې. داو یناچه آو پریخودی می ده بمقتضائی مطابقة جواب للسوال طلاق نه دی اخبار عن انشاء الطلاق دی چه دی سره په صورت د کذب خبر کې صرف قضاءً او په صورت د صدق کې دیانةً هم طلاق واقع کیږی. ففی البحر عن الفتح ولو اقر بالطلاق وهو کاذب وقع فی القضاء الخ ۳ ج / صـ ۲۴۶ / وفی ردالمختار عن البحر عن البزازیة والقنیة لو اراد به (ای باقرار الطلاق) الخبر عن الماضی کذبا لایقع دیانة وان اشهد قبل ذالک لایقع قضاءً ایضًا الخ ج۲ صـ ۲۹۲ او تکرار د اخبار اگرچه احتمال د تعدد مخبر عنه لری خو ښکاره داده چه دری واړه خبرونه د یو انشاء او دری واړه حکایتونه د یو محکي عنه دی په دی وجه سره تکرار د اخبار نه طلاق یو واقع کیږی. ونظیره ماروا الشامی فی ردالمختار عن الکافی الحاکم واذاقال انت طالق ثم قیل له ماقلت فقال قد طلقتها او قلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب انتهی صـ ۷۵۵ / ج۲ نو هر کله چه دی جزیئه کې انشاء د طلاق چه کوم په حکم د واقع کیدو د طلاق کې اصل واعلیٰ دی د هغی نه وروستو اخبار سره د احتمال د تعدد د انشاء کې اخبار بعد الاخبار سره متحد کیدو د طلاق کې دال علیٰ تعدد الطلاق دی نه شو نو اخبار عن الانشاء چه کوم په حکم لوقوع الطلاق کې تابع او ادنیٰ دی د هغی نه وروستو اخبار په طریقه اولیٰ سره دال علی التعدد نه شو او چونکه د الفظ چه پری می خوده د هغه ځای په عرف کې په داسی محل کې د مستفتی د بیان موافق د طلاق په معنی کې استعمالیږی په دی وجه دا صریح فی الطلاق دی او دی لفظ سره اقرار سره هم طلاق رجعی واقع کیږی فی تنویر الابصار صریحه مالم یستعمل الافیه (ولو بالفارسیة ۱۲ ذ) کطلقتک وانت طالق مطلقة ویقع بها (ای بهذه الالفاظ وما بمعناها من الصریح ۱۲ ذ) واحدة رجعیة وان نوی خلافها اولم ینو شیئًا انتهی صـ ۷۰۴ فقط والله اعلم وعلمه اتم وحکمه احکم المرقوم ۱۸ شعبان / ۱۳۴۹ھ [**جواب**] صحیح دی او کوم صورت

کې چه قضاء وقوع دطلاق راځي ښځي ته هم په وقوع طلاق باندې عمل کول واجب دي والمراة کالقاضي راغلیدی اشرف علی . ۲۹ شعبان ۱۳۴۹ھ (النور ص ۵)

طلاق دی که تا ماسره خبری وکړی اوزماتاسره څه واسطه نشته دوئیلو حکم

سوال: (۵۳۲) خاوند اوښځي مینځ کې څه جدائي غندي راغله اودومره پورې خفګان پیدا شو چه خاوند په غصه کې ووئیل (طلاق دی که تاماسره خبری وکړی اوزماتاسره هیڅ واسطه نشته) بس دغه الفاظ یې یوځل په ژبه ووئیل اوبیا څه خبری باندې ورسره ښځي خبری وکړی اوس اوفرمائي چه دطلاق وشو یانه که شوی وي نوکوم طلاق وشو اوس دوباره نکاح کولو یابغیر دنکاح کولو ساتلی شي یانه اوطلاق په باره کې دالفاظو وئیلو باندې شرمنده شوددی جواب په صفا لفظونو کې سره دتشریح ولیکي ؟

جواب: داجمله چه طلاق دی صریح ده اودالفظ چه زماتاسره څه واسطه نشته کنایه ده اوبائن [1] ملحق کیدیشي صریح کنایه سره . کذافي الدر المختار باب الکنایات اودواړه معلق بالشرط دي اوشرط واقع شویدی بس دواړه طلاقه واقع شول پدی وجه رجوع کول صحیح نه دی خونکاح تازه کول صحیح دی دحلالی حاجت نشته البته چه دواړه ښځه خاوند رضاوی

۹ ذي قعده ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی/ص ۱۱۲)

که ښځي سره داشرط وکړی چه که ستانه می علاوه بل چاسره

نکاح وکړه نوهغی ته طلاق دی ددی حکم داحنافوپه نزدڅه دی

سوال: (۵۳۳) زیدیوی ښځي سره په دې شرط نکاح وکړه چه ددی نه علاوه که می چرته بلی نکاح وکړه هغې باندې طلاق دی اودده ښځي ته څه داسې دائمي عارضه ده چه هغې سره زیدته هرقسم تکلیف وی تردی پورې چه دکوروالی نه هم محروم وی داسې حالت کې دحنفیانوپه نزدبله نکاح کول جائزدی یانه که دحنفیانوپه نزدجائزنه وی نودبل امام تقلید جائزدی یانه ؟

---

[1] غالباً کاتب نه سهوه شویده عبارت داسې پکاروه چه بائن بالکنایه محلق کیدیشي صریح رجعي سره والله اعلم ۱۲ رشید احمد

جواب: ددری واړو سوالونو جواب یودی هغه داچه دی دریواړو صورتونو کې دحنفیانو په نزدنکاح کولو سره طلاق واقع کیږي خوکه یوکس ته دشهوت دومره غلبه وي چه دنکاح نه بغیرپه زنانه کې دمبتلا کیدو ویره وی نوهغه ته جائزدی چه دامام شافعي رحمه الله په مذهب باندې عمل وکړی ددی جواب لیکلونه وروستومی داذهن ته راغلل چه بغیرد سخت ضرورت نه دبل امام په مذهب باندې عمل کول نه دی پکار اودلته داصورت کیدیشي چه فضولي ددی سری نکاح وکړی اوداسړی ده ته په اجازت بالقول سره نافذه نه کړی بلکه دی ښځي سره کوروالی وکړی دی سره به هغه نکاح نافذشي

۲۱ ذي قعده ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی/ص ۱۱۲)

خاوندووئیل چه که مابامه په پورې کورته راغلی نوزمادطرفنه

جواب دی بیاخاوندانکاروکړودی صورت کې طلاق واقع کیږي یانه

سوال: (۵۳۴) څه فرمائي علماء دین پدی مسئله کې چه زماخاوندزید ماته غصه کې دالفظ ووئیلو چه که ته مابامه پورې ته راغلی نوزمادطرفنه جواب دی زید دالفظونه زما وارندی هم وئیلی دی اودغه وخت نوررشته دار هم زماموجودوه اوبیا ددی لفظونو اقرارېې زمادمشرتره په وارندی وکړو اوهلته یې داهم ووئیل چه دمعافی نامې مهرهم ماسره دی چه په خپله قرینه دنیت دطلاق کیدیشي اوس زیددهغه لفظونو انکارکوی اووائي چه مادالفظ نه دی وئیلی وه چه که ته مابامه پورې زماکورته راغلی نوزه به جواب درکړم اودغصې دحالت هم انکارکوی خوزماپه نزدهغه په خپل انکارکې ریښتونی نه دی ددی لفظونو په غصه کې دوئیلو ګواهان زمامشرتره زماموراونیااومشره خوراوزما چاچی (دترښځه) دی چه ثقه اوعادل دی اوس دی صورت کې په ماطلاق واقع شویانه . اوقضاء هم واقع شویاصرف دیانة . که صرف دیانة واقع شوی وی نوزمادزیدسره اوسیدل اووطی کول حلال دی یاحرام . اوکه طلاق واقع شوی وی نوکوم طلاق واقع شویدی زید داهم وائي چه دغه وخت زمانیت هرګزدطلاق نه وه . زه ده لره پدې کې هم ریښتونی نه ګڼم دی باره کې چه دشریعت څه حکم وی هغه ولیکي . الله رب العزت به دیرزیات اجردرکړی والسلام الخ

جواب: دالفظ چه زمادطرفنه جواب دی عرفاً کنایه ده دطلاق نه . لکه څنګه چه په اصل زبان باندې پټه نه ده اودادکنایه په قسمونوکې هغه قسم دی چه په هغې کې دردا وسب احتمال

نشته بلکه صرف په جواب کې استعمالیږی او دا هم ښکاره شرط نه دی کما صرح به الفقهاء او دی صورت کې دلالت حال متحقق دی نو که واقعه دغه شان وی نو حکم دا دی چه طلاق واقع شو او چونکه دا لفظ اهل عرف قطعی بائن واقع شو کما حقق العلامة الشامی تحت قول الدرالمختار حرام وقال البحث الطویل والحاصل انه لما تعورف به (ای بحرام الطلاق صار معناه تحریم الزوجة وتحریمها لایکون الا بائن ج۲ صـ ۷۲۳/ او هر کله دلالت حال قرینه ظاهره ده دا راده د طلاق نو انکار نیت کې په وجه ظاهر نه په خلاف کې قضا د دخاوند تصدیق به نه شی کیدی او ښځی باندی په دی معامله کې د قاضی په شان معامله کول واجب دی قال الشامی عن الفتح والتاکید خلاف الظاهر وعلمت المرأة کالقاضی لایحل لها ان تمکن اذا علمت منه ماظاهره خلاف مدعاه ج۲/صـ۷۶۹ بس که ستا دا بیان واقع کې صحیح دی نو په تا باندی طلاق بائن واقع شو او تا ته د خاوند سره او سیدل او وطی جائز نه ده باقی که په رضامندی سره نکاح تازه کړی نو جائز ده خکه چه طلاقونه دری نه دی فقط. ۱۸ رجب ۱۳۳۰ھ (تتمه اولی صـ ۱۱۷)

حکم شهادت طلاق بذریعه سماع واقعه من وراء الحجاب وحکم طلاق باقرارخود

سوال:(۵۳۵) یو کس په خپل کور کې چه هلته د ده د خوانبی او ښځی نه علاوه بل څوک نه وه خپلی ښځی ته یې طلاق ورکړو او وخت د شپی وه سحر ده وویل چه ما خپلی ښځی ته دوه طلاقه ورکړیدی او یو خل می ویلی دی خو نور دوه سړی چه د دی طلاق ورکوونکې د کور نه علاوه بل کور کې وه (په مینځ کې دیوال ولاړ وه، هغوی وویل چه ده دوه طلاقه دوه خله ویلی دی دی صورت کې بعضی مولوی صاحبان وائی دا گواهی من وراء الحجاب ده د دیوال نه اخوا یې اواز اوریدلی دی او ویلی دی دا گواهی قبول نه ده صرف اقرار د طلاق ورکوونکې معتبر دی او دوه طلاقونه واقع دی او بعضی مولوی صاحبان وائی چه دا سړی طلاق ورکوونکې گواهانو اگرچه نه دی لیدلی خو چونکه هغه دبل سړی په مینځ کې دو نیلو دعوی نه کوی بلکه یو خل دوه طلاقه لفظ و نیلو اقرار کوی نو خامخا به دا گواهی قبلیږی اگرچه من وراء الحجاب دی په دی وجه چه هغه طلاق ورکوونکې وائی چه دی خای کې زمانه او زما د خوانبی او د ښځی نه علاوه بل څوک نه وه په خوانبی او ښځه کې خو بوهم دوه خله د دوه طلاقه لفظ و نیلو اقرار نه کوی پس معلومه شوه چه دا تلفظ صرف د ری طلاق ورکوونکې دی په دی صورت کې سوال د دی خبری دی چه عالمگیری کې ولوسمع من وراء

الحجاب لایسعه ان یشهد لاحتمال ان یکون غیره اذا لنغمة تشبه النغمة الا اذا کان فی الداخل وحده ودخل وعلم الشاهد انه لیس فیه غیره ثم جلس علی المسلک ولیس له مسلک غیره فسمع اقرار الداخل ولایراه لانه یحصل به العلم وینبغی للقاضی اذا فسرله لایقبله کذا فی التبین انتهی دی عبارت سره د تلفیقین تقین دوجه نه تشد د معلومیږی سوال کې چه څو مره تفصیل لیکلی شویدی دو مره د تیقن د پاره کافی کیږی یا نه او دی صورت مرقومه کې کوم طلاق معتبر دی

جواب: دا شهادت معتبر نه دی د اقرار عتبار به کولی شی عالمگیری کې یې چه کوم قیدونه لیکلی دی هغه د لته کوم دی لکه ثم جلس الخ او دا ویره ښکاره ده. ۱۳ رمضان المبارک ۱۳۳۱ھ (تمه ثانیه /صـ ۶۸)

تحقیق اضافت درباب طلاق

سوال:(۵۳۶) بعد اتحاف تحفه مسنونه و اظهار نیازمندی هائی هرگونه معروض این که درفتاوی عالمگیریه درفصل سابع که درین طلاق بالفاظ فارسیه است مرقوم فی الفتاوی الرجل قال لامرأته اگر توزن منی سه طلاق مع حذف الیاء لایقع اذا قال لم انو الطلاق لانه لما حذف فلم یکن مضیفاً الیها وفیه ایضاً ولو قالت طلقنی فضربها وقال الیک طلاق لایقع لو قال اینک طلاق یقع وفیه ایضاً سکران هربت منه امرأة فتبعها ولم یظفر بها فقال بالفارسیة بسه طلاق ان قال عنیت امرأتی یقع وان لم یقل شیئاً لایقع کذا فی الخلاصة از عبارت مذکوره بالا بخوبی معلوم می شود که در وقوع طلاق اضافت صریحه از بس لابدی است و اگرچه مذاکره طلاق درمیان باشد بلا اضافت صریحه طلاق واقع نه گردد و از عبارت خلاصه ون لم یقل شیئاً لایقع موید می گردد که صرف نیت طلاق زن هم بسند نیست تا وقتیکه که بزبان اقرار نه کند که من نیت طلاق فلانه کرده ام و علامه شامی در اوائل باب الصریح بر حاشیه قوله الترکة الاضافت از خود نظری پیش کرده و تحقیق نموده که از بهر وقوع طلاق ضرور اضافت صریحه نیست و در عالمگیری در همان فصل ست لو قالت مرا طلاق ده و مرا طلاق ده فقال دام یقع ثلاث بهرحال از بعض عبارات عالمگیریه معلوم می شود که از بهر وقوع طلاق اضافت صریحه ناگزیر استو از بعض عبارت دیگر عالمگیریه او ز تحقیق علامه شامی هویدا می شود که ضرورت اضافت محتاج است اصریحه نیست امید که دفع تدافع مذکوره بگونه خوب نمایند؟

جواب: از قواعد و جزئیات چنان می نماید که شرط وقوع طلاق مطلق اضافت ست نه که اضافت صریحه اری تحقق مطلق اضافت محتاج است بقرائن قویه وقرائن ضعیفه محتمله دران کافی نیست پس درجزئیاتیکه حکم بعدم وقوع کرده اند سببش نه آنست که دروا ضافته صریحه نیست بلکه سبب آن ست که درو قرینه قویه براضافت قائم نیست وآن قرینه به تتبع چند قسم است اول صراحت اضافت وآن ظاهر است کمافی قوله اینکت دوم بنت کمافی قوله عنیت امرأتی وازعبارت خلاصه وان لم یقل شیئاً لایقع شبه نه کرده شود که بنت بلااضافت صریحه کافی نیست زیراکه معنی لایقع ای لاتحکم بوقوعه مالم یقل عنیت است چراکه بدون اظهارنادی دیگران راعلم نیت چگونه می توان شد فاذاقال عنیت یقع لا لقوله عنیت لانه پس موضوعا للطلاق بل لقوله سه طلاق مع النیة فافهم فانه متعین تیقن سوم اضافت درکلام سائل کمافی قوله دادم فی جواب قولها مراطلاق ده لهذا ثلث واقع شود لتکرارهاثلاثاورنه کلام دادم نه برائی طلاق موضوع است ونه برائی عددثلثه. چهارم عرف کمافی روایة الشامی الطلاق یلزمنی پس درجزئیات تیکه همه قرائن مفقودباشند طلاق واقع نه خواهدشدلالعدم الاضافة الصریحة بل لعدم مطلق الاضافة پس برین تقریر درمسائل هیچ گونه تدافع نیست هذاماعندی وهل عندغیری احسن من هذا. ۳محرم/ ۱۳۳۲ھ (تتمہ ثانیہ/ص ۱۰۲)

وقوع طلاق بائن به لفظ فارغ خطی

سوال: (۵۳۷) پس د سلام مسنون نه عرض دادی چه زما یو دوست څه اته کاله وشول داسی اتفاق راپیښ شو چه دده او د ښځی ترمینځه یې څه خبری راغلی ښځی داوسیدونه انکاروکړو او سړی د ساتلو نه انکاروکړو خاوند ښځی ته اووئیل چه ته ماته مهرمعاف کړه زه تاته طلاق نامه لیکم دی ښځی د څه حاضرینو په وړاندی خپل مهرمعاف کړو چه دعقوی نو مونه راته یادنه دی دی سړی یو کاغذ دیو معلوم سړی په لاس ولیکلو او دی ښځی ته یې ورکړو دهغی مضمون داوه چه چونکه مسماة فلانی ماسره په تازه نکاح کې اوسیدله اوس خفه ده جګړی کوی او خان خلاصول غواړی او مهرمعاف کوی په دی وجه دا څو کلمات دی مسماة ته لیکم او د خلاصولو په طوریې دیته ورکوم چه اوس زما دی ښځی سره هیڅ کارنشته دی ملک صرف فارغ خطی د طلاق په ځای استعمالیږی ددی واقع به دوه میاشتی تیری شوی وی چه بیا ددوی مینځ هغه خفګان لری شو او ښه سلوک ئې پیدا شو او د ښځی

او خاوند په شان اوسه پوری اوسی ماته دی سړی دچا چه دا وقعه ده خپل خفګان یې ښکاره کړو چه آیا طلاق واقع شویدی یانه دا مسئله مو بهشتی زیور کې وکتله خو په څه پوه نه شو او څه چه پوه کې راځی په هغی باندی بغیر د خاص فتوی نه عمل کول ډیرګران دی په دی وجه د شریعت موافق حکم راته اوفرمایې؟

جواب: دالفظ خلاصول کنایه ده اوچونکه دی سره بائن واقع کیدل متعارف دی په دی وجه بغیرد نیت نه دی سره طلاق بائن واقع کیږی کمافی ردالمحتارفی قوله حرام مانصه وسیاتی وقوع البائن به بلانیة فی زماننا للتعارف الی اخرماقال واطال. ج۲/ص ۷۲۲/ او دیته خو مذاکره د طلاق هم ده چه هغه کې په لفظ بریة خلیة سره بی دنیت نه واقع کیږی او دالفظ دهغی هم معنی دی کمافی شباک فی ردالمحتار ج۲/ص ۷۲۵/ او چونکه دبینونة غلیظة څه دلیل نشته پدی وجه بینونة خفیفه ثابتیږی چه هغی کې ددواړو نکاح تازه کول بغیرد حلالی نه جائزدی. دی صورت کې بغیرد نکاح تازه کولو نه ددواړو یو ځای کیدل حرام دی خو بغیرد حلالی نه نکاح تازه کړی ۱۲ربیع الثانی/ ۱۳۲۲ھ (تتمہ ثانیہ/ص ۱۳۳)

حکم تعلیل طلاق مغائر تعلیق ان

سوال: (۵۳۸) یوی ورځی واقعه ده چه ما د ضرورت له امله دخپل کورو الا نه څه اوغوختل او تردی پوری وشول چه ما په غصه کې داوګنړل چه که اوس ضرورت پوره نه شونولوی نقصان به وشی ما خپل کوروالوته دری خله ووئیل چه که ته دا کارنه کوی نو څه ما طلاق درکړو بیا کوروالو ماته دروپوځه بندوبست وکړو رائی کړی که چرته تاسو دامسئله حل کړی او جواب راکړی نو خاص په دی بنده به مو مهربانی وی؟

جواب: دی صورت کې دری واړه طلاقونه واقع شول دی وخته پوری خو هغی هغه کارنه وه کړی فقوله که چرته ته داکار الخ للتعلیل لا للتعلیق. ۲۲رمضان/ ۱۳۳۲ھ (تتمہ ثانیہ/ص ۱۷۴)

معنی د حدیث حتی تذوق عسیلة او حلاله کې انزال شرط نه کیدل

سوال: (۵۳۹) خینی کتابونو کې یې چه لیکلی دی چه حلاله نفس دخول سره کیږی او انزال شرط نه دی نو حدیث عسیله به څه جواب وی عدم انزال کې خو مذوق صادق نه راځی؟

جواب: ذوق او عسیله بالتصغیر عدم اشتراط انزال د پاره موید دی چه دا مشعر دی تقلیل ته او انزال سره خو پوره سری مړیږي دا په ذوق سره تعبیر کول لری خبره ده. ۱۵ جمادی الاول ۱۳۲۹ھ (تتمه اولیٰ ص ۲)

شرط وقوع طلاق بلفظ از نکاح من بیرون است

سوال: (۵۴۰) زید سره هندی نکاح وشوه څه موده پورې هغه ده سره او سیده بیا ده یوی ښځی سره نکاح وکړه او ده دا هم اولیکل که چرته دوو میاشتو پورې می هم خرج ورنه کړو نو هنده زما د نکاح نه بهر ده. اوس تقریباً نهه میاشتی تیری شوی تر اوسه پورې یې دیوی میاشتی خرج هم نه دی ورکړی آیا هنده د زید د نکاح نه بهر شوه یا نه. او دی وخت کې ښځی ته اته حیضه راغلي دی؟

جواب: هر کله چه ده دوه میاشتی خرچه ورنکړه هغه مطلقه شوه او چونکه ده غی نه پس رجوع هم نه ده شوی او دیته دری حیضه بلکه ډیر راغلي دی نو عدت هم تیر شوی دی پدی وجه دیته دویمه نکاح جائز ده. لما فی الدرالمختار لست لک بزوج اولست لی بامراۃ اوقالت لہ لست لی بزوج فقال صدقت ان نواہ وفی ردالمحتار قولہ طلاق ان نواہ لان الجملۃ تصلح لانشاء الطلاق کما تصلح لانکارہ فیتعین الاول بالنیۃ الی قولہ واشار بقولہ طلاق الی ان الواقع بہذہ الکنایۃ رجعی کذا فی البحر من الکنایات ج۲ / ص ۷۴۴ قلت ولما قامت القرینۃ ههنا علی کون الکلام للانشاء کما یدل علیہ التعلیق تعین کونہ انشاء فیقع بلانیۃ. البته که د عدت په منځ کې خاوند رجوع کړی وی نو دوباره سوال کول پکار دی. ۲۵ محرم الحرام ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۹)

حکم اقتصار تخییر طلاق بر مجلس

سوال: (۵۴۱) ما زړه کې یو خیال راغی چه هغه عرض کوم هغه دا دی که د خاوند مقصود (چه که ته غواړی نو واخله طلاق طلاق طلاق) وئیلو نه تعلیق نه وی تعلیل وی نو بیا خو طلاق وشو خو که چرته تعلیق مقصود وی نو دی صورت کې طلاق واقع نه شو هر کله چه ښځی نه غوختل خو که اوس ښځه غواړی او په خپله ژبه ووائی چه زه غواړم نو طلاق واقع کیږی یا نه څکه چه د تعلیق مقصد کیدو په صورت کې د طلاق نه کیدو وجه ښځی نه غوختل او اوس ښځه غواړی او اوس عدت تیر یدو نه وروستو دی بله نکاح کول جائز دی یا نه؟

جواب: فی ردالمحتار ان التعلیق بالمشیۃ یقتصر علی المجلس لکونہ تخییراً حتیٰ لو قامت وقالت احبک لاتطلق الخ ج۲ / ص ۸۲۸ / دی روایت نه معلومه شوه چه اوس وئیلو سره طلاق نه واقع کیږی څکه چه مجلس ختم شویدی. ۱۳ ربیع الثانی / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۲۹)

توقف ثبوت اقرار طلاق بر حجت

سوال: (۵۴۲) دبرنی سوال سره متعلق خاوند صرف خپلی چاچی ته وئیلی وی چه اگرچه مانه دا غلطی شویده خو زه بیا نکاح کولو ته تیار یم زما نکاح وکړی نو دی خبرو سره به اقرار د طلاق ورکولو گڼرلی کیږی یا نه؟

جواب: دی شکې جملی سره خو اقرار د طلاق نه شی گڼرلی کیدی خو چاچی ته چه یې وئیلی دی دا اقرار دی خو دا معلومول پکار دی چه دیو طلاق اقرار یې کړیدی یا د دریو. دویم دا چه اقرار ثبوت به په حجت سره وی. ۱۳ ربیع الثانی / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۲۹)

عدم وقوع طلاق به گفتن این لفظ داسی وگڼری په حالت د مذاکره د طلاق

سوال: (۵۴۳) د خادمی د لور نکاح اوه کاله وشوله چه فضل حسین سره شوی وه دا دی هلک کردار او گفتار مخکې ډیر ښه وه. اوس خلور پنځو کالو نه د شرابو په نشه کې ډیرو هلو سره پیش راځی او ډیربی اندازی وهل کوی اخر خلقو ورته او وئیل چه ته د و مره وهل کوی که ستا سو موافق نه وی نو دی طلاق ورکړه هغه و وئیل چه تاسو داسی وگڼری لهذا د دوو کالو نه زما په کور کې ده داسی صورت کې نکاح باطل شوه یا نه طلاق واقع شو یا نه؟

جواب: فی العالمگیریۃ امراۃ قالت لزوجها مرا طلاق ده فقال الزوج داده گیر دکرده او قال داده یادو کرده یاد اونوی یقع ویکون رجعیا وان لم ینو لایقع وفیها ولو قال داده انگار او کرده انگار لایقع وان نوی، ج۲ / ص ۷۲ / او دالفظ چه تاسو داسی وگڼری ترجمه د داوه انگار معلومیږي په دی وجه سره طلاق واقع نه شو. ۹ ذی قعده / ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه / ص ۱۲۰)

حکم زن مطلقه ثلثه ناقابل وطی

سوال:(۵۴۴)یوزنانه په داسی صورت کښ ده چه صرف وروکښ اودس ماتی کولی شی اوهغی خاوندی سره وطی نه شی کولی اوهغی ته حیض هم نه راځی اوس په دی حالت باندی هغی ته خاونددری طلاقه ورکړل بیاهغی خاوندهغی لره دوباره راوستل غواړی اوس په څه صورت باندی راوستی شی حلاله به کوی یانه که حلاله کول وی نوځنګه به کوی عدت شته یانشته حلالی دپاره دخول پکاردی اوس دخول نه شی کیدی دمحل دتنګی دوجه نه؟

جواب: فی الدرالمختاراحکام الخلوة الصحیحة والخلوة بلامانع حسی وطبعی شرعی ومن الحسی رتق بفتحتین التلاحم وقرن بالسکون عظیم وعقل بفتحتین غدة الخ. وفی ردالمحتارالقرن فی الفرج مانع یمنع من سلوک الذکرفیه اماغدة غلیظة اولحم اوعظم الخ . فی الدرالمختاربعدالعبارة المذکورة کالوطاء الیٰ قوله فی ثبوت النسب والیٰ قوله وکذافی وقوع طلاق بائن اخرعلی المختارلاتکون کالوطا فی حق بقیة الاحکام کالغسل والاحصان وحرمة البنات وحلهاللاول والرجعة فی ردالمحتارقوله وحلهاللاول ای لاتحل مطلقة الثلاث للزوج الاول بمجردخلوة الثانی بل لابدمن وطئه لحدیث العسیلة وفی الدرالمختارباب الرجعة والشرط (ای للحل الاول) التیقن بوقوع الوطاء فی المحل المتیقن وفیه وکانه ای مافی القنیة من قوله والا یلاج فی محل البکارة یحلها ضعیف الخ وفی ردالمحتارمن البحرانه لواتی امراة وهی عذراء لا غسل علیه مالم ینزل لان العذرة مانعة من مواراة الحشفة الخ . ای ولایحلها الاالوطاء الموجب للغسل ط؛ ددی برنی روایت نه داامورمعلوم شول (۱) داسی ښځی سره خلوت صحیحه نه کیږی للمانع. (۲) بس داد غیر موطوۀ په شان ده په دی وجه که دیته یې دری طلاقه په یوجملی سره ورکړل یعنی داسی ووئیل چه په تاباندی دری طلاقه نودری واړه طلاقه واقع شول اوکه جداجدا طلاق یې ورکړو نویوطلاق واقع شو (۳) هرکله چه یوطلاق دی نودوړومبی خاوندنکاح کافی ده حلالی ته ضرورت نشته (۴) اوکه دری واړه واقع وی نوحلاله واجب ده اوحلاله ممکن نه ده پدی وجه دوړومبی خاوند سره دنکاح څه صورت نشته (تتمه خامسه /ص۴۷)

نه بودن ارتداددرحکم طلاق

سوال:(۵۴۵)که چرته زیدخپلی ښځی ته طلاق رجعی یوبل پسی دوه ځله ورکړی وی اود هغی دښځی دژبی نه کلمه دکفرجاری شوی وی اوبیاهغی په دغه وخت ایمان تازه کړونودهغی نکاح کیږی یادمرتدکیدوپه وجه داطلاق مغلظ حکم حاصلوی اوداوینا چه خدای ﷻ په څه مصیبت کښ واچولم مثلاً دقحط دتنګی دوجه نه یې ووئیل نودا موجب دارتداددی یانه؟

جواب: دی صورت کښ دامرتدکیدل په حکم دطلاق مغلظه کښ نه دی فقهاؤتصریح کړیده (کمافی الدرالمختارکتاب الطلاق فخرج فی الفسوق کخیارعتق وبلوغ وردة فانه فسخ لاطلاق وفیه باب الولی فسخ لاینقص عددالطلاق) چه آرتدادفسخ دي طلاق نه دی دایمان تازه کولو نه وروستونکاح تازه کول جائزدی دحلالی ضرورت نشته اوداکلمه چه خدای ﷻ الخ زما په نزدبی هوده کلمه ضروردہ خوموجب دارتدادنه ده مقصوددجانب په حق کښ ګستاخی نه ده بلکه صرف اظهاردتنګی دی اوچونکه خالق دټولواحوالوحق تعالی نه دی په دی وجه یې هغه طرفته نسبت وکړو ۲۲رمضان/ ۱۳۳۷ه (تتمه خامسه ص۹۲)

تحقیق نه بودن خلوت صحیحه هم درحکم وطی درباره تحلیل

سوال:(۵۴۶)ایادحلالی په صورت کښ خلوت صحیحه هم دجوازدپاره کافی کیږی یعنی خلوت صحیحه کښ څه مانع دښځ طرفنه نه وه سړی ته دوطی کولورغبت پیدانه شوپه دی وجه وطی اونه شوه نوآیاداسی خلوت صحیحه نه وروستوهغه ښځه خپل دوړومبی خاوند سره نکاح کولی شی؟

جواب: لاتکون (ای الخلوة الصحیحة) کالوطاء فی حق بقیة الاحکام کالغسل والاحصان وحرمة البنات وحلهاللاول الخ . قوله وحلهاللاول ای لاتحل مطلقة الثلث للزوج الاول بمجردخلوة الثانی بل لابدمن وطئه لحدیث العسیلة درمختارج۲/ص۵۲۱ دی روایت نه ثابته شوه چه صرف خلوة صحیحه حلالی دپاره کافی نه دی ۷صفر/۱۳۴۰ه

(تتمه خامسه /ص۲۱۲)

حکم طلاق مُکره که بوقت طلاق نیت تقلیدامام شافعی کند

سوال:(۵۴۷)مُکره سړی طلاق ورکولو په وخت کې نیت داسې وکړي چه زه طلاق دورکولو کې اتباع اوتقلید دمذهب شافعي کوم اودطلاق الفاظ یې دهلاکت دویرې نه صرف په ژبه ووئیل نوسره ددې نه چه مکره سړی منفي دی ددې دانیت معتبردی اوطلاق واقع شویانه صرف دکتاب حواله اودعبارت نقل پکاردی؟

جواب: وړومبی خودیکې کلام دی چه دبل مذهب دتقلید کولو شرطونه دلته متحقق دی یانه اوقطعي نظرددې نه ده ته دخپل التزام دپریخودلو اختیارشته خودبل چاپه التزام کې دتصرف کولو هیڅ حق نشته یعني په ښځه باندې دده دافعل څه رنګ حجت جوړیږي په دې وجه ده ته داسې طلاق نه وروستو دسړي تمکین په خپل نفس باندې جائزنه دی

۲۵رمضان المبارک /صـ ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه /صـ ۳۱۰)

سوال:(۵۴۸)[1]مُکره سړی طلاق ورکولو په وخت کې نیت داسې وکړي چه زه طلاق دورکولو کې اتباع اوتقلید دمذهب شافعي کوم اودطلاق الفاظ یې دهلاکت دویرې نه صرف په ژبه ووئیل نوسره ددې نه چه مکره سړی منفي دی ددې دانیت معتبردی اوطلاق واقع شویانه صرف دکتاب حواله اودعبارت نقل پکاردی؟

جواب: وړومبی خودیکې کلام دی چه دبل مذهب دتقلید کولو شرطونه دلته متحقق دی یانه اوقطعي نظرددې نه ده ته دخپل التزام دپریخودلو اختیارشته خودبل چاپه التزام کې دتصرف کولو هیڅ حق نشته یعني په ښځه باندې دده دافعل څه رنګ حجت جوړیږي په دې وجه ده ته داسې طلاق نه وروستو دسړي تمکین په خپل نفس باندې جائزنه دی

۲۵رمضان المبارک /صـ ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه /صـ ۳۱۰)

حکم این الفاظ (ماراده کړیده چه دابه هرګزځان سره

نه ساتم زمادویمه نکاح وکړه اوتعلق ددې ختم کړی)

سوال:(۵۴۹)براه کرم دې الفاظوسره څه ثابتیږي ډیره شکریه به وي ولیکې اودالله دپاره ډیرزرجواب دډاک په ذریعه راولیږی ددې پاره چه اطمینان راشي (ماراده کړیده چه دابه

[1] نوټ: سوال نمبر ۵۴۲، ۵۴۷ بعینه یوشان دي مونږ هم هغه شان نقل کړیدي (فانی عفی عنه)

هرګزځان سره نه ساتم چونکه زمامورتاسره ده هغې ته ووائی چه هغه ماته بله نکاح وکړی که چرته کنده ښځه وی نومناسب ده مابجنورسره خپل تعلق ختم کړیدی) بجنورنه دده مقصد خپله ښځه ده ځکه چه بجنورکې دده دښځې نه علاوه بل څوک نشته؟

جواب: ښکاره خبره ده چه ددې صریح مدلول خودانه دی چه منکوحې سره یې تعلق ختم کړی ځکه چه ممکن ده چه بجنورته لاړنشي رااوغواړي یاښځه په خپله راشي نظیره مافي الدر المختارباب الایلاء اوقال وهوبالبصرة والله لاادخل مكة وهي بها لايكون موليالانه يمكنه ان يخرجهامنها فيطاها. البته احتمال دادی چه وئیل داوی لکه څنګه چه دې صیغې متعلق شامی کې په ط سره نقل شویدی وقدیجاب بانه من کنایة فلایکون مولیا به الابالنیة. نواول خودامنقول نه دی صرف یوبحث دی دویم ښکاره ده چه دالیکل نه حالت مذاکره دطلاق کې دی اګرچه په مذاکرې دتازه نکاح کې دی اومذاکره دتازه نکاح مستلزم مذاکره طلاق ته نه دی ځکه چه دوه منکوحې جمع کیدیشي اونه په حالت دغضب کې دی بلکه په حالت درضاکې دی چه دی په هغې کې په تولوقسمونودکنائي کې نیت شرط دی نوایادطلاق دنیت اقرارکوی البته دنیت نه دانکارپه حالت کې دهغې نه قسم اخستی شي وفی الدالمختارباب الكنايات ففی حالة الرضى ای غیرالغضب والمذاکرة تتوقف الاقسام الثلثة تاثیراً علی نیة الاحتمال والقول له بیمینه فی عدم النیة ویکفی تحلیفهافی منزله فان ابی دفعه للحکاکم فان لکل فرق بینهمامجتبی اوکه مذاکره دطلاق باندې داجمله دال کړي اواووائی چه دابه دځان سره نه ساتم نوپه دیکې دې کلاسره سره بقاء دنکاح نه ممکن دی چه دنفرت دوجه نه یې ځان سره نه ساتي. ۷شوال/ ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه /صـ ۳۱۱)

ازترجیح الراجح جلدخامس صـ ۱۹

(۱) جنتی کالی څلورمه حصه باب طلاق صـ ۳۳۰ مثال طلاق بائن داده اند (ماته پریخودی) این صحیح نیست که بائن لفظ طلاق رجعی می شودکه صریح لفظ لغت هندیه ایت وصریح هرلغت معتبراست صریحه مالم یستعمل الافیه ولوبالفارسیة ۱۲ درمختار صـ ۷۰۴ / لایماآن جناب مدظله درامدادالفتاوی جلددویم صـ ۲۲/ تسلیم فرمودندی (لکه یوسړی ووائی چه ماته جداکړی اوبیله می کړی داوئیل ستاپه خای ده الخ داوئیل ستاپه خای چه ددې لفظ غالب استعمال عرفاً په طلاق کې کیږي جناب مولوی شاه احمدعلی

صاحب چه دجنتی کالی دورومینو حصومؤلف دی غالبه داده چه دوی ددی لفظ استعال مخصوص په طلاق سره نه دی گڼرلی په دی وجه یې کنایه کښې داخل کړیدی او داسی گڼرل خبره نه ده چه دا استعمال محل دسوچ کولو ضرور دی

الفاظ (ماپه یوځل پریخوده)

سوال:(۵۵۰) زید خپلی ښځی ته دګواهانو په وړاندی دوه طلاقه ورکړل دویمه ټقه سړی ته لاروی وئیل چه ماخپلی ښځی ته طلاق ورکړوهغه تپوس وکړوتاڅومره طلاقه ورکړل زید په دی لفظ سره جواب ورکړو چه ماپه یوځل پریخودی ده (یعنی ټول طلاقونه می ورکړل) او خاوند هم اقرار کوی چه ماخپلی ښځی ته طلاقونه ورکړیدی اوس دی صورت کښې دی ښځی ته څو طلاقونه واقع شول بینوابالنقل والبرهان توجروامن الله؟

جواب: که زید صرف دالفظون وئیلی دی چه په یوځل می پریخوده او دا تفسیر یعنی ټول طلاقونه می ورکړل سائل دخپل طرفنه کړیدی بیاخو حکم دزید وئیلی شوؤ الفاظو سره متعلق دی چه دهغی تحقیق دادی چه یوځل پریخودو مطلب په سوچ کولو سره دامعلومیږی چه علاقه دنکاح یې بالکل کټ کړیده درجوع کولو گنجائش یې نه دی لرلی نودی صورت کښې داحاصل دترجمی شو دلفظ البتة چه دیکښې طلاق بائن واقع کیږی فی الدر المختار ویقع بقوله انت طالق بائن اولبتة الی قوله واحداة بائنة ج۲/ صـ ۷۳۷-۷۳۸/ البته که هغه بیان وکړی چه زمامراد ددی نه بینونة غلیظة یعنی دری طلاقه دی نودری واقع شول کما بعد العبارة المذکورة ان لم ینوثلاثاً فی الحرة وثنتین فی الامة فتصح الخ نودری حاصل داشو چه نه درجوع کولو گنجائش پاتی شو اونه بغیر دحلالی نه دنکاح تازه کولو او که چرته ټول طلاقونه می ورکړل پخپله دزید په الفاظو کښې نودالفظ په خپله ددری طلاقونو فائده ورکوی ولی ردالمحتار عن مختارات النوازل فی قوله کل الطلاق انه یقع ثلاث وعن الذخیرة فی قوله انت طالق الطلاق کله ثلاث ثم قال ولافرق یظهربین کل الطلاق والطلاق کله تامل. ج۲/ صـ ۷۴۷/ او ددی نه مخکښې یې چه کوم دوه طلاقه ورکړیدی که هغه په داسی لفظ سره وه چه احتمال دبینونت یې لرلونو دا هغې تفسیر کیدیشی او که هغه داسی لفظ سره وه چه احتمال دبینونت یې نه لرلونو هغې ته لقرینه مقام انشاء خونه شی وئیلی کما فی

ردالمحتار اذاقال انت طالق ثم قیل له ماقلت فقال قدطلقتهاوقلت هی طالق فهی طالق واحدة لانه جواب کذافی کافی الحاکم ج۲/ صـ ۷۵۵/ کنی داسی به تشی ولیلی چه ددی وړرجعي نه مرادصریح بائن یادری طلاقه وه کمافی الدرالمختارویقع بهاالی قوله واحدة رجعیة وان نوی خلافها من البائن اواکثر ج۲/ صـ ۷۰۷/ بلکه دیته به اقرار وئیلی شی که چرته ددی محکي عنه واقع کښې موجودوی برابره خبره ده که چاته علم وی او که نه وی نوبیاخو اقرار صادق دی چه دیانة هم طلاق واقع کیږی او که ددی محکي عنه واقع کښې موجودنه دی نواقرار کاذب دی خو قضاءً دی سره وقوع دطلاق راځی فی الدرالمختار عن البزازیه والقنیة لواراد به الخبرعن الماضی کذباً لایقع دیانة ج۲/ صـ ۷۹۴/ او ښځی دقاضی په شان معامله کول پکاردی یعنی دی اقرار لره دصادق وګڼری لمافی ردالمحتار ان المراة کالقاضی لایحل ان تمکنه اذاعلمت منه ظاهره خلاف مدعاه ج۲/ صـ ۷۲۹/ ولاتشکن فی قولی داسی به نه وائی الخ لمافی الدرالمختار طلقهاواحدة بعدالدخول فجعلهاثلاثاً صح ج۲/ صـ ۷۲۹/ لامعناه انه الحق بها[1] اثنتین لانه جعل الواحدة ثلثاکذافی ردالمحتار الصفحة المذکورة او دا ټول تفصیل مدخول بها دپاره دی. ۲۱ صفر المظفر ۱۳۲۸ھ!

سوال:(۵۵۱) یوسړی خپل ښځی ته خپل مینځ کښې دجهګړی دوجه نه او وئیل چه ماته پریخودی اوخه موده پس ددواړو بیاخه اختلاف راغی نوده بیاداسی ووئیل چه زه به اوس خپله موردی کورکښې ساتم یاخپله خوربه ساتم کلمه وئیلونه وروستویې خپلی ښځی سره هیڅ قسم تعلق نه ساتلو بلکه دهغې دلاس خوراک یې هم نه خوړلو او شپږو میاشتونه زیاتی تیری شویدی اوس دواړو صلح اوشوه اونکاح تازه کولوته تیار شول نکاح لوستونکې ددی خبری معلومات وکړل دی سړی نه یې تپوس وکړو چه تاڅه کلمه وئیلی ده ده جواب ورکولو کښې دامعامله پټه کړه دهغه دمجبورولونه وروستویې ووئیل چه صاحبه ماخو چه دطلاق کوم حق وه هغه می ورکړیدی اوس دهغې نکاح تازه کیدیشی یانه. او یو سړی ښځی ته

---

[1] یعنی قوله جعلتها ثلثامعناه الحقت بهااثنتین هذا القول لان المراد بالواحدة السابقة ثلثامنه ۱۲

موریاخوروواني دهغې کفاره څه ده اوکه هغه سړی داکفاره هم ادانه کړي نو دهغې نکاح تازه کول جائزدي یانه ۰دویم خبره داچه دوه یایو طلاق ورکولونه وروستونکاح تازه کول جائزدي یانه ؟

جواب: ورومبی خل چه یې ووئیل چه پرې مې خودی داطلاق صریح اورجعي دی بیاهر چه دویم خل باندې یې ووئیل چه دابه خپله مورساتم یاخپله خور داتشبیه ده محارمو سره چه دی کې نیت نه اعتباردی خوورووستودتیوس کولوپه وخت کې دده داوئیل چه کوم دطلاق حق وی هغه مې ورکړیدی داقرینه ده چه دې لفظ نه مقصود طلاق وه نو دا طلاق بالکنایه اوبائن شو غرض داچه یو طلاق رجعي شواوبل بائن که چرته ده داسې لفظ په دریم خل نه وی وئیلی بلکه صرف دغه دوه کلمې یې دوه خله وئیلی وی نو بیاورومبی خاوند سره ددې نکاح تازه کول صحیح دی اوکه دریم خل باندې یې هم داسې څه لفظ وئیلی وی نو بغیرد حلالې نه نکاح کول صحیح نه دی والله اعلم وعلمه اتم. ۱۲ ربیع الثانی/ ۲۴ھ (امداد/ص ۲۲/ج ۲)

عدم صحت حلا له ازنکاح فاسد

سوال: (۵۵۲) څه فرمائي علماء دین په دې مسئله کې چه زید هندی ته طلاق ورکړاوهنده عدت کې دننه بکر سره نکاح وکړه بکر دری څلورورځې خان سره وساتله اوبیایې ورته طلاق ورکړاوس زید هندی سره نکاح کول غواړي وروستودعدت دنکاح دبکرنه صحیح دی یانه اوحلاله وشوه یانه اودبکرپه نکاح کې کوروالی کول شرط دی یانه ؟ **سوال ۲** عمرویوې ښځې ته طلاق ورکړاوهغه ښځه چکله کې کیناسته نو که اوس عمرو هغې سره نکاح وکړي نو جائزدی یانه ؟

جواب: عن السوالین . فی الدرالمختارباب العدة هی تربص یلزم المرأة عند زوال النکاح فلاعدة لزنااوشبهة کنکاح فاسدوفی ردالمحتارقوله فلاعدة لزنابل یجوزالمزنی بهاوان کانت حاملالکن یمنع عن الوطی حتی تضع والافیندب له الاستبراء . ج۲ ص ۹۸۲، وفی الدرالمختارلا تنکح مطلقة بهای بالثلاث حتی یطاء هاغیره بنکاح نافذخرج به الفاسدوالموقوف وفی ردالمحتاروبه علم انه کاینبغی للمصنف متابعة الکنزوغیره فی التعبیربنکاح صحیح فیخرج الفاسدوکذالموقوف الخ ج۲/ ص ۸۸۲ دی روایتونو نه څو امور ثابت شول (۱) که چرته زید هندی ته دری طلاقه ورکړی وی هغې سره حلا له واجب شویده نو دبکرنکاح سره داحلاله اونه شوه دی صورت کې دزید هندی سره نکاح کول صحیح نه دی ځکه چه نکاح فاسد سره حلا له نه کیږی اګرچه بکر کوروالی کړی

وی (۲) چکله کې دکیناستونه وروستودعمرو سره نکاح کولی شی ځکه چه زنا سره عدت نه واجبیږي اوس دتولو سوالونو جواب وشو. ۳ ربیع الاول/ ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/ ص ۱۲۹)

ته دویمه نکاح وکړه وئیلو حکم

سوال: (۵۵۳) څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرع متین په دې کې مسئله کې چه زید خپلې ښځې سره چه دهغې تقریباً پنځوکالونه زیات کیږي تعلق یې کټ کړیدی کپړوجامو خوراک اوڅکاک هیڅ واسطه ورسره نه لري بلکه خپل جائداد وغیره یې هم وقف کړیدی اوچرته ورک دی اوس اوریدلې شویدي چه دحیدرباد په طرف کې چرته دی دزید دښځې بیان دی چه زید دنان اونفقه غوختوپه صورت کې څوخله ووئیل چه مونږ سره ددې اوس څه واسطه نشته اونه مونږخوراک کیږي درکولی شو هرکله ښځې ورته دطلاق باره کې ووئیل چه طلاق راکړه دغه وخت په سختۍ سره زید ووئیل چه ته خانله دویمه نکاح وکړه مونږ په هم څانته وکړواوته خپل موراوپلار کره لاړه شه نو دې صورت کې دزید دښځې دویمه نکاح شرعاً کیدیشی یانه اوداد زید دنکاح نه اُوته یانه ؟

جواب: دښځې داوینا چه طلاق راکړه مذاکره دطلاق ده فی الدرالمختارفتفسرالمذاکرة بسؤال الطلاق وتقدیم الایقاع الی قوله المذاکرة ان تسأله هی اواجنبی الطلاق اودسړی داوینا چه ته دویمه نکاح وکړه دهغه کنایاتونه دی چه صرف دجواب احتمال لري اودجواب تفسیر ردالمحتارکې داشویدی تصلح للجواب ای اجابة سوالها الی قوله قسم لایحتمل الرد ولاالسب بل یتمحض للجواب . اوداسې قسم حکم دادی چه دمذاکره طلاق په وخت کې دنیت ضرورت نشته اومذاکره کیدل ددې ښکاره دی نو که ددې ښځې بیان صحیح وی نو طلاق بائن واقع کیږي چه په هغې کې رجوع هم جائزه نه ده اودعدت نه وروستو دویمه نکاح کولی شي خو که سړی ددې بیان دنکاح وکړو نو دښځې په ذمه ګواهان پیش کول لازم دی. ۳ ذی قعده/ ۱۳۴۹ھ (النور جمادی الثانی/ ۱۳۵۰ھ/ ص ۷)

نکاح نه پس دعویٰ خارجیدوسره نکاح نه ماتیږی

سوال :(٥٥٤) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کښ چه دهندی نکاح زیده سره وشوه خوهنده دزید سره اباده نه شوه زید ددی ښځی دنکاح دعویٰ وکړه[1] نوعدالت دقانون مطابق نکاح ثابت نه کړه دزید دنکاح دعویٰ خارج کړی شوه خودهندی دکلی بی شمیره خلق دزید دنکاح ثبوت ورکوی ایادعدالت حکم نافذیدوسره اوس هنده بل خای کښ نکاح کولی شی یادزید په نکاح کښ ده ؟

جواب : وروميی خودعدالت حاکم مسلمان کیدل شرط دی دویم دمسلمان حاکم فیصله صرف په عقداوفسخ نافذیږی اونه ثابتیدل دعقدنه عقددی نه فسخ په دی وجه دافیصله موثرنه ده دی فیصله باندی دیانةً عمل جائزنه دی . ربیع الاول/ ٥٠هـ، النور/ رمضان/ ١٣٥٠هـ/ صـ٧،

بیان دحیلی دنکاح چه دااقسم وکړی چه که کومی

ښځی سره می نکاح وکړه نوهغی ته طلاق

سوال :(٥٥٥) لاندینی مسئله کښ چه دشریعت څه حکم وی هغه اولیکئ یوسړی خپلی ښځی ته دطلاق ورکولووخت کښ وونیل تاته طلاق دی اوکه بلی ښځی سره می نکاح وکړه نوهغی ته هم طلاق دی یابی داسی وونیل چه که څلورښځه (صحیح شمار دلته یادنه دی)، هم وکړم نوهغوی ته هم طلاق دی داسی حالت کښ چه دی سړی ته یادنه دی چه دی دواړوقولونوکښ صورت په هرحال کښ راوتلی شی په دی وجه دڅه خاص قول یادولو یااختیارلوڅه ضرورت کیدیشی ؟

جواب : هرکله چه دجوازصورت په هرحال کښ راوتلی شی په دی وجه دڅه خاص قول یادولوچه دی حالت کښ دی نه په خپله نکاح کوی اونه دی څوک دنکاح وکیل جوړوی بلکه یوپوه سړی مخکښ دی داووائی چه ماداسی قسم کړیدی اوماته دنکاح حاجت دی اودهغی دجوازداصورت کیدیشی چه که یوسړی زماداجازت نه بغیرزمانکاح وکړی اوبیا ماخبرکړی اوزه اوریدلوسره دانکاح جائزاووګنړم نودانکاح صحیح شوه اوطلاق واقع نه شواودی مضمون اوریدلوسره یوسړی داسی عمل وکړي اوداسړی اوریدلوسره داجائزوګنړی نوطلاق نه واقع کیږی . ودلیل المسئلة مافی ردالمختار ونصه فی البحر عن البزازیة والتزوج فعلاً اولیٰ من

[1] پنجابی کښ دبازونه مرادښځه ده یعنی دښځی دنکاح دعویٰ یی وکړه ١٢ ازسائل

فسخ الیمن فی زماننا وینبغی ان یجعل الی عالم ویقول ماحلف واحتیاجه الی نکاح الفضولی فیزوجه العالم امرأة ویجیزبالفعل فلایحنث وکذا اذاقال لجماعة لی حاجة الی نکاح الفضولی فزوجه واحدمنهم مااذاقال لرجل اعقد لی عقدفضولی یکون توکیلا الخ (باب التعلیق من کتاب الایمان تحت قول الدرالمختار بل افتاء عدل الخ) ٢٨ رجب/ ١٣٥٠هـ، النور/ ربیع الاول/ ١٣٥١هـ/ صـ٣،

حکم تعلیق بنکاح باطل وتفصیل صورتعلیقش کنایة

سوال :(٥٥٦) یوسړی خپله نکاح په دی شرط وکړه چه که زه چرته بغیردرائی نه خپلی ښځی یاخسره کره لاړم نونکاح باطل ده یوخل داسی هم شول چه یوورځی دپاره یی خپلی ښځی اوخسره نه اجازت واخستوخپل مکان ته لاړوپنځلس ورځی پس راغی اویوخل داسی هم وشول چه خپل خسره دښځی پلارته یی وونیل چه که ستارضاوی نوزه به خپلی ښځی سره دلته پوازی اوسیږم یابه یی خپل کورته بوځم به دی باندی نه دده ښځه اونه دده خسررضاشوڅه کسانودده داخسرپوه کړوخوبیاهم رضانه شوکوم خلق دده پوهلودپاره راغلی وه هغوی وونیل چه ستاښځه ده څه رنګه چه غواړی بوځه خودبهر کیف دی سړی داخپله ښځه بغیردرضامندی دخسراودی ښځی نه په زوره بوتله اوخوورځوته هغه سړی به خپل خای کښ دی اودده خای تقریباً څلورمیله کښ دی ایادانکاح باطل شوه یانه اودنکاح په وخت کښ چه کوم شرط لیکلی شوی وه دهغی نقل دادی په نوم دفلانی خوی دفلانی دطرفنه دفلانی مونږدفلانی لور مسماة فلانی سره نکاح کړیده که دخسراودښځی درائی نه بغیرزه لاړم نونکاح به باطله وی که لاړم نومهردین دی اودخسره طرفنه دادی چه ددی نه وروستوزمونږقول اختیارمسماه فلان (یعنی دلور) ته دی اوفلانی فلانی ګواه دشرط په وخت کښ وه ؟ .

جواب : الروایة الاولیٰ فی الدرالمختارباب الصریح ومن الالفاظ المستعلمة الطلاق یلزمنی والحرام یلزمنی وعلی الطلاق وعلی الحرام فیقع بلانیة للعرف الروایة الثانیة فی ردالمختارباب الکنایات مانصه سیاتی وقوع البائن به ای بقوله حرام بلانیة فی زماننا للتعارف الی اخرماقال واطال وختمه علی قوله کونه التحق بالصریح للعرف لاینافی وقوع البائن به فان الصریح قدیقع به کطلقة شدیدة ونحوه کماان بعض الکنایات قدیقع به الرجعی مثل اعتدی واستبرئی رحمک وانت واحدة والحاصل انه لمالعروف به الطلاق صارمعناه تحریم الزوجة وتحریمهالایکون الابالبائن . الروایة

الثالثة فی الدرالمختار التعلیق شرطه الملک کقوله لمنکوحة اومعتدته ان ذهبت فانت طالق والاضافة الیه کان نکحت امراة اوان نکحتک فانت طالق کماتصاایقاعه الطلاق مقارنا لثبوت ملک کانت طالق مع نکاحک الخ. نوشرط نامه کې چه کوم لفظ باطل لیکلی شوی وه عرف کې ددی نه طلاق مفهوم کیږی په دی وجه دا صیغه د طلاق شوه دلت علیه الروایة الاولی او طلاق کې هم د بائن فائده ورکوی دلت علیه الروایة الثانیة خو چونکه دا طلاق معلق دی غیر نکاح سره او دی صورت کې د نکاح نه وروستو تعلیق موثر کیدیشی دلت علیه الثالثه او کاغذ لیکل یا دهغی حواله کول په منزله د تکلم بالطلاق دی په دی وجه کتل پکاردی چه کاغذ کله اولیکلی شو او کله ورکړ شو که د نکاح نه وروستو لیکلی شویدی نو حکم دادی چه بغیر د اجازت نه تلو سره طلاق بائن واقع کیږی او که لیکلی شوی وی د نکاح نه مخکې یې ورکړی وی نو دهغی څه اثر نه کیږی او هرګز طلاق نه واقع کیږی او که چرته لفظ قبول سره یې ورکړی وی اګرچه عادتاً داسی کیدل لری دی بیا هم طلاق نه دی واقع شوی روایة الثالثه پدی هم دال دی خلاصه د جواب دادی چه که چرته دا کاغذ نکاح وروستو لیکلی شوی وی یا د نکاح نه وروستو یې ورکړی وی نو بیا خو طلاق بائن واقع شو او که د نکاح نه مخکې یې ورکړی وی یا قبول سره یې ورکړی وی نو طلاق نه واقع کیږی فقط. والله اعلم و علمه اتمه واحکم. ۲۰ ذی الحجه / ۱۳۲۳ھ (امداد ص ۲۹ / ج ۲)

طلاق او نکاح رجسټری کولو حکم

سوال: (۵۵۷) ننه صبا اهل الرائی د نکاح او طلاق رجسټری کولو د استحسان یا د ضرورت رائی ورکوی د شرعی قاعدو موافق ددی څه حکم دی؟

جواب: وروسبی د رجسټری کید و حقیقت پیژندل پکاردی بیا به قاعدو سره دهغی حکمونه په خپله ښکاره شی پس دهغی حقیقت دادی چه دا یو لیکلی شوی شهادت دی د حاکم یا د رجسټرار چه زما په وړاندی فلانی صاحب معامله د فلانی معاملی اقرار و کړو دی حقیقت معلومید و سره به تاته معلوم شوی وی چه ددی تعلق د فقهی د دوو بابونو سره دی یو باب دا هم ده چه لیکلی شوی شهادت که چرته یادوی یا خپل لیکل و ګوری او یاد شی چه فلانی واقعه زما په لید و کې راغلیده بیا خو شهادت ورکول جائز دی کنی نه دی نو ددی بنیاد مقتضاء داده چه صرف رجسټری کاغذونو کتلو سره فیصله کول جائز نه دی بلکه ضرورت ددی دی چه

رجسټرار ته خپل د سخط کتلو سره واقعه یاده شی چه واقعی فلانی سړی زما په مخکې اقرار کړی وه نو بیا دده شهادت جائز شهادت دی کنی نه دی. نمبر (۲) یو جزئی ددی باب دادی چه شهادت کې نصاب شرط دی یعنی نکاح او طلاق کې که چرته دوو سړو یا یو سړی او دوو ښځو ګواهی ورکړه نو ددی شهادت باندی به عمل کولی شی کنی نه شی کیدی. ددی مقتضاء داده چه صرف د رجسټری کوونکې شهادت کافی نه دی څو پوری چه نصاب د شهادت مکمل نه وی. نمبر (۳) یو جزئی داده چه لیکلی شوی او نه لیکلی شوی شهادتونه برابر دی ددی مقتضی داده چه که یو معامله کې مثلاً نکاح کې دوه کسه دعوی کوونکې وی خو یو نکاح کې د رجسټرار شهادت وی او بل کې د غیر رجسټرار شهادت وی شرعاً دواړه شهادتونه به برابر وی او دیکې به هغه قانون جاری کیږی چه کوم د شهادتینو په تعارض کې کیږی د رجسټرار شهادت ته به ترجیح نه شی ورکولی کیدی. نمبر (۴) یو جزئی داده چه شهادت د پاره په ګواه کې چه کوم خاص شرطونه معتبر دی هغه شرطونه په رجسټرار کې هم ضروری دی نمبر (۵) یو جزئی داده چه شهادت کې صرف لیکل د ګواه معتبر نه دی ددی مقتضی داده چه صرف د رجسټرار د حاکم رائی ورکوونکې مخامخ کیدل کافی نه دی څو پوری چه رجسټرار په عدالت کې حاضر نه شی او په خپله ژبه ګواهی ورنکړی. نمبر (۶) یو جزئی داده که ګواه په خپله حاکم وی نو دهغه شهادت کالعدم دی ددی مقتضی داده چه که رجسټرار په خپله رائی ورکوونکې دی نو دده رجسټری یعنی لیکلی شوی شهادت اګرچه هغه ته په کتلو سره واقعه را یاده شی خو دده علم د قاضی نه زیاته درجه نه لری یعنی ددی نصاب شهادت یو جزء هم نه شی جوړیدی یعنی دی شهادت نه علاوه د نور مستقل نصاب د شهادت ته هم ضرورت دی. نمبر (۷) یو جزئی داده چه رجسټری باندی چه د کوم ګواهانو شهادت دی صرف د هغه شهادت هم لیکل کافی نه دی هغوی به هم عدالت نه حاضریږی او ګواهی به ورکوی هر کله چه حاکم غیر رجسټرار وی البته که رجسټرار په خپله رائی ورکوونکې هم وی نو دی حالت کې د خان نه علاوه د نورو کسانو چه کوم شهادت د رجسټری په وخت کې لیکلی شوی سرکاری کاغذونو کې او موندی شی که چرته دا کاغذونه دده نګرانی او انتظام کې محفوظ وی چه هغی کې د څه دهو کې احتمال نه وی هغی ته و ګوری نو حکم ورکولی شی اګرچه واقعی ددی شهادت پاره هم نه وی خو په دی شرط چه بل شهادت دی شهادت سره معارض هم نه وی او دا صرف د صاحبینو قول دی او په ضرورت ک دی باندی عمل جائز دی

اوورومبی صورت کښې چه حاکم جداوی اورجسترارجد. که چرته اصل ګواهان عدالت ته حاضرهم نه شي اورجسترار شهادت ورکړي چه دی ګوهانوزماپه وړاندې داشهادت لیکلی دی بیاهم معتبرنه دی داهغه جزئیات کثیرالوقع دی چه ددی تعلق باب الشهادت سره دی هغه جزئیات پاتی شول چه دهغی تعلق باب الاقرارسره دی په هغه کښې. نمبر(۸) یوجزئی داده چه اقرارپه خپله داقرارکوونکي په نفس باندی حجت دی غیراقرارکوونکي باندې حجت نه دی ددی مقتضی نه دی ددی مقتضی داده چه رجسټری په وخت کښې چه چااقرارکړیدی هغه ددی نه خلاف ووائی نه هغه به نه شي منلی کیدی. نمبر(۹) یوجزئی داده چه اقراردصاحب معاملی معتبردی دغیرصاحب معاملی مغتبرنه دی ددی مقتضاء داده چه که رجسټری غیرصاحب معامله بیان لیکلی شویدی نودهغی اثرپه صاحب معامله باندی نه کیږی ددوارو جزئی مثال دادی چه یونکاح اوشوه اودمنکوحی پلارخپل بیان اولیکلو چه مادخپلی لوړنکاح فلانی سړی سره وکړه که دغه جینۍ بالغه وی نواقرارپه دی جینۍ باندی حجت نه ګرځی خوپورې چه دی تسلیم کړی نه وی اودانکاح زماپه اجازت سره وشوه اوکه هغه انکاروکړی نواجازت نه دمستقل شهادت ضرورت دی اوکه هغه جینۍ نابالغه وی اوداختلاف په وخت کښې بالغه وی نوکه منکوحی دنکاح په وخت کښې خپل نابالغ والی تسلیم کړی نودپلارهغه اقرارمعتبردی اوکه هغه دغه وخت کښې خپل نابالغ والی تسلیم نه کړی نوبیادی په نابالغ والی باندی مستقل شهادت قائمول ضروری د دغه شان که چرته سړی دنکاح نه انکاروکړی نودمنکوحی یادهغی دولی په هغه حجت نه ګرځی یاکه چرته سړی دعوی وکړی اوښځه انکاروکړی نودسړی اقرارپه ښځه باندی حجت نه ګرځی. نمبر(۱۰) یوجزئی داده چه کومه صرف معامله دطرفینوپه رضاباندی موقوف ده په دی کښې دجابینواقرارشرط دی ددی مقتضاداده چه نکاح کښې صرف دیوپه بیان باندی معاملی دټولواجزاء دجسټری ناجائزده البته چه کومه معامله کښې په خپله اقرارکوونکي مستقل وی لکه طلاق پدیکښې صرف دخاوندبیان رجسټری دپاره کافی دی دغه شان دمهرپه مقدارکه صرف دخاوندبیان یادهغی دنابالغوالی په صورت کښې دهغی دولی بیان دزیاتوالی دنفی دپاره یوازې کافی دی. نمبر(۱۱) یوجزئی داده چه اقرارکوونکي که دپردی نه اخواقراروکړی دی اقرارباندی شهادت جائزنه دی ددی مقتضا داده چه صرف دمنکوحی په بیان باندی رجسټری جائزنه ده خوپورې چه معتبر پیژندونکي دا ونه وائی چه دی وخت کښې

خبری کوونکي فلانی ښځه ده اوموږدهغی دخبروپه وخت کښې هغه وینوداداره دباب داسی جزئیات دی چه کثیرالوقوع دی اوددی نه علاوه نورهم ددی بابونوضروری جزئیات شته چه په هغی باندی احاطه رجسترار ډیره ضروری ده اوچه کومه رجسټری ددی جزئیات رعایت سره وکړیشی نوهغه خوموافق دشرعی ده کنی خلاف شریعت به وی نوکه چرته درجسټری په قانون کښې دجزئیاتو کثیر الوقوع تصریح وی اودنوروجزئیاتودرعایت داصورتی اختیارکړی شی چه رجسترار دپاره عالم سره دعمل نه کیدل شرط دی خکه چه ماسیوادلوی عالم نه ددی جزئیاتولحاظ ممکن نه دی اوبغیردملاقات نه درشوت احتمال نه شی کټ کیدی چه دهغی انتخاب هم دعالمانوپه رائی سره وی عواموته په دی انتخاب کښې هرګزدخل نه وی بیاخوداقانون شرعاً جائزدی کنی ناجائزدی اودجائزکیدوپه صورت کښې فائده هم دومره ده چه واقعه باقاعده محفوظ کیدوسره دبدترینومکاروخلقوهمت غلط دعوطرفته قطرتاً نه ځی اوکیدوباندی هم بعضی صورتونوکښې په خپله درجسټری په بنیادباندی فیصله هم جائزه ده لکه څنګه چه بره دبعضوصورتونوپه تصریح کښې راغلل. ربیع الاول/ ۱۳۴۵ھ (تتمه خامسه/ص ۴۴۱)

که یوسړی ووائی چه که زه فلانی اوفلانی کورته لاړم نوزمامدخوله ښځی ته دی طلاق وی ددی څه حکم دی

سوال: (۵۵۸) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کښې چه یوسړی په دی الفاظوسره دطلاق معلق کړوچه نن نه که زه دهغی کورته دننه لاړم اودزیدپه کورکښې اودعمروپه کورکښې اوبکرطرفته په احاطه کښې اودخالدپه کورکښې که ماقدم کیخودونوزما مدخول بهاښځی ته طلاق دی ددی صورت متعلق داسوالونه دی (۱) داټول کسان چه کوم ذکرشول ددوی په کورکښې دداخلیدونه پس طلاق واقع کیږی یادیوپه کورکښې داخلیدو سره طلاق واقع کیږی. (۲) که دادویم صورت وی نوایادهریوپه مکان کښې داخلیدوسره طلاق واقع کیږی یاصرف یو کښې. (۳) طلاق رجعی به وی که بائن ک. دویم صورت وی نوڅه حیله شرعی بیان کړی بینواتوجروا؟

جواب: السلام علیکم! ماته فرصت ډیرکم ملاویږی دمدرسی مفتی په سفرکښې دی په دی وجه مادهدایه شامی اوعالمګیری نه علاوه بل کتاب اونه کتی شوخوهغی کښې څه جزئیه داسی ملاؤنه شوه احتیاطاً ماداصولوپه کتابونوکښې دنورالانواراوتوضیح اوتلویح کښې دصرف

Maktaba Tul Ishaat.com

معافي په بحث کې وکتل نو تلویح کې تصریح ده. اذاحلف لایکلم هذا وهذا فهو لنفي المجموع (بحث کون او بمعنی الواو تحت قول التوضیح الاان یدل الدلیل) په دیکې تصریح ده چه مجموعه محلوف علیه په فعل سره حانث کیږي د فعل یو جزء سره نه حانث کیږي. او نور الانوار (بحث کون او بمعنی الواو) کې دیو متن دوه توجیهه یې نقل کړیدی خو ددی مدرسي یو مدرس حاشیه باندی دکشف بزدوی نه دواړو سره خبرو کولو باندی یو ځل حانث کیدل نقل کړیدی نو حاصل دمجموعی دا شوه چه دی صورت کې دیو مکان ته به داخلیدو باندی طلاق نه واقع کیږي چه کله په تولو کې داخل شی نو هغه وخت به طلاق واقع کیږي او یو طلاق به واقع کیږي او صریح او مادون الثلاث او پس دداخلیدو د وجه نه به رجعي طلاق وی والله اعلم احتیاطاً بل ځای کې هم تحقیق وکړی ۲۸ رجب/ ۱۳۵۲ھ (النور/ صـ ۸/ شوال ۱۳۵۳ھ)

ایا د طلاق اطلاع ورکول ضروری دی

سوال: (۵۵۹) زید د بدکاری په قرائنو باندی خپلی ښځی ته طلاق رجعي ورکړی وه او د رجوع کولو وخت هم تیر شوی دی آیا زید باندی ښځی ته طلاق اطلاع ورکول واجب دی یا نه؟ **سوال باقی حصه** اوس زید پیښمانه شویدی په تحقیق سره د هغه هغه شک هم ختم شویدی اوس هغه ښځی سره بیا نکاح کول غواړی خو چونکه د بدکاری په قرائنو باندی ښځی خاوند کې خفګان هم دی او دهغی شکایت محلی والو کې هم څه ښکاره شویدی پدی وجه سړی طلاق تراوسه پوری نه دی ښکاره کړی چه طلاق ښکاره کیدو سره به هغه تحقیق د بدکاری راشي او زمونږ خاندان به ښځو باندی د بدکاری دروغژن داغ ولګی چه دی سره به دخاندان بی عزتی راشي؟

جواب: ایا دا ممکن نه ده چه عام دی نه ښکاره کوی صرف ښځی ته دی ښکاره کړی. **سوال باقی حصه** اوس که چرته طلاق ښکاره شی نو ښځه یا دهغی پلار به په دوباره نکاح کولو رضانه وی؟ **جواب** ښځه اختیارمنده ده څه حیلی سره یا اکراه او زور سره نکاح تازه کول دوهوکه یا ظلم دی. **سوال باقی حصه** په دی وجه اوس که چرته د تهمت نه بچ کیدو دپاره طلاق خو ښکاره نه کړیشی صرف د ښځی او خاوند د مصلحت په وخت او خبرو اترو سره داسی الفاظ ووئیلی شی چه هغی سره نکاح منعقده شی لکه سړی ته دا ووئیلی شی چه ته اوس دا ښځه خپله ښځه کړه او اتنده دپاره یې ښه سلوک سره دا وسیدو وغیره باره کې هغه جواب کې ووائی چه آو او ښځی ته هم داسی الفاظ ووئیلی شی او هغه هم ښه وکړی نو ایا دا دوهوکه

او فریب خو نه دی او ګناه یا نکاح کې خو څه نقصان نه راځی؟ **جواب** په خپله دا الفاظ نکاح دپاره کافي نه دی کما سیاتی او که کافي هم وی بیا هم د خداع او دهوکې ګناه وه او اوس خو کافي هم نه دی ځکه چه ښځه پوهیږی هم نه چه دا نکاح کیږي او شرط دی د نکاح د صحت دپاره. کمافی رد المختار تحت قول الدر المختار ولایشترط العلم بمعنی الایجاب والقبول فیما یستوی فیه الجد والهزل الخ. مانصه لکن قید فی الدرر عدم الاشتراط الدرر عدم الاشتراط بما اذا علما ان هذا اللفظ ینعقد به النکاح ای وان لم یعلما حقیقة معناه الخ **سوال باقی حصه** شبه دا ده چه مطلقه کیدو نه پس اوس ښځی ته اختیار دی او اطلاع نه ورکولو په وجه دهغی اختیار ختمول دی او چونکه ښځه جاهله ده په مسئله نه پوهیږی او برنو لفظونو سره چه هر کله نور خبری یو ځای کړی او ورته یې ووائی او هغه ته دا پته نشته چه زه بیا د سر نه نکاح کوم نو ایا په نکاح کې څه نقصان راځی خو برنی لفظونه چه جواب ورکړی شوی تسلیم کړی یعنی چه ووائی چه آو زه دده ښځه یم ده سره او سیږم؟ **جواب** دا ټول حیله لغوه ده کما سبق ۱۹ رجب/ ۱۳۵۲ھ (النور/ صـ ۸ شعبان/ ۱۳۵۷ھ)

دیوال شانه طلاق او عتاق اوریدونکو سره شهادت ورکولو حکم

سوال: (۵۶۰) که ګواه د دیوال نه شاته یا د کور نه بهر طلاق او عتاق واوری او ګواهي ورکړی نو دا ګواهي شرعاً قبول ده یا نه فقط؟

جواب: قبوله نه ده کمافی الهدایة ولو سمع من وراء الحجاب لایجوز له ان یشهد ولو فسر للقاضی لایقبله لان النغمة یشبه النغمة فلم یحصل العلم. البته یو خاص صورت چه دهغی تحقق ډیر نادر دی ددی نه مستثنی دی چه هغی لره وروستنی عبارت کې مستثنی کړیدی الا اذا کان دخل البیت وعلم انه لیس فیه احد سواه ثم جلس علی الباب ولیس فی البیت مسلک غیره فسمع اقرار الداخل ولایراه له ان یشهد لانه حصل العلم فی هذه الصورة (ج۲ صـ۱۴۲) ددی حاصل دا دی چه مخکې نه یو کور خالی وی او یو کس ددی ګواه په وړاندی دی کور ته لاړ او ددی دروازی نه علاوه بله څه لاره هم دی کور ته نه وی او داسی حالت کې یې دننه نه څه مضمون واورید و نو هغی یقین به کولی شی چه دا هم دهغه تلونکې اواز دی نو ددی صورت کې ګواهي جائزه ده او ددی زمانی په اعتبار سره دا هم شرط دی چه دی کور کې ګراموفون هم نه وی فقط. ۳۰ ذی الحجه/ ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی/ صـ ۱۸۷)

دپلارپه حکم سره ښځې ته طلاق ورکولو حکم

سوال:(۵٦۱)که حرام نه یچ کیدو دپاره ماپه خپله خوښی نکاح کړې وایی اوهغه ښځه هم زما دیره زیاته خوښه وی خوزما پلار وائی چه تاته بل واده کوم ته دې ښځې ته طلاق ورکړه ایا زه طلاق ورکړم یانه؟

جواب: که په خپل ځان یاددې ښځې دصبرنه کولو ویره وی طلاق مه ورکوه. ۲۹ربیع الثانی ۱۳۲۸هـ (تتمه اولیٰ ص ۲۰۲)

فصل فی فسخ النکاح والخلع

حکم اشتراط قاضی برائ فسخ نکاح وشرائط فسخ نکاح

سوال:(۵٦۲)مادخپلې نابالغې لور نکاح دیوداسې سړی چه ظاهری حالت دهغه داصلاح او داسلام لیدې شو دهغه خوی سره اوکړه او اطمینان دپاره یې هرقسم شرطونه اووعدې وکړې زما لور چه کله دهغه کورته لاړه نوټول شرطونه هغوی مات کړل دهلک مور پردوسړوته راخې اوخلوت کې دبې حیائی کارونه کوی تحقیق مې وکړونو دمحلې ټول ګاونډیان مې ددې ګواهان اوموندل اوهلته داهلک دخپلې مور اوددې پردوخلقو دپیغام رسولو اودراغوختلو په مینځ کې کارکوی غرض پلار اوخامن ټول ددیوثۍ په کارکې شریک دی هرکله چه زه بنه پوره ددې خبرې نه خبردارشوم چه زما لورقاری صاحب مشهور مغفور حقیقی نمسی ده دې خپل خاوند دې پردوسړوته مخامخ کړه اوهلته دبې حیائی داپیشه دهغې نه هم کول غواړی ماهغه په کور کې کینوله زما لورقران شریف سره دترجمې نه لولی اوڅه کتابونه یې وئیلی دی اوس ستاسو کتاب اصلاح الرسوم یې شروع کړیدې هرکله چه زما هرکله چه زما لورشپږمې صفحې ته اورسیده اودریم کرخه یې اولوسته چه که دنابالغې نکاح ولی په غیرکفوه کې وکړه نوکه پلارنیکه دضروری مصلحت دوجه نه کړې وی نوصحیح ده خو په دې شرط چه ظاهراً څه امرخلاف دمصلحت نه وی کنې صحیح نه ده نوماته جرأت وشوچه تاسو په خدمت کې داعریضه اولیکم ماته زما لوردهغوی کورته لیږل اوهلته اوسیدل منظورنه دی اوهلک داوائی چه مونږ به یې دغه شان سخاکړو اوطلاق به هرګزورنکړو خلاصوی یې نه اوس زه څه وکړم که داورومبی نکاح صحیح نه وی نوددې نکاح چرته

نیک سړی سره وکړم یاڅه چل وکړم چه زما لوراوس بالغه ده هغه ددې بلا او مصیبت نه خلاصه شی او ددې نکاح چرته یونیک سړی سره وشی اوزه ګنهګاری اوڅه مواخذه کې ګرفتارنه شم؟

جواب: داصلاح الرسوم عبارت داختصار دوجه نه ډیرمجمل دی دې مسئله کې ډیراختلاف اوتفصیل دی خلاصه دهغې داده چه دیکې څوشرطونه دی وړومبی دماشومې پلار چاچه نکاح کړیده هغه دې نکاح نه مخکې دانجام نه بې خبراوبدشفقت مشهوروی هغه وخت به دې نکاح ته باطل وئیلی شی دویم داچه دباطل کیدومعنی داده چه دباطل کیدوقابل ده دریم دباطل کولوطریقه داده چه قاضی یعنی دمسلمان حاکم په اجلاس کې دامقدمه پیش شی اوهغه حکم دفسخ وکړې څلورم ددې ابطال شرط دادی چه هغه ماشومه بالغیدوسره فوراً ووائی چه زه په دې نکاح خوشحاله نه یم پنځم بعضو روایتونونه معلومیږی چه داحق دابطال هغه وخت دی چه کله دعقد په وخت کې خاوند دعوی دصالح اونیک کیدوکړې وی اوکه ددې نه چپ پاتې شوی وی اوبیادهغه حال دظاهرنه خلاف وه نودفسخ حق حاصل نه دی اوداټول شرطونه دامام صاحب مذهب موافق دی چه دده په نزد دپلارنکاح کول په غیرکفوه کې صحیح ده اوصاحبینو په نزدصحیح نه ده نودې صورت کې مسئوله کې داشرطونه ددې جمع شوی که چرته واقعی داشرطونه وی جمع شوی نودامام صاحب په نزددیکې هیڅ نه شی کیدې البته که چرته مسلمان حاکم ته دامقدمه پیش کړیشی اوهغه دیوعالم نه فتوی حاصل کړی اودصاحبینو په مذهب دې حکم وکړې یعنی په ژبه دې ووایی چه ماداننکاح فسخ کړه نونکاح به باطله شی اګرکه داحاکم چرته یوغیرمسلم بادشاه مقررکړې وی یاپه څه چل خاوندرضاکړې اودخلع یاطلاق تدبیروکړې. والدلیل علی الشرائط الخمسة المذکورة هذه العبارات فی الدرالمختارباب الولی انکاح الصغیروالصغیرة ولزوم النکاح ولوبغبن فاحش اوبغیرکفو ان کان الولی اباوجدالم یعرف منهماسوء الاختیارمجانة اوفسقاً وان عرف لایصح النکاح اتفاقاً وفی ردالمختاروالحاصل ان المانع هوکون الاب مشهوربسوء الاختیارفاذالم یکن مشهوراً بذالک ثم زوج بنته من فاسق صح اون تحقق بذلک انه سئی الاختیارالیٰ قوله ولوکان المانع مجرداً تحقق سوء الاختیاربدون الاشتهارالخ، وبعداسطرثم اعلم ان مامرعن النوازل من ان النکاح باطل معناه سیبطل کمافی الذخیرة لان المسئلة مفروضة فیمااذالم ترض البنت بعدماکبرن کماصرح به فی الخانیة والذخیرة وغیرهماوعلیه یحمل مافی القنیة الخ . وفی الدرالمختار بباب

الکفائة فی جزئیة الااذاشرطوالکفاءة اواخبرهم بهاوقت العقدفزوجهاعلی ذالک ثم ظهران غیرکفوکان لهم الخیاروفیه فاخیار الفسخ بالبلوغ الی قوله فیشترط القضاء الخ . وفیه وبطل خیارالبکر للسکوت ولایمتدالی اخرالمجلس الخ قلت ومافی البزازیة زوج بنته من الرجل ظنه مصلحاً ان لم یکن ابوهایشرب المسکرولاعرف به وغلبة اهل بیتهامصلحون فالنکاح باطل اتفاقاً الخ . یحمل فیه قوله ظنه مصلحاعلی اخبارالزوج بانه مصلح بناء علی مامرمن قول الدرالمختارالااذاشرط الکفاءة الخ . ویحمل الاب الصغیرة من غیرکفواوبغبن فاحش جائزعنده لاعندهماالخ. واللہ اعلم ۲صفر ۱۳۲۱ھ (امداد ص۱۷ ج۲)

سوال :(۵۶۳) دهندی نابالغی نکاح دداسی ولی په ولایت سره وشوه چه دهغی فسخ کولو اختیاردبالغیدونه وروستوهندی ته حاصل دی خودفسخی نافذولودپاره چونکه قاضی ته مقدمه وړل شرط دی اوننن صباپه هندوستان کښې حکومت دکافرانودی هیڅ یوقاضی داسلام مقررنه دی چه دټولوقصاصونوحدودووغیره شرعیه نفاذوکړی . چرته خو(۱) کافران په خپله دمسلمانانوپه مینځ کښې داختلافاتوفیصلی کوی اوچرته (۲) دکافرانوطرفنه یومسلمان حاکم دی چه په خپل مینځ کښې داختلافاتوفیصلی کوی اوبعضی ځایونو(۳) کښې دهغوی دطرفنه عالم مقرردی چه دمسلمانانوپه مینځ کښې دبعضی اختلافاتوفیصلی دشریعت موافق وکړی اوچرته (۴) هیڅ څوک مقررنه دی بلکه هلته مسلمان یوعالم لره دخپلو امورو حاکم جوړوی ایاورومبی صورت کښې که چرته فسخ دنکاح وشوه نوهغه فسخ شرعاً معتبره ده یانه اوددویم دریم اوڅلورم صورت څه حکم دی ایادهغه خلقوفیصله نکاح فسخ کولوکښې چه دشریعت موافق شوی وی معتبرده یانه اودی ټولوصورتونوکښې یوحکم دی یاڅه تفیصل شته اوکه قاضی داسلام نه وی دهغی دوجه نه هندی ته په خپله دفسخ اختیارشته یانه بل پدی وخت کښې ټولواموروکښې چه کوم دقاضی فیصلی ته سپارلی شویدی پیش راغی پدیکښې څه تدبیروکړیشی ؟

جواب : فی الدرالمختارفی خیارالفسخ بشرط القضاء للفسخ وفی ردالمحتاراى هذالشرط انماهوللفسخ لا لثبوت الاختیار. ج۲ / ص ۵۰۲/ وفی الدالمختارکتاب القضاء للفسخ یجوز تقلدالقضاء من السلطان العادل والجائرولوکافراً الخ . وفی الهدایة ولاتصح ولایة القاضی حتی یجتمع فی المولی شرائط الشهادة الخ . ای من العقل والبلوغ والاسلام فی الهدایة فاذاحکم رجلان

رجلا فحکم بینهما ورضیابحکمه جازلان لهما ولایة علیٰ انفسهما فصح تحکیمهاوینفذ حکمه علیهماقال العینی لاعلی غیرهما حتیٰ لوظفرالمشتری بعیب فحکم هووالبائع رجلا فردعلی البائع بحکمه لم یکن للبائع ان یرده علی بائعه الخ دی روایتونونه دااموروفائده ورکوی وړومبی صورت اولی کښې فسخ معتبرنه ده صورت ثانیه کښې معتبرده اودریمه صورت کښې که دی عالم ته حاکمانه اختیارات ورکړی شوی وی نودصورت ثانیه په شان فسخ معتبرده اوکه صرف په درجه دمفتی کښې دی نومعتبره نه دی اوڅلورم صورت کښې چه کوموخلقوحکم جوړکړیدی دهغوی په حق کښې معتبرده اونوروپه حق معتبرنه ده پس دمقضی له اومقضی علیه دوارو حکم جوړول شرط دی (۲) په خپله هندی ته اختیارنشته (۳) تول دپه یوځای حاکم وخت ته درخواست ورکړه چه داسی امورودپاره دی یومسلمان حاکم مقررکړی والله اعلم ۴صفر ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۸۱ ج۳)

سوال :(۵٦٤) ازین که بعدرخصت اراده فسخ نکاح کند، وان نکاح ازغیراب وجدواقع شده، دران وقت گواه نمودن ضروری اشت یانه ودرمیان قبل رخصت وبعدرخصت درباب فسخ فرق هست یانه اگرهسته چگونه

جواب : فی الدرالمختارباب الولی لهمای لصغیروصغیرة خیاالفسخ لوبعدالدخول بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده وفیه وشرط لکل القضاء وفیه لایمتدالیٰ اخرالمجلس وفیه تشهدقائله بلغت الان ضرورة احیاء الحق . ازین روایات جواب جمیع اجزاء حاصل شد ۱۸محرم الحرام ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه ص ۲۴۹)

سوال :(۵٦۵) څه فرمائی علماء دین اومفتیان په دی مسئله کښې چه یوه جینی دهغی مور پلارمړه شویدی صرف یوه نیا(دموږمورېې) پاتی ده اوددی نکاح ددی نیا(دپلارمور)کړی وه چاسره چه یې نکاح شوی وه هغوی وائی چه مونږه داپه خپل هلک باندی طلاقوونو طلاق خوکیدای نه شی ځکه چه هلک اوجینی دواړه نابالغ دي اوس چه کوم وخت جینی ځوانه شی اوهغه ووائي چه زه ده سره نه اوسیږم نونکاح ماتیدی شي یعنی طلاق کیدیشی یانه اوددی نکاح بل ځای کښې کیدیشی یانه ؟

جواب : فی ردالمحتارهل تقدم ام الاب علیها (ای ام علی ام الام) او تاخرعنها اوترجعهاالی قوله وقد یقال قرابة الاب لهاحکم العصبة فتقدم ام الاب فلیتامل الخ . مخلصاً قلت وجزم الخیرالرملی لهذالاخیرفقال فیدل القینة بالام لان الجد للاب اولی من الجدلام قولا واحداً ثم قال وماجزم به

الوطی افتی به فی الحامدیة، ج۲ / صـ ۵۱۲/ وفی ردالمحتار لهما ای لـلصغیر وصـغیرة خیارالفسخ ولوبعدالدخول فی البلوغ الی قولـه بـشرط القـضاء ج۱ / صـ ۵۰۱، ۵۰۲/ دی روایتونو په بنیادباندی دمسئلی جواب دادی چه ددی نابالغی جینی نکاح دمور پلاردمرګ نه وروستو چه کله نیا(د پلار مور) وکړه اګرچه دنیا(دمور مور) اجازت نه وه خودانکاح وشوه اودی جینی ته دبالغیدونه وروستو دنکاح ماتولو اختیارشرعاً وه خوپه هغی کښ فیصله دقاضی شرط ده چه هغه دلته موجود نه ده په دی وجه اوس دنکاح ماتوڅه صورت نه شی کیدی سیوا ددی نه چه هلک بالغ شی او طلاق ورکړی خوپوری چه داسی ونه شی چه ددی جینی دویمه نکاح په شی کیدی. ۷ رمضان المبارک ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه / صـ ۲۹۴)

فسخ شدن نکاح نابالغه بشهادة کاذبه بحکم حاکم مسلم

سوال: (۵۶۶) دمسماة پلار مړشوبی خمه تره ددی په غیرموجودګی کښ ددی نکاح رشته دارانو سره وکړه اودهغی په بدل کښ یې خپل خوی دپاره رشته واخسته دمسماة دوه خویندي چه کله بالغ شوی اودخپل کوروالاشوی مسماة تراوسه نابالغه وه دخیاربلوغ په شرطونو او خاص قیدونوباندی یې پوره پوهه حاصل کړه ده دواړوخویندودیته هم څنګه چه مناسب وه دخلاصولو په غرض څه پوهه ورکړه اوپه تنهائی کښ ددی نه ددی شرطونو کله امتحان هم اخسته. حسن اتفاق سره یوه ورځ دامسماة خپلوخویندوسره ناسته وه چه دبالغیدو اثرات پری ښکاره شول. ښکاره کیدوسره دی خپلو دواړو خویندو په وارندی دری ځله په خپله خوله ووئیل زما کومه نکاح چه زما تره فلانی خوی دفلانی سره کړی وه ماهغه ماته کړه دی خویندودامسماة خپل ماما او خیاقی ورور(مورشریکي ورور) ته وروليږله اوتوله قصه یې ورته بیان کړه ماما یې چونکه دعلم اوپوهی خاوندوه هغه ددی مسماة نه قسمیه بیان واخسته اوددی خویندی یې هم را او غوختی هغوی هم قسمیه بیاوکړو چه دبالغیدو اثراتو ښکاره کیدوسره دی خپله نکاح فسخ کړیده. میرانه ورور یې په عدالت کښ دعوی وکړه. دجج صاحب په اجلاس کښ مقدمه پیش شوه. جج صاحب هغه جینی ازاده کړه جج صاحب مسلمان دی دعلم سره متقی متشرع اودلمونځ روژی هم پابند هم دی اودمولیانو غوندی ګیره یې هم ساتلی ده اوس داخبره معلوم مول غواړو چه ددی مسماة دامخکنی نکاح چه دی ظالم تره یې کړی وه هغه فسخ شوه یانه اوبل داچه دنابالغی نکاح چه

کله خپل تره وکړی نودبالغیدونه وروستو هغی ته دفسخ کولو اختیارحاصل دی یانه. دفسخ شرطونه څه دی هرکله چه اندیا اسلامی حکومت نه دی نودلته دقاضی فیصله څه رنګ حاصلیدیشی دجج صاحب فیصله دقاضی دفیصلی قائم مقام کیدیشی یانه بینوتوا جروا؟

جواب: فی الدرالمختاروالمولی النکاح الصغیرة الیٰ قوله وان کان المزوج غیرهمای غیرالاب وابیه لایصح النکاح من غیرکفواوبغبن فاحش اصلا. وان کان من کفوبمهر المثل صح ولکن لهمای الصغیروالصغیرة ویلحق بهماخیارالفسخ ولوبعدالدخول بالبلوغ اوالعلم بالنکاح بعده الی قوله بشرط القضاء للفسخ وفی ردالمحتارحاصله انه اذاکان المزوج للصغیروالصغیرة غیرالاب والجدفلهماالخیاربالبلوغ والعلم به فان اختارالفسخ لایثبت الفسخ الاشرط القضاء، ج۲ / صـ ۴۹۹، ۵۰۲/ وفی ردالمحتار ولایمتدالی اخرالمجلس وفی ردالمحتارفلوسکتت ولوقلیلابطل خیارهاولوقیل تبدل المجلس. ج۲ / صـ ۵۰۷/ فی الدرالمختاروتشهدقائلة بلغت الان وتحصل من مجموع ذالک لوقالت بلغت الان وفسخت تصدق بلابینة ولایمین ولوقالت فسخت حین بلغت تصدق بالبینة اوالیمین وقالت بلغت امس وفسخت فلابدمن البینة لانهالاتملک انشاء الفسخ فی الحال بخلاف الصورة الثانیة حیث لم تسنده الی الماضی فقدحکت ماتملک استینافه فقدظهرالفرق بین الصورتین وان خفی علی صاحب الفصولین کما افاده فی نورالعین، ج۲ / صـ ۵۰۲/ وفی الدرالمختارویجوزتقلدالقضاء من السلطان العادل والجائر ولوکافراً، ج۲ / صـ ۴۷۸/ وفی ردالمحتاربخلاف مااذاکان المجتهدفیه نفس المقضی به قبل القضاء فان القضاء به نافذبدون تنفیذواذارفع الی اخرنفذه اوان لم یکن مذهبه وهذامامرفی قوله واذارفع الیه حکم قاضی اخرنفذه وبخلاف ماخالف الدلیل فانه لاینفذ وان نفذه الف قاضی کماقاله الزیلعی وهذامامرفی قوله الاماخالف کتاباً اوسنة مشهورة اواجماعاً الخ ج۴ / صـ ۵۱۳ / دی روایتونو نه دلاندینی امورفائده ورکوی. (۱) دنابالغ نکاح چه کله دهغی تره وکړی نوصرف بالغیدوسره هغی ته دفسخ کولو اختیارشته (۲) دفسخ شرطونه هم معلوم شول (۳) مسلمان جج اګرچه یوغیرمسلم حکومت مقرر کړی وی بیاهم شرعی قاضی دی (۴) دقاضی دفیصلی نافذیدل مشروط ده دی سره چه خلاف شریعت فیصله نه وی. اوس جواب دپاره ددی روایتونو نه وروستو ددی تحقیق ضرورت دی چه صاحب جج دافیصله دکوم شهادت په بنیاد کړی وه.

جواب په دی باندی موقوف دی. ذی قعده / ۱۳۳۸ھ / بیا سائل ددی جواب دخط په ذریعه داسی ورکړه چه ګواه صرف دوه خویندی دی او هغه تره دګواهی نه منع کړی په دی وجه دحیاء دپاره یې دوه ددروغو ګواهانو نه یې شهادت واخستو هغوی عدالت کې بیان وکړه چه زمونږ په مخکې مسماة بیان کړیدی چه زه په دی وخت دی مجلس کې ستاسو په مخکې بالغه شوی یم او خپله نکاح فسخ کوم حالانکه ددغه دوو ګواهانو په مخکې نه بالغه شویده او نه یې ددوی په مخکې بیان کړیدی بلکه ددغه دوو ګواهانو په مخکې دی جینی هغه ریشتونی قصه بیان کړه الخ ملخصا. او سائل دجج دفیصلی نقل هم راولیږلو هغی کتلو سره معلومه شوه چه هغه دی شهادت باندی فسخ نافذ کړیده په دوجه دالاندینی جواب اولیکلی شو؟

جواب دی صورت کې دانکاح فسخ شوه. والشاهدان وان کاناشاهدی زور یاثمان بهذه الشهادة ویجب علیهما التوبة لکن القضاء نفذ ظاهراً وباطناً وان ظهر کونهما شاهدی زور لا ینفسخ القضاء ولا یزول اثره کما فی العالمگیریه ومن جملة صور الفسخ صبية وصبی سبیا وهما صغیران فکبرا واعتقادثم تزوج احدهما الاخرثم جاء حربی مسلما واقام بینة انها ولده فالقاضی یقضی بینهما فان رجع الشاهدان عن شهادتهما حتی تبین انهما شهدا بزور لا یسع للزوج وطیها عند ابی حنیفة لانه مقضی علیه بالحرمة وقد نفذ ظاهراً وباطناً وکذا علی قوله محمد رحمه الله لا یسع للزوج وطیها لانه لا یعلم بحقیقة کذب الشهود. ص ۱۸۲ وص ۱۸۳ ج ۲ (تتمه خامسه ص ۱۵۹)

دخلع حکمونه

سوال: (۵٦۷) سوالونه (۱) دامام ابوحنیفة رحمه الله په نزد خلع طلاق بائن دی یا فسخ (۲) خلع به پس طلاق ورکول پکاردی یا صرف سره ښځی پردی شوه (۳) فسخ کې هم هغه نکاح باتی دی یا دویمه نکاح کول پکاردی (۴) او څو میاشتی عدت تیرول پکاردی؟

جواب: (۱) طلاق بائن دی (۲) دهغی نه وروستو طلاق ورکول حاجت نشته (۳) فسخ کې نکاح نه پاتی کیږی (۴) طلاق او فسخ دواړو کې عدت واجب دی. حائضی ته دری حیضه ما شومی او زړی ته دری میاشتی او حاملی ته وضع دحمل ده فی الدرالمختار باب العدة وهی فی حرة تحیض لطلاق او فسخ الخ. البته په فسخ کې دطلاق شمیر نه وی کم وی او دهغی نه وروستو طلاق نه واقع کیږی کذا فی الدرالمختار باب الولی ۹ ذی الحجه ۱۳۳۵ھ (امداد ثانی ص ۷۲)

سوال: (۵٦۸) دخلع په حالت کې چه دبی بی دطرفنه کیږی مهر خاوند اداکول پکار ده یا څه طریقه ده دخلع فقط؟

جواب: خلع طریقه داده چه ښځه او خاوند کې موافقت راشی ښځه څه مال خاوند ته ورکړی چه دا واخله او ما پریږده او دی سړی منظور کړل پس داخلع اوشوه او طلاق بائن واقع شوا او دی ښځه باندی دا مال ورکول واجب شوا وکه دمهرنه یې په کم باندی کړې دی نو هغه مقدار دمهرنه ساقط شوا او نور یې په ذمه پاتی شوا وکه دمهرنه یې په زیات باندی کړی دی نو ټول مهر ساقط شوا او دا زیاتی په ښځه باندی واجب شوا وس داچه دا زیاتی اخستل سړی دپاره جائز دی یا نه نو عندالله خو مکروه دی خو حاکم به یې ترینه اخلی سړی ته به ورکوی وان کان النشوز منها کرهناله ان یاخذمنها اکثر مما اعطاها ولو اخذ الزیادة جاز فی القضاء هدایه. ج ۱ ص ۳۸۵ / ۲۲ ربیع الاول ۱۳۰۱ھ (امداد ثانی ص ۷۲)

اشتراط بلوغ زوج درخلع

سوال: (۵٦۹) (۱) دهندی نابالغ نکاح دبکر نابالغ سره وشوه (۲) هندی دبالغیدو په وخت کې دبکر دنابالغ والی دوجه نه عدالت کې دنکاح دمنسوخ کیدو دعوی وکړه چه هنده کامیاب شو چونکه هنده دشرع محمد ﷺ پابند ده لاندینی وجوهاتو باندی سره خلع کول غواړی (وړومبی وجه) هنده بالغه ده او بکر دنابالغ والی دوجه نه حق دزوجیت نه شی اداکولی (دویمه وجه) دبدمزاجی او بدلیاقتی دوجه او دعدالتی خفګان دبکر په بالغیدو باندی دهندی دبکرنه دفائدی اخستو امید بالکل نشته (دریمه وجه) دبکر بالغیدو پوری هندی ته دخپل عزت حفاظت نه علاوه ددین اسلام نه داوریدلو ویره ده نو دی وجوهاتو سره ایا شرع محمد ﷺ بکر نابالغ یا دهغی ولی لره په خلع باندی مجبورولی شی که چرته مجبورولی شی نو دکتابونو حوالی سره او دصفحه سره حکم نافذ اوفرمائی؟

جواب: فی الدرالمختار وشرط (ای الخلع) کالطلاق وفی ردالمحتار وهو اهلیة الزوج وکون المرأة محلا للطلاق الخ ج ۲ / ص ۵۱۹ / دی روایت نه معلومه شوه چه څو پوری هلک بالغ شوی نه وی تر هغه وخت پوری خلع نه شی کولی او بالغیدو نه وروستو هم داشرط دی چه په خپله رضامندی باندی خلع وکړی څوک یې مجبورولی نشی ۱۳ ذی الحجه / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص ۱۹۹)

فصل فی الظهار والایلاء

یوکس ووئیل که یوکال پوری می تاسره کوروالی وکړونوخپلی مور خورسره به می کړی وی اووروستویې اووئیل زمانیت دطلاق نه وه الخ

سوال: (۵۷۰) بکرخپلی منکوحی ته په غصه کښې داسې ووئیل چه مایوکاله پوری تاسره کوروالی وکړو نوخپلی مورخورسره می کوروالی کړی وی اوواتې چه زما نیت دطلاق ورکولونه وه. دادبکرالفاظ دی دیکښې چه دشریعت څه حکم وی هغه تفصیلی اوفرمائی؟

جواب: داقول مرادف دی دانت حرام علی کامی اوداظهاردی علی الاصح وفی ردالمحتار تحت قول الدرالمختاروان نوی بانت علی مثل امی اوکامی الخ مانصه قال فی البحر واذنوی بہ الطلاق کان بائنا کلفظ الحرام وان نوی الایلاء فهوایلاء عندابی یوسف رحمه الله وظهار عند محمد رحمه الله والصحیح انه ظهارعند الکل لانه تحریم موکدبالتشبیه الخ ونظر فیه الفتح بانه انما یتجه فی انت علی حرام کامی وبعداسطروقال الخیرالرملی وکذالونوی الحرمة المجردة ینبغی ان یکون ظهاراً الخ ج۲ / ص۹۴۹، ۴ شعبان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص۱۵۵)

حکم تشبیه بالمحارم بقصدطلاق اوښځې ته مور خوروئیل

سوال: (۵۷۱) زیدخپلی ښځی هندی لره چه ډیرزیاته متقیه اوپرهیزګاره ښځه ده چاسره یې بدنامه کړه اوداالایدینی لیکل یې وکړل (نقل دلیکلو) دالیکل دهندی دپلارپه نوم دی (۱) دنورالدین دبیماری حال همیشه دیته وئیلی کیده (دااشاره هندی طرفته ده) اوداخل یې هم دهغی دارام خبریې وررسولی دی نورالدین ته ووایه چه هغه ۲۵ ته په خپله راشی تاسره ملاقات وکړی بی غمه شه (دالفظ دغورقابل دی) داسړی دنورالدین هندی درشته تره هم دی اوبدکارهم دی (۲) (داالیکل دهندی په نوم وه) ته مرادآبادته رسیدوباندی به ضرورخوشحاله شوی یې ځکه چه دکومو خلقوتاته انتظار اوستاخلقوته انتظاروه بلکه دهغوی لری والی ډیرګران وه ملاقات به ډیرپه خوشحالی سره شوی وی خیرالله دی تاته اوهغوی ته مبارک کړی خودی خط کښې منشی صاحب دنورالدین دخیریت اوبیماری باره کښې نه دی لیکلی که چرته داباندی بدنه لګی نوخپله پرچه کښې یې اولیکه ځکه وکړوچه یومسافرسړی ته یې په نکاح کړی اوسړی هم ځنګه چه اول غیرشکښې دی غریب اواوراه اوبودادی غالباً ستاڅړه به لته ماسره راتلوته چرته هم اونه غواړی خوزه دخپل عادت اوعزت

نه مجبوریم چه تاراغوختل غواړم که اجازت وی ددی فقط ددی خط یوه یوه فقره غورقابله ده (۳) ستاحالت ورځ تروږخه خرابیږی احتیاط کوه الله دی تاپه خیرسره وزګاره کړی دیکښې هم اشاره ده. (۴) اوس خوښه اطمینان سرهلته اوسیږی هیڅ غم دی نشته ښه زړه یخ کړه اوخوشحاله اوسه الله دی تاته نورهم زیات توفیق درکړی دیکښې هم اشاره ده. (۵) داخوزمادعوی ده چه زمانه زیات ستاعزت هیڅ څوک نه شی کولی دیکښې هم اشاره ده اودغورقابل دی داتول خطونه دی اوصفازیان سره یې پری تهمت دزنالګولی دی اوددی په موریې دخپل طرفنه په دروغه تهمت دزنالګولی دی اوکم ازکم سل خله یې اظهاریعنی مورخوریې ورته وئیلی دی اووئیلی یې دی چه زمادپاره هنده داسې ده لکه موراوخور هنده چونکه دشریعت مسئلونه ښه خبرده وه اوحدیث شریف یې وئیلی دی دهغه نه جداشوه اودزیدداجازت نه بغیردموریپلارکورته راغله اوس اوه کاله پس زید غواړی چه هندی سره موافقت وکړی اوایې هم وئیلی ده چه دهندی نکاح خپل پلارسره شویده ماسره نه ده شوی هغه خپل پلارسره خرابه اوسی؟

جواب: دی لیکلو اواقوالوکښې څه داسې کلمه نشته چه هغې سره صریح طلاق واقع شی یاظهاراوشی البته دوه جملی ددی محتمل دی یودا چه هنده مادپاره داسې ده لکه موراو خوراودویم داچه ماسره یې نکاح نه ده شوی نوزومبی جمله کښې به دزیدنه تپوس کیدیشی چه ستاڅه نیت وه که نیت دطلاق وه نوطلاق واقع شو. اوکه دظهارنیت وه نوظهارواقع شواوکه هیڅ نیت یې ښکاره نه کړونوهیڅ هم نه راځی اودطلاق په شق کښې یې چونکه څوځله اووئیل په دی وجه دری طلاقوسره به مغلظه ګرځی اودظهارپه شق کښې دظهارکفاره واجب ده اوبغیردکفاری نه کوروالی حرام دی دغه شان دویمه جمله کښې به هم دزیدنه تپوس کیږی که دطلاق نیت یې بیان کړونوطلاق واقع شوکنی هیڅ هم نه راځی کمافی العالمگیریه ولوقال لامرأة لست لی بامرأة وقال لهاماانابزوجک الی قوله لایقع الطلاق وان قال نویت الطلاق یقع الطلاق فی قول ابی حنیفة رحمه الله وبعداسطرلوقال مالک لی بامرأة ولست لک بزوج نوی الطلاق یقع عندابی حنیفة رحمه الله وعندهمالا یقع وبعد اسطرلوقال لهالانکاح بینی وبینک اوقال لم یبق بینی وبینک نکاح یقع الطلاق اذانوی اه فقط والله اعلم ۲۸ جمادی الاول ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی / ص۹۷)

سوال:(۵۷۲)خاوند ديرپه اسانتياسره داخپلی ښځی ته داکلمات ددونورزنانواودموريه وراندی ووئيل چه دا ښځه زمادموريه شان ده اودالفظ يې دری څله ووئيلو اودايې هم ووئيل چه نکاح هم ماته شوه نونکاح ددی سړی دی ښځی سره باطل شوه یاقائم ده ؟

جواب: فی الدرالمختاروان نوی بانت علی مثل امی اوکامی وکذالوحــذف علــی براوظهــاراً اوطلاق صحت نیه ووقع مانواه لانه کنایة والاینوشــیئااوحذف الکــاف لغــاوتعین الاولیٰ ای البربعق الکرامة – وفـی العالمگیریة باب الکنایات اوقال لم یبق بینی وبینک نکاح یقع الطلاق اذانوی وفیهافی حالة الرضیٰ لایقع الطلاق فی الالفاظ کلهاالا بالنیة والقول قــول الــزوج فی ترک النیة قلت قوله . زمادموريه شان اخ ترجمه ددی عبارت انت علی الخ وقوله نکاح هم الخ وی حاصــل قولــه لــم یبــق وقولــه . ديرپــه اســانتيا دلیــل درضــادی . دی روايتونوپه بنيادجواب دادی چه که چرته دی سړی دی الفاظونه نیت دطلاق کړی وه نوبیاخودری واړه طلاقه نه وه نوبیان دی کړی چه څه نیت وه هغه وخت به جواب درکړیشی . ۸ محرم / ۱۳۲۷ھ، تتمه اولی / صـ ۹۸،

سوال:(۵۷۳)دسائل دلـورحليمی نکاح دجی مـون ســره يوکـال اوشـو چـه شـويده دښځی دحقونواداکولواونان نفقه ورکولوته خوده خيال هم نه دی کړی تقریباً څلورمیاشتی اوشوی چه بغيردڅه نه خپلی ښځه سره يې جنګ جګړی شروع کړيدي اوخو کسـانو وراندی يې خپلی ښځی ته څوځله داسی ووئيل چه ته زماموريې سائل تقریباً دوه میاشتی اوشوی چه دکلی خلق يې دفيصله دپاره جمع کړل نومسمی جهندوکمبوه جميون ته ووئيل چه ته داخبره پريږده داسی الفاظ ووئيلوسره خودلته زمونږپښی ماتی شوی پدی باندی جيمون اووئيل چه زه دڅه شـی اخسـتونکې نـه يـم اوپـوځلی څـه څـورالس خلـی زه ديتـه خپلـه مـوروايم نواياد شريعت مطابق دجهګړی په وخت کې اودصفائی دپاره دجرګی په وخت کې داسی الفاظ ووئيلوسره دی مسماة حليمی ته طلاق بائن واقع شو یانه؟

جواب: داوئيل چه ته زماموريې لغوه دی دي سره هيڅ هم نه کيږی اوداوئيل چه زه دڅه شی اخستونکې نه يم احتمال دکنايې لری خوعالمگيريه کې راځی چه دی سره هم طلاق نه واقع کيږی دهغی عبارت دادی . اذاقال لااريدک اکولااحبک اولا اشهيک ولارغبة فيــک فانــه

لایقع وان نوی فی قول ابی حنیفة رحمه الله کذافی البحرالرائــق صــ ۲۹ / ج۲ / ۲۹ذی قعده / ۱۳۴۰ھ تتمه خامســه / صـ ۲۲۲،

حکم دونیلوددی لفظ که ته می اوساتلی نوخپله مورخوربه می ساتلی وی وغیره

سوال:(۵۷۴)څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کې چه يوکس خپله ښځه هنده څوځلی اووهله اودخپلی خولی نه يې داالفاظ ويستل چه که ته می وساتلی نوخپله موريه می ساتلی وی اوداسړی هلته نه لاړو اوخپل مشرووروته يې ووئيل چه مهريعنی روپی راکړه زه يې پريږدم یاطلاق ورکړم نوهغه وروورته ووئيل چه زه روپی نه درکوم آیاپه دی طلاق وشوکه کفاره واجب ده. سره دحوالی د کتابونوبيان کړی ؟

جواب: داچه يې ووئيل چه که ته می وساتلی خپله موبه می ساتلی وی داصيغه دتعليق ده اوداعبارت دظهـاراودطلاق دواړواحتمال لـری اوتعليـق ظهاردداړوجـائزدی . نوکـه دی عبارت سره يې نيت دطلاق کړی وی نوطلاق[1] واقع شواوچونکه کنايه ده پدی وجه طلاق بائن واقع شواوکه نيت يې دظهارکړی وی نوظهاروشواوکفاره واجب شوه اوداچه يې ووئيل چه پريږدم یاطلاق ورکړم که چرته داعبارت ددی متکلم په محاوره کې دحال په صيغه کې استعماليږی پدی معنی سره چه طلاق درکوم یاپريږدم يې نوطلاق واقع کيږی اوچونکه صريح دی پدی وجه طلاق رجعی واقع شواوکه داعبارت دده په محاورکې په معنی دوعدی سره استعماليږی نوطلاق نه واقع کيږی . والکل ظاهرمشهورمن القواعد والروايات فقط. ۱۰ شوال / ۱۳۲۵ھ، امداد / صـ ۷۴ / ج۲،

درتحقیق بعض مسائل مندرجه تتمه اولیٰ وثانیه امدادالفتاوی

سوال:(۵۷۵)تتمـه جلـد ۲ صــ ۷۸ ددينـدارتره پـه نګرانـی سـره قادرشوالخ غـرض سـوال ازولايت مال است نمازحصالت صبی ولايت مال عم راځی رسد(الولی فی النکاح لاالمال، قولــه لاالمال فان الولی فیه الاب ووصیه والجدووصیه والقاضی ونائبه فقــط شــامی دون الاخ والعم ۱۲شامی قال الزیلعی واماماعدالاصول من العصبة کالعم والاخ لایصح اذانهم لیس لهم ان یتصرفوافی ماله تجارة ۱۲شامی

[1] څکه چه تصديق داسی امرسره دی چه بالفعل متحقق دی په دی وجه وجودشرط دوجه ته جزامرتب شوه.

دربهشتی زیورحصه چهارم باب الظهارالخ

سوال:(۵۷۶)دربهشتی زیورحصه چهارم ظهارص ۵۵ فرمودند: مسئله که چاداسی اووئیل چه که ته می وساتلی تومورپه می ساتلی وی الخ دی سره هیڅ هم نه کیږی، ودرفتاوی امدادیه ص ۵۴ جلددوم فرمودند:جواب داچه یې ووئیل که ته می اوساتلی توخپله مورپه می ساتلی وی داصیغه دتعلیق ده اوداعبارت دطلاق اوظهاردواړو احتمال لری الخ این ظاهراً قائض است پس درحواشی یادرترجیح الراجح دفع آن ثبت فرمایند تاکه عوام الناس خصوصاً عورات خالیة الذهن درغلطی وحیرانی نه افتند. هرچند خیال کرده شدتفاوت صرف درلفظ ،خپل، است واین کدام زائدفائده نه بخشیده وسند کدام کتاب فقه که خاص جزئی باشددرهردوکتابان غیرموجوداست تاسندنه ارنداطمینان نه خواهدشد.

درتحقیق قول قائل بزن الخ

سوال:(۵۷۷)یوسړی خپلی ښځی ته په غصی کې دری خله ووئیل چه که ته می وساتلی نوخپله موراوخورپه می ساتلی وی اودطلاق نیت یې کړی وه نودی صورت کې کوم یوطلاق واقع شومغلظ یابائن. ددی ویونکې جاهل دی دطلاق مغلظ شمیراوتاکیدنه پیژنی دعالمګیری باب ظهارکې یوه جزئی موجود ده. دهغی لفظونه داوی لوقال انوطئتک وطئت امی فلاشئی علیه. ددی مقتضی سره خوهیڅ طلاق کیدل نه دی پکار اودجملی کیدودوجه نه دنیت هم اعتبارنه دی پکار حضرت مولانامحمدرشیدصاحب مدظله هم دغه رائی ده خوددی جملی انت علیٰ حرام په شان ددی تاویل هم کیدیشی چه ددی حکم یوځل باندی طلاق بالکنایه. اودری خله باندی مغلظه دی نوآیاداجمله وئیلی شوی په دی محمول کیدیشی یانه؟

جواب: فی الدرالمختارباب الظهارو حکم قوله انت علی مثل امی اوکامی ماتـصـه ولاینوشیا اوحذف الکاف لغاوفی ردالمختارعن الفتح انه لابدمن التـصـريح بـالاداة. ج۲ /ص ۹۴۹و۹۵۰ ددی روایت نه معلومه شوه چه دنیت تفصیل هغه صورت کې وه چه کله تشبیه کې صراحتاً ذکروی کنی لغوه به وی اودې جمله کې حرف تشبیه صراحتاً نشته پدی وجه سره دنیت نه هم لغوه ده اوپه دی باندی دجزئی عالمګیری حکم هم مبنی دی چه دی چه هغی کې هم اداة تشبیه نشته تردی پوری که چرته داسی یې وئیلی وی چه که ته می وساتلی نوداسی ده لکه ګویاخپله موراوخورمی وساتله هغه وخت به هم دیکې هم تفصیل وی، ان نوی بداواوظهار

اوطلاقاصحت نیة اوسوال دطلاق نیت ذکرشویدی نوطلاق بائن واقع شوی فی ردالمحتار عن البحرواذانوی به الطلاق کان بائناالخ تحت قوله انت علی مثل امی اوکامی خودافتوی دوه خلورځایه کې اوم ښائی دهغی نه وروستوبه داقابل داطمینان وګڼرلی شی. ۷ذی الحجه ۱۳۳۲ھ

عدم تحقیق ظهاربگفتن زوج زوجه خودرابوقت اطلاع نکاح بابنت عم که این همشیره من است مرااین نکاح منظورنیست وحکم عدم فسخ نکاح کې بتولیت پدرنده بوجه عدم قبول بعد بلوغ

سوال:(۵۷۸)دزیددخپلی تره لورهندی سره چه ولایت دپلاردزیدپه نابالغی کې نکاح وشوه اوبالغیدواوخبروارید وباندی داووئیل چه ته زماخوریې ماته دانکاح منظوره نه ده ایاطلاق واقع کیږی یادهندی بالغیدوته انتظارکولی شی هلک بالغ شویدی خوهنده تراوسه نابالغه ده؟

جواب: دانکاح لازم شوه اودی وینا سره نه طلاق شوی نه ظهار صرف لغوه ده اوکه اوس طلاق ورکړی نوبل خاوندسره نکاح کولو کې دښځی بالغیدل ضروری نه دی خویه دی شرط چه څوک ولی یې نکاح کوونکې وی ۲۹جمادی الاول/ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / ص ۳۳)

طریق تفریق ازعنین

سوال:(۵۷۹)دهندی ولیانوددی نکاح زیدسره وکړه اوداسی حال کې چه دواړه ځوانان اوبالغ وه زیدکې مردانه طاقت نه وه دووکالوپوری هندی دشرم اوحیاء دوجه نه داخبره په وساتله هغې نه وروستوداخبره ښکاره شوه اودهندی ولیانودزیداودهغه دولیانونه دخلع درخواست وکړوهغوکې دعلاج په غرض دوه دوه خلورخلوراوشپږشپږمیاشتوپوری څومره څومره مهلتونه واخستل دزیدلری لری مشهوراوهوښیاروحکیمانونه علاجونه وکړه خلورکاله علاج اومهلت کې تیرشول خوهیڅ فائده یې ونه کړه هندی اودهغې ولیانو شپږکاله صبروکړواوس هغوی نورصبرنه شی کولی دوی طلاق غواړی اوزیداودهغه ولیان اوس هم دطلاق ورکولونه خان بچ کوی داسی صورت علماء دین اومفتیان شرع متین څه راشادفرمائی بینواتوجروا؟

جواب: چونکه دطلاق نه دانکارکول په وخت کې شرعی حاکم ته دجداکولوضرورت وی اوهغه دی ملک کې نشته په دی وجه ددوی دجداکولودوه صورتونوه کیدیشی یاخوورته خاوندطلاق ورکړی اویادښځی خاونددواړه په رضامندی سره یوعالم یاهوښیارسړی پدی

مقدمه کې فیصله کوونکې مقرر کړي او هغه ته دې مقدمه پیش کړي هغه که عالم وي نو په خپله دې د شریعت موافق فیصله وکړي او که عالم نه وي نو د چا عالم نه دې طریقه زده کړي او د هغې موافق د دوي په مینځ کې جدائي راولي البته که مسلمان حاکم د حکومت د طرفنه مقرر وي او هغه ته د داسې معاملاتو قانوناً اختیار ورکړی شوی وي نو دیو عالم نه د دې باره کې معلومات وکړي او دعوی کولو نه وروستو دې د هغې موافق قاضي د دوي جدائي وکړي او که خاوند نه طلاق ورکوي او نه د واړه په رضامندي باندي څوک فیصله کوونکي مقرروي او نه څوک مسلمان حاکم ملاویږي نو ښځه او د هغې ولیان د صبر نه علاوه هیڅ نه شي کولی والروایات المثبتة کماذکرهذه فی الدرالمختارفان وطی مرة فیهاوالابانت بالتفریق من القاضی ان ابی طلاقهابطلبهاوهو علی التراخی لاالفورفلووجدته عنیناً اومجبوباً ولم تخاصم زمانالم یبطل حقهاوکذ الرخاصمة ثم ترکته مدة فلهاالمطالبة ولوضاجعته تلک الایام خاینة وفی الدرالمختار کتاب المفقودوفی واقعات المفتی لقدری افندی معزیاللقینة ان انمایحکم بموته بقضاء لانه امرمحتمل فالم ینضم الیه القضاء لایکون حجة الخ . وفی الدرالمختار ویجوزتقلدالقضاء من السلطان العادل والجائرولوکافراً ذکره مسکین وغیره الخ . وفی الدرالمختاروهو(ای التحکیم تولیة الخصمین حاکمایحکم بینهماوفیه فان حکم لزمهماولایتعدی الی غیرهماوالله اعلم. ۲ رمضان ۱۳۳۱ھ امداد صـ ۴۸ ج ۲)

سوال : (۵۸۰) یو سنی حنفي المذهب دی ده یو قادیاني جیني سره په ناپوهی کې نکاح وکړه پدي وبنیاد چه هلک عنین دی نکاح فسخ کول غواړي او مهر غواړي شریعت کې دا نکاح نکاح شرعي ده او قابلیت د فسخ لري یا یو معامله باطله بنفسه ده چه قابلیت د فسخ نه لري او په دیکې څه ترتیب د شریعت د حکمونو کیدیشي یا نه او مهر اخستی شي یا نه ؟

جواب : نکاح صحیح والي د پاره مردي یعني مذکر کیدل خو شرط دی خو قدرت علی الجماع په معنی سره شرط نه دی نو عنین سره خو نکاح صحیح ده او د خاوند د عنین کیدو په صورت کې که چرته ښځه جدا کیدل غواړي نو د هغې طریقه شرعاً دا ده چه ښځه به د قاضي په اجلاس کې درخواست ورکړي چه د ده د عنین کیدو په وجه زه د ده نه جدا کیدل غواړم (قاضي نه مراد مسلمان حاکم دی اګر که د غیر مسلم حکومت طرفنه مقرر وي . کذافی الدرالمختار ورد المحتار) قاضي به د سړي نه تپوس وکړي چه د دې دا دعوی د عنین کیدو صحیح ده یا نه که هغه واني صحیح ده نو قاضي به ده ته د علاج د پاره یو کال مهلت ورکړي او که دی واني

چه دا دعوی صحیح نه ده او واني چه ما ی سره کوروالی هم کړیدی نو که د دې نکاح داسې حالت کې شوي وي چه دا باکره (پیغله) وي نو اوس به یو یا دوه معتبر و ماهر و ښځو ته او خودلی شي چه اوس دا باکره ده که ثیبه که هغوي ووئیل چه دا باکره ده نو ښځه به ریشتوني وګڼلی شي او سړي ته به علاج د پاره یو کال مهلت ورکړیشي او که هغوي ووئیل چه دا ثیبه ده یا د انکاح داسې حالت کې شوي وه چه ثیبه وه یعني کنډه وه نو د دې صورت کې به د سړي نه قسم اخستی شي چه ما دې سره کوروالي کړیدی که هغه قسم وکړه نو د ښځې دعوی به خارج کړیشي او که هغه د دې قسم نه انکار وکړي نو بیا به د ښځې دعوی صحیح وګڼلی شي او سړي ته به یو کال علاج د پاره مهلت ورکړیشي او کوم صورت کې چه دیو کال مهلت ملاؤ شویدی یو کال تیریدو نه پس که ښځه چپ پاتې شوه نو حاکم به دیکې څه مداخلت نه کوي او که ښځې بیا درخواست وکړو چه ده تر اوسه پوري کوروالي نه دی کړي نو قاضي به بیا د سړي نه تپوس وکړي که هغه دا دعوی صحیح او مني نو ښځې ته به ووئیلی شي چه اوس تا ته اختیار درکولی شي چه ته ده سره ذې حالت کې اوسې یا جدا کیږې دې مجلس کې یعني د مجلس ختمیدو نه مخکې اختیار کړه که هغه جدا والی اختیار کړي نو هغه وخت به قاضي دې سړي ته وواني چه دیته طلاق ورکړه که هغه طلاق نه ورکوي نو نو قاضي به په خپله خوله وواني چه ما دواړو کې تفریق وکړو نو دې سره هم طلاق بائن واقع شوا و په دیکې پوره مهر او عدت ټول لازم دی لصحة مع الفتنه . او که دې مجلس کې دې تفریق اختیار نه کړو نو د ښځې اختیار باطل شو او که دې تپوس باندي دا سړي د دې ښځې تکذیب وکړي که دا دروغژنه ده یعني د کوروالي دعوی وکړي نو په دې کې هم هغه تفصیل دی چه کوم ذکر شو چه که دا د نکاح په وخت کې باکره وه نو اوس به یو یا دوو ښځو ته او خودلی شي که هغوي اوس هم باکره بیان کړي نو د دې ښځې خبره به صحیح وګڼلی شي او دغه شان به دیته اختیار د جدائي ورکړیشي او مهر او عدت لازم دی او مهر او عدت او چه دا تفریق اختیار کړي نو قاضي به د دوي مینځ کې تفریق راولي او که هغوي وواني چه دا ثیبه ده یا دا د نکاح په وخت کې ثیبه وه نو که سړي په خپلي خبري باندي قسم وکړو نو د ښځې دعوی به خارج کړیشي او که هغه د قسم نه انکار وکړو نو بیا به د ښځې دا دعوی صحیح کړیشي او دیته به د تفریق اختیار ورکړی شي سره د لازمیدو د مهر او د عدت او دا ټول تفصیل در مختار او رد محتار کې دې خو دا ټول په هغه وخت کې دي چه کله دا نکاح صحیح کیدوا و موندیشي لکه دا جیني مرزائی مني یا د څه بلې غیر اسلامي عقیدې تابعداره

وی توپه دی وجه دامرتد کیدل مانع دنکاح دی نو دانکاح دسرنه صحیح نه ده اوبغیردطلاق نه ښځی خاوند دوارو ته دیوبل نه دجدکیدو اختیار حاصل دی او که دیکښ یې وطی کړی وی نومهر او عدت دواړه لازم دی خو که مهر یې مثل نه زیات مقرر کړی وی نو صرف مهرمثل لازم دی او بغیر د وطی نه هیڅ هم لازم نه دی کذافی الدرالمختارباب المهر، ۱۱ رمضان/ ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/صـ۱۲۳)

فصل فی العدة والرجعة

وجوب عدت وفات درخانه زوج

سوال: (۵۸۱) یو سړی چه دښځی نه خفه شی او مور کره یې ولیږی او بیا سړی مړشي نو دا ښځه به عدت دوفات کوم ځای تیروی؟

جواب: فی الهدایة تعتدفی المنزل یضاف الیهابالسکنی حال وقوع الفرقة والموت ولهذالوزارت اهلهاوطلقهازوجهاکان علیهاان تعودالیٰ منزل هافتعتدفیه. دی روایت نه معلومه شوه چه هغه ځای داوسیدو عارضی معتبرنه دی ځکه چه دی صورت کښ ښکاره خبره ده چه مورکره تلل یو امراتفاقی او عارضی دی پدی وجه دی اضافت ته اعتبارنشته نو دی ښځی ته دخاوند په کورکښ عدت پوره کول پکاردی. الابعذرمعتبرعاً فصلوه فقط والله اعلم. ۲۵ محرم/ ۱۳۳۲ھ (امداد/صـ۵۸/ج۲)

عدم جوازسفر حج درعدت اگرچه دریک جابودن متوقع نه باشد

سوال: (۵۸۲) جناب قبله وکعبه ام تسلیمات دست بسته قبول کړی ماته داخبره ممکن نه ده چه یوځای کښ دعدت ورځ پوره کړم ځای به ضرور پریخودل وی نو داسی صورت کښ حج ته لاړه شم نو څه نقصان دی؟

جواب: فی الدرالمختارباب الحدادولاتخرج الی قوله من بیتهاوفی ردالمحتاروالمراد به مایضاف الیهابالسکنی حال وقوع الفرقة والموت هدایة وفی الدرالمختارالاان تخرج اوینهدم المنزل الی قوله فتخرج لاقرب موضع الیه فی ردالمحتاروحکم ماانتقلت الیه حکم المسکن الاصلی فلاتخرج منه بحر. دی روایت نه معلومه شوه چه عدت کښ دتنه بغیرد سخت ضرورت او مجبوري نه دهغه کورنه وتل جائزنه دی چه کوم کورکښ داد خاوند دمرګ په وخت کښ اوسیده او که داسی څه

دبدن او مال دهلاکت یانوره څه ویره وی نو دغه وخت دی بیا هغې سره بل چه ډیرنږدې مکان دی هغې کښ دی اوسی بیا دهغې نه وتل جائزنه دي بهرحال سفرجائزنه دي که دحج وي او که دغیرحج وي والله تعالی اعلم. ۱۵ رمضان/ ۱۳۲۳ھ (امداد/صـ۲۲/ج۲)

جوازنقل معتده بضرورت مرض واستیفاء دیون وغیره

سوال: (۵۸۳) دعدت په حالت کښ دغوږونو والی اچول هم زینت کښ داخل دي داخوهغه ښځی هم اچوی کوم چه دجهالت نه ټول عمرخفګان او غم او نیت یاګلونو وغیره نه ځان بچ ساتي (۲) دوفات عدت تیرونکښ که دومره ناجوړه وی چه په ظاهرکښ دبدن نبه کیدو امیدونه وی او خاوندپه کورکښ ځای چه داعدت تیروي هلته دزنانودتلوراتلو اودمړي یادودنو تازه کولو اوژړا ویری سره ددی مرض نورهم زیاتی ده او دماشومان چغوسوروسره مرض زیاتیده او دهغی بندیز ممکن نه وه ځکه چه دبل کورته دبوتلو په وجه باندی نه دیته څه زورورکیدیشی او نه ویری اثرغوږزیږی نو داسي حالت کښ مریضه هلته منتقل کول دځپل کورنه بوتلل جائزدی یانه؟ (۳) معتده مریضه که چرته دځپل کلی ډاکټرانو سره ښه نه شی او دکلی څوک معالجه هم دتشخیص دپاره کافی نه شی نو علاج یادمریض تشخیص دپاره بل ښارته بوتلل یاهلته څورورځی تیرول جائزدی یانه؟

جواب: فی الدرالمختارترک الزینة بحلی وفی ردالمحتارای بجمیع انواعه من فضة وذهب وجواهرقهستانی الخ. وفی الدرالمختاروتعتدان فی بیت وجبت فیه الاان تخرج اوینهدم المنزل اوتخاف انهدامه اوتلف مالهااولاتجدکراء البیت ونحوذالک من الضرورة الخ. ورومبی روایت سره دورومبی سوال جواب معلوم شوچه جائزنه دی. او که داخوک زینت نه ګڼری نوهغه ددی هغه زینت واقعی نه شی ختمولی او دویم روایت سره ددویم سوال جواب معلوم شوچه بل ښارته منتقل کول او هلته بوتلل جائزدی. ونحوذلک په عموم کښ یقیناً داصورتونه داخل دی بلکه ویره دهلاکت دمال چه یې ضروری وګڼرله په دی کښ ویره دهلاکت دنفس او دصحت هم ده چه دمال نه یقیناً ویره اعزاواکرم دی والله اعلم. ۱۵ ربیع الثانی/ ۱۳۲۴ھ (امداد/صـ۲۲/ج۲)

سوال: (۵۸٤) یوه زنانه دنانوته اوسیدونکښ په الورکښ دځپل خاوندنه کنده شوه او ځپلی خورسره اوسی څه دچرواوغنمو فصل یې دنانوتی زمکه کښ ولاړدی او هغه دځپل مخی

وارندي كټ كول ضروري دي كني بعضي قرض خواهان به داغله بنده كړي ايادمعتده دخپلی خورسره ناتوتی ته تلی شي يانه ؟

جواب: فی الدرالمختاروتعتدان ای معتدة طلاق وموت فی بیت وجبت فیه ولاتخرجان منه الاان تخرج اوینهدم المنزل اوتخاف انهدامه اوتلف مالها اولاتجد کراء البیت ونحوذالک من الضرورة الخ. ج۲ / صـ ۱۰۲۲/ دي نه معلومه شوه چه دي ضرورت دوجه نه چه كوم سوال كي ذكردي دامعتده ناتوتی ته راتلی شي. ۲۲ربیع الثانی / (تتمه ثالثه / صـ ۳۲)

ابتدائ عدت دراستکتاب مقید بدستخط ازوقت دستخط

سوال: (۵۸۵)مسمیٰ زیدزوجه خود مسماه هنده باحلف باالله گفت شما ازمکان من بیرون شو شمااهرگزدعویٰ نخواهم کرد. پس هنده مسطوره درجوابش گفت که حلف شما هیچ نیست مرایک کاغذنوشته ده یعنی طلاق نامه - پس دران وقت بوجه عدم میسرکاتب زیدمذکورروبروچهاراشخاص بدست زوجه خودیک کاغذساده داده گفت که هرگاه ترا نویسنده میسرشود طلاق نامه نویسانده ازمن دستخط ببری- بعد چند روز زید مذکور بنزدهنده مسطوره رفته گفت شمانزدمن بیایاروپیه من بده پس هنده گفت اگرشماازمن دعویٰ کنی شمادرطلاق نامه دستخط کنیدبیس روپیه شمابدهم پس درین وقت زیددرطلاق نامه دستخط نموده ازهنده روپیه اخذنموده اندرین صورت بمطابق ملت عزاوشریعت بیضاء ازکدام وقت عدة طلاق شمارکره شود؟

جواب: فی ردالمختاروان کانت مرسومة یقع الطلاق نوی اولم ینو وفیه لوقال للکاتب اکتب لطلاقهاوقرأة علی الزوج فاخذه وختمه وعنونه وبعث به الیهافاتاهاوقع ان اقر الزوج انه کتابه اوقال للرجل ابعث به الیهاالخ،قلت وفی الصورة المسئول عنهالم یتحقق الکتابة حتی تدخل فی الروایة الاولیٰ الاستکتاب المطلق حتی تدخل فی الروایة الثانیة بل الاذن بالاستکتاب مقیدبقوله ازمن دسخط ببری فیتوقف وقوع الطلاق علی تحقق هذالقیدفکان نظیره مافی الروایة الثالثة، خلاصه جواب انکه ازوقت دستخط طلاق واقع شده پس عدت ازهیمن وقت شمارکره شود. والله اعلم ۲۸ شوال/ ۲۴ھ (امداد/ صـ۲۸ / ج۲)

عدت مطلقه که قبل بلوغ خلوت شده باشد

سوال: (۵۸۶)دیوهلک جینی نابالغونکاح وشوه اوس بالغیدوسره طلاق وشورضامندی سره. عدت ددوی شته یانه. یوځل نابالغی کي خپل خسرګنی کره تلی هغی نه پس بیانه دی تلی اوهلک اوجینی مورپلاردواړه موجوددي اواوس هم موجوددي. اوس تاسو عدت باره کي وليکئ؟

جواب: کله نه چه ددوی نکاح شویده هغه وخت نه که دوی چرته خانله ځای کي یوځای شوی وی چه هلته دبل چادتلوویره نه وي. نوعدت واجب اګرچه دنابالغی په صورت کي داخلوت صحیحه نه وي اوکه دبالغیدونه وروستوچرته داسی اتفاق شوی وي نوخلوت صحیحه وشوه اوعدت هرحال کي واجب دی البته که چرته داسی اتفاق نه وی شوی نوعدت واجب نه دی اودحیض والازنانه عدت دری حیضه دی اوچاته چه دنابالغی دوجه نه حیض نه راځی دهغوی عدت دری میاشتی دی. فی ردالمحتارباب المهر- تحت قوله ولویزوج هکذاالباء للمصاحبة ای ولوکان الصغرمصاحب الزوج یعنی لافرق بین ان یکون الزوج والزوجة اوکل منهماصغیراً الخ،ح قال فی البحروفی خلوة الصغیرالذی لایقدر علی الجماع قولان وجزم قاضیخان بعدم الصحة فکان هوالمعتمدولذاقیل فی الذخیرة بالمراهق الخ، وتجب العدة بخلوة وان کان فاسدة لان تصریحهم بوجوبهابالخلوة الفاسدة شامل الخلوة الصبی کذافی البحرمن باب العدة (ج۲/ صـ۵۵) والله اعلم/۱۹/ ۱۳۵۲ھ (امداد/ صـ ۷۱ / ج۲)

عدت منکوحة الغیروفات زوج ثانی

سوال: (۵۸۷)یوی زنانی خپل خاوندسره جنګ وکړواوچرته لاړه. نوځلورکاله پس بیا دی دبل چاسره په خپله نکاح اوکړه یانوروکسانوپری په زوره وکړه نواوس هغه دویم خاوند وفات شو دهغه نه یي یوه لوراویوځوی موجوددي اوکله چه ددي وړومبی خاوندته ووئیلی شول چه دیته طلاق ورکړه نوهغه فوراً ووئیل چه داکله نه زمادکوره تلی ده نوهغه وخت نه طلاق ده داهم معلومه نه دی چه ده طلاق دی ووئیل یاطلاق شوي نواوس ددی عدت تیریدوباندی سره بل کس نکاح کولی شي یانه ددغه شان وکړی صحیح دی یانه ؟

جواب: فی الدرالمختارباب العدة : المنکوحة نکاحاً فاسداً والموطؤة بشبهة ومنه تزوج امرأة الغیرغیرعالم بحالها کماسیجی الی قوله الحیض (هوخبرعدة) للموت ای موت الوطی وغیرها وفیه فی اخرالباب وکذالاعدة لوتزوج امرأة الغیروطیها عالما بذالک ودخل بها الخ، اوس دی صورت کي چه کوم سړی سره دویمه نکاح شویده که هغه ته پته وه چه دادچابنځه وه نوبیاخوعدت واجب نه دي اوکه ده ته پته نه وه نوعدت واجب دی اوعدت ددوی دحیض نه دی اوړومبی خاوندچه کله ووئیلی وه چه طلاق دی یاطلاق شویدي دده دی وئیلوسره طلاق وشواوعدت به دهغه وخت نه شمارلی کیږي اوس دلته څوصورتونه پیداکیږي یوداچه دړومبی خاوندطلاق ورکولونه وروستوعدت تیرشو هغه وخت بې دویم خاوندوفات شواوده ته ددی دچامنکوحه کیدوعلم نه وه نودی صورت کي ددی ښځی عدت دری حیضه دی دویم صورت داچه دوړومبی خاوندنه دعدت تیریدونه وروستودویم خاوندوفات شول اوده ته ددی دچامنکوحه کیدوپته نه وه دی صورت کي په دی ښځه باندی عدت نشته اودریم صورت دادی چه دویم خاوندوفات کیدوپوری دوړومبی خاوندعدت نه وه ختم شوی اودوړومبی خاوندعدت به پوره کوي اوددویم اوخاوندپه عدت کي هم هغه تفصیل دی اوپه کوموصورتونوکي چه عدت دری حیضه دي دي صورتونوکي که حامله وي نوبیاعدت وضع دحمل ده چه کله بچی پیدشي کمافی ردالمحتارتحت قوله الحیض . ۱۲ ربیع الثانی / ۱۳۲۵ھ (امداد ج ۲، ص ۷۱)

حکم عدت ممتده الطهر

سوال: (۵۸۸) یوي ښځی ته برابرپه صحیح اندازی سره دنوروزنانوپه شان حیض راتله خواوس یوکال نه دهغی حیض بندشویدي اوهغی ته خاوند طلاق ورکړیدي اوس به هغه عدت څنګه تیروی هغی دپاره عدت دمیاشتوپه اندازه دی یادحیض که دمیاشتوپه حساب وي نودری میاشتی عدت دی یازیات اوکه عدت بالحیض دی توسن ایاس (چه کله ناامیدی دحیض راشی) پوری هغی ته انتظارکولي شی یانه کیږودپاره څه ظاهري اسباب په نظر نه راځی بینواتوجروا؟

جواب: درمختاراوردالمحتارباب العدة نه معلومیږي چه دی صورت کي دحنفیانوپه نزد دسن ایاس شروع کیدوپوری حیض ته انتظارضروری دي اودمالیکه په نزدنهه میاشتی دی

اویومعتمدقول موافق دیوکال وخت نه عدت دي اودضرورت په وخت دي قول باندی عمل جائزدی الخ احقرفرمائی چه دیکي دااموردلحاظ لرلوقابل دي (**اول**) ددی علاج دي وکړیشی که علاج سره ښه نه شی نوپه دی دي عمل وکړي څکه چه ضرورت دغه وخت دي (**دویم**) دي قول باندی عمل کولودپاره دقاضی فیصلي ته حاجت دي اومسلمان حاکم اګرکه دکافرانوبادشاه دطرفنه مقرروي قاضی شرعی دی توحکومت کي دي ددی دپاره یودرخواست پیش کړیشي چه یومسلمان حاکم ته دي دي مسئله کي دحکم کولواختیار ورکړیشی بیاهغه مسلمان حاکم دي ددي فتوي موافق په دي ښځه عدت تیرکړي بیادي ورته ددویم نکاح کولواجازت ورکړي داسي عمل دي وکړي (**دریم**) که ددی قول موافق یې عدت شروع کړواودکال ختمیدونه وارندي داتفاقاً حیض جاري شونوبیا به عدت حیض نه حسابیږي والله اعلم . ۹ ذی قعده ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۷۵ ج ۲)

سوال: (۵۸۹) څه فرمائی علماء دین دي مسئله کي چه دزیدنکاح دهندي سره شوي وه اوکوم وخت چه شوي وه هغه وخت هنده نابالغه وه اوکله چه هنده بالغه شوه نوزید سره خوشحاله نه ده اوبیغل توب کي دزیدسره اوسیده خواوس دوه دوه نیم کالونه یي زید سره کوروالی پریخودي دي دهغی وروستوچه دوه هفتي به یې کیږي چه زیددسرو مخکي دبی اتفاقی دوجه نه په یووخت کي په یوه جلسه کي پدي شان سره طلاق ورکړو چه زه ستانه خوشحاله نه یم اوته زمادمرضی نه خلاف په بدوکارونوکي لګیایي په دی وجه ماتانه طلاق درکړو اودالفظ یې دغه کي دري خله ووئیلونوداسي حالت دحنفیانوپه نزد اوشریانه اوس هنده غواړي چه بل چاسره نکاح وکړي نواوفرمائي چه هنده دبل کس سره څومره موده وروستونکاح کولي شی عدت تیریدونه وروستویادطلاق کیدونه فوراً وروستوکولی شی اودامام ابوحنیفه رحمه الله په نزدعدت څومره موده تیریدوباندي ختمیږی که عدت دري حیضه تیریدوباندی ختمیږی نوکومي زنانې ته چه حیض نه راځی نودهغی دعدت به څه رنګه حساب کولي شي څنګه چه هندي هم داسي دلوردپیداکیدو دوجه نه یې حیض نه راځي اودزنانونه معلومات کړي شویدي نودابنکاره شویده چه څوپوری هلک پي نه وي پریخودي یعنی دووکالوپوري زنانه ته حیض نه راځي اوکومه لورچه دهندی شویده دادبل سړي نه ده کوم سره چه اوس نکاح کول غواړي نوداسي حالت کي به هم دعدت خیال ساتلی شی یانه که دعدت خیال به ساتلی کیږي نودکوم تاریخ نه کوم تاریخ پوري ؟

جواب: هر کله چه هنده بالغه شوه اوزید سره خوشحاله نه وه نو که دهندي نکاح دهغې پلار یانیکه کړی وي نو دیته دفسخ کولو اختیارنشته بلکه نکاح به باقي وي بیا هر کله چه زید دري طلاقه ورکړل نو طلاق واقع شو او مغلظه شوه او دهغې عدت دطلاق نه دري حیضه دي برابره خبره ده چه هر څوورځو کې پوره شول ځکه چه هغه نه نا امیده نه ده یو عارض دوجه نه بند دي ځو پورې چه دحیض نه امیدي نه وه شوي نو هغه پوري عدت حیض سره معتبر دي نو دریو حیضونو تیریدو نه پس بل چاسره نکاح جائزده برابره خبره ده دچانه چه یې لور پیدا شوي هغه سره کول غواړي یا بل چاسره خو عدت پوره کیدو نه مخکې جائزنه ده او که دهندي نکاح دهغې پلار نیکه نه وي کړي چا بل چا کړي وي نو دبالغیدو نه وروستو دیته دفسخ کولو اختیار شته نو که بالغیدو سره دي او وئیل چه زه رضانه یم - نو نکاح (۱)ماته شوه او فسخ طلاق نه دي نو دنکاح ماتیدو نه وروستو زید اجنبي شو - دهغه طلاقونه نه واقع کیږي او نه په هغې عدت لازم دي چاسره چه غواړي نکاح دي وکړي او که بالغیدو سره یې اونه وئیل بلکه هغه وخت چپ پاتي شوه او بیا یې چه زه رضانه یم نو که زید هندی سره دبالغیدو نه مخکې کوروالی نه وي کړي نو بیا خو نفس سکوت سره نکاح لازم شوه. دي صورت کې هم دزید طلاق واقع کیږي او عدت لازم دي. او دبالغیدو نه مخکې دکوروالی اتفاق شوي وي نو بیا نفس سکوت سره نکاح نه لازمیږي ځو پوري چه د رضا تصریح یې نه وي کړي که ژبې سره کوي یا دلالت حال سره او هر کله چه ناراضګی بیان کړي نو نکاح فسخ (۲) شوه او اوس عدت ضرورت نشته حاصل دا چه په کومو صورتونو کې نکاح لازم شویده په هغې کې دزید طلاق واقع کیږي او عدت لازمیږي او په کومو صورتونو کې چه نکاح فسخ شوه په هغې کې نه طلاق واقع کیږي نه عدت لازمیږي. ,زوجهـا الاب او الجد فلاخيار لهما بعد بلوغهما وان زوجهما غيرالاب والجد فكل واحد منهما الخيار اذابلغ ان شاء اقام على النكاح وان شاء فسخ ثم عندهما اذابلغت الصغيرة وقد علمت بالنكاح فسكتت فهو رضا وان لم تعلم بالنكاح فلها الخيار حتى تعلم فتسكت ثم خيار البكر يبطل بالسكوت ولايبطل خيار الغلام مالم يقل رضيت او يجئ منه مايعلم ان رضا وكذلک الجارية اذادخل بها الزوج قبل البلوغ ثم الفرقة بخيار البلوغ ليس بطلاق -هداية

(۱) دیکي دا هم شرط دي چه ددې ویناته وروستو مسلمان قاضی په وړاندي خپله دعوی وکړي او هغه فسخ وکړي ۱۲منه۔

(۲) یعنی په شرط دفیصلی دقاضي ۱۲منه۔

صـ۲۹۷ج/۱، وطلاق وكان عاصيا- هداية صـ۳۳۵ج/۱، وقال الله تعالىٰ والمطلقات يتربصن بانفسهن ثلثة قروء الآية ولورأت ثلاثة وماثم انقطع فعدتها بالحيض وان طال الىٰ ان ايست كذافي العناية عالمگیری صـ۵۴۳ج/۲، والله اعلم ۹جمادی الاول/۱۲۰۱ھ امداد صـ۱۱ج/۲۔

سوال: (۵۹۰) درامدادالفتاوی صـ۳۲ج/۲ درمسئله عورت ممتدة الطهر بوقت ضرورت برقول امام مالک فتویٰ داده اند مگر قضاقاضی برعمل این مسئله شرط فرمودند سند کدام نه آورند درتمام کتب فقه موجوده این شرط غیرموجوداست اغلب که جناب اقدس سره قیاس برمسئله مفقود فرموده باشند پس قیاس احتمال مایان غیرمقبول است چناچه درتصانیف خود جناب مدظله .تصریح فرموده اند که قیاس مایان مقبول است خصوصاً اتحاد علت نیست که موت امرمتحمل است الحاق قضاقاضی دران ضروری باشد بخلاف مانحن فيه یا قاعده کلیه ازکدام کتاب فقه بیان فرمایند که درعمل برمذهب غیربوقت ضرورت قضاقاضی شرط ست یادرخاص صور، دونه خرط القتاد؟

جواب: دقاضي دقضا شرط دقواعد کلیه نه لګولی شویدی او دا قیاس نه دي چه ایجاد ول دمسئلې نه دي بلکه دمذهب دقواعدو مقرره نه کاراخستی شویدی او دا هم ښکاره ده او نه عمل بمذهب الغیر یتصرف فی مذهب الغیر دی ځکه چه مذهب غیرپه خپل حال پریخودولو سره په هغې عمل کولو دپاره دا شرط لګولی دي لکه څنګه چه زمونږ دمذهب دا مسئله ده چه سخت ضرورت کې دبل چا په مذهب باندی عمل جائزدي او مذهب غیر کې په هغه مذهب باندی دعمل کولو دا شرط نشته بلکه علی الاطلاق عمل جائزګرځولی شویدی نو آیا دی شرط ضرورت نه عمل بمذهب الغیر یتصرف فی مذهب الغیر، او تلقین وئیلی کیدلیشي هر ګزنه نو دغه شان دا مسئله متناع فیه هم ده ! اوس تفصیل دپاره څه نمونې لیکم چه په هغې کې قضاء دقاضي تقویت دپاره شرط کړې شویده او دلته هم دتقویت حاجت دي ځکه حق په شرع کې ثابت نه وي دهغې ختمول په یو قوي دلیل سره کیدیشي یعنی کوم مذهب چه مونږ خطا ګنړو او دضرورت دوجه نه په هغې عمل او شو او دی عمل کې دغیر دحق ضائع کیدل دي پيدي وجه دغیر دحق ختمولو دپاره دیو قوي مقتضی کیدل لازم دي. في الدرالمختار فى باب الهبة ولايصح الرجوع الابتراضيهما اوبحكم الحاكم للاختلاف فيه (يعني بين المجتهدين) اوكفايه كې راغليدي، لان الرجوع فسخ العقد فلايصح الا ممن لــه ولايــة عامــة

هوالقاضی اومنهماالولایتهماعلی انفسهما کالردبالعیب بعدالقبض اھ- وفی الهدایة لانه مختلف بین العماء وفی اصله وھاء وفی حصول المقصودوعدمه خفاء الخ – اودلته کتابونه هم لړدي اووخت هم لړدي که مناسب وي نوالاشباه والنظائراوګوري امیددي په هغی کې داقاعده ملاؤشی چه مذهب غیرباندي دعمل کولوشرط قضاء قاضی ده چه کوم صورت کې دي عمل سره الزام علی الغیرورفع حق غیرراځي والله اعلم ۳۰رجب ۱۳۳۵ھ (ترجیح خامس ص ۲۰)

اقل مدت حائضه درعدت طلاق

سوال:(۵۹۱)ماقولکم اندرین که زن مطلقه بزبان خودمی ګوید که مدت حیض متعادش سه روزست دمدت طهرمتعادش پانزده پس بعدانقضائ عدت اوکه سی ونه شبانه روز باشدنکاحش درست است یانه وشهادت شاهدان مخالفش باطل است یاچه ؟

جواب:درباب انقضائ عدت قول معتده معتبراست بشرطیکه مدت محتمل عدت باشد - قال الله تعالیٰ ولایحل لهن ان یکتمن ماخلق الله فی ارحامهن – فی المظهروفیه دلیل علی ان قولهامقبول فی ذلک اھ– وفی الدرالمختارقالت مضت عدتی والمدة تحتمله وکذبهاالزوج قبل قولهامع حلفهاوالا لا اھ- ودراقل مدت عدت حائضه اختلاف است نزدامام ابوحنیفه رحمه الله شصت روزاست ونزدصاحبین رحمهما الله سی ونه روزمذکورسوال است –فی الدرالمختار - اقلهاللحرة ستون یوماومافی ردالمختار– وعندهمااقل مدة تصدق فیهاالحرة تسعة وثلاثون یوما– والله اعلم (امداد ص ۷۷ج۲)

تصدیق مخبره بانقضائ عدت بشرط شهادت قلب

سوال:(۵۹۲)درمختارشامی بزازیه قاضی خان وغیره ټولوکتابونوکې راغلیدي المطلقة المعتدة اذاقالت انقضت عدتی تصدق ویجوزبهاالنکاح – ددینه ښکاره کیږي دهغی حال معلومول چه څومره ورځوپوری تاته حیض راځي اوڅومره ورځي دطهردي اودحیض څومره رنګونه دي وغیره وغیره ضروري نه دي بغیرددی معلوماتونه اوسوال وینا سره نکاح جائزده ونصه هذاومن ذلک ماهملوه من سوال المعتدة اذاارادت النکاح ومباحثهاعن انقضاء العدة بمایفهم به احکامهامن التفصیل وتعیین الاقراء ونحوذلک من شروط الحیضة فی عدة فینبغی الاجتهادفی ذلک جهلاکثیرابل جهله کثیرممن یظن به علم ویری لنفسه حظاوتقدماوقدعاینت بعض

الجهلة من الموثقین یستغنی عن سوال المراة جملة اذاهو وجد التاریخ للطلاق شهرین فصاعداواتخذالیوم هذا المقدارمن المدة کثیرمن النساء والرجال اصلافی اکمال عدة الطلاق ومالدری کیف هذالغلط القبیح انتهی (ص ۸۸ مطبع مصر)

جواب:دداړوعبارتونوکې څه تعارض نشته ځکه چه وروستنی عبارت کې داقیدهم ثابت دي چه کان اکبررایه ان قولهاحق بعدالتحری لکه څنګه چه هدایه کتاب الکراهة فصل البیع کې هم دغه شان مسئله ده اوپه هغی کې ددی قیدتصریح ده اوهغه داده .ولوان امرأة اخبرهاثقة ان زوجهاالغالب مات عنهاالی قوله الاان اکبررایهاان حق یعنی بعد التحری فلاباس به بان تعتدثم تزوج ددینه پس بیې هم دغه سوال والامسئله نقل کړیده ، وکذالوقالت لرجل طلقنی زوجی وانقضت عدتی فلاباس ان یتزوجها ،دی باندی بیې په غایة البیان کې لیکلی دي .اذاغلب علی ظنه صدقا- ددینه وروستوبیې یوه بله مسئله داخبارعن الحلاله لیکلی ده په هغی باندی په کفایه کې بیې لیکلی دي ، ای اذاکانت ثقة اووقع فی قلبه انهاصادقة- اومعین الحکام کې ددی قیدشرح اوتفصیل دي ځکه چه غلبه دظن اوریښتیادزنانې اوشهادت دزړه هغه وخت حاصلیږي چه کله دامحقق شی چه زمانه دااحکام ضروریه پیژنی کنی ضروریه دهغی په صدق شک راتله نودمعین الحکام دشکایت حاصل آداشوچه خلق دظن صدق مخبره خیال نه ساتی ۱۴ذی قعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۸۲)

دنوی مسلمانی شوي عدت

سوال:(۵۹۳)څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کې چه یوسړي یوه کافره زنانه مسلمانه کړه اودعدت پوره کیدونه مخکې بیې ورسره نکاح وکړه چه دهغی یونیم کال اوشواوتراوسه دهغی زنانی بچی نه دي شوي اوس هغه ته معلومه شویده چه دانکاح صحیح نه ده شوي .آیادااوس عدت پوره کړي اوبیاورسره نکاح وکړي که عدت پوره کوي څومره ورځی عدت به وي ؟

جواب: دری حیضونه وروستوخودکافرخاوندنکاح فسخ شوه اودهغی نه وروستوبه دری حیضه عدت تیروي هغی نه وروستومسلمان سړي سره نکاح صحیح ده نوکه داسلام رواړودورځی نه شپږحیضه تیرشوي وي نواوس دي نکاح تازه کړي ۲۱جمادی الثانی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۱۳۵)

استفتاء یوسوال اوجواب دتحقیق په غرض درلیږم چه داصحیح دي که غلط!

سوال:(۵۹۴) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کښ چه یوه زنانه کافره چه امیدوالانه وه دخپل کافرخاوندنه ډیره موده جدااوسیده اونوکري یي کوله خپل وخت یي تیرولواوتراوسه پوري امیدواره نه ده اودی دومره موده کښ ظاهراً ددینه دزانیه کیدوڅه ثبوت نشته یعنی زناکاره نه ده دهغی نه وروستویي اسلام قبول کړاودیو مسلمان په نکاح کښ راغله نوداسی حالت کښ دعدت ضرورت شته یانه ؟

الجواب خلاف الصواب من بعض مدرسی مدرسة فیض الغرباني اره

دی صورت کښ دنکاح په جائزکیدوکښ څه شک نشته اودعدت ضرورت هرګزنشته ځکه چه دابي خاونده ښځه وه اوکه ددی زانیه کیدل ثابت هم وي بیاهم دعدت ضرورت نه وه ،عمدةالرعایه حاشیه شرح الوقایه په صـ ۱۷ کښ راغلیدی یصح نکاح الزانیة الغیرالحاملة الخ ،یعنی زانیی غیرحاملی نکاح صحیح دي اودعدت ضرورت نشته هدایه صـ ۲۹۲/ کښ راغلیدی کذااذامرأة تزنی الخ یعنی که یوه ښځه په زنااووینی اوهغی سره نکاح وکړي نوکوروالی ورسره جائزدي دعدت ضرورت نشته مسئله واضحه ده دتفصیل ضرورت نشته کتبه حنفی قادری مدرس اول مدرسه فیض العرباآره!

الجواب من صاحب الفتاویٰ مع الردعلی الجواب الاول

فی الهدایة واذااسلمت المرأة وزوجهاکافر عرض القاضی علیه الاسلام فان اسلم فهی امرأتـــه وان ابی فرق بینهماوکان ذلک طلاقاعندابی حنیفةؒ ومحمدؒ وفیهاواذا سلمت المـرأة فی دارالحرب وزوجهاکافراواسلم الحربی وتحته مجوسیة لم یقع الفرقة علیهاحتیٰ تحیض ثلث حیض ثم تبین من زوجهاج۱صـ ۳۲۲/دی روایت کښ تصریح ده چه کافری ښځی ته چه قاضی اسلام پیش کړي اودادارالسلام کښ طلاق نه وروستو دعدت واجبیدل ښکاره دي اودارالکفرکښ داسلام راوړلونه وروستوچه دری حیضه تیرکړي نودابائنه شوه اوبینونت نه وروستوعدت واجب دي بهرحال دواړوصوروتونوکښ حالت کفرشوه څوکه چرته داسلام راوړلوموقع دارالسلام وي نوبیاخونکاح ماتیدوکښ داهم شرط دي چه خاوندباندی به هم قاضی اسلام پیش کوي اوهرکله چه هغه انکار وکړي نوهله به نکاح ماتیږي اوکه داموقع دارالکفروي

نواسلام رواړولونه وروستوچه دري حیضه تیرشی نوهله به نکاح ماتیږي نودرومبی صورت کښ دخاوندانکارکولونه وروستوعدت واجب دي اودویم صورت کښ دبینونت نه پس عدت واجب دي نواسلام راوړلوسره بغیرد پوره کولودعدت نه نکاح کول په هیڅ حال کښ جائزنه دي داذکرشوي روایت ددی صفادلیل دي اودی عبارتونه سره چه یصح نکاح الزانیة الغیرالحاملة الخ اوکذا اذارائ تزنی الخ ا دومره ثابتیږي چه په خپله زناموجباتودعدت نه نه ده داکوم ځای نه ثابت شول چه که نورموجبات دعدت اوموندلی شی نوصرف زانیه نه کیدل هم دعدت دموجباتواثرباطلوی کنی دي سره خودالازمیږي چه یوی طلاقی کړي شوي باندی هم چه کله هغه زناکاره نه وي عدت واجب نه دي اویوي ښځی خاوندوفات شوي وي په هغی باندی هم چه کله هغه زناکاره نه وي عدت واجب نه دي ،آیاددی قائل څوک کیدیشی اوکه ددی قائل وي نودهغه قول مقبول ګرځیدیشی! اشرف علی ۸ جمادی الاول/ ۱۳۳۲ھ

الصحیح هوالثانی من الجوابین	الجواب الثانی صحیح	الجواب الثانی صحیح
عبدالصمدعفی عنه اسلام آبادی	محمدمظهرعفی عنه مدرس مدرسه عالیه کلکته	محمدرشیدعفی عنه مدرس مدرسه عالیه کلکته
الجواب الثانی صحیح	مااجاب به مولانااشرف علی فهوصحیح	وجواب الاوی غلط
زاهدحسین مدرس مدرسه عالیه کلکته	مدرس سعادت حسین عفی عنه مدرس مدرسه عالیه کلکته	محمدیحیٰ عفی عنه مدرس مدرسه عالیه کلکته
الجواب الثانی هوالصحیح	الجواب الثانی صحیح	الجواب الثانی ویطبق بالسوال
محمدسهول غفرله مدرس مدرسه عالیه کلکته	محمدقاسم مدرس عالیه کلکته	مدرسه محمداسماعیل عفی عنه
الجواب الثانی صحیح	الجواب الثانی صحیح	الجواب الثانی صحیح
محمداسحق عفی عنه مدرسه عالیه کلکته	سیدوصی الدین مدرس مدرسه عالیه کلکته	مقبول حسین عفی عنه امام مرعی هټه کلکته

الجواب الاول الذی اجاب به المولوی .... بخش فهومردودوغیرصحیح واناتجعب علی فهمه وتفقهه فانه مع انه مدرس وکیف لایفهم هذه العبارة الفقهیة واما اجاب به مولانااشرف علی فهوصحیح موافق للکتب الفقهیة- عبدالاحدعفاعنه ادریهنګوری

محمدپوری؛ دجناب مولانااشرف علی صاحب جواب صحیح جواب صحیح دي. وروستی جواب ورکونکي باندی ماته ډیره حیرانتیااوشوه چه کوم عبارت هغه په خپل استدلال کښي نقل کړیدي دهغې دي سوال سره څه تعلق ؟محمدعبدالغنی اصلح الله حاله دربهنګوی رسولپوری؛

الجواب الثانی صحیح **الجواب صحیح**

عبدالعزیزعفی عن مدرس مدرسه رمضانیه کلکته

دفقهاؤ کرامو دعبارتونو نه ددی دویم جواب قوت ثابتیږي ابوالخیرعبدالوهاب بهادری عفی عنه الباری

الجواب من المفسرالحقانی وفیه بعض التفصیل الضروری

که چرته دغه ښځه دی خاوندپریخوده اودی اوږدي مودی پوري که چرته ددوي په نزدعدت اوطلاق هرڅه اوشول نو اسلام راوړلونه وروستو دریو حیضو عدت څه ضروري نه دي ځکه چه داسلام په اول کښي داسی زنانه ډیری راغلیدي چه دکفرپه حالت کښي دهغوی خپلوخاوندانو عدت اوطلاق هرڅه شوي وه مسلمانیدو وروستو ورسره صحابوﷺ نکاح کړي وه خودری حیضه عدت تیرول ثابت نه دي که چرته داطلاق هم نه وي ورکړي اوپریخودي هم نه وي اوعدت يې هم نه وي تیرکړي نودري حیضه عدت تیرول پکاردي.

ابومحمدعبدالحق؛

بیادهغه سائل داخط راغی

حضرت سیدی ومرشدي دامت برکاتهم ،اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛ فتوی باندی چه جناب مولوی عبدالحق کوم جواب لیکلی دي حضرت اقدس صاحب په خدمت کښي کتلودپاره لیږم؛ سوال(۱) داخبره معلوموګل غواړوچه آیاهغه چه دخپل خاوندنه دومره ډیره موده جدااوسیده لکه څنګه چه سوال کښي لیکلی شویدی داتفریق شرعاً معتبردی ؟سوال (۲) که چرته دی خاوند طلاق ورکړي وي اوعدت هم تیرشوي وي نوآیاڅه رنګه چه دکافرانونکاح شرعاً معتبرده نودغه شان دکافران طلاق اوعدت هم شرعاً معتبردي یانه؟ جواب دسوال(۱) معتبردي که چرته دهغوی دطلاق اودعدت احکام اوقواعداودهغی وقوع محقق شی اوصرف قرائن اوروایتونه غیرمحققه معتبرنه دي؛ ۱۴جمادی الثانی/ ۱۳۳۲ھ؛

بیادډی سائل خط راغی

حضرت سیدی مرشدی دامت برکاتهم اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته؛ جناب مولوی صاحب عبدالروف فتوی دحضرت اقدس په خدمت کتلودپاره لیږم که چرته څه لیکل وي نودی فتوی باندی ولیکی؛

دهغی فتوی نقل

دی صورت کښي چه ډیری مودی پوری اوسیدل ذکرشویدي دی موده کښي دهغوی قاعدي سره طلاق اوعدت محقق شی نواوس دعدت څه ضرورت نشته خوکه دضرردفع کولو دپاره اګرچه دعذردوجه نه بغیرد قضاد قاضی وي ضروري دي اوددی تفریق حکم دامام ابوحنیفه ﷺ اودامام محمد ﷺ په نزدباندی طلاق دي .اودامام ابویوسف ﷺ په نزدباندی فسخ دي. اوکه چرته یو مسلمان دي سره دعدت پوره کیدونه مخکښي نکاح وکړه نودانکاح صحیح ده خودمفتی به قول مطابق درحم صفائی دپاره ترعدت ورخوپوري وطی کول صحیح نه دي جامع الرموزکښي راځی واتفق المشائخ علی جوازالنکاح المعتدة عن کافرالاان بعضهم قالوا ان العدة واجبة وبعضهم قالوا انهاغیرواجبة وهوالاصح کما فی الکرمانی وفیه اشارة الیٰ انهالوکانت فی عدة مسلم فسدالنکاح وذابالاجماع خودشامی عبارت دادی ،تنبیه قال فی النهرقیدالمصنف بکون المتزوج کافراً لان المسلم لوتزوج ذمية فی عدة کافرذکربعض المشائخ انه یجوزولایباح له وطؤهاحتیٰ یستبرئها عنده وقالاالنکاح باطل کذافی الخانیة والقول وینبغی ان لایختلف فی وجوبهابالنسبة الیٰ المسلم لانه یعتقدوجوبهاالاتریٰ ان القول بعدم وجوبهافی حق الکافر مقیدبکونهم لایدینونهاوبکونه جائزاعندهم لانه لولم یکن جائزاً بان اعتقدواوجوبهایفرق اجماعاً قال فی الفتح فلزم فی المهاجرة وجوب العدة ان کانوا یعتقدونه لان المضاف الیٰ تباین الدارالفرقة لانفی اه قلت قوله وینبغی اخ قدیقال فیه انه مما لاینبغی لماعرمن ان العدة انماتجب حقاللزوج ای الذی طلقها ولاتجب له بدون اعتقاده ولماقدمناایضاً عن ابن کمال من اعتبار دین الزوج خاصة وکذاقدمناه من ترجیح القول بانه لاعدة من الکافرعند الامام اصلاتامل — انتهیٰ؛ حرره الراجی الیٰ رحمة رب القویٰ ابوالبرکات عبدالروف عفا عنه قادری داناپوری؛

الجواب من صاحب الفتویٰ

ورومبی خودي کلام دي چه ددی اسلام متکلم فیه موقع دارالاسلام ده یانه بیاکه موقع دغیردارالاسلام وي نودعدت واجبیدوقول راجح دي اوکه نه واجبیدوخوکه چرته څوک داغیردارالاسلام هم اومنی اونه واجبیدودعدت والاقوله ته هم ترجیح مطابق حائضی دپاره دری حیضه اوغیرحائضی دپاره دری میاشتی تیریدل اوحاملی دپاره وضع دحمل شرط ده نوکه داخاوندنه په دي طریقی طلاقه کړي شوي نه وي اوداسی حالت کې یې اسلام راوړي وي نوکه چرته عدت دپاره دری حیضه یاهغه چه دوی قائم مقام دي تیریدل شرط نه وي نوبینونت دپاره خوشرط دي نومطلقادي نوي مسلماني شوي زناني سره دنکاح صحیح کیدوحکم ورکول داخوصحیح نه دي نوجواب اخیرکې عبارات نافعیه للعدة سره دنکاح صحیح کیدل علی الفور لازم نه راځی. فی الدرالمختارولواسلم احدهماثمه ای فی دارالحرب لم تبن حتیٰ تحیض ثلثاوتبن حتیٰ ثلثة اشهرالیٰ قوله ولیست بعدة لدخول غیرالمدخول بها- فی ردالمحتارقوله لم کانت لاتحیض افاده بتوقف البینونة علی الحیض الخ قوله اوتمضی ثلثة اشهرای ان القهستانی قوله ولیست بعدة وهل تجب العدة بعدمضی هذه المدة فان کانت المرأة حربیة فلا لانه لاعدة لعلی الحربیة وان کانت هی المسلمة فتمت الحیض هنافکذالک عندابی حنیفة رحمه الله خلافالهمالان المهاجرة لاعدة علیهاعنده خلافالهماعلی اختیارقولهما ج۲ص ۲۴۰-۲۴۱ مصریه قلت انظر الی قوله فتمت الحیض والی قوله جزم الطحاوی

فایده- فی ردالمختارعن الهدایه والمضرات وغیرهماان الخروج (مهاجرة) لیس بشرط لانهم قالوالواسلمت فی دارالحرب ومضی ثلث حیض بانت منه ولاعدة عنده خلافالهما قهستانی.ج۲/ص۱۰۱۱/مصریه/ دفع ومافی ردالمختار .فلوتزوجها مسلم اوذمی فی فور طلاقهاجازلو ذمیة طلقهاذمی اومات عنهااذاعتقدوذالک کمافی الدرالمختار ج۲/ص۱۰۱۰/والله واعلم.۹رجب/۱۳۳۲هـ (تتمه ثانیه / ص ۱۴۰)

سوال:(۵۹۵)فی الهدایة، واذااسلمت المرءة وزوجهاکافرعرض علیه الاسلام فان اسلم فهی امرأته وان ابی فرق القاضی فی بینهماوکان ذلک طلاقاعندابی حنیفة رحمه الله ومحمد رحمه الله اه.وفی فتح القدیروکان ذلک یعنی تفریق القاضی عنداباء الزوج اه.وفی الکنزواذااسلم احدالزوجین

عرض الاسلام علی الاخرفان اسلم والافرق بنیهما وفی البحرالرائق قوله بینهمای القاضی بینهماولووقع بمجرداباءه ولم یحتج الی تفریق القاضی وللذاقالواماام یفرق القاضی بنیهمافهی امرأته حتیٰ یجب کمال المهرقابموته قبل الدخول وکذافی ردالمختاروعالمگیریة وشرح الوقایة وغیرها.

دفقی عامو کتابونو نه معلومیږی چه دیوهندوښځه چه دهغی خاوندموجودوی اودامسلمانه شی نوکه څوک ورسره نکاح کوی نوهغه نکاح دوؤشرطونوسره صحیح کیدیشی یوداچه دهغی په خاوندا سلام پیش کړیشی اوهغه داسلام نه انکاروکړی دویم داچه دانکارکولونه وروستوشرعی قاضی ددوي په مینځ کې جداوالی راولی که دادواړه شرطونه اونه موندل شول نودانکاح بل چاسره صحیح نه ده اوس دی لاندینومسئلوپه باره کې تپوس کول غواړو(۱)که یوملک کې شرعی قاضی موجودنه وی نودجداوالی څه صورت کیدیشی(۲) که یومسلمان دیوهندوښځی سره په رضامندي یاپه زوره دهغی دخاوندپه موجودګی کې بغیردموجودیدوددی دوؤ شرطونونه نکاح وکړی نودانکاح ناجائزه اودی سره وطی حرامه ده یانه بینواتوجروا؟

جواب: داشرط دپیش کولوداسلام په بنیادونوکې دی دلته داسلام راوړلونه پس چه یې کله دری حیضه راشی نودابائنه شوه.فی الدرالمختارولواسلم احدهمای احدالمجوسین وامرأة الکتابی ثمه ای فی درالحرب وملحق بهاکالبحرالملح لم تبن حتیٰ تحیض ثلثاً اوتمضی ثلثة اشهرقبل اسلام الاخراقامة لشرط الفرقة مقام السبب ولیست بعدة لدخول غیرالمدخول بها -باب النکاح الکافر.نوورومبی کې چه کله دری حیضه تیرشی نوورومبی نکاح ماته شوه اوچه دوی دری حیضه نورتیرشی نوبیادی نکاح مسلمان سره صحیح ده لمامرمن الدرالمختارولیست بعدة وفی ردالمحتاروهل تجب العدة بعدمضی هذه المدة الیٰ قوله وحرم الطحاوی بوجوبها ج۲ص ۲۴۱ نه خوددی نه مخکې جائزده اونه دقاضی په جداوالی موقوف ده. اودویم سوال کې هم دغه شان ددری حیضونونه پس جائزده هغی نه مخکې جائزنه ده. فی الدرالمختارباب الاکراه وصح نکاحه وطلاقه الیٰ قوله واسلامه ولوذمیاًکماهواطلاق کثیرمن المشائخ ومافی الخانیة من التفصیل فقیاس والاستحسان صحة مطلقاً فلیحفظ بلاقتل ولورجع للشبهة کمامرفی باب المرتد.۲ ۸جمادی الاول ۱۳۲۹ھ(تتمه اولیٰ/ص ۹۱)

سوال :(۵۹۶)هنده چه دهندوانودلوي ذات نه وه مسلمانه شوه.......... خان هغې سره نکاح کول غواړي نوددې هندووې ښځې هندې عدت پوره کول ضروري نه دی ؟

جواب : که دې ته حیض راځي نودرې حیضه او که دغه وجه نه راځي نودریومیاشتوتیریدونه وروستوددې نکاح دورمبي خاوند سره ماته شوه اوس ددې نکاح ماتیدونه وروستوبیاهم عدت لازم دی فی الدر المختار ولو اسلم احدهما ثمه لم تبن حتی تحیض ثلاثا او تمضی ثلثة اشهر قبل اسلام الاخر وفی رد المحتار وهل تجب العدة بعد مضی هذه المدة الخ والله تعالیٰ اعلم ۲۳ ربیع الاول/ ۱۳۲۴ھ امداد ۲/ صـ ۳۰

عدت زنی که شوهرش درسفروفات یافته

سوال :(۵۹۷)زید درتول نه خپلې ښځې سره روان شو دروزګارتلاش دپاره انبالې ته لاړو او هلته ښځه یې امیداوره شوه اودزید خسراوخواښې ددیرخت نه هلته انباله ښارکې ملازمان دی دغه ځای کې سره دخپلې ښځې نه اوسیده شپږمیاشتې اوشوې چه دواړه هلته اوسیدل یعنې خپلې خسرکره کوم چه ددیرخت نه ملازم دی ځودزید خواښې دزید سره یوځای تلې نه ده اوس لس ورځې وشوې چه زید په انباله کې دخپل خسرپه کورکې وفات شو اوس دزیدښځه عدت دخپل پلاریعنې انباله کې تیرکړې که خپل خاوندکورته راشي یعنې رتول کې دتیرکړې جواب مرحمت اوفرمائې؟

جواب : فی الهدایة وعلی المعتدة ان تعتد فی المنزل الذی یضاف الیها بالسکنیٰ حال وقوع الفرقة والموت واذاخرجت المرأة مع زوجها الی مکة فطلقها ثلثا او مات عنها فی غیر مصر فان کان بینها وبین مصرها اقل من ثلثة ایام رجعت الیٰ مصرها وان کانت مسیرة ثلثة ایام ان شاءت رجعت وان شاءت مضت الاان یکون طلقها اومات عنها زوجها فی مصرفانها لاتخرج حتی تعتد ثم تخرج مع محرم وقال ابویوسف رحمه الله ومحمد رحمه الله ان کان معها محرم فلاباس بان تخرج من المصر قبل ان تعتد صـ ۴۰۹ ج ۲/ دی روایت نه معلومه شوه چه دی صورت کې دیته په انباله کې دخپل پلارپه کورکې عدت تیرول واجب دی البته که پلارېې دهغه ځای نه راشي نو دیته هم راتلل جائزدی ۷ شوال ۱۳۳۲ھ تتمه ثانیه صـ ۱۷۳

حکم گزاردن عدت درمکان زوج وقتیکه وفات زوج درمکان برادراوشده

سوال :(۵۹۸)زیداوعمرودواړه سکه وروڼه په یوکلي کې اوسي ددواړودځایونوفاصله تقریباً دنیم میل نه کمه ده. زید دبیماری دوجه نه دعمروکورته راغلی وه زید سره خپله بی بی هم وه. دغه ځای کې دوروریه کورکې زیدوفات شو اوس دزیدښځه به عدت دعمروپه کورکې تیروي اوکه نه دخپل خاوندکورته به ځي اوهلته به عدت پوره کوي؟

جواب : فی الدرالمختار طلقت اومات وهی زائرة فی غیرمسکنها عادت الیه وجوبه علیها وتعتدان ای معتدة طلاق وموت فی بیت وجبت فیه الخ. وفی ردالمختار قوله فی بیت وجبت فیه هومایضاف الیها بالسکنیٰ قبل الفرقة ولوغیربیت الزوج الخ ج ۲ صـ ۱۰۲۲ دی روایت نه ثابته شوه چه دزیدبي بي ته فوراً دخپل خاوندکورته واپس تلل پکاردي اوهلته کې عدت پوره کول پکاردي ۳۰ شعبان/ ۳۳ھ تتمه ثانیه صـ ۲۸

حکم خروج درعدت ازخوف شرعی

سوال :(۵۹۹)یوه کونده ښځه یومکان کې اوسي اوپه هغې کې پیریان دي که داعدت پوره کیدونه مخکې دپیریانودویرې نه دامکان پریږدي اوبل مکان کې اوسیدل اختیارکړي جائزدي یانه؟

جواب : فی الدرالمختار الاان تخرج اوینهدم المنزل اوتخاف انهدمه اوتلف مالها اولا تجد کراء البیت ونحوذلک فتخروج لاقرب موضع الیه وفی ردالمختار قوله نحوذلک منه مافی الظهیریة لوخافت باللیل من امرالمیت اوالموت ولااحد معها فلها التحول اوالخوف شدیداً اوالافلاوله فتخروج ای معتدة الوفات کمادل علیه مابعده ط ج ۲/ صـ ۱۰۲۲/ دیته معلومه شوه چه دپیریانوویره ډیره زیاته وي چه دهغې برداشت دې معتدې نه نه کیږي یادهغوی څه ښکاره نقصان وي نوبل مکان ته اوسیدل منتقل کیدل جائزدي اوکه دومره ویره نه وي نوبیاجائزنه دي ۱۸ شوال/ ۱۳۳۳ھ تتمه ثالثه/ صـ ۹۱

بطلان نکاح معتده ووجوب تکمیل عدت سابقه

سوال :(۶۰۰)شخصی درعدت وفات یک زن رابنکاح آورده مجامعت کرده بعده نزد شخصی ازاهل علم رفت واحوال بیانمودپس آن حکم دادکه بعدگزشتن عدت اول تجدید

نکاح بکن آیا این حکم آن اهل علم مطابق شرع است یا نه واگرنه عدت دوم نیز حیض گزارد یعنی اول ثانی عدت که از وطی باشد متداخله باشند یا نه ؟

جواب: وفی الدر المختار وعدت المنکوحة نکاحا فاسداً فلاعدة فی باطل وفی رد المختار فیه انه لافرق بین الفاسد والباطل فی النکاح بخلاف البیع کمافی نکاح الفتح والمنظومة المحبیة لکن فی البحر عن المجتبیٰ کل نکاح اختلف العلماء فی جوازه کالنکاح بلاشهود فالدخول فیه موجب للعدة امانکاح منکوحة الغیر ومعتدته فالدخول فیه لایوجب العدة ان علم انها للغیر الخ قال وتقدم فی باب المهران الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة وثبوت النسب ومثل له فی البحر هناک بالتزوج بلاشهود وتزوج الاختین معاً والاخت فی عدة الاخت ونکاح المعتدة والخامسة فی عدة الرابعة والامة علی الحرة الخ ج۲/ص۹۹۹/ وفی رد المختار واذاوطئت المعتدة بشبهة وجبت عدة اخریٰ وتداخلتا وفی رد المختار عن الدر اعلم ان المرأة اذاوجبت علیها عدتان فاما ان یکون من رجلین اومن واحد ففی الثانی لاشک ان العدتین تداخلتا وفی الاول ان کانتامن جنسین کالمتوفی عنها زوجها اذوطئت بشبهة اومن جنس واحد کالمطلقة اذاتزوجت فی عدتها فوطئها الثانی وفرق بینهما اند اخلتا عندنا الخ ج۲/ص۱۰۰۲ / ازین روایات معلوم شد که این نکاح باطل است که در عدت واقع شد بعد عدت اگر زوجین خواهنده و تجدید نکاح توانند کرد نیز واضح گشت که وجوب عدت در صورت مسئول عنها مختلف فیه است واحوط وجوب ست و نیز هوا ید گشت که هر دو عدت متداخل باشند لیکن عدت وفات حق متوفی است اتمامش بهرحال واجب است وعدت ثانیه مسبب از وطی ثانی ست پس اگر آن زن بغیر واطی ثانی نکاح جدید کند اتمام این ثانی هم واجب خواهد بود اگرچه بتداخل تمام کرده شود واگر باین واطی نکاح جدید کند اتمام ثانی واجب نباشد ۱۹ ذی قعده/ ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه/ص۱۰۳)

سوال: (۶۰۱) یو سړي خپلې بي بي ته په دې شرط طلاق ورکړو چه که ته مهر معاف کړې نو زه به طلاق درکړم ښځې منظور کړه طلاق نامه ولیکلې شوه ددې ښځې نکاح په عدت کې دننه یو جاهل قاضي دبل سړي سره وکړه بعضې خلقو منع هم کړو چه عدت کې دننه نکاح جائزنه ده خو هغه ونه منله هغې ښځې نه دشپږو اوه میاشتو په ګېډه امید دی دهغه سړي چاسره چه یې په عدت دننه نکاح شویده اوس هغه ښځه وایي چه زما نکاح بیا دوباره وتړی نو اوس آیا دبچي پیدا کیدونه مخکې نکاح وکړي یا نه ؟

دجواب ورکوونکې د طرفنه معلومات

(۱) خاوند یو طلاق درکړی وه یادوه یا دری (۲) طلاق نه څو ورځې پس دویمه نکاح وشوه (۳) دې ښځې ته دطلاق ورکولو په وخت کې حیض راتلو یا نه یعنی ددې عدت دحیض نه وه که بل څه نه (۴) اوس ددې دویمې نکاح څومره ورځې شویدي دې معلوماتو باندې جواب موقوف دی۔

اوس ددې معلوماتو جواب

دسوالونو جوابونه ستاسو په خدمت کې درلیږم

(۱) دیو دوو هیڅ ذکرونه شو صرف دا یې وویل چه ما طلاق درکړو او یو داخبره معلومه شوه چه طلاق نامې لیکلو نه ښځلس شل ورځې مخکې هم خاوند داسې ویلی وه چه ما ته پریخودلې یې (۲) یو میاشت وروستو بله نکاح شویده (۳) عدت دحیض نه وه بلکه طلاق نه وروستو یو حیض راغلی هم دی او د دغه حیض نه وروستو یې په ګېډه امید نیولی دی (۴) دویمې نکاح اته میاشتې وشوې فقط۔

جواب: اوس ددې معلوماتو دجواب کتلو نه وروسته د اصل مسئلې جواب دادی چه وضع دحمل باندې به عدت ختمیږي دهغې نه مخکې بله نکاح جائزنه ده اوبل خاوند سره ددې ښځې او سیدل هم جائزنه دی داخو جواب او شو باقي دا چه کله بچي پیداشي دچا به وي داخبره دهغه وخت دخوره ولوده چه کله بچي پیداشي که چرته تپوس کول وي نو تولې پرچې را ولیږئ او تپوس وکړئ ۲۱ رمضان/ ۱۳۳۱ھ۔

دبرنۍ مسئلې متعلق دوباره سوال حضور اقدس جناب مولانا مولوي صاحب دام ظلکم عرض دادی چه ټولې پرچې خدمت کې درلیږو دهغې طلاق کړې شوې ښځې بچي پیدا شویدی اوس دا وښائي چه دا بچي دچا دی چه او اوس ددې ښځې نکاح کله تړل کیدای شي؟

جواب: فی الدر المختار فثبت نسب ولد معتدة الرجعي وان ولدت لا کثر من سنتین مالم تقر بمضی العدة وکانت الولادة رجعة لوفی الاکثر منهما او لتمامها لافی الاقل للشک وان ثبت نسبه کمایثبت بلادعوة احتیاطا فی مبتوتة جاءت به لاقل منهما من وقت الطلاق ولم تقر بمضیها ص۲۸۲/ دې روایت نه معلومه شوه چه دبچي ته به دوروستي خاوند بچي ویلی کیږي او اوس ددې ښځې بله نکاح جائزده ۲۰ رمضان/ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه/ص۷۵)

سوال :(۶۰۲)زید یوی معتدې ښځې ته عدت کې د ننه مهر صحیح کړ او نکاح یې ورسره وکړه او دغې ته د عدت میاشتو پورې جدا وسیده عدت تیریدو نه پس دا ووائې چه زه به بل خاوند اختیاروم نو آیا چه دا ورومبی نکاح ماته کړی او بل خاوند اختیار وی نو اختیار ولی شی یا نه ؟

جواب :(۱) نه شی او سیدی (۲) عدت کې د ننه چه یې کومه نکاح کړیده هغه نکاح خود سارانه شوی هم نه ده که ښځه دې پریږدی بل خای نکاح کوی کولی شی البته دیکې دومره تفصیل دی چه که ده کوروالی نه وی کړی نو عدت هم واجب نه دی کنی بیابه عدت هم تیروی . فی الدرالمختارو یجب مهرالمثل فی نکاح فاسدوهوالذی فقدشرطامن شرائط الصحة کشهود (وفی ردالمختارونکاح المعتدة) الیٰ قوله ولکل واحد منهما فسخه ولوبغیر محضرمن صاحبه دخل بها اولا فی الاصح ویجب العدة الوطء لاالخلوة للطلاق لا للموت من وقت التفریق اومتارکة الزوج الخ ـ وفی ردالمختار فالحق عدم الفرق الی قوله طلق المنکوحة فاسدا الاثاثروجها بلامحلل قال ولم یحک خلافا ج۲/ صـ۷۴ـ تا۷۷۵/ ۵محرم / ۱۳۴۰هـ (تتمه خامسه / صـ ۲۱۱)

سوال :(۶۰۳)د یوې ښځې عدت ختم شویدی اوس ددی دهغې د حمل نخښې ښکاره شویدی بعضې وائې چه دا حمل نه دی بلکه د حیض د بندید و بیماری ده او که چرته حمل واقع کې وی نو دهغه سړی نه دی چا سره چه ددی ښځې نکاح کول مقصود دی اوس دی حالت کې دی سړی سره (چانه دا حمل گڼرلی شی) نکاح کول جائزده یا نه ؟

جواب : فی الهدایة ویثبت نسب ولدالمتوفی عنهازوجها مابین الوفاق وبین السنتین واذااعترفت المعتدة بالقضاء عدتهاثم جاءت بالولدلاقل من ستة اشهر یثبت نسبه وان جاءت به ستة اشهر لم یثبت ـ دی روایت په بنیاد دیکې تفصیل دادی چه کتل پکاردی ددی ښځې چه خاوند یې مړ شویدی دا خبره یې کړیده د څلور میاشتو او لس ورځو نه پس چه زما عدت ختم شو یا یې نه ده کړی که کړی وی نو بالفعل عدت نه به ختم کړی شوی او وئیلی شی خو که د عدت پوره کیدو نه شپږ میاشتې کم کې هلک پیدا شوی نو داسې به و وئیلی شی چه دا هلک دهغه مړی دی او دی بنیاد که چرته دې دویمه نکاح کړی وی نو هغې ته به باطل وئیلی شی البته که عدت پوره کیدو نه شپږ میاشتو نه وروستو بچی پیدا شو نو دا به دهغه مړی نه نه گڼړی او که دې ایله نکاح کړی وی نو دیته به صحیح وئیلی شی او که دا خبره یې نه وی کړی

نو د خاوند د وفات نه دوکاله د ننه دا حمل نه گڼرلی شی او چونکه عدت تیرونکې په حکم د منکوحې کې ده او د منکوحې حمل د خپل خاوند نه گڼرلی شی که په واقع کې د هرچا نه وی په دې وجه چه عدت باقی وی نو ددې حکم اعتبار نه شی کولی چه دا د بل کس حمل دی او که دیکې ددې کنډی نه مراد طلاق کړی شوی ښځه وی نو دوباره سوال کول پکار دی والله اعلم ۴رجب ۱۳۲۵ھ (امداد ۲/ج صـ۴۲)

مرتده باندې عدت

سوال :(۶۰۴) (۱) که د مرتد کیدو د وجه نه نکاح ماته شی نو عدت پری شته یا نه (۲) د ماشومې طلاق کړی شوی جینئ عدت شته یا نه ؟

جواب : (۱) عدت پری شته (۲) که ډیره ماشومه وی چه کوروالی احتمال یې نه وی نو بیا خو عدت نشته او که د کوروالی احتمال یې وی نو هغې کې تفصیل دی چه که هغه د خاوند سره په خلوت کې عدت ناسته وی عدت پری شته کنی نشته . فقط والله . ۲۵شوال ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی صـ۷۲)

خلوت صحیحه او فاسده کې بغیر د کوروالی عدت واجبدل

سوال :(۶۰۵)د یوې جینئ واده یو سړی سره وشو خو خلوت صحیحه یې و نه موندہ یعنی دواړه یو خای په جدا کمره کې اوده نه شول بلکه ددې جینئ چه کوم خپل خپلوان وو دهغوی سره یو خای په یوه کمره کې اوده کیدل او دا سړی هم هغه کمره کې یو طرفته یوازې اوده کیده هغې نه وروستو په بله ورځ معلوم شول چه دا سړی خو نامرده دی د خلقو په وینا سره ده خپلې بی بی ته طلاق ورکړو نو دی صورت کې په دې ښځه باندې عدت لازم دی یا نه خو ک وایې چه خلوت صحیحه و شو او څوک وایې چه خلوت فاسده وشو او څوک وائې چه نه خلوت صحیحه شوی او نه خلوت فاسده ناشناسوچ کې طبیعت غورزیدلی دی که دې ښځې باندې د سړی نامردوالی د وجه نه عدت لازم نه دی نو که یو سړی ته داسې صورت راپیښ شی نو دهغې څه حکم دی بینوا بالکتاب توجروا یوم الحساب ؟

جواب : ورومبی ددې معلومات وکړی چه خلوت شوی یا نه که خلوت شوی وی نو عدت واجب دی اگرچه هغه خلوت د سړی د نامرده کیدو د وجه فاسد وی خو خلوت فاسده کې هم عدت واجب گرځی بقول اصح وفی ردالمحتار ان المذاهب وجوب العدة للخلوة صحیحة اوفاسدة ج۲/ صـ۹۸۲، ۲ جمادی الاول ۱۳۲۸ھ (تتمه اولی / صـ۸۴)

وجوب عدت درتفریق ازنکاح فاسد

سوال :(۶۰۶)دهندی ورومبی نکاح زید سره شوی وه دنکاح نه څوکاله پس زید وفات شواودمړکیدوپه وخت یې یوبچی دپنځومیاشتوپریخودوهندی دزیدپه عدت کې دننه بله نکاح عمروسره وکړه سره دده نه چه عمروته معلومه وه چه زیددمرګ یوه میاشت وشوه اودعدت په مسئله هم پوه وه خودخلقودمجبوره کولودوجه نه یې نکاح وکړه اوهنده دعمروسره بغیردتازه کولودنکاح نه دوه کاله اوسیده دعمرونه یې څه اولادونه شواوس هندی په خپله دعمرونه دطلاق اخستودرخواست وکړوعمرودمجبوری دوجه نه ووئیل چه ته ماته خپل مهرمعاف کړه زه به طلاق درکړم هندی دټولومخکې مهرمعاف کړواوهغه وخت عمروداووئیل چه ماطلاق درکړوماطلاق درکړوبیاهنده دعمرونه جداشوه اودعمروپه عدت کې دننه یې دبکرسره نکاح وکړه دعدت په مسئله دواړه نه پوهیدل یعنی هنده اوبکردواړه نه پوهیدل چه عدت څومره ورځې وی دهندی حیض دهغه بچی پیداکیدوسره بندشوی وه اواوس ددوومیاشتوباقاعده حیض جاری شویدی یعنی دهندی ددریمی نکاح کولونه یومیاشت مخکې حیض شروع شویدی اوهنده دهغه بچی نه پس تراوسه حامله شوی نه ده (الف) ایاکه دهندی نکاح عمروسره په څه صورت کې جائزوه یاددوباره نکاح کولوضرورت وه. (ب) که دهندی نکاح عمروسره جائزوه نوایادبکرنکاح به بالکل جائزنه وی اوبکرلره دهندی نه دعمروعدت تیریدوپوری جداکول ضروری دی اوایادعمروعدت تیریدونه وروستوبکرته دوباره نکاح کولو ضرورت شته؟

جواب: فی الدرالمختار سبب وجوبها(ای العدة) عقدالنکاح المتاکدبالتسلیم وماجری مجراه من موت اوخلوة وفی ردالمحتارعقدالنکاح ای ولوفاسدالخ وفیه مبدأ لعدة فی النکاح الفاسدبعدالتفریق من القاضی بینهمااوالمتارکة وبذلک یدول منشوهاالذی هوالنکاح الفاسدج۲ صـ ۹۸۲ وفی الدرالمختارفی النکاح الفاسدوفیه اوالمتارکة وفیه ومنه الطلاق صـ۱۱۰۷ اوفی ردالمحتاران الدخول فی النکاح الفاسد موجب للعدة الی قوله ونکاح المعتدة صـ ۹۹۹ دې روایتونونه معلومه شوه چه عمرو سره چه هندی کومه نکاح وکړه هغه فاسده ده اوتفریق واجب دی اوهرکله چه ده طلاق ورکړونواوس تفریق وشو. اواوس دتفریق په وخت بیاعدت واجب شو هرکله چه هندی بیاپه عدت کې دننه دبکرسره نکاح وکړه داهم نکاح

فاسده ده اوتفریق واجب دی اوس په بکراوهندی دواړوباندی واجب دی چه جداشی اودعمرودجدائی دوخت نه چه دری حیضه پوره شی بیاچه چاسره غواړی نکاح وکړی دی تقریر کې دټولومسئلوجواب وشو. والله تعالیٰ اعلم وعلمه اتم ۲۰ ربیع الثانی ۱۳۲۴ھ (امداد صـ۳۲ ج۲)

عذرنبودن نااتفاقی درانتقال فی العدة

سوال :(۶۰۷)که چرته دانګورخوانبی یوبل سره بالکل نه لګی چه یوځای پاتی شی نوایاداعذرکیدیشی چه دهغی په وجه دانبڅه دخوانبی دکورنه خپل موروپلارکره لاړه شی اوعدت هلته تیرکړی حدیث فاطمه رضی الله عنها بنت قیس ددی جوازمعلومیږی خودفقهاء په کلام کې ددی څه تصریح نه ملاویږی؟

جواب: دفقی په جزئیاتوکې دغورکولونه معلومیږی چه عذرمبیح دپاره دانتقال نه دی بلکه قاضی خان کې راځی چه کورکې دننه دمړی کیدودوجه نه چه کومه ویره ده که هغه لږه وی نوهم معتبرګڼلی شویده قال لان قلیل الخوف یکون بمنزلة الوحشة حالانکه دومره ویره هم غیراختیاری ده ضبط سره چه کوم تکلیف کیږی هغه ددی ویری نه ویرکم دی هرکله چه داویره عذرنه دی نوتکلیف دضبط څه رنګ عذرشو. اودحضرت فاطمه رضی الله عنها بنت قیس دعذرتعین چه هغی په خپله دحضور ﷺ په خدمت کې پیش کړی وه. قلت یارسول الله ﷺ زوجی طلقنی ثلثاواخاف ان یقتحم علی رواه مسلم اودحضرت عائشه رضی الله عنها قول ددی تائیدکوی. قالت کانت فی مکان وحش فخیف علی ناحیتها رواه فی المشکوٰة ۲۵ محرم ۱۳۲۲ھ (امداد صـ ۵۸ ج۲)

په مرویاندی دغم په ورځوکې دپان خوړلوحکم

سوال :(۶۰۸)یوی ښځی ته دپان خوړوعادت وی هغه دغم په ورځوکې پان خوړی شی یانه؟

جواب: نه شی خوړی. ۱۰ رجب ۱۳۳۰ھ (تتمه اولیٰ صـ ۱۱۵)

دغم په ورځوکې دګوګزاستعمالولوحکم

سوال :(۶۰۹)که سرکې سپګی وشی نودهغی وژلودپاره ګومنزاستعمالول یاتیل اچول په سرکې دغم په ورځوکې جائزدی یانه؟

جواب: دی عذر دوجه نه جائزدی خو په دی شرط چه داتیل خوشبوداره نه وی او داگومنځ پره نری نه وی کمافی الدرالمختار رجب ۱۳۳۰ھ (تتمه اولیٰ/ص۱۱۵)

سوال: (۶۱۰) دیو متوفی دښځی په سرباندی درداونورداسی قسم بیماریانی پری خو راځی نوکه دازنانه ددی تکلیف دوجه نه کله کله په سرکښ دتیلو مالش کوی نودی صورت کي دشریعت څه حکم دی؟

جواب: فی الدرالمختار– والدهن ولوبلاطیب کزیت خالص الیٰ قوله الابعذرراجع للجمیع اذاالضرورت تبیح المحظورات وفی ردالمختار اوتشکي راسهافتدهن وتمشط بالاسنان الغلیظة المتباعدة من غیرارادة الزینة لان هذاتداوی لازینة جوهرة ج۲/ص۱۰۱۲/ دی روایت نه ثابته شوه چه دی صورت کي دتیلو مالش جائزدی خوچه هغی کي خوشبوئی نه وی او دهغی نه وروستوچه کومه گومنځه وکریشی هغه دی دنرو او سختوغاښونووالا نه وی. ۲ ذی قعده ۱۳۳۲ھ (تتم ثانیه/ص ۱۸۱)

عدم جواز استعمال چوری بلور درعدت

سوال: (۶۱۱) دهندی نکاح وترلی شوه خودخاوند کورته لارخصت شوی نه وه چه خاوندیې وفات شو اوس هغی ته څلورمیاشتی اولس ورځی عدت تیرول ضروری دی خوشوبی نوی کپړی کالی رانجه، پان دنداسه، تیل اونکریزی وغیره تول یې پریخودی دي خولاس کي دوه دوه بنگړی پریخودی دي هغی ته چه کله وئیلی شول چه دابنگړی اوباسه هندی ووئیل چه دادهندوانو رسم دي داڅه زینت دول او سنگارنه دي لهذا هنده دابنگړی اوباسی اوکه وی دی؟

جواب: فی الدرالمختار بترک الزینة بحلی وفی ردالمحتار قوله بحلی ای بجمیع انواعه من فضة وذهب وجواهر (بحر) قال القهستانی والزینة ماتتزین به المرأة من حلی کحل الخ ج۲/ ص۱۰۱۵/ دی روایت نه معلومه شوه چه دخائست تول قسمونه پریخودل واجب دی اودزینت حقیقت هم ددی نه معلوم شوچه هغی لره زنانه دزینت په قصد سره استعمالوی اودایقینی خبره ده چه زمونږ په ښارونو کي بنگړی زینت دپاره اغوستلی شی پدی وجه دازینت کي داخل دی او ددی پریخودل واجب دی پدی وجه دی ښځه باندی واجب دی چه دابنگړی اوباسی پاتی شوه دوی داخبره چه دادهندوانو رسم دی نوبیاخو په خپله دغه شان بنگړی اچول هم دهندوانو رسم دی خوچه څه رنگ دهغوی سره دخصوصیت نه راتلودوجه په

اغوستلو کي تشبیه نشته نودغه شان دحکم شرعی موافق ویستلو کي هم تشبیه نشته. دویم داچه هندوانو ښځی بنگړی ماتوی اوباسی نه نوماتول خودغه شان هم بغیردضرورت نه قطع نظر دتشبیه نه دمال ضایع کول دی نوماتوی دی نه اودي باسی البته که ویستلو کي څه تکلیف وی نودمجبوری دوجه نه دی مات کړی ۲۷ ربیع الثانی ۱۳۳۳ھ (تتمه اولیٰ ص ۱۳۵)

عدم صحت بعد ثلاثه

سوال: (۶۱۲) زید خپلی ښځی ته دری یادریونه زیات طلاقونه ورکړل او په کومه ورځ چه یې طلاقونه ورکړل په هغه ورځ یاعدت کي دننه یې ورته رجوع وکړه نودرجوع نه وروستو چه کوم اولاد پیداشو هغوی اوده ښځه دده دمرگ نه وروستو دده دمیراث اوړلوحق لری یانه اودارجوع صحیح ده که نه ده؟

جواب: دارجوع صحیح نه شوه ښځی په خپل حال حرامه ده اوس که چرته دی طلاق نه دوه کاله کي دننه چه کوم اولادپیداشویدی اودی موده کي دی ښځی دعدت پوره کیدواقرار په خپلی ژبی کړیدي نو هغه اولاد ثابت النسب دی اوکه چرته پوره دوه کاله دننه زیات کي اولادپیداشویدی اوخاوندصراحتاً ددوی دنسب دعوی نه وی کړی نو هغه اولاد ثابت النسب نه دی اوس چه کوم ثابت النسب دی هغه وارث جوړیدی شی اوچه کوم ثابت النسب نه دی هغوی وارث نه شی جوړیدی، او ښځه هم وراثه نه شی جوړیدی شی خو په شرط چه داطلاق په مرض الموت کي نه وی ورکړی شوی فی الدرالمختار فصل ثبوت النسب کمایثبت بلادعوة احتیاطافی مبتوتة جاءت لاقل منهما من وقت الطلاق ولم تقربمضیها ولولتمامهالا الابدعة اوکه دواقعی څه بل صورت وی نوبالتعین ظاهرول پکاردی څکه چه دهغی په ځقونو کي اوړدوالی ډیردی فقط ۲۷ محرم ۱۳۲۲ھ (امداد ص۵۷ ج۲)

معاف کړه پریږده وئیلو سره رجوع کیږي یانه

سوال: (۶۱۳) یو سړی ښځی ته طلاق ورکړو دهغی نه وروستو چه کله پیښمانه شو او ښځه خفه شوه دکورنه روانه شوه ده ښځی ته ووئیل چه معاف کړه پریږده. پدی وجه هغه پاتی شوه اوس عدت ختم شو او دی الفاظو نه علاوه یې ورته نور څه نه دی وئیلی اوس عدت ختم شو دنکاح تازه کولو ضرورت شته یا دی کنایی الفاظو سره رجوع کیدیشی؟

جواب: جزئی مسئله خو دنظر دلاندی نه ده تیره شوی دباقی درجوع کولو کنایات چه کوم فقهاؤ لیکلی دی انت عندی کماکنت وانت امرأتی چه نیت سره موجب ردجوع گرځی معاف کړه پریږده دی سره مشابهت نه لری پدی وجه داکنایه نه ده ددواړو په رضامندی سره نکاح تازه کولو ته ضرورت شته وجه دعدم تشابه ښکاره ده چه داکنایات مذکوره اقتضاءً دلالت کوی په بقاء دنکاح باندی په خلاف ددی الفاظو چه داصرف درضاکولو دپاره دی الفاظو په رجوع کولو کې هیڅ دخل اوتعلق نشته ۱۸شعبان/ ۱۳۲۷ھ، تتمه اولی ص ۱۰۲،

حکم اسقاط حمل مطلقه حامله

سوال :(۶۱۴)دیوی ښځی دریمه میاشت کې حمل اوغورزیده اوس تپوس ددی کوؤچه داسی حمل غورزیدو نه وروستو طلاقه کړی شوی ښځه خپله نکاح کولی شی یانه؟

جواب: فی الدالمختاراحکام النفاس وسقط ظهربعض خلقه کیداورجل اواصبع اوظفر اوشعر ولا حکماً الی قوله وتنقضی به العدة فان لم یظهرله شئ فلیس بشئ فی ردالمحتار الـــه ان لم یظهـــرمن خلقه شئ فلاحکم له من هذه الاحکام وفیه باب العدة والمرادبه الحمل الذی استبان بعض خلقه اوکله فان لم یستبن بعضه لم تنقض العدة –.دی روایتونو نه معلومه شوه چه ددی غورزیدلی شوی که چرته څه اندام وروکې یالوئ ښکاره شوی وی نو بیاددی عدت تیرشو اودیته دبل سړی سره نکاح کول جائزدی اوکه داسی نه وی نو نه ده جائز ۱۹ربیع الثانی/ ۱۳۴۱ھ، محلات تتمه اولی ص ۳۲۹،

فصل فی النسب والحضانة والنفقات

فصل دی په بیان دثبوت دنسب اوپرورنی کولوکې اوخرچوکې

عدم ثبوت نسب ازنکاح باطل

سوال :(۶۱۵) بعضی بی علمه داگنړی چه درضاعت مسئله هغه کسانو سره متعلق ده چه یوځای پی اوخښی یعنی دهندی خوی زیدپیداشو اوهغه چه کوم پی اوخښکل هغی سرا کریمی ته هم پي وځکلی شول نو دزید اوکریمی مینځ کې نکاح حرامه گنړی دی جهالت په سبب مثلاً چاد کریمی نکاح عمروسره وکړو اوبیاددوی اولاد پیداشو نو هغه اولادڅنگه دی

اوکه څوک ددی اولادکوم چه دعمرواوکریمی نه پیداشویدی دیوهلک یوی جینۍ سره وکړی نو داڅنگه دی بینواتوجروا؟

جواب: دیکې اورد بحث دی باقی زماپه نزدقواعدو سره چه کوم غوره دی هغه دادی چه دانکاح باطل ده اوباطله نکاح کې نسب نه ثابتیږی پدی وجه ددی نکاح اولادثابت النسب نه دی اودوی سره نکاح کول دثابت النسب څمیرکفو سره نکاح کول دی اوغیرکفو سره نکاح کولو احکام په تفصیل سره دفقی کتابونو کې ذکردی. وفی ردالمحتارعن مجمع الفتاویٰ نکح کافرمسلمت فورات منه لایثبت النسب منه ولاتجب العدة لانه نکاح باطل الخ ج ۲ ص ۵۷۴ والله اعلم ۱۰جمادی الاخری، تتمه ثانیه ص ۱۴۰،

حکم عدم ثبوت نسب اولادی که ازنکاح

محارم پیداشودوغیروارث بودن ایشان

سوال :(۶۱۶)یوکس دخپلی خورزی لورسره نکاح وکړه عالمانو منع کړوخو هغه ونه منله دهغی نه وروستو دی منکوحی نه خوی پیداشو آیاددی خامنونسب دی نکاح کوونکې نه ثابتیږي یانه اوداخامن دده وارثان جوړیدیشی یانه مفتی به مذهب کوم یو دی وي لیکئ؟

جواب: فی ردالمحتارولذالایثبت النسب ولاالعدة فی نکاح المحارم ایضاً کمایعلم ممایاتی فی الحدود ج ۲ ص ۵۷۴ مصریه / دی روایت نه معلومه شوه چه دی صورت کې نسب نه ثابتیږی په دی وجه دوی وارثان هم نه شی جوړیدی ۱۵شعبان/ ۱۳۳۲ھ، تتمه ثانیه ص ۱۵۷،

ثبوت نسب ازشوهرگوبظاهرتعلق نه باشد

سوال :(۶۱۷)هنده چه عمرومنکوحه ده دعمرو طلاق ورکولو نه بغیرزیدپه خپل کورکې ساتلی ده اوداوه کالونه دهندی هیڅ قسم تعلق دخپل وړومبی خاوند عمروسره نشته دی اوؤکالوکې دهندی دزیدبچی هم پیداشویدی نو ایاددوی نسب به دزید نه گنړلی شی که دعمرونه زیداوهنده ددی خبری اقرارکوی چه دااولاد زمونږ په خپل مینځ کې دتعلق دوطی نه پیداشویدی او دعمرو باره کې هنده اقرارکوی چه دابچی دده دنطفی نه دی ایاددی صورت کی ددی بچونه شریف النسب جینکی واده کیدیشی اودی بچو سره اوپه خپله دزیدسره څه

تعلق او په اسلام کې د دوی حفاظت وکړیشی یادغه شان د بې غرضه مسلمانانو په شان دوی سره معامله وکړیشی او سره د دېرو پوهولو نه هم زیدهنده نه جداکوی؟

جواب: قاعده کلیه ده چه چونکه حقیقت د نسب یو د پټ امر دی چه واقع کې دادچا نطفه ده پدی وجه شریعت مقدسه کې پې ظاهری نخښه کومه چه شرعاً هم معتبره ده دغې معیار او مدار پې گرځولی دی او هغه نخښه نکاح ده بس دا قانون مقرر کړی شویدی چه چاسره نکاح شوېده نسب د هغه حق دی البته که هغه په خپله د دی نفی وکړی یعنی خاوند په خپله ووائی چه دا زما نطفه نه ده او چه زنا باره کې څه گواه نه وی دی صورت کې دا نښخه هم د دی نفی سره ښځی باندی تهمت د زنالگی چه دی سره د ښځی بې عزتی کیږی پدی وجه چه گواه نه وی دی صورت کې په خپله د صاحب حق تصدیق هم ضروری دی هر کله چه قاعده معلومه شوه چه د هغې تصریح د فقهی په کتابونو کې د دی حدیث په بنیاد الولد للفراش وللعاهر الحجر موجود ده او س د تپولو مسئلو جواب ښکاره دی د هغې حاصل دادی چه که دی صورت کې عمرو چپ پاتی شونو د دی بچو نسب به د عمرو نه ثابتیږی نه په دی معنی سره چه داسی به ووائی چه دا د عمرو د نطفی نه دی بلکه په دی معنی سره چه د واقعی حال دلیل قطعی سره معلوم نه دی او ظاهری قرینه شرعاً معتبره نه ده پدی وجه د هغوی حق نه دی او که عمرو هم نفی کوی او د ښځی تصدیق موجود دی بیا خو خامخا د عمرو نه ثابتیږی خو د زید نه هم د عدم نکاح د وجه نه نه ثابتیږی بچی به مجهول النسب پاتی شی او ورومبی صورت کې د نکاح وغیره په باب کې د دی بچو حکم په شان د عمرو به وی او دویم صورت کې به د څه ثابت النسب جینکو کفوه نه وی او غیر کفوه سره د نکاح کولو چه کوم حکم دی هغه به د وی د پاره جاری کیږی او چونکه دی د وارو صورتونو کې هنده او زید دواړو فاسق دی پدی وجه د وی سره به د فاسقانو په شان معامله کولی شی والله اعلم ۳ ربیع الثانی ۱۳۲۲ھ (تتمه اولی ص ۷۴)

سوال: (۶۱۸) بهشتی زیور شلورمی حصی بیان د هلک د حلالی کیدو په باره کې اخری د دو مسئلو (نکاح او شوه خوواده تراوسه نه وه شوی الخ او (او خاوند پل ملک دی او مودی او شوی کلونه او شول الخ) باندی مختلف خیال والا خلق اعتراض کوی براه مهربانی د دواړو مسئلو نه واضح او مدلل حال ولیکې چه دا اعتراض کوونکې چپ شی؟

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته تراوسه پوری چه دی باره کې په خوله یا د خط په ذریعی سره معلومات کړیدی د اعتراض په رنگ یې کړیدی پدی وجه زړه نه غوختل چه

جواب ورکړم ستادی الفاظو سره چونکه د خان پوهولو قصد معلومیږی په دی وجه لیکم لږ سوچ ورته وکړه د بهشتی زیور د دی مسئلو دا مطلب نه دی چه بغیر د کوروالی نه حمل نیسی او هغه حمل د هغه خاوند کیږی بلکه مطلب دادی چه دی صورتونو کې بره کتونکو ته په خپله د دی یقین کولو څه ذریعه نشته چه د دوی کوروالی نه دی شوی. نو هغوی ته شرعاً د اجازت نشته چه د ښځی خاوند په مینځ کې صرف ظاهری لری والی ته وگوری او او وائی چه هر کله زمونږ په علم کې د دوی په مینځ کې کوروالی نه دی شوی نو په واقعی کې هم نه دی شوی او دا حمل د حرامو نه دی او دا ښځه حرام کاره ده او دا بچی ولدالحرام دی بس کتونکو ته د دی حکم لگولو حق نشته ځکه چه چاته حرام کار یا حرام زاده وئیل د یر لوې تهمت دی او لویه گناه ده دی خبری لره د خولی نه ویستل بغیر د یقینی دلیل نه جائز نه دی بلکه که یو د یر لری احتمال هم د حجت د واقعی کیدو او موندیشی نو داسی یوه شوه چه کیدیشی دا لری صورت د احتمال د کوروالی واقع شوی وی او نورو ته د دی اطلاع نه وی شوی او هغه بعید احتمال دلته دوه کیدیشی یو دا چه د څه بزرگ په کرامت سره کیدیشی ښځه خاوند یو ځای شوی وی او کوروالی واقع شوی وی دویم دا چه کیدیشی یو پیری (جن) یو ځای کړی وی او کوروالی شوی وی او حمل نیولی شوی شوی او د بزرگانو کرامت او د پیریانو تصرف د اهل السنت والجماعت په نزد شرعاً عقلاً او وقوعاً ثابت دی. او اگرچه دا احتمال ډیر بعید دی خو مونږ مسلمانی ښځی لره د تهمت نه بچ کولو د پاره او بچی لره د شرم نه بچ کولو د پاره دا احتمال ممکن منو او داسی به ووایو چه کیدیشی داسی یو صورت پیدا شوی وی او بعض صورتونو کې ممکن ده چه خاوند داسی پټ راغلی وی چه هیچاته هم خبر نه وی شوی لکه بعضی مشهور مجرم خپل کورته د شپې راځی او د شپې بیا واپس ځی پدی وجه د دی حمل نسبت به دی خاوند طرفته کولی شی او نسب به ثابت منلی شی. البته په خپله خاوند ته د دی یقینی علم کیدیشی چه که تا کوروالی نه وی دی مجبور کړی شوی چه خامخاته دا بچی خپل او منه بلکه هغه تا اختیار ورکړی شویدی چه که تا کوروالی نه وی کړی نو دا نسب نفی کولی شی خو چونکه حاکم شرعی ته په څه قطعی دلیل سره په خپله د خاوند ریښتون والی یقینی طور سره نه شی معلومیدی بلکه احتمال شته چه د څه بل غم او غصی نه ښځه بدناموی پدی وجه د ده په نفی کولو باندی به حاکم شرعی چپ نه پاتی کیږی بلکه مقدمه به وکړی او د لعان حکم به جاری کړیشی بیا لعان نه ورو ستو نورو ته شرعاً اجازت

دی چه بچی د دغه خاوند نه نه گڼړی ځکه چه شرعاً قانون سره ده ده نسب کټ کړی شو یعني شرعاً څه زور نشته چه اوس یې هم د دغه خاوند نه ومنی بلکه قانوناً به اوس ده ده نه کټ کړی شوی منی او واقعی په اعتبار سره بیاهم داووائی چه د غیب علم الله رب العزت ته دی. دغه شان د دی ښځی په نسبت په هم ووائی چه الله ته پته ده چه سړی ریشتونی وی او که ښځه

۲۷ شعبان ۱۳۲۸ھ؛ تتمه اولی ص ۸۴)

سوال :(۶۱۹) کتاب بهشتی زیور مصنفه جناب څلورم جلد کښې مې دا مسئله ولیده ناچیز ته او نورو کسانو ته څه غلط فهمی غوندی پیدا شوه دهغی په باره کښې مو دا فیصله وکړه چه د حضرت نه به ددی اطمینان وکړو **مسئله** :خاوند بل ملک ته لاړ او کلونه تیر شول بلکه مودی وشوی او دلته یې خوی پیدا شو نو دی هلک ته به حرامی نه شی ویلی او که چرته خاوند انکار وکړی نو حکم دلعان وکړیښی؛ دی مسئلة کښې اعتراض دادی چه که د خاوند د تلو نه پنځه کاله پس بچی پیدا شوی وی او خاوند بل ځای کښې دی نو په ظاهره دی حرامی شو او خاوند اقرار هم وکړو چه دا خوی زما دی چونکه دهغه خپل کور ته راتلل ثابت نه دی نو خاوند ته به هم د دیوث نسبت کولی شی که چرته زمونږ دا خبره غلطه وی نو د شریعت په نزد څه سند دی او د قرانی ایتونو یا د حدیثونو نه ثابت دی نو هغه کښې څه حکمت دی او عقلی دلیلونه د دی په نسبت څه دی ځکه چه ظاهری اسباب خو زمونږ دا شک نه شی لری کولی او که چرته په کتابت کښې غلطی وی یا څه الفاظ د کاتب نه په هیره سره پاتی شوی وی یا که داسی وی چه د خاوند د تلو نه وروستو څو میاشتی یا دوه کالونه وروستو هم هلک پیدا شو نو څه اعتراض باقی نه پاتی کیږی صرف دومره عرض ضروری چه د بهشتی زیور تعلیم زنانو او ماشومانو ته ورکولی شی پدی وجه د پیدا ئش نیتیه صاف طور سره لیکل پکار دی ځکه چه مسئله پخپله د حضرت لیکلی شوې ده او حضور په حیثیت د نائب رسول دی دو سره مونږ ته به ډیر اطمینان راکړی او د جناب ذات مجمع د فیض او د اخلاقو ده امید دی نه به کافی اوږده پخی دونکې جواب راکړی؟

﴿جواب﴾ ددی مسئلی دا مطلب نه دی چه واقعی کښې هلک ددی خاوند نه دی او نه دا مطلب دی چه دی ښځه باندی یا ددی په خاوند باندی واجب دی چه هغوی د داسی وگڼړی ځکه چه هغوی ته د واړو ته اصل حال معلوم دی نو هغوی باندی څنگه واجب شول چه د واقع خلاف یقین ولری او نورو ته واقع حال معلوم نه دی په هغوی څنگه واجب شول چه د کومی خبری حال معلوم نه وی هغه یقینی او ساتی بلکه ددی مسئلی مطلب دا دی چه نورو خلقو ته داحق حاصل

نه دی چه دا بچی د حرامو نه وگڼړی بلکه هغوی ته دا گنړل پکار دی چه قانوناً دا هلک ددی خاوند نه دی ځکه چه دی ښځه او خاوند کښې نکاح شوی ده او ممکن ده چه دواړه یو ځای شوی وی چه دهغی علم د دوی نه علاوه هیچاته نه وی شوی لکه څنگه چه بعضی اشتهاری خلق په پټه خپل کورته راځی او بعضی خلق د تسخیر جن (چه پیریان یې تابع وی) په ذریعه چرته چه غواړی ځی او اګر چه دا احتمال بعید دی خو یو منکوحی ښځی احتمال بعید موجود ید و دو چه نه زناکاره وئیل روا نه دی او ددی څه خصوصیت دی که چرته خاوند موجود هم وی په دغه حالت کښې چه کوم اولاد پیدا کیږی هلته هم د واقعی حال الله ته معلوم دی او نورو خلقو ته یقیناً اځنگه معلومیدی شی چه دا دده د نطفی نه دی مثلاً که چرته خاوند موجود وی او بیاهم پنځو کالو پوری کور والی ونه کړی چه دهغی چاته هم علم نه وی نو د دغه حالت اولاد به صرف قانونی اولاد وئیلی شی د واقعی کیدو څوک حکم کولی شی هم دغه شان ده البته چونکه خاوند ته یقینی معلومه ده چه ما خپلی بی بی سره څو روځونه کور والی نه دی کړی هغه ته داحق شته چه ووائی دا بچی زما نه دی که چرته ده داووئیل او ښځی هم ددی اقرار وکړو نو دیته به زناکاره وئیلی شی او که دی ووئیل چه دا خاوند دروغ وائی نو چونکه نورو خلقو ته څه دلیل سره د چار یشتون والی او د دروغژن والی نه شی معلومیدی په هر یو کښې د دواړه احتماله شته پدی وجه بیا به هم دی ښځی ته زناکاره نه شی وئیلی بلکه دی صورت کښې شریعت دلعان قانون مقرر کړیدی چه دهغی بیان بهشتی زیور کښې مستقل باب کښې هم شته او دا مسئله د فقی په کتابونو کښې ده او دپوره سړی په نزد قران او حدیث نه هم ثابت ده د قران ایتونه دی قوله تعالی اجتنبوا کثیرا من الظن ان بعض الظن اثم – وقوله تعالی لولاجاؤا باربعة شهداء فاذلم یاتوا بالشهداء فاولئک عندالله هم الکاذبون – او حدیثونه دادی قوله علیه السلام الولد للفراش وللعاهر الحجر– وقوله علیه السلام ایاکم والظن فان الظن اکذب الحدیث– او احتمالات بعیده باندی د نورو د تهمت او بدگمانی لری کولو حدیث دی او واقعی یې سره هم ثابت دی چه حضرت عیسیٰ علیه السلام یو سړی په غلا کولو اولیدو او وی رټلو هغه قسم او خوړو چه ما غلا نه کړله حضرت عیسیٰ خپل گمان غلط وگڼړلو او دهغه د قسم تصدیق یې وکړی او ددی اعتراض په جواب کښې یو مستقل رساله یو عالم لیکلی ده رفع الارتیاب عن مسئلة الانساب فقط. ۱۳۳۲ھ؛ تتمه خامسه ص ۴۹)

تحقیق نه سیدبودن اولادازمردغیرسیدوزن سیده

سوال :(۶۲۰) یوغیرسید سړی سیدی زنانی سره نکاح وکړه که چرته دانکاح جائزوی نو ددی نه چه کوم اولادپیداکیږی هغوی ته به نسباً سیدوئیلی شی یانه ؟

جواب: نه شی وئیلی سیوادحضرت فاطمه ﷺ داولاد نه ۲۷ذی الحجه/ ۱۳۳۸ھ (تتمه خامسه/ صـ ۱۷۲) دیوعالم بزرگ یوی زنانه ته دیان هغه رنګین توکاڼړی واچوی اودهغی نه کوم بچی پیداشی دهغی نسب به دخاوندنه وی توک اچوونکې ته به نه وی؛

دیوځای نه ډیراورمسوال په عربی کې راغی

اوس هغه په پښتوکې سره دجواب نه نقل کوم

سوال :(۶۲۱)دهغی حاصل داوه چه یوصدیقی نسب قاضی ته داولادتمناوه دیوسید بزرګ نه یې ددعادرخواست وکړوهغه پان وخوړواودهغی هغه رنګین توک یې ده ته ورکړوچه دایه خپله بی بی وخوروه دهغه دخوراک نه وروستودحمل تخښنی ښکاره شوی اوبچی پیداشودهغی متعلق دوه سواله وی یوداچه ایاداسی ممکن دی دویم داچه ددی بچی نسب به دی قاضی نه ثابتیږی اودابچی به صدیقی وی یاددی بزرګ نه به ثابتیږی اودابچی په سیدوی ؟

جواب: پدیکې نه امتناع عقلی شته اونه امتناع شرعی بلکه امتناع طبی هم نشته .وجه داچه دطب په فن کې داواضحه شویده چه اصل تولد دبچی دښځی دمادی نه کیږی اودسړی ماده دهغی عقد کوونکې وی اوپه خپله دبعضی ښځوپه ماده کې قوت عاقده هم کافی کیږی نوکه دفرق عادت په طورسره دارنګین توک په خپل اثرسره عاقدشوی وُی یادښځی دقوت عاقدی ملګری شوی وی نوځه طبی اشکال نشته اودی احتمال باندی دحضرت عیسیٰ ﷺ پیدائش قواعدطبیه کیدیشی اګرچه دخلاف عادت کیدوپه سبب فارق عادت دی پاتی شوه خبره دنسب ثابتیدو نوشریعت کې دسړی نه نسب ثابتید ویله طریقه ده یعنی متعارف سره حمل یادهغی قائم مقام یعنی دښځی فراش کیدل اوداطریقه دی بزرګ دپاره نه ده متحقق شوی اوقاضی دپاره متحقق ده پدی وجه دی بچی ته ددی بزرګ بچی وئیل یاسیدوئیل حرام دی اوګناه ده ددی قاضی بچی دی اوصدیقی اودغه سبب دی چه حضرت دادم ﷺ لوریه هیڅ نص کې نه ده وئیلی شوی اوښځی نه دنسب ثابتیدویله طریقه ده یعنی دخپتی نه

پیداکیدل اوداطریقه عیسیٰ ﷺ کې دحضرت مریم ﷺ په اعتبارسره متحقق ده پدی وجه هغه ته ابن مریم وئیلی شویدی والله اعلم ۲۴شعبان/ ۱۳۵۰ھ(النور/صـ ۷ /ربیع الثانی ۱۳۵۱ھ)

حل اشکال متعلق ثبوت نسب ازپدرواکتساب رق ازمادر

سوال :(۶۲۲) بهشتی زیورڅلورمه حصه مطبع قیومی پنځلسمه صفحه کې راغلی چه نسب کې اعتبارپلارته دی مورته هیڅ اعتبارنشته که پلارسیددی نوبچی به هم سیدوی که پلارشیخ دی نوبچی به هم شیخ وی مورهرڅنګه وی که یوسیدیوه پهرنی ښځه کورته راوستله اونکاح یې ورسره وکړه نوبچی سیددی اودرجه کې هم دټولوسیدانوسره برابردی اوبیان القران دویم جلد صفحه ۱۰۹ کې راغلی وجه دکراهت داده چه دیکې بغیره ضرورت نه خپل اولادغلام جوړل دی څکه چه حریت (ازادوالی) اورقیت (غلامی) کې اولاد دمورتابع دی داوړو عبارتونوکې تطبیق څه رنګ دی ؟

جواب: دلته تعارض کودی ایاشرافت دنسب اومحلوکیت نه شی جمع کیدی [1] فقط شعبان ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/ صـ ۱۵۷)

ثبوت نسب ولدالزناازاقرار

سوال :(۶۲۳)څه فرمائی علماء اومفتیان شرع متین دی مسئله کې چه هغی ورومبی حالتونواول تفصیل سره عرض کوم چه یوسړی زید چه ډیرجائدادمالک وه وفات شواو یوسکه خوی محمود دخپلی ښځی نه تری پاتی شو اودوه بچی عمرواوبوه ښځه وینځه مسماه هنده چه عمرواوبکرموروه پریخودل هنده دیومدفولی ښځی وینځه وه دهغی نکاح زیدسره نه وه شوی اونه محمود دعمرواوبکر خپل وروړه منلی دزیددمرګ نه وروستوهنده ولیه شوه دعمرواودبکر دحصواودخپلی حصی باره کې دزیدپه جائدادکې اخستودعویٰ عدالت کې وکړه عدالت دهندی نکاح زیدسره اونه منله اودافصیله یې وکړه چه زیدداولادعمرواوبکردحرامونه دی دوی ته به شپیمته حصه ملاویږی چه زید دعمرواوبکردپیدائش نه مخکې دکورانتظام دپاره په انګریزی حکومت لیږلی وه اوپه هغی

---

[1] قلت وبه خرج الجواب عمایستشکل حدیث احب الیٰ من ان عتق اربعة من ولداسماعیل بان العرب لایسبی حتی یعتق وجه الجواب بانه لوزج احدمن اسماعیل امة مملوکة فظاهران الولدیکون من ولداسماعیل ومع هذایکون رقیقاتبعاللام ۱۲ منه

کې دلیکلې شوې وه چه که پلارد حرامو اولاد خپل بچې اومنې نوهغوي ته به دنغدو مال نه شپيمته حصه ملا یږوی په دی وجه دوی ته هم شپیمته حصه عدالت تجویزکړه هندی ددی فیصلی اپیل وکړوعدالت اپیل داتجویزکړو چه دهندی نکاح زید سره ثابت نه ده خوچونکه زیدعمرواوبکرلره خپل خامن لیکلی دی اوشهادت هم عمرودبکرلره دخامنوئیلوشهادت ثابت دی دی صورت کې دادواړه مقبول الولد (یعنی ثابت النسب ۱۲) دزید شول اودشریعت محمدی ﷺ موافق دوی ته دمحمودبرابرحصه ملاویدل پکار دی اوده‌ندی خارج کړی ځکه چه ددی نکاح ثابت نه وی

اوس ددی خبرې باره کې معلومات کول غواړو

وړومبی سوال - مقبول الولد کیدودپاره دوارثانو مخامخ اقرارلسانی ضروری دی یانه ؟ **دویم سوال** - غیرمسلم مخکې خوی وئیل یاصرف صاحبزاده لیکلوسره دخپل سکه خوی برابر حصه ملاویدشی یانه ؟ **دریم سوال** - په شریعت محمدی ﷺ دغیرمسلم شهادت جائزدی یانه ؟ **خلورم سوال** - داقرارکوونکې صاحبزاده وئیلوسره دنورووارثانوذوی الفروضوجائدادورکولوسره دی مقبول الولدته حصه ملاویدی شی یانه یاصرف داقرار کوونکې جائدادورکولوسره ؟ **پنځم سوال** - محموددزیدسکه خوی دی اوعمرواوبکریې خپل وروڼړه نه منل بغیرداولادنه وفات شواودعمروبکرنه علاوه یې چه مقبول الولد گرځیدلی دی دوه بنځې پریخودی نودی صورت کې عمرواوبکردمحمود په جائدادکې میراث ورلوحق لری یانه ؟ **وړومبی سوال جواب**- نسب ثابتیدودپاره دوارثانومخکې اقرارکول خوضروری نه دی خودووړمقبول الشهادت سړویادیوسړي اوددووښځومخکې ضروري دي ،فی الدرالمختارونصابهالغیرهامنالحقوق سواء کان الحق مالااوغیره الیٰ قوله رجلان اورجل وامرأتان صد ۱۱۰ . **دوهم سوال جواب** - دسوال تمهیدعبارت سره ددی متعلق صرف دری بنیادونه معلومیږی یوداچه زیددالیکلی وه چه حرام اولادته که یوپلارخپل خامن اووائی نوهغوی ته به دنقدمال نه شپیتمه حصه ملاویږی الخ دریم داچه غیرمسلم په مخکې خوی وئیل دریم صاحبزاده لیکل نووړومبی بنیاد خوځکه پوره نه دی چه خپله په دی درخواست دزیداقرار دی چه دا اولاد دحراموږی چه دنسب صحت دپاره منافی دی لکه څنگه چه ښکاره ده دویم بنیاد ځکه پوره نه دی چه دغیرمسلم شهادت دمسلمان مدعی علیه په مقابله کې معتبرنه دی دریم بنیاد ځکه پوره نه دی چه صاحبزاده لیکل سره مقصوددعوی

کول دنسب دصحت نه ده صرف لیکلوکې عنوان دتعبیردی چه هغه یې بنیادتهذیب کلام اختیارکړیده. **دریم سوال جواب**- جائزنه دی فی الدرالمختارفیشترط الاسلام لوالمدعی علیه مسلماً صـ۱۰۹/ **خلورم سوال جواب** - ددی عبارت دویم شق یعنی وارثان الخ صفانه دی کیدیشی چه مطلب داوی چه که عمرواوبکرته بل وارث حصه ورکړی یاعدالت ورکړی نوایادی صورت کې ددوی ثابت النسب کیدل اووارثان جوړیدل ثابتیدی شی یاخوپوری چه زید جائدادورنه کړی دنورو وارثانوورکول ثبوت دنسب وارث دپاره کافی نه دی که چرته دامطلب وی نوجواب دادی چه دعدالت ورکول بغیردحجت شرعی نه کافی نه دی باقی که چرته نوروارثان عمرواوبکرسره جائزوارثان وگڼړی نوکه ددووړسړو یایوسړی اوددوښځوچه قابل دشهادت وی اقرار وکړوچه دادزیدصحیح النسب خوی دی نوداشهادت شرعیه دثبوت نسب په باره کې شواوپه تولووارثانوبه ددی اثروی فی الدالمختاراوتصدیق بعض الورثة فیثبت فی حق المقرین وانمایثبت النسب فی حق غیرهم فی الناس کافة ان تم نصاب الشهادة لهم بان شهدمع المقررجل اخرصـ۲۸۲ / اوکه داسی اونه شول نوهیڅ هم نه کیږی اوکه څه نورمطلب دی نوصفاعبارت کې لیکل پکاردی. پنځم سوال جواب خوپوری چه عمرواوبکرصحیح النسب کیدل ثابت نه وی چه دهغی یوه طریقی خودزید اقراروه کومه چه منفی ده لکه څنگه چه مخکې تفصیل سره ذکرشو دویم ددوشرعی اوراثانواقرارچه دهغی خلورم نمبرکې ذکراوشونوخوپوری چه دی دووطریقوکې یوی سره نسب ثابت نه وی دمحمودپه میراث کې دعمرواوبکرهیڅ حق نشته فقط ۲ محرم ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه /صـ۳)

دبنځې دطلاق نه وروستوچه کوم اولاد وی پلاربانډې دهغې نفقه

سوال :(۶۲۴)یوی امیداوری زنانه ته خاونددری طلاقه ورکړل دوضع حمل نه وروستو عدت تیرشویدی وجه دیته خونفقه نه ملاویږی خوهغه بچې خودخاونداوهغه جینی ده داچه خوپوری دموړپه تربیت کې ده دی باره به خوراک څکاک ملاویږی یانه ؟

جواب: ملاویږي به. ۴ذی الحجه/ ۱۳۲۹ھ (تتمه اولیٰ/صـ۱۱۲)

که معتده دخاوندپه کورکې نه اوسی نوخاوندبانډې نفقه نشته

سوال :(۶۲۵)زیدخپلې ښځې ته دنافرمانی په وجه طلاق ورکړواوښځه مورکره لاړه نو دعدت دورخورخرچه په خاوندواجب ده یانه ؟

جواب: نه ده واجب . في الدرالمختار ان المرأة اذا شرت فطلقها زوجها فلها النفقة والسكنى اذاعادت الى بيت الزوج (ج۲/ص۱۰۲۰) قلت دلت الرواية تقيد نفقه المعتدة بكونها في بيت الزوج. ۸ ربيع الاول/ ۱۳۳۰ھ (تتمه اولیٰ/ ص۱۱۴)

که معتده خپله کټلی شي بیاهم په خاوندنفقه شته

سوال: (۶۲۶) کوم ځای چه داعام رواج وی چه ښځه اوسړی دواړه کاروبار کوی هنرکار یګړی وغیره اوهغی سره وخت تیروی اوکومه ښځه چه څه هنروغیره نه شی کولی نودکلی خلق عموماً مالدار اوغریبانان اومعیوب ګڼړی اودښځی هنراوکسب کول ضروری وی په دی وجه چه هلته داسی غریبان اوسیږی چه صرف دسړی کسب کولو سره دښځی اوسړی وخت تیریدل ګران وی دی صورت کې که چرته سړی خپلی ښځی ته طلاق ورکړواوښځی په خپل هنرڅه ګټلی شی اودهغی نه خوری شی بلکه دهغی دخرچی نه زیاتیږی هم نودی صورت کې په سړی باندی دعدت دورخوخرچه ورکول واجب دی یانه ؟

جواب: واجب دی هرکله دخاوندپه کورکې وی . في الــدرالمختارفتجب للزوجــة الى قولــه فقيرة اوغنية . ۸ ربيع الاول/ ۱۳۳۰ھ (تتمه اولیٰ/ ص۱۱۴)

تحقيق سقوط نفقه درطلاق علیٰ مال

سوال: (۶۲۷) که چرته ښځه طلاقه علی مال کې دخپل عدت نان نفقه وغیره معاف کړی نومعاف کیدیی ؟

جواب: في الدرالمختار خرج الطلاق علىٰ مال فانه غيرمسقط وفي ردالمختاراى للمهرعلىٰ المعتمد كماسيذكره المصنف نعم يسقط النفقة ولومفروضة كماسيأتي ص۹۱۸/ ج۲/ دی نه معلومه شوه چه دی صورت کې نان اونفقه معاف کیدیشی ۳۰ محرم ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه/ ص۱۱)

ښځې ته دخوانی نه جداکورورکول دخاوندپه ذمه واجب دی

سوال: (۶۲۸) ازخادم .... باعلی حضرت مرشدی ومولائی ومقتدائی دامت فیوضهم وبرکاتهم پس دسلام مسنون نه حضرت په خدمت کې یوعرض دی هغه دی عاجزته یوکارپیښ شویدی چه دهغی تعلق چونکه اصلاح داخرت سره دی پدی وجه دی کارکې

دحضرت مشوره دخپل دواړوجهانودکامیابی باعث ګڼړم اومشوره غواړم ددووکالونه ماخپله بی بی دکورنی جهګړوپه وجه یوجدامکان کې (چه هغه ماپه خپله جوړکړی وه مورپلار په اجازت سره دیوخوراک خپلی بی بی سره دتسلی دپاره کوم خودجدائی په وجه دهریواوتحفونه علاوه مادمورپلارڅه مالی امدادونه کوی شوچه سبب دخفګان دمورپلارمعلومیږی دخرچ دتنګی په وجه دمورپلاررضاهمیشه نه داده چه موږ دیوځای اوسواميددی چه بهترینه مشوره راکړی دی دپاره چه راتی قائمولوکې مضوط یم امیددی زرجواب راکړی فقط؛ والسلام مع الاکرام؛

جواب: السلام علیکم ورحمة الله چونکه اوکړی نوخاوند دمورپلارنه جدااوسی اوکه هغه دخپل جائز حق مطالبه وکړی نوخاوندباندی دهغی دحق اداکول واجب دی اوواجبوپریخودل ګناه ده اوګناه کې دچااطاعت نشته ته انتظام مه بدلوه ۱۹ محرم/ ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/ ۱۱۹)

سوال: (۶۲۹) جناب یوه ورځ په وعظ کې دښځی خاوند حقونومتعلق فرمائیلی وه چه دښځی یوداهم حق دی چه که هغه دخاوند دمورپلارنه جدااوسیدل غواړی نودهغی داارزو پوره کول واجب دی دی خبری سره داعرض دی چه قران مجید کې دالله رب العزت داحکم دی چه سیوا دشرک نه په نوروټولو کارونوکې دمورپلارحکم اومنی نوداقرض شواوس ددی خبری معلومات کوی چه که دمورپلارخوښه نه وی چه خپله ښځه دهغوی نه جداکړی اودښځی داخوښه وي چه د هغوی نه جدااوسی که یوکورکې وی اوکه جداکورکې وی نوځنګه چل پکاردی اودی باره کې څه حکم دی ایاورومبی فرض اداکړیشی که واجب براه مهربانی دی باره کې تفصیل سره اوفرمائی چه بیاپه پوهه کې اسانتیاوی؛

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته دمورپلارتابعداری دواجبوپه پریخودوکې نه ده اودښځی داحقونه واجب دی نوکه مورپلارددی دپریخودو ووائی نودهغوی تابعداری نشته ۱۸ ربیع الاول/ ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه/ ص۱۳۱)

استحقاق زوجه نفقه راهرگاه بوجه ظلم زوج درخانه اونیاید

سوال: (۶۳۰) زید اوبکردواړه ورونړه وه زید یوه لورهنده پریخوده اوبکریوځوی خالدپریخودو دهندی مورمحمودی ددواړونکاح وکړه اودیروخته پوری هندی اوخالدپه مشری دمحمودی کې وخت تیرولولږوخت نه خالدخپله بی بی هنده اوخپله خوانبی محمودی

جدا کړه او طلاق یې ورکړو دې دواړو مسماتانو د تنګۍ او پریشانۍ او بې وسۍ د وجه نه د پاره د حاصلولو د میراث د پلار او د خاوند یو شراکت نامه د نیمې حصې د مال د حامد په نوم ولیکله یا حامد عدالت کې دعویٰ د رجوع کولو وکړه د هغې په ذریعه یې صلح نامه ډګری حاصله کړه چه وخت تیرولو د پاره پوره نه ده اوس ډګری حاصلولو نه وروستو خالد بله نکاح وکړه هند ده چه دواړه خبر او ریدو نو ددې نکاح نه مخکې یې د خپلې ګزارې باره کې دعویٰ دائر کړه او هندې ته چونکه خالد رجوع هم نه کوی او مخالفت هم کوی و هل ټکول هم کوی او قسم قسم تکلیفونه رسوی پدې هنده خاوند سره او سیدل نه قبلوی او حقیقت کې خالد هغه ډیره وهی او حقونه یې نه اداکوی او طلاق هم نه ورکوی اوس دې صورت کې دا خاوند نه د روټی کپړو اخستلو حق لری یا نه ؟

جواب: فی الدالمختارباب النفقة وخارجة من بيته بغيرحق وهي الناشرة حتیٰ تعود وفی ردالمختارقوله بغیرحق ذکر محترزة بقوله بخلاف مالوخرجت الخ . وکذاهواحتراز لوخرجت حق یدفع لها المهرولها الخروج فی مواضع مرت فی المهروسیاتی بعضهاعند قولہ ولایمنعهـامن الخـروج الی الوالدین الخ . وفی ردالمختاربعدصفحتین لان المعتبرفی سقوط نفقتهافوات الاحتباس لامن جهة الزوج الخ- چونکه دې صورت کې خاوند سره نه او سیدل د وجه د مجبورۍ او معذورۍ نه ده او د هغې سبب خاوند د طرفه دې یعنی د هغه ظلم پدې وجه ددې روایتونو موافق دې صورت کې په خاوند باندې نان نفقه واجب ده البته که خاوند اطمینان درکړی چه زه به بیا پدې ظلم نه کوم او بیا هم دا ښځه د خاوند کورته نه ځی نو بیا نان نفقه واجب نه ده باقی ددې نه زیات وضاحت ددې مسئلې بنده ته ملاؤ نه شوه . والله اعلم . ۲۸ جمادی الاول ۱۳۲۴ھ (امداد ص ۷۹ ج ۲)

حکم مطالبه نفقه زمان ماضی

سوال (۶۳۱): څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه زید هندې سره نکاح وکړه او یو هفتې پورې یې خپل کور کې وساتله او بیا یې هنده خپل مور او پلار کره ولیږله تقریباً لس و کالو پورې یې نان نفقه خبر وانه خستو . نو دې صورت کې د هندې پلار زید نه نان نفقه شرعاً اخستی شی یا نه ؟

جواب: فی الدر المختاروالنفقة لاتصیردیناالابالقضاء والرضاء الی قوله فقبل ذلک لایلزمه شئ الخ . دې روایت نه معلومه شوه چه د هندې پلار د زید نه د نفقې په باره کې هیڅ شی هم نه شی

اخستی البته که چرته حاکم څه مقدار مقرر کړی یا ښځه خاوند په خپل مینځ کې په څه مقدار باندې اتفاق وکړی د هغې تاریخ نه ائنده پورې هغه مقدار د قرض په طور په ذمه واجب پاتې کیږی د هغې مطالبه ښځه کولی شی فقط والله اعلم ۱۲ ذی تعده ۱۳۲۵ھ (امداد ص ۸۰ ج ۲)

حکم سقوط نان نفقه درحالت نشوز

سوال (۶۳۲): که ښځه د خاوند د مرضی نه بغیر د مور پلار ته ویناد هغوی په کور کې او سی نو دا خاوند نه نان نفقه په شریعت کې اخستی شی یا نه ؟

جواب: د خاوند د رضا نه بغیر مور او پلار کره اوسیدو کې دا ښځه د خاوند نه نان نفقه نه شی اخستی خو پورې چه د خاوند کورته راغلې نه وی وان نشزت فلانفقة لهاحتی تعودالی منزله هدایة ج ۲ ص ۴۱۸ / ۲۶ ربیع الاول (امداد ج ۲ ص ۸۱)

عدم رجوع خرچه معالجه زوجه ازترکه او

سوال (۶۳۳): څه فرمائی علماء دین پدې مسئله کې چه یو سړی د خپلې ښځې د بیمارۍ علاج ځلور پنځو میاشتو پورې وکړو خو هغه زنانه وفات شوه اولاد یې نشته ددې پلار او خاوند موجود دی خاوند وائی چه ددې په علاج چه زما څو مره خرچه شوی ورومبی هغه ددې د مال نه اداکول پکار دی د هغې نه وروستو به د هغې مال شریعت موافق تقسیم کړیشی پدې وجه د حضراتو علماء دین څخه امید کیدیشی چه دې صورت کې چه شریعت څه حکم دی هغه ولیکئ ؟

جواب: واجب خو نه دی صرف احسان او تبرع وه خو تبرعاتو کې رجوع جائز نه ده پدې وجه د هغې د پریخودلې شوی مال نه نه ملاویږی . ۸ جمادی الثانی ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه ص ۴۳)

حکم وجوب کفن بذمه شوهر

سوال (۶۳۴): څه فرمایي علماء دین او مفتیان په دې مسئله کې چه هنده وفات شوه او هغې خاوند او پلار او یو پې رو دونکې لور او یو لور د څلورو کالو او دوه سکه خویندې چه په هغې کې یوې خاوندې ددې جینکوټره دی او د یوې خاوند د لری رشتې نه دی او یو سکه ورور او میرانه مور یعنی د پلار ښځه او سکه نیايې پریخودل ددې پې څکونکې لور تربیت به څوک کوی او که دا هنده خپل پلار کره وفات شوی وی نو د هغې د کفن وغیره خرچه د خاوند په ذمه ده یا نه ؟

جواب: دداړوماشومانو چینکو د تربیت حق دهندی سکه نیا ته دی یعنی که هغه خواهش وکړی نو دنوروته دی خرج کړیشی او هغې ته پرورش کولو حق دی دلیل یې داروایت دی۔ فی العالمگیریة احق الناس بحضانة الصغیر حال قیام النکاح اوبعد الفرقة الام الیٰ قوله وان لم یکن له ام بان کانت غیراهل للحضانة اومتزوجة بغیر محرم اوماتت فام الام اولیٰ من کل واحدة وان علت ، صـ ۱۲۵ / ج ۲ / خو شرط دادی چه ددی نیا خاوند که چرته ژوندی وی نو هغه ددی هندی نیکه شو او ددی دکفن باره کې اختلاف دی خو فتویٰ په دی ده چه دخاوند په ذمه دی فی الدر المختار واختلف فی الزوج والفتویٰ علی وجوب کفنها علیه عند الثانی وان ترکت مالاخاینة ورجحه فی البحربانه الظاهرلانه ککسوتها. صـ ۹۰۵ / ج ۱ / خو که سړی په خپلی خوښی باندی کفن ورکړو نو هغه اوس دخاوند نه مطالبه نه شی کولی ۱ صفر المظفر / ۱۳۴۰ هـ (تتمه خامسه / صـ ۲۱۵)

دویروښځو په نفقې کې دبرابروالی تحقیق

سوال: (۶۳۵) دنفقې ډیروکتابوکې می دالیدلی دی او غالباً دجناب دخولی می هم اوریدلی دی چه نفقه کې دواړه ښځې بالکل برابر ساتل پکاردی خوشامی کې یې داقول نقل کړیدی لیکلی . والحق انه علیٰ قوله من اعتبرحال الرجل وحده فی النفقة واماعلی القول المفتیٰ به من اعتبار حالهما فلا. فان احداهماقدتکون غنیة والاخری فقیرة فلایلزم التسویة بینهما مطلقاً فی النفقة . او داعبارت بحرالرائق کې هم دی دهغې مطلب خو ماداګڼلو چه مفتی به قول دادی چه دنفقه په باره کې به دواړوښځوحیثیت ته کتی شی او مطلق برابروالی ضروری نه دی که چرته څه په مطلب نه یم پوهه شوی نو ددی تصحیح اوفرمائی ؟

جواب: ماداروایت نن صرف وکتلو خو کتلونه وروستونه هم زماهغه مخکنی رائی بدله نه شوه وجه دشبه داده چه وړومبی خودامسئله دخپل اصل نه دباب القسم یعنی العدل نه نه دی او دباب النفقه نه ده . چه په هغې کې دښځې دمالداری اوغریبی بحث په مقابله دخاوندی کې دی چه په چا باندی دنفقې محنت دی دښځې حق او دخاوند په دی محنت داوړو باندی نظر کولو سره دابحث پیدا شو مخکې په هغې باندی باب القسم جزئیه قیاس کړی شو او قیاس کوونکې هم نه مجتهدین دی او نه مرجحین خو وړومبی خو په خپله اصل مسئله قیاسی چه ظن وه بیاهغه قیاسی باندی قیاس کولو سره چه څه حاصل شول هغه داصل نه هم ضعیف

شو اضعف شول . خصوصاً چه کله قیاس کوونکې هم ضعیف وی بیا په خپله صحت دقیاس یو فارق دوجه نه متکلم فیه هم دی هغه فارق دادی چه اصل کې مقابله ده من علیه الحق ومن له الحق . او ددی دواړو په بنیاد و نو کې برابر والی نشته بدی وجه دتعدیل په وجه کې اختلاف کیدیشی هر ویوونکې دی دواړو بنیادونو د رعایت لاره تجویز کولو کې مختلف رائی قائم کړیدی چه په هغې کې اصل معامله کې دیو کس ترجیح په بل چالازم نه راځی او دلته مقابله ده یو دمن له الحق او دویم من له الحق سره چه داستحقاق په بنیاد کې برابر دی بیا سره دبرابری ئی بناء الاستحقاق کې صرف یو وصف خارجي یعنی دمالداری په وجه سره چه دهغې په بناء استحقاق څه اثر نشته یو ته په بل ترجیح ورکول باطل دی بناء استحقاق دیو وصف خارجي په وجه کومه چه ترجیح بلا مرجح ده غرض داچه دقیاس صحت ته ضعیف بیا قیاس کوونکې هم ضعیف او قیاس دقیاس دوجه نه هم ضعیف . مسئله کې دومره ضعف بیا دوجوب عدل نصوصو سره تعارض . څه رنګه هغه نصوص خپل اخلاق سره دکمزوری دی او نقصانی دی بیا توری قاعدی دوی مقتضی دی چه که چرته په دی حکم باندی عمل هم وکړیشی خو دخاوند رائی باندی به ددی مدار نه وی بلکه دقاضی فیصلې ته حاجت دی څکه چه ددی صورت کې فقیری دطرفنه به اختلاف راځی چه هغه به بل قول اخستل غواړی او دهغې کټ کوونکې صرف فیصله دقاضی کیدیشی اولړی نه ده چه ددی احتمال داختلاف په بنیاد باندی اصل مسئله کې هم قضاء دقاضی شرط وی اګرچه مانقل کړی نه ده لیدلی کیدیشی تلاش کولو سره ملاؤ شی خو ددی نه باوجود هم که چرته یو مفتی ته په دی قول کې شرح صدر پیدا شی او عامی ته هم په دی فتویٰ کې شرح صدر اوشی نو افتاء اخستل جائز دی ۳ رمضان المبارک / ۱۳۴۹ هـ (النور جمادی الاول / ۱۳۵۰ هـ / صـ ۸)

حق پرورش دختر پدر را می رسد یا مادر را

سوال: (۶۳۶) څه فرماعلماء پدی مسئله کې چه دزید بی بی وفات شوه دزید لور زید سره عادت مندی سره کوی دی حالتونو کې دزید خوابنی ته یعنی دهندی مور ته ددی جینی حق دولایت شته یا نه بینوا توجروا؟

جواب: که چرته داجینی بالغه وی او داسی وی چه دیته خواهش راتله نو دنیا حق دپرورش ختم شو او که ددی نه په کم عمر کې ده نو هغې کې داتفصیل دادی چه که دانیا ددی علاج پوره انتظام کولی شی نو دپلار نه مخکې ده . او که انتظام نه شی کولی نو پلار سره دی وساتلی

شي. والدلائل هذه والام والجدة احق بالجارية حتىٰ تحيض وفي نوادرهشام عــن محمــد رحمه الله اذابلغت حدالشهوة فالاب احق وهكذاصحيح هكذافي التبين وهكذافي العالمكيرية وفيهاوان لم يكن له ام الىٰ قوله فام الام الاولىٰ وفيها ولاحضانة لمن يخرج عن كل وقت وتترک البنت ضائعة كذافي البحرالرائق (مجلدالثاني باب سادس عشرفي الحضانة قلت الرواية الاخيرة صريحة في سقوط حق الحضانة اذاخيف ضياع الولد فهــذادليل لمافصــلت والله اعلم ۱۳محرم / ۱۳۷۴ھ (تتمہ خامسہ ص۲۲۸)

مؤخربودن خال درحق پرورش نابالغان ازخواهر

سوال :(۶۳۷) دمورد وفــات نــه وروسـتودنابالغوجينكوتربيت بــل نــژدي رشـتــه دارمــثلاً دمشري خورپه موجودگی کې ماماکولی شي يانه ؟

جواب : في العالمگيرية فان ماتت (اي الجدة) فالاخت لاب وام فان ماتت اوتزوجت فالاخت لــلام الخ. وفيهااذاوجب الانتزاع من النساء اولم تكن للصبي امرأة مــن اهلــه يــدفع الىٰ العصبة وفيهاواذالم تكن للصغيرة عصبة تدفع الىٰ الاخ لام ثم الىٰ ولده ثم الىٰ لعم لام ثم الى الخــال لاب وام لام كذافي الكافي ج۲ ص۱۲۲ دی روايتونونه معلومه شوه چه ماماپه دی حق کې دعصبه نه وروستودی اوعصبه دخورنه وروستودی نوماما دخورنه ډيرروستودی لهذادی صورت کې حق دپرورش خورته شته اوماماته نشته فقط. ۹ربيع الاول / ۱۳۴۲ھ (تتمہ خامسہ ص۲۵۱)

حكم استحقاق عم براىٔ تربيت طفل درصورت عدم وجودوالدان طفل

سوال :(۶۳۸) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دی مسئله کې چه يوکس مرشو اوهغه په خپلوارثانو کې يوه خپله ښځه يوورور اودوه نابالغ خامن پريخودی دي اوس سوال دادی چه خامن نابالغه دی ددوی پلاريو هوټل هم پريخی دی اوهوټل کې کارجاری دی يعنی هغی کې دخوراک څکاک وغيره څيزونه خرڅيږی نوددی څيزونو داخستلو خرڅولو اودهوټل نگرانی صرف په دی وجه داهلکان نابالغه دی چه بالغ شی خپل څيزونه به فائده واخلی ددوی نگرانی تردوکره يابل څوک څکه چه ددوی مورخورپه کورکې ناسته وی هغه پوره نگرانی نه شی کولی ؟

جواب : که چرته تره په ايمانداری سره نگرانی باندی قدرت لری نوهغه ته دی حواله کړيشی في ردالمحتاروان لم يكن للصبي اب وانقضت الحضانة فمن سواء من العصبة اولى الاقرب فالاقرب ج۲ ص۱۰۵۲ / ۲۴رمضان / ۱۳۳۱ھ (تتمہ ثانيہ ص۷۸)

درتحقيق بعض مسائل مندرجه تتمه اولىٰ وثانيه امدادالفتاوىٰ

سوال :(۶۳۹) تتمہ ج۲ ص۷۸ که چرته تره ايمانداری سره په نگرانی قدرت لری الخ غرض سوال ازولايت مال است نه ازحضانت صبي ولايت مال عم راننمی رسد (الــولی فی النكــاح لاالمال) قوله لاالمال فان الولی فيه الاب ووصيه والجدوالقاضي ونائبه فقــط شــامی دون الاخ والعم ۱۲. شامی قال الزيلعي واماماعداالاصول من العصبة كالعم والاخ لايصح اذانهم ليس لهم ان يتصرفوافي ماله تجارة ۱۲. شامی

حكم حق پرورش طفل براىٔ جدفاسددربعض صور

سوال :(۶۴۰) څه فرمائي علماء دين اومفتيان شرع متين په دی مسئله کې چه دجهانگير يوخوی دی دهغی نــه وروستوجهانگيروفات شوددی هلک موربلــه نكــاح وكــره دميراثــه پلاردی هلک ته ډيرتكليف وركولواتفاقاً دطاعون بيمارئ راغله ددی هلک موربيماره شوه دوروميی خاوندچه كوم مال وه هغه يې دی هلک دپاره يوبل کره كيخودوبلكه چه كوم كالی وه هغه ددی مشری خورماماکره ايخی وه پدی نيت چه ددی هلک په واده کې به خرچ کړيشی بلكه دوه دريوكالونه مخکې يې داڅيزونه ايخی وه هركله چه هغه بيماره شوه نوهغی خپل ماماوغوختوددی هلک اودمال حواله كولودپاره خودضروری كارونودوجه نه لانړو. دوفات په وخت کې دروميی خاوندروپی مال وغيره اوداانابالغه هلک خپلوانوته حواله کړی وه. اودهغه خاوندچه كوم مال هغه يې دی خاوندته حواله کړوداسی ووئيل چه داستادی اودامال ددی هلک دي نواوس ددی يتيم هلک اودمال پرورش كوونكې اونگران څوک كيديشی يعنی دادويم خاوندكيديشی يادددی نيايامامايانورچاته چه يې حواله كړيدی ؟

جواب : في الدرالمختارثم اذالم تكن عصبة فلذی الارحام فتدفع للاخ لام ثم لابنــه ثم للعــم لام ثم للخال لابوين ثم لام برهان وعيني وبحروكتابت الحضانة في ردالمختارقولا فتــدفع لاخ ولام كــان ينبغي ان يذكراولاالجدلام ففي الهندية انه اولىٰ من الاخ لام والخال وفي الــدرالمختاركتاب الهبــة

وان وهب له اجنبی ثم یقبض ولیه وهواحداربعة الاب ثم وصیة ثم الجدثم وصیه وان لم یکن فی حجرهم وعندعدمهم ثم یقبض من یعوله کعمه وامه اجنبی ولوملتقطالوفی حجرهما والالفوات الولایة الخ - دی روایتونو په بنیاد دکومورشته دارانوذکرچه دی سوال کي لیکلی شویدی پدی کي دهلک نیاته حق دپرورش حاصل دی اودی ته به مال حواله کولی شی لان تقدیم الوصی علی المربی مخصوص بوصی الاب والجد . خوشرط دادی چه هغه قبول کړی اومعتبره اومهربانه هم وی فقط . ۲۳رمضان ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانیه / ص ۷۲)

ضابطه درتربیت اولاد واهتمام نکاح شان

سوال :(۶٤۱)داولاد پرورش دموريلارپه ذمه ترکومه پوری دی عام دی که هلک وی اوکه جینی دلونږودواده کولوڅه تاکیدی حکم خاص شته یانه اوکه وروستووالی پکښ راشی نوڅه گناه لازمیږی که لازمیږی نوخومره دقران په ایتونواوحدیثونوسره جواب راکړی؟

جواب : دپرورش دسوال جواب پدی تفصیل سره دی چه اولادهلک وی اوکه جینی ددوو حالتونونه خالی نه دی یوحال داچه هغوی مالداروی یعنی په څه طریقی سره دهغوی په ملک کي مال راغلی وی که دهبی په طورسره وی اوکه دمیراث نودی حالت کي دهغوی نان نفقه په خپله دهغوی دمال نه واجب ده . دموراوپلارپه ذمه صرف انتظام کول دی . دویم حال دادی چه هغوی مالداره نه وی بیاپه دی کي دوه صورته دی یوصورت داچه هغوی بالغ وی دویم صورت داچه هغوی نابالغه وی دبالغ کیدوپه صورت کي دوه احتماله دی یوداچه ځان دپاره محنت مزدوری نوکری کولی شی پدیکي په خپله نان اونفقه ددوی په ذمه ده دموريلارپه ذمه نه شته دویم احتمال دادی چه هغوی دخوراگ گټلوقدرت نه لری پدی کي حکم په مثل دنابالغه دی کوم چه آئنده معلومیږی دادواړواحتمالات خودبالغ کیدوپه صورت کي دی اودنابالغ کیدوپه صورت کي دوه شقه دی یوشق دادی چه پلارژوندی وی دویم صورت دادی چه پلارژوندی نه وی که پلارژوندی وي نوصرف دپلارپه ذمه نان اونفقه ده .دموريه ذمه نشته البته پی څکولو په اعتباردفتوی دیانت دموريه ذمه واجب دی اوپه اعتباردحکم اوفیصلی پری څه جبر نشته البته که چرته بچی دبل چاپی نه څکي نودی وخت کي به په موږجبرکولی شی اوکه پلارژوندی نه وی نودموريه ذمه ده اوکه دبچی ذی رحم محرم هم وی نوپه ټولوپه تقسیمولی شی ددی ټولودعوودلیل ددرمختارداعبارت دی

ویجب النفقة لطفله یعم الانثی والجمع فیه وفی المنیة اب معسروام موسرة تومرالام بالانفاق لیکون دیناعلی الاب وفیه وکذاتجب لولده الکبیرالعاجزعن الکسب لایشارکه ای الاب ولوفقیراً احدفی ذلک کنفقة ابویه وعرسه وابضافیه ولیس علیٰ امه ارضاع قضاء بل دیانة الااذاتعینت فتجبر کماف الحضانة وفیه عن البحرله ام عم فکارثهماقال ولولدام وعم واب ام هل تلزم للام فقط ام کالارث الاحتمال الخ - اوپه واده کي دتاکیدی حکم په باره کي دسوال جواب دادی چه داحکم قران حکیم کي هم شته اوحدیث کي هم عام طورسره دی چه هلک جینی دواړو ته شامل دی اوجینکودپاره خصوصیت سره هم دی . قال الله تعالی وانکحوا الایامی منکم الایه- ایام جمع دایم ده شراح حدیث دالشریح کړیده الایم من لازوج لهابکراً کانت اوثیباً ویسمی الرجل الذی لازوجة له ایما ایضاً . وفی المشکوٰة الفصل الثانی من باب تعجیل الصلوٰة عن علی رضی الله عنه ان النبی ﷺ قال یاعلی ثلاث لاتؤخرها الصلوة اذاأتت والجنازة اذاحضرت والایم اذاوجدت لهاکفواً رواه الترمذی وفیهاالفصل الثالث من باب الولی فی النکاح عن ابی سعیدوابن عباس رضی الله عنهما قال قال رسول الله ﷺ من ولدله ولداً فلیحسن اسمه وادبه فاذابلغ فلیزوجه فان بلغ ولم یزوجه فاصاب اثماً فانمااثمه علی ابیه وعن ابن عمرالخطاب رضی الله عنه وانس بن مالک رضی الله عنه عن رسول ﷺ قال فی التوراة مکتوب من بلغت ابنته اثنتی عشرة سنة ولم یزوجه فاصابت اثمافاثم ذلک علیه رواهما البیهقی فی شعب الایمان . دی روایتونوسره ددی حکم موکدکیدل معلوم شول اودموکد پریخودل موجب دمواخذی گرځی اودگناه مقدارداخیری حدیثونونه معلومه شو چه په صورت دوروستووالی په کومه گناه کي چه دااولادمتبلادی که هغه دنظرنه که دغوږنه یاژبی نه یادزړه نه وي دومره گناه دصاحب اولادهم ده والله اعلم . ۳شعبان ۱۳۲۲ھ (امداد/ ج ۲/ ص ۷۷)

(کتاب الحدود والتعزیر)

تو حدیا تعدد عقر در صور مختلفه

سوال :(۶۴۲)دیو سړی ښځه د کفر کلمی ویلو په وجه د نکاح نه بهر شوی خو خوروڼې پس بې بیانکاح تازه کړه نو که تازه کولو نه مخکې وطی شوی وی نو مهرور کول شته یا ز نا صرف موجب د حد ده ظاهر خو دا دویم شق دی خاص کړچه د حرمت نه یو کس خبر هم وی بیا هم داسی وکړل نو مهرور کول د هر وطی په مقابله کې دی یا هر څو مره چه وطی شوی وی صرف یو مهر دی او د هندوستان دا دار الحرب کید و څه حکم دی ایا مهر او حدود دواړه ساقطیږی یا څنګه چل دی ؟

جواب : دی صورت کې حد نشته فی العالمگیریة کتاب الحدود والباب الثالث ارتدت المراة والعیاذ بالله وحرمت علیه او حرمت بجماع امها او ابنتها او لمطاوعة ابن الزوج ثم جامعها وقال علمت انها علی حرام ام لا حد علیه الخ پاتی شول واجب دل د مهر نو اګرچه دی ځای ته دار الحرب وویلی شی خو مهر حق العبد دی هر ځای کې د دی وجوب یو شان دی پاتی شو تخصیص د دار الاسلام په دی بنیاد دی چه دار الحرب ولایة الزام عن الایام ته وی باقی وجوب دیانة په خپله الزام قاضی باندی موقوف دی دا جواب د شریعت د کلیاتو نه ورکوم جزئی می نه ده کتلی او ګڼر څله وطی کولو سره مهرهم متعدد کیږی فی العالمگیریة کتاب النکاح الفصل الثالث عشر الاصل ان الوطی متی حصل عقیب شبهة الملک مرارا لم یجب الامهر واحد لان الوطی الثانی صادف ملکه ومتی حصل الوطی عقیب شبهة الاشتباه مرارا یجب لکل وطی مهر علی حدة وفیها ولو وطی المعتدة عن الطلقات الثلث وادعی الشبهة الیٰ قوله وان ظن ان الطلقات واقعة لکن ظن ان وطیها حلال فهذا الظن فی غیر موضعه فیلزمه بکل وطی مهر فقط والله اعلم (امداد ج ۲ / ص ۸۱)

عدم استلزم ارتفاع حدود در متعه ارتفاع زنا را

سوال :(۶۴۳)اوس د موطا یو ترجمه چه د هغې نوم کشف الغطاعن کتاب المؤطا مترجم وحید الزمان خان حیدرآبادی زما د نظر نه تیر شو په هغې کې مترجم لیکلی دی د حدیث متعه په باره کې یې لاندی لیکلی دی چه متعه کوونکې باندی بالاتفاق د زنا حد نه لازمیږی پدی نه

پوهیږم چه هر کله متعه حرام شوه نو متعه کوونکې باندی ولی د زنا حد نه راواپس کیږی څکه چه حرام چه هغې سره دا نتیجه راوزی چه کوم کار متعی په ذریعه وکړیشی د زنا حد ته نه رسی دی باره کې چه د جناب څه رائې وی په هغې خبرداری راکړی څکه چه بعضی بعضی خلق په دی غلطی کې غورزیدلی دی چه ممنوعه سره صحبت کول زنا کې داخل نه دی ؟

جواب : فی العالمگیریة او تزوجها متعة لا یجب الحد الخ . ج ۳ / ص ۹۴ / وفی رد المحتار تحت قول الدر المختار الموجب للحد قید به لان الزنا فی اللغة او لشرع بمعنی واحد الیٰ قوله فان الشرع لم یخص اسم الزنا بما یوجب الحد بل بما هو اعم والموجب للحد بعض انواعه ولو وطی جاریة ابنه لا یحد للزنا ولا یحد قاذفه بالزنا فدل علی ان فعله زنا وان کان لا یحد به وتمامه فی الفتح . ۳ ج ص ۲۱۷ وفی الدر المختار ولا حد ایضا لشبهة العقد ای عقد النکاح عنده ای الامام کوطی محرم نکحها . ج ۲ ص ۲۳۲ دی روایتونو کې دا تصریح ده چه هره زنا کې حد نه وی او حد نه لازمیدو سره دا نه لازمیږی چه دا زنا نه دی لکه مور سره نکاح وکړی او کوو الی وکړی موجب د حد نه دی حالانکه یقیناً زنا ده دی په حلال ګڼړلو کې چرته شبه کیدیشی او دو چه دی داده چه اد نی حد سره ادنی شبه یا مشابهت د عقد دی صورت سره هم دفع کیدیشی اګرچه حقیقت د عقد یقیناً منفی دی نو ممنوعه سره صحبت کول یقیناً زنا کې داخل دی اګرچه دی سره حد نه لازمیږی ۲۷ ذی قعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه ص ۱۹۱)

د تدرمود جرمانی حکم

سوال :(۶۴۴)حسب قانون انګریزی اګر از متعلمین خطائ مثلاً غیر حاضری وغیره رونما آید جرمانه کرده می شود این معامله درست است یا نه ؟

جواب : بلا تاویل جائز نیست عند الحنفیه مګر تاویلش بدین شان تواند شد که دران ماه اجرت عمل بمقدار جرمانه زائد مقرر ګفته شود ۴ ربیع الثانی ۱۳۳۱ھ (حوادث اول وثانی ص ۱۷)

حکم جرمانه بر رعیت

سوال :(۶۴۵)زمیندار په خپلی زمیندارۍ کې او سید ونکو باندی چه هغه ته رعیت ویلی شی خصوصاً وړو کې قوم پر سختی یا د هغې په خپل مینځ کې د جهګړو په موقع باندی جرمانه کوی او په خپل خرج کې لګوی څه د هغه کلی نلقوته هم ورکوي خو انګریزی قانون

ددی اجازت نه ورکوي داسې حالت کې داکار دزمیندار جائزدي یانه. که جائزوي نو دهغې دخرج کولو ځای دغه ذکرشوی ځای دي یابل ځای دی؟

جواب: دهغې اخستل اودی ذکرشوی مصرف کې لګول ټول ناجائزدی. ربیع الثانی / ۱۳۳۱هـ حوادث اول وثانی / صـ۱۸.

بعض احکام جرمانه متعارفه بعض اقوام

سوال: (۶۴۶) څه فرمائي علماء دین اومفتیان شرع متین دی مسئله کې چه یوقوم مومن اومسلمان دی خودی قوم کې که چرته ده دخپلولی نه یوکس غلط کاروکړی چه هغه شرعاً ناجائزوی نو دهغې فیصله پنچان قوم کوی په جومات کې ته دننه لاړشی اوددی غلط کارکوونکې باره کې دجرمانې مشوره کوی اوبیابهر راشی دی ټولو ته یې اوره وی اوداوائی چه ای سړیه یاخوته په خپلو ټولو خپلوانو باندې روټی اوخوروه کښې په تاباندې سل روپې جرمانه ده اودقوم نه هم خارج یې اویاصرف جرمانه کوی یې. غرض دسلو اوپنځوسو نه کم نه کوی اوس چه بعض غریبان ددوانو مزدور وی هغوی څوځوکاله دخپل قوم نه بهراوسی نه هغوی سره جرمانه وی اونه خپل قوم ته راتلی شی اوکه چرته هغه غریب خالی لاس لاړشی اوخپل قوم ته لاسونه هم جوړه کړی بیاهم ورته داجواب ملاویږی چه جرمانه راوړه هغه غریب ناامیده شی واپس لاړشی اوبیا دمجبوری نه په خپل جائداد یاسامان باندې نظراچوی یاهغه ګانړه کوی یاځای خرڅوی اوپاتې په سود ورکوی اوبیاهغه پیسې راوړی دخپل قوم یاجرمانه اداکوی یاپری خوراک کوی اوکه نغده جرمانه ورکړی نو سردارهغه روپې واخلی بیامشوره کوی اخر دامشوره چه په پیسو دلوبنی جوړشی غرض کله دیګ راغواړی کله دونګی جوړوی اوبیا دالوبنی ټول قوم په واده کې استعمالوی اوکه بعضی خلق یې استعمال کې نه روالی هغوی وایې چه ددی لوښو استعمالول په شریعت کې ناروادی اوس دعالمانو ددین نه ددی خبری ګزارش دی چه مسلمانانو ته داخوراک څنګه دی اومسلمانان جرمانه کول څنګه دی اوبیا دمسلمانانو هغه جرمانه اخستل څنګه دی اوبیا په دغه پیسو باندې لوبنی اخستل اوستعمالول څنګه دی اوبیا چه هغې کې خوراک پخولی شی هغه خوراک څنګه د اومکروه تنزیهی دی یاتحریمی یاحرام؟

جواب: داسې خوراک خوړل اودغه شان جرمانه کول یادهغې اخستل یادهغې روپو لوښی استعمالول داټول حرام دی. ۳ ذی قعده / ۱۳۳۳هـ (حصه ثالثه / صـ۱۵۹)

تعذیر واجب بودن برکودکان هندوکه مصحف راسوختند

سوال: (۶۴۷) بعد ازنیاز والسلام علیکم. این که هولی روز عید هندوان ست درین روز شراب خوری ولهو ولعب بازی می کنند مسجدی است متصل بمحله هنداون اندرون مسجد دردریچه قران شریف داشته بود کودکان هندو دازدریچه برداشته بیرون مسجد بآتش سوختند اوراق سوخته بدست اهل اسلام امدند ازحسرت بسرکار استغاثه کردند مقدمه دائراست وکیل هنود وهنود اهل اسلام راگفتند که مقدمه رابگزارید هرچه مذهب شما فیصله کند مایان راقبول ست اهل اسلام مراین بنده راطلبیده وطلب حکم شرعی نمود گفتم که ازین مسئله ناواقفم بعلماء نویسم هرچه فتوی آید حاضر خواهم کرد تاامدن فتوی مهلت ازسرکار گرفته اند حضرت چونکه معاملـه بس گران است بحوالـه کتب فتوی تحریر فرمایند تاکه علماء این نواح رااگرحواله طلبنده حاضرنمایم ومنصفان جانبین ووکلاء هم بغیرحواله مشکل قبول کنند اگربالفرض والتقدیر همین بی حرمتی ازهنود بالغین ثابت شود پس چه حکم است درسکرچنان ودرصحوچنان؟

جواب: فی الدالمختار الصغرلایمنع وجوب التعزیرفیجری بین الصبیان وفی ردالمختارعن البحرمراهق شتم عالمافعلیه التعزیراه والظاهران المراهقة غیرقیدتامل وفیه یشکل علیه (ای علی تقییده بحق العبد) ضربه علی ترک الصلوة بل وردانه بضرب الدابة علی النفار لاعلی العثار ج۲ / صـ۳۹۲ وفی العالمگیریة وکذلک یمنعون عن السکرلانهم لایستحلون اصل الشرب الخ. کذا فی الذخیرة ج۲ / صـ۱۵۲ وفی زیعلی لان المقصودمنه الزجرواحوال الناس فیه مختلفة بحروق رداختار. وقال الزیلعی ولیس فی التعزیرشئ مقدرواناهومفوض الیٰ رای الامام علی مانقتضی جنایتهم فان العقوبة فیه مختلف باختلاف الجنایة الیٰ قوله وکذاینظرفی احوالهم فان من الناس من ینزجرباالیسیرومنهم من لاینزجر الابالکثراه ج۳ / صـ۲۷۲ ازین روایات امورذیل مستفادشد (۱) نابالغ بودن مانع تعزیرنیست (۲) درنشه بودن مانع تعزیرنیست (۳) درفعل مسئول عنه تعزیرواجب است (۴) مقدارتعزیرشرعاً مقدرنیست مفوض برائ حاکم است (۵) برحاکم واجب است که مرتبه جنایت وحالت جانی رابینند ودرهردوامرامعان نفررابکاربرده چنین سیاست تجویزکند که مقصود تعزیرکه انزجارازچنین جنایت وعبرت مرناظرین راوحفظ احترام شعاردین درخصوص واقعه است ازین سیاست حاصل آید وظاهراست که واقعه

ازبس هائل ودراضطراب انداز جماعتی عظیمه است اگر سزائ کافی تجویزنه شد موجب بی وقعتی شعائراسلام وموجب کبیرقلوب ومهیج غیظ اهل اسلام ومورث مفاسد وفتن عظیمه درزمان مستقبل خواهدبود. ۱۵رمضان ۱۳۴۰هـ

دی سره یې سوال کوونکې ته پوخط هم ولیږلو لاندې لیکلې کېږي

اسلام علیکم - ازقرائن چنان بدل می آید که وکلاء هنود ازمطالعه کتب یقین نموده اند که سزائی شرعی درین جنایت اخف است ازسزائی قانونی ازهمین سبب برسزائی شرعی رضا داده اند وسزائی شرعی مفوض است برائی حاکم وحال حکام معلوم است لهذا اندیشه که سزائی خفیف تجویز کند که مصلحت انزجار هم حاصل نه شود لهذا رائ احقر آنست که اگر عقلاء هم اتفاق کنند این درخواست را قبول نه نمایند واین رد شریعت نیست بلکه چون امید نیست که مصلحت انزجار حاصل شود لهذا او امر غیرشرعی است واز حکام اجرائی سزائی قانونی خواهند که آن بوجه ترتب انزجار مشتمل خواهد بود سزائی شرعی. (تتمه خامسه ص ۲۲۴)

جائزنه بودن جرمانه مالی ازملازم درصورت ترک

کردن ملازمت خلاف درصورت دیگرحصول مقصود

سوال :(٦٤٨) ما دخپل کاروبار دپاره یوه وره غونډی داوړوجرنده لګولی ده هغی باندی می دوه ملازمان کارکولو دپاره ساتلی دی په دیکې که چرته یوناڅاپه بغیر دخبر راکولو نه نوکری پریږدی نوماته دالاندینی تکلیفونه مخی ته ارځی (۱) څه وخت دپاره کاراو دربږی (۲) زربل سړی کتل غواړی (۳) که زرچرته ملازم ملاؤ شی او هغه کار دپاره اونیسم نو دیرګران دمرضی نه خلاف ملاوېږی (۴) که ملازم چرته ملاؤ نه شی نو دمجبوری نه مزدورپه مزدوری نیسم چه مقرر دمیاشتی تنخواه سره ډیرګران پریوزی (۵) چونکه مزدور یانوی ملازم دکارنه ناخبره وی نوماته په خپله هغه ته دکارخودلو او صبادپاره کارکې دسوځ کولو څه وخته پوری ضرورت راځی چه هغی سره ماته په خپله ډیرتکلیف وی وغیره. غرض داچه دی واقعوته وګوره او اوس زه نوی ملازم نیسم خو هغه سره دغه شان وعده کوم چه که چرته ستا اراده دملازمت پریخودلو وی نو دهغی نه پنځلس ورځی مخکې ماته دهغی باره کې اطلاع راکړه چه زه خانته څه نور انتظام وکړم. او که ته ناڅاپه بغیر دخبر راکولو لاړشی نو دی

سره ماته تکلیف کیږی پدی وجه دجرمانی په طوریوه روپی یادوه روپی (چه زبانی مقرروم) دهغه ناڅاپه تلوچه تاماته بې تکلیف رسولی دی دهغی په بدله کې به درنه اخلم چه هغه ملازم منی نو دامقرره جرمانه دی ملازم نه اخلم هرکله چه دی په وعده قائم پاتی نه شی او په مینځ کې او تختی چه هغی سره ماته ډیرتکلیف رسی. داجائز دی یانه (نوټ) هرځل دتکلیف اندازه چه ماته دی ناڅاپی تلونکې سره څومره رسی یو ډیرسخت کار دی تولونه زیات مشکل ماته هغه دی کوم چه ما نمبر ۵ کې بیان کړو اورسره دانور مشکلات هم کوم می چه مخکې پیش کړل نو دی تکلیف دپاره ما ډیرزور نظر سره کتل نوما دا اسان کارولیدو چه یو تعداد دجرمانی به مقرر کړو او خپله کې به وعده وکړو او دواړه فریقین بې هم او منی. که چرته داصورت جائزنه دی بل صورت که جائزوی دهغی باره کې خبرداری راکړی چه دهغی موافق عمل وکړو؟

جواب: چونکه تعزیر بالمال داحنافو په نزد منسوخ دی داپدی وجه هم او بل چه ددی خپل ماعلیه التعزیر کیدل هم واضح نه دی. پدی وجه دقواعدو په روسره دانا جائز او رشوت دی خو ضرورت دوجه نه یوی حیلی سره پدیکې یو خاص ګنجائش کیدیشی هغه داچه فقهاء ددومختلفو صورتونوکې دوو مختلفو اجرتونو مقررکولو ته جائز لیکلی دی نوکه چرته داسی وونیلی شی چه که صحیح صحیح دوعدی په حساب سره وی مثلاً لس روپی میاشت به وی نو حاصل هم هغه راغلل او قواعدو سره هم برابر شول احتیاطاً دنورو علمانو نه هم معلومات وکړی. (قرب ۱۳۳۷هـ حوادث ۵ ص ۲۲)

تحقیق حکم جرمانه

سوال :(٦٤۹)زمیندارو ته دڅه بی امنی او بی قاعدګی نقصان رسیدو باندی علاوه دهغه مال نه کوم چه ددی نقصان رسیدونکې بدله ده زمیندار ته څه اخستل جائز دی یانه؟

جواب: دجرمانه زمونږ دامام صاحب په مذهب کې حرام ده پدی وجه دامال جائزنه دی البته که چرته دسیاست ضرورت وی نو ددی خبری اجازت دی چه دهغه نه څه مقدار دمال واخستی شی او څو ورځو پوری هغه دخان سره وساتی هرکله چه هغه پوره تنګ شی نو بیا دې ورته واپس کړی داهم دی سړی ته جائزدی چه کوم کې دوه وصفه وی یو حکومت او اختیارلری دی

دپاره چه څه فتنه نه وی دویم معتمد او دیندار وی چه بیا په واپسی ورکولو باندی اطمینان وی کنی داهم جائزنه دی والله اعلم ۲۴ جمادی الاول / ۱۳۲۲ھ (امداد ثانی / ص ۱۵۹)

سوال :(۶۵۰) دیو جماعت په جوړوکې چه دتاوان او جرمانی پیسی لګولی شوی وی هغه تاوان دادی چه یو سړی یې دڅه جرم بدله کې جرمانه کړو. او دقربانی څرمنی ددم څرمنی او دعقیقی څرمنی او دهغی پیسی یادنکاح پیسی په جومات کې لګول جائزدی یانه او دی جومات کې لمونځ کیږی یانه ؟

جواب: زمونږ داحنافو په نزد جرمانه جائزنه ده دهغی اصدنی هم جائزنه ده. فی الدرالمختار لاباخذمال فی المذاهب الیٰ قوله فی المجتبیٰ انه کان فی ابتداء الاسلام ثم نسخ الخ. داسی روپی په جومات کې لګول جائزنه دی (او دقربانی دڅرمنی پیسی صدقه کول واجب دی فی الدرالمختار والصدقة کالهبة بجامع التبرع وفیه هو (ای الهبة) تملیک العین مجاناً) او په جماعت کې لګولو سره تملیک نه راځی پدی وجه داهم په جومات کې نه شی خرچ کیدی او لفظ ددم عام دی که چرته سوال کې دهغی تعین وکړیشی نو جواب کیدیشی او عقیقه کې دقربانی داحکامو خیال ساتل مستحب دی نو دی اعتبار سره ددی دڅرمنو قیمت جومات کې لګول اولی نه دی او نکاح[1] باندی اجرت اخستل دی او داقاعده کلیه ده چه کوم اطاعت مخصوص نه وی اسلام سره په هغی باندی دمباحاتو په شان اجرت اخستل جائزدی او نکاح هم دغه شان ده په دی وجه که مالک په خپل خوښی باندی جومات کې لګول غواړی نو جائزدی خلاصه داشوه چه جرمانه او دقربانی دڅرمنو پیسی په جومات کې لګول جائزنه دی او دعقیقی دڅرمنی پیسی لګول خلاف اولی دی او دنکاح پیسی په جومات کې لګول جائزدی والله اعلم ۱۳ ذی قعده / ۱۳۲۰ھ / (حوادث اول وثانی / ص ۹۸)

تحقیق جرمانه زنا

سوال :(۶۵۱) ما وعده کړی وه چه دزنا په مقدمه کې چه کومه جرمانه دزنان کاری خاوندته ورکولی شی دهغی حکم چه کله معلوم کړم نو اطلاع به درکړم اوس هغه لیکم او هغه داچه اصل کې خودارقم جائزنه وه پدی وجه حدیث افتداء الابن بمائة شاة کې حکم درد ددی واضحه دلیل دی خو تحقیق کولو سره معلوم شول چه داجرمانه وروميی دعدالت په قبضه کې

[1] یعنی فی نفسه اگرکه عوارض دوجه نه منع کړیشی تفصیل ددی په رساله الحق الصراح کې دی ۱۲ منه

راځی بیا عدالت نه دی سړی ته ملاویږی پس که چرته دغه شان وی نو ددی قاعدی موافق مالهم مباح ثمه فیباح برضاهم وقاعده یتملکون بالاستیلاء دی خاوند دپاره حلال دی. ۲۱ ذی الحجه / ۱۳۲۷ھ (تتمه اول / ص ۱۴۴)

دلیل حرمت جرمانه مالی از حدیث

سوال :(۶۵۲) یوه مدرسه کې داقاعده ده چه کله یو طالب علم هلته داخلیږی نو دمدرسی مهتمم دهغه وارث ته یا هغه ته وائی چه دابچی یاته که چرته غیرحاضرشوی یادڅه نقصان وکړونو ته به نیمه انه یازیات دمدرسی دقاعدی موافق دنورووظیفی نه علاوه دجرمانی په طور ورکوی او دادی دپاره چه ته ددی بچی په حاضری کولوکې څه غلفت ونه کړی او داهم وائی چه دامال دجرمانی مونږ نه شوخوری بلکه دبچو په ضرورتونو مثلاً فرش وغیره کې خرچ کوؤدی وروکې غوندی قیدباندی فائده مرتب کیږی چه بچی غیرحاضری نه کوی خو په ضرورت او اجازت سره دادتعلیم او تعلم کارچستی او چالاکې سره کیږی دی قاعده کې څه شرعی قباحت شته یانه ؟

جواب: مالی تعزیر یعنی جرمانه داحنافو په نزد جائزنه ده او دحدیث لایحل مال امری مسلم الابطیب نفس منه ددی تائیدهم کوی نو دجرمانی په طور خود اخستل جائزنه دی البته ددی یو بله طریقه کیدیشی هغه داچه دی غیرحاضری باندی دی داطالب علم خارج کړیشی دغیرحاضری سزاخوداوی او آئنده دپاره داخلول خو په مدرسه والاباندی واجب دی نه مباح دی مباح کې چه متقوم وی دمال شرط لګول جائزدی او دلته دمدرسی دمکان نه فایده اخستل داستاذانو ته علم حاصول داټول اموردا سی دی چه په دی باندی متولی ته اجرت اخستل جائزدی نو دی اجرت کې دی هغه پیسی واخستلی شی او ددی تقریر تصریح او وضاحت دی وکړیشی دی دپاره چه عقد او تړون مبهم پاتی نه شی ۲۹ ذی قعده / ۱۳۲۲ھ (حوادث اول وثانی / ص ۱۲۰)

دطالب علم په غیرحاضری باندې دجرمانی حکم

سوال :(۶۵۳) یوه مدرسه کې داقاعده ده چه کله یو طالب علم هلته داخلیږي نو دمدرسی مهتمم دهغه وارث ته یا هغه ته وائی چه دابچی یاته که چرته غیرحاضرشوي یادی څه نقصان وکړونو ته به نیمه انه یازیات دمدرسی دقاعدی موافق دنوری وظیفی نه علاوه دجرمانی په

طورورکوي اودادي دپاره چه ته ددي بچي په حاضری کولوکي څه غفلت اونه کړي اوداهم وائی چه دامال دجرمانی مونږنه شوخوري بلکه دبچوپه ضرورتونومثلاً فرش وغیره کي خرچ کوؤ دی وروکي غندی قیدباندي فائده مرتب کیږي چه بچی غیرحاضري نه کوي خوبه ضرورت اواجازت سره اودتعلیم اوتعلم کارچستی اوچالاکي سره کیږي دي قاعده کي څه شرعی قباحت شته یانه ؟

جواب :مالی تعزیریعنی جرمانه داحنافوپه نزدجائزنه ده اوحدیث لایحل مال امری مسلم الابطیب نفس منه . ددی تائیدهم کوي نودجرمانی په طورخوداخستل جائزنه دي البته ددی یوبله طریقه کیدیشی هغه داچه دی غیرحاضری باندي دی داطالب علم خارج کړیشی دغیرحاضری سزاخورواوي اوآئنده دپاره داخلول خوپه مدرسی والاباندي واجب دي نه مباح دي مباح کي چه متقوم وي دمال شرط لګول جائزدي اودلته دمدرسی دمکان نه فائده اخستل داستاذانوته علم حاصلول داتول امورداسی دي چه په دی باندي متولی ته اجرت اخستل جائزدي نودي اجرت کي دي هغه پیسی واخستلی شی اوددی تقریرتصریح اووضاحت دي وکړیشی دی دپاره چه عقداوترون مبهم پاتی نه شی ۲۹ذی قعده ۱۳۳۲ھ (حوادث اول ثانی صـ ۱۲۰)

جرمانه براهل مواشی درصورت اضرارزراعت

سوال :(٦٥٤)کلی کي داررواج دي که یوسړی دچاپه پټی کي ورانی وکړی یاخناورخاوری دچاپه پټی کي وڅروی چه هغی کي غله کرلی شوی وی په هغوی باندی جرمانه لګولی شی نوداجرمانه دجومات په تعمیرکي لګول یاتیل لوټووغیره کي خرچ کول څنګه دی ؟

جواب : که چرته خاروسره څوک نه وی نودی صورت کي داجرمانه اخستل جائزنه دی اوکه څوک ورسره وی نوچه څومره نقصان شویدی هغه هومره اخستل جائزدی خودادی پټی والاحق دی ۱۸ربیع الثانی ۱۳۳۱ھ

جرمانه

سوال :(٦٥٥)دخپلومزدورانویادفصل کرلووالانه دڅه نقصان په وجه تاوان اخستل جائز دی یانه مثلاً یوفصل کرلووالادزمیندارد رضامندی اودعلم نه بغیردهغه ونه کټ کړه یاپي

خاي جوړکړونوکه زمینداردی نقصان باندی څه جرمانه یاتاوان ددی ملزم په رضامندی باندی په ده ولګوی اوزمینداربي ترینه واخلی نوجائزدی یانه ؟

جواب : جائزنه دی صرف دونی قیمت اودخای کرایه اخستل په اعتباردعرف اوعادت اخستی شی **برنی جواب متعلق سوال** (۱) جرمانه داماماتوپه نزدڅه درجه لری (۲) که چاته نقصان رسیدلی وی هغه ته بدلـه ورکول جائزدی یانه (۳) دجرمانی رقم څه موده پس ورکول دسیاست هغه ویره ختموی داسی حالت کي په انتظام کي یوه عجیبه بی ترتیبی واقع کیږی اوددی نه بهترداسی نه جرمانه کول دی په دی وجه دسیاست چه هغی سره اثرهم اوغورزیږی اوجائزهم وی تاسوڅه بنه طریقه وښائی. **جواب** (۱)علامه شامی ددرمختارپه حاشیه دریم جلدباب التعزیرکي داتصریح کړیده چه صرف دامام ابویوسف رحمه الله نه دجرمانی دجوازروایت نقل شویدی اوهغه هم ضیعف باقی نورعالمان اوداماماتوپه نزدجائزنه دی اوهرکله چه روایت ضعیف دی نودعمل قابل نه شی کیدی دی نه علاوه هغه روایت کي هم صرف صاحب سلطنت یاحکومت ته اجازت دی زمیندارپه حیثت دزمینداری حاکم نه دی په دی کي اوفصل کرلووالااومزدورانوکي تعلق داجاری اواستحباب دی اوبیاحاکم دپاره هم پدی وجه دجوازفتوی ورکول منع کړی شویدی چه خلقوته به دظلم کولوبهانه په لاس راشی دعلامه عبارت دادی قال فی الفتح وعن ابی یوسف رحمه الله یجوزالتعزیرللسلطان باخذالمال وعندهماوباقی الائمة لایجوزومثله فی المعراج وظاهره ان ذلک روایة ضعیفة عن ابی یوسف رحمه الله قال فی الشرنبلالیة ولایفتی بهذالمافیه من تسلیط الظلمة علی اخذمال الناس فیاکلونه . اوچه لږمخکي لاړشی نوعلامه نقل کړیدی چه بادشاه ته هم صرف دخزانی دخلقودجرمانی اجازت دی اوهغه هم په دی شرط چه په ملکي خزانه کي یي داخل کړی دهغه مقام عبارت دادی ویذکرالشارح فی الکفالة من الطرسوسی ان مصادرة السلطان لارباب الاموال لایجوزالالعمال بیت المال ای اذکان یردهایت المال. غرض وروسبی خوټول امامان عدم جوازطرفته تلی دی بیاداامام ابویوسف رحمه الله نه هم روایت ضعیف اوهغه هم خاص بادشاه سره اوپه هغی کي هم تخصیص خزانی عاملینوته اوبیاهغی کي شرط دادی چه خزانی کي به یي داخلوی نودی وخت په بادشاهانواميرانوکي دجرمانی کوم رواج دی داد هیچاپه نزدجائزنه دی (۲) که نقصان دمثلی څیزشوی وی مثلاً دچادچاغله هلاکه کړه یایي پیسی ضائع کړی نودی صورت کي په خپله دی صاحب نقصان ته دغه نقصان رسوونکي نه دومره څیزاوهغه شان

ځيزاخستل كه په ښكاره وي اوكه په پټه وي جائزدي دغه شان اداروته هم پديكي امداد جائزدي اوكه نقصان دذوات القيم څيزونوشويدي مثلاً يوكس دچانه كټ كره يابي ترينه كيږي پټي كړي يادچاپټي بي په خپلوځاروباندي اوخوړلونودهغي بدل اخستل ديته شرعاً مبادله وائي چه په هغي كښي تراضي يادقاضي فيصلي ته حاجت دي اوزميندارخوچونكه بادشاه يانائب دبادشاه نه دي پدې وجه دي دويم صورت كښي دي په مينځ كښي رواستل جائزنه دي البته كه چرته دملك حاكمان دي زميندارته داسي اختيارورکړي مثلاً دكلي يوخاص مجستريټ بي جوړكړي اوداسي معاملاتودفيصلي اختيارات ورته وركړي نوده ته هم بيادغه شان دحكم كولوحق شته كوم چه حاكمانوته دي (۳) مخكښي بيان شول چه دداسي سياست حق هم زميندارته نه دي حاصل صرف بادشاه ته دي بل چاته هم حق حاصل نه دي دزمينداري تعلق صرف اجاري اواستجاري سره دي كه يومزدوركاريي خوښ نه وي بدل دي كړي پاتي شوبادشاه چه هغه ته ددي سياست حق حاصل دي دهغي باره كښي علامه شامي په دغه جلداوحاشيه كښي نقل كړيدي چه داواپس كول دمال هغه وخت دي چه كله دتوبي نخښي په هغه باندي ښكاره شي كه چرته دتوبي نه نااميده شي نوچرته بل ځاي دنيكي په كاركښي خرچ كړي چه مقصود سياست پوره شي توبي سره داغرض ښې طريقې سره حاصليږي اوس دويري څه ضرورت پاتي شواوتوبي نه كولوپه صورت كښي هغه مال هغه ته ملاؤنه دي پوره ويره حاصل ده خوداټول بادشاه دپاره دي دعلامه عبارت دادي فان ايس من توبته بصرفهاالىٰ مايرى .۹جمادى الثانى / ۱۳۲۴هـ !

كتاب الايمان

وجوب حنث دريمين غيرمشروع وقسم بقران

سوال :(٦۵٦)زيدديوي بهرني ښځي هندي په مقابله كښي په يوناجائزه كارباره كښي قران شريف اوچت كړوچه موترپه تاته نغدي دمياشتي دومره دركوؤ اوس كه چرته زيدتنخوانه وركوي اوتعلق هم ورسره كټ كړي نوده ته څه كفاره وركول پكاردي ؟

جواب : چونكه يوناجائزكارباندي يي قسم خوړلي دي پدې وجه ددي قسم ماتول واجب دي كه نه ماتوي نوګنهګاردي يعني په زيدفرض دي چه دي ښځي سره تعلق كټ كړي اوهغي ته تنخواورنه كړي اودقسم ماتولوكفاره داده چه لسوغريبانانوته دوه وخته په مړه خيټه وركړي

ددي وس يي نه وي نودري روژي دي ونيسي . قال فى الـدرالمختارقال العيني وعندى ان المصحف يمين فى ردالمختارعبارته وعندى لوحلف بالمصحف اووضع يده عليه وقال وحق هذافهويمين ولاسيما فى هذالزمان الذى كثرت فيه الايمان الفاجرة ورغبة العوام فى الحلف بالمصحف الخ .واقره فى النهرقلت ومانظرفيه المحشى مدفوع بان مرادالعوام القسم بمافى المصحف من كلام الله تعالىٰ وقداعترف بكونه يمينافافهم وباقى اجزاء الجواب ظاهرغيرخفي والله اعلم .۲۲جمادى الثانى / ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانيه ص ۳۷)

تعددكفاره به تعدديمين

سوال :(٦۵۷)كه يوسړي ډيرقسمونه اوخوړي اومات يي كړي اويادهم درته نه وي چه څومره قسمونه مي مات كړيدي اودكوم كوم تاريخ اودورځي اودمياشتي اودكال مات شويدي نواوس څه وكړي آياپوه كفاره دټولوقسمونودطرف نه كافي ده يانه كه كافي ده نوهغي كښي اياداشرط هم دي چه ټول قسمونه يي يوفعل باندي خوړلي وي يادا شرط نشته اوكه يوه كفاره كافي نه ده نودهري كفاري نيت به څنګه كوي ؟

جواب : ډيروقسمونوخوړلوسره كفاره هم متعدد كيږي بيله بيله كفاره به وركوي كذافى الدرالمختار اونيت كښي دتعين حكم ۲۰جمادى الثانى ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانيه ص ۳۷)

تحقيق تو حديانعدد تسم به تعددمقسم عليه

سوال :(٦۵۸)كه يوسړي ددوه دري كارونونومونه واخستل اوقسم وكړوداسي يي ووئيل چه په خداي ﷻ قسم زه په فلاني كارنه كوم نوداقسم شويادڅومره كارنونومونه چه يي اخستلي دي هغه هومره قسمونه شول كه چرته يوقسم وي نوبياكه دي كارونوكښي يي چرته يوكارهم وكړونوقسم مات شويانه ؟

جواب : كه چرته حرفي نفي يي بياپياذكركړي وي پدې شان سره چه زه به نه فلاني كاركوم نه فلاني نودادوه قسمونه شول اوكه حرفي نفي يي مكررنه وي ذكركړي پدې شان سره چه زه به فلاني فلاني كارنه كوم نوبيايوقسم شو .بياپه دي كښي يي كه چرته يوكارهم وكړونوقسم مات شواودويم كاركولوباندي دوباره نه ماتيږي كذافى الدرالمختارج۳ ص۹۸ جمادى الثانى ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانى ص ۳۷)

عدم انعقاد یمین لقوله ان فعلت کذافانازان بالبنت

سوال :(۶۵۹)که یو سړی داووایي چه که زه فلانی خای ته لاړم نوما به خپلی لور سره بدکاری کړی وی نو آیا داسی وئیلو سره قسم کیږی ؟

جواب: فی الدرالمختاروان فعله فعلیه غضبه اوسخط اولعنة الله اوهوزان اوسارق اوشارب خمراً واکل ربواًلایکون قسماالیٰ قوله لامع ردالمحتار ج۳ صـ ۸۷ ۲شوال ۱۳۳۳ھ ترجیح ثالث صـ ۸۷.

دکفاره دقسم حکم

سوال :(۶۶۰)دقسم کفاره لسو مسکینانو ته دپاؤکم دوو سیرو په حساب سره غله ورکول پکار دی یا دشلو مسکینانو غله ورکړی څکه چه دبهشتی زیور په دریمه حصه کښې ارشادی دی چه په لسو مسکینانو دوه وخته روټی اوخوروی اوس ارشاداوفرمائی چه لسو مسکینانو ته ورکړی یا شلو ته غله ورکړی او که دی مسکینانو کښې نابالغه هم وی نو هغه ته ورکولی شی یا نه ؟

جواب: فی الدرالمختارولایجزئی غیرالمراهق بدائع وفی ردالمحتارعن البدائع اومالطعام الصغیرعن الکفارة فجائزبطریق التملیک لا الاباحة صـ ۹۵۹ ج۲ باب الظهاروفی الدرالمختاراواطعام عشرة مساکین کمامر فی الظهارج۳ صـ۹۳ لسو مسکینانو باندی دده وخت خوراک دبالغه شان وی نو هغه په حکم دبالغ کښې دی او که هر مسکین ته دصدقه فطربرابر غله ورکړی نو نابالغ ته ورکول هم کافی دی برنی روایت ددی دلیل دی. ۲محرم ۱۳۴۱ھ تتمه خامسه صـ ۲۳۰.

حکم قسم گرفتن مشتبه با لسرقه

سوال :(۶۶۱)څه فرمائی عالمان ددین په دی مسئله کښې چه زید وائی چه زما د کورنه دری خلویښت روپی پټی شویدی اوزما گمان دی چه بکر وړی دی بکر صفا انکار کوی چه ما دا روپی نه دی پټی کړی دزید خواهش دی چه بکر ددوه څلور کسانو مخکښې داووائی چه که ما دا روپی پټی کړی وی نو زما ښځی ته دری طلاقه یو حاکم ته یا زید ته داسی قسم یا اقرار دبکر نه اخستل جائز دی یا نه هر کله چه بکر په جومات کښې ولاړی وی او داسی قسم کولو ته تیاروی چه په الله قسم دی ما د زید روپی نه دی پټی کړی او نه ماته ددی څه پته شته داسی حالت کښې حاکم او زید ددی یقین کول ضروری دي یا نه ؟

جواب: دی مسئله کښې په ددوخایونو کښې اختلاف دی یو دا چه طلاق باندی دقسم کولو حق مدعی شته یا نه. ددیرو قول دادی چه داحق نشته او اصل مذهب دادی. دویم دادی چه دی زمانه کښې داحق شته بعضو دادواړو قولونه په دی طریقی سره جمع کړیدی چه دا دحاکم په رائ باندی موقوف دی که هغه ضرورت وګڼړی نو داسی قسم دي واخلی دویم اختلاف دادی چه که داسی قسم واخستی شی خو مدعی علیه انکار وکړی نو ایا حاکم دمدعی دادعوی ثابته کړی لکه څنګه چه دقسم کولو نه دانکار دغه حکم دی یا دا چه بیا دي په الله قسم واخستی شی په دی کښې هم دوه قوله دي داحقر رائ داده چه وړومبی اختلاف کښې ددویم قول واخستی شی چه مدعی ته ددی حق شته او دویم اختلاف کښې دهم قول واخستی شی چه دي انکار سره ددمدعی دادعویٰ ثابت نه کړیشی بلکه صرف په الله دقسم واخستی شی بیا ددی قسم فائده به دا اوزی چه کیدیشی ددروغژن کیدو په صورت کښې وویرېږی او دحق اقرار وکړي. والدلیل علی هذاالمجموع هذه الروایات والیمین بالله تعالیٰ لابطلاق ولاعتاق وان الح، الخصم وعلیه الفتویٰ تتارخانیه– وقیل ان مست الضرورة فوض الیٰ القاضی اتباعاً للبعض فلوحلفه القاضی به فنکل علیه بالمال لم ینفذ قضاء علی قوله الاکثرکذافی خزانة المفتین وظاهره انه مفرع علیٰ قوله الاکثراماعلیٰ القول بالتحلیف بهمافیعتبرنکوله ویقضی به والافلافائدة– بحرواعتمده المصنف قوله والافلافاً فائدة تظهرفائدته فیمااذاکان جاهلابعدم اعتبارنکوله فاذاطلب حلفه به یمایمتنع ویقر بالمدعی– دررالبحرکذافی الدرالمختارورداالمختار ج۴ صـ ۲۵۷و۲۵۸ ۱۲ذی الحجه ۱۳۳۹ھ!

دبرنی جواب تتمه

دبرنی جواب لیکلو نه پس دیو دوست متوجه کولو سره دری خبری نوری ذهن ته راغلی یو دا چه داجواب هغه وخت وی چه کله دزید دی قول لره دعویٰ وئیلی شی خو داواقع کښې هغه شرعاً دعویٰ نه ده څکه چه دعوی صیغه هغه ده چه هغې کښې یقین او تحقیق وی او دلته صرف دګمان خبر دی. فی ردالمحتارعن البحرلم اراشتراط لفظ مخصوص للدعویٰ وینبغی اشتراط مایدل علی الجزم والتحقیق فلوقال اشک اواظن لم تصح الدعویٰ ج۴ صـ ۲۴۷ په دی صورت کښې دزید دبکر نه دڅه قسم قسم اخستلو حق نشته دویم دا چه داجواب هغه صورت کښې دی چه کله ددعوی جازمه نه وروستو هم دقسم اخستلو حق نه وی فی الدرالمختاروشرط

جوازالدعوی مجلس القضاء الخ،ج وص مذکوره ،دریم خبره دیوی شبه جواب دی چه نکول اوسزاورکولو غلانه ثابتیږی نو بیادقسم ورکولو څه فائده جواب دادی چه دقطع په حق کې نکول اوسزا ورکول حجت نه دی دضمان په حق کې حجت دی .ق الدرالمختار وکذا یستحلف السارق لاجل مال فان نکل ضمن ولم یقطع ،ج۴ ص۲۵۴/ ۱۲ذی الحجه ۱۳۳۹ھ (تتمه خامسه /ص۲۰۳)

عدم انعقادیمین بصیغه توبه

سوال :(۶۶۲)که یو کس ووئیل چه زه دفلانی گناه نه توبه کوم اوس به هیچری داگناه نه کوم نو داقسم دي یانه ؟

جواب: داقسم نه دی ۲جمادی الثانی / ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانی / ص۳۸)

حنث دریمین برانمام کتب درسیه جمله یااکثر

وقتیکه کسی قسم خوردکه فلان عالم نخواهدبود

سوال :(۶۶۳)اسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته زید قسم خوړلی دی چه والله عمرو به هیڅ کله هم عالم نه شی داپه واقع کې داقسم دي یانه که قسم شو نو دعمرو څومره لوی عالم کیدو د وجه نه دزید قسم ماتیږی اوکفاره لازمیږی او که داقسم نه وی نو څه وجه ده ؟

جواب: السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته قسم کې دعرف اعتبارکیدیشی عرف کې هغه کس ته عالم وئیلی شی چه هغه دینی مدرسونه ټول یازیات اوکم درسونه وئیلی وي یعنی دنییات کتابونه نو دی مرتبه کې زید حانث کیږی ۴جمادی الثانی / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی / ص۱۳۹)

حکم شخصی که نویسد که عهدمی کنم اگرفلان

وظیفه نخوانم ازبعیت فیض مرشد محروم شود

سوال :(۶۶۴)که یوسړی دیاداشت دپاره دغه شان په کاغذ ولیکل اوخوورخی پس تری پابندی اونه شوه نو څه کفاره به اداکوی که روژی ونیسی نو درمضان نه مخکې به اداکوی مثلاً داسی یې ولیکل چه زه وعده کوم چه دسحرنمانځه نه پس به دری پاری تلاوت کوم اووظیفه دلائل الخیرات دماسپیخین په وخت کې اودشپې دماستخوتن نه وروستو که یوه

بجه وی دشپې هم کوم به اودشپې تهجد اودولس تسبیحات به لولم اوکه دامی اونه کړل نو بیعت نه به خارج یم اودمرشد دفیض نه به همیشه دپاره محروم یم څوورځو پابندی نه پس یې پریخودل نو کفاره ورکول پکاردی؟

جواب: دقسم بنیادپه عرف باندی دی اوداعبارت په عرف کې یمین نه دی پدی وجه داقسم نه شو اوکفاره هم نشته ۱۵شعبان / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی / ۱۵۷)

کتاب النذور

داوبن دقربانی په نذرکې سره ددی نه اوس ملاویږی هم دغوبې مذبح کولو حکم

مولانالیکلی دي اونواب صاحب دهغی مرتهن دی چونکه وقف دپاره دوقف کوونکي مالک کیدل شرط دی پدی وجه دوي وقف کیدل پوه نه نه راځی اوپه کومو روایتونو کي چه درهن نو دمرتهن دحق متعلق کیدل هغی سره مانع نه دی ماسیوا دیوخاص صورت نه چه وقف کوونکي دمیراث مال دقرض داداکولو په اندازه پری نه ږدی فی عالمګیریه واماعدم تعلق حق الغیر کالرهن والاجارة فلیس بشرط الی قوله وان لم یترک وفاء بیعت وبطل الوقف ج۳/صـ ۱۹۹/ اودویمه زمکه چه دهغی مالک نواب صاحب وه هغه فی نفسه محل صالح للوقف دی هرکله چه هغه کي دصحت ټول شرطونه اوموندی شی اوس دهغه متعلق وروستی لاندینی روایتونه دخلاصی په طورلیکم الی ردالمحتارقال فی الدرر والصحیح ان التابیدشرط اتفاقالکن ذکره لیس بشرط عندابی یوسف رحمه الله وفیه ولوقال وقفت ارضی هذه علی ولدزیدوذکرجماعة باعیانهم لم یصح عندابی یوسف رحمه الله ایضاً لان تعین الوقف علیه یمنع ارادة غیره بخلاف مااذالم یعین لجعله اياه علی الفقراء الا تریٰ انه فرق بین قوله موقوفة وبین قوله موقوفة علی ولدفصحح الاول دون الثانی الخ وفیه لکن ذکرفی البزازیة الیٰ قوله حتی لوقال وقفت علی اولادی ولم یزدجازالوقف الخ وفیه لکن ذکرفی البحر ان ظاهرالمجتبیٰ والخلاصة ان الروایتین عنه فیمااذاذکرلفظ الصدقة امااذاذکرلفظ الوقف فقط لایجوزاتفاقاً اذکان الموقوف علیه معیناً الخ .قلت ویشهدله مافی الذخیره الخ وفیه فقوله لان لفظ الوقف والصدقة یفیدان الکلام فی ذکرهما معاً لافی ذکرلفظ الوقف فقط ویوضحه مافی الخانیة الخ وفیه الحاصل انه لاخلاف عندهمافی صحة الوقف مع عدم تعین الموقوف علیه اذاذکرلفظ التابیداوفی معناه کالفقراء اوکلفظ صدقة موقوفة وکموقوفة الله تعالی وکموقوفة علی وجوه البرلانه عبارة عن الصدقة الیٰ قوله وانه لاخلاف فی بطلانه لواقتصرعلیٰ لفظ موقوفة مع التعین کموقوفة علی زیدخلافالمافی البزازیة والظرمااستدرک علیه بمافی البحرمن قوله ان ظاهرالمجتبی والخلاصة الخ. اوثماالخلاف بنیهمالواقتصربلاتعین اوجمع مع التعین کصدقة موقوفة علی خلاف الخ وفیه والمراد بالمعین مایحتمل الانقطاع کاولاد زیداوفقراءقرابة فلان وهم یحصون وفی الذخیرة عن وقف الخصاف قال جعلت هذه الارض صدقة موقوفة علی فلان ولده وولدولده واولاداولادهم فاذامی من ذلک

ثلث بطون فهی وقف مؤبداالیٰ یوم القیامة الخ .ج۳ / صــــ۵۶۴-۵۶۵/ وفی العالمگیریة لوقال ارض هذه موقوفة علی فلان اوعلی ولدی الیٰ قوله وعندابی یوسف رحمه الله یصح لان التابیدعنده لیس بشرط کذافی محیط السرخسی (وراجع ماترک به عن البحر علی البزازیة) وفیه لوقال اراضی هذه للسبیل فان کان فی بلــدة تعارفوامثــل هــذا وقفاصــارت الارض وقفــاوان لم یتعارفوایسئال عنه ان اراد به الوقف فهووقف وان نوی الصدقة اولم ینوشیئا یکون نذراً فیتصدق بهااوبثمنها وکذلک لوقال جعلتهاللفقراء الخ . وفیه وفی الفتاویٰ رجل قال ارضی هذه صدقة کان نذراً بالصدق الیٰ قوله لوقال تصدقت بارضی هذه علی المساکین لایکــون وقفابــل نــذراً یوجب التصدیق الیٰ قوله فهونذربالتصدق بالدارعلی المساکین عرفاً کذافی الفتاوی الصغریٰ ج۳ / صــ ۱-۲ ثانیاً ، دي روایتونو نه چه کوم امورر ااوونل هغه لیکم نمبر(۱) صرف لفظ وقف وئیلو سره امام ابویوسف رحمه الله په نزد دوقف صحیح کیږی هرکله چه دمصرفونو بالکل ذکرونه کړي یاذکروکړي اوپه هغی کې څه لفظ په تابید باندی دلالت کوونکې هم وي (۲) لفظ وقف سره که چرته دمصرف معین غیرموبد ذکروکړی نو دامام ابویوسف رحمه الله په نزد وقف نه صحیح کیږی .الاعلی مافی البزازیة لکن استدرک علیهـــا (۳) البته که چرته دمصرف معین ذکرسره کوم چه نمبر۲ کې لیکل لفظ صدقة یاالله تعالیٰ یادعلی وجوه البرهم ذکروکړی بیاوقف صحیح کیږی (۴) که چرته مصرف ددری بطونو نه کم ذکرشوي وي نو هغه معین دي اوکه چرته دری یادریونه زیات وي نو هغه غیرمعین دی اوپه هغی کې وقف جائزدي (۵) الفاظ محتمله کې اول عرف ته کتی شي که چرته عرف نه وی نو دنیت حال صرف دوقف کوونکې دبیان نه معلومیدیشی که داهم نه وی نو لفظ محتمل سره وقف نه ثابتیږی دعالمگیری خبریې دي دپاره دبیان صریحاً مفیددي ثالثاً دي کاغذونو کې ددغه مملوکه زمکوچه ثواب صاحب ده متعلق یې لیکلی دی هغی سره دوی ذکرشوروایتونو په لحاظ سره چه کوم اموروباندی زه پوه شوم هغه لیکم (۱) وقف کوونکې داصل صیغه دوقف په مقام کې معین باندی یې وقف کړیدی (۲) بیادهغی نه وروستو عبارت کې دموقوف علیهم اولاداواولادلره دهغی نه وروستوتول نسلاً بعدنسل یې ذکرکړیدی که چرته دي لره قائم مقام دذکردبطون ثلثه اووائی لکه چه ظاهرهم دغه ده پس هغه مقام یې تفریع علی الوقف کې ذکرکړیدي نو هغی کې شبه داده چه ایاداتفریع اصل عقدسره کیږی یانه اوکه چرته داسی

ولیکې شی چه هغی عبارت سره داعبارت هم دی دخپل اولادپرورش اوحفاظت الخ دالفظ په قائم مقام دلفظ وقف شی اودبطون ذکریه دغه شان دعین صیغه وقف په مقام کې شی بس دی کې داشبه ده چه لفظ پرورش وقف باندی صراحتاً دلالت نه کوی بس وروستو به دعرف اعتبارکولی شی اودازموږ په عرف کې مفیدمعنی دوقف لره نه دی بیابه دنیت اعتبارکولی شی اودهغی معلومیدل دوقف کوونکې په بیان باندی موقوف وه کوم چه اوس ممکن نه دی نو داصیغه دال علی الوقف نه شوه نو هغه صورت دتردد الحاق پاتی شو البته که چرته اصل صیغه وقف لره کومه چه مخکې ذکرشویده دهغی قرینه اوداووائی چه دی لفظ پرورش سره هم نیت دوقف وه نو بیاپه خپله صیغه مستقل شوه بس که چرته لفظ نسلاً بعدنسل مفیددتابیدوي لکه څنگه چه ظاهرهم دغه ده اودی تفریع لره محلق باصل الصیغه اووائی بیاخوخاص دنواب صاحب دهغه مملوکه زمکووقف صحیح شواوکه چرته داتفریع محلق باصل عقدنه وی نو عامو روایتونو باندی خووقف صحیح نه شوخودبزازیی اودمحیط په روایت باندی خوچه داستدراک نه قطع نظر وکړیشی صحیح کیږی بس دی مسئله کې داشبهې اوترددونه دی اوقلمی کاغذونو په روایتونو باندی داشبهې نه شی ختمیدی باقی دهغه گانړه کړوشوزمکودوقف عدم صحت خوبره معلوم شودیدي داتردداتددی محقیقینوعالمانوپه بیان سره ختم کړیشی .۲۵جمادی الاول ۱۳۳۳ھ (تتمه ثالثه ص ۳۵)

بنانمودن مکان انجمن درقبرستان معطل

سوال :(۷۰۳) یو قبرستان دپنځویشت کالونه وران پروت دي اوهغه کې څوک مړي هم نه ښخوي اوس هغی کې یو ځای انجمن اسلام جوړول غواړی نو داجائزدي یانه ؟

جواب : عینی شرح بخاری کې راځی قال ابن القاسم لوان مقبرة من مقابر المسلمین عفت فبنی فیهامسجدالم اربذلک بأساوذلک لان المقابروقف من اوقاف المسلمین لدفن موتاهم لایجوزلاحدان یملکهافاذادرست واستغنی عن الدفن فیهاجازصرفهاالی المسجدلان المسجد ایضاًوقف من اوقاف المسلمین لایجوزتملیکه لاحدفمعناهماعلی هذاواحداه . دی جواب سره په علت داشتراک سره علت معلوم شوچه دانجمن دپاره دوقف ځای دعام فائدي اخستلودپاره دمقبري په ځای کې جوړول جائزدي والله اعلم ۱رجب المرجب ۱۳۲۱ھ (امداد ج۲ ص۱۰۹)

وقف باغ بغرض شیرینی رمضان

سوال :(۷۰٤)زید محلی دپاره یوزوړجومات دوباره جوړ کړواویوورو کي باغ چه دهغی امدنی دکال په حساب سره پنځویشت روپی ده پدي ونیت چه دجومات دخرابیدو ،فرش اومصلی دخرچ نه علاوه درمضان په میاشت کي دامام دپاره څه بندوبست دتراویحو اوشیرینی لمونځ گزاراتو دپاره چه لیلة القدرکي راشي وغیره بندوبست پری اوشی اودیری مودی پوری پدی عمل کیدو .خودخوکالونه دفتوی کتلونه وروستواوس نه دتراویح دپاره امام شته اونه دهغه دپاره څه انتظام شته البته شیرینی دلمونځ گزارودپاره راورلی شی اوخاص کردروژی په اوویشتمه شپه اوس داشیرینی په دغه وقف کړی شوؤ روپوباندی راوغوختل پدی خیال چه دوقف کوونکي نیت مخکي دوقف نه وه جائزدي یانه اوداقیددی تاریخ ۲۷/ هم صحیح دي یانه دي باره کي چه څه شرعی حکم وي هغه ولیکئ ؟

جواب : فی الدرالمختار کتاب الوقف – وان یکون قربة فی ذاته معلوماوفیه مصفحاعلیٰ اهل مسجدللقراء ة ان کانوایحصون جازوفی ردالمحتارقوله ان کانوایحصون جازهذالشرط مبنی علی ماذکره شمس الائمة من الضابط وهوانه اذاذکرالوقف مصرفاً یستوی فیه الاغنیاء والفقراء فان کانوایحصون صح باعتبار اعیانهم والابطل وروی عن محمد رحمه الله ان مالایحصی عشرة وعن ابی یوسف رحمه الله مائة وهوالماخوذبه عندالبعض وقیل اربعون وقیل ثمانون والفتویٰ انه مفوض الی رای الحاکم اسعاف وبحراه وفیه تحت قول الدرالمختار وان علی طلبة العلم وجعل مقرهافی خزانة التی فی مکان کذافغی جوازالنقل تردد ذهــراه . دی روایتونونه داامورمعلوم شول وروسپی شیرینی راغوختل په مال دوقف باندی جائزدي ځکه چه دامصرف فی نفسه جائزدي البته دمفاسدودجه نه کوم چه دشیرینی دتقسیم په وخت کي پیښ کیږی پریخودل واجب دی دویم دااوویشتمی قید هم صحیح دی دریم البته که چرته دااوویشتمی شپی دلمونځ گزارونه مرادهغه خلق وي چه دتراویح نه وروستوشوکیږی دپاره اهتمام سره جمع کیږی نودامصرف صحیح نه دی ځکه چه دی جمع کیدودپاره اهتمام کول بدعت دی والله اعلم ۱۸ رمضان/ ۲۵ھ، امدادثانی ص ۱۱۰،

دنیت فسادسره یادمصرفونودخیرنه علاوه دنورو

څیزونوسره پیوست کول سره دوقف باطیدل

سوال :(۷۰۵)نواب ...... صاحب رئیس ...... خپل جائدادچه ددریولکوروپووه وقف کړوچه دهغی امدنی دزمکي دټیکس اداکولونه وروستوهم ددیرش زره روپونه زیاته ده اودیرجائدادچه په مال اوامدنی کي به ددي نه کم وي پریخودل اوددی امدنی یي جوماتونو اسلامی اوانگریزي مدرسویادطب مدرسودپاره یادبزرگانومزارونولکه اجمیرشریف اوپیران کلیرشریف وغیره دپاره وقف کړه نواب صاحب داجائدادپه داسی حالت کي وقف کړوچه ډیربوډاوه اودانداموددردونودوجه نه ډیرکمزوری وه اوگرځیدوراگرځیدونه هم معذوروه. خوعقل اوحواس یي بالکل روغ وه نورڅه داسی مرض هم نه وه چه هغی نه تعبیرپه مرض الموت اوکړیشی بلکه هغه دخپل صحت په حالت کي وه ده داحتیاط دپاره دډیروډاکټرانونه دخپل صحت اوقابلیت سندهم حاصل کړی وه اودلیکلواورجسټری کولونه وروستویي دبعضی حاکمانوپه وړاندی باقاعده دخپل جائدادوقف کولواظهارهم کړي وه وروستونواب صاحب وفات شو دنواب صاحب دوه پلارشریک وروڼره دی نواب ...... صاحب اونواب ...... صاحب دوقف کولونه مخالف وه اوهغوی په هغه وخت دی وقف سره اختلاف کړی وه اویودرخواست یي ورکړی وه چه داجائدادتقسیم کړیشی اوپه دی بنیادباندی ددی جائدادداخل وخارج یي حکماً بندکړو دنواب صاحب دوفات نه وروستودی دوارو وروڼرودمیراث ورلوپه دعوی باندی ددی وقف شوی اوغیروقف شوی جائدادمتعلق خپل نوم داخل خارج کولودرخواست ورکړو اخوادوقف دمتولی داکوشش وه چه وقف دقائم اولرلی شی خوعدالت کي دنواب صاحب وروڼره کامیاب شول اودهغوی نوم په ټول جائداد کي اولیکلی شودنواب صاحب وروڼروپدی دلیل سره داوقف باطلول غوختل چه داوقف دسره نه صحیح نه ده ځکه چه دنواب صاحب اجراوثواب مقصودنه وه بلکه زمونږ دمخالفت دوجه نه اوزمونږ دمحرومولوپه غرض یي وقف کړیدی اوداورته کارکوونکوونیلی وه اوکوم مصرفونه چه کارکوونکومقررول غوختل هغه یي مقرر کړیدی کوم مصرفونه چه دوقف شوی جائدادامدنی نه یي مقرر کړیدی هغه دری قسمه دی بعضی یقیناً په مصرف

دخیر کې دی او بعض مشتبه حالت کې دی. دی کې هم شک نشته چه د نواب صاحب او ددہ د پلار شریک ورورو په مینځ کې دډیر وخت نه اختلاف وه د وقف د کار کوونکو دا خیال دی چه عدالت کې دعوی کوو چه دا وقف بیا په خپل ځای پاتی شی دهغوی او دډیرو چه دقانون نه خبر دی هغوی ټول حالت او کاغذونو او بیانونه د وقف متعلق لیدلی دی دا خیال دی چه په عدالت کې دعوی کولو سره غالب امید دي چه کامیاب به شو او دا به دوباره په خپل وقف پاتی شی (دی واقعو دبیان نه وروستو دی لاندینی امورو په باره کې تپوس کوو (۱) د نواب صاحب موصوف دی حالت کې دکوم بیان چه وشو وقف کول صحیح دی یا نه او دا به وقف ګڼړلی شی یا وصیت (۲) دا سی حالت کې چه دی وقف شوی جائداد په امدنی کې بعضی دا سی مصرفونه مقرر شویدی چه هغی ته مصرف خیر نه شی وئیلی وقف صحیح کیږی یا نه (۳) که چرته دا نواب صاحب او دهغه دورونړو په مینځ کې اختلاف وه خو وقف نامه کې هیڅ عبارت سره دانه معلومیږي چه دده نیت دمحروم کولو وه بلکه الفاظونه دا معلومیږی چه دده اجر او ثواب مقصود وه نو داسی حالت کې به الفاظو ته کتی شی یا په خپل مینځ کې اختلاف ته او دده دا فعل به دمحرومولو په نیت باندی محمولولی شی (۴) که چرته واقعی د نواب صاحب د وقف کولو نه مقصد دا وه چه ورونړو محروم شی او ده دا نه برداشت کول چه زما جائداد ددوی وارثان شی یا ده دخپل کارکوونکو په ویناداسی کړي شی نو دی حالت کې دا وقف تام دی یا نه او دی په دی کار ګنهګاردی یا نه ؟ (۵) که چرته داسی قصد کولو سره ددی ګنهګاروی نو ددی اثر د وقف په تام او نافذ کیدو باندی غورزیږی یا نه (یعنی سره ددی ګنهګاریدو نه دا وقف په خپل ځای قائم پاتی کیږی یا نه) (۲) په دی صورت کې چه نواب صاحب ددی وقف شوي جائداد نه علاوه نور هم ډیر جائداد پریښی دی اوس دی یوی حصی جائداد وقف کولو کې وارثانو محرومیدل لازم راځی یا نه او دغه شان کولو کې چه وارثانو ته بې هم ډیر جائداد پریښی دی دي به مرتکب دګناه ګڼړلی شی یا نه (۷) په کوم حالت کې چه د نواب صاحب دواړه ورونړ پیل پیل د نواب صاحب برابر د جائداد مالکان دی نو که چرته ټول جائدادیې وقف کولی څه ګناه وه یا نه یا څه حصه د جائداد وقف کولو کې (لکه څنګه چه ېي کړیدی) څه بدی شته یا نه (۸) که چرته صحیح او تام او منلی شی او د نواب صاحب ورونړه ددی له باطول غواړی نو خاص متولیانو د وقف ته یا عامو مسلمانانو ته ددی حفاظت کول پکار دی یا نه خصوصاً داسی صورت کې چه دکوشش دکامیابه کیدو هم وی او دحفاظت نه کولو په

صورت کې ګنهګاردي یا نه (۹) که چرته دا وقف دعامو مسلمانانو په کوشش سره پوره او نافذ شی نو دهغه مدرسی او دجوماتونو متولیانو او انتظام کوونکو ته چاته چه حصه مقرر کړی شویده دا جائزدي چه هغوی دآمدنی هغه حصی لره کومه چه دوی لره مقرر شویده پریږدی یا که چرته هغوی ته دخپلی حصی په حاصلو کې دکوشش ضرورت وی نو اسی حالت کې هغوی ته دا کوشش پریخودل جائزد یا نه کوشش نه کول چه ګنهګاردي یا نه (۱۰) که چرته د وقف پدی مصرفونو کې په بعضی مصرفونو کې کوشش نه کول دهغی سبب او ګرځی چه نور خلق د وقف پوره کولو د کوشش نه بندشی نو داسی حالت کې ددوی او کوشش نه کول موجب دګناه دی یا نه بینوا توجروا ؟

الاجوبة (۱) فی الدرالمختار مع الردالمختار الجلدالخامس ص ۲۴۸ وهبة مقعدومفلوج واشل ومسلول من کل ماله ان طالت مدته سنته ولم یخف موته منه والاقطل وخیف موته فمن ثلثة لانها امراض مزمنة لاقاتلة وفی الدرالمختارباب الوقف وان یکون منجزاً لامعلقاً وفی الدرالمختارباب العتق فی المرض یعتبرحال العقدفی تصرف منجزٍ وان کان فی الصحة فمن کل ماله والافمن ثلثة وروسبی روایت نه معلومه شوه چه د نواب صاحب مال دمرض الموت نه وه او دویم روایت نه معلومه شوه پدی وجه دا وصیت نه دی تصرف کې اضافت الی مابعدالموت نه وه په صیغه دتنجیز وه او حالت دمرض الموت هم نه وه پدی وجه دا وصیت نه دی بلکه وقف دی او دغه امر مانع عن الصحة نه کیدو دوجه نه وقف هم صحیح دي. **فقير** (۲) فی ردالمختار الجلدالرابع ص ۳۵۲ ولایلزم من ذکرالمصنف له هنا انه ممایبطل بالشرط الفاسدلماقدمناه غیرمرة بل ذکرفی العزمیة ان قاضی خان صرح بانه (ای الوقف) لایبطل بالشروط الفاسدة ویمکن التوفیق بینه وبین مافی الاسعاف بان الشرط الفاسدلایبطل عقدالتبرع اذالم یکن موجبه نقض العقدمن اصله فان اشتراط ان تبقی رقبة الارض له اوان لایزول ملکه عنهااوان یبیعهابلااستبدال نقض للتبرع اه - دی صورت کې که چرته ټولو مصرفونو ته عقد متعدد او صفقات متفرقه او وئیلی شی نو بیا خود شک څه ګنجائش نشته او که یو عقد ورته او وائی نو غایة المحذورفی الباب وقف علی غیرالخیرشرط شو د وقف علی الخیرکوم چه شرط فاسد دی خودی روایت نه ثابته شوه چه وقف شرط فاسد سره فاسد او باطل نه ګرځی وظاهران الشرط المذکورلیس من موجبه نقض العقدمن اصله او که په دی باندی دشیوع ارض موقوفه شبه وی نو جواب دا دی درمختار کې راځی

وکذایفتی بکل ماھوانفع للوقف فیما اختلف العلماء فیه مطبوعه بمبی صـ ٤٤٠ / او دوقف په صحیح کیدوارض شائعه باندی فتویٰ دامام ابویوسف رحمہ اللہ مشهورده بس دغه شبه هم ختمه شوه. (۳) دفقې ډیرفروعات اونظائرددی حاکم دی چه دعاقل بالغ فعل اوتصرف په حتی الامکان په محمل صحیح باندی حمل کولی شی اودهغه ظاهری موانعوبه حتی الوسع تاویل اوتوجیه کولی شی نوداچه دخه مانع نه دجزوعقد یامقارن عقدنه کید وبغیرددلیل نه مباثنات هم دی سره یوځای کریشی (۴)، (۵)، قال علیه السلام انما الاعمال بالنیات که چرته زړه کې دده دانیت نه وی نوفیمابینه وبین الله گناه ده خوچه هرکله وقف نامه کې داسې الفاظ دی چه هغه اظهاردنیت دثواب دوقف کرونکې دی نودیکې دهغه نیت نه چه محروموالی دوارثانودي هزاری ده نودشرع په ظاهرکې ددی وقف په تمام کې هرگزشبه نشته (۲)، (۷)، (۸)، (۹)، (۱۰)، ددی سوالونوجوابونه دشریعت معلوموقاعدوسره څرگند دی چه دی سره حرمان دوارثانولازم نه راځي اودضرر رسولو دقصدنه بغیردټول جانداووقف کول هم ده نه جائزوه لکه بعض صحابه کرامو رضی اللہ عنہم خپل ټول مالونه صدقه کړی وه اوحضرت محمد ﷺ هغه جائزگڼرلی وه داددی قطعی دلیل دی اوددی ارشادمطابق وتعاونواعلی البروالتقویٰ اودارشادلایکلف الله نفسا الاوسعها قادرعلی السعی فی الحفظ باندی داجانداددضائع کیدوپه حالت کې پریخودل مباشرةً اوتسبیباً چه نورهم زیاتی وکړی موجب دگناه دی والله اعلم. ۱۵ جمادی الاخری ۱۳۲۷ھ (تتمه اولی / ۱۲۳)

دوقف کښې متولیان جوړول یایونائب اودویم اصل جوړول

سوال :(۷۰۶) یوجومات دپاره دوه متولیان جوړول جائزدي یانه یایومتولی اوبل دهغه نائب اوامدادی جوړول صحیح دي یانه جواب سره دحوالی دکتاب اودصفحی نه راکړی؟

جواب : فی الدرالمختارفلووجدکتاباوقف فی کل اسم متول– وتاریخ الثانی متاخراشتر کاالخ وفی ردالمحتارولایقال ان الثانی ناسخ الخ ج۳ صـ ۲۳۴ مصریه. دی روایت نه ثابته شوه چه دواړه خبری جائزدي څکه چه هرکله سره تقدم اوتاخر (مخکې والی اوروستوالی) نه اشتراک ثابت شوسره ددی نه چه دیکې احتمال دناسخیت هم شته اونیابت بالاولی جائزدی ۱۵ جمادی الثانی ۱۳۲۷ھ (تتمه اول / صـ ۱۲۲)

سوال :(۷۰۷) شخصی مسمی زید پنج پسروسه دختریک زوجه میدارد ومسمی زیدمیخواهد که کل جائدادخودرابنام مسجدوفی سبیل الله وقف سازدواولادذکورخود رامتولی آن گراوند ودروقف نامه تحریری سازدکه ازمتولیان یکې راازمتولی اول قرارمیدهند وبرمشاهره دیگرمتولیان واداثی خراج وانچه ازان متعلق میدارند درقبضه تصرف آن میدارند ودیگران رادرتابعیت متولی اول می نهند واگرمتولیان خلاف متولی اول درزنداوشان ازاحاطه متولی خارج خواهدگشت لاعلی العکس پس درولایت وقف یکې رامتبوع ودیگران راتابع آن نمودن شرعاً جائزاست یانه ویاهم متولیان درولایت وتصرف متساوی اندبدلائل کتب معتبره ارقام فرمایند؟

الاجوبة :- فی الدرالمختاروولایة نصب القیم الیٰ الواقف الیٰ قوله ارادالمتولی اقامة غیره مقامه فی حیاته وصحته ان کان له التفویض له بالشرط عاماصح ولایملک عزله الا اذاکان الوقف جعل له التفویض والعزل وفی ردالمحتارتحت قوله ولایملک عزله کالوکیل اذااذن له الموکل فی ان یوکل فوکل حیث لم یملک العزل ج۳/صـ ۲۳۷/ قلت انمالایملک العزل لان هذاالوکیل یجعل وکیلامن جهة الاصیل الااذا اذن للوکیل الاول بعزله. ازین روایت مستفادشدکه دومتولی بادووکیل مقررکردن که بدرجه برابرنباشدبلکه یکې تابع دیگرباشدجائزاست. ۷محرم / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی / صـ ۱۰۹)

دصحت په حالت کې داوینا چه فلانی زمکه جومات دپاره ورکوم یامی ورکړیده دې سره وقف نه بنیږی اومیراث به میکې نه جاري کیږی

سوال :(۷۰۸) دزیدبی بی هندی په حالت دصحت کې دخپل مرگ نه څومیاشتی مخکې دابیان وکړۀ چه زه خپل جانداد په جومات ...... کې ورکوم داولیکن څوڅوک لیکلوته تیارنه شودهغی نه پس دخپل مرگ نه لس پنځلس ورځی مخکې چه کله دهغی په ځیته باندی څه پرسوب ښکاره شوخومرض الموت نه وه څکه چه گرځیده راگرځیده اودمرگ څه نښه پری هم نه معلومیده بلکه معمولی حالت کې وه بیاهغی ووئیل چه ماخپل ټول جایداددجومات دخای دپاره ...... ورکړیدي تاسوته اختیاردی چه تاسویې عدالت کې لیکئ یایې دلته لیکئ یایې نه لیکئ. ماخپل جانداددجومات دپاره ورکړیدی خولیکلوکې بیاهم سستی

وشوه اخر دخپل مرگ نه دوه دری ورځی مخکښ يې هم داسې ووئيل چه ماخپل جائداد جومات دپاره ورکړو که تاسو يې ليکئ يانه تاسو ته اختيار دی دهغې نه پس دامړه شوه دهغې په مرګ باندې عمروسره دخپلې خورچه دهندی دخاوند خوريې هم دی اودهندی دتره دلورځوی هم دی دعویٰ وکړه چه دامیراث په شریعت کښ زمارسی پدی وجه شريعت کښ ددی مسئلې څه حکم دی شرعاً داجومات ته ورکول پکاردی یاعمرواودهغه خورته هم رسی بينواتوجروا؟

جواب: فی الدرالمختاروان يكون منجزاً وفي ردالمحتارتحت قوله وركنه الالفاظ الخاصة ومنهامافي الفتح حيث قال (فرع) يثبت الوقف بالضرورة وصورته ان يوصی الى قومه وقدسئلت عن نظيرهذه المسئلة في رجل اوصى بان يوخذمن غلة داره كل سنة كذادراهم يشترى بهازيت لمسجدكذاثم باع الورثة الداروشرطواعلى المشترى وقع ذلك المبلغ في كل سنة للمسجدفافتيت بعدم صحةالبيع وبالخاصارت وقفاحيث كانت تخرج من الثلث (حيث اوصى به) وفيه نعم تعين المسجدلايضرلانه مؤبدوفيه ينقص وقف استحق بملك اوشفعه وان جعله مسجداووقف مريض احاط دينه بماله بخلاف صحيح ج۳/صـ ۵۵۵، ددی روايتونو په بيناد باندی جواب دادی چه اګرچه دی لفظ دوقف نه دی وئيلی خوداوئيل چه جومات کښ ورکوم يامی ورکړيدی وقف لره ثابت دی اولفظ ورکوم هم په دی وجه چه صيغه دحال ده دمنجزکيدودوجه نه وقف دپاره کافی ده خودهغې نه وروستوداوئيل چه ورکړی می دي چه صيغه دماضی ده بالکل ټول احتمالات اووعدی چه دقصد داظهاردپاره دی هغه يې کټ کړل اووقف يې زيات مضبوط کړو يعنی دالفظ وقف لره زيات محکم دی اوکوم حالت دمرض چه ددی و . . .يه وخت کښ ليکلی شويدي هغه حالت شرعاً حالت صحت دی کماصرح بهٖ فی احكام المريضؔ وليکل شرعاً دوقف اثبات دپاره شرط نه دی پدی وجه داوقف صحيح اوپوره شواوعمرواودهغه خورکه هرڅومره دځلورم قسم ذوی الارحام دی خوچونکه وقف فی حالة الصحة په وجه هغه جائداد په خپله دهندی دملک نه هم بهرشويدی پدی وجه عمرووغيره له په ديکښ څه حق نشته. ۲۸رجب/ ۱۳۲۷ھ (تتمه اول/صـ ۱۲۷)

وقف کړی شوی زمکه دهغې دمشتری نه اخستل جائزنه دی

سوال: (۷۰۹) يو وقف شوي زمکه متولی خرڅه کړی وی اوددیري موده نه دمشتری په قبضه کښ وی دازمکه دمشتری نه اخستل اوخپل ملک يې ګرځول جائزدي يانه ؟

جواب: هرکله چه وړومبی بيعه باطل ده نودويمه بيعه چه په هغې باندی مبنی ده هم باطل شوه. (۱۰ صفر/ ۱۳۲۸ھ تتمه اول/صـ ۱۲۸)

دقبرستان کاڼری خرڅول اوپه هغې باندی جومات دپاره فرش جوړول

سوال: (۷۱۰) زيد دبکرنه دسنګ مرمرو کاڼری واخستل اودهغه کاڼرونه ممبراوفرش جوړ کړو اوس وروستوزيد ته پته اولګيده چه کوم کاڼری ده دبکرنه اخستی وه هغه دقبرونو کاڼری وه چه بکرپه مقبره کښ دقبرونونه نړولی وه اوداقبرونه دده په ملکيت کښ هم نه وه دی فرش باندی لمونځ کول جائزدي يانه اوبل داچه داکاڼری په جومات کښ لګول جائزدي يانه ؟

جواب: په قبرکاڼری لګول وقف کيږي نه بلکه دلګوونکښ په ملکيت کښ وی نودپردی سړی ددی بيعه کول صحيح نه شول خوکه چرته لګوونکي معلوم نه وی ي معلوم وی خودهغه څوک وراث موجودنه وی نوهغه په حُکم دلقطه کښ دی اودلقطه حکم دادی چه څه نيک کارکښ دخرج کړيشي نودی صورت کښ دی په جومات کښ پريږدی ځکه چه خپل مصرف کښ اولګيده البته چاچه داخرج کړيدی هغه دپاره داقيمت صحيح نه دی اوکه چرته ددی مالک يادمالک وارث موجودوی نودهغه نه دی تپوس وکړيشی که چرته هغه اجازت ورکړی نودغه شان لګولی شوی دپريږدی که مفت وي يايې قيمت غواړی اوکه هغه اجازت ورنه کړی نوادی نړوی اوکه ګنړوارثان وی نودټولونه اجازت اخستل ضروری وی اودنابالغ دحصی قيمت ورکول ضروری دی ۱۰ صفر/ ۱۳۲۸ھ تتمه اول/صـ ۱۲۸)

وقف شوی قران مجيدکښ تلاوت کول جائزدی اودهغې بيعه کول جائزنه دی

سوال: (۷۱۱) يوقران زمايوملګری سره وه دهغې په وړومبی صفحی باندی الوقف فی سبيل الله اودويمی صفحی باندی الوقف مالايملک ليکلی شوی وه مادهغه کس نه اوغوختوهغه ماته راکړوماهغه قران مجيدته مضبوط جلداولګولوماته هغې کښ تلاوت کول څنګه دی اواوس زه داقران مجيد چاته په قيمت ورکولی شم يانه ؟

جواب: دی قران مجید کې تلاوت کول جائزدی خومالکانه تصرف پکې جائزنه دی بلکه تلاوت کې ستاحق دنورومسلمانانوپه شان دی په دی وجه خپل خان سره مخصوص کول جائزنه دی اونه ددی بیعه کول جائزدي .۲۹ ربیع الثانی / ۱۳۲۹ھ، تتمه اول/صـ ۱۳۰،

دیوکلي تیکس دچاپه نوم معاف کول معافي ده وقف نه دی

سوال :(۷۱۲) نواب صاحب یوځای چه دهغې مالک یوکس مسمی زیددی دخالدځامنوته چه عمرواوبکردی ددربارد خرچ دپاره اوکاروبارد پاره هغه تیکس ددوی په حق کې معاف کړوچه تراوسه پورې معاف راوان دی اودوارثانوته دزمینداری دحق اوومه حصه ورکړې شوه اوددی خیری باره کې تپوس کوؤ چه شرعاًداهبه شوه یاوقف اولفظ معاف فرمودیم سره وقف صحیح کیږی یانه ؟

جواب: دانه وقف دی نه هبه حاصل ددی دادی چه کوم خراج ددی زمکې بیت المال ته راځی هغه داهل معافی اخلی نوچه څومره یې اخستل مالک شوکوم یې چه وانخسته تراوسه دهغې مالکان نه دی اوداهم هله چه کله داخراج په حق کې وی کنی داهم جائزنه دی .۲۹ ربیع الثانی / ۱۳۲۹ھ، تتمه اول/ ۱۳۱،

دجائدادخراج چه دیوځاندان په نوم یې کړی وی دهغې دتقسیم طریقه

سوال :(۷۱۳) که چرته وقف صحیح دی نودوعمرود اولاد د درگاه دخرچې نه پس نیم حق دی اودبکرداولادنیم یادداړوصاحبانوداولادحصی برابر دي ؟

جواب: ره وس اواصل به په اولادباندی تقسیمیږي نه داچه دمیراث په طورباندی البته بادشاه ته هروخت دکمی زیاتی اختیار شته ځکه چه دقبضی نه مخکې ملکیت نه دی راغلی کمامر (برنی تاریخ سره دحوالی)

دبادشاه اوغیربادشاه په وقف کې فرق

سوال :(۷۱۴) دبادشاهانووقفونه دغیربادشاه دوقفونوپه شان دی یادواړوکې څه فرق شته دی عبارت نه خوڅه فرق معلومیږي. وهذاایضاًفی غیراوقاف الملوک والامراء ماهی صـــورية لاتراعــی

شروطها کماافتی به المولیٰ ابوالسعود.شامی صـ ۴۳۰ / ولایقاس علی ذلک اوقاف غیرالملوک والامراء بل تجب مراعاة شروطهم لان اوقافهم کانت املاکالهم . شامی ج۳ صـ ۴۳۱ ؛

جواب: فرق څکه دی چه ملوک مالکان نه دی اوبل په ملک کې تصرف جائزنه دی اودمنافع دملک (په شان دخراج) وقف صحیح نه دی هغه اباحت دی فقط (تاریخ وحواله بالا)

بیکاره زمکه کې چه هغې کې دزیدځنګې پرنالې غورزیږی هلته دوقف ددوکانونوجوړولوحکم

سوال :(۷۱۵) دزمکې یوګوټ چه ډیروخت نه دمثلث (دری ګوټیز) په شکل وران پروت دی په هغې کې دواړه طرف دزیددکوردشپږوپرنالو اوبه غورزیږی خوهغه کې دبکردوارثانو حصه هم ګڼرلی شی هغه دیکې دوقف په بهانه دوکان جوړول غواړی اودبکرپه وارثانوکې څه نابالغه هم دی اودچادپرنالواوبه چه دیکې غورزیږی دهغه څه حق ګڼرلی شی یانه دی صورت کې داوبوراتلو اودنابالغوپه وجه وقف صحیح کیدیشی یانه؟

جواب: وړومبی ددی تحقیق ضروری دی چه ددی زمکې مالک څوک دی مخکې دمعلومیدو دمالک نه په هغې کې هیڅ قسم تصرف ددووکانونوجوړولو یادوقف کولو اګرچه دزیدپه رضاوی جائزنه دي بیادویم چه کله مالک معلوم شی نوهغه وخت کتل پکاردی چه دټول بالغ دی نابالغ هم پکې شته که چرته نابالغه پکې هم شریک وي بیاهم دهغې وقف کول صحیح نه دی اودوکان جوړول که چرته په نیت دوقف وی یاپه نیت دانتفاع بالعین وي جائزنه دی اګرکه زیدپری رضاوی اوکه چرته ټول بالغ وي اوټول په وقف کولوخوشحاله وي یاپه نیت دنفع حاصلولوپه هغې کې دوکان جوړول غواړی نودی صورت کې دوه حالته دی یوحالت دادی چه زیدپه خوشحالی سره بل طرفته اوبه اوباسی نوبیاخوداتصرفات بغیردتکلف نه صحیح دی اودویم حالت دادی چه زیدهغه طرفته اوله بندولوباندی خوشحاله نه وی نودی صورت کې دزیدحق داوبوبندولواوکټ کولوهرکله چه هغه طرفته اوبه ویستل ظلماً نه وی جائزنه دی البته که چرته دزیداوبه ددوکان په چهت باندی واختې شی نوڅه باک پکې نشته فقط .۲۸صفر/ ۱۳۳۰ھ، تتمه اول/صـ ۱۳۲،

منتعر نصرانیانو دمملکت ځای، دپاره وقف شوی زمکه دیو زمکي په بدل کي اخستل

سوال :(٧١٦)که دیو مسلمان دزمکي په مینځ کي څه لږه حصه دمندردپاره وقف شوي وي چه یو هندو وقف کړیده خو دغی زمکي په مینځ کي او سیدوسره دی مسلمان ته ډیر سخت نقصان دی نودی صورت کي دمندردمتولی په رضاسره دازمکي بدلول چه دامسلمان دخپلی زمکي حصه ورکړی او ددی مندر دازمکه اخستل صحیح دي یانه ؟

جواب : صحیح دی (تتمه اول/صـ ١٣٢)

دمسلمان په زمکه باندی دمندرزمکي دپاره داوبونالي جاری کول

سوال :(٧١٧) (١) یوځای کي ډیره بنجره زمکه وه چه دهغی برنی حصه دمسلمان په ملکیت کي ده اودهغی لاندی حصه څه مندردپاره وقف کړی شویده نودی صورت کي چه اوس هغه زمکه دفصل دپاره برابرولی شی ددی مسلمان په زمکه باندی ددی مندردزمکي دپاره ددی متولی په درخواست باندی دپرنالی اوبه دفصل دپاره پریخودل صحیح دي یانه ؟ (٢) که چرته نه پریږدی ددی هندوګورنمنټ ته په درخواست کولوباندی ددی مسلمان په زمکه باندی دنالی جوړولو ویره ده ددی نه علاوه ددی مسلمان دزمکي داوبوتلوځای ددی مندرپه زمکه باندی دی اودی هندوته دضرورت په وخت کي اوبونه پریخودلو باندی چه کله دی مسلمان ته دزمکي نه دابوویستلوضرورت وی نوداویره ده چه داهندوداوبه منع کړی اوس دی صورت کي ددی هندوداوبوپریخودلوڅه حکم دی ؟

جواب : (١) صحیح دی (٢) جائزدی ، ۴ربیع الثانی/ ١٣٣٠هـ (تتمه اول/صـ ١٣٣)

دوقف کولونه وروستودعوی دتعلیق کول اودوقف دمتولی

دکانی کیدوپه اندازه دوقف نه اخستل جائزدی

سوال :(٧١٨)یوسړی حج ته دتلوپه وخت کي خپلووارثانوغیره ته ونیلی وه .بلکه لیکلی یي وه چه ماپه تلوارکي پدی وخت کي دخپل جائداودوقف کولورجستری ونه کړئ شوه ای زمامختارکارکوونکوزمافلانی کلی فلانی جائدادسرکاری قانون مطابق استامپ کي ولیکي اوزمانه یي رجستری کړی اودتولومصرفونویي هم وضاحت وکړوددی سړی دحج

دتلونه وروستو ددی دحکم مطابق عمل وکړی شووقف پوره داراده صفاشوی نه وه چه فلانی تاریخ ته دی داجائداددوقف شی اودالله په ملیکت کي خاص شی بلکه ددی ویری نه چه هسی نه دحج په لاره کي زه مړشم اوزمانیت پوره نه شی ماداوقف نامه رجستری کړیده په دی زه پوهیږم اوالله پوهیږی پدی وجه اوس عرض دی چه دی وقف کوونکي ته دوقف نه مخکي په شان په دی آمدنی کښي تصرف کول دده نیت مطابق جائزدي یانه . عندالناس څه حکم دی اوعندالله به څه حکم وي ؟

جواب : توکیل بالوقف جائزدي . اوتعلیق دوقف بالحظر جائزنه دی چونکه دلته یي وقف یاخوپه خپله کړیدی اوتوکیل بالتکمیل دی یاکه چرته توکیل بالوقف دی خوکلام کي تعلیق نشته اګرکه نیت کي دی دعوی کوی په دی وجه داوقف صحیح شوغیرمصرفونو کي دهغی صرف کول جائزنه دی البته که چرته وقف کوونکي په خپله متولی وی نودحاجت په وخت کي په اندازی دپوره کیدوددی نه اخستل ورته جائزدی . دلیل المسئلة الاولیٰ مافی ردالمحتارلوقال انت وکیلی فی کل شیٔ یصح . کیلافی جمیع التصرفات المالیة واختلفوافی طلاق وعتاق ووقف الخ . ودلیل الثانیة مافی الدرالمختاروان یکون (الوقف) منجزاً الا معلقاالابکائن ولامضافاً ولاموقتاً الخ . ج٣/صـ ٥٥٢ ۴ربیع الثانی/ ١٣٣٠هـ (تتمه اول/صـ ١٣٣) س

صرف کردن امدنی ددین وقف مسجد برمجاهدین ومجروحین ویتامی

سوال :(٧١٩)څه فرمائی عالماء دین اومفتیان شرع متین په دی مسئله کي چه دډیروجوماتونودومره وقفونه وي چه دهریوجومات دټول کال خرچوسره هم په زرګونوروپی بچ کیږی اودی بچ شوؤ روپوباندی کال دوه کاله متولی نورملکیتونه اخلی چه هغی کي دمیاشتی خرچه مثلاً سل روپی وي اوآمدنی دزرډولسوسوؤروپووی اوس که دغه شان یي زیاته کړی نودی آمدنی سره سیوادملکیت زیاتیدونه نورڅه قسم فائده نه متصورکیږی اوکه خدای مه کړه که چرته متولیانو کي څه نقصان راغی نودضائع کیدوویره ده په دی وجه ددی وقفونودآمدنی نه فقیرانومسکینانوباندی خصوصاً په مجاهدینو کندواویتیمانانوباندی خرچ کول جائزدي یانه اوکوم ملکیتونه چه داصل وقف په آمدنی اخستی شویدی کوم چه داصل وقف نه ډیرزیات شویدي چه دهغه په جوماتونو کي څه ضرورت نشته . دهغی ملکیت څه حصه یاټوله حصه مجاهدینو ،زخمیانو ، کندو ، یتیمانانوباندی خرچ کول لکه څنګه چه

اوس دهغی د یرضرورت خرڅ کړی اوهغوی ته ورکړی داجائزدي یانه اوحدیث شریف کې راځی عن عائشةؓ قالت سمعت رسول اللهﷺ یقول لولاان قومک حدیث عهدبجاهلیة اوقال بکفر لانفقت کنزالکعبة فی سبیل الله وجعلت بابهابالارض ولادخلت فیهامن الحجررواه مسلم. آیاددی نه دلیل نیول صحیح دي یانه اودنوروفقهاؤ دجزئیاتونه ددی څه ثبوت شته یانه بینواتوجروا؟

جواب: فی الدرالمختار– ویبداء من غلته بعمارة ثم ماهواقرب بعمارته کامام مسجد ومدرس الی قوله الیٰ اخرالمصالح . وفی ردالمحتار فی تفسیر العمارة وهوعمارته المعنویة التی هی قیام شعائره وقوله الی اخرالمصالح ای مصالح المسجد، ج۳/ ۵۸۱-۵۸۲/ وفی الدرالمختار لورشرط الواقف تقدیم العمارة ثم الفاضل للفقراء وللمستحقین لزم الناظر امساک قدر العمارة الخ وفی ردالمحتار ویصرف الزیادة علی ماشرط الواقف .ج۳/ صـ ۵۸۲/ وفی الدرالمختارقلت انما یکون المدرس من الشعائرلومدرس المدرسة کمامراماالمدرس الجامع فلالانه لایتعطل لغیبة بخلاف المدرسة حیث تقفل اصلا اه . ج۳/ صـ ۵۸۷/ دی روایتونونه صفامعلومه شوه چه دجومات دوقف نه صرف په هغه مصرفونوکې صرف کول جائزدي کوم ته چه دجومات په ابادی کې ضرورت وی اوداضرورت هم په درجه دموقوف علیه کې تردی چه اخیری روایت کې ددی هم تصریح اوشوه چه مدرس جامع هم شعائر جومات کې داخل نه دی ځکه چه هغه موقوف علیه آبادی دجومات نه ده حالانکه ظاهره ده چه هغه ته دګنړی په زیاتوولو کې دخل دی خوددغه دخل هم اعتبارونه کړی شو البته که چرته دعمارت نه په زیاتی کې وقف کوونکې داتصریح وکړی چه فقیرانووغیره کې دخرج کړیشی نودمینځمی روایت مطابق غیرمصالحودجومات کې دغه زیاتی دصرف کړیشی اوس ښکاره خبره ده چه زخمیان یتیمانان اوو ږلی شوی کورونو امدادته دجومات په ابادۍ کې څه دخل نشته پدی وجه که چرته وقف کوونکې صرف دجومات دمصالحودوقف په وخت کې ذکر کړی وي نوبیاداپه دی امدادکې خرج کول صحیح نه دی اوکه چرته دبل مصرف اوددی نودهغی په نسبت بیاتپوس وکړی پاتی شوه داخبره چه هغه دجومات دمصالحونه پاتی کیږی هم اوددی په جمع کولو کې احتمال دضائع کیدودي نودهغی صورت دادی چه دغه زیاتی دی دنوروجماعتونوپه مصلحتونوکې خرج کړی چه کوم جومات موقوف علیه سره نزدوی اوکه دغه نزدی جومات کې هم استغناءوی

نوبیادهغی نه ورووستوچه کوم نزدی جوماتونه دی تردی چه دهندوستان دنوروښاروښو جوماتونوپوری تلی شی لمافی الدرالمختار ومثله حشیش المسجد وحصیره مع الاستغناء عنهاکذالرباط والبیروالحوض الیٰ اقرب مسجد اورباط اوبیراوحوض الیه . ج۳/ صـ ۵۷۴/ قلت دخلت الصورة المسئولة فی عموم مفهوم الاستغناء وفی ردالمحتار فان المسجد اوغیره من رباط اوحوض اذالم ینقل یاخذانقاضه اللصوص والمتغلبون کماهومشاهدوکذلک اوقافه یاکلها النظار اوغیرهم ویلزم من عدم النقل خراب المسجد الاخرالمحتاج الیه اه . ج/ صـ ۵۷۵/ وذکرقبل هذا کلاماطویلا تائیداً لذلک . پاتی شوه داخبره چه کوم حدیث په سوال کې ذکرشویدی په هغی دلیل نیول هغه په دی وجه پوره نه دی چه هغی کې داهم احتمال شته چه فی سبیل الله نه مرادهم دغه تعمیردکعبې وی په دی وجه دهغی اقتران لجعلت بابها بارض اولادخلت فیهاالخ سره دهغی نزدی قرینه ده بل داهم احتمال شته چه کوموخلقوداخزانه کړی وه دهغوی نیت عام وی فقیرانووغیره لره بل داهم وئیلی کیدیشی چه داخزانه وقف نه وه بلکه امانت وه ځکه چه دوقف دلوازمونه دی انتفاع مع بقاء العین اوپه روپوکې دهغی صورت هم ممکن دی هغی سره تجارت وکړی اوهغه ګټه یې په نیک کارونوکې خرج کړی اوداښکاره خبره ده چه دجمع کوونکو دانیت هیڅ چری نه وه پس چه امانت دی اودهغی مالک معلوم نه وه نودهغی حکم دلقطه په شان هم دغه دی چه په فقیرانودی خرج کړیشی اوداخبری توجیه اقرب الی الفقه ده بهرحال باندی دغه استدلال پوره نه دی ۱ محرم الحرام۵/ ۱۳۳۱هـ (تتمه ثانی ص ۵)

مصرف رقم فاضل ازوقف متعلق مسجد

سوال :(۷۲۰)که چرته دیوجومات دوقف شوی جائداد آمدنی دهغی دمصرف نه دیرزیاته شی چه په کلونوکې هغه ته ضرورت نه راځی نوداسی صورت کې داآمدنی دنوروجوماتونو په تعمیریادامام اوموذن په تنخواه کې یانوردنیکو په کارونوکې خرج کول جائزدي یانه ښه تفصیل سره یې اوفرمائی بینواتوجروا؟

جواب: فی الدرالمختار– ومثله حشیش المسجدوحصیره مع الاستغناء عنهاوکذا الرباط والبیراذا لم ینتفع بهمافیصرف وقف المسجد والرباط والحوض الیٰ اقرب مسجد اورباط اوبئراوحوض الیه الخ .وفی ردالمحتارلف ونشرمرتب فظاهره انه لایجوز صرف وقف مسجد خرب الیٰ حوض

وعکسه وفي شرح الملتقى يصرف وقفها لاقرب مجانس لها اﻫ، ج۳/ ۵۷۴/ قلت وهذه الرواية وان كانت منقولة في صورة خراب المسجدوغيره لكن ماكان مبنى الحكم الاستغناء كان الحكم عاماوان لم يخرب وهذا ظاهرعندی ، دینه معلومه شوه چه دی صورت کې دآمدنی په نوروجوماتونوکې هم خرج کولی شی خودی ترتیب سره چه اول نزدی جوماتونوکې اوکه چرته هغی کې ضرورت نه وی نوبیادغه شان اقرب فالاقرب کې. ۳جمادی الثانی/ ۳۳ﻫ (تتمه ثالثه/ صـ ۱۳۹).

صرف وقف یا چندهٔ بمسجد بمسجد دیگرمعه سوال برجواب وجوب ازان

سوال :(۷۲۱)اگریک مسجدکه آمدنی درسال شش صدروپیه دارد درمحلهٔ دوم مسجد ویران است الحال محله دارکه مسجد نادار است می گویند ازمسجد جاندادوالهٔ هرچه موجود است درمسجد نادارخرج می کنیم مسئله بتحریر آرند درشرع شریف درست یانه؟

جواب: هرگاه مسجد جانداد آباد ست اگرچه مستغنی ست آمدنی او درجائ دیگر صرف کردن درست نیست ولولم يتفرق الناس ولكن استغنى الحوض عن العمارة وهناک مسجد محتاج الى العمارة اوعلى العكس هل يجوز للقاضي صرف وقف مااستغنى عن العمارة الیٰ عمارة ماهومحتاج الى العمارة قال لاكذا في المحيط عالمگیری، ج۲/ صـ ۱۰۴۲ ،والله اعلم ۱۱ذی قعده/ ۱۳۰۰ﻫ (امدادثانی/ صـ ۸۴).

سوال :(۷۲۲)یوآباد جامع جومات متعلق دوکانونه اوخایونه وقف دی د دهغی کرایه همیشه دجومات په مصرفونوباندی لګی لکه جوړول فرش یعنی ځای لمونځ برابرول کوزی اومنګي راغوختل داسی دلمونځ متعلق نوروحاجتونوکې اودموذن په تنخواه باندی لګی که چرته مسلمان حاکم دااوغواړی چه دهغه حق دنوروجوماتونوپه مرمت کولو جوړولو اوځه دلمونځ متعلق په حاجتونوباندی یې خرج کړی کوموجوماتونودپاره چه څه قسم آمدنی وقف شوی نه ده نوداجائزدي یانه اوکه چرته داجائزنه وی نوکومی روپی چه خرج شویدی هغه چاته واپس کول واجب دي یانه. اودجومات دوقف آمدنی په کوم کوم مصرف کې دخرج کولوحکم دی؟

جواب: هرکله چه وړومبی جومات آباد دی دهغی دوقف آمدنی دویم جومات ته منتقل کول جائزنه دی في الشامية المطبوعه بمصر الجزوالثالث منها. صـ ۵۷۴/ ونقل في الذخيرة عن الاشمس الائمة الحلواني انه سئل عن مسجداوحوض خرب ولايحتاج اليه لتفرق الناس عنه هل

للقاضي ان يصرف اوقافه الیٰ مسجد اوحوض اخرفقال نعم ومثله في البحر عن القنية وفي الدرالمختار مع الشامي صـ ۵۷۵/ اتحدالوقف والجهة وقل مرسوم بعض الموقوف عليه جازللحاكم ان يصرف من فاضل الوقف الاخرعليه اون اختلف احدهمالايجوزله ذلك اﻫ . اوهرکله چه دانتقال جائزنه دی نوچه کوم خرج شویدی نودهغی تاوان په حاکم باندی دي چه دچاپه حکم باندی خرج شویدی واجب دی في الشامية صـ ۵۸۲/ ذكرفي البحر كون التعمير من غلة الواقف اذالم يكن الخراب بصنع احدالیٰ قوله وخربها يضمن لانه فعل بغيرالاذن اﻫ قلت دل تعليله ان التصرف الغيرالمشروع في الوقف يوجب الضمان، اوکومی روپی چه دتعمیراتومرمت کولونه پاتی شی نوهغه په دغه سوال کې ذکرشو مصرفونوکې خرج کول جائزدی. في الشامية ۵۸۲/ والذى يبدأمن ارتفاع الوقف اى من غلة عمارته شرط الواقف اولاثم ماهواقرب الیٰ العمارة واعم للمصلحة كالامام للمسجد الیٰ قوله ثم السراج والبساط كذلك الیٰ اخر المصالح هذااذالم يكن معينا فان كان الوقت معينا على شي يصرف اليه بعدعمارة البناء اﻫ . دی عبارت نه داهم معلومه شوه چه که چرته دوقف کوونکې وضاحت دمصروفونوپه باره کې معلوم وي نوهغه دتولونه واړاندی دی والله اعلم ۱۷ جمادی الاول/ ۱۳۲۲ﻫ (امدادثانی/ صـ ۹۳).

سوال :(۷۲۳)یوځای کې دوه جوماتونه وي یوکې جمعه کیږی بل کې نه په کوم کې چه جمعه کیږی دهغی مرمت دپاره زیدڅه چنده کړیده چه دضرورت موافق خرج شوه اوڅه پاتی شوه اوس دجمعه والی جومات خوصحیح دی خوبل دیوالونه اوبرآمدی وغیره مات شویدی نوایاداچندچه دجمعه والاجومات دپاره شوي ده دهغی نه څه روپی جومات کې خرج ضرور کول جائزدي یانه؟

جواب: چنده دچنده ورکوونکي دملک نه بهرشوی نه ده.[1] په دی وجه هغه خلقونه اجازت اخستل ضروری دی البته چه کوم چنده ورکوونکي معلومه نه دی یاموجودنه وی دهغوی دچندی نسبت موافق دویم جومات کې خرج کول جائزدی ۲۷ محرم/ ۱۳۲۲ﻫ (امداداول/ صـ ۴۷).

سوال :(۷۲۴)څه فرمائی علماء دین په مسئله کې چه راندیر ضلع سوات کې چه کوم جوماتونه دی دهغوی آمدنی دالله په فضل سره ډیره بنه ده په هغه کې دیوجومات آمدنی

[1] دامسئله تراوسه صفاشوی نه ده چه چنده دجومات اومدرسووغیره دورکونکی دملک نه خارجیږی یانه اهل علم سرچ وکړی ۱۲ تصحیح الاغلاط صـ ۸

دکال پنځوویشت زره روپی ده اودکال خرچه یې اته یالس زره روپی ده . زیاتی جمع کیږی
اوجومات دپاره نورمکانونه اخستی شی اوس داویره ده چه داروپی ضائع نه شی ځکه چه
دجومات دحاجت نه ډیری زیاتی دی اوس داخبره معلوموول غواړی چه آیا دی روپی سره چرته
ددینی مدرسی مدد کیدیشی چه هغه مدرسه دجومات نه جداوی اوهغه طالبان هلته دلموڅ
دپاره حاضریږی مهربانی وکړی دشریعت حکم راته بیان کړئ چه ددینی مدرسی مدد ددی
جومات دمال نه جائز دي یانه ؟

جواب : مدرسه دجنس دجومات نه نه ده په دی وجه هغه زیاتی مال په نوروجوماتونوخرچ کول
پکاردی که چرته هغه ښار کې ضرورت نه وی نودنوروښارونو په جوماتونو کې دی خرچ
کړی کوم چه زیات نژدی وی دهغی حق مخکې دی دغه شان په ترتیب سره ، ۵ رمضان/۱۳۴۱ھ
تتمه خامسه/ ۲۴۳،

عدم صرف وقف مسجد بمدرسه وطلبه

سوال :(۷۲۵)داوقافودجوماتونو مال نه دهغه طالبانو وظیفه مقرریدی شی کوم چه ددغه
جومات په مدرسه کې سبق لولی دامدرسه دجومات جوړولونه وروستودمتولیانو په رائی
باندی چلیږی دوقف مال دهغی خرچونه دومره زیات دی چه څومره زرګونوروپی په بینک جمع
دی اوددی مدرسی اوددی جومات دضرورتونودوجه نه په دی روپوباندی کتابونه اخستل جائز
دي یانه کوم متولی چه دجومات جوړولونه وروستودعام مسلمانانو په رائی باندی مقررشوی دی
هغه دجومات دبانی په حکم کې دی اودی لحاظ سره دهغه دنیابت لحاظ به کیدیشی ؟

جواب : ورومبی څه مقدمی لیک بیابه جواب لیکم [۱ مقدمه] داداوقاف جومات دپاره دی
نه مدرسی دپاره [۲ مقدمه] دوقف کولونه وروستومصرف بدلول په خپله وقف کوونکې ته
هم جائزنه دي . [۳ مقدمه] که یومصرف کې ضرورت نه وی نوبیادغه مصرف په مثل کې خرچ
کول پکاردی لکه جومات جومات مدرسه مدرسه ونحوذلک . [۱ مقدمه دلیل] فی الدرالمختار
مع الشامی وبیان المصرف کقولهم علی مسجد کذا من اصله لتوقف صحة الوقف علیه فیقبل
بالتسامح صـ ۲۲۲/ اودابنکاره خبره ده چه دی صورت کې دمشهوروالی دوجه نه
دامعلومیږی چه دوقف کوونکې دمدرسی طرف نه دی مقرر کړی . [۲ مقدمه دلیل] فی
الدرالمختارمع الشامی وقف ضیعة علی الفقراء وسلمهاللمتولی ثم قال لوصیه اعط من غلتها فلانا

کذافلانا لم یصح لخروجه عن ملکه بالتسجیل الخ ج۳/صـ ۵۷۴ نوکه متولی اګرچه دبانی په
حکم کې وی خوپه خپله بانی هم داتصرف نه شی کولی [۳ مقدمی دلیل] فی الدرالمختارمع
الشامی وکذالرباط والبیر اذالم ینتفع بهما فیصرف وقف المسجد والرباط والحوض الی اقرب
مسجد اورباط اوبیراوحوض الیه /ج۳/صـ ۵۷۴/ اوداجزئیه اګرچه په صورت دخراب
کیدودی وروستی مصرف ده خواستغناء امرجامع دی په مینځ دخرابیدوزیاتیدودمال هرکله چه
دادری مقدمی دلیل سره ثابت شوی اوس جواب ښکاره دی چه دی زیاتی کې څه محفوظ
ساتل ځکه ضروری دی چه کیدیشی جومات ته دمرمت وغیره ضرورت راشی اونورمال
دنوروجوماتونو په ضرورتونوباندی خرچ کول پکاردی مدرسه یادهغې په متعلقاتو کې
کتابونووغیره په اخستو کې دخرچ نه کړیشی هذاماظهرلی الان ولعل الله یحدث بعد ذلک
امرا ، اخر کې مناسب معلومیږی چه بعضی شبهی محتمل الوقوع رفع کړیشی . [شبه اولی]
فی الدرالمختارمع الشامی ویبدأ من غلته بعمارته ماهواقرب لعمرته کامام مسجد ومدرس
مدرسة یعطون بقدر کفایتهم ثم السراج والبساط کذلک الی اخرالمصالح وان لم یشترطه الواقف
لثبوته اقتضاء ج۳/صـ ۵۸۳/ ددی حل دادی چه مراد دادی چه وقف علی المسجد کې امام
دمصارف ضروریه نه دی اووقف علی مدرسه کې مدرس مصارف ضروریه نه دی اودامرادنه
دی چه وقف علی المسجد داټول مصرفونه دی بلکه دوپاتړی وروستی یوجزئی کې راغلی
چه که چرته دجومات په وقف کې مدرس هم مشروط فی الوقوف وي هغه په خپله
دمصرفونولازمه نه دی هغه جزئی داده قلت الظاهر ان یکون المدرس من الشعائر لومدرس المدرسة
کمامر امامدرس الجامع فلالانه لایتعطل لغیبة بخلاف المدرسة حیث تقفل اصلا [شبه ثانیة] فی
الدرالمختار مع الشامی للواقف الرجوع فی الشروط ولو مسجلاً ج۳/صـ ۵۷۵/ ددی حل دادی چه دی
باندی شامی ونیلی وی وفیه کلام سیاتی بیا هغه صفحه ۲۲۸/ ددی په پوره کیدوباندی یې
ډیراوږد کلام کړیدی کوم چه پوره کافی شافی دی وفیه کلام سیاتی بیاصفحه ۲۲۸/ ددی په
پوره کیدوباندی یې ډیراوږد کلام کړیدی کوم چه پوره کافی شامی دی په هغې کې
داعبارت هم دی . لایجوزان یفعل الاماشرط وقت العقد اوداهم دي وماکان من شرط
معتبرفالوقف فلیس للواقف تغییره ولاتخصیصه بعدتقرره ولاسیما بعدالحکم الخ . [شبه ثالثه] فی
الدرالمختار مع الشامی - السلطان یجوزله مخالفة الشرط الیٰ قوله لان اصلها لبیت المال

الخ. وایده الشامی بقوله ابی السعود. ان اوقاف الملوک والامراء لایراعی شرطها لانها من بیت المال اوترجع الخ. اوپنکاره اوغالبه هم داده چه دااوقاف دبیت المال نه دی ددی حل دادی چه ددی نه وروستوشامی وایی قلت والمراد من عدم مراعاة شرطها ان للامام اونائبه ان یزیدفیهاوینقص ونحوذلک ولیس المراد انه یصرفها من الجهة المعینة الخ ج۳/ ۴۴۷هـ والله اعلم ۲۲ ذی الحجه ۱۳۲۲هـ (امداد ثانی ص ۹۵)

حل اشکالی برعبارت رساله القاسم متعلقه بنت خاص ابطال فرائض دروقف

سوال :(۷۲۶)دسلام مسنونه نه وروستوعرض دی چه څه موده وشوه چه ستاسوپولیک دوقف باره کې په القاسم رساله کې شائع شوغالباً تاسوهغې کې دالیکلي (۱) وه چه که چرته وقف داسې نیت سره وکړیشی چه حکمونه دفرضودوقف په مال دمیراث کې جاري نه کړیشی نووقف کوونکې مرتکب دګناه ګرځي زه به ډیرشکرګزارهم شم چه تاسوماته خبرداري راکړي چه دکوم دلیلونوپه بنیاد تاسوفرمائي خلق اعتراض کوي چه وقف دثواب کاردی اګرچه وقف کولوسره هرصورت کې وارث محرومیږي نوبیودثواب کارسبب وګرځیدودیوغیرمشروع کارددی څه جواب دی یوبله مسئله ده چه مثلاً دزید صرف یوه لورده دخپل ټول جائدادوقف کړوپه اولاد باندې نودی صورت کې یقیناً دزید نوروارثان مثلاًدزیدتره خامن وارثت نه محروم شول دزیدددی وقف نه یقیناً نیت دادی چه دده ټول جائداددده لورته ملاؤشي دده خپلوورونړوسره هیڅ قسم بغض نشته خوفطرتی طورباندې هغه دانه غواړي چه دده جائداد دده داولادنه علاوه بل چاته ملاؤشي نودی صورت کې آیازید ګنهګارشویانه که چرته تاسوپه څه کتاب کې ددی پوره بحث کړی وی نودهغې حواله راکړی چه هغه ولولم اودپوره حال نه خبرشم ؟

جواب : مخدومی السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته ! فی الدرالمختار کتاب الوقف وسببه ارادة محبوب النفس فی الدنیا ببرالاحباب وفی الأخرة بالثواب یعنی بالنیة من اهلها الخ وفی ردالمحتار بل التقرب به موقوف علیٰ نیة القربة فهوبدونها مباح الخ، ج۳ ص۵۵۴ وفی الدرالمختارلاباس بتفضیل

---

(۱) آئنده جواب لیکلوپه وخت کې مااصل عبارت نه وه کتلی دسوال کوونکی دتصدیق په بنیاد چه جواب ورکړی وه وروستومی وکتل نوهغه کې دامضمون بل شان دی چه هغه کې ظاهراً څه شبه هم نه شی کیدی وګوری برچه القاسم صفر ۱۳۳۰هـ هغه پوره عبارت وګوری که چرته څه شبه وي هغه اوښایي ۱۲ منه مدظلہ العالی!

بعض الاولادفی المحبة لانها عمل القلب وکذا فی العطایاان لم یقصدبه الاضرار وان قصده یسوی الیٰ قوله ولووهب فی صحة کل المال للولدجاز واثم الخ ج۴ ص۷۸۵ دی روایتونوکې پوره وضاحت دی چه وقف اوهبه وغیره کې ثواب هله دی چه کله نیت صرف دثواب وی اګرکه هغې کې چاته ضرررسول هم لازم راشی خولزوم دضرراوقصد دضرر کې فرق دی اوکه خاص ضرررسول مقصود وی نوثواب نه کیږي اګرچه دعقدنفاذوشی نودی بنیاد باندی که چرته چاخاص په دی غرض باندی وقف وکړوچه دده په نزدباندی حکمونه دفرضومضردی لکه دی زمانه کې چه نکته چین خلق پیداشویدی نودامذموم دی اوکه چرته دانیت نشته نوهیڅ باک نشته اګرکه ده سره هم داسی لازم راشی دغه شان که چرته څه مصلحت سره لورته نفع رسول مقصود وی نوهیڅ باک نشته اګرکه دی کې دتره دخامنودمیراث نه محرومیدل هم لازم راشی خوچه خاص مقصود وي اضرارنه وی یکم رجب/۱۳۳۱هـ (تتمه ثانیه ص۴۲)

عدم اطلاق طالب التولیة لایولی وفی قول واقف نسلابعدنسل

سوال :(۷۲۷)څه فرمائی علماء دین په دي مسئله کې چه زید یوجائداد خپل دنیکو کارونوپه مصرف کې وقف کړواودهغې دانتظام دخرج باب کې واجب العرض مصدقه واقف په بندوبست کې بالفعل زه زیدددی ځای دمهتمم یم زماپه اختیاربه امدنی دنیکې په کارونوکې لګی اودوفات نه وروستودمهتمم له اولاد کې چه څوک قابل وي هغه به مهتمم وی اونسلا بعدنسل اوبطناً بعدبطن به آمدنی خرج کوی خوهیڅ مهتمم ته به دجائداد دانتقال اختیارنه وي که چرته یومهتمم بددیانتی اوبی ایمانی سره داآمدنی دنیتوپه کارکې خرج نه کړی نوبیاسرکارته اختیاردی چه کوم سړی قابل اومناسب وي هغه دی مهتمم مقررکړی ، **شرط وصیت نامه** اقرار دادی چه ترمرګه پوری به داآمدنی اوپیداوارپه دی ذکرشوؤ ځایونوکې دی الله رضادپاره په خپل لاس اواختیارسره خرج کوم اوزمانه وروستوبه زماپه اولادکې څوک قابل وي هغه به نسلاً بعدنسل اوبطناً بعدبطنٍ زمادطریقی په شان خرج کوی خوچاته به دجائداد دانتقال اختیارنه وی اونه به داحق لائق دوراثت وی پدی وجه دزید دوفات نه پس دزیدمشرخوی خالدچه هغه قابل ګڼړلی شو مهتمم مقررشواودوه ویشت کالوپوری یې دانتظام چلولواوس سوال دادی چه دخالددوفات نه وروستودخالدمشرخوی چه قابل دی اودپنځوکالونه په حکم دکلکترصاحب بهادر دګونرصاحب بهادراوکمشنرصاحب بهادر دوقف دجائدادکارپه دیانتداری سره کوی دی

یادخالدحقیقی یامیرانه ورور ددی واجب العرض اووصیت نامی شرعاً متولی څوک کیدل پکاردی اوداخبره دپته نه وی چه دخالدمیرانه ورور دخالد دمهتمم کیدووخت نه تراوسه پوری دتولیت خواهش لری اودخالدوفات نه تراوسه پوری دپنځوکالونه یې دخپل حق دتولیت دپاره مقدمی دائري کړیدی آیاکوم سړی چه دتولیت آرزواوخواهش لری هغه شرعاً متولی یامهتمم کیدیشی یانه ؟

جواب: فی الدرالمختارطالب التولية لايولى الاالمشروط له النظر لانه مولى فيريدالتنفيذالیٰ قوله ومادام احديصلح للتولية من اقارب الواقف لايجعل المتولى من الجانب لانه شفق ومن قصده نسبة الوقف اليهم وفی ردالمختارقوله طالب التولية الخ وهل المرادانـه لاينبغـى اولايحـل اسـتظهرفی البحرالاول تامل قوله الاالمشروط له النظر بان قال جعلت نظروقفي لفلان قوله ومادام احد الیٰ قوله جامع الفصولين لوشرط الواقف كون المتولى من اولاده واولادهم ليس للقاضـى ان يـولى غيرهم بلاخيانة ولوفعل لايصير متوليا۔ ج ۳/ص ۲۳۴و۲۳۵ وفی الدرالمختارشرط لنفسه مادام حيا ثم لولده فلان ماعاش ثم بعده للاعف الارشدمن اولاده فاقاء تصرف لاقرب المكيـات بمقتضى الوضع وفی ردالمختارقوله بمقتضى الوضع ای الاصل وهوعودالضميرالیٰ اقرب مذكوراليه قلت وهذاالاصل عندالخلوعن القرائن ولذاقال فی الخيرية سئل عن وقف علیٰ ولده حسن وعلیٰ من يحدث له من الاولادثم علیٰ اولادهم الذكورثم على اولاده الاناث واولادهن ثم حدث للواقف ولداسمه محمدثم مات حسن المذكورفهل الضميرفی يحدث له راجع الیٰ حسن لانه اقرب مذكورام الیٰ الواقف فيدخل محمدفاجاب مفتی الحنيفة بمصرمولاناالشيخ حسن الشرنبلالی بانـه راجـع الیٰ الواقف ثم قال فی الخيرية ان هذامالايشک ذوفهم فيه اذهوالاقرب الی غرض الواقف مع صلاحية اللفظ له وقدتقررفی شروط الواقفين انه اذاكان للفظ محتملان تعين احدهما بالغرض واذارجعنا الضميرالی حسن لزم حرمان ولدالواقف لصلبه واسـتحقاق اولاد اولادالبنـات وفيـه غاية الجدولاتمسک بكونه اقرب مذكورلماذكرنامن المحظوروهذاالغاية ظهوره غنی عن الاسـتدلال اه ج۳/ص ۲۲۸۔۲۲۹ پدی کې په دريوځايونوکې كلام دی وړومبی دواجب العرض داعبارت دمهتمم داولادنه چه كوم سړی الخ اودوصيت نامی داعبارت چه زمانه پس زمااولاد کې الخ مطلب ددواړويوشان دی دوړومبی عبارت نه دی داونه ګڼرلی شی چه دوقف كوونكې مراد

دمهتمم نه هرمهتمم دی چه دخالدمهتمم خوی په خپله دوقف كوونكې په بل خوی باندی مخکې کریشی ځکه چه دی عبارت نه مخکې زيدخيل خان ته مهتمم وئيلی دی نودلته هم دمهتمم نه مراد په خپله دی نولفظ دمهتمم اولاد اودالفظ چه زمااولاددواړه مترادف دی دويم لفظ نسلاً بعدنسلٍ وبطناً بعدبطن دمفهوم نه كوم چه دواړوعبارتونوکې مشترک دی خبره پاتی شوه چه آيادامراد چه وړومبی يوسړی زمادااولادنه بيادهغی نه وروستودغه اولاد داولادنه اګرچه دغه وخت زمادااولادنه څوک موجودهم وی يادامراددی چه وړومبی زمادااولادنه څوک وی اوکه چرته ته زمااولادګڼړوی نوبياچه په هغوی کې څوک پاتی نه شی نوبيادااولادداولادتمبروی نودوقف كوونكې مختلف اغراض اومحاوری بی شکه قرينه ده ددويم معنی دتعين اودوقف كوونكې دغرض اتباع اودقرينی اتباع ضروری ده لکه ځنګه چه پره روايتونوکې اخيری روايت کې راغليدی اوکه چرته دردمختارعبارت قالهاء تنصرف الخ نه دوړومبی معنی شبه وی نودهغی دعبارت بمقتضی الوضع مع شرحها عن ردالمحتارسره دهغی شبه لرې کړی نوددی تقرير په بنياد دی صورت کې دتوليت مستحق درزيدبل خوی دی نه درزيدنمسی دريم دتوليت ارزوکول مطلقاً منع نه دی بلکه دهغی نه مشروط له النظرطالب التنفيذلذلک الشروط مستثنی دی ځنګه چه درمختارکې په خپله بره داوضاحت شويدی اودهغی مشروط له النظر كيدل بره ثابت شول پدی وجه دتوليت طلب كول هغه دپاره مانع نه دی ۔۱۸رمضان ۱۳۳۱ھ(تتمه ثانی ص ۷۱)

تحقیق زوال وقف ازملک

سوال: (۷۲۸) چه می فرمايند علماء دين ومفتيان شرع متين اندرين كه مال موقوفه ازملکيت واقف برمذهب مفتی به زائل شود يانه ؟

جواب: فی الدرالمختاروعندهماهو (ای الوقف) حبسهاعلیٰ حكم ملک الله تعالیٰ وصرف منفعتهاعلیٰ من احب ولوغنيافيلزم فلايجوزله ابطاله ولايورث عنه وعليه الفتویٰ ابن الكمال وفيه والملک يزول عن الموقوف الخ وفيه ولايتم حتی يقبض ويفرزفلايجوزوقف مشاع يقسم خلافاً للثانی ويجعل اخره بجهة قربة لاتنقطع الیٰ قوله واختلف الترجيح والاخذبقول الثانی احوط واسهل بحروفی الدرر وصدرالشريعة وبه يفتی واقره المصنف وفی ردالمحتارتحت قولـه وجعلـه ابويوسف رحمه الله كالاعتاق فلذلک لم يشترط القبض والافرازاه ح ای فيلزم عنده بمجردالقول

کالاعتاق بجامع اسقاط الملک قال فی الدرر والصحیح ان التابید شرط اتفاقاً لکن ذکرہ لیس بشرط عند ابی یوسف رحمہ اللہ وعند محمد رحمہ اللہ لابد ان ینص علیہ اہ وصححہ فی الھدایۃ ایضاً، ج۳/ صـ ۵۲۴ ازین عبارت ہویداست کہ مفتیٰ بہ ہمین است کہ وقف ازملک واقف زائل می شود کما ذھبا الیہ خواہ بمجرد قول خواہ بہ تسلیم الی المتولی واکثر باول فتویٰ دادند لیکن شرط صحت وقف انست کہ اخرجتہ قرب غیرمنقطعہ باشد ۷ محرم ۱۳۲۲ھ (تتمہ ثانی ص ۱۰۸)

حکم اشتراط جائداددیگر از منافع وقف

سوال: (۷۲۹) وہم در وقف نامہ می نویسد کہ از محاصل جائداد اولاً در کار مسجد تصرف کنند بعد ازان خراج جائداد موقوفہ ادا سازند انچہ ازان باقی ماند جائداددیگر ازان خریدہ شود وان ہم درمال موقوفہ داخل شود پس این جائداد بعد وقف درمال موقوفہ داخل میتوان شد یانہ؟

جواب: فی الدالمختار وجاز شرط الاستبدال بہ ارضاً اخریٰ حینئذٍ اوشرط بیعہ ویشتری بثمنہ ارضاً اخری اذاشاء فاذافعل صارت الثانیۃ کالاولیٰ فی شرائطھا فی ردالمحتار ویشتری بثمنہ ارضاً ای وان یشتری الخ ج۳/ صـ ۵۹۹ پس ہرگاہ اشتراء ارض اخری بثمن اولی بعد اشتراط جائزاست پس اشتراط اشتراء ارض اخریٰ بمنفعت اولیٰ بدرجہ اولیٰ جائز باشد وارض اخری ہم وقف باشد. محرم ۱۳۳۲ھ (تتمہ ثانی ص ۱۰۹)

تفاوت درمشاہرہ متولیان کہ اولادواقف باشند

سوال: (۷۳۰) بعد ازان متولی اول را از محاصلہ ان یک صد روپیہ ودیگر متولیان راسی یاچہل چہل روپیہ درماہواری می رسد ہم چنین امتیاز نمودن در وقف مابین اولاد ذکور (متولیان) درمشاہرہ صحیح است یانہ؟

جواب: این تفاوت ہم جائزاست وآن مبنی است برجواز تفاوت کہ درنمبر (۱) مذکورشد ولامانع منہ فیجوز ۷ محرم ۱۳۳۲ھ (تتمہ ثانیہ ص ۱۰۹)

(۱) دی ترتیب کې دامسئله ص سوال کې راغلې ده ۱۲ رشید احمد عفی عنه

حکم وقف نمودن کہ ازان حرمان ورثاء ازنصیب شان لازم اید

سوال: (۷۳۱) وازان موقوفہ زوجہ ودختران رامحروم نمودن ودرعوض آن ہریکې دادہ دہ بیگہ زمین دادن جائزاست یانہ؟

جواب: فی الدرالمختار عن الخانیۃ لاباس بتفضیل بعض الاولاد فی المحبۃ لانھا عمل القلب وکذا فی العطایا ان لم یقصد بہ الاضرار وان قصدہ یسوی بینھم یعطی البنت کالابن عندالثانی وعلیہ الفتویٰ ولو وھب فی صحۃ کل الولد جاز واثم وفی ردالمحتار وعلیہ الفتویٰ ای علیٰ قول ابی یوسف رحمہ اللہ من ان التنصیف بین الذکر والانثی افضل من التثلیث الذی ھو قول محمد رحمہ اللہ رملی ج۳/ صـ ۷۸۵ وفی الدرالمختار کتاب الوصیۃ وتندب باقل منہ ولو عندغنی ورثتہ اواستغنائھم بحصتھم کترکھا کماندب ترکھا الخ، فی ردالمحتار فی اخر الحاشیۃ علی قولہ ولو عندغنی ورثتہ مانصہ (تنبیہ) قال فی الحاوی القدسی من لاوارث لہ دین علیہ فالاولیٰ ان یوصی بجمیع مالہ بعد التصدق بیدہ، ج۵/ صـ ۲۴۰ ازین روایات مستفاد شدکہ این تفاوت درعطایا حرمان بعضی یاتنقیص نصیب بعضی ہرگاہ کہ قصد اضرار ایشان باشد یاموجب ضرر ایشان باشد موجب گناہ است اگر محذور مذکور نباشد مضائقہ ینست وکذلک الوقف اگرچہ تصرفات مذکورہ اسئلہ بالاہمہ نافذ صحیح باشند کماذکرہ فی الاجوبۃ لاکن اگر بحیلہ دعویٰ نیت قربت ورثہ رامحروم کردن منظوراست وقف مقبول نباشد واللہ اعلم. وانچہ سوال کردہ شدہ است کہ قواعد تصرف مال موقوف چیست وبچہ صورت صحیح گردد وبچہ صورت غیرصحیح پس آنچہ سوال کردنی باشد جزئیات سوال کردنی شود (محرم ۳۲ھ تتمہ ۲ ص ۱۰۹)

جواز خرج امدنی وقف متولی رابراولاد خود اگر اولاد موافق شرط واقف باشد یا برسید

سوال: (۷۳۲) یو وقف کوونکي څه جائداد وقف کړو او دهغې څه حصه یې مقرر کړه او دهغې متولي يې يو سړی جوړ کړو او وقف کوونکي وفات شويدی یا چا دمرګ په وخت کې داووئیل چه زما دمرګ نه وروستو زما دخوراک روټی هره ورځ يو مسکين ته ورکوی نو داسی وخت کې متولي یاموصی الیه خپلو خپلوانو کې چه کوم غريب او مسکين دی مثلاً اولاد ته ورکول غواړی نو جائز دي یانه؟

جواب: که چرته دغه سړی دوقف کوونکي دشرط موافق وی نوجائزدی کنې نه دی اوداهم یادلره که چرته اولادنابالغه دی اوپلار مالداره دی نودغه اولادشرعاً غني دی اوس دوقف مال په دی نشی صرف کیدي: دمخکې **تتمه سوال سابق**: دغه رنګ ددی مال نه که چرته سیدته ورکول وغواړی نوورکولی شی یانه؟ **جواب** ورکولی شي فی الدرالمختاروجازت التطوعات من الصدقات وغلة الاوقاف لهم ای لبنی هاشم الخ باب المصرف (۱صفر/۱۳۳۲ھ،تتمه ثانی/۱۲۲)

جوازخروج قیمت اضحیه که ازمال وصیت کرده شود

براولاد متولی اگراولاد مصرف آن باشد یابرسید

سوال: (۷۳۳) دهغی قربانی دڅرمنی قیمت کوم چه دوقف مال یاوصیت نه دوقف کوونکي یادوصیت دهدایت مطابق کولی شی دهغی څرمنی قیمت متولی یاموصی الیه په خپل محتاج اولادباندی خرج کولی شی یانه؟

جواب: که چرته هغوی مصرف دزکات وي نوصحیح ده ځکه چه هغه قیمت صدقه کول واجب دی اوواجب صدقه په حکم دزکات کې ده. **دمخکې سوال تتمه**: دغه شان سیدته داقیمت ورکولی شی یانه بینواتوجروا؟ جواب فی الدرالمختاروجازت التطوعات الی قوله لبنی هاشم مانصه قیدبهالیخرج بقیة الواجبات الخ ج۳ص۱۰۷ (۱۷صفر۱۳۳۲ھ،تتمه ثانی/ص۱۱۲)

عدم ثبوت وقف بغیرالفاظ خاصه

سوال: (۷۳۴) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کې چه زیداوعمرودواړه حقیقی وروڼه دی دوی یوجومات جوړکړواودهغی دخرچی دپاره یې خپلی یوی شریکې زمکې پیداوار اوګرځولو اودهغی مهتمم یې عمروجوړکړوخوڅه وقف نامه یې اونه لیکلیه ونورجائدادچه دعمرواوزیدپه مینځ کې شریک وه هغه نه وروستودعمرومشرځوی خپل اهتمام جاری اوساتلواودهغی زمکې پیداواریې دجومات په خرچوباندی ولګولوتردی وخته پوری نه دزیدنارینه اولاداونه دعمرونوراولاددی مشروروسره څه کارولرلو حالانکه یولوئ سړی دزیدپه اولادباندی خپله کامیابی اخستی ده اودازمکه یې بنده کړي وه دعمرومشرځوی صرف په دی عذرباندی چه ددی آمدنی په جومات کې خرچ کیده عدالت واپس کړه حالانکه سرکاری کاغذونوکې مشترکه لیکلی کیږی دعمروپه اولادکې هم ټول جائدادتقسیم

شوخودازمکه بیاهم په خپل حال پرته وه اوس که چرته ته دعمرو نمسی اودزیدلونړه خپله خپله حصه غواړی نودازمکه تقسیمیدی شي یانه یادغه تعامل دوجه نه به وقف کړی شوی ګڼړی شی دشریعت څه حکم وی اوفرمائی بینواتوجروا؟

جواب: دوقف اثبات دپاره چه کوم خاص الفاظ فقهاؤ لیکلی دی چونکه الفاظوکې یولفظ هم زیداوعمرونه دی وئیلی پدی وجه بعض په جومات کې خرچ کولوسره وقف نه ثابتیږی اوپدیکې میراث جاری کیږی هروارث ته دخپلی حصی اخستوحق شته داجواب ماد قواعدونه ورکړیدي بهتره ده چه ددیوبند وغیره نه هم تحقیق وکړی ۲۲ربیع الاول ۱۳۳۲ھ،تتمه ثانی ص۱۳۱)

عدم جوازمنافع زائدعلی القدرمتولی را

سوال: (۷۳۵) دوقف کړی شوی زمکې آمدنی کومه چه په ټک باندی راځی هغه خومتولی یاکارکوونکي په خپل مصرف کې لګوی خونورحقونه ددی خپلی زمکې کوم چه دزمیندار دطرفنه مقرردی هغه دخپل محنت حق ګڼړی اودپه خپل خرج کې اخلی اوزمینداریې په خوشحالی ورکوی داجائزدي یانه؟ اودوقف کړي شوي زمکې نه داوچتولوپه وخت کې نذرانه اخلی کله کله یې مخکې اخلی اوکله کله دټک ورکولوپه وخت کې یې زمیندارپه خپلی خوشحالی باندی ورکوی دامال دامتولی یاکارکوونکي په خپلی خرج کې استعمالولی شی یانه ددی مالونونه علاوه ددي وقف کړی شوی زمکې نه هیڅ هم نه اخلی؟

جواب: داټول حقونه اوبابونه په داصل اجرت سره یوځای کیږی اودوقف په ګټه کې شاملیږی اودمتولی ته ددی نه څه اخستل داسی دی لکه داصل اجرت نه څه اخستل کوم ځای کې چه هغه جائزوي داهم جائزدی کنې نه دی جائزداهم په تاویل دالحاق بالعقد سره جائزکیدیشی نوددی حکم هم دنمبر۱ په شان دی اوکه چرته اصل عقدسره داحقونه اونذرانه یوځای نه کړیشی نودرشوت کیدوپه وجه په خپله ددی مقررکول هم جائزنه دی. ۲۲ربیع الاول۱۳۳۲ھ، تتمه ثانی/ص۱۳۲)

وقف شدن بناتبعاً للارض وتابع شدنش درجمیع احکام

سوال: (۷۳۶) عالمګیری وغیره کې دامسئله موجود ده چه بغیرد ذکرکولونه تبعاً په وقف کې بناء یعنی مکانونه اوونی وقف کې داخلیږی الفاظ یې دادی یدخل فیه البناء والنخیل والاشجار، اوس صورت دسوال دادی چه یوسړی زمکه واخسته اودزمکې په خپله یوه حصه

کې يې (په کومه کې چه يې کرونده کوله او هغه زمکه خرڅه کړي شوی زمکې حصه ده) دی زمیندار د خپل ځان دپاره داوسیدو مکان او خپل اولاد دپاره یې پکې اوسیدو دپاره کورونه جوړ کړل او هر یو په خپل ځای کې اوسیدل دمکانونو جوړولو نه څه موده پس یې یوه وقف نامه ولیکله او د زمینداری هغه ټوله حصه یې وقف کړه او د وقف الفاظ دادی چه ټوله حصه دجائدادمی وقف کړه هر کله چه ټوله حصه د کومې چه مالک وه او د وقف کړه نو هغه زمکه او کورونه چه داوسیدو دپاره یې جوړ کړی وه ټول سیلمی شرعاً وقف شول ځکه چه عالمګیری کې مسئله موجود ده اګرچه دمکانونو څه ذکر وقف نامه کې نشته خو تبعاً ټولی به وقف کې داخل شوی اوس د دی وقف کوونکې دوفات نه وروستو دامکانونه متولی ته ملاویږی یا میراث به تقسیمیږی او هغه کورونه داوسیدو چه خپل اولاد دپاره یې جوړ کړی وه وقف کولو نه مخکې چونکه داټول هم په وقف کې داخل شول نو آیا اوس دا متولی به په دی ټولو مکانونو یوازی قبضه کوی یا میراث به تقسیمولی شی او که وارثانو ته په دی کې مال ملاؤشی نو د بناء نه څه مراد دی کوم مکانونه په وقف کې داخلیږی او که چرته ټول مکانونه وقف شول نو یوازی متولی به قبضه کوی او د دی ټولو مکانونو نه به د جدا کیدو شرعاً اختیار وي یا نه که چرته اختیار نه وی نو د متولیانو اختیارات به په دی ټولو مکانونو کې کوم قسم وی او د وقف کوونکې هغه خپل مکان به چاته ملاویږی وارثانو ته یا متولی ته دی مسئله کې چه څه دی هغه و فرمائی داټول دمکانونه ده وقف کولو نه مخکې جوړ کړی شوي وي چونکه د وقف کوونکې په ملکیت کې ټول مکانونه دی او وقف نامه کې جدا کړی نه دی پدی وجه بغیر د ذکر کولو نه وقف کې داخل شول پدی وجه تحقیق ته ضرورت راغی چه وارثانو سره څه معامله وکړیشی ؟

جواب: دغه روایت د سوال صریح مقتضا ده چه دی صورت کې داټول مکانونه وقف شول البته که چرته ده استثناء کړي وی نو د مصرف په شرطونو کې هم د زمکې تابع دی مثلاً د وقف کړی شوی زمکې ګټه که چرته د څه مدرسی یا جوماتونو یا مسکینانو وغیره هم متعلق دی نو دا مکانونه به هم په کرایه ورکوی او د دی آمدنی به په دغه مصروفونو باندی خرچ کولی شی البته که چرته متولی سره څه مستقل مکان کافی نه وی او د کرائی ورکولو ګنجائش یې نه وی نو د تولیت په حیثیت سره د څه درمیانه ارام په اندازه د دی نه څه فائده اخستی شی.

۱۹ رجب ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۵۴)

حکم درختان نصب کرده عامی در قبرستان

سوال: (۷۳۷) څه فرمائی علماء دین په دي لاندینی مسئلی کې (۱) عام قبرستان کې که چرته چامیوه داری ونی ولګولی نو دهغی ونی میوه او لرګی داسری په خپل خرچ کې راوستی شی یانه او دی، دهغه ونی مالک دي یانه ؟ (۲) د دی ونی دلګوونکی داجازت نه بغیر عام مسلمان د دی ونی لرګی د مړی په تخته کې ورکولی شی یانه ؟ (۳) که چرته داونی د دی لګوونکې نه وی نو د دی میوه او لرګی په خپله دالګونکې او عام مسلمانان خوړی او وړلی شی یانه ؟ (۴) د دی ونو په قیمت باندی د جومات مرمت کیدیشی یانه یا صرف په قبرستان لګولی شی بینوا توجروا ؟

(الجواب الکل) که چرته ده په نیت د وقف لګولی وی نو د وقف چه کوم مصرف دی هغه د دی ونو هم مصرف دی او که چرته په نیت د خپل مالک کیدو یې لګولی وی نو دا په خپله د ده په ملکیت کې دی بل چاته د دی نه فائده اخستل د ده داجازت نه بغیر جائز نه دی البته د قبرستان متولی ته یا عام مسلمانانو ته د دی اختیار شته چه داسری مجبوره کړی چه د دی اونی اونړوي او زمکه د قبرستان دپاره خالی کړی دی تقریر سره د ټولو سوالونو جواب وشو.

۱۷ شوال ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۷۵)

حکم مساجد و مقابر منهدمه

سوال: (۷۳۸) (استفتاء) پخوانی دهلی کې ډیر جوماتونه زاړه داسی دی چه زمانی په تیریدو سره بالکل وران شویدی او بالکل غیرآباد دی په هغی کې په ډیرو باندی خلقو مالکانو تصرف کړیدی او په هغه کې یا اوسیږی یا پکې څاروی تړی یاد هغوی ګیابوس وغیره پکې کیږدی بعض داسی هم دي چه بالکل خالی دي او هغی لره هغه خلق چاچه دا زمکه اخستی ده یا یې میراث کې موندلی ده خپل ملکیت یې ګڼړی اوس د عالمانو د دین نه داتپوس نه کوؤ (الف ۱) آیا جومات په څه وخت کې د چا ملکیت کیدیشی یانه او دی لره که چرته یو سړی خپل ملکیت جوړ کړو او خرڅ یې کړی نو خرڅولی شی یانه ؟ (الف ۲) که چرته یو سړی په یو جومات باندی مالکانه تصرف لری آیا د اخیره ضروری ده چه دا جومات د ده د تصرف د قبضه نه اوباسی او دی لره د جومات په طور سره او ساتی؟ (ب) پخوانی دهلی کې

زړی مقبری هم دیري دی او په هغی کښ هم دېر و دغه حال دی کوم چه ددغه جوماتونو دی. دی مقبرو په باره کښ څه حکم دی بینوا توجروا؟

جواب: (الف ۱) فی الدرالمختار ولوخرب ماحوله واستغنی عنه یبقی مسجداً عنـد الامام والثـانی ابداً الی قیام الساعة وبه یفتی حاوی القدسی وفی ردالمحتار قوله ولوخرب ماحوله الخ ای ولومع بقائه عامراً وکذا لوخرب ولیس له مایعمربه وقداستغنی الناس عنه لبناء مسجدآخر قوله عندالامام والثانی فلایعود میراثاً ولایجوزنقله ماله الی مسجدآخر سواء کانوایصلون فیـه اولاد هوالفتـوی حاوی القدسی واکثرالمشائخ علیه مجتبی وهوالاوجـه فتـح الخ، بحرج۲، ص ۵۷۳، دی روایت نه معلومه شوه چه جومات په هیڅ وخت کښ هم دچاملکیت نه شی جوړیدی او دی لره څوک خپل مالک نه شی جوړلی او نه یې خرڅولی شی. (الف ۲) راویستل د منکر ختمولو یو فرد دی خو ددی مدار په قدرت باندی دی که چرته چاته ددی قدرت وی نو هغه باندی واجب دی او که چرته قدرت نه وی نو په زړه کښ بد ګڼړل او په عمل کښ صبر کافی دی وهذامن القواعدالشرعیة. (ب) فی الدرالمختار بعدالعبارة المارة فی (الف) وکذاالرباط والبرء اذالم ینتفع بهما الخ قلت قوله وکذا ای مثل المسجد فی الحکم ای عدم عوده الی ملک احد ویتفرع علیه الحکم المـذکور فی (الف ۲) دی نه ثابته شوه چه ددغه مقبروهم دغه حکم دی کوم چه دجوماتونو ذکرشو الف ۲ کښ هم ذی قعده ۱ / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۷۹).

بطلان وقف وعدم حرمت در بنائیکه از رقم قرضه مشروط به ربوا ساخته شده

سوال: (۷۳۹) څه فرمائی علماء دین په دې مسئله کښ چه د یو جومات متعلق څه دوکانونه دی دا دوکانونه یې ګانړه کړل او په سود یې پری روپی واخستی او په هغه روپیو یې د اول نمبر تیم چوپال جوړ کړو خو هغه چوپال د څوروجو په بنیاد باندی بیکاره او ختوخه سوده وروستو یې هغه تیم خرڅ کړو د هغی په قیمت یې او بوسبیل او فرش تیار کړو حالانکه تر اوسه هغه دوکانونه ګانړه دی او کومی روپی چه اخستی شوی وی په هغی باندی برابر سود راخیژی نو د هغی او بو د سبیل نه اوبه راخستل او په هغی اودس کول جائز دی یا نه او په هغی فرش باندی لمونځ کیږی یا نه هغه چوپال په نیم قیمت باندی خرڅ شویدی؟

جواب: دوقف ګانړه کول بالکل باطل دی په دی وجه داګانړه کالعدم ده او کومی روپی چه قرض اخستی شویدی هغه داخستونکی په ذمه دی څه رنګ چه یې په خپل نوم باندی اخستی دی او که چرته په خپل نوم یې روپی اخستی وی او په هغی یې فرش سبیل جوړ کړی وی اګر که هغی که سود هم راخستی وی خو هغی په استعمال کښ څه باک نه وه سود ورکولو سره د قرض مال نه حرامیږی. ۱۸ ذی قعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۸۸).

عدم جواز استعاره پاره های قرآن در مجالس

سوم مروج هرگاه واقف نیت نفی آن نموده

سوال: (۷۴۰) د یو قرآن شریف دیرش پاری جداجدا یې جوړي کړی او زید وقف کړی په طریقی د سنت ایصال ثواب د پاره چه که چرته چا کره حادثه د مرګ راشی نو قرآن مجید به اولولی چه په هغی کښ د ریمه او بدعت نه وی بغیر د ورځو تعین نه او د ریاکاری نه او لاچی دانی وغیره یعنی کوم وخت چه فرصت وی د مرګ په ورځ هم یا د مړی د دفن نه بعد یا په بله ورځ او س چونکه د باطل پرستو او بدعتیانو خیال دی چه د اقرآن مجید مونږ د ریمی ته هم یو سو او د وقف کوونکي او د دیر خلقو داخیال دی چه نه دی اوري چه زمونږ په قرآن مجید کښ د بدعت کارونو د پاره تلاوت نه وی نو دا ورکول بنه دی که نه ورکول بنه دی اګرچه زید د قرآن مجید تلاوت سبب د لوئ اجر ګنړی؟

جواب: تلاوت د قران خوفی نفسه طاعت دی خو عوارضو سره دیکښ کراهت راځی په دی وجه ورکولو کښ څه باک نشته خو په دی شرط چه د وقف کوونکي د نیت خلاف نه وی. ۱۸ ذی قعده ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۸۸).

حکم ثمار اشجار مغروسه در ارض مسجد

سوال: (۷۴۱) په جومات کښ اکثر هغه ځای کښ میوه داره ونه لګوی چه د جومات په انګړ کښ وی یا بل طرفته کوم ځای کښ چه نمونځ نه کیږی نو ددی میوی خوړل لمونځ ګزاروته او کلی والو ته جائز دی یا نه او که چرته ټوله میوه خرڅه کړی او د جومات په تعمیر کښ اولګوی نو څه باک پکښ نشته اګرچه یو سړی ونی لګوی خو چونکه جومات کښ دی په دی وجه ټول

خلق برخی دارجوړیږي ځکه چه جومات دیو خاص سړي نه وي په دې وجه محلي واله یې تقسیم کړي اوخوري یې ؟

(جواب) لګوونکي نه تپوس پکاردی چه په کوم نیت یې لګولي دي که چرته خپل ځان دپاره یې لګولي وي نودده داجازت نه بغیرچاته هم خوړل جائزنه دي اوکه وقف للمسلمین په نیت یې لګولي وي نوټولوته ددې خوړل جائزدي اوکه وقف للمجسدپه نیت یې لګولي اوپه صورت دنفع لنفسه یانفع للمسلمین کې دجومات متولي ته اختیاردی هرکله چه اوغواړي اودې نړوی فقط ۹ذي الحجه ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانی ص ۱۹۹)

دجومات دزمکې دمیووځکم

سوال :(۷٤۲) دجومات په زمکه باندې دځه میوو ونې دي چه دهغې میوه په لمونځ ګزارو تقسیمولی شي نوداتقسیمول جائزدي یانه یادابه خرځوی اودجومات په مصروف کې لګول یې ضروري دي فقط ؟

جواب : که دوني لګوونکي په نیت باندې معلومه وي خودهغې موافق حکم پکاردی اوکه هیڅ معلوم نه وي نودعرف دوجه نه په لمونځ ګزاروتقسیمول جائزدی ۵ رجب ۱۳۲۹ھ (تتمه اول ص ۱۳۱)

ساختن سین بوره ارزقم مدرسه

سوال :(۷٤۳) دمدرسې اسلامي سنبهل په دروازه باندې په یوې تختې باندې دمدرسې نوم لیکلې شویدی هغه دریل سړک باندې پرته ده تختنه یې ددې پاره لګولي ده چه هریو سړي پوه شي چه دلته مدرسه ده کیدیشي ځه نوره فائده هم وي بعض خلقورایه داده چه داکارد مدرسې نه دی په دې وجه ددې قیمت دمدرسې دآمدنې نه ورکول جائزنه دي دحضرت والا ځه ارشاددی ؟

جواب : فقهاء یوه قاعده لیکلې ده چه دجومات نقش اونګارپه وقف مال باندې جائزنه دی خواستحکام جائزدی په دې نمونه ددې صورت حکم دادې چه که چرته دې تختې زوروندلوسره دمدرسې ځه ښکاره فائده وي نودمدرسې دمال په دې کې لګول جائزدي اوکه چرته ځه معتدبه فائده نه وي محض داحتمال درجه وي نودخپل طرفنه ددې قیمت ورکول پکاردي ۹ ربیع الثانی ۱۳۳۱ھ (حوادث اول وثانی ص ۱۸)

حکومت جومات دپاره زمکه ورکول یاحکومت یوجومات وران کړي دضرورت دوجه نه اوبل جومات جوړکړي

سوال :(۷٤٤) ځه فرمائي علماء دین په دې مسئله کې چه بازارکې یوجومات وه هرکله چه حکومت دطرفنه ددې بازارپه نوې ترتیب سره دجوړولو منظوري وشوه نودبازارمسلمانان یې رضاکړل اوهغه جومات یې شهید کړواودهغې قیمت اوسامان یې مسلمانانوته ورکړوچه ددې په بدله کې بل جومات جوړکړي مسلمانانواووئیل چه که چرته مونږ یې په خپل اهتمام سره جوړووْ نودارویې به ضائع شي حکومت دې په خپل انتظام سره جوړکړي حکومت داجازت موافق اودمسلمانانوپه رضامندۍ دمشرانومسلمانانوپه اهتمام سره هغه جومات په هغه روپو باندې جوړکړواودغه مشرهم دخپل طرفنه ځه روپې دې کې شامل کړي دتیاریدونه وروستودحکومت هغې سره هیڅ تعلق نه وه بالکل قبضه یې مسلمانانوته راغله لکه ځنګه چه نورجوماتونه وي اودجمع نمانځه دپاره دنورو جوماتونه زیات خلق راځي بلکه دمابنام په وخت کې خوجومات کې باکل ځای نه وي اوس داجومات شرعاً صحیح جومات دی یاغیرصحیح اودیکې لمونځ کول جائزدي یانه اوثواب پکې دنوروجوماتونوپه شان دی یانه اوپه دې دوجه چه روپې انګریزی حکومت ورکړي اوداجومات اګرچه دمسلمانانودمشرپه اهتمام سره جوړشوخوروپې ددوی وې اوس دې جومات کې خوهغې سره ځه نقصان نه دی راغلی ؟

جواب : داجومات شرعاً بالکل صحیح دی اواسانه توجیه ددې داده چه دجوړولوپه وخت کې هغه صرف یومکان وه خوورروستودجوړولونه چه کله یې دامسلمانانوته ورکړواومسلمانانو عملاً داوقف کړونوداوقف شوجومات پوره شواونورتوجیهات هم ممکن دی خوداتولونه اسانه اوواضحه ده والله اعلم . ۱۳جمادی الاول ۱۳۲۳ھ

(حوادث ۱-۲ ص ۷۳)

هدم سرکارمسجدي رابضرورت وتعمیرمسجدی دیګربعوض ان

سوال :(۷٤۵) یوجومات انګریزی حکومت په مشوره اورضامندۍ بازاردعامو مسلمانانو دښاردخاصو مسلمانانو ددکانونو دتعمیردضرورت دوجه نه وران کړواودهغې دجوړولوروپې یې بلکه دهغې نه یې زیاتې دخپل طرفنه مسلمانانوته ورکړي چه په دې بل جومات جوړکړي

مسلمانانو او وئیل چه دلته داخلق به داروپی ضائع کړی حکومت دي په خپله جوړ کړی او بعض مسلمانانو څه روپی دخپل طرفنه دچندی په طور پکښ شامل کړی حکومت دهغی جومات په بدله کښ بل ځای کښ دعامو مسلمانانو په اشاره سره جومات جوړ کړو او خپل تعلق یې بالکل دجومات نه کټ کړو او دمخکښ جومات په شان دیکښ هم مسلمانانو ته خپله قبضه حاصله شوه اوس داخبره معلومول غواړی چه داجومات شرعاً په حکم دجومات کښ دي یا نه او دیکښ لمونځ کول او دهغه وران شوي جومات مال او سامان او دزمکښ بدله مسلمانانو ته دحکومت غیر اهل اسلام یا اصل اسلام یا دبل کس نه چه ظلماً یې دابدکار کریدی په جبر سره یا بغیر جبر نه اخستل جائزدي ؟

جواب: داجزئی خومی اونه لیده پدی وجه ددی یوه نمونه یا یو کلیه نقل کوم فی الدرالمختار مق ثبت بطریق شرعی وقفیة مکان وجب نقض البیع وفی ردالمختار لوهدم المشتری البناء ان شاء القاضی ضمن البائع قیمة البناء فینفذ بیعه اوضمن المشتری ولاینفذ البیع ویملک المشتری البناء بالضمان ویکون الضمان للواقف لاللموقوف علیهم الخ ،والمرادبالبناء نقضه وهذااذالم تمکن اعادته والامرباعادته کما سنذکره فی الغصب ،ج۳ /ص۲۵۲، فی الدرالمختار فی احکام الاستبدال ویشتری بثمنه ارضاً اخریٰ اذاشاء فاذافعل صارت الثانیة کاالاولیٰ فی شرائطها وان لم یذکرهاالخ جلدمذکور ص ۲۰۰ دی نه معلومیږی چه جومات وارنوونکښ نه وروسبی مطالبه کیږی چه دابه بعینه هم هغه شان جوړوی او کوم ځای چه داقدرت نه وی نو دهغه نه به تاوان اخستی شی برابره خبره ده که قیمت ملاوشی یا بل تعمیر داټول تاوان دی او تاوان بدل وی دمضمون او دبدل حکم دمبدل منه وی پدی وجه دابل جومات من کل الوجوه شو او په دی کښ بلاکراهت لمونځ جائزدی او پدیکښ ثواب هم پوره ملاویګی او دوروسبی وران شوی جومات دتاوان مال چه څومره کیږی که چرته دویم جومات کښ دهغی برابر ونه لګیده نو دکمی پوره کیدو په اندازه به دهغه ورانوونکښ نه دتاوان مطالبه باقی وی برابره خبره ده که سامان سره یې پوره کوی یا نقد ترینه واخلی او که دتاوان په برابر لګیدلی وی نو اوس دسامان مطالبه جبراً نه شی کولی که چرته درخواست کولو سره په خوشحالی ملاوشی نو څه باک نشته او باقی چه کوم کافران ابتداءً مسلمانانو دپاره جومات جوړ کړی هغه جومات نه دی ، کمافی باب وصیة اللمی من الهدایة ،ومنهااذاوصی بمایکون قربة فی حقنا ولایکون قربة فی معتقدهم

کمااذااوصی بالحج اوبان یبنی مسجداً للمسلمین اوبان لیسرج فی مساجدالمسلمین وهذه الوصیة باطلة بالاجماع اعتباراً الاعتقادهم الخ. که چرته ددی خلاف تصریح ملاؤشوه نو صریح مقدم ده په مستنبط باندی والله اعلم وعلمه اتم واحکم .۲ذی الحجه ۱۳۲۲ھ ،امدادثانی ،ص ۹۷، دغه شان سوال باب الوقف وروستنو صفحو کښ تیرشویدی ،امدادثانی ،ص ۹۷،

عدم صلاحیت حاکم غیرمسلم برائ تصرف در وقف

سوال :(۷٤٦)څه فرمائی علماء دین دی مسئله کښ چه که یو سړی ځان نه وروستو څه وقف جائداد دنذرونیاز او خیرات په غرض وصیتاً پریږدی نو دیکښ انتظامی طور باندی ددی وخت حکومت که چرته څه قانونی کاروائی کوی نو څومره حده پوری صحیح کیدیشی یا که چرته متولی یا دڅه پیر نائب وغیره دیکښ بی ځایه تصرف کوی نو کوم کس ته ددعوی کولو حق حاصلیدیشی او کوموکوموشرطونه سره بینواتوجروا ؟

جواب: که چرته وقف کوونکښ په خپله څوک متولی مقرر کړی وی او هغه دتولیت اهل هم وی نو دهغه په موجودګی کښ بلکه دهغه دوصی په موجودګی کښ هم چاته په وقف کښ دتصرف کولو اختیار نشته تردی چه قاضی یعنی شرعی حاکم هم دهغه نه وروستونه دی وفی الفتوی الصغری الرای للواقف لاللقاضی فان کان الواقف میتافوصیه اولیٰ من القاضی فان لم یکن اوصی فالرای للقاضی الخ بحرومفاده ان لایملک التصرف فی الوقف مع وجود المتولی الیٰ قوله فافادان ولایة القاضی متاخرة من المشروط له ووصیه الخ ردالمختار ج۳ ص ۴۳۵/ او که چرته ددی وقف کوونکښ یا دهغه دوصی مقرر کړی شوی څوک متولی نه وی نو دغه وخت قاضی یعنی شرعی حاکم ته دمتولی مقررولو اختیار حاصل دی . فی الدرالمختار کتاب الوقف ولایة نصب القیم الیٰ الواقف ثم لوصیه ثم للقاضی الخ مختصراً او دقاضی په شرطونو کښ یو شرط دهغه مسلمان کیدل هم دی کمافی الدرالمختار واهله اهل الشهادة وفی ردالمحتار وحاصله ان شروط الشهادة من الاسلام والعقل والبلوغ والحریة وعدم العمی والحدفی قذف شروط لصحة تولیة ولصحة حکمه بعدها ،ج۴،ص ۴۲۲-۴۲۳/ او که چرته مسلمان حاکم موجود نه وی نو عامو ثقه مسلمانانو ته دمتولی مقرر کولو حق شرعاً حاصل دی .فی ردالمحتار ثم عن التاترخانیة ماحاصله ان اهل المسجدلواتفقوعلی نصب رجل متولیاً لمصالح المسجد فعندالمتقد مین یصح

ولکن الافضل کونه باذن القاضی ثم اتفق المتاخرون ان الافضل ان لایعلموا القاضی فی زماننا لما عرف من طمع القضاة فی اموال الاوقاف الخ ج۳/ صـ۴۳۳/ قلت فلما جاز نصب المسلمین متولیا مع وجود القاضی لبعض العوارض فکیف مع عدم القاضی. اوکه چرته متولی کې خیانت ثابت شو که هغه وقف کوونکي خپله مقرر کړی وی اوکه قاضی مقرر کړی وی اوکه عامو مسلمانانو دهغه لری کول واجب دی اوداحق دلری کولو هم اصل کې قاضی ته دی فی الدرالمختار وینزع وجوبا لو الواقف فغیره بالاولیٰ غیرمامون اوعاجزاظهربه فسق الخ مختصرًا فی ردالمحتار مقتضاه اثم القاضی بترکه الخ ج۳/ صـ۵۹۴/ اوبره معلوم شول چه عام مسلمان هم په ځای دقاضی دی په دی وجه که چرته قاضی نه وی نوعامو مسلمانانو ته هم داحق دلری کولو حاصل دی خوعام مسلمان که چرته بذات خود په دی شرعی اختیارنافذ کولو باندی قانوناً قادرنه وی نو په هغوی لازم دی چه وخت حاکمانو سره امداد وکړی اوهغوی ته درخواست وکړی چه یو نیک اوصالح متولی مقرر کړی چه دوقف دانتظام اصلاح وکړی نوداستولی به شرعاً دمسلمانانو دطرفه وی اوقانوناً به دوخت دحاکمانو دطرفه وی فیاسأله الاستعانة علی الا ستعانة بالمتولی غیرالمسلم کماقی ردالمحتاروشرط لصحة بلوغه وعقله لاحریته واسلامه کماقی الاسعاف الخ ج۳/ صـ۵۹۵/ والله اعلم ۱۲ ربیع الثانی/ ۱۳۳۲ هـ/ حوادث اول وثانی/ صـ۱۳۵/

تحقیق احکام وقف بر مملوکیت یاموقوفیت جاگیر

سوال: (۷۴۷) څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کې چه دهغی واقعات دادی چه حضرت غلام قاسم صاحب قادری ته دجانشینی په زمانه کې حکومت څه جانداد ورکړی وه دهغی سند کتلو نه معلومیږی چه دورکوونکي غرض دجانداد ورکولو نه دمقبری دلرګی اوخاوري مصرفونه دی نودمعطی له یعنی دغلام قاسم صاحب ذاتی مصرفونه دینه معلومه شوه چه داورکولو دجانداد په طور دتملیک نه وه بلکه صرف په طور داعانة علی الخدمة بلاتملیک دي بیا داجانداد سره دجانشینی اوتهول وقفونه زما پلار طرفته منتقل شول څه زمانه زما پلار په دي جانداد وغیره باندي قبضه کړي وه زه لا په امید کې وم چه زما والد صاحب وفات شو خپل وفات نه مخکې یې دحاضرینو په وړاندي خپل پلارشریک ورور مسمی سید محمد مرتضی صاحب ته وصیت وکړو چه که زما کور کې هلک پیدا شو نو داجانداد سره دجانشینی اووقفونو وغیره هغه هلک ته حواله کړه نوزما دغه پلارشریک تره سید محمد مرتضی صاحب دوصیت قبول کړو دخدای شان دی چه زه پیدا شوم نوتره می خیال وکړو چه څه دغیب نه ملاؤ شویدی هغه په رسی پدی وجه خپل ذاتی وجاهت سره یې زما په مامشوم والی کې یې دوخت حاکمانو ته دهوکه ورکړه اوهغه جانداد یې په خپل نوم اود خامنو په نوم نوی سند سره منتقل کړو صرف جانشینی کې پس دبالغیدو نه ماته حواله کړه. اوس ددی مسئلی تپوس کوؤ چه آیا وصی لره په وصیت کې دموصی دمنشاء خلاف دغه شان رد وبدل کول څه وصیت پوره کول یعنی جائی نشینی ماته راکول اوڅه وصیت هیرول یعنی جانداد وغیره ددغه جناب هضم کول سره دموصی له یعنی زما دمطالبی نه ماته نه راکول په شریعت کې جائزدي یانه؟ اودوخت دحاکمانو دهوکه خوړل اودسید محمد مرتضی په نوم نوی سند جوړول قابل داعتباردی؟ اوداعطاء دنوی سند دلمن کتب اسمه فی الدیوان څه مصداق کیدیشی؟ بینواتوجروا ددی جواب سره دفقی روایت نه وکړی؟

جواب: دورکوونکي که چرته داملک وه نو په دیکې دکارکوونکي وغیره مقررولو حق هغه ته حاصل دی البته که چرته ورکوونکي دی معطی له ته ددی هم اختیارورکړی وی یایې اختیارنه وی ورکړی خودده دافعل یې جائزشمیرلی وي نوداتصرف دمعطی له صحیح دی خودمالک په حق کې دالازم نه شول یعنی ورکوونکي مالک دی لره بدلولی هم شی نومعطی ته اختیاردی برابره خبره ده که موصی له ته انتظام حواله کوی اوکه قبضه کوونکي ته اوکه دریم کس ته اوجانداد سره نه اوباسی دمتولی مقررولو اختیارشرعاً حاصل نه دی بلکه وروسبی وقف کوونکي ته اودهغی وروستو دهغه وصی. اوکه هغه نه وی نوحاکم ته اختیارشته. البته که چرته متولی ته وقف کوونکي دااختیارهم ورکړی وی چه څوک متولی مقرروی نودغه وخت دده دافعل هم جائزدی خودی صورت کې دبدلولو اودلری کولو اختیاروقف کوونکي ته حاصل دی نودی صورت کې معطی وقف کوونکي دی نواوس مراددتولیت دوصیت په متولی نشته وقف کوونکي یادوقف کوونکي وصی ته اختیاردی برابره خبره ده که قبضه کوونکي مقرروی اوکه موصی له نومدار دهغه په خنیاردی اوداتهول هغه وخت کې دی، چه هرکله هغه جانداد دزمکې رقبه وی کنی که چرته رقبه دبل چاپه ملک کې وی اومعطی صرف دهغی دسرکاری محصول معطی له ته دوصولولو اودهغی دخرج کولو اجازت ورکړی وی نوهغی کې داوصیت وغیره هرڅه باطل دی غیرمملوک

اوغیرمقبوض کې هیڅ قسم تصرف هم جائزنه دی. فی الدرالمختاروولایة نصب القیم الی الواقف ثم لوصیه ثم للقاضی وفیه ارادة المتولی اقامة غیره مقامه فی حیاته ان کان التفویض لـه بالشرط عامطح ولایملک عزله والالاوانظر مایتعلق به فی ردالمختار (ج۳ صـ۲۳۳/ الی ۲۳۷) ۲شعبان/ ۱۳۳۳هـ.

سوالات متعلقه استحقاق امام تنخواه دار درغیبت خودازواقف

سوال :(۷۴۸)څه فرمائی علماء دین په مسئله کې چه زید یوجائداددجومات داوبراونورو خرچودپاره وقف کړو دهغی نه پس هغه دوارثانومتولیان دغفلت دوجه نه ګانړه اوتیلام شواوبیاخرج شواوڅه موده پوری دمشتری په قبضه کې وه دهغی نه پس مسلمانانوپری دعوی وکړه اوجائداديې بیاجومات ته واپس کړواوعدالت دهغی دانتظام اواهتمام دپاره نورمتولیان مقررکړل چه بیادپاره ددی خطري نه بچ شی اوڅه قاعدی اوضابطی یې دانتظام دپاره مقررکړی متولیانودنورانتظام سره خالدامام مقررکړوچه دی به دجمعی اوپنځه وخته لمونځ راکوی اوهغه ته یې تنخواه مقررکړه اوس کله کله دی امام ته دکوردضرورت پیش راځی نوهغه سردتنخواه اخستوکله کله بغیرداجازت نه اوکله کله دمتولیانوپه اجازت سره غیرحاضروی دهغی په غیرحاضری کله کله بل څوک لمونځ ورکوی بغیردتقرردمتولیانونه اوکله کله دهغه په ځای متولیان څوک مقررکړی هغه لمونځ ورکوی اوس دی کیفیت نه وروستوددی لاندینی سوالونوشرعی جواب غواړوچه متولیان دهغی پابندشی (۱) خالدکوم چه متولیانوپه تنخواه امام مقررکړیدی دهغه وخت تنخواه اخستی شی کوم وخت چه دی دمتولیانوداجازت نه بغیرغیرحاضی شوی وي؟ (۲) که خالددرخواست اورخصتی اخستی وی نوددغه ورځودغیرحاضری تنخواه شرعاً اخستی شی یانه؟ (۳) کوم سړی چه دخالدپه غیرحاضری کې بغیردمتولیانو اجازت نه لمونځ ورکوی اوس داخالددهغه ورځودتنخواه اخستومستحق دی یانه؟ (۴) که یوسړی دمتولیانوداجازت نه بغیراودخالدامام په اجازت سره دده په ځای لمونځ ورکوی نوخالدامام ددغه ورځودتنخواه اخستوحق لري یانه (۵) که متولیان دامام په غیرحاضری کې بل کس په تنخواه دهغه په ځای مقررکړی نوامام صاحب ددغه ورځودتنخواه اخستل حق لري یادابل چه دده په ځای مقررشویدی (۲) ۱۳۲۸هـ کې دمتولیانوپه مشوره کې داقانون منظورشوي وه چه بیادپاره داقاعده مقرروليشی چه رخصت اتفاقیه به یوکال کې دلسوورځوورځونه زیات نه ملاویږی برابره خبره ده که دالس

ورځی یوملازم بیلی بیلی چهټیانی کوی اوکه یوځل اودچهټی په نوروقسمونوکې که چرته ضرورت وی نودمتولیانوپه مشوری سره دی واخلی اوس دامقررشوی قاعده دمتولیانوشرعاً قابله دنفاذ ده یانه. اوکومی لس ورځی چه دقانون مطابق چهټی کې شماریږی دهغه ورځوتنخواه امام اخستل اودمتولیانوورکول شرعاً څنګه دی ددی جواب سره ددلیل اودفقی دکتابونوپه عبارت سره ولیکې بینواتوجروا؟

جواب : چونکه فتوی دجوازایستجارعلی الامامة باندی ده امام ته به اجیروئیلی شی اوداجاری حکم دادی چه دیکې کوم شرطونه دشریعت موافق مقررکړیشی هغه لازمیږی اودکوموشرطونوچه تصریح نه وی په هغی کې په قاعده دالمعروف کالمشروط دهغه عمل متعلق چه کوم عرف اوعادت وی اعتباربه کیدیشی کوم شرطونواوضابطی چه سوال نمبر ۲ کې ذکرشویدی چونکه دهغی تصریح شویده اوپه هغی دشریعت خلاف څه شرط نشته پدی وجه داشرطونه بعینه نافذاولازم وی ددي نه دمخالفت په صورت کې امام دتنخواه مستحق نه دی که امدنی دوقف نه اخستی شی یاورکولی شی اخستونکې ورکوونکې دواړه ګنهګاردی اوبعض صورتونه په نوروبعض نمبرونوکې ذکردی مثلاً دامام بل سړی په خپل ځای مقررول دنحواذلک که چرته دهغی په نسبت متولی امام ته اذناًیانهیاً تصریح کړی وی نودهغی اعتباربه کیږی اوداذن په صورت کې هغه ته دمقررکولواختیارشته اودنهی په صورت کې هغه ته دمقررلولواختیارنشته بیاکوم صورت کې چه امام ته دمقررولواختیار ورکړی شویدی په هغی کې تفصیل دادی چه که چرته دامعاهده شوي وي چه دادویم امام دطرفه داول امام نه دی ګویاچه دامام په ذمه دجمع اودرولوانتظام دی که په خپله کوي اوکه بل څوک مقرروي نوبیاخوبه امام دمتولی نه پوره تنخواه اخلی اودادویم امام به دورومبی امام دطرفنه ګنړلی شی برابر خبره ده که هغه ورسره احسان کوي یاترینه څه اخلی اوکه چرته دی ورومبی امام ته داوئیلی شوي وي چه دادویم امام به هم دمتولی دطرفنه وي نوبیاورومبی امام دهغی تنخواه اخستوحق نه لري بلکه ورومبی امام چه څومره تنخواه باندی نیولی شویدی دهغه هومره تنخواه مستحق دادویم امام هم دی خوپه شرط چه دمتولی داجازت ورکړی شوي مقدارنه زیات نه وی اوکوم صورت کې چه متولی ورومبی امام ددی نیابت نه منع کړیدی که چرته هغه څوک مقررکړی که چرته هغه احسان کوونکې دی نوبنکاره خبره ده چه هغه ته څه دتنخواه نشته اوکه چرته په تنخواه یې نیولی وی

نو داتنخواه دوړومبی امام په ذمه لازم ده باقی ددی نهی په صورت کښ دوړومبی امام دتنخواه مستحق کیدل په هغی دسوال نمبر ۲ دشرط موافق عمل کولی شی چه دهغی بیان دجواب په شروع کښ تیرشواوکوم صورت کښ چه په خپله متولیانو دده په ځای څوک مقرر کړیدی دهغی حکم ښکاره دی چه هغوی دتنخواه مستحق دی اوکه دبعض امورووضاحت اوتصریح نه وی نودعدم تصریح زمانی پوری خوبه په قرف باندي عمل کولی شی اوکله چه تصریح وکړیشی چه دهغی اختیارهروخت متولیانوته شته اودهغی نه پس امام ته هم اختیارشته چه که نوکری دی پریږدی اودتصریح دوخت نه به په تصریح بادی عمل کولی شی دي تقریرسره دټولونمبرونوجواب ښکاره شواوتفصیل چه په کوموکلیاتو شرعیوباندی مبنی دی هغه مشهوراومعلوم دی پدی وجه ځای په مینځ کښ می هغی طرفته اشاره هم کړیده خوتقویةً اوتائیداً بعض جزئی چه دی مقام سره خاص وی هم نقل کوم

فی الدرالمختار وهل یاخذ(ای المدرس)ایام البطاقة کعیدورمضان لم اره وینبغی الحاقة ببطالة القاضی والاصح انه یاخذ للاستراحة اشباه من قاعدة العادة محکمة سیجئی مالوغاب فلیحفظ وفی ردالمحتار تحت قوله وینبغی الحاقه بعدکلام طویل مانصه فحیث کانت البطالة معروفة فی یوم الثلاثاوالجمعة وفی رمضان والعیدین یحل الاخذوکذالوبطل فی یوم غیرمعتادلتحریردرس الااذانص الواقف علی تقیید الدفع بالیوم الذی یدرس فیه کماقلناالخ قوله سیجئی ای عن نظم الوهبانیة بعدقوله مات المؤذن ولاامام،ج۳/صـ۵۸۸، اقول یعتبرفی کل العقدعرف ذلک العقد فکما یعتبرفی التدریس عرف التدریس یعتبرفی الامامة عرف الامامة ثم فی الدرالمختار بعدقول مات المؤذن والامام الخ مانصه ونظم ابن الشحنه الغیة الخ . وفی ردالمحتارتحت هذاالقول مانصه قال الطرطوسی ومقتضاه ان المدرس ونحوه اذااصابه علرمن مرض اوحج بحیث لایمکنه المباشرة لایستحق المعلوم لانه ادارالحکم فی المعلوم علیٰ نفس المباشرة فان وجدت استحق المعلوم والافلاوهذا هوالفقة الخ مخلصاً قلت ولاینافی هذاامامرمن المسامحة باسبوع ونحوه لان القلیل مغتفر کماسومح بالبطالة المعتادة علیٰ مامربیانه فی محله ،ج۳/صـ ۲۳۰/صـ ۲۲۱،فی الدرالمختارعن المنظومة المحبة لاتجز استنابة الفقیه لا-ولاالمدرس لعذرحصلا کذک حکم سائر الارباب- اذالم یکن عذرفذامن باب- فی ردالمحتاروسکت عمایعینه الاصیل للنائب کل شهرفی مقابلة عمله والظاهرانه یستحقه لانها اجارة وقدوق العمل بناء علی قول المتاخرین المفتیٰ بـه مـن جوازالاستیجارعلی

الامامة والتدریس وتعلیم القران الیٰ اخر ماقال واطال ،ج۳/صـ ۲۳۱-۲۳۲-۲۳۳/ وفیه التصریح لاکثرماحررت، ۱۹ذی قعده/ ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالث/صـ۱۰۴)

بطلان وقف باشتراط بطلان اوبحالت خاص

سوال:(۷۴۹)څه فرمائی علماء دین اومفتیان شرع متین په دي مسئله کښ چه لاندینی کیفت اوبیان سره چه کوم وقف یاهبه وکړیشی دفقه حنفی په روسره جائزده یانه که جائزنه ده نودهغی څه اثردی (کیفیت درپوټ اوحکم) نواب ناصراحمدخان اونواب فاخراحمدخان دواړه حاضر شول دابوالحسن نمبردارپه پیژند ګلوښ ووئیل چه موږ ددی شریکي زمکښ نمبر ۱۴۰ نه دخپلی حصی نه هغه للمه سره دکوهی چه دغی شریکي زمکي نمبر ۱۴۰کښ دی بغیردشاملات دحصی نه په طوروقف په نوم دحالی مسلم هائی اسکول پانی پت په اهتمام دخواجه سجادحسین صاحب هبه کړیده اوقبضه کښ مودرکړیدی شرط دادی چه دی وقف کړیدی شوی زمکښ باندی به مدرسه جوړولی شی څوپوری چه داعمارت ولاړوی هغی پوری به هائی اسکول مالک وی اودمدرسی دعمارتٌ دنه اودریدوپه صورت کښ به دهبه کوونکښ وارثانوته ملکیت رسی خواجه سجادحسن صاحب هم اومنل مقابله جمع بندی سره اوشوه داخل خارج منظوردی؟

جواب:فی الدرالمختار واذاوقته بشهراوسنة بطل اتفاقادرروفی ردالمحتار هذا اذاشرط رجوعه بعد الوقت الی قوله امااذاشرط رجوعه الیه بعد مضی الوقت فقدابطل التابیدفیبطل الوقف وبعداسطرهکذه الوقال ارضی هذه صدقة موقوفة شهراًفاذامضی شهرفالوقف باطل الی قوله باطل مطلقا کماعلمت انفا،ج۳/صـ ۵۲۷/۵۲۲، دی روایت نه معلومه شوه چه داوقف صحیح نه دی والتوقیت بانقطاع السکول کالتوقیت بالشهر والسنة لاشتراک العلة وهی ابطال التابید وهوظاهر- اوهبه ځکه نه ده چه په سکول کښ دموهوب له صلاحیت نشته ولاهبة بدون الموهوب والله اعلم ۱۹،ربیع الاول/ ۱۳۳۴هـ (تتمه ۴/صـ۱۸)

وقف، عدم جوازمنافع زائده الخ

سوال:(۷۵۰)دوقف کړی شوی زمکښ آمدنی کومه چه په ټک باندی راځی هغه خومتولی یاکارکوونکښ په خپل مصرف کښ لګوی خونورحقونه ددی خپلی زمکښ کوم چه

دزمیندار دطرفنه مقرردی هغه دخپل محنت حق گنړی او دپه خپل خرچ کې اخلی او زمیندار یې په خوشحالی ورکوی دا جائزدي یانه ؟ او دوقف کړي شوي زمکې نه داو چتولو په وخت کې نذرانه اخلی کله کله یې منځکې اخلی او کله کله دټک ورکولو په وخت کې یې زمیندار په خپلی خوشحالی باندی ورکوی دامال دامتولی یا کارکوونکې په خپلی خرچ کې استعمالولی شی یانه ددی مالونونه علاوه ددي وقف کړی شوی زمکې نه هیڅ هم نه اخلی ؟

جواب: داټول حقونه اوبابونه به داصل اجرت سره یوځای کیږی او دوقف په گټه کې شاملیږی او دمتولی ته ددی نه څه اخستل داسی دی لکه داصل اجرت نه څه اخستل کوم ځای کې چه هغه جائزوي داهم جائزدی کنی نه دی جائز داهم په تاویل دالحاق بالعقد سره جائزکیدیشی نو ددی حکم هم دنمبر ۱ په شان دی او که چرته اصل عقد سره داحقونه او نذرانه یوځای نه کړیشی نو درشوت کیدو په وجه په خپله ددی مقررکول هم جائزنه دی ، ۲۲ ربیع الاول ۱۳۳۲ھ، تتمه ثانی/ص ۱۳۲،

تحقیق حکم وقف علی الاولاد

سوال: (۷۵۱) په اولادباندی وقف کول جائزدی یانه دي باره کې دحضرت والاڅه تحقیق دی که چرته جائزده نو سره دکراهت نه یا بغیرد کراهت؟

جواب: په اولادباندی وقف بغیرد کراهت نه جائزدی که چرته ته نیت خالص نه وي نو کراهت ښکاره دی او که چرته دده مبنی داخیال دی چه دمیراث قانون مضر او نامناسب دی نو بیادا فعل محض بددینی ده ۸ جمادی الاول ۱۳۴۴ھ ، تتمه رابعه/ص ۴۱،

وقف مرهون وشرط ادائی زردهن ازوقف دیگربعد بیع

سوال: (۷۵۲) زماد پلار یو حقیت دبل سړی سره گانړه دی او دگانړه کولو نه وروستو زما پلار داحقیت په اولادباندی وقف کړو او ترڅو نده زما پلار په خپله دغه حقیت باندی قابض دی ما سره حقیت هم دی دهغی په نسبت دډیرونقصانات تو دوجه نه دډیر وخت نه زماداخیال دی چه هغه جدا کړم او بل یو ښه حقیت واخلم اتفاق سره دغه وخت زماد حقیت یو کس اخستونکې پیدا شو خو بل حقیت دغه وخت په موقع موجودنه دی او زماد پلار دغه وقف کړي شوی او گانړه شوی حقیت ښار سره نزدی هم دی او زیاتر په هغی کې مسلمانان کرونده کوی او دی هم معافی خو د شرعی مسئلی او دحضرت دمشوری نه بغیرزه داکارنه شم کولی سوال دادی

(۱) زماد پلار دهغه وقف کړی شوی او گانړه کړی شوي حقیت گانړه ختمول خو زما پلار یا چه کوم سره متولی وی هغوی وقف نامې دشرطونو موافق کولی شی خو دمرتهن نه رهن دررهن زه هم کولی شم که چرته دمرتهن داروپی دپلار په رضامندی ورکړم او داحقیت زه قبضه کړم نو دهغی آمدنی ماته په خپل مصرف کې رواستل جائزدي یانه یعنی داآمدنی سود کې شاملیږی یانه ؟ (۲) که چرته څه وخت ددی وقف کړی شوی او گانړه کړی شوی حقیت زه یا زما په اولاد کې څوک متولی وی نو هغه وخت هغه رقم کوم چه مرتهن ته دگانړی په طورباندی ورکولی شی ماته یا چه څوک زما قائم مقام وی هغه ته دوقف نامې دشرطونو موافق ددی حقیت دخلاصولو او خپلی متروکه روپو دواپس کولو حق شرعاً شته یانه زما پلار وقف نامه کې ددی حقیت دخلاصولو داصورت لیکلی دی چه یو بل وقف کړی شوی دی واخلی او داحقیت دی خلاص کړی په دی وجه داوخت دی روپو سره خلاصول خو ممکن نه دی دویم داچه وقف کړی شوی حقیت باندی چه خپل قابو کې نشته دخپل ملک روپی چه دهغی مقدارهم څه قدری زیات دی دخرچ کولو همت نشته دی وجوهاتو سره دبعضو ملگرو اصراردی چه دغه حقیت په څه طریقی سره واپس واخلم که چرته شرعاً جائزوی او ظاهری حالت کې حضرت ماد پاره داکاروائی نامناسب او نه گنړی نو دامعامله به او کړم خکه چه مرتهن په خپله خپلی روپی غواړی کنی زه به هیچری هم خواته ورته نه شم؟

جواب: فی الدرالمختار ولا (یکون الوقف ۱۲) بخیارشرط ولاذکرمعه اشتراط بیعه وصرف ثمنه لحاجته فان ذکره بطل وقفه بزازیة وفی ردالمحتارقلت ولواشترط فی الوقف استبداله صح وسیاتی بیانه (ص ۵۵۷/ج ۳) وفی الدرالمختار وجازشرط الاستبدال به ارضا اخری حینئذ اوشرط بیعه ویشتری بثمنه ارضا اخری اذاشاء فاذافعل صارت الثانیة کالاولیٰ فی شرائطها وان لم یذکرها ص ۵۹۹ فی الدرالمختار وبطل وقف راهن معسرالیٰ قوله وان وقف المرهون فافتکه بجزفان مات عن تفی لایبرای والافیطل اوللغلة یمهل فلیتامل وفی ردالمحتارقوله بطل وقف راهن معسرفیه مسامحة والمراد انه سیبطل ففی الاسعاف وغیره لووقف المرهون بعدتسلیمه صح واجبره القاضی علی دفع غلته ان کان موسراً وان کان معسراً بطل الوقف وباعه فیماعلیه اه ، کذالومات فان عن وفاء عادالی الجهة والابیع وبطل الوقف کمافی الفتح وفیه تحت قوله والافیطل مانصه وبحث فاضل فقال ینبغی ان لایبطل الوقف ویؤخذغلته لوفاء الدین کسعایة العبدالم یقدر بزمن

والجامع بنيها التحريرفان الوقف تحريرعن البيع وتعلق حق الغيريقتضى من ربعه كسعاية العبد بل الله امكن الاقديموت قبل اداء السعاية والعقار باقى رعاية للمصحلة فايتامل اه مافى شرح الوهبانية ج۳ص۲۱۱-۲۱۲. دارواياتونه اودرايتونه ددى امورفائده وركوى (۱) دگانړه كړى شوى وقف جائزدى هركله چه وقف كوونكي دگانړي دمال دادكولوانتظام وكړيشي (۲) يوانتظام داهم دى چه ده هغه داداكولودپاره څه شى بيع دپاره مقرركړى (۳) په نسبت ديوجزودوقف دبيع كولوپه خپله دوقف دآمدنى نه اداكول اصلح للوقف دى بس دهغى جوازبالاولىٰ دى (۴) هركله چه دوقف مصلحت دپاره دوقف دجزوبيع كول جائزدى هركله چه دوقف په وخت كي اووائى دهغى دخلاصولودمصلحت دپاره قرض اخستل اولىٰ بالجوازدى (۵) هركله چه دوخت دمصلحت دپاره جزودوقف بيع كول جائزدى هركله چه دوقف په وخت اووائى نوخاص دهغى جزودوقف بيع كول جائزدى چه كله دوقف په وخت اووائى كوم چه دوقف په وخت كي گانړه كړى شوى وه اوقرض اخستوسره يي هغه دگانړي نه خلاص كړودوباره دى مقرض سره گانړه كيخودل اولىٰ بالجوازدى اودا پنځه امورخوبعض رواياتونوكي موجود دى اوبعض ترينه مفهوم كيږى اوس ددى امورونه پس دسوال په جواب باندى ځان پوهول پكاردى چه كله دراهن په اجازت سره مرتهن بل چاسره گانړه كيږدى نوحقيقت دهغه عقدبه راشى چه اصل راهن ددى دويم مرتهن نه قرض واخستواودادويم مرتهن يي وكيل جوړكړوچه هغه يي دورومبى مرتهن نه خلاصه كړى بيايي ورومبى مرتهن وكيل جوړكړو چه هغه دويم مرتهن سره گانړه كيږدى نوشرعاً داگانړه داصلى راهن دطرفه شوه اوټول حكمونه چه ورومبى مرتهن دپاره ثابت وه هغه به دى دويم مرتهن دپاره ثابت شى بلكه بهترين داوى چه ددى عقدرهن دررهن چه دهغى په شريعت كي ددى توجيه نه بغيرهيڅ اصل نشته داذواره ورومبى راهن اودويم مرتهن دى عنوان سره اختياركړى اگركه قانونى پاڼروكي داالفاظ اوفه ليكي خوپه خولى باندى ويل هم شرعاً كافى دى اوددى اختيارمصلحت بلكه ضرورت شرعيه دادى چه بيادپاره دتوجيه اوتاويل حاجت پاتى نه شى دعقدضمنى نه عقدصريح اضرب الى الصحة والبعدعن الشبه وى بياچه هركله دادويم مرتهن دورومبى مرتهن په ځاى په عقدصحيح سره په دغه ذكرشوى طريقه اوگرځيدونواوس دهغه حق صرف په زررهن كي په وى برابره خبره ده چه هغه دوقف جزوچه مشروط البيع وه خرڅ كړى اوزررهن اداكړى كوم وخت چه هم ممكن وي اويا په خپله ددى گانړه كړى شوى دآمدنى نه دامرتهن هغه پوره كړي

داپه اختياردمرتهن كي دى اوددى گانړه كړى شوى نه فائده اخستل څه رنگ چه دى ورومبى مرتهن دپاره په حيثيت سره دمرتهن كيدوناجائزوه دغه شان دى دويم مرتهن ته هم ناجائزدى بلكه كه چرته دامرتهن ددى گانړه كړى شوى دآمدنى نه زررهن په مزه مزه اخستل قبول نه كړى نوبياددى گانړه كړى شوى آمدنى هم به دوقف په مصرفونوكي صرف كيږى البته كه چرته دامرتهن په دى وجه چه په اولاددوقف كوونكي اوگانړى كوونكي كي دي اوهغه جائداپه اولادباندى وقف دى .دى خاص حيثيت سره هم دوقف مصرفونه دى اوكه حالاً ياما لاً څه چه هم مقتضى دوقف نامى دشرطونوى نوهغى حيثيت سره دشرط دوقف موافق ددى گانړه شوي دآمدنى منقطع كيديشى دى تقريرسره دسوال دهرجزوجواب راغلى برابردى كړيشى اوكه دڅه سوال په جواب باندى څوک پوهه نه وى نودوباره دي سوال وكړى. ۱۰ جمادى الاخرى/ ۱۳۳۴ھ، (تتمه رابعه/ص ۴۲)

حكم وقفى كه دران ازسركارزمين ياروپيه گرفته شامل كرده شودودوكس سركارى شريک انتظام كرده شود

سوال :(۷۵۳) څه فرمائى علماء دين په دى مسئله كي چه زيد ديرمالداره دى دهغه اراده ده چه په خپل ژوند كي يوه يرلوى وقف وكړم چه دپنځوس شپيتولكوروپوپه اندازه وى چه په هغى كي يوه لويه مدرسه صرف ديتيم بچودتربيت اودينى تعليم دپاره كولاؤ كړيشى چه هغى كي پنځه سوه يتيمان وى هغى كي قرآن مجيدترجمى سره اوديتميانو كتابونواورسالى اولوستلى شى اوپنځلس شپاړلس كاله پكي دوى اوساتلى شى هركله چه هغوى دخپل مذهب نه خبرشى نودوى ته كه چرته ضرورت وگڼلى شى نوهنرورته اوخودى شى خوداضرورى نه دي اونه په وقف كي شرط وى صرف وقف ددين تعليم دپاره اوهغه هم يتيم غريبانانودپاره چه سنى مسلمانان وى اوهغه اداكول غواړى چه يوه ډيره لويه زمكه چه څرسوه گزه وي دهند حكومت نه واخلى چه هغى كي لوئى مكان جوړكړي چه هغى كي داټول انتظام دمدرسى داوسيدوديتميانواودهغوى دخوراک څكاک اودمدرسينواوكړيشى دازمكه چه دهغه حكومت نه واخستى شى دهغى به هيڅ قيمت نه وركوي بلكه هغه به په طريقى دامدادواخستى شى دغه شان داهم چه مثلاً پنځوس زره روپى دهند حكومت نه دامدادپه طورواخلى هغه به هم دغه پيسوسره شامل كړى خوپه هغى به دحكومت هيڅ حق نه

وي هن څوک چه دهغی متولی مقرروی په هغی کښ څلورشپږ څو مسلمانان وي چه هغه وقف کوونکي مقرر کړي وي او دوه سرکاري سړی هم وي دي دپاره چه آئنده څوک داوقف ضائع نه کړي او هضم یې نه کړي هغوی هم په نتظام کوونکو کښ شریک کړیشی او ټول په یوځای کارکړي دي سره سره داشرط هم دی چه حکومت ته په دی کښ هیڅ قسم دخل نشته چه په هغی روپو درنګ روغن اودنورو فائدو کارونه وکړي او دهغی روپی زیاتی کړي بلکه وقف کوونکي به په خپله مکانونه اخلی او هغه به وقف کوي څه چه دهغی کرایه راځی هغی سره دیتیم خانی ټول انتظام وکړیشی چاته هم دااختیار نشته چه څه قسم سودی کارهغه آمدنی سره اوکړی که چرته یوسړی داسی طریقی سره وقف وکړي نو دالله په نزد دهغه نیول اومواخذه شته یانه داوقف مقبول دي یانه ؟

(جواب) دحکومت نه زمکه یاروپی اخستلو سره هرکله چه داسړی مالک شو نو دنورو مملوک څیزونو په شان دهغی وقف هم صحیح دی او دنیه نیت نه وروسته څه امرمانع دمقبولیت هم نشته اګرچه بغیر دضرورت نه داسی کول متهم کیدل دی په دي وجه احتیاط غوره دی او دومره دیرمال کیدو په حالت کښ ظاهراً ضرورت هم نشته خو تولیت دپاره اسلام شرط دی که چرته هغه سرکاری سړی مسلمانان نه وی نو هغه شرعاً متولی نه شی ګرځیدی البته که چرته متولی صرف مسلمانان وي او سرکاری سړی صرف دضرورت په وخت کښ دهغوی نګرانی ساتی نو دهغی څه باک نشته .٧شعبان/ ١٣٣٩هـ (تتمه خامسه /ص ١٩٢)

عدم صحت وقف معلق

سوال :(٧٥٤)څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کښ چه مسمی محمد دمرګ په وخت کښ داسی وئیلی وه چه څو پوری زمابنځی دویمه نکاح نه وي کړی هغی پوری به زماټول څیزونو قابضه وی او نکاح کولو باندی ټول څیزونه جومات دپاره وقف دی خو مسماة رحمت چه دهغه ښځه وه هغی نکاح اوکړه دی صورت کښ دشریعت څه حکم دي بینوا توجروا؟

جواب: نه داوصیت ښځی دپاره صحیح دی لانه لاوصیة للوارث فی حال ماومن شرائط الوقف ان یکون منجزاً لامعلقاً الابکائن ولامضافاً ولاموقتاً الخ ،درمختار/ ٢٤محرم/ ١٣٣٢هـ (تتمه ثانیه /ص ١٢١)

درتصرف اوردن زرچنده بطورقرض

سوال :(٧٥٥)زید دبلقان دچندی خزانچی دی که چرته هغه دخپل کاردپاره دهغی نه څه روپی خرج کړی او دهغی په ځای بل وخت هغه داروپی دخپل ځان دطرفنه پوره کړی نو هغه عندالله ګنهګاردی یانه خو هرکله چه دهغی روپو منی آرډریا هغه ته دتارپه ذریعه ولیږی نو اصل روپی خو انه رسیدی بلکه دډاک خانی نه نه یو کاغذ څی او بله ډاک خانه په پیسی ورکوی دي صورت کښ عالمان څه فرمائی پوره جواب سره خبرداری راکړی ؟

جواب: خپل کارکښ دهغی خرج کول جائزنه دي او دهغی قیاس په منی آرډریاتار باندی صحیح نه دي ځکه چه داتصرف خود ورکوونکو په اجازت سره دی او په خپل خرج کښ راوستل بغیر داجازت نه دی او دابنکاره خبره ده چه دیو قیاس په بل باندی نه شی کیدی ٢٩ربیع الاول/ ١٣٣١هـ (حوادث اول ٢ /ص ١٢)

چنده په داسی طریقی سره جمع کول چه تل فیصده دهغی نه کټ کړی او دهغه چندی والووارثانوته ورکړی کوم چه وفات شویدی

سوال :(٧٥٦)یوه نوی قاعده جاری شویده څه کسانو چنده کولاؤ کړیده هغه چنده تل فیصده کټ کړي او پاتی دهغه ممبرانو وارثانوته ورکوی کوم چه وفات شویدی او شل فیصده کټ کړی هغه منکرو دپاره کیږدی کوم چه شلو کالو پوری ژوندی دي او دهغه دری میاشتو روپی هم چه هغی کښ څوک وفات شوي نه وي هغه مدکښ جمع کولی شی نو کوم ممبرچه پنځو کالوپوری چنده ورکړی وي بیا اتفاق دزمانی سره چه کله هغه ناقابل شی نو دهغی مدنه دهغه امداد کولی شی دمتوفی وارث ته دروپی ملاوید و څه شمیرمقررنه دی هغه دمروپه شمیراو چنده ورکوونکو باندی منحصر دي پوره جواب راکړی ؟

جواب: بالکل حرام دی. ٣شعبان/ ١٣٢٨هـ (تتمه اولی /ص ١٧٠)

احکام المساجد

سائله اهل الخلة فی مسئلة الظلة

حکم سائبان درمسجد/په جومات کې دسيورۍ دپاره دچوپال جوړولو حکم

سوال :(۷۵۷)بعد الحمد والصلوة دی عاجزپیرمحمدوالی جمات کې ددریو خلور درو مخکې دتیم چوپال جوړکړي وه په هغې کې یودري دری جنوبی شمال طرفته جومات سره پیوست ده ددی چوپال په باره کې بعض مشرانو حضراتو سره دتحقیق په طورڅه خط وکتابت هم اوشو هغې لره په دی(۱) غرض نقل کوم چه علمانو په دی باره کې نورهم تحقیق وکړیشی اوزما قول اوفعل (ویناوعمل) دی حجت اونه شی ګڼړلی مادخپلی پوهی موافق وئیلی دی وسمیتها اشارة الی الاسم المسمی نواث الکابرنخبة الاکابر۔

وړومبی خط ددی بزرګ

مکرم ومحترم سندی ادام الله تعالی فیومنکم ، السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (دیوبل مضمون نه وروستو) دستاسو ددریو دروچوپال باره کې زماشک دی زه دانا جائزګڼړم اوتاسو یې جائزمولوي صاحب...... تقریرڅه پوهي ته رانغی پدی وجه مکلف دخدمت یم چه تفصیلی کیفیت ددی اولیکلی شی چه داجنوبی دری دری په جومات کې داخل ده یاباهر اوداجومات سره جوړه شویده که وروستوجوړه شویده یادهغې څه حصه په جومات کې داخل ده دتفصیلی علم نه وروستو که څه شک پاتی شونو بیابه عرض وکړم (بیایوبل مضمون دی) والسلام ۳۰ شوال/ ۱۳۳۱هـ

(۱) اودی دپاره هم چه دي خطونو کې ډیر اصول اوفروع فقیهه دعالمانو دپاره ډیره فائده منددی کوم چه نورو واقعاتو کې هم په کار راتلی شی اوبوغرض ددی امرهم خودل دي چه دحق اظهاردپاره دمناظره څه رنګ وي ۱۲.

وړومبی خط جواب دعاجزدطرفنه

(وروستو دلقبونو(۱) اوداداب اودنورومضمونونو) مولوي صاحب...... ته می چه کوم مضمون ذکرکړی وه هغه ډیر اوږد وه په دی وجه دیادنه پاتی کیدودجه نه اداته کړي شو دهغی خلاصه داده چه دادیوال په کوم چه چوپال کیخودی شوي دي دجومات حصه ده اوچوپال هم په قصد دمصلحت دجومات اچولی شوي دي اوهغه مصلحت دادی چه ډیرو ورځو دماسپخین لمونځ په بهرحصه کې کیږي نووړومبی صف باندی خودزوړ چوپال سیوری کیږی خو دویم صف کوم چه دماشومانو دی زیات ماشومان په دوپ کې وي اګرچه ضرورت دوجه نه هغوی ددی دیوال په سیوری باندی اودریدل خوهغه سیوری نه پوره کیدو اوس هغوی ددی چوپال په سیوری کې آرام سره اودریږی البته دی دیوال کې یوه پخوانی غلطی دمشرانو دوخت نه شته چه ددی دری کړی یې په هغې کیخودلی دی نو دهغې غلطی لری کولو هم خیال دي دغه شان چه مشرقی اومغربی دیوال باندی یو شهتیر کیخودي شی اوکړی په هغې باندي ولګولی شی والسلام (تاریخ نقل کول یاد نه دی)

دبرني خط جواب باره کې دویم خط

مکرم ومحترم دامت برکاتهم السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته (پس دیو مضمون نه) دجومات دچوپال باره کې حضرت دوه مقدمی لیکل دی وړومبی داچه کوم دیوال چوپال کیخودي شویدی هغه دجومات حصه ده دویم مقدمه داچه چوپال هم په قصد دجومات اچولی شویدی دی دواړو کې زیاته اهم وړومبی مقدمه ده دامقدمه چه څه پوری دلیل سره نه وي ثابت شوي صفائی نه شی کیدی سوچ کولو سره معلومیږي چه دوی خلاف ډیرقوی دی څکه چه دیوال کوم باندی چه چوپال کیخودی شویدی داحصه ټول مجموعه دري دری ده کوم چه خارج دی اوحصه دخارج (۲)خارج وي ددی نه علاوه دری دجومات حصه کیدل غیرمعقول دي څکه که چرته دادیوال دجومات وي نوپه دیکې ددریو دروڅه وجه نه وه بیادادری دری خپله داګواهی ورکوی چه دي دیوال کوم کې چه دادر ده دجومات سره یې څه

(۱) دلته چه کوم کاغذپاتی شوي وه په هغې کې لقبونه اوادب نقل شوي نه وه صرف خط چه کوم تلی وه په هغې کې لیکلی شوي وه ۱۲

(۲) فی هذ المقدمة کلام لان بعض اقسام الخارج مایکون مرکبا من الداخل فکیف یحکم علی جمیع اجزائه التی بعضها داخل بکونها خارجاً ۱۲

تعلق نشته اودي سره هر کله چه داهم کتلی شي چه ددي ديوال سلسله بغير د انقطاع نه مشرقی طرف کښې لرې پورې رسيدلی ده کوم چه يقيناً دجومات نه بهر ده نو دا حصه هم داخل دجومات نه شي کيدی دری نه علاوه ما دا عرض کړي وه چه دا ديوال جومات سره جوړشويدی یاوروستونو که چرته دا ديوال اوس په فرش دجومات هم جوړشوي وي بيا هم نه شي داخليدی هن که چرته داخبره ثابته شي چه وړومبی دا ديوال دجومات دفرش په غاړه باندې دجومات په احاطه باندې دجومات احاطې دپاره اودرولی شوي وي اودهغې نه وروستوپکې دروازې جوړې شوي وي نوبيا خو دا ديوال ديوال دجومات کيدلې شي خودی صورت کښې هم شرعاً داخبره ضروری ده چه دهغې دروازې دې بندې کړیشی اودي ته دې ددری دروديوال ونه گڼرلی شي کوم چه دجومات نه بهردي خلاصه داچه حضرت دې سوچ وکړی داهيڅ طريقې سره معقول نه ده چه دا ديوال دجومات حصه ده اوپه حقيقت کښې دا دمشرانو دغلطی نه ده هغوی په خپل خيال کښې دا ديوال بهر گڼرلی دی پدی وجه يې پرې کړی کیخودي دی او دا خيال دهغوی صحيح وه چه دا ديوال دجومات نه بهردي ځکه چه خارجي ددري درو ديوال دي په هغې باندې چوپال اچول دغه غلطي ده دويمه مقدمه په يې ليکلی ده په هغې دکلام څه ضرورت نشته او نه هغې سره اشکال ختميدي شي فقط والسلام (تاريخ نه وه)

دوويم خط جواب دعاجز دطرفنه

(وروستو دادبو اولقبونو نه) دويوال کوم چه ما دجومات حصه ليکلی هغه په دې بنياد باندې چه هغه دجومات په فرش باندې جوړشوي وي لکه څنګه چه مخامخ دحدودو کتلو نه معلوميږي اګرچه وروستوجوړشوي وي پدی وجه يوځل ما دحضرت ګنګوهی رحمه الله په خدمت کښې هم دا شبه پيش کړي وه چه دجومات دصورت نه معلوميږي چه دا ديوال دجومات په کولو سره داسی معلوميږي چه دغه وخت چاته هم خيال نه وه شوی دی ارشاد سره هغه خيال په زړه کښې مضبوط شوي وه نو که دی بيناد باندې دا ديوال دجومات حصه وی نو دکړو په هغې باندې کيخودل پخوانی غلطی ده کوم چه ما په مخکينی خط کښې پيش کړي وه خودی صورت کښې دجومات چوپال جوړولو کښې څه باک نشته او که قطع نظر ددی نه ديوال دجومات نه بهرو ګڼړی (بناء على القرائن المذكورة فى المكتوب الشامى)[1] نو دغه

---

[1] دا ديوال هډو وه نه صرف حد جومات پورې وه د بيرونخت وروستو يې يو ديوال جوړ کړو او هغه يې دې سره پيوست کړو ۱۲

وخت بيا داچوپال دجومات دمصلحت دپاره لړل نو رهم اسان وي ځکه چه غير دجومات دجومات دپاره مشغولولو کښې څه وجه دمنع نه معلوميږي او دکړو لړل هم څه غلطي نه ده ښکاره البته دي تقدير باندې صرف دا اشکال پاتې کيږي چه کوم ديوال دجومات حصه نه ده هغې لره دجومات په فرش جوړولو باندې غير جومات په جومات باندې مشغول دی چه دهغې بنياد مخکښې غلطی ده اولړل يې اوسنۍ غلطی ده نو دهغې ختمول زما خيال کښې دا راځي چه دي وخت کښې ټول محلی والا يوځای شي او دا ديوال دجومات حصه وګڼړی اودري دری کړو دپاره يوشهتير مشرقی او مغربی ديوال باندې کيخودی شي ځکه چه دديوال په نړولو کښې دوقف لوی نقصان دی دغه شان دروازه بندولو کښې ددري دری په بندولو کښې دا ضرر دی دوقف والسلام ۲ ذی قعده ۱۳۳۱ه

دی جواب باره کښې دريم خط

مکرم ومحترم مصدر مکارم دام فضلکم . السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته ستاخو ورسيد وخوورخوپوري خيال وه مسئلې متعلق څه عرض وکړم يانه بيا بيا دا تکرار موجب دباروه ، اخر دا خيال راغی چه خپل خيال يوځل بيا پيش کړم . دا وخت ماته دوه خبري مخې ته راځي يو خو ديوال متعلق چه جومات دي يانه دويم دچوپال متعلق چه که چرته دا ديوال دجومات ديوال وګڼرلی شي نو په دې بيا چوپال اچول جائز دي يانه حضرت ګنګوهی رحمه الله نه دديوال متعلق چه کومه تذکره وشوه دهغې نه دومره معلوم شول چه په ظاهره ديوال وروستو دجومات په فرش باندې جوړ کړي شوی وي چه دهغې هغه وخت هيچاته هم وخت هيچاته هم خيال نه وه شوي او اوس په ظاهره سوچ کولو سره معلوميږي چه په جومات باندې دبهرنی ديوال جوړول مخکينی غلطي ده نو واقعی ددری دری ديوال چه کله په جومات باندې جوړ کړی شونو هغه په دې وجه چه دبهرنی دری دری ديوال دیّ په جومات باندې دهغې کيدل ناجائزوه نو صرف دکړو په هغې کيخودل دا مخکينی غلطي نه ده بلکه غلطي خو دا اوشوه چه بهرنی ديوال يې په جومات باندې جوړ کړيدی اوس داخبره چه که چرته دا ديوال محلی والا يوځای شي او جومات کښې يې داخلول وغواړی نو دجومات حصه کيديشی يانه ماته په ديکښې څه شرح صدر او نه شو خو اوّ دومره قدری خيال ضرور دی چه صرف شهتير کيخودل او په هغې کړی کيخودل او جدا کولو سره جومات کښې نه شي داخليدی

ترخوچه خلورواره [1] پیوستونه چه مشرقي اومغربي طرفته دي هغه دغیرجومات نه جدانه کړیشی هن که چرته شهتیرواچوی اوپه هغی کړی کیخودلی شی اوخلورواره پیوسته هم جدا کړیشی نوهغه وخت څه لری ده چه هغه دیوال په اتفاق دمحلی والودجومات دیوال وګڼړلی شی اوس پاتی شوه بله خبره چه کله دادیوال دجومات دیوال نوپه هغی باندی چوپال اچول جائزدي یانه زماپه نزد خوچوپال اچول هغه وخت هم جائزنه دی ځکه چه عرفاً چوپال صرف دیوال دپاره نه شی اچولی نه تابع ددیوال وي بلکه تابع دټول مکان وي په کوم مکان باندی چه چوپال اچولی شی نواوس دی صورت کې چوپال ددري دري تابع دي نه دجومات ددویوال په دی وجه قواواهم ده ځکه چه ددري دري کیناستوهم ارام مدنظر دي اودجومات ماشومانواولمونځ ګزاروهم دآرام خیال دی خوددی غرض په حاصولو کې دجمع اهم مقصود یعنی دامام مخالفت لازم راځی په دوجه دامقصودهم ددی قابل دي چه ملحوظ دنظر نه وي اواصل داده چه اغراضولره دیکې څه دخل نشته ځکه چه جومات لره دغیرجومات په استعمال کې رواستل اګرچه دڅه جومات په غرض کې وي هم جائزنه دی فقط والسلام خیرختام (تاریخ نه وه)

ددی عاجزدطرفه ددي دریم خط جواب

(وروستولقبونواوادابونه) خط رااورسیدودحق داظهارتکرارهرګزپه زړه باندی بوج نه دی اوبحمدالله خوداعادت دی چه هرکله دڅه خبری حق کیدل واضح کیږی نوبیاپه راته خپلی رایې اصرارنه راځی نوتراوسه پوری ددي انتظاردي کوم چه اُونه شواوماته هم په جواب کې تکراردادب نه خلاف معلومیږی خوتحقیق په دی باندی جرآت منعه کړم دچوپال جوړولونه مخکې خوبه می دزړه وجدان ددلیل په ځای ګڼړلی وه اودهغی تابعداری به می کړي وه ماته ددی مضمون زبانی پیغام صرف په دی عنوان رااورسیدوچه ده خارج جومات اوبه په جومات کې داخستلوویره لازم راځی چونکه دابناء مقصودوه ځکه چه چوپال چه دهغی اوبه جومات کې غورزیدي دجومات حصه ګرځیده بس دهغی اوبه هم ددغه جومات اوبه دی په دی وجه هغه جوړکړي شوي اوس دجوړولونه وروستودهغی په جداکولودکې په خپله شبه دجومات

[1] غرب کې خودهغی حاجت ځکه نشته چه هغه طرفته اتصال جومات دوجه نه دی البته په شرق کې نوی دیوال سره دهغی اتصال نوی شی لکه څنګه چه حاشیې ددویم خط کې ذکرشول ۱۲

وروانولواوخرابولوکې تصرف کولودوجه نه دعدم جوازاحتمال وګرځیدونودی احتمال لری کولودپاره ددیرورواضحه دلیل چه بالکل کافی اوشافی دی ضرورت دی کوم چه تراوسه پوری نه دی ملاؤشوی ددیوال متعلق کوم چه ماعرض کړي وه هغه صرف تبرعاً وه چه دهغی دلیکلواصل وجه دهغی تپوس جواب وه اورسره می داخیال هم شامل شوي وه چه دهغی هم تحقیق وکړیشی کیدیشی چه څه صورت دهغی مخکینی غلطی داصلاح دپاره رااوځی باقی نفس مسئله واقع کې هغی ته څه دخل نشته اودچوپال جوازپه هغی باندی موقوف نه دی ځکه چه که هغه چرته دجومات حصه نه وی نوهغه لره دجومات په کارکې رااوستل په درجه اولی جائزشول لکه څنګه چه مخکې خط کې اولیکلی شول [1]، اوښکاره هم ده چه که چرته په جومات کې خیمه اودرولی شی اودهغی هغه رسی دمحلي په مکان کې اوتړلی شي نوبیا شکه جائزدي یادجومات په فناء کې چرته یوعادت کې اوتړلی شی نودهغی جائزکیدل دهغی نه هم زیات ښکاره دی په دی وجه ددیوال قصه بریږدم دنفس مسئلي متعلق عرض کوم نوعرفاًدهغی ددري دري تابع کیدل اوتابع په حکم دمتبوع کې وي اوس زماخیال کې ددی عرف مقابل نیت دجوړونکې کیدیشی دهغی نمونه داده چه که چرته یوجوړونکې دجومات دجومات دفرش اخیری حصی لره دااوګنړی (چه خلق به دلته اودس کوي اوپه جومات کې داودس اوبه تویوول جائزنه دي)، دجومات نه دبهرلرلونیت وکړي اوامتیازدپاره دتعمیرڅه شکل هم بدل کړي نویقیناً جائزدي اومخکې جوماتونو کې داودس کولوهم داسی تاویل کیدلی شی کنی دعامومسلمانانوپه بی حرمتی اوبی ادبی کې مبتلاکیدل به په جوماتونو کې لازم راشی حالانکه حساًوصورةً هغه حصه دجومات تابع بلکه دجومات حصه ده اوتابع په حکم دمتبوع کې وي نوپکاردی چه دي وضع عرفی په اعتبارسره دینه دجومات حصه ووئیلی شی اوپه دی باندی اودس کولوته جائزاونه وئیلی شی بس حکم دجوازنه داصفاثابته شوه چه نیت دجوړونکې دهغه عرف مقابل کیدیشی دلته هم دچوپال جوړونکې دهغی دری دری دحصی جوړولونیت نه دی کړی اوداخبره چه دری دری کې کیناستونکوته په دی کې فائده رسی نواګرچه دقوعاً به داسې اوشی خوزماپه نزددلته هم دی وقوع باندی نیت ته ترجیح شته اونیت دی فائده دجومات دهغی نمونه داده چه دیرځی کمولودپاره دونوکرلوته په جومات کې جائزوئیلی شویدي اونوروغرضونودپاره ناجائزحالانکه وقوعاً

[1] یعنی ددویم خط په جواب کې لقوله اوکه ددی نه قطع نظرالی قوله نوربه هم آسان شی ۱۲

نور اغراض هم متحقق کیدیشی پاتی شول فائده ددری دری ډیرقوي اواهم کیدل بس دهغې اندازه پوره پوره دمخکینی حالت په تجربی پاندی موقوف ده چه ماشومانو ته زیات تکلیف پشکال کې به کله کله ډیرتیزباران راتلونو دډیروخت نه هغی دپاره دپردوانتظام راروان دی اوماداهمیشه دپاره لازم کړیدی چه ددری دری دمصلحتونودپاره چه کوم شی جوړیږی دهغې قیمت زه دخپل طرفنه ورکوم په دی وجه فرش اوپردی داټول زماپه قیمت شویدی اوپه دی وجه په جومات اومدرسه کې ډزرگونوروپو خرج کولوباوجود هم په دری دری کې چرته هم پلستر نه دي شوي سره دضرورت نه نوکه چرته په چوپال کې ددري دری دمصلحتونو قصد وی نوانشاء الله هغه به ماخپل طرفنه جوړکړي وي بلکه دی چوپال سره دری دری کې درنړاکمید وسره بعض لیکونکو[1] اولوستونکوته دهغوی په کارکې څه تکلیف راغی په دی وجه دجوړولونه مخکې ددری دری دمصلحتونو دسوسه هم نشته بلکه ماخوددی مصلحتونو دمشوری پیش کولو په وخت تصریحاً دارد کړل څکه چه دبعضو پیش کړي هم وه البته دوړومبی مصلحت ذهن کې داراغلی وه چه دهغې مقابل[2] شمالی دری دری دچوپال نه پس که چرته داچوپال اونه شونو دتقابل هغه خوشنمایي به لاړه شی خودی سره هم ماداامصلحت پوره ونه گڼړاوماته تردد راغی چه دهغی نه وروستوداامصلحت ذکرشواوهغه بې یومعتدبه مصلحت وگڼلواوپه هغی بې کارجاری کړو پاتی شود توسیط امام مخالفت نوعذرپه گرځی اوباران کې معاف کیدیشی خصوصاً غیرمکلفینو دپاره دهغې نمونه داده چه لمونځ کول دصف نه وروستو یوازی مکروه دی نو اوس فقهاؤ دتجاذب عوام داحتمال په وجه اجازت ورکړیدی چه وړومبی صف نه دی خوک نه راکاږي یوازی دی اودریږی نوداعذر دکراهت ختمونکې وگڼلی شوپاتی شوه داخبره چه جومات دغیرجومات په استعمال کې راوستل اگرکه دڅه غرض جومات دپاره وي هم جائزنه دی واقعی که چرته قصداً داسی وکړی نوداحکم پوهه ته راځی خوکه چرته قصددي نه وي اگرچه څه خاص فائده حاصله شی نودی صورت کې ددی عدم جوازذهن ته نه راځی ددی نمونه داده چه که یوسړی دجومات په سرپاندی مکان جوړکړی اوهغه مشرقی طرفته په دی وجه خپل دیوال جوړنه کړی چه دجومات دیوال مغربی پردی دپاره پوره دی نوآیادیته به

---

[1] اوکله کله ماته دري دری نه پاهرکیناستل راغلل اومالوستل اولیکل بهروکړل ۱۲

[2] داذری دری دجومات نه جدا ده ۱۲

ناجائزونیلی شی حالانکه دجومات حصه دغیرجومات په کار کې راغله یاکه چرته دداسی مکان دویوال مشرقی هم وي خولږ ښکته وي چه دمحلی بعضی داسی مکانانه دهغی چهت نه مخامخ وي چه هغی کې اوپه دی مکان کې داجومات رکاوټ وي اوفرض کړه چه دلمونځ گزارودارام دمصلحت دپاره ددی جومات دچهت اوچتولو مشوره اوشی اوپه دی وجه ددیوالونو اوچتولوهم ضرورت راشی اوبیادهغی اوچتولونه وروستو دهغه دمکان پوره پوره پرده راشی اوبیادهغی دیوالونواوچتولو نه ضرورت راشی اواتفاق سره دهغه مکان دجومات متولی وي نوآیاهغه دپاره به داجائزنه وي چه دغه جومات په اوچتولوپاندی پوره والی وکړه اوخپل دیوالونه اوچته نه کړی حالانکه دلته په خپله هم خپل دیوالونه اوچت کړي اومکان ددغه فائدی دجومات ددیوال داثرنه هم بچ کولی شی خوبیابه هم تنگی اونه کړی اودلته دی صورت کې خوڅه تدبیرېې داسی کړي هم نه دی چه دري دری ددی چوپال داثرنه بچ شی نوداسی عذرکې خوپه درجه اولی تنگی نه راځی والسلام خیرختام .ذی قعده ۱۳۳۱ھ تمت المکاتبه

خبرداری :- اگرچه ددی معروض جواب راغی خودجواب نه راتلل دی حجت اونه گڼړلی شی څکه چه ددی سبب څه عارض هم کیدیشی مثلاً هغه خبره کوم چه ددریم خط په شروع کې ذکر شویده په دی وجه اوس هم ضرورت دی چه دی باب کې دعالمانونه نورهم تحقیق وکړیشی لکه څنگه چه تمهید کې عرض کړي شول فقط (ترجیح ثانی ص ۱۸۲ تا ۱۹۰)

په جومات کې فضول خبری کول

سوال :(۷۵۸) دشریعت دی باره کې څه حکم دی چه په جومات کې فضول خبری کول اوشورجوړول جنگ جهگړي کول اوبکواس کول څنگه دي ؟

جواب : جوماتونه عبادت دپاره جوړکړي شوي دی په دی کې عبادت کول پکاردی یاکه ددین څه خبره وي نوهم صحیح دی هغه هم عبادت دی خودداسی فضول خبرودپاره ناستی کیږی نودجومات نه بیهتک جوړول ډیره بده خبره ده[1] داخلق دسزاقابل دی فی صحیح البخاری

---

[1] دامطلب نه دی چه بیهتک کې داعلی الاطلاق جائزدي بلکه مقصود دادی چه دفضول خبروذاتی قباحت نه علاوه دعارضی قباحت زیاتی هم دی ۱۲ ختم اول

(۱) عن السائب ابن یزید قال کنت قائماً فی المسجد فحصبنی رجل فنظرت الیه فاذا هو عمر بن الخطاب فقال اذهب فاتنی بهذین فجئته بهما فقال ممن انتما او من این انتما قال من اهل الطائف قال لو کنتما من اهل البلد لاوجعتکما ترفعان اصواتکما فی مسجد رسول ﷺ اقول المساجد کلها متساویة فی هذا الحکم (۲) فقط ۱۲ ذی الحجہ ۱۳۰۰ھ (امداد اول / ص ۹۱)

په جوماتونو کې پوبل سره دخبرو کولو حکم

سوال: (۷۵۹) جامع مسجد کې چه کله لمونځ گزار را جمع کیږی نو ددنیا خبری په خپل مینځ کې دیروخت پوری کوي دی خبرو کې چرته یو دوه خبری دالله او درسول هم کیږی خو ددنیا خبری زیاتی کیږی داسی کول پکار دی یانه او داسی خبری کوونکي گنهگار دی یانه؟

جواب: که چرته دیکې دڅه گناه خبری نه وي او خاص دخبرو کولو په نیت جومات ته نه وي راغلی نو گناه نشته خو ددی او چتول دجومات دادب نه خلاف دی ۲ صفر ۱۳۴۳ھ (تتمه خامسه / ص ۳۲۲)

په جوماتونو کې خبرو دپاره کیناستل

سوال: (۷۶۰) دلمونځ ختمولو نه وروستو دنفل عبادت نه علاوه په جوماتونو کې په مثل دخپل یو مجلس کیناستل جائز دي یانه؟

جواب: فی الدر المختار والکلام المباح وقیده فی الظهیریة بان یجلس لاجله لکن فی النهر الاطلاق اوجه وتخصیص مکان لنفسه وفی رد المحتار عن الطحاوی انه ﷺ نهی عن التشد الاشعار فی المسجد وان تباع فیه السلع وان یتحلق فیه قبل الصلوة وفیه ثم وفق بینه وبین ماورد انه ﷺ وضع لحسان منبراً ینشد علیه الشعر بحمل الاول علی ماکانت قریش تهجوه به ونحوه مما فیه ضرراً وعلی مایغلب علی المسجد حتی یکون اکثر من فیه متشاغلا به الی قوله مما غلب علیه وکره ومالا فلا ج ۱ ص ۸۹۰ تا ۸۹۲ دینه معلومه شوه چه په جوماتونو کې دخبرو په غرض کیناستل او دلمونځ دوخت نه بغیر هم حلقه جوړول او را جمع کیدل او خصوصاً چه دناستی ځای هم خاص کړیشی دا ټول جائز نه دی

---

(۱) وقال رسول ﷺ یاتی علی الناس زمان یکون حدیثهم فی مساجدهم فی امر دنیاهم فلا تجالسوهم فلیس الله فیهم حاجة رواه البیهقی ۱۲ ختم دویم

(۲) نعم المسجد النبوی اولی واحری باعتبار کون المسجدین بقرب النبی ﷺ لکن التساوی باعتبار الحکم ثابت ۱۲ منه ختم

که چرته داعادت او گرځولی شی او که چرته نه په دي غرض جوماتونو ته تللی وي او نه یې داعادت وي بلکه عبادت دپاره جوماتونو ته داخل شوي وه اتفاق سره څه جائز خبری اتری یې هم وکړي یادی دپاره کله کله کیناستونو څه باک نشته ۲۷ ذی قعده / ۱۳۳۲ھ (تتمه ثانیه / ص ۱۹۰)

دجوماتونو انگړ اوچت

سوال: (۷۶۱) (رقم زده صدر الافاضل حضرت مولانا سید مهدی حسن صاحب قبله مفتی راندیر ضلع سوات) عزت مندو کتونکو مسلمه قاعده ده الناس اعداء لما جهلو انسان ته چه دکوم څیز علم نه وي دهغی دشمن وي داسی حالت که چرته ددا سی مجهول څیز ممانعت او کړیشی نو بیا دهغه په دشمنی کې نور هم زیاتوالی راځی بیا دهغی متعلق که چرته دچا نه څه غلط خبر هم واوری نو فوراً دعدم علم په بنیاد باندی هغه حقیقت حمل کړي او خپل خیالی حکم په هغی باندی لگوي او دهوا په شکل کې پیش کولو سره نور خلق هم دهغی نه ویره وي داحال دفقه او زماني داهل حدیثو دی چرته چه چاڅه مسئله فقه حنفی طرفته منسوب کړه بس داهل حدیثو د الافتاء ته دتحقیق نه مخکې په هغی داحکم لگولی شی چه دا مسئله یې وکړه دغه شان نور ډیر مسائل هم دفقه داحنافو بی دلیله او غلطی دی چه په وروستو وخت کې داوریدونکو غوږونه اوریږی چه داڅه مصیبت راغی چه ماخو یوه مسئله پیش کړي وه او دلته ضغث علی ابالة صورت کړی ددی تحقیق خو هډو ضرورت نشه ویونکې، خبرور کوونکې، سوال کوونکي چرته دڅه معتبر کتاب نه نقل کوي دغه شان اوریدلی شو دیدی خبرور کوي دکومی مسئلی نسبت چه فقه حنفی طرف ته وکړیشی واقعی هغه هم دمعتبر کتابونو د حنفیه نه دی یادغه شان اوریدلی شوي خبره کوي ددی متعلق دهغوی په نزد څه خاص حکم شته یانه هغوی تحقیق کړیدی یادهغوی کتابونو کې دي یانه؟ نو دی کې دومره وئیل کافی دی څنگه چه نوری ډیری مسئلی بی دلیله دی داحنافو دفقی دا مسئله هم بی دلیله او غلطه ده دعالمانو بلکه دویونکې په خیال داهل تحقیقونه داسی کار ډیر لرې دي گویا داسی وئیل هم یو حده پوری کافی وه چه دفقه حنفی دا مسئله صحیح نه ده. خودی سره په جواب کې داوئیل چه دفقه احناف چه څنگه نوری مسئلی بی دلیله دی دا مسئله هم بی دلیله ده یو خاص رنگ کې رنگ کړي شوي فرمان دی چه دگل ست سعدی ودر چشم دشمنان خار است یو شکل دی داوخت زمامخی ته داهل حدیثو داخبار مجریه ۱۱ جمادی الثانی / ۱۳۴۵ھ پروت دی چه

ددی په خلورمه صفحه وړومبی کالم باندې دیو سوال او جواب داسرخی ده. دجوماتونو دننه لويه کمره او صحن برابر دی سائل دابيان کړیدی چه دفقه بعضو کتابونو کې يې دليکلي دي چه دجهت والاحصه جومات دی او بغير جهت والا کوم ته چه صحن (انگڼ) ونيلي شي هغه دجومات نه بهر دکور په شان دی که چرته ديکې فرض لمونځ وکړيشي نو دکور ثواب پری ملاویږی نه دجومات بعض اهل حديث کوم چه دجومات امامان دی ی فقهی مسئله باندې ډیر سختی سره عمل کوي او نور خلق هم ډیر په سختی سره صحن کې دلمونځ کولو نه منع کوي. سوال دادی چه دجوماتونو صحن په جومات کې داخل دی یا خارج دی که چرته دیکې فرض لمونځ وکړيشی نو دجومات ثواب به ملاويږی یا دکور؟

جواب: فاقول بحول الله وقوته، داحنافو دفقی چه څنګه نوری مسئلی بی دلیله دی دغه شان دامسئله بی دلیله ده. دجومات صحن داخل دجومات دی نه خارج (کالم ۲ نه تر ۲) بس دفقی دامسئله بی دلیله ده چه دجومات صحن په شان دکور دی که چرته دیکې فرض لمونځ وکړیشی نو دجومات ثواب نه ملاويږی بلکه دکور ثواب به ملاويږی بالکل غلط بی دليله بی اصله او خلاف دطريقی دانبياء ﷺ او سلف صالحين رحمهم الله ده (کالم ۱۳ ديوويشتمی کرخی نه تر ۲۵ پوری) ددی مثال بعينه داسی دی لکه يوسرى وواثی چه اهل حديثو په بعض کتابونو کې يې ليکلی دي چه دام چندرلچهمن کشن جرزراتشت نفسيوس بدها، سقراط فيثاغورث انبياء او صلحاء دی مونږ ددوی دنبوت انکار نه کوو ونحن له مسلمون ونبرئهم عمايتسب اليهم اهل الکفر من الشرک والکفر والطغيان (هداية المهدی ج ۱ ص ۸۵۵) بابو سړی وواثی چه داهل کتابو په بعض کتابونو کې ليکلی دی چه دښځو يادوينځو په دبر کې وطی کولو باندې انکار کول جائز نه دی ځکه چه مختلف فيه مسئله ده (هديه ص ۱۱۸ ج ۱) او يو جواب ورو کوونکې داجواب ورکړی چه څه ددوی خو په سوونو مسئلی بی دليله دی نو ددی جواب ورکوونکې دقاعدي مطابق خو داخبره بی ځايه نه ده په صحيح ده چه صحن دجومات په جومات کې داخل دی او دی باندې دجومات حکمونه جاري دی او داحنافو دفقی کتابونو حکم دی داصحيح نه ده چه حنفی فقهاء ددی دخلاف قائل دی یا دهغوی په معتبر کتابونو کې ددی خلاف حکم دی یا فقه حنفی دجومات صحن نه خارج ګڼړی نه سوال کوونکې ددی تحقيق وکړو او نه جواب ورکوونکې دتحقيق کولو تکليف اوکړلو جواب کې ددی امکان وه چه دایې ونيلی وائي چه که چرته فقه حنفی کې دغه شان وی نو داصحيح نه دی بلکه صحن دجومات

په جومات کې داخل دی په دی باندې ددی زياتی ضرورت نه وه چه نوری هم ډيری مسئلی بی دليله دی ځکه چه سوال سره ددی هلو څه تعلق نشته او نه دسوال کوونکې په ظاهر دا مقصود وه بل داچه جواب کې داهم امکان وه چه ليکلی بې وی فقی حنفی کې صحن په جومات کې شمارلی شی هغوی طرفته ددی نسبته صحيح نه دی په دی وجه چه دهغوی کتابونه ددی خلاف ګواه دی (خو په دی شرط چه دی جواب ورکوونکې مطالعه کړلی) خو آسانه طريقه داده چه چرته نوری ډيری مسئلی داحنافو دفقی بی دليله دی دامسئله هم (که چرته فقه حنفی کې وي) بی دليله او غلطه ده دا اسان صورت دي پريږدی او يو ګران صورت چه دمطالع دی هغه دي اختيار کړي ولی به اختياره وی او عوامو ته به ولی داسی ښائې چه ددوی دامسئله نشته او ددوی په نزد صحن په جومات کې داخل او جومات دی مقصود اصلی او نوری ډيری مسئلی بی دليله بيانول وه هغه دی جواب سره حاصل شول دی دپاره چه عوام داحنافو دفقه نه لری شی او بدګمانی پسی روان شی کوم چه شايان شان داهل علم دی ماشاء الله وچشم بدور لهذا چه دتکليف راتلو ضرورت هم پاتی نه شی جومات ديو داسی زمکې داسی ځای دداسی مکان نوم دی کوم چه چامسلمان دلمونځ عبادت دپاره وقف کړی وي دخپل ملک نه يې او باسی او دالله په ملک کې د دی دپاره ورکړی چه ديکې دالله تعالی خاص عبادت لمونځ او فرض اداکړيشی په ديکې ددی ضرورت نشته چه په دی عمارت جوړشوي وي يا نه وي جوړشوي پس ددی زمکې چه کوم مقرر حدودنه دي ددی په هر هر جز باندې جومات کيدل صادق راځی ددی هره حصه جومات وي کوم چه دجومات حکمونه دی هغه په دی صادق دی چونکه کې اختلاف راځی او لمونځ په هر موسم کې فرض دی او دا داسلامی شان او شعار دوجه نه جومات کې اداکول راځی په دی وجه دی وقف کړي شوي زمکه باندې دساره ګرمی باران نه دبچ کيدو دپاره عمارت جوړول ضروری او لازمی دی دي لحاظ سره په عرض کې دی زمکې او عمارت ته جومات ونيلي شي او شرعاً هم په دواړو باندې دجومات اطلاق کيږی ددی څلور واړو ديوالونو دننه کوم سره چه يې داوقف شوي زمکه ګيره کړيده کوم چه خاص ددغه وقف شوي زمکې حدود معين کوي خو مره چه زمکه وي په هغې عمارت وي يا نه جومات ونيلي شی دننه لويه کمره او صحن ټول په ديکې داخل دي اعلم انه لايشترط فی تحقق کونه مسجداً البناء لما فی الخانية لوکان له ساحة لابناء فيها امر قومه بالصلوة فيه بجماعة قالوا ان امرهم بالصلوة ابداً او امرهم بالصلوة فيها بالجماعة ولم

يذكر الابد لانه اراده الابد ثم مات لايكون ميراثا منه (طحطاوی على الدر المختار ص ۵۲۲ ج۲)، لايجوز لقيم المسجد ان يبني حوانيت في حد المسجد او في فنائه (طحطاوی ص مذکوره)، دی عبارت تصریح وکړچه جومات کيدو دپاره دا شرط نشته چه په دی عمارت جوړ شوي وی بلکه دبغير عمارت زمکه هم جومات کيديشی ساخت په معنی دميدان وقف دی چه په هغی کښ هيڅ عمارت نه وی او دغه لفظ دمکان صحن او انګړ دپاره هم استعماليږی کومه زمکه چه يې جومات ګرځولی ده دهغی طرفونه چه يې دکوم څيز دپاره معين کړيدی هغه دجومات ديوالونه دی دی چهارديواری کښ چه کوم کار وشی هغی دپاره داسی اووئيلی شی چه دا کار دجومات په حد کښ شويدی حد دجومات دی په دی وجه ددی تصريح وکړی شوه دجومات انتظام کوونکی دجومات په حد کښ دوکانونه جوړول جائز نه دی چه دهغی په وجه سره دجومات عزت باقی نه پاتی کيږی احنافو هغه حصی دجومات ته کوم چه په حد کښ داخل ده جومات ګڼړلی ده او دجومات حکمونه يې پری جاری کړيدی په دی وجه هغوی دېرو حالتونو کښ دجومات دحصو او د درجو فرق نه دی کړی بلکه دجومات کيدو په اعتبار سره پری حصی ته يې دجومات نوم ورکړيدی او په هغی يې دجومات دلفظ اطلاق کړيدی چه ددی خبری ښکاره دليل دی چه دجومات په حد کښ چه څومره زمکه ده چوپال والاوی يابغير دچوپال نه وی ټول جومات دی. افضل المساجد مکه ثم المدينة ثم القدس ثم قبا الاقدم ثم الاعظم ثم الاقرب الخ (درمختار) ای مسجد مكة وكذا مابعده الى قوله الاقدم وفي تسهيل المقاصد للعلامة احمد بن العماد ان افضل مساجد الارض الكعبة لانه اول بيت وضع للناس ثم المسجد المحيط بها لانه اقدم مسجد بمكة ثم مسجد المدينة الخ (رد المحتار ص ۴۱۴ ج۱)، دی عبارت کښ افضليت دجوماتونو بيان کړيدی او هغه هم عموم سره چه هغه کښ دصحن او دالان تخصيص نه دی شوی هم المسجد المحيط بها ددی ښکاره دليل دی دينه ثابته شوه چه دحنفيه په نزد دجومات صحن په جومات کښ داخل دی پدی وجه څوک نه پيژنی چه کوم جومات بيت الله لره محيط دی دهغی دننه څلورواړه طرفته ميدان او کولاؤ ځانی دی چه په هغی باندی هيڅ عمارت نشته کوم ته چه دبيت الله صحن وئيلی شی هغی لره يې په دی ذکر شوي عبارت کښ جومات وئيلی دی او په زمکه باندی دجومات اطلاق کول کوم نه چه دجومات ديوال را تاؤ دی کوم ته چه دجومات حد وئيلی شی دصحن دجومات کيدو دليل دی. دخارجيدو په حالت کښ ګ

المسجد المحيط بها بقول بها قائم صحيح نه دی. وكره غلق باب المسجد الا لخوف على متاعه به يفتى (درمختار) قال في البحر وانما كره لانه يشبه المنع من الصلوة قال تعالى ومن اظلم ممن منع مساجد الله ان يذكر فيها اسمه (رد المحتار ص ۴۴۲ ج۱)، فقهاؤ کرامو دجوماتونو دروازی په بندولو او منع کولو باندي دکراهت حکم لګولی دي ددی خبری روښانه دليل دی چه جومات په حد کښ چه څومره ځای دی ټول جومات دی کنی دروازه دجومات به يې ورته نه وئيل بلکه دجومات خانی يا دالان يا دعمارت دجهت دروازی بندولو منع به يې کوله چه دزاعم په خيال کښ دغه جومات دی عرف کښ عام طور سره دجومات مفهوم دهر سړی په ذهن کښ دی په دی وجه دځه حصی تخصيص کول دځه معنی لولو مضمون جوړيږی هر سړی پيژنی چه صحن کښ لمونځ اوشونو جومات کښ اوشو. هرکله چه يې دروازه بنده کړه کومه چه دجومات په حد کښ لګولی شويده دجومات دروازه يې بنده کړيده چه هغه کښ صحن او دننه لويه کمره دواړه داخل دی واتخاذه طريقا بغير عذر وصرح في القنية بفسقه باعتياده (درمختار) په جومات باندی دتلور اتلو لاری مقرر ولو ممانعت په فقه حنفی کښ موجود دی او دا ښکاره خبره ده چه دا به هله وی چه کله دجومات دوه درخی دروازی وي او دا هم ښکاره ده چه عموماً دجومات په دالانونو کښ يا کوم ته چه جومات خانه وئيلی شی په هغی کښ دروستو باندی دتلو دپاره دروازه نه شی لګولی بلکه دا صورتونه په لويو جوماتونو کښ وی چه په هغی کښ لويه زمکه او صحن وغيره وي په قول دزاعم که صحن دجومات نه بهر شی او فقه حنفی دي لره خارج شماری نو په يوه دروازه باندی داخليدل او دويم دروازه باندی دوتلو په حالت کښ يعنی داعادت جوړول په دی به يې دفسق حکم نه لګولی ځکه چه صحن ته خو په جومات والی کښ څه تعلق نه وه خو ممانعت يې وکړی شو په دوجه صحن هم جومات دی دی لره لاره جوړول جومات لره لاره جوړول دي ځکه چه دجومات په حد کښ داخل دی. والوضوء الا فيما اعد لذلك (درمختار) وفي الخلاصة وغيرها يكره الوضوء والمضمضة في المسجد الا ان يكون موضع فيه اتخذ للوضوء ولا يصلى فيه الخ (بحر الرائق ص ۳۴ ج۲)، فقه حنفی کښ عام طور باندی په جومات کښ دغړغړی کولو نه منع راغلی ده او څوک عقلمند دا نه پيژنی چه اودس کول يا داودس په شان بل څه کار کول هغه ځای نه کيږی کوم ځای چه چت جوړ شويدی کوم ته چه مسقف حصه وئيلی شی چه هغی ته دالان وئيلی شی چه هغی کښ دحيثيت مطابق لمونځ ګزاروته فرش غوړولی شی بلکه داسی کارونه که چرته کيږی نو داسی ځای کيږی کوم چه کولاؤ وی کوم ته

چه نن صبا صحن وئیلی شی چونکه دفقهاؤ په نزد صحن هم جومات دی په دی وجه یې دیکې داودس وغیره کولو نه یې منع وکړه چه جومات دګندګی نه پاک اوصفا وی هن که چرته پدیکې څه حصه اودس دپاره مقرر کړی شوي وی کوم کې چه لمونځ نه شی کولی هلته داودس کولو اجازت دی چه ددی خبری ښکاره دلیل دی چه صحن په جومات کې داخل دی ددی نه زیات صریح عبارت دادی .وفی حاشیة المدنی عن الفتاوی المعطیفیة ولایظن ان ماحول بیر زم زم یجوز الوضوء والغسل من الجنابة لان حریم زمزم یجری علیه حکم المسجدفیعامل معاملتها من تحریم البصاق والمکث مع الجنابة فیه ومن حصول الاعتکاف فیه واستحباب تقدیم الیمنی بناء علی ان الداخل من مسجدلمسجدلیس له ذلک الخ (ردالمحتار صـ ۴۲۴ ج ۱) دی عبارت کې تصریح ده چه دزمزم کوهی نه ګیرچاپیره اودهغی په حریم اوماحول کې دبی اودسی اوجنابت اودس اوغسل کول جائز نه دی په دی وجه په هغی دجومات حکمونه جاری دی په دغه ځای کې توکل اودجنابت په حالت کې اوریدل حرام دی هغه ځای اعتکاف کول جائز دی ښئ خپه مخکې کیښودل مستحب دی ځکه چه جومات داخلیدو دپاره مسنون دادی اودنیایې پیژنی چه دزمزم کوهی دجومات په صحن اودجومات په حد کې پروت دی حد دمطاف نه بهر دی که چرته فقه حنفی کې دجومات صحن جومات نه وي نو داحکمونه به یې دزمزم په کوهی باندی جاری کول څو چونکه دفقهاؤ په نزد چه کله یو ځای کې دجومات کیدل ثابت شی نو دهغی هره حصه دجومات په لفظ سره ذکر کوي دی مجموعه ځای ته جومات وئیلی شی په دی وجه دجومات دحکمونو په بیانولو کې لفظ دجومات استعمالوی پدی کې فرق نه کوي اوصحن وغیره جدا جدا بیانوي .وغرس الاشجار الالنفع کتقلیل نزوتکون للمسجد الخ (درمختار) قال فی الخلاصة غرس الاشجار فی المسجدلاباس به اذاکان فیه نفع للمسجد بان کان المسجد ذانزو والاسطوانات لاتستقر بدونها وبدون هذالایجوز الخ .وفی الهندیة عن الغرائب ان کان لنفع الناس بظله ولایضق علی الناس ولایفرق الصفوف لاباس به وان کان لنفع نفسه بورقه اوثمره اویفرق الصفوف اوکان فی موضع تقع به المشابهة بین البیعة والمسجد یکره الخ (ردالمحتار صـ ۴۲۳ ج ۲ وبحر عن الظهیریة وغیرها صـ ۳۵ ج ۲ ومنحة الخالق صـ ۳۵ ج ۲ وعالمګیری عن فتاوی قاضیخانه صـ ۱۱۱ ج ۲)

ظهیریه .. خلاصه فتاوی قاضیخان عالمګیری، درمختار، ردالمحتار بحرالرائق وغیره کتابونو کې تصریح ده چه جومات کې ونې لګول چه هغی سره جومات یا لمونځ ګزاروته څه فائده نه وی جائز نه دی هن که چرته دجومات دڅه مصلحت دپاره ولګولی شی نو جائز دی مثلاً دجومات په زمکه کې دومره تری اولوندوالی وي چه دهغی په وجه دجومات دیوالونه اوستنی ولاړي نه شی پاتی کیدای اوونو لګوسره دی لوندوالی کې کمی راځی نو جائز دي یا لمونځ ګزاروته دسیوری دپاره ولګوی نو جائز دی خو په دی شرط چه په صفونو کې جداوالی نه واقع کیږی په خلقو باندی تنګی رانشی دغیر مسلم عبادت خانو، ګرجه اوکنیسه وغیره سره دجومات مشابهت نه وي .دادنیا پیژنی چه ونې په کولاؤ ځای لګولی شی .مسقف اوچوپالی زمکه اودالان کې ونې نه شی لګولی فقها وائی چه بغیر دضرورت نه په جومات کې ونې لګول جائز نه دي .ددی لفظ دجومات نه صحن مراد دی چه هغه کولاؤ ځای وي اولنفع الناس بظله سره دانورهم واضح شول چه ددینه په صحن کې ونې لګول مراد دی کوم ځای دسیوری دپاره څه شی په اعتبار دعرف نه وي کنی په لویه کمره کې خو په خپله سیوری وي هلته دونو دسیوری ضرورت نشته چونکه فقهاؤ دجومات دحد دننه چوکوم زمکه ده چوپالی وي اوکه بغیر چوپال نه وي تول ته جومات وائی په دی دجومات حکمونو بیانولو کې په حصو کې څه فرق نه کوي صحن وئیلو په ځای هم دجومات لفظ استعمالوی په دی وجه یې اوفرمائیل چه دجومات هره حصه محترم ده په دیکې څه داسی کارکول نه دی پکار کوم چه دجومات دشان نه خلاف وی په دی وجه بغیر دضرورت نه جومات کې ونې لګول هم نه دي پکار دشجر نه لوئی لوئی ونې مراد دی کوم نه چه سیوری حاصلیږی چه دهغی جړی په زمکه کې پیوست کیږی اودزمکې هغه لوندوالی راکاږی دګلونو وغیره وړی وړی مراد نه دی کومې چه ګملون وغیر کیښودی شوي وي اګر چه ددی مرض ضرورت نه وه خو دیناد عقل مندونه خالی نه ده. په دی وجه ممکن دي چه څوک عقل مند دخپل نوی ذهن مطابق داعبارت په څه بل شکل کې واچوی او څه وهمی شبه پیش کړی په دی وروستی نه یې خبرداری ورکړیده چه ددی نوي بیان دلته حاجت نشته چه جومات کې ونې زیاتی شی نو لمونځ ګزاره ضرور تنګیږی چه دهغی په وجه به لمونځ کولو تکلیف پیش کیږی اودازیاتوالی په صفونو کې هم جداوالی راولی لکه چه لوئ جوماتونو کې بالکل صفا ښکاره کیږی چه په هغی کې دمقتدیانو نه دجومات صحن هم ډکیږی اوپه ګرمی کې

دلمونځونو دپاره عموماً صحن استعمالولی شی دونودزیاتوالی اثرپه صفونواد خلقوپه تنګیدو په صورت کښ ښکاره کیږی بلکه یوه ونه هم بعض وختونو کښ دصف په ودرولو کښ مانع ګرځی بغیر دضرورت نه بعض دونولګولو اجازت ورکړي وه دجومات دپراخوالی په صورت کښ دهغی هم تردید وکړلی شو، فردعلیه بانه لایلزم من ذلک حل الغرس والاللعذرالمذکورلانه فیه شغل مااعدللصلوٰة ونحوها وان کان المسجدواسعاً وکان فی الغرس نفع بثمونه والالزم اجارقطعة منه ولایجوز ابقاءه ایضاً لقوله علیه السلام لیس لعرق ظالم حق لان الظلم وضع الشی فی غیرمحله وهذاکذلک الخ (ردالمحتار نقلاً عن رسالة العلامة ابن امیرحاج، ص۴۲۴، ج۱) قوله والافلادلیل علی انه لایجوزاحداث الغرس فی المسجدولاابقاءه لغیر ظل العذرولوکان المسجدواسعاً کمسجدالقدس الشریف ولو قصدبه الاستغلال للمسجدلان ذلک یؤدی الی تجویزاحداث دکان فیه اوبیت– للاستقلال اوتجویزابقاء ذلک بعداحداثه ولم یقل بذلک احدالابضرورة داعیة ولان فیه ابطال مابنی المسجدلاجله من صلوة واعتکاف ونحوهما الخ (منحة الخالق ص۳۷، ج۲)، دچانظر چه په دی عبارت لګیدلی وي هغه چرته هم داسی نه شی وئیلی چه فقه حنفی کښ یې صحن دجومات نه خارج ګرځیدلی مسجداقصی څه وړوکې غونډی جومات نه دی ډیرلوئ جومات دی هرکله چه هغی کښ بغیر دضرورت نه دونولګولو اجازت نشته نو هغه شان په لويو جوماتون کښ هم نشته پدی وجه چه جواز داحداث دوکان وغیره ته هم مستلزم دی چه کوم بغیر دضرورت نه او دسختی مجبوری نه جائزنه دی بلکه ونولګولو سره دجومات هغه جومات والی باطلیږی چه جومات لمونځ او اعتکاف وغیره دپاره جوړشویدی او اوس دیکښ دونو کرونده شروع شوه. دی ټولو امورو دوجه نه دورځی رڼاپه شان ثابت دی چه فقهاء په صحن باندی دجومات حکم لګوی او داټول امور دجومات په صحن کښ دکولونه منع کوی چه هغه جومات دی او دهغی عزت هم هغه شان دی څه رنګه چه دمسقف او دالان حرمت او عزت دی خو صحن لفظ یې استعمال نه کړوپه هغی یې دلفظ دجومات اطلاق وکړودی دپاره چه دجومات والی په لحاظ سره دفرق راتلو چه کوم وهم وه هغه ختم شی قالوا ولایتخذفی المسجدبیرماء لانه یخل بحرمة المسجدفانه یدخل الجنب وان حفرفهوضامن بماحفرالاان ماکان قدیماً فیترک کبئرزمزم فی المسجدالحرام الخ (البحرالرائق ص۳۵، ج۲، ردالمحتار ص۳۸۲، ج۲) فقهاؤپه جومات کښ دکوهاټو کنستلونه په دی وجه منع وکړه چه دی سره

دجومات احترام نه پاتی کیږی که چرته جومات کښ کوهی وه نو جومات ته به حائضه، جنب وغیره ټول او بو وړولو دپاره ځی راځی او دی سره دجومات هغه حرمت او عزت ختم شی هن که چرته یو کوهی دپخوازمانی نه په جومات کښ موجود دی لکه څنګه چه مسجدحرام کښ زمزم کوهی دی نو دابه دغه شان باقی پاتی کیږی هرکمزوری عقل والاد اپیژنی چه اکثر حالتونو کښ عام طورباندی دجومات په دالانونو او مسقف عمارتونو کښ کویان نه شی جوړولی بلکه په کولاؤ ځای کښ لکه دمکان صحن یادجومات صحن کښ جوړیږی فقهاپه جومات کښ دکوهی کنستلونه منع کوي او هغه په صحن کښ وي لهذا ددمعنی داشوه چه په صحن کښ کوهی مه کنی څکه چه جومات دی او ددی په وجه دجومات احترام ختمیږی مثال کښ دزمزم کوهی بیانول روښانه دلیل دی چه دفقهاؤپه کلام کښ دجومات نه صحن دجومات مراددی کنی دزمزم کوهی خو ټولو دنیا پیژنی چه دمسجدحرام په صحن کښ دی او هرکله یې چه داو وئیل کبئر زمزم فی المسجد الحرام نو دی وئیل چه صحن په جومات کښ داخل دی په دی کښ لمونځ کولو سره دجومات ثواب ملاویږی دي لره دلیونو، ماشومانو، پلیتو، حائضه او نفاس والازنانونه پاک او صفاترل پکاردی. نعم یوجدفی اطراف صحن الجوامع رواقات مسقوفة للمشی فیهاوقت المطرونحوه لاجل الصلوة اوللخروج من الجامع لالمرورالمارین مطلقاً کالطریق العام فلعل هذاهوالمراد فمن له حاجة الی المرورفی المسجدیمرفی ذلک الموضع فقط لیکون بعیداً عن المصلین ولیکون اعظم حرمة لمحل الصلوة فتامل (ردالمحتار ص۳۵۵، ج۳) په دی عبارت کښ دصحن ذکرهم راغی او دیکښ هم تصریح وکړه چه صحن جومات دی او په جومات کښ داخل دی او دجومات دطرفونو صحن چه دهغی نه ګیرچاپیره دالان مسقف عمارت دګرمی باران وغیره کښ لمونځ ګزارانوته دتلوراتلو دپاره جوړه ولی شی هرکله چه هغه جومات دی نو صحن چه په مینځ کښ وی هغه خو په طریقه اولی سره جومات دی دحاجت په وخت کښ په دی وختونو کښ دتیریدو اجازت ورکول او صحن لره دتلوراتلولاره نه جوړول او ددي نه دیځ یځ تللو حکم ورکول صحن لره جومات جوړه وی او دانی ولی وکړل پدی وجه چه ددی تیریدل دلمونځ ګزارونه ډیرلری پروت وی او دمحل صلوٰة حکم په ځای پاتی شی بلکه اعظم حرمت اوکړیشی په دی جائزوختونو کښ داسی وخت تیرشی چه څوک جنبی او حائضی وغیره نه وی وجازلکل احدان یمرفیه حتی الکافرالاالجنب والحائض والدواب. زیلعی الخ (درمختار ص۳۹۵)، جنبی او حائضی لره په دیکښ دتیریدونه منع کول په اوچت اوازچغه

ده صحن جومات دی ددی په وختونو کې داسې حالتونو کې تیریدل جائزنه دی چه دجومات په حرمت او عزت کې څه فرق راشي . قلت وبهذاعلمايضاحرمة احداث الخلوات في المساجد كالتي في رواق المسجدالاموی ولاسيمامايترتب على ذلک من تقذير المسجد بسبب الطبخ والغسل ونحوه الخ

(ردالمحتار ص ۳۸۲ ج ۳) په جوماتونو کې دمحداث خلوات تصریح کول او مثال کې درواق مسجد اموی پیش کول کوم چه دجومات په طرفونو کې وی دابنائی چه رواق جومات دی او هر کله چه دصحن طرفونه جومات دی نو مینځ کې کوم ته چه صحن ونیلی شی هغه هم جومات شو او پخول او وینځل وغیره دهغی جومات کیدل نورهم واضح او روښانه کوي چه دهغی په وجه جومات دګندګی حمل جوړیږی . رواق چه څنګه مقدم البیت (چجی) او چت ګیری سقف (چت) ته وائی دغه شان هغه لوئی کمرې ته هم وائی کوم چه دلوی جوماتونو په طرفونو کې وي چه هغی ته ورو کې صحن ونیلی شی غرض دا چه که یو سړی په دی ټولو جزئیاتو باندی نظر واچوی نو هغه په یقیناً په اسانی سره دی نتیجی ته اورسی چه فقی حنفی کې صحن جومات دي او حنفی فقهاء دجومات دحکمونو په وخت کې دجومات په حدکې چه څومره ځای دی تو لو د جومات نوم سره یادوی هن کله کله د څه خاص حکم بیانولو په وخت کې خاص خاص حصی متعین کوي خو دجومات والی نه یې نه بهرکوي چرته چه فقهاء دسحر سنت اداکولو بیان کوي هلته دا فرق ذکر کوي لما في المحیط ولوصلا هما في المسجدالخارج والامام يصلي في الداخل قيل لايكره لانه لايتصور بصورة المخالفة للقوم لاختلاف المكان حقيقة الخ ثم السنة في السنن ان ياتي بها في بيته اوعندباب المسجدوان لم يكن ففى المسجدالخارج وان كان المسجدواحدا فخلف الاسطوانة ونحوذلک اواخرالمسجدبعيداً عن الصفوف في ناحية منه الخ (البحرالرائق ص ۷۴ ج ۲) ثم السنة في سنة الفجران ياتي بها في بيته اوعندباب المسجدوان لم يمكن ففى المسجدالخارج وان كان المسجدواحداً فخلف الاسطوانة ونحوذلک الخ (منية المصلي ص ۳۹۴) والاصلاهافي الشتوی اوالصيفي ان كان المسجدموضعان (ردالمحتار ص ۵۰۳ ج ۱) فان الامام في الصيفي فصلاته اياها في الشتوی اخف من صلوتها في الصيفي وعكسه الخ (فتح القدير) دی عبارتونو کې مسجد شتوی او مسجد داخل او مسجد صیفی خارج څلور لفظونه موجود دی دینه ثابتیږی چه کله دجومات دوه حصی هم کیږی کومه حصه چه دسختی ګرمی

او ساړه او باران نه دبچ کیدو پاره دنمانځه دپاره مقرر ولی شی هغی ته مسجد شتوی او مسجد داخلی وائی دینه مسقف او چت والامکان دسیوری ځای جماعت خانه او کله کله ورته دجومات دالان وائی او کله کله دجومات والان دمسجد شتوی نه یو جدا شی وی هر کله چه دجومات دری درجی وی چه هغی ته برانډه وائی او کومه حصه چه دګرمی په زمانه کې دهوا وغیره نه لګیدو په وخت کې دلمونځ دپاره استعمالولی شی هغی ته مسجد صیفی او مسجد خارجی وائی دینه دجومات صحن وائی دا زه نه وایم بلکه داحنافو په کتابونو کې ددی تصریح ده . ان ياتي بالسنة عندباب المسجدان امكنه بان وجد هناک مكانايصلح للصلوة وان لم يتيسرله ذلک ففى المسجد الخارج يعني في صحن المسجداذاكان الامام والقوم في داخله الخ (التعليق المجلى نقلاعن الحلية لابن الامير الحاج ص ۳۹۴) هر کله چه دا تصریح موجود ده نو دا ونیل چه داحنافو په فقه کې یې صحن دجومات نه خارج کړیدی او که څوک دجومات په صحن کې لمونځ وکړي هغه ته په جومات کې دلمونځ کولو ثواب نه ملاویږی دا خبره غلطه او بالکل غلطه ده فقهاء کرام خو حد دجومات هغه ټولې زمکې ته وائی صحن خو دمینځ دمکان نوم دی دا دجومات څه رنګه خارج کیدیشي . صحن الداروسطهاوصحن الفلاة هوماتسع منها (المصباح المنير ص ۱۵۲ ج ۲) صحن الداروسطها (مختار الصحاح ص ۲۵۷) صحن الدارساحتها اووسطها (المنجد ص ۲۵۷) صحن میانه خانه (منتخب ص ۲۳۷) صحن خانه وزمین هموار (غیاث ص ۲۰۵) دیرو حالتونو کې دمینځ مکان په معنی راځی په دي فقهاء هر ځای دجومات په بیان کې لفظ دصحن نه دي استعمال کړي څکه چه مینځ دمینځ دمکان مکان کې داخل وي یا دجومات دصحن جدا بیانولو ضرورت نشته اوس چونکه عرف په اعتبار سر صحن دی خاص ځای ته او ونیلی او لیکلی شو کوم چه دمکان به حدکې کولاؤ بغیر سیوری والاځای وي په دی وجه کتابونو کې بعض ځایونو کې خصوصیت سره ددی لفظ دوضاحت کول راغلل کنی دفقهاؤ په نزد دجومات والی په اعتبار سره دهغه هیڅ یوه حصه څه خاص نوم سره خصوصیت سره ممتازنه ده هن د څه خاص حکم کولو په وخت کې کله کله څه خاص لفظ استعمالوی دغه صحن واخله چه کله خو دغه لفظ صحن لیکې او کله کله د دنه تعبیر په فضا سره کوی وفي النوازل جعله كالمسجدوالمسجدوان كبرلايمنع الفاصل الافي الجامع القديم بخوارزم فان ربعه كان على اربعة الاف اسطوانة وجامع القدس الشريف اعني مايشتمل على

المساجد الثالثة الاقصی والصخرة والبیضاء کذافی البزازیة ومثله فی شرح المنیة واماقوله فی الدرولایمنع من الاقتدارالفضاء الواسع فی المسجد وقیل یمنع الخ فانه وان افاد ان المعتمد عدم المنع لکنه محمول علی غیرالمسجدالکبیرجدا کجامع خوارزم والقدس بدلیل ماذکرناه الخ (ردالمختار ص ۴۱۱ ج ۱) دی عبارت کښې دالفضاء الواسع فی المسجدلفظ راغلیدی کوم چه دصحن عنوان اوبیان دی چونکه غټو جوماتونوکښې صحن هم دهغې حیثیت وي په دی وجه یې دهغې نه فضاء واسع سره تعبیروکړواوکله کله دهغې نه رحبة المسجداوساحة المسجداوعرصة المسجد سره هم تعبیرکوي پدي وجه داسې سرې باندی پته نه ده چاچه دفقهې دکتابونوبالاستیعاب مطالعه کړي وي هغ ددی دی هم خیال وي چه فقهاء یې احناف په نزدیوجومات وي اویوداسې شی وي چه جومات خونه وي خوکله کله هغې لره دجومات په حکم کښې شماری دهغې مطلب دانه وی چه په هغې دجومات حکمونه جاری دي. کفناء مسجدهوالمکان المتصل به لیس بینه وبینه طریق فهوکالمتخذلصلوة جنازة وعیدفیماذکرمن جوازالاقتداء وحل دخوله بجنب ونحوه کمافی اخرشرح المنیة (ردالمحتار ص ۴۲۱ ج ۱) چه هغې ته فناء مسجدوائی چه دجومات دحدنه خارج وي په دی کښې دجنبي وغیره داخلیدل جائزدی خو داقتداء وغیره په حالت کښې دادجومات په حکم کښې گرځولی دی پدیکښې دداسې کارکولونه فقهاء بعضې وختونوکښې منع کوي کوم سره چه دجومات په شان کښې فرق راځي او دهغې عزت اوحرمت نه پاتې کیږی. فناء المسجدماکان علیه ظلة اذالم یکن ممرالعامة المسلین الخ (بحر ص ۵۱۲ ج ۵ / وطحاوی علی الدرالمختار ص ۵۳۲) فناء الدارمامتدمن جوانبها والجمع افنیة الخ مختارالصحاح ص ۵۱۲) الفناء للوصیدوسعة امام البیت وقیل مامتدمن جوانبها (الصباح ص ۲۱ ج ۲) الساحة امام البیت (المنجد ص ۳۷۹) پیش خانه که پراخه اوکشاده باشدوگرداگردخانه (منتخب ص ۲۲) فناء حوالی وگرداگرد مکان کاخ (دمکان دروازی مخې ته کولاؤ صحن (لغات کشوری ص ۳۹۳) غرض داچه فناء مسجدهغه ځای وی چه دجومات دحدنه بهروي دجومات خلورواړه طرفته وي یاصرف دجومات مخې ته وائی خوفقهاء پدیکښې دسخت ضرورت اوحاجت په غرض دکارکولواجازت نه ورکوي چه هغې سره دجومات په شان کښې فرق راځي اودجومات عزت پکښې نه پاتی کیږی. لایجوزلقیم المسجدان یبنی حوانیت فی حدالمسجداوفنائه الخ (بحر ص ۲۴۹ والطحاوی ص ۵۳۲ / ج ۲) دجومات په حداوپه فناء

دجومات کښې یې دوکانونه جوړول ځکه منع کړل چه دهغې په وجه به عوام تلل راتلل کوي اوبیا به جومات اوبازارکښې څه فرق پاتې نه شي اودغه دوکانونوپه وجه به دجومات صفائي هم پاتې نه شي پدیکښې به پاک اوناپاک ټول خلق تلل راتلل شروع کړي خوپه دی وجه جومات کښې داخل نه دی اوپدی وجه باندی د جومات حکمونه جاری نه دی هغ دلمونځ وغیره په وخت کښې داتصال بالصفوف اواقتداء بالامام کښې ورته حکم دجومات ورکړی شودیدی (بقی فی فناء فی الرستاق وکانا لاجل الصلوة یصلون فله حکم المسجد (بحر ص ۲۵۰ ج ۵) ذکرفی البحرعن المجتبی ان فناء المسجدثم قال وبه علم ان الاقتداء فی کل وقت من صحن الخانقاه الشیخونیة بالامام فی المحراب صحیح وان لم تتصل الصفوف لان الصحن فناء المسجدوکذاالقتداء من بالخلاوی السفلیة صحیح لان ابوابهافی فناء المسجدالخ وباقی تمامه وفی الخزائن ان فناء المسجدهومااتصل به ولیس بینه وبینه طریق الخ قلت یظهرمن هذاان مدرسة الکلاسة والکاملیة من فناء المسجدالاموی فی دمشق لانه باتفاق حائطه وکذالمشاهدالثلثة التی فیه بالاولیٰ وکذاساحة باب الجریدوالحوانیت التی فیهاالخ ردالمحتار ص ۴۱۱ ج ۱) فقهاء کله کله صحن لفظ خلاسره تعبیرکوي قوله کمسجدوبیت خان المسجدمکان واحدوللام یعتبرفیه الفصل بالخلاء اذاکان المسجدکبیراً جدا (ردالمحتار ص ۴۱۲ ج ۱) الخلاء ایضاًالمکان الذی لاشئ به (مختارالصحاح ص ۱۸۸ ج ۱) اوخلاء ای فضاء فی مسجد کبیرجداکمسجدالقدس (درمختار) دی عبارت کښې دخلاء نه صحن دجومات مراددی کوم کښې چه څه عمارت یاچوپال وغیره نه وي توپدی باندی لم یعتبرفیه الفصل بالخلاء قرینه ده چه فضاء اوخلاء هم وي بیاهم اقتداء صحیح ده ځکه چه جومات مکان واحد دی اوداخلاء هم جومات دی پدی وجه داتصال لره مانع نه ده اودرمختارعبارت پدی باندی گواه دی وقدوقعت حادثة سئلت عنهافی امیراذان ینقل بعض احجارمسجد خراب فی صفح قاسیون بدمشق لیبلط بهاصحن الجامع الاموی فافتیت بعدم الجوازمتابعة للشرنبلالی (ردالمحتار ص ۳۸۳ ج ۳) داعبارت صریح دلیل دی چه صحن جومات دی ځکه چه بحث پدیکښې دی چه دیوجومات سامان په بل جومات کښې لګولی شی یانه. یاساتل پکاردی چه هرکله جومات دشرطونووجوداوتحقیق پوره طورباندي وشی دفقهاء په نزدهغه جومات شواوترڅوچه شرطونه موجودشوي نه وی هغه جومات نشی کیدای، لان

المسجد لایخرج عن المسجدیة ابدا (رد المحتار ص ۳۴۵ ج ۳) لهذا دفقهي په عبارت کې که چرته څه شبه پیداشي نو په هغې باندې دسوچ کولو ضرورت دی چه هغې کې هغه بیان کړی شوي وي شرطونه شته یا نه بغیر دسوچ کولو او بغیر دغورد فکرنه اعتراض کول قبول نه دی خلاصه دا شوه چه فقه احناف کې دجومات صحن جومات دی داد جومات بهرنه شي شمیرلی څوک چه دا او وائي چه فقه حنفي کې دا خارج ګڼړی دهغه قول غلط دی خوزه اوس په دی ویریږم چه څوک محقق دا اونه وائي چه چونکه دجومات صحن جومات کیدل داحنافو دفقه نه ثابت دی پدی وجه چه چرته نورې ډیرې مسئلې بې دلیله دی صحن جومات کیدل هم بې لیله دی فقه احناف کې نورهم ډیر عبارتونه دی که چرته دا ټول په یو ځای کې راجمع کړیشي نو یو کتابي شکل به تري جوړشي چنانچه عرض دی که چرته ضرورت وي نو پیش به یې کړم فقه کې رحبة المسجد، ساحة المسجد او عرضة المسجد لفظونه مستعمل دی یو لفظ حریم هم کله کله استعمالیږي ددې ټولو په هغې او محل استعمال باندې هم غور کول پکاردی ما چه کوم لفظ ذکر کړیدی هغه فضاء، واسع فناء، مسجد خارجي، مسجد صیفي وغیره دی دجومات په حد کې دننه ځائي ته جوف مسجد ونیلی شي والسلام (تتمه خامسه / ص ۴۷۵)

سوال:(۷۶۲) څه فرمائي علماء او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه تقریباً صوبه ګجرات خصوصاً ضلع سوات کې عام دستور دادی چه کله جومات جوړه وي نو دهغې مسقف (چت والا) حصه لمونځ دپاره خاص کړی پدې وجه هغې ته جومات خانه وائي هغې سره څه کولاؤ حصه دصحن په طور جوړه وي په دې وجه هلته هر قسم خبرې کیږي کوم چه دجومات داحترام نه خلاف دی او منع دی مثلاً هر وخت کیناستل پاڅیدل او هلته اوده کیدل او دنیوی خبرې کول تردې چه دجنابت په حالت کې هم په هغه صحن کې او سیږي خکه چه دادي نه بهر ګڼرلی شي بل داچه دیکې دجومات ځائي په شان دجمع لمونځ هم نه کیږي دارنګه دیر جومات چناروارِه هم ددې مخکې څه مختصر غوندې جوړشوي وه او دهغې صحن سره هم بالکل دغیر جومات معامله کیدلې شوه تقریباً ۱۲۹۰ھ المقدس کې ددې ځای مشرانو داجومات دوباره جومات دوباره جوړ کړوا ویوه زمکه یې واخسته هغه یې هم جومات کې شامله کړه او جومات کولاؤ شو څه رنګ چه جومات خانه لویه شوه هغې سره هغه صحن هم پراخه شو کوم ځای چه دمخکې جومات حوض وه هغه ځای هم څه حصه صحن سره شامل کړو او جنوبي طرفته څه حصه یې دبرانډې په شان او دس وغیره دپاره جوړ کړه دتوی

تعمیر کوونکو نه تردې وخته پورې داصحن دجومات نه بهر شمیرلی کیده او هغه خلق ډیر یوه وه هغوی داخل دجومات او خارج دجومات بنه پیژندو بیا هم هغه خلقو داصحن جومات کې شامل او نه ګڼرلو ددې نه علاوه یو عام رواج داهم دی چه اکثر دجومات په صحن کې قبرونه هم جوړیږي دې خایونو کې په داسې جومات ډیر ګرانه ملاؤشي چه هلته دقبرونو څه نخښه وغیره نه موندلی کیږي نو دا صورت هم دهغې یو کولاؤ دقرینه ده چه دجومات صحن جومات کې داخل نه ګنړی بعض حضرات دلروخت نه ددې ځای جوماتونه ددهلي وغیره په جوماتونو باندې قیاس کوي داقیاس صحیح نه دی په دې وجه چه دهغه ځای جوماتونه اکثر داسې جوړکړی شوي وي چه هوادارنه وي په دې وجه هلته دګرمی په موسم کې صحن کې لمونځ کول او صحن په جومات کې داخل ګنړل ضروري دی دهغې په خلاف ددې ځای جوماتونه ډیر هوادار او پراخه دی دهوادراتلو دپاره خاص طور باندې څلورواړه طرفونو ته کړکې وغیره جوړولی شي په دې وجه چرته هم په صحن کې دلمونځ کولو ضرورت نه واقع کیږي او ددې صحن لره داخل مسجد کیدو کې تراوسه پورې څه ثبوت هم باقاعده نشته نو ددې صورت کې دچناروارِه دجومات صحن به شرعاً دجومات نه بهر ګنړلی کیږي یاداخل او دجنازې لمونځ دجومات په صحن کې به جائز کیږي یا نه بنه تفصیلي او مرسل جواب وفرمائي جزاکم الله بینواتوجروا!؟

جواب: مراد جومات والي په وضع توجه بقعة للصلوة ذات اذان واقامة دی چه دهغې ظاهري علامې فعلیه افرازها عن الملک بطریقها واذن لعامة الناس بالصلوة فیها او قولیه قول واقف جعلتها مسجداً دی او وضع للصلوة یو نیت مخیفه دی هر کله چه دجوړونکې نه ددې نیت دنفي تصریح ثابت وي نو داعلامې به ددې نیت قائم مقام وي نو داصحنونه دجومات دسوال په باب کې که چرته نیت دنفي صراحتاً دجوړونکې او وقف کوونکې نه په صحیح سند سره ثابت وي نو په دې به دجومات حکم نه شي لګولی کتی دجومات حکم به ورکولی شي وهذا ظاهر جدا والله اعلم (۱۹ ذی قعده / ۱۳۴۵ھ) (تتمه خامسه / ص ۵۳۴)

داب المساجد علی اداب المساجد

سوال:(۷۶۳) بعد الحمد والصلوة اداب المساجد یوه رساله ده دمفتي شفیع صاحب دیوبندي ﷺ ددې دوباره چهاپ کولو په وخت مولوي صاحب د رسالې په بعض

خایونو باندی نخښی لګولی وي اوماته یې ددوباره دکتلو په باره کې وئیلی وه په هغې خایونو باندی چه ماخه لیکلی دی دهغې مې داب المساجد (بمعنی الشان کمافی القاموس بابدال الهمزة کماقراه السوسی) کیخودودورومبی خای دعنوان حواله ورکولوسره قوله سره مې دنخښی والاعبارت نقل کړیدی اوکوم چه دتپوس کولوعبارت وه دهغې نه پس مې هغه ولیکلوبیااقول سره مې خپله مشوره اولیکله اودووخایونو باندی مې بغیرددرخواست نه څه مضمون ضروری لیکلی دی اودغه وخت کې دوه سواله دبل خای نه راغلی وه دهغې جواب هم درسالې مناسبت سره دضمیمې په طوردهغې سره یوخای کړو وبالله الاستعانة والیه الالتجاء والاستکانة ، کتبه اشرف علی ﷺ ۱۳ رمضان المبارک/ ۱۳۴۲ھ، **عنوان** :- دهغه کارونوبیان کوم چه کوم جومات کې ناجائزیامکروه دی قوله مسئله دڅه مصیبت دوجه نه په جومات کې کیناستل مکروه دی (اشباه) اقول دفقهاء داقوالونه په دی باب کې څه دی داحقرپه پوهه کې څه راغلی وي هغه دادی چه داطاعت اومعصیت په نیت دی جومات ته تلی وی یامخکې نه په جومات کې موجودوه اواتفاقاً ددی اطاعت وي نه معصیت بلکه مباح وی هغې دپاره خاص جومات ته تلل خومکروه دی اوکه مخکې نه په جومات کې حاضردی اواتفاقاًددی مباح کې هم مشغول نوپه دی شرط چه ډیرزیات پکې مشغول نه وی جائزدی نودی مسئله کې محل هغه صورت دی چه خاص دی غرض سره جومات کې کینی چه اهل تعزیت راشی اوماته دمړی تعزیت وکړی اوبعض روایتونو کې چه داسې موقعوکې دحضور ﷺ نه په جومات کې تشریف فرماکیدل منقول دی دهغې محمل دادی چه دحضور ﷺ دحکمونو خورولو اوفیصلو کولودپاره په جومات کې تشریف فرماکیدل مخکې نه معمول وه دغه ورځ هم په دی غرض ناست وه چونکه دغه خای دناستې وه اهل تعزیت په هلته حاضریدل **قوله مسئله** :- په جومات کې نکاح تړل مستحب دی ، **تپوس** :- دی زمانه کې دشورکولو دوجه نه منع کیدلی شی یانه ، **اقول** :- په جومات کې دحبشه دجنګ دلوبونه زیات په دیکې عادة شورنه شی کیدی هلته ددی عارض اعتبارنه دی شوی نودلته دی ولی وکړیشی البته چه کوم مستحب مطلوب کې دداسې فساداحتمال وی هلته په خپله دهغې فسادبندول ضروری دی په خلاف دداسې کار مباح یامستحب چه په خپله شرعاً مطلوب نه وي په خپله دغه مباح اومستحب بندول پکاردی اودنکاح تړل په جوماتو کې خوپه خپله منقول دی . **قوله مسئله** :- که چرته جنازه دجومات نه بهروی اوجمع جومات کې دننه وکړیشی نوداهم مکروه دی خوکه

دضرورت په وخت کې وکړیشی نوجائزدی **تپوس** دافتوی علی احدالقولین عندالضرورت قابل دغورده داخبره صحیح ده یانه . **قول** :- دقاعدونه دعذرپه حالت کې په دی عمل کول جائزمعلومیږی کما فی ردالمختار انماتکره فی المسجد بلاعذرفان کان فلاالی قوله واذاضاق الامراتسع (قلت وهذاهومرادی بالقاعدة) ج۱ص۹۲۲ . **قوله مسئله** :- په جومات کې په زوره ذکر کول اوپه تیزاواز سره دقران تلاوت کول تول ناجائزدی (خلاصة الفتاوی) الی قوله ناجائزفرمائیلی دی . **اقول** دیکې اقوال ډیر مختلف دی فیصله هغه ده کوم چه شامی دحاشیه حموی نه دامام شعرانی قول نقل کړیدی اجمع العلماء سلفاوخلفاعلی استحباب ذکرالجماعة فی المساجدوغیرهاالاان یشوش جهرهم علی نائم اومصل او قاری اھ ج۱/ص۲۹۱ /دی فیصله سره اقوال جمع شویدی اوچاچه مطلقاً منع کړیده غالبه داده چه بالکل دبندولوپه طوروی داخوکلام دی دخصوصیت جومات په اعتبارسره اویوکلام نفس جهربالذکراوانصات القراة القران باره کې دی په دی کې غوره اوراجح داده که چرته جهرمفرط (دحدنه زیات تیزذکرکول) نه وی نوجائزدی اودجوب انصات خارج صلوة هغه وخت دی چه کله قرات تبلیغ دپاره وی اوپه دی کې یوازی دقران تخصیص نشته دمطلق تذکیرهم دغه حکم دی والله اعلم . **قوله مسئله** که چرته دجومات په چهت یادیوال وغیره څه خاپیرک یاڅه ځناورجاله وغیره جوړه کړی نودهغې غورزول جائزدی خودجومات نه علاوه بل ځای کې به یې نه غورزوی ځکه چه حدیث کې راځی اقرواالطیرعلی مکناتهاالخ . **اقول** دی حدیث سره دلیل نیول مشکل دي په دیکې دبل محمل هم احتمال شته هغه داچه جاهلیت کې به مرغې الوزولی اوکتل به یې چه کوم طرفته لاړه اوپه هغې به یې فال نیولو حضرت ﷺ دهغې نه منع اوفرمائیله باقی دجالوراغورزول ظاهراً که چرته دڅه ځناورا وسیدوسره ځای ګنده کیږي نودهغې راغورزول جائزمعلومیږي البته داګو اوبچوپه زمانه کې که چرته لږانتظار وکړي نواقرب الی الترحم دي ، وهذازدقه ولم یستفسرمنی- **عنوان** :- دجوماتونوڅه مخصوص حکمونه ، **قوله مسئله** :- بدکاری ښځې که چرته په خپلې حرام آمدنې باندی جومات جوړکړونوهغه جومات نه دي اونه دی ته دهغې څه ثواب ملاویږي (مجموعه فتاوی مولاناعبدالحی) **اقول** :-دیکې دوه حکمه دی یوثواب نه ملاویدل ددی دلیل خونص دحدیث دی ان الله طیب لایقبل الاالطیب اوکماقال دویم حکم ددی دجومات نه کیدل په دیکې ددلیل ضرورت دی صرف دمولاعبدالحی قول حجت نه دی دجومات په حکمونوکې دجومات کیدل

فقهي مسئله ده بس دفقهي په کتابونو کې دجومات کيدوتحقيق دپاره دمال حلال کيدل
چرته هم ذکرنه ی لکه يوسړی دريا په نيت وقف وکړی نواګرچه دامقبول نه دی بلکه ويره
دګناه ده خوپه حکم کې جومات دی مثلاً ددی بيع کول جائزنه دی په ديکې دحائضې
اودجنب داخليدل جائزنه دی په ديکې اودس ماتول جائزنه دی اوس صرف داسوال پاتی دی
چه دی سره به څه کوي نوددی حکم خومنقول چرته دنظرلاندی نه دی تيرشوی خودقاعدونه
دامعلوميږی چه دادي بندکړی اومحفوظ دی کړی نه دی ديکې لمونځ کوي اونه دی دهغې
بی عزتی کوي البته که چرته زمکه په حلال ذريعی باندی حاصل شوی وی اوصرف ملبه حرام
وی نوددی په ځای دنوری ملبی سره تعميروکړي دانتفاع دجوازدپاره داسی کول کافی دی
اوداسی جومات کوم چه حرام مال سره جوړشوی وي داسی مثال دی لکه نعوذبالله يوسړي
پليتی سياهی باندی قران مجيدوليکي نه په هغې کې تلاوت جائزدی اونه دهغې بی ادبی
جائزده بلکه دفن دی کړي باقی مسئله نازکه ده نوروعلمانونه دی هم معلومات وکړی **قوله**
مسئله :- که چرته يوجومات داسی جوړکړی چه لاندی دوکانونه ياتاخانی وغيره جوړکړی الی
اخرمسئلة التی تليها **اقول** :- دی باب کې دډيرتلاش اومعلوماتو نه وروستودفقهی په
روايتونوکوم چه زماپوره ته راغلی دی هغه پيش کوم .(۱)ددی مسئلی ماخذبيت المقدس
سراديپ دی چه هغې باندی چه خيرالقرون کې هيچاهم نکيرنه دی کړی دی نه معلومه شوه
چه دجومات فائدی دپاره دويمه درجه کومه چه په بناء کې دجومات تابع وی مشروع ده .(۲)
داحکم تعبدی نه دی بلکه په اشتراک دعلت تبعيت قياساً متعدی کيديشی .(۳) که چرته
فائدی همدغه شان وی کوم چه سراديپ کې ذکرشول اودتبعيت هم دغه شکل وي کوم چه
دی سراديپ کې دی بياخوقياس جلی دی اوکه چرته فائدی بل قسم وی لکه وقف للاستقلال
المسجدياشکل دتبعيت بل قسم کې وی لکه چه جومات اوچت وی ياپه جومات اوچت وی
ددی الحاق خفی دی په دی وجه دډيروروخوپوری ماته ديکې تردد وه خوشامی کتاب
الوقف کې اسعاف نه داعبارت نقل کړيدی اذاکان السرداب اوالعلولمصالح المسجداوکان
وقفاعليه صارمسجداً الخ شرنبلاليه په ديکې دا، وکان وقفاعليه عطف په کان لمصالح
المسجدباندی دی. دينه ښکاره شوه چه داستقلال للمسجدحکم هم دغه شان دی برابره خبره
ده چه ددی نوم مصالح مسجدکيږی يافی حکم مصالح مسجدکيږی بهرحال مشترک دی
اوهدايه کې راځی وروی الحسن عنه (ای عن ابی حنيفة رحمه الله انه قال اذاجعل السفل

مسجداعلی ظهره مسکن فهومسجدوعن محمدعکس هذا (ای جعل العلومسجدا يصح ۱۲ ب
) وعن ابی يوسف رحمه الله انه جوزاک الوجهين وعن محمد رحمه الله انه حين دخل الریّ اجازذلک
کله لماقلنا (من الضرورة) ملخصا دينه ښکاره شوه چه ټول شکلونه دتبعيت مقيس عليه سره
ملحق دی (۴) داالحاق بالقياس دضرورت درجه نه دی په دی وجه دهدايه په دی عبارت کې
دضرورت بناء دالحاق کيدل راغليدی .(۵) دی دويمی درجی بناء مشروط ده دی سره چه
دجومات کيدونه مخکې دجوړونکې نيت ددی بناء وی اودجومات پوره کيدونه وروستو
اوس ديکې څه تصرف جائزنه دی (۲) فقهاء چه جومات ته دعنان السماء اوتحيت الشری
پوری جومات وئيلی دی دامقيددی هغه صورت سره چه کله دجومات جوړولو په وخت ديرنی
يالاندينی درجی جوړولونيت نه وی (۷) ونبهت عليه لغفلة کثيرمن الناس عنه حتی المنسوبين الی
العلم . دی ټولوحکمونوکې فناء مسجدهم يعنی هغه حصه متعلقه دجومات سره هم دجومات
په حکم کې ده. فی بحرالرائق فی المجتبی- لايجوزلقيم المسجد ان يبنی حوانيت فی
حدالمسجد اوفنائه (ج۵ / ص ۲۲۹ ازتتمه ثانيه امدادالفتاوی ص ۹۱ قلت وجهه ان فيه لغة
نية الوقف **عنوان** :- دمسجدضرارتعريف اودهغې حکم - قوله مسجدضراراصل کې هغه
جومات وه الی قوله دمسجدضرارمشابه به وی **اقول** ماشاءالله مؤلف سلمه دی تعبيرکې چه
دمسجد ضرارمشابه به وی دډيراحتياط استعمال کړيدی کنی دډيرجرأ تمنددا سی جومات ته
دکوم بناء چه دپاره دپاره وی مسجدضراروائی چه هغې سره داوهم راځی چه دادسرنه
جومات هم نه دی لکه څنګه چه مسجد ضراردسره نه جومات هم نه وه اوداوهم راځی چه ددی
نړول اوبی عزتی کول جائزدی لکه څنګه چه مسجدضرارسره داکارشوی وه نودمشابه لفظ
زياتولوسره داټول محذورات ختم شول يعنی دثواب په به کيدوکې اودفسادپه غرض کې
دهغې مشابه دی نه داچه داجومات نه دی څکه چه دمنافقينوخودجومات دجوړولونه وه
تلبيس اودوهوکې دپاره يې ددی نوم جومات کيخودواومسلمانان چه غرض سره جومات
جوړکړي نيت دهغوی دجومات جوړولوی په دی وجه ددی ټول حکمونه لکه لمونځ صحيح
کيدل اواحترام کول وغيرهمادجومات دی بس په نه قبليدوکې دی دپاره هم هغه حکم دی
لکه اوس چه په حرام مال باندی دجومات جوړکړی شوی تيرشول البته دومره فرق دی چه
دهغې داصلاح هيڅ صورت نشته اوددی اصلاح توبی سره کيديشی يعنی پس دتوبی نه هغه
بناء به هم مقبول کړيشی وهذاايضا زدته ولم يستفرمتی . **عنوان** دعيدګاه حکم **قوله**

ډیروحکمونوکې دعیدګاه حکم دجومات خلاف دی مثلاً دغسل حاجت لرونکې سړی اوحائضه اونفاس والازنانه دیته داخلیدی شی **اقول** :- ددی خلاف خوځه قول مانه دی لیدلی بس داحکم صحیح دی البته ددی دپاکوالی اهتمام ساتل غوره دی اودامحمل دی دحدیث امررسول الله ﷺ ان تبنی المساجدفی الدوروان تطیب وتطهر اوکماقال اذا اریدبالدار ما یسکنون فیهالاالجلة لان مسجدالمحلة مسجدحقیقی اوکه چرته په اصل مسئله باندی چاته ددی حدیث مخلفت شبه وی چه یعتزلن الیحض المصلی - ددی جواب دادی چه ددی اعتزال دوجه نه حرمت ددخول دمصلی نه دی بلکه قطع صف مصلیات باالتخلیل بینهن دی خان بنه پوه کره. ۱۳ رمضان المبارک / ۱۳۴۲ھ (تتمه خامسه / ص ۵۸۵

بعضی حصی دجومات لره دلاری جوړولوحکم (۱)

سوال :(۷۶۴) **الحکم الاول** وفیه مقامات المقام الاول ویتحصل من عبارات فی الدر المختار، **العبارة الاولی**-ای کجوازعکسه وهوماذاجعل فی المسجدممر لتعارف اهل الامصار فی الجوامع فی ردالمحتارقوله کعکسه فیه خلاف کمایاتی تحریره وهذاعندالاحتیاج کمافی الفتح قوله لتعارف اهل الامصارفی الجوامع لانعلم ذلک فی جوامعنا نعم تعارف الناس المرورفی مسجدله بابان وقدقال فی البحروکذایکره ان یتخذالمسجدطریقا وان یدخله بلاطهارة الخ ،نعم یوجدفی اطراف صحن الجوامع رواقات مسقرفة للمشی فیهاوقت المطرونحوه لاجل الصلوة وللخروج من الجامع لالمرورالمارین مطلقاًکالطریق العام ولعل هذا هوالمراد ،ای بقوله لتعارف اهل الامصارفی الجوامع ۱۲ انا قل، ممن کان له حاجة الیالمرورفی المسجدیمرفی ذلک الموضوع فقط لیکون بعیداً عن المصلین ولیکون اعظم حرمة لمحل الصلوة فتامل ؛ **العبارة الثانية** :- وجازلکل احدان یمرفیه حتی الکافر الا الجنب والحائض والداوب زیلعی ؛ **العبارة الثالثه** :- کماجازجعل الامام الطریق مسجداً لاعکسه لجوازالصلوة فی الطریق لا المرور فی المسجدفی ردالمحتارفیه نوع مدافعه لماتقدم الیٰ قوله ولایخفی ان المتبادرانهما قولان فی جعل المسجدطریقا بقرینة التعلیل المذکورویؤیده مافی التاتارخانیة عن فتاوی ابی اللیث وان ارادا هل المحلة ان یجعلوا شیئاً من المسجدطریقاللمسلمین فقدقیل لیس لهم ذلک

---

(۱) اصل کتاب کې یې داسرخی په عربی کې لیکلی ده الفصل الثانی ردماشاعه بعضهم فی الاحکام المتعلقة بجعل بعض اجزاءالمسجدطریقا وشرائط القاضی الامریه ۱۲ محمد شفیع رحمه الله ختم

سوال :(۷۸۵) دفقهاؤ د روايت نه داسی معلوميږی چه د جومات جومات کيدو دپاره دا شرط دی چه دبنده حقونه دهغه نه ختم شی او بل داچه جومات د تحت الثری نه تر اسمانه پوری اوددی ددو وجونه د جومات دلاندی دوکانونه جوړول جائز نه دی (لکه څنګه چه متعارف دی) او په دی ددی جهت په جومات داخل نه شی ګڼړلی ليکن د درمختار په يو روايت سره دی نسبت کښې شبه راشی د درمختار کتاب الوقف کښې راځی ،واذا جعل تحت سرداباالمصالح جازولو جعل لغيرها اوجعل فوقه بيتا وجعل باب المسجدالی طريق وعزله لمن عن ملكه ولايكون

مسجدا، دی باندی شامی ليکې ظاهره انه لافرق بين ان يكون البيت للمسجد اولا الا انه يوخذمن التعليل ان محل عدم كونه مسجدافيما اذالم يكن وقف علی مصالح المسجد وبه صرح فی الاسعاف فقال واذاكان السرداب والعلولمصالح المسجداوكان وقف عليه صارمسجد كونه مسجداً ان يكون سفله وعلوه مسجدا ينقطع حق العبد لقوله تعالیٰ وان المساجدلله بخلاف اذاكان السرداب اوالعلوموقوفا لمصالح المسجدفهوكسرداب بيت المسجدالمقدس هذاهوظاهر الرواية الخ اوفتح القدير كتاب الوقف کښې راځی بخلاف مااذاكان السرداب او العلو لمصالح المسجد فانه يجوز اذلاملک فيه لاحدبل هومن تتميم مصالح المسجد فهوكسرداب مسجدبيت المقدس هذاهوظاهر المذهب الخ شامی باب مكروهات الصلوة کښې راځی تحت قول درمختار لانه مسجدالی عنان السماء بفتح العين وكذاالی تحت الثری كما فی البيری عن الاسبيجابی بقی لوجعل الواقف تحته بيتاً للخلاء هل يجوز كمافی مسجدمحلة الشحم فی دمشق لم اره صريحا نعم سياتی متنا انه لوجعل تحته سرداباالمصالحه جازتامل الخ ، وروميی روايت کوم چه يې داسعاف نه نقل کړيدی او كان وقفاعليه عطف په كان لمصالح المسجد باندی دی ددی نه صفا ښکاره کيږی چه که چرته جومات باندی وقف وي نو که چرته د جومات د مصالحو دپاره نه وی خو جومات جومات دی او علو او سفل کښې څه وجه د فرق نشته دی صورت کښې ددوکانونو وقف علی المسجد کيدل ښکاره دی په دی وجه جومات کيدل ددی د سطحې ثابت دی ځکه چه علت د سرداب او علو د موقوف علی المسجد په دی کښې موندی کيږی علی هذا بحر الرائق نه يې چه کوم عبارت نقل کړيدل او دفتح القدير د عبارت نه هم ددی تائيد کيږی د شامی چه کوم عبارت کتاب الصلوة کښې دی په هغې کښې يې خونيت الخلاء ، هم د جومات دلاندی کيدل جائز کړيدی اګرچه په اخر کښې يې تامل هم وئيلی دی خو دومره ضرور معلوميږی چه د جومات الی عنان السماء ، والی تحت الثری يې دامعنی نه ده ګڼړلی کومه چه مونږ خلق ګڼړوکنی ددی په ناجائز کيدو کښې څه شبه وي ځکه چه هر کله تحت الثری پوری جومات دی نو بيابيت الخلاء ، څه رنګ جائز کيدی شی د بحر روايت نه معلوميږی چه حق العبد منقطع کيدل کافی دی ځکه چه اګرچه لاندی يا بره جومات نه وي خو وقف وي نو کافی دی دی سره هم ددوکانونو جوړولو د جواز تائيد ښکاره دی ، مولاناعبد الحی صاحب مرحوم په خپل مجموعه فتاوی دويم جلد استفتا نمبر ۲۰۱ کښې دی روايتونو سره دليل نيولی او ددوکانونو

جوړولو اجازت يې ورکړيدی اودهغی چهت ته يې دجومات حکم ورکړيدی دی روايتونونه علاوه دی سره نزدی نزدی نورروايتونه يې دزيلعی شرح کنزاوعينی شرح کنزنه نقل کړيدی که هلته کې فتاوی موجود وی نواوګوری کنی دلته نه دهغی نقل درليږلی. کيدېشی باقی دسفله وعلوه مسجدمعنی هغوی بيان کړيده چه حق العبد پکې ختم شی داتاويل دعبارت دالفاظوخلاف دی غرض داچه ددی په نسبت موږ په هيڅ اوبه نه ځنی؟

جواب: دی مسئله کې داپوه ته راځی چه اصل مذهب خوداذي چه عنان السماء اوتحت الثری پوری ټول جومات دی خودضرورت په وخت کې داصل مذهب نه عدول کړي شويدی اګرچه ددی عدول يې ډيری وجی ليکلی دی اوهغی يې په اصل مذهب باندی برابر کړيدی خوزيره نزدی داده چه دابربروالی ډيرګران دی اواصل توجيه يې ضرورت دی پيدی وجه هدايه کې دصاحبينوته بغداد اودی کې دداخليدوپه وخت کې داجازت روايت ددی ګواه دی: ۷رجب ۱۳۲۴هـ (امدادثانی ص ۱۰۵)

سوال : (۷۸٦)څه فرمائی علماء دين اومفتيان شرع متين په دی مسئله کې چه که دجومات په برنی منزل باندی وي اودهغی دلاندی ضرورتونه اونورځه مصلحتونه دجومات دپاره استعمالولی شی نوجومات دجومات حکم لري يانه اودغه شان دجومات تعمير جائزدی يانه؟

جواب: في الدرالمختاران جعل تحته سرداباًلمصالح المسجدجاز كمسجدالقدس ولوجعل بغيرهااوجعل فوقه بيتاًوجعل باب المسجدالی طريق عزله عن ملكه لاالیٰ قوله مالوتمت المسجدية ثم ارادالبناء منع ولوقال عنيت ذلک لم يصدق (تاتارخانية) فاذاكان هذا في الوقف فكيف بغيرفيجب هدمه ولوعلی جدارالمسجدولايجوزاخذالاجرة منه ولا ان يجعل شيئاً منه مستغلاً ولاسكنیٰ بزازية الخ. ص ۵۷۲ ج ۳. دی وروايت نه معلومه شوه چه که چرته دجومات دپوره کيدونه مخکې داسی وکړيشی نوجائزدی کنی ناجائز. ۲۴جمادی الثانی ۱۳۳۳هـ (تتمه ثالثه ص ۴۴)

سوال : (۷۸۷)دلاندينوروايتونونودتطبيق هم دبنده دتسلی دپاره وليکئ درمختار کتاب الوقف کې راځی واذاجعل تحته سرداباًلمصالح جاز. ددی پاسه شامی ليکئ. ظاهره انه لافرق بين ان يكون البيت للمسجد اولاالاانه يؤخذمن التعليل ان محل عدم كونه مسجدا فيما اذالم يكن وقفاعلیٰ مصالح المسجد وبه صرح في الاسعاف فقال واذاكان السرداب اوالعلولمصالح المسجد اوكاناوقفا عليه صارمسجدا الخ شرنبلالية قال البحر وحاصله ان شرط كونه مسجدا ان

يكون سفله وعلوه مسجدا لينقطع حق العبد عنه لقوله تعالیٰ وان المساجد لله بخلاف اذاكان السرداب والعلوموقوفالمصالح المسجد فهوكسرداب بيت المقدس هذاظاهرالرواية الخ ج ۳ ص ۵۷۳ اوبل په شامی باب مكروهات الصلوة کې راځی تحت قول درمختار لانه مسجدالی عنان السماء بفتح العين وكذا الی تحت الثریٰ كمافی البيری عن الاسبيجابی بقی لوجعل الواقف تحته بيتا للخلاء هل يجوز الخ الی قوله تامل الخ ص ۴۸۲ ج ۲ (۱) آياد صارمسجد اصرف دامعنی شوه چه حق العبد ددی تکړی دزمکې نه يعنی ددی دتحت الثری نه ترعنان السماء پوری ختم شی اوفوق اوتحت باندی دجومات احکام شرعيه نه جاری کيږی يعنی بول اودس ماتی وغيره به جائزوی حالانکه په دی ځای کې شامی ليکئ چه دجومات دپاسه داسی کارونه جائزنه دی اودهغی دلاندی دبيت الخلاء وغيره اجازت ورکړی (۲) آيادجومات دپاسه اوددوکانونودچهت دپاسه کوم چه دجومات فرش دی په دی باندی دفرض لمونځ کولوثواب دجومات په شان نه دی يعنی دجومات دپاسه فرض لمونځ کول اوپه هغه حصه کومه چه ددوکانونوچهت دی په هغی باندی دجمع لمونځ کول مکروه خونه دی اودلته دفرض لمونځ کولوثواب دجومات کيږی يانه؟ (۳) که چرته ددوکانونوپه چهت دجومات ثواب ملاويږی نودجومات دلاندی دوکانونوجوړول اګرچه دجومات دفائدودپاره وقف وي ايادا جائزدي که چرته جائزوي نوبياخودجومات په چهت باندی هم داسی دوکانونه جوړول جائزکيدل يکاردی ځکه چه اصل مسئلی نه تجاوزدی داخودواړوصورتونوکې يوشان معلوميږی اميددی چه بنه تفصيلی اوزړه پخودونکې جواب وليکئ الله دی ثواب جزيل درکړی؟

جواب: غالباً تادصارد ضمير مرجع سرداب اوعلوګرځولی دی پس دامرجع نه ده اوديته يې جومات نه دی وئيلی بلکه ددی مرجع هغه جومات دی چه دهغی دفائدی دپاره سرداب اوعلووقف کړي شوه مطلب داچه که څوک جومات جوړکړي اوهغی سرداب اوعلوپه خپل ملکيت کې پريږدی دجومات سره متعلق يې نه کړه نوداجومات هم جومات نه شوداجومات به هغه وخت جومات وي چه کله داسرداب اوعلودجومات فائده دپاره جوړکړي بايې جومات دپاره وقف کړی اودبحر دعبارت حاصل دادی چه داچه دفقهاء دعبارت نه کوم معلوميږی چه جومات هله جومات ګرځی چه دهغی علواوسفل ټول جومات وي. پس ددی کلام نه دامه ګڼړه چه علواوسفل دی هم جومات وي بلکه ددی دشرط ګرځولونه اصل مقصوددادی چه دي سره حق دبنده ختم شی برابره خبره ده چه دجومات کيدوپه وجه سره ياوقف علی المسجد په

وجه سره نو دا شرط کرخول دجومات والی تمثلاً دی نه چه حصراً او اصل شرط انقطاع دحق العبد ده. او که تمیثلاً نه وي نو تعلیلاً دی نو اشتراط علت سره چه هغه انقطاع دحق العبد ده حکم معلول به هم عام شی او کوم ځای چه انقطاع نه وي هغه جومات نه دي او ینقطع سره الخ چونکه دی عدم انقطاع صورت هم معلومیږی دی اعتبار سره مخکښي بخلاف یې وویلو او داقول لانه مسجد الی عنان السماء وکذا الی تحت الثری ' داهغه صورت کښي دی چه کله دمخکښي نه دلاندی وي او س نه وي جوړ شوي بس تبعاً ټول جومات شو او که دوروستو نه یې دهغې دلاندی سرداب جوړ کړی وي نو قصد سره په هغه جزو مستثنی کریشی دللقصد ترجیح علی التبع . امید دی چه دی تقریر سره دسوال دټولو جزونو جواب شوي وي که چرته څه پاتی وي نو دوباره واضح عبارت سره تپوس وکړي ۱۷ جمادی الاول / ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه / ص ۳۱)

سوال: (۷۸۸) دېرتنی سوال سره متعلق دمسئلی جواب معلوم شو بالکل زړه مې یخ شو واقعی غلطی هغه وه کومه چه حضرت او فرمائیله ټول شهادت په هغه غلطی باندی متفرع وي او س بالکل ختم شول الله دثواب جزیل او اجر عظیم درکړی . دنوری تسلی دپاره دیوی بلی خبری تپوس کوم چه دجومات دلاندی بیت الخلاء چه په سرداب باندی قیاس کریشی جوړلی شی یانه شامی دهغې باره کښي صرف دتامل لفظ لیکلی دی؟

جواب: سرداب کښي یې داقید لګولی دی چه لمصالح المسجد او بیت الخلاء خو بیکاره خبره ده چه دیته دمصالح دجومات نه نه شی شمیرلی هغه یو حاجت طبعیه دی ددی دجومات سره څه نزدی تعلق نشته او نه دجومات داغراضو په دي پوره کیدو کښي دیته څه دخل شته او په واسطو سره لری ته هم اعتبار نشته کنی داقید به بالکل بیکاره شی ځکه چه دهر یو فعل په لرو واسطو دجومات سره څه نه څه تعلق راوتی شی په دی وجه زما په نزد ددی څه جواز نه معلومیږی بل داچه عرفاً داحترام خلاف هم ده بل داچه دیکښي لمونځ ګزارو ته هم تکلیف رسی او حدیث کښي دکچه پیاز خورونکښي په حق کښي فلا یقربن مصلانا راغلی دی کوم چه دخول سره عام دی دي سره قصداً دبدبویې شی جومات ته دروارلو او ددجوړولو بندی معلومیږی ۱ جمادی الثانی / ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه / ص ۳۲)

عدم جواز ساختن حوض که جزوی ازان زیر مسجد باشد

سوال: (۷۸۹) څه فرمائی عالمان ددین دی مسئله چه یوه محله کښي یوه پریخوانی جومات دی دهغې مخی ته یوه بله زمکه ده دجومات صحن سره په هغې کښي دجومات دپاره یو حوض جوړول غواړی خو حوض دپاره هغه زمکه پوره نه ده که چرته هغه حوض لږغوندی دجومات دلاندی راشی او دهغې دپاسه دغه شان چهت واچولی شی لکه څنګه چه مخکښي وه نو آیا دا صحیح دي یانه دی صورت کښي به جومات هم کم نه شی او حوض به هم ددوو ګزو په اندازه دجومات دلاندی راشی او بره نه به پټ کریشی دمخکښي په شان خلق هغې کښي لمونځ کولی شی بینوا توجروا ؟

جواب: صحیح نه دی ' ربیع الاول / ۳۹ھ (تتمه خامسه / ص ۱۸۳)

عدم جواز ساختن حوض که جزوی که ازان زیر مسجد الخ

سوال: (۷۹۰) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دي مسئله کښي چه جامع مسجد حسن پوره کښي حوض نشته دهغې په وجه اودس اسانی سره نه شی کیدي او دجومات دصحن نه علاوه نوره زمکه دحوض جوړولو دپاره نه شی حاصلیدی که چرته دجومات په صحن کښي حوض په شکل دمستطیل چه دهغې اوږدوالی څلیریشت ګزه او پلنوالی څلور ګزه څلورواړه طرفته چه داټوله رقبه سل ګزه شوه جوړ کریشی او بره نه پری چهت واچولی شی دي دپاره چه دنمونځ په ځای کښي څه کمی رانشی او اودس کولو دپاره چه اودس کومه نالی داودس موجود ده او دیوال چه دهغې دواړه مجموعه پاؤ باندی یو ګز ده دومره پوره ده ددی جوړول جائز دي یانه بینوا توجروا؟

جواب: فی الدرالمختار فی دلیل بعض الفروع لانه مسجد الی عنان السماء فی ردالمحتار وکذا الی تحت الثری ' الخ ج ۱ / ص ۲۸۲ / وفی الدرالمختار واماالمتخذ لصلوة جنازة او عید فهو مسجد فی حق جواز الاقتداء وان انفصل الصفوف رفقابالناس لافی حق غیره به یفتی وفی ردالمحتار قوله به یفتی لکن قال فی البحرانه یجوز الوطاء والبول والتخلی فیه ولایخفی مافیه فان البانی لم یعده لذلک فینبغی ان لایجوزوان حکمنا بکونه غیر مسجد الخ ، ج ۱ / ص ۲۸۷ / او فی الدرالمختار محرمات المساجد والوضوء الافیما اعد لذلک وغرس الاشجار الالنفع کتقلیل نزوفی ردالمحتار قوله والوضوء لانه ماءه

مستقذرطبعاً فیجب تنزیه المسجدعنه کمایجب تنزیه عن المخاط والبلغم بدائع قوله کتقلیل نز قال فی الخلاصه غرس الاشجارفی المسجدلاباس به اذکان فیه نفـع للمـسجدبان کـان المسجد ذانزووالاسطرانات لا تستقربدونها وبدون هذالایجوزالخ ، وفی الهندیة عن الغرائب ان کان لنفع الناس بظله ولایضیق علی الناس ولایفرق الصفوف لاباس به وان کان لنفع لنفسه بورقه اوثمره اویفرق الصفوف اوکان فی موضع تقع به المشابهة بین البیعة والمسجدیکره الخ وبعداسطرلان فیه شغل مااعد للصلوة ونحوهاوان کان المسجدواسعا اوکان فی الغرس نفع بثمرته الخ ج۱ ص۲۹۱؛
دی روایتونو نه معلومه شوه چه حوض په دغه طریقه کوم چه سوال کښې ذکرشویده جوړول جائزنه دی وړومبی ددی وجه نه چه بانی دجومات فرش دی غرض دپاره نه دی جوړ کړی انظرالی قوله فان البانی لم یعده لذلک الخ دویم دی دپاره چه په حوض کښې کم اوزیات داودس اوبه غورزیږی اودهغی په جومات کښې غورزول جائزنه دی انظرالی قوله لان ماء مستقذرالخ دریم ځکه چه دی سره دلمونځ ځای تنګیږی اوصفونو کښې جدوالی راځی اوداجائزنه دی انظرالی قوله ولایضیق علی الناس الخ اوپه کموالی دچینوباندی دامه قیاس کوه ځکه چه هغه دسخت ضرورت دوجه نه دی اودلته سخت ضرورت نشته انظرالی قوله والاسطرانات لاتستقرالخ .اوداشبه اونه کړشی چه دهغی دپاسه به چهت جوړکړو نوتنګوالی اوجدوالی دصفونوبه ختم شی ځکه چه وړومبی خودچهت اچولوپوری داویره لازم ده دویم په چهت کښې هم څلورواړه طرفته دنالی خواخواکښې خامخاځه ځای خالی پاتی کیږی دومره اندازی سره په اتصال کښې به نقصان راځی اوداشبه هم مه کوی چه داودس اوبه که غورزیږی خوداوبوپه سطح به غورزیږی دجومات
په فرش نه غورزیږی جواب دادی چه هغه سطح هم جومات دی انظرالی قوله لانه مسجد الی عنان السماء الخ ، ۲۲ رجب/ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانی ص۵۸)

منع بناء دوکان وطریق زیرفنائی مسجد

سوال :(۷۹۱) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کښې چه که دیو جومات څه حصه په غلطی سره یادحاکم په جبرسره شهید کړی شویدی اوبیاوروستو دهغی وران کړی شوی حصی دتعمیراجازت حاصل شی نودشریعت موافق عام مسلمانانوته په نوی تعمیر کښې داسی طریقی باندی دبدلولوچه عمارت کوم چه دلمونځ ګزارو دلمونځ دپاره پکاروه په خپل

زوړ حالت باندی جوړ کړی شی اودهغی حصی دعادت په بره حصه کښې دمخلوق داسانتیا دپاره اودوخت دمصلحت دپاره دوکان یالاره هم جوړه کړیشی کومه چه دورانولونه مخکښې دخاورونه ډکه کړی شوی دونګاچه وه جائزدی یانه بینواتوجروا؟

جواب :فی العالمگیریة قیم المسجدلایجوزله ان یبنی حوانیت فی حدالمسجداوفی فنائه لان المسجداذاجعل حانوتاومسکناتسقط حرمة وهذالایجوزوالفناء تبع المسجد فیکون حکمه المسجد کذافی محیط السرخسی (ج۳ ص۲۴۱) وفی البحرالرائق فی المجتبی لایجوزلقیم المسجد ان یبنی حوانیت فی حدالمسجداوفنائه (ج۲ ۲۲۹) وفی فتح القدیرعن المصنف من کتاب التجنیس قیم المسجداذااراد ان حوانیت فی المسجد اوفی فنائه لایجوزله ان یفعل لانه اذافعل المسجدمسکناتسقط حرمة المسجد اومالفناء فلانه تبع للمسجد (ج۵ ۴۴۲) دی روایتونو نه ثابت شوه چه جومات کښې هم اودجومات په فناء کښې (یعنی هغه حصه کومه چه جومات سره متعلق ده لکه داودس ځای وغیره) هم دوکانونه جوړول جائزنه دی اودی نه ثابته شوه چه لاره هم په طریقه اولیٰ جوړول جائزنه دی ددو وجونه یو ځکه چه ددوکانونه تعلق خوبیا م دجومات سره راتلی شی اوپه دیکښې کله کله مصلحت دجومات هم وی هرکله چه هغه هم جائزنه دی نودتلوراتلولاره چه هغی کښې دجومات څه مصلحت شته اونه دهغی جومات سره څه تعلق شته نوځنګه به جائزشی . دویم ځکه چه برنوروایتونوکښې یې دهغی احترام یې بنیادحکم ګرځولی دی اودابنکاره خبره ده چه په لاره جوړولو خوددوکان په نسبت زیات احترام ضائع کیږی ځکه چه دوکان په نسبت لاره کښې عموم زیات دی اوداشبه دی ونه کړی شی چه دلته په صحن کښې نه جوړوی بلکه دصحن دلاندی جوړوی خبره داده چه برنوروایتونوسره په باب کښې دجومات دصحن حکم تبعاً په جومات کیدل معلوم شول اولاندینی روایت کښې دجومات لاندی دوکانونه جوړول ناجائزثابتیږی نودصحن دلاندی هم ناجائزشول اووجه دهغی داده چه جومات اودصحن دجومات دآسمان نه درتحت الثری پوری جومات اوصحن دجومات دی هغه روایت دادی . اواراد ان یتخذتحت المسجدحوانیت علة لمرمة المسجد اوفوقه لیس له ذلک کذافی الذخیرة عالمگیری ج۲ ص۲۳۸) البته ابتداء کښې دجومات تعمیرسره مخکښې دجومات کیدلونه بره یالاندی عمارتونه دجومات دمصالحوسره متعلق جوړولو ذکرفقهاؤ کړیدی . ۴ ذی قعده/ ۱۳۳۱ھ (تتمه ثانی ص۹۱)

ادخال طریق در مسجد

سوال :(۷۹۳) د جوماٰت مخ ته دلاری سره یو ځای او پره زمکه که بعضی محلی والا جومات کي شاملول وغواری او د کمیټي نه اجازت وغواړی نو داحکم جومات کي داخل او اخستل بي صحیح کیږی یا نه ، دلاری مقدار شرعی او قانون سبعه بلکه د مخکینی تنګی لاری نه دوه ګوتي بریږده نو دا حصه اخستی شی ایا په دی کي تولی محلی والو رضا صراحتاً ضروری ده ، د بعض خیال دی چه دا د حکومت په ملکیت کي ده او کمیټي ته د سرکاری ملکیت اجازت نشته هن په وزکولو باندی څه منعه هم نه کوي او نه دی حصی لره په جومات کي داخلول او لمونځ کول پکي صحیح دی مختصراً خو مدلل او د مضبوط جواب ضرورت دی؟

جواب : فی الدرالمختار جعل شئ من الطریق مسجدا لضیقه ولم یضربالمارین جازوفی ردالمختار عن التارخانیة سئل ابوالقاسم عن المسجد اراد بعضهم ان یجعلو رجته والرحبة مسجدا اویتخذوالہ مابا اویحراوابابه عن موضعه وابی البعض ذلک قال اذاجتمع اکثرهم وافضلهم لیس للا قل منهم الخ ج۳/ص۵۹۳/فی الدرالمختارباب استیلادالکفار ولوسبی اهل الحرب اهل الذمة من دارنا لایملکوهم لانهم احرار وبعداسطر ولوغلبوا علی اموالنا وحرزوها بدارهم ملکوها ، دی روایتونو نه ثابته شوه چه لاره د عام بادشاه وخت ملکیت نه دی بلکه عام حق دی او که جومات کي حاجت وي او لاره ګیرونکو ته تنګی نه وي نو د محلی والو د زیاتو یا د افضل خلقو مشوری سره ملاوول جائز دي او د کمیټي د اجازت ضرورت د مصلحت دوجه نه دي او هغه تملیک نه دي چه په دي باندی شهادت پیداشی او حدیث کي چه کوم سبعة اذرع راغلی دي هغه تحدید او اندازي د پاره نه دي بلکه هغه وخت دي سره حاجت او چتیدی شو فقط والله اعلم ۔ (۳۰ ربیع الاول/۱۳۲۵ھ/امدادثانی/ص۱۰۹)

سوال :(۷۹٤) د لته نزدی یو کلی کي یو جومات دی چه د هغی جنوب طرفته د ډیر وخت نه یو عامه لاره ده واقع شوی ده چه په هغی د خلقو تلل او د غویانو د ګاډی تګ همیشه نه کیږی او س خلقو هغی طرفته د جومات زیاتولو قصد وکړو او د هغه لاری څه حصه یي د باؤکړه او س سوال دادي چه د عام لاری حصه د باوول د جومات زیاتوالی د پاره جائزده یا نه . لاره مخکي لس لاسه وه او س پنځه لاسه شوه په دیکي د ګاډو یو ځای تلل نه شی کیدی البته نمبر په نمبر تللی شی په دی څه قسم تکلیف خو نشکاره دی دویم سوال دادی چه که یو سړک د مخکي نه لس شل لاسه

وي نو د جومات د زیاتوالی په غرض که او ه لاسه پاتی شی نو نور د باؤولی شی یا نه او حدیث اذا خالفتم فی الطریق الخ ، د دی پاره محل معلومیدی شی یا نه ، طحاوی خو دا بیان کړیدی چه په کولاؤ کړي شو و کلو کي چه ابتداء کومی لاری جوړی کړیشی نو د اختلاف ختمید و د پاره دا حدیث دی کذافی حاشیة البخاری؟

جواب : (۱) فی الدرالمختار جعل شئ من الطریق مسجدا لضیقة ولم یضربالمارین جاز وفی ردالمختار قوله، لضیقة ولم یضربالمارین افادان الجوازمقیدبهذین الشرطین ، دی روایت نه معلومیږی چه که د لاری څه حصه جومات کي داخلولو سره د لاری خلقو ته تکلیف وي نو جائز نه دی او تکلیف مدار په عرف باندی دی او یقینی خبره ده چه د دوو ګاډو یو بل ته مخامخ و تلو په ځای او س یو ګاډی تیریږی او س دا عرفاً تکلیف او موجب د تنګی دی لکه څنګه چه په اهل ذوق سلیم باندی پټه نه ده په دی وجه دی صورت کي د لاری په جومات کي د ننه کول جائز نه دي او که چرته جومات کي بالفعل تنګی نه وي نو د عدم جواز دوه علتونه جمع شول (۲) عن ابی هریرة ﷺ قال قال رسول الله ﷺ اذاختلفتم فی الطریق جعل عرضه سبعة اذرع رواه مسلم ، یعنی اذاکان طریق بین ارض قوم ارادوا اعمارها فان اتفقوا علیٰ شئ فذاک وان اختلفوا فی قدره جعل سبعة اذرع هذامدار الحدیث واما اذاوجدطریق مسلوک وهواکثرمن سبعة اذرع فلایجوزلاحدان یستولی علیٰ شئ منه له لکن له عمارة ماحوالیه من الموات وتملکه بالاحیاء بحیث لایضربالمارین الخ لمعارف طیبی رسید ، دی تفسیر سره د حدیث مراد معلوم شو او دا هم معلوم شو چه مسئله مبحوث عنها کي د دی نه استنادنه شی کیدی باقی د دی جواز او نه جواز ضرور په عدم ضرر باندی دی لکه څنګه چه د وړومبی سوال په جواب ولیکلی شول والله اعلم ۔ (۲۸ ربیع الثانی/۱۳۲۴ھ/امدادثانی/ص۱۷۴)

د نابالغه په زمکه کي جومات جوړول جائز نه دي

سوال :(۷۹۵) یو کلی دی چه د هغی آبادی تقریباً شپیته کوره ده په هغی کي صرف شل کسه لمونځ ګزاردی او نوری څه زنانه دی او نابالغه هلکان جینکئ دی او په کلی کي زوړ جومات دی او دیته نزدی تقریباً پنځویشت قدمه فاصله کي یو مکان غورزیدلی شوي وه او د هغی کهاته مشترک وه چه د هغی څه وارثان بالغ دی او څه نابالغه دی او یتیمان هم او س بعض

خلقو دی مشترک مکان په ځای کې دیتیمانانو د اجازت نه بغیر کوم چه دیکې شریک وه نوی جومات صرف دهغې زوړ جومات د دشمنۍ او د امام صاحب د حق ختمولو دپاره جوړ کړیدی او دهغې زوړ جومات د قرات آوازدی نوې جومات ته د ډیرې تیزۍ سره ځی او د دی جومات جوړولو په وخت کې بې د ول و هلو شرعاً دوی نوی جومات څه حکم دی د مسجد ضرار حکم دی یا نه او د ازوړ جومات پریخودل او په نوی جومات کې دشمنۍ دوجه نه لمونځ کول او جمع کول جائز دي یا نه دکتابونو په حوالی سره جواب راکړئ او موږ د جواب منتظر یو ستاسو په جواب باندی به فیصله کیږی فقط؟

جواب: وروسته خو د دی دویم جومات بنیاد په خالص نیت باندی نه دی دویم د غیر په حق کې دی او غیر هم داسې دی چه دهغوی اذن شرعاً معتبر نه دي په دی وجه دا د جومات په حکم کې نه دی او دیکې لمونځ کول او هغه زوړ جومات پریخودل جائز نه دی ؛ والمسئلة ظاهرة والله اعلم ، ۱۸ ربیع الثانی / ۱۳۳۷ هـ (تتمه اول / ص ۱۲۲)

عدم جواز هدم مسجد بغرض مرمت وقت منع بانی

سوال: (۷۹۶) یو جومات په اکلتره ضلع بلاسپور مقام کې زما او زما ورور حاجی الهی بخش صاحب پنځه شپږ کاله کیږی چه تیار کړیدی خو اوس هغه خلق بالکل شهیدوي او دوباره دکانو د جوړول غواړی او داسې قسم جومات کې صرف شکایت دا دی چه د باران کې څه او به د چهت دوجه نه راځی ، اوس حاجي صاحب دا جومات د شهیدولو نه منع کوي او هغه خلق نه منی دی حالت کې که چرته حاجي صاحب د دی جومات د تعمیر خرچ د دوی نه وغواړی نو د دی څه مسئله ده څه حکم چه د حدیث رسول ﷺ د فرمان مناسب وي هغه ولیکې؟

جواب: که چرته د چهت شکایت دی نو د چهت کافی دی بغیر د ضرورت نه ټول جومات شهیدول صحیح نه دي او چونکه جوړونکې د جومات په متولی کیدو کې د ټولو نه مخکې دی په دوجه بانی د جومات د دی کار نه بندول کولی شی او ورانوونکو د خپل خرچ تاوان اخستی شی خو هغی لره په خپل خرچ کې نه شی راوستی بلکه جومات کې د هغی لګول واجب دی؛ ۲۵ ذیقعده / ۱۲۲۵ هـ (امداد ثانی / ص ۱۱۱)

دحکومت جومات دپاره زمکه ورکول او په هغې کې جومات جوړول

سوال: (۷۹۷) حکومت ؛ یعنی انګریزی حکومت کوم چه غیر مسلم وه ، که چرته جومات دپاره زمکه بالکل ورکړی او هغه واپس وانخلی او په هغې باندی خلق لمونځ کول شروع کړی نو آیا د حکومت دا وقف جومات دپاره صحیح دی او د دی زمکې باندی د جومات حکم شرعاً جاری کیږي یا نه ، ظاهری ایت خو د دی منافی دی ځکه چه د الله رب العزت ارشاد دی انما یعمر مساجد الله من امن بالله والیوم الاخر الخ؟

جواب: وقف علی المسجد په حکم د وصیت کې للمسجد دی او غیر مسلم که جومات دپاره وصیت وکړی نو د هغې حکم دا دی چه که چرته هغه دی لره قربت ګنړی نو صحیح دی کنې نه بس که چرته د حکومت په عقیده کې دا قربت وي نو بیا خو ښکاره ده چه صحیح دی او که چرته دهغه دا عقیده نه وی نو دهغې توجیه دا ده چه دا زمکه کومه چه حکومت ورکوي هغه په حقیقت کې د رعایاؤ وي او د ښار د مبرانو په مشوری سره یې ورکوي او دغه د ښار ممبران د رعایاؤ وکیلان وي او هر یو سړی د رعایاؤ خو د هغوی په توکیل رضامندی نه ښکاره کوي خو اهل حل و عقد او د مشرانو رضا د ټول قوم رضا ده او رعیت کې هندوان وي یا مسلمانان او د یر هندوان هم داسې مصرفونه کې عقیده د قربت لری په دی وجه دا وقف جائز دي او جومات چه کوم دی زمکه کې جوړ شویدی جومات دی او دا ایت مطلب بل دی کوم چه ذینده په تفسیر کې ذکر دی ؛ ۹ جمادی الثانی / ۱۳۲۸ هـ (تتمه اول / ص ۱۲۸)

حکومت په خپله مملوکه زمکه کې د عامو خلقو د خیر خواهي دپاره

سوال: (۷۹۸) حکومت په خپله مملوکه زمکه کې د عامو خلقو د خیر خواهی دپاره شفاخانه جوړول غواړی په هغه زمکه کې بعضی وران شوي جوماتونه هم دی هغه حکومت په خپل خرچ سره د جوړولو وعده کوي خو عامو خلقو ته هلته د تلو اجازت ورکول ګران دی البته د شفاخونو مریضانو او نوکرانو ملازمینو ته هر وخت اجازت دی او د جومات د جوړولو نه په څه وجه باندی عذر کوي خو دهغې د حفاظت دپاره دهغې احاطې د جوړولو هم وائی سوال دا دی چه دا صورت کې مسلمانان منظور کړي جائز دي یا نه؟

جواب: احکام شرعیه دوه قسمه دي یو اصلی بل عارضی دی صورت کې اصلی حکم دا دی چه جومات هر رنګه ازاد دی په دی کې هیڅ وخت کې هم نه چاته د لمونځ کولو نه بندول شته او نه

د راتلونه الا لمصلحة المساجد او دا حکم هغه وخت دي چه کله مسلمانان بغیر د څه فتنې او فسادنه (یعنی بغیر د وقوع في الخطر یا دلحوق ضرر المسلمین) په دې باندې قدرت لري او عارضي حکم دادی چه کوم صورت باندې صلح کیږي او رضامندي پرې راځي او دا حکم په هغه حالت کې دی چه کله مسلمانان په حکم اصلي باندې قدرت نه لري دهغې نمونه مسجد الحرام دی ځوپوری چه دمکې دمشرکانو په هغې غلبه وه نو حضرت ﷺ په هغې کې لمونځ هم کولو او دبیت الله طواف یې هم کولو په دیکې داسې وخت هم راغلی چه حضرت ﷺ د مدینې منورې نه مکې ته تشریف راوړو او مشرکینو یرې نخودو بیا په دې باندې صلح اوشوه چه درې ورځو دپاره تشریف رواړی او عمره وکړي او بیا یې حضرت محمد ﷺ دا صلح قبول کړه او لږ وخت پاتې شو او بیا یې تشریف یوړو دا ټول هغه وخت او شول کله چه غلبه نه وه دعذر په حالت کې حضرت ﷺ په عارضي حکم باندې عمل اوفرمائیلو بیا چه کله الله رب العزت حضرت محمد ﷺ باقاعده غلبه ورکړې نو هغه وخت یې په اصلي حکم باندې عمل اوفرمائیلو بس دا خو تفصیل دی دی صلح منظورولو کې او دحکومت ددې جوماتونو د مرمت وعده کول ددې هم په مسجد الحرام کې یوه نمونه شته چه مشرکینو دهغې تعمیر وکړو او حضرت ﷺ دقدرت په وخت هم دغه تعمیر په خپل حال باقي پریخود و البته دې وعده کې دومره بدلولو درخواست مناسب دی چه کوم جومات چه صرف احاطې سره محفوظ کول غواړئ هغه دې هم دجومات په شکل جوړ کړي اګرچه یوه دونګا چه غونډې جوړه کړي او که ډیره مجبوري وي نو صرف په احاطې باندې صبر اوکړي خو یو کاڼړی نقشه کړې شوي او دروي

(عاشر رجب ۱۳۴۹)

په نوی جومات کې زوړ شاملولو سره د زوړ ابادې کیږي یانه

سوال: (۷۹۹) زوړ جومات د نوی جومات په صحن کې شامل کړي شو په هغې کې څه عمارت جوړ نه کړي شو نو ایا د نوي جومات په مخامخ صحن کې یا د ننه لمونځ کولو سره به زوړ جومات هم آباد ګڼړلې شي یا خاص د زوړ جومات په صحن کې لمونځ کول ضروري دي؟

جواب: هغې سره دا زوړ هم اباد شو الحمد الله فقط ۲۸ صفر ۱۳۳۰ (تتمه اول / ص ۱۳۲)

تعمیر هیئت مسجد

سوال: (۸۰۰) زمونږ د محلې جومات په زوړ عمارت سره لږ نسکته دی په دې مونږ دا نسکته والی لرا او چتوا او دهغې په زوړ بنیاد باندې نوی جومات غواړو او چونکه دجومات دکوټې اوږد والی او پلنوالی زیات او دصحن کم دی اوس اراده ده چه جنوب طرفته څه حصه دجومات دکوټې بهر کړيشي او دهغې نه حصه په صحن کې اولګولی شي یا هغه بهرنی حصې نه دوه درې حصې جوړ کړيشي اطلاعاً عرض دی چه دي کې ددې قسما قسم ادلون بدلون کولو مانع شرعاً څه شته یا نه دهغې دا اوامرو او نواهیو نه چه څه حکم وي هغه نافذ کړي بینوا توجروا؟

جواب: اوریدلې شوي دي چه دې طرفونو کې دجومات صحن سره دجومات په شان مفصله نه شي کیدلی که چرته دا صحیح که چرته وي نو دجومات دکوټې څه حصه په صحن کې شامول صحیح نه دی کنې دا به خلق دجومات نه بهر وګڼړي جائز نه دي او که چرته دا خبره نه وي نو صرف دنسکته والي نه و چتولو یا زیاتو څه باک نشته خلاصه داده چه څومره زمکه اوس جومات ګڼړلی شي دهغې څه حصه دجومات نه به بهر شکل جوړول چه دهغې نه دا معلومیږي چه حصه دجومات نه بهر ده صحیح نه دي ۲۸ ربیع الثاني ۱۳۳۱ھ (تتمه ثاني / ص ۲۲)

مال تجارت داشتن در مسجد

سوال: (۸۰۱) څه فرمائي علماء دین او مفتیان شرع متین په دې مسئله کې چه یو سوداګر قران شریف او عربي فارسي درسي کتابونه دتجارت په جومات کې په صندوق کې کیږدي او دجومات نه یې بهر بیا خرڅوي او باقي بیا به صندوق کې کیږدي او ددې سوداګر په دې کې داغرض دی چه په جومات کې کیخودل صحیح دي یانه او دا سوداګر مرتکب دګناه دی یانه؟

جواب: مال تجارت حاضرول هر کله چه اعتکاف کوونکې ته جائز نه دي نو بیل چالره څنګه جائز کیدیشي که چرته جومات سره نزدې څه مکان یا حجره کې یې کیږدي نو دمتولي په اجازت سره جائز دي که په کرایه وي او که بغیر کرایه وي (۱ جمادی الاول ۱۳۳۱ھ تتمه ثاني / ص ۲۵)

تسلیم ثمن در مسجد

سوال: (۸۰۲) یو سړی یو شی دجومات نه بهر خرڅ کړي او لمونځ دپاره جومات ته راشي یا دغه شان دهغې قیمت په جومات کې ملاوشي نو اخستي شي یانه؟

جواب: فی الدر المختار احکام المسجد وکل عقد الا المعتکف وفی رد المحتار الظاهر ان المراد به عقد المبادلة الخ، چونکه داعقد نه دی عقد سره چه کوم شی واجب شوي وه دهغی سپارل دی په دی وجه دا جائزدی. (۱۱ محرم ۱۳۳۳هـ)

په جومات کې دبجلۍ د رڼا حکم

سوال: (۸۰۳) خادم نمرپرست (د نمر عبادت کوونکې) لیونی دی چه دلائلین مخې ته د شپې ولاړ دی عبادت کوي اوس عام طور باندې جوماتونو کې د سرد پاسه د بجلۍ رڼاوي یا مخې ته چه ولګیلی شي نو جواب ملاویږي چه دې سره جومات خانسته کیږي حالانکه خانست په جومات کې لمونځ کزاروسره دی کوم چه په ډیره ګرانه جومات ته راځي خیر. خادم یو کوټ کې اودریږي لمونځ کوي امام شاته اوس نه اودریږي تولوته معلومه ده چه دجومات دبجلۍ دڼا یو طرفته کړي چه څه قسم شبه پاتې نه شي حضرت دعا او فرمائی او خادم دی د دی رڼا ته جد المونځ کوي یانه څه حکم دی؟

جواب: فی الدر المختار مکروهات الصلوة - اوشمع اوسراج اونار توقد لان المجوس انما تعبد الجمر لا النار الموقدة قنیة وفی رد المحتار تحت قوله - اوشمع وعدم الکراهة هو المختار کما فی غایة البیان الی اخر ماقال - دی عبارت نه معلومه شوه چه دیکې اختلاف دی خو غوره داده چه دیکې کراهت نشته خو هر کله چه علت د کراهت عبادت دی او په سوال کې یې د عبادت مشاهده خودلی ده نو احتیاط غوره دی خو ضرورت هم اسانیتا ته راځکوونکې دی که چرته دا رڼا الرۍ کول ګران دي نو د ګنجائش حکم به ورکړي او که چرته اسانی سره انتظام کیدیشی نو د اختلاف او داشتباه نه بچ کیدل عزیمت دی والله اعلم. (۲۰ شوال ۱۳۵۴هـ النور رجب ۱۹ ذی قعده ۱۳۵۵هـ)

عدم جواز هدم مسجد برائ مسجدی دیگر که وسیع تر باشد

سوال: (۸۰۴) څه فرمائی علماء دین په دی مسئله کې چه یو جومات په محلی والو تنګ دی او هغی سره ګیرچاپیره ځای نه ملاویږي یا ملاویږي خو د خلقو دومره وس نشته چه هغوی دومره روپی ورکړي او بیا جومات جوړ کړي ځکه چه روپی ډیری خرچ کیږي او هغوی طاقت نه لري او هغوی بل ځای پراخه جومات تیارولی شي خو په دی شرط چه دو روسبي جومات لرګی

وغیره بل جومات کې ولګوي کنې بل جومات هم په مشکله سره نه پوره کیږي آبادي صورت کې محلی والا بل ځای کې نوی جومات په خپله محله کې د دو روسبي جومات په سامان او زیاتی روپو لګولو سره تیارولی شي یانه که چرته تیارولی شي نو د دوروسبي جومات د ځای په کومی طریقی سره حفاظت وکړیشي نه دلیلونو سره بیان کړي؟

جواب: د یو جومات قصد سره وړانول د بل جومات د پاره څه رنګ جائز کیدیشی بل جومات بالکل ساده د تکلفاتو نه بغیر جوړ کړي خو مره چه ډیر زیر چه اسانتیا سره جوړ شي د مسجد نبوی تعمیر په خپله حضور ﷺ خومره ساده فرمائیلی وه هغه شان اوس هم ساده لرګونه جوړولی شي بیا چه خدای تعالی چاته توفیق ورکړي نو هغه به یې پوخ کړي لکه څنګه چه مسجد نبوی حضرت عثمان رضی الله عنه وروستو پخه مضبوط او علیشان جوړ کړي وه. (۱ صفر ۱۳۳۲هـ تتمه ثانی ص ۱۲۲)

حکم زمین که جزو مسجدی منحرف بود بعد راست کردن خارج ماند

سوال: (۸۰۵) (۱) یو جومات تیار کړي شوي په طرف د قبلی نه وه هغه یې شهید کړو بیا یې د سرنه په طرف د قبلی جوړ کړونو یوه ټکره تقریباً دوه ګزه اورده او پاؤ باندی یو ګز پلنه سره د نخښو یو طرفته بچ شوه د غه ټکره په څه مکان یا دوکان کې چه د هغی امدنی صرف په جومات کې خرچ کیږي اخستل صحیح دی یانه (۲) ځکه چه اوس د دی په دی نوی تیار شوي جومات کې شریکول ممکن نه دی؟ (۳) او په پریخودو کې احتمال د بی ادبی وغیره کیدلی شی که چرته داسی صورت کې دا ټکره په څه مکان یا دوکان د جومات کې شامله کړیشي چه د دی امدنی د دی جومات د پاره وي جائز دي یانه؟ (۴) او که جائز نه وي نو د دی صورت کې دې سره څه وکړیشي؟

جواب: (۱) صحیح نه دی (۲) ولی ممکن نه دی صفونه به پکې نه شي او ریندلی باقی د منفرد د پاره د فرضو او سنتو اداکولو د پاره او ساتلی شي او جومات حصه د جوړه کړیشی (۳) او په دیکې به ایابې ادبی نه وي (۴) بره لیکلی شویدی. (۲۸ جمادی الثانی ۱۳۳۲هـ تتمه ثانی ص ۱۵۰)

حکم دفن باجرت در زمین وعدم صحت مسجد بزمین غیر بلاذن او اگرچه از قانون الخ

سوال: (۸۰٦) پس د سلام منون نه عرض دی چه زید یوه زمکه واخسته په څه کې یې جومات جوړ کړو او په څه کې قبرستان نه یې په دی شرط اخستی ده چه کوم سړی دیکې مړی ښخه وي هغه به د جومات د خرڅ د پاره پنځوس روپی ورکوي او په دغه ځای کې د مړی وارث نه

هیڅ قسم دعوی نشته یعني هر کله چه څلور یا پنځه کاله په دغه قبرستان تیر شي او دا قبر او غورزیږي او دغه ځای به زید بل چاته ورکوي دا پنځوس روپی کومې چه د جومات د خرڅ د پاره اخلي دا زید په خپل خرج کې نه راولي صرف د جومات د پاره یې دا طریقه راویستلې ده او زید وائي چه زه خود زمکوا خستل خرڅول نه کوم بلکه دمړي په ښخولو باندې پنځوس روپۍ اخلم کله کله به داسې کوم. اوس دا په شریعت د رسول ﷺ کې جائز دي یا نه بینواتوجروا؟ او دی ملک کې د زمکې مالک هندو دی او قبضه کوونکې مسلمان دی خو مسلمان داسې قبضه کوونکي دی چه هندو ده لره بهر کوولی نه شي دا انګریزی قانون په ذریعه مسلمان دی خو اختیار دی هغه په دی زمکه کې مکان، قبرستان، جومات دا ټول جوړولی شي خو هغه مالک هندو ته به خامخا خزانه ورکوي کوم چه د محکمې نه مقرر شوی ده اوس مسلمان دا زمکه قبرستان وغیره د پاره وقف کوولی شي یا نه په شریعت د رسول الله ﷺ کې بینواتواجروا؟

جواب: د وقف د شرطونو په صحیح کیدو کې یو شرط دا هم دی چه وقف کوونکې به مالک وي او دلته دا شرط نشته په دی وجه دا وقف جائز نه دی او بلکه څه تصرف او استعمال هم بغیر د خوښې د مالک نه جائز نه دی او که چرته یو سړی خپله مملوکه زمکه هم وقف کړي او دغه شان دمړي په ښخولو باندې روپۍ اخلي او جومات کې لګوي یا بغیر د وقف نه دغه شان روپۍ اخلي هغه هم جائز نه دی ځکه چه دا حقیقت کې دمړي په ښخولو باندې کرایه اخستل دی او کرائې د پاره لازم دی بیان د مودې او دلته دا ممکن نه دی په دی وجه دا عقد حرام او د شریعت خلاف دی ۱۲ رمضان/ ۱۳۳۱ هـ (حوادث اول ،ثاني / ۱۱۸)

زیادتی ثواب در مسجد نبوی و مسجد حرام عام است با جماعت اداکننده یا منفرداً

سوال: (۸۰۷) دا چه کوم حدیث شریف کې راغلیدی چه په مسجد حرام کې د یو لمونځ ثواب دیو لکه او په مسجد مسجد نبوی کې د پنځوس زرو برابر دی نو دا ثواب دی نو دا ثواب جمعې سره خاص دی که خانله لمونځ کوونکې ته هم که چرته خانله کوونکې ته هم دی نو جمعې سره لمونځ کوونکې ته به څومره ملاویږي؟

جواب: عام دی او د جمع اجر جدا دی ۱۲ ذی الحجه / ۱۳۳۱ هـ (تتمه ثاني / ص ۹۹)

تفرج و مشی در مسجد

سوال: (۸۰۸) په جومات کې د ننه ګرځیدل جائز دي یا نه؟

جواب: په جومات کې عمل غیر موضوع له المسجد کول قصداً او اعتیاداً جائز نه دی او دا ګرځیدل تلل راتلل هم داسې دی په دی وجه دی نه به هم منع کولی شي ۹ ربیع الاول/ ۱۳۳۴ هـ (تتمه رابعه / ص ۱۷)

سوختن روغن گل وگل کردن چراغ در مسجد

سوال: (۸۰۹) په جومات کې د خاورې تیل بلول جائز دی ځکه چه د لالټین په وجه هغه بوی ختمیږي او که چرته د بوی په وجه منع وي نو بوی خو په ډیوه کې چه کوم د شړشمو تیل سوزي هغې کې هم وي او د دی د مړ کولو په وخت کې هم وي؟

جواب: په لالټین کې هم بوی محسوسیږي په دی وجه دغه شان به هم منع کولی شي او په ډیوه کې چه کوم تیل عادةً بلولی شي هغې کې بدبوئي نه وي او په مړ کولو سره چه یې کوم بدبوئي خوریدل لیکلی دی د رومبي خو هغه داسې بدبوئي نه ده دویم ضرورت دی فلا یصح القیاس ۹ ربیع الاول / ۱۳۳۴ هـ (تتمه رابعه ص ۱۷)

سوال: (۸۱۰) فتاوی رشیدیه دویمه حصه صفحه ۲۱ کې دیو سوال په جواب کې فرمائي چه د خاورو تیل بلول او د دې تیلي بلول په جومات کې حرام دی اوس عرض دا دی چه په جوماتونو کې د ډیوی بلولو بغیر د ماچس د تیلي نه بل څه صورت نشته او ډیوه بلول هم ضروري دی په دی وجه د دی څه صورت دی؟

جواب: آیا دای نه شي کیدی چه بهر ډیوه بله کړي او بیائي جومات کې کیږدي (تتمه اول، د ضرورت د وجه نه په دیکې څه ګنجائش شته یا نه؟ **جواب** کوم سړي ته چه دغه برنی لیکلی شوي انتظام ګران وي هغه د پاره اجازت کیدیشي؛ (**تتمه ۱**، او که د ماچس د تیلي بلولو ګنجائش په جومات کې نه وي نو داسې صورت کې د دی ماچس ورکوونکي د وجه د دی نه چه ده ورسره حرامو کې امداد و کړو نو دی د حرامو مرتکب شو یا نه؟ (**جواب**) دا امداد نه دی ځکه چه په مینځ کې د فاعل مختار فعل متخلل دی؛ ۲۲ جمادي الاول / ۱۳۵۳ هـ (النور ص ۸ جمادی الثاني / ۵۴ هـ)

نقل مسجد از مکانی بمکان دیگر بضرورت

سوال :(۸۱۱) ضلع اکیاب علاقه تانړه راسیدنګ سراپرنګ نومی کلی کې پنځوس شپیته کوره مسلمانان اوسی دی ورو کې غونډی کلی کې دوه جوماتونه دی یو کې پنځه لمونځونه پکې نه کیږی صرف جمعه پکې کیږی دکلی نه لرلری دی او په باران کې ورته دتلو راتلو هم تکلیف وي په دی وجه خلق جمع کیږی بلکه دماسخوتن په بانګ کولو کې هم دتیاره اودیوازی والی تکلیف وي په دی وجه دجومات بانی غواړی چه دغه جومات سره دټول سامان نه اوچت کړم په خپله خرچه باندی یې دمحلی اودکلی یومناسب ځای ته یې راوړم دانقل کول دجومات سره دسامان نه جائزدي یانه (الف) دجومات دیوال تختی دلرګی دي اوچت یې دټیم دی څه پوخ کارپکې نشته (ب) دجومات په نقل کولو کې دجومات متعلق ټول خلق خوشحاله دي دهیچاهم هیڅ قسم اعتراض نشته (ج) که چرته دغه ځای نه نقل کړیشی نو پنځه لمونځونو اداکولو کې اوداسلام درناپه ترقی کې څه شبه نشته ! اسوال ! که چرته دغه جومات کې څه جائدادوقف کړی شوي ووي دهغې آمدنی سره ددی نقل کولو خرچ اوددی نوي جومات اخراجات دوړومبی جومات په شان اداکول وقف کوونکي یادهغې متولی ته جائزدي یانه که چرته څه فقهی روایت نقل کړیشی نوډیره بهتره به وی دافرضی سوال نه دی بلکه واقعی دي بعض مولوی صاحبان منع کوي دجومات بانی اومتولی ډیرپریشانه دي داحنافو دمذهب مطابق په دغه کلی کې جمعه نه کیږی که چرته داپنځه لمونځونه هم نه وي نوبیاداجومات دڅه کاردپاره شو؟

جواب : فی ردالمحتاروفی جامع الفتاویٰ لهم تحویل المسجدالی مکان اخران ترکوه بحیث لایصلی فیه ولهم بیع مسجدعتیق لم یعرف بانیه وصرفه ثمنه فی مسجداخرالخ ، سائحانی ج۳ /ص ۵۷۲ فی الدرالمختار (فی صورة الاستغناء) فیصرف المسجد والرباط والحوض الی اقرب مسجداورباط اوبئر اوحوض وفی ردالمحتار لکن علمت ان المفتی به قوله ابی یوسف رحمہ اللہ انه لایجوزنقله ونقل ماله الی مسجد اخرکمامرعن الحاوی /ج۳ / ص ۵۷۴/ دی روایتونونه معلوم شول چه اصل اوراجح خودنقل عدم جوازدی چه داجومات نقل کول جائزنه دی خوبعض عالمانوورته دضرورت په وخت کې جائزونیلی دي ، بس دسخت ضرورت نه بغیراصل مذهب پریخودل جائزنه دی اوسخت ضرورت کې ګنجائش شته اوداهم

معلوم شوه چه کله یوجومات مستغنی شی دهغې وقف په بل جومات کې خرچ کول هم جائزدي ۱۳ ربیع الثانی ۱۳۳۴ھ (تتمه رابعه ص ۲۲)

جائزبودن ممانعت ازدرآمدنی درمسجد شخصی راکه موجب فسادباشد

سوال :(۸۱۲) دویری اوفتنی دوجه نه (لکه څنګه چه ډیره په لیدواوکتوکې راغلیدی) ددوی مقلدینو په جوماتونوکې راتلل شرعاً منع دي یانه ؟ (نوټ) دلته کې غیرمقلدین داحنافوپه جوماتونوکې سره ددی نه چه دوی ته (مقلدینوته) مشرکان اوبدعتیان وائی هم راځی اودمقلدینو سره په جمع کې شامليږی اوکه په مقلدینو کې چالرغوندی ګترهم وکړو نوپنځلس شلومنتظمینو دجومات باندی دروغودعوی دغیرمسلمو په عدالت کې لګوی اودروغو ګواهان پیش کوي اودروغو ګواهی ورکوي دغه شان فسادخوروی دهغې نتیجه په اکثرموقعوکې داوشوه چه جوماتونه وران شول اوخلقو دجګړو اوفسادویری نه جوماتونوته راتلل اولمونځ پریخودل (۲) کتاب فتح المبین مصنفه مولانامنصورعلی صاحب مرادآبادی مطبوعه اسی پریس لکهنوکې یې ددی غیرمقلدینو په حالاتو باندی تفصیل بحث کړیدی اودټولو مشهورو عالمانو دعرب اوعجم (مکه معظمه اومدینه منوره) اوهند دعالمانو دسخطونه یې پری نقل کړیدي په هغې کې دمولانامقتدانا جناب مولوی رشیداحمدصاحب ګنګوهی مرحوم اومغفور ، اودنورو عالمانو اوفاضلانو لکه مولانا محمودالحسن صاحب مرحوم اومغفوراومولانامحمدیعقوب صاحب نانوتوی وغیره دسخطونه پری شته اودیو عبارت په قلم دمولانامحمدیعقوب صاحب لیکلی شویدی اوتائید دسخطونه په هغې ددی عالمانو موصوفین شته هوهذا عقیدی ددی جماعت چه دجمهوراهل السنت خلاف دی نوبدعتی کیدل ددوی ښکاره وي اوپه شان دتجسیم اودغلو روښخونه زیاتی حلال ګنړل اودشیعه عقیدی جائزګنړل اوسلف صالحینوته بدوئیل فسق یاکفردی ، نواوس ددوی په لمونځ ، حلاله اونکاح کې احتیاط لازم دي لکه روافضواوخوارجوسره انتهی - په دی کتاب دجناب والاهم دسخط اومهرشته اوتقریري پری هم شته اویوبل کتاب هم چه نوم یې الاقتصاد دمصنفه جناب والادنظرنه تیرشویدی په دی وجه درخواست دی چه ددی دواړو کتابونه تصدیق اوتوثیق اوفرمائیلی شی ؟

﴿جواب عن السوال الاول والثانی﴾ فی الدرالمختار احکام المسجد ویمنع (اکل ثوم) منه (ومسن المسجد) وکذا کل موذولو بلسانه (الخ) دی روایت نه معلومه شوه چه کوم سړی جومات ته راځی او خلقو ته تکلیف ورکوي یا فساد کوي هغه د جومات نه منع کولی شی دهری ولی نه چه وی خو منع هغه سړی کولی شی چه دهغه په منع کولو سره فساد کې زیاتی رانشی کنی فرمن المطر وقف تحت المیزاب مصداق به شی او ښکاره خبره ده چه دامصلحت هغه وخت حاصلیدی شی چه کله منع کوونکي وس لری او فتح المبین دی وخت کې زمامخې ته نشته دېری مودی کتلی شوي کتاب یادنه دی البته اقتصاد زما تالیف د په هغې کې زما مسلک په دی مسئله کې ذکر دی. ۳۰ ذی قعده / ۱۳۴۰ (تتمه خامسه/ ۲۲۷)

حکم سرقه مال مسجدوتلف کردن ان

سوال :(۸۱۳) زید د جومات نه څه شی پټ کړو او په خپل استعمال کې یې راوستو ضائع یې کړو او س که چرته زید د هغې قیمت د جومات متولی ته ورکړی نو دده غاړه خلاصیږی یا نه او د هغې د قیمت اندازه به د غلا د وخت وي او که نه د ادا کو د وخت لحاظ به کیږی ځکه چه دوخت نو په اختلف لره په قیمتونو کې هم اختلاف راځی؟

جواب : که جومات متولی دیندار او امانتدار دی نو هغه ته قیمت ورکولو سره غاړه خلاصیږی کنی په پخپله څه طریقی سره په جومات کې دی خرج کړی او قیمت د ضائع کیدو د ورځی معتبر دی ۲۰ شعبان / ۱۳۴۰ھ (تتمه خامسه/ص ۲۲۴)

﴿رساله القول الاجلی فی وقف جامع دهلی[1]﴾

مصارف وقف مسجد

سوال :(۸۱٤) څه فرمائی علماء دین او مفتیان شرع متین په دی مسئله کې چه د جامع مسجد دهلی انتظام د شوری په ذریعه کیږی چه هغې کې لس معزز مشران د اسلام شامل دی او د هغې نوم مجلس منتظمه جامع مسجد دی د دی منتظمه د جامع دهلی د الاندینی قسمونو آمدنی کیږی : (الف) د دو کانونو کرایه کوم چه جامع مسجد سره متعلق دي (ب) د جامع

[1] ای الحکم الشرعی المنسوب باعتبار النقل الی الاهل ای اهل بمعنی من یدین به کذافی القاموس ۱۲

مسجد نه چار چاپیره چه مملوکه زمکه ده د هغې د کرایی ټیکه (ج) او د نورو ځایونو چه جامع مسجد او په دهلی ښار کې ځایونه دی د هغې او سیدو د ځایونو کرایه هغې آمدنی چه د دی جومات د خرج نه بچ شی په هغې زمکه واخلی او هغه د جومات ملکیت وګرځوی (د) جدا جدا لره آمدنی چه بعض مسلمانان په نوم د ترالګولو او د او بو او د لوښو د پاره ورکوي چه د هغې اندازه لس پنځلس روپو سالانه نه زیات نه دی (ه) بعض ځای مصلحتونو او قومی او ملکي ضرورتونو په لحاظ سره د مجلس منتظمه په مشوری سره چه کوم غیر مسلم قومونه د دی جومات کتو د پاره راځی په یو کس دوه پیسی مقرر شوی دی او یو لیکوونکي په دی کار ملازم دي او هغه ته دا هم عرض دی چه یو غیر مسلم د اسی یو شی جومات ته رانه وړي چه هغه ناجائزوي یا د تعصب د وجه نه څه د اسی کار او نه کړي چه هغې سره د جومات بی عزتی راځی او هغې سره چه کومه آمدنی راځی لیکوونکي په تنخواه کې او کاغذ چهپائی وغیره کې خرج کیږی او د هغې نه ډیر کم رقم پاتی کیږی دی ټولو قسمونو د آمدنی نه چه خو مره رقم حاصلیږی هغه لاندینو ځیزونو کې خرج کیږی **د ملازمینو تنخواه ۱** - د جومات ملازمین امام صاحب او بانګ یونکي څوکیداران او لیکوونکي، **فراهمي ۲** - د کوهي په ذریعه د جومات په حوض کې د اودس او به ، **فراهمي - ۳** په لمونځ ګزارو مسافرو او مسلمانانو سره ملاقات کوونکي باندی د او بو ښکلو انتظام. **فراهمي ۴** - دری جای نماز ، قالین ټاټ او نور سامان چه کوم دننه او بهر فرش سره متعلق دی **صفائی ۵** - جومات صفائی د ملازمینو په ذریعه او د ظرفونو صفائی د جاروکشو په ذریعه ، **مظالف ۶** - طلباء د دین او نور طلبه د مدرسو کوم چه د عربی دي تعلیم حاصلوی او نور طالبان د فتوی شرعیه او داټول مسلمانان دی ، **اخراجات ۷** - رنړائی ، بجلی د لمونځ ګزارو د پاره د الیکټرک کمپنی د لمونځ کوونکو په ذریعه **رنړائی ۸** - د خاورو تیل **اخراجات ۹** - د دوارو قسمونو نړ د پاره سامان ،
سائبان ۱۰ - خیمی چه لمونځ ګزارو د پاره د ګرمی په موسم کې د ډیر د هوپ د وجه نه په صحن کې او درولی کیږی ، **لوښی اخستل ۱۱** - د خاورو منګی ، لوټې د ټوټی والا او د خاورو لوټی وغیره په ګنړ شمیر سره ، **داوسیدو ځای ۱۲** - د مملوکه جامع مسجد د ځای ټکس وغیره کوم چه د حکومت د طرفه مقرر دی ، **محصول ۱۳** - د او بو د نلکي هغه رقم چه د ابو ورکولو والا محکمه یې اخلې ، **مقدمات ۱۴** - د جامع مسجد مملوکه ځائیداد متعلق کرائی وغیره ، **تعمیرات او مرمت ۱۵** - چه خاص د جامع مسجد همیشه کولی شی او چونکه

عمارت دجامع ډیرلوئی اوناآشنا دی په دي وجه دهغې معمولي مرمت هم چه دقیام اودباقي پاتي کیدودپاره ډیرضروری دی ډیرمال پرې خرج کیږي ، **تعمیرومرمت ۱۶**:- دمملکه چاندادد جامع مسجد متعلق ترمیم وغیره چه ډیکې ادل والی بدوالی کیږي ، **اخراجات ۱۷**:- دژمی په موسم کې اوبوګرمولودپاره دپاره خشاک اخستل ، **اخراجات ۱۸**:- دجامع مسجد ددفتر متعلق . **دیتیمانوامداد ۱۹**:- کوم ته چه دانجمن موید اسلام دهلي په دیتیم خانه کې تربیت ورکولی شي **اخراجات ۲۰**:- نوی مسلمانان کوم چه جامع مسجد کې مسلمانیږي هغوی ته خوراک څای اواستاذانو انتظام دلته کې نوی مسلمانان تقریباً دوه میاشتې ضروري تعلیم کوي اوداسلام رکنونه ورته خودلی شي، **دغریبانوامداد ۲۱**:- نقدمال ورکول اوپه ژمی موسم کې ورته کسرې اوکمبلي اوبسترې ورکول، **امدادمرمت ۲۲**:- اوتعمیر دبعض نورو جوماتونو، **اخراجات ۲۳**:-رمضان شریف لکه واوره وغیره چه درژوماتي اودتراویح په وخت کې روژه دواورته هره ورځ ورکولی شي ،**پیشکش ۲۴**:- حافظ قران کوم چه دجامع مسجد دطرفه په تروایح کې قران کریم ختم کوي اوحافظ اوختم ورکوونکې ته ورکولی شي ، **شرینی تقسیمول ۲۵**: دختم په ورځ تولوروژه داروته په جامع مسجد کې څومره شریني تقسیمیږي ، **ملازمان ۲۶**:- اودجامع مسجد ټول متعلقین چه درمضان په ټوله میاشت کې محنت سره کارکوي اوډیرزیات خدمت کوي هغوی ته هم په طوردحق الخدمت څه انعام وغیره ورکولی شي ،**اخراجات ۲۷**:- لباس وغیره کوم چه څوکیدارانو اوجمع کوونکو دجامع مسجد دپاره تیاریږي ، **اخراجات ۲۸**:- داورپتاخې چه په رمضان المبارک کې دروژه ماتي په وخت کې اودپیشمنی په وخت کې ددهلي دښارد مسلمانانو دبیدارولودپاره چلولی شي اوپه جمعة الوداع کې اوخترونو کې داسلام دشان ښکاره کولودپاره چلولی شي ، **اخراجات ۲۹**:- خیمې تامبوان پردی اوزمکه اوفرش وغیره دلمونځ ګزارودپاره راوړلی شي څکه چه دجمعة الوداع په ورځ لمونځ ګزاره ډیرزیات راځي اودجامع مسجد فرش دنمرګرمی سره اوړپه شان ګرم وي نودالمونځ ګزارانودپاره په لګولی شي اوچونکه دی جومات کې دومره ګنجائش نشته نودجومات نه دری واړه طرفونه ډیرلمونځ ګزاراوذریږي په دی وجه داانتظام کول راځي **بعض ۳۰**:- نورجدا جدا ډیراوکم اخراجات وغیره ، مثال نمبر ۳۰ یعنې جدا جدا اخرجات. **بعض اخراجات قومي ۱**:- اسلامي اوداسلامي مدرسوجداجدا انجمنونه دخلافت یاقومي لکه مسلم یونیورستي وغیره وغیره

، **بعض اخراجات ۲**:- دحکومت دحاکمانومتعلق مثلاً لوي بادشاه تشریف راوړل یابادشاه نائب دی جومات ته په تشریف رواوړلوباندی ضروري رسمونه وغیره یابعض موقعوکې دحکومت په حکم سره رڼرایې کول، **دترکو ۳** یادنوروبادشاهانو په فتوحاتو باندی جامع مسجد کې رڼرایې کول دااخراجات هغه دی کوم چه اوس کولی شي اوډیروکلونو نه کولی شي ددي باره کې دي داولیکې چه دی اخراجاتو کې کوم کوم دشریعت مطابق جائزدي اوکوم ناجائزدی اوبراي مهرباني هریوباندی دمذهب حنفی نه جواب ولیکئ بل داچه دالاندینی څیزونه دداسی قسم نه دی چه ددی باره کې دجامع مسجد مجلس منتظمه ته دامطالبه کولی شي چه دجامع مسجد په آمدني کې دی دفلانی فلاني کار په باره کې امدادوکړیشي لکه ددهلي سره چارچاپیره کوم ځای کې چه اوس دهندحکومت نوي ښار آباده وي ډیرجوماتونه اومقبرې دډیروخت نه وران پراته دی اوددهلي مسلمانان دهغې جوماتونو دآبادولووغیره کوشش کوي اوهغوی کامیابي ته هم رسیدونکې دی اوډیرغیرآباد جوماتونوکې بې امام اومؤذن مقررکړیدی اوچونکه دداسی جوماتونوشمیرددهلي په طرفونوکې ډیرزیات دی په دی وجه هریوکې امام اومؤذن مقررول بغیردډیرمال نه ممکن نه دي په دی وجه ددهلي مسلمانان کوم چه داکارکوي دهغې جوماتونودآبادي اومرمت دپاره دجامع مسجد دآمدنی نه روپې غواړي. دویم شعبه تبلیغ اسلام هم دنوی مسلمانو دامداد دپاره روپې غواړي وغیره وغیره ، ددی ټولوامورو باره کې ولیکې چه دجامع مسجد دآمدنی نه چه څومره پاتي شي نوپه کوموکومو اخراجاتو کې خرج کول شرعاً صحیح دي یوداخبره هم دسوچ قابله ده اوپه دي باندی ضرورخیال ساتل پکاردی چه دجامع مسجد داعالي شان عمارت داسلامي بادشاهانویادګاردي اوددی ساتل مقدم اوفرض دي ددی عظیم الشان عمارت په معمولي نه معمولي مرمت هم په زرګونو پیسې خرج کیږي اوآئنده دپاره دزیات مرمت اوددرستي ضرورت راروان دي څکه څومره چه عمارت زړیږي هغه هومره ورته دزیات ضرورت وي دی خاص اوضروري کاردپاره چه همیشه دپاره یوخاص رقم جداکیږدی نودجومات اودریدل اوقائم پاتي کیدل په خطره کې دي؟

جواب: الروایات الاولیٰ: الذی یبدأ من ارتفاع الوقف عمارته شرط الواقف ام لاثم الیٰ ماهواقرب الی العمارة واعم للمصلحة کالامام للمسجدوالمدارس للمدرسة (یعنی اذاکان وقفاعلی المدرسة)یصرف الیهم بقدرکفایتهم ثم السراج والبسط کذلک الی اخرالمصالح هذاالم

یکن معینا وغیرالمعلوم فی حکم غیرالمعین) فان کان الواقف معیناعلیٰ شی یصرف الیہ بعدعمارۃ البناء کذافی الحاوی القدسی ج۳/ص۲۰۴/

الثانیه - رباط علی بابه قنطرۃ علیٰ نھرکبیرلایمکن الانتفاع بالرباط الابمجاوزۃ القنطرۃ ولیس للقنطرۃ غلة یجوزان یصرف من غلة الرباط علیٰ عمارۃ القنطرۃ ان کان الواقف شرط من الوقف انه یصرف علیه الی مافیه مصلحة للرباط وان لم یشترط ذلک بل ذکرمرمته لاغیرلایجوزذلک (قیاسا) لان هذالیس من مرمة الرباط حتیٰ لوکان الرباط بحال لولم یصرف الغلة الیٰ عمارۃ القنطرۃ لخرب الرباط استحسنوا انه یجوزفیعمل بالاستحسان دون القیاس کذافی محیط السرخسی ج۳/ص۲۰۴/ **الثالثة** :- ولواراد ان یقف ارضه علیٰ المسجدوعمارۃ ومایحتاج الیه من الدهن والحصیروغیرذلک علی وجه لایردعلیه الابطال (فطریقه ان) یقول وقفت ارضی هذه وبین حدودهابحقوقهاومرافقها وقفامؤبداقی حیوتی وبعدوفاتی علی ان یستغل ویبداء بما غلاقهابمافیه من عمارتهاواجورالقوام علیهاواداء مؤنتهافمافضل من ذلک یصرف الی عمارۃ المسجد ودهنه وحصیره ومافیه مصلحة للمسجدعلی ان للقیم ان یتصرف فی ذلک علی مایریٰ (ویقول ایضافی الشرائط) واذااستغنی هذالمسجدیصرف الی فقراء المسلمین فیجوز ذلک (الاشتراط) الوقف کذافی الظهیرۃ ج۳/ص۲۴۰/ **الرابعة** :- الفاضل من وقف المسجدهل یصرف الی الفقراء قیل لایصرف وانه صحیح ولکن یشتری به مستقلاً للمسجد کذافی المحیط ج۳/ص۲۴۱/ **الخامسة** - ارض وقف علی مسجدصارت بحال لاتزرع فجعلهارجل حوضاللعامة لایجوزللمسلمین الانتفاع بماء ذلک الحوض کذافی القنیة ج۳/ص۲۴۱/ **السادسة** :- مال موقوف علی المسجدالجامع واجتمعت من غلتهما (ای الموقوف علی الفقراء المذکورین سابقا) ثم نابت الاسلام نایبة مثل حادثة الروم واحتیج الی النفقة فی تلک الحادثة امالمال الموقوف علی المسجدالجامع ان لم یکن للمسجدحاجة للمال فللقاضی ان یصرف فی ذلک لکن علیٰ وجه القرض فیکون دینا فی مال الفی الخ ،کذافی الواقعات الحسامیه ج۳/ص۲۴۲/ **السابعة** :- واذاجعل السقایة للشرب واراد ان یتوضا منهااختلف المشائخ فیه واذاوقف للوضوء فلایجوزالشرب منه وکل مااعدللشرب حتی الحیاض لایجوزمنهاالتوضی کذافی خزانة المفتین ج۳/ص۲۴۲ **الثامنة**:- فی فتاوی اهل

سمرقندمسجدفیه شجرۃ تفاح یباح للقوم ان یفطروا بهذالتفاح قال الصدرالشهید رحمه الله المختارانه لایباح کذافی الذخیرہ ج۳/ص۲۴۴/ **التاسع** :- سئل شمس الائمة الحلوانی عن مسجداوحوض خراب لایحتاج الیه لتفرق الناس هل للقاضی ان یصرف اوقافه الیٰ مسجداخراوحوض (فیه لف ونشرمرتب) قال نعم (لکونهما متجانسین) وسئل ایضاء) لولم یتفرق الناس ولکن یستغنی الحوض عم العمارۃ وهناک مسجدمحتاج الی العمارۃ اوعلیٰ العکس هل یجوزللقاضی صرف وقف ما استغنی عن العمارۃ الی عمارۃ ماهومحتاج الیٰ العمارۃ قال لا(لکونهماغیرمتجانسین) کذافی المحیط (ثم فی المتجانسین یعتبرالاقرب فالاقرب ولعله المرادبقوله هناک لدلالة جزئیات القنطرۃ والرباط المذکورۃ فی السباق والسیاق علی ذلک) هذه کلهامن العالمکیریة الامابین القوسین فمن الکاتب بطریق الشرح ، **العاشرۃ**.- فی الدرالمختار امرالسلطان اکراه وان لم یتوعد ادی روایتونونه دالاندینی مسائل ثابت شول وروسبی مصرفونه نمبرکې خرج کول علی الاطلاق جائزدي؛ **للروایة الاولیٰ** - **دویم نمبر۳اونمبر۱۱** یعنی اوبه څښکول اودخاورولوښی چونکه دمصالحه ضروریه دجومات نه نه دي یعنی دی ته دجومات په ابادی کې څه دخل نشته نودیکې صرف کول نشته ، **للروایة الخامسه والسابعة** :- البته که چرته غالب گمان وي چه که داوبوڅښکلو دپاره انتظام اونه کړیشي نودلمونځ گزاروجمعه یه کمه شی هغه وخت صحیح دي ، **للروایة الثانیة قیاسادریم نمبر۶** یعنی دطلبانو وظیفی اونمبر۱۹ یعنی دیتیمانانو امداداونمبریعنی دنوي مسلمانانوامداد اونمبر ۲۱ یعنی دغریبانوامداد ددی هم دجومات دمصلحتونوسره څه تعلق نشته په دی کې هم خرج کل صحیح نه وي **للروایة الرابعة** **خلورم نمبر۲۳** یعنی دروژه ماتی اخراجات اونمبر۲۵ یعنی دختم دپاره شرینی داخریه درجه اولیٰ جائزنه دي څکه چه دیکې خودفقیرانوباندی به څه رنګ جائزشی . **للروایة الثامنة ایضاً** **پنځم نمبر ۲۸** یعنی دپتاخوګولی داهم دمخکې نه په درجه اولیٰ اوسابق علی السابق نه درجه اولیٰ نه هم په درجه اولی جائزنه دي چه دادی نه جومات کې خرج شی اونه دی چاته ورکړیشی ،شپږم نمبر۲۲. یعنی دنوروجوماتونوتعمیردیکې تفصیل دی که دهغی نه وروستوچه کوم نزدی وي وعلی هذا **للروایة التاسعة** :-اوغالب احتمال وي چه دجامع مسجدمرمت دپاره به ددی ضرورت راځی نوبیاجائزنه دي **للروایة الاولیٰ اوم نمبر۳۰**:- دجداجدااخراجاتوپه مثال کې یې دری مصرفونه لیکلی دي بس ددریواړودجومات مصلحت

سره څه تعلق نشته په دې وجه صحیح نه دي البته که چرته دویم مثال کښې دحکم شرعي عذرلره کوم چه باقده پیښي کول پکاردي حکومت یې قبول نه کړي اوحکماً یې مجبورکړي نومتولی شرعاً معذوردی **للروایة العاشرة** :- یاکه چرته دڅه مصلحت دوجه منتظمین دحکومت وړاندې عذرپیښي کولولره دوخت مناسب ونه ګڼړي نودغه وخت به منتظمین دغه اخراجات خاص په خپل ذات باندې برداشت کړي اودې حالت کښې هم که چرته جامع مسجد سره دهغې تعلق دښکاره کولوضرورت وګڼړي نووروستوصرف کولونه دهغې خرچ اوآمدنی دجومات په حساب کښې ولیکښې یعنی دغه امدنی لره قواعد شرعیه سره جائزه وبولی ، ځکه چه مانه ددې جوازثابت نه شو، دیکښې هم دغه طریقه اختیارکړي یعنی په خپله دبرداشت کړي اودامصرفونوڅه داسې ډیرنه وي چه دهغې برداشت کول تکلیف مالایطاق وي اوداتول هغه وخت دي چه کله جائدادیارقم صرف جومات دپاره وقف وي یادداسې وقف امدنی سره یاداسې رقم سره اخستی شوي وي اووقف کوونکښې دجومات نه علاوه نه په نورواخراجاتوکښې اجازت په وقف کښې ورکړی وي نودغه وخت په هغې کښې خرچ کول صحیح دي. **للروایة الثانیة الی الجزء الخیرمنها** - اوبس پاتې شوهغه امورچه په هغې کښې دخرچ کولودمجلس منتظمه نه مطالبه کولی شی نودهغې یې دوه مثالونه لیکلی دي وړومبی مثال دنوي ابادي جوماتونه نودهغې حکم لره په شپږمه مسئله کښې ذکرشودهغې خلاصه داده چه دي تولومصرفونوکښې په خپله دجامع مسجد مرمت مقدم دی چه دهغې احتمال روازنه غالب اوقوي کیږي په دې وجه یوپوره رقم زیاتي کیښودل ضروري دي که چرته دهغې نه پس ګنجائش نه وه نونوروجوماتونوکښې خرچ کول جائزنه دي **للروایة الاولی** :- اوکه چرته ګنجائش وه نوپه ترتیب دشپږم مسئلې خرچ کول جائزدي **بل مثال دشعبه تبلیغ** :- داسې امورکښې دخرچ کولودرې شرطونه دي یوداچه جومات ددې زیاتي حاجت پاتې نه شی دویم داچه مسلمان حاکم دخرچ کولواجازت ورکړي دریم داچه دقرض په طوریې خرچ کړي بیادهغه قرض دمال فئ نه اداکړي ؛ **للروایة السادسه** :- دلته وړومبی خویوشرط هم نشته اواکه چرته دیوشرط دتحقق په څه تاویل سره دعوی وکړیشی نومجموعه شرطونه خویقیناً نشته هرکله چه شرط دجوازنشته نوجوازهم نشته اودامسئله اتمه ده البته که چرته څه وخت کښې منتظمین دیندارنه وي اودجومات درقم دضائع کیدوویره وي نودغه وخت داسې مصرفونوکښې یې دخرچ کولواجازت ورکړیدی دهغې محل دغه دی ، ونظیره فی الـدرالمختار

وضمن متولية لوفعل النقش اوالبياض الااذاخيف طمع الظلمة فلاباس به كافى اوپه دې تعبيركښې معمولی اوغیرمعمولی لفظ مبهم دی دهغې دتغیرنه وروستوخودلی کید شی؛

ناجائزبودن تقسیم شیرینی ازمال وقف

سوال :(۸۱۵)جامع مسجد کیرانه کښې چه کومې کرایه نامې لیکلې شي په هغې کښې دکرایې په اندازه ۲/یا۴/ یا۸/ دشیرینی دپاره دقران مجید په ختم کښې لیکلې شي چه تقریباً نهه یالس کیږي اوشیرینی د۲۵یاد۲۷ روپوتقسیمیږي چه دجومات امدنی هغه نوررقم ورکولی شی اووقف کوونکښې امدنی دجومات دمصرفونودپاره وقف کړیده نودامبلغ ۱۲یا۱۷روپې دکرائي دمال نه علاوه چه دجومات درقم نه په شیرینی کښې خرچ کیږي دابه دجومات دمصرفونونه شمارلی کیږي یانه اوشرعاً داخرچ کول جائزدي یانه ؟

جواب: داشیرینی دجومات په مصرفونوکښې داخل نه ده په دې وجه دجومات دوقف نه په دیکښې خرچ کول جائزنه دي دانهه لس روپې چه کومې دکرائي راځي که چرته دیته جزودکرائي اونه وئیلی شی بیاخوعقداجاره کښې داشرط فاسددی هغه رقم دواپس کولوقابل دی اوکه چرته دیته جزی کرائي ووئیلی شی نوشرط جائزدي خودهغې مصرف به دکرائي دمصرف په شان وي اودابیاپه شیرینی کښې خرچ کول جائزدي؛

حکم سائلان درمسجدوخوردن وخوابیدن درمسجدوغیره

سوال :(۸۱٦)دی برنوامورونه علاوه دی لاندینوسوالونوجواب هم دشرعي فتوی مطابق ولیکښې ،جامع مسجد کښې دننه همیشه عموماً اودجمعه په ورځ خصوصاً فقیران اومسکینان خیرغواړي اولمونځ ګزاریې ډیرزیات پریشان کړیدی دشپې په وخت کښې دماسخوتن نه زیات اوپه ورځ کښې دهغې نه کم دډهلي ښاره سړي اوښځې دبهرمسافرسړي اوښځې جامع مسجدکښې دسیل اوتماشې دپاره راځي اوجومات کښې دننه په دالان کښې ناست دي اودبازارنه یې دخوراک څکاک څیزونه راغوختي دي اوهغه خوري اوکله کله په میلوباندې هغه فرش ګنده کړي بیاوروستوهغه دجومات دملازمینوپه ذریعه پاک کولی شي ښځې جومات نه دډیوی بلولودپاره راځي اودمنختي اونذرپه طوره یوه بلوي اوداعمل دډیروخت نه جاري دي

فریدالدین منتظم جامع مسجد دهلی

جواب: فی الدرالمختار احکام المسجد ویحرم فیه السوال ویکره الاعطاء مطلقاً وقیل ان تخطی وانشاد ضالة اوشعر الامافیه ذکرورفع صوت بذکر الخ وفی ردالمختار عن الغزالی استحبابه الا ان یشوش جهرهم علی نائم ومصل اوقاری الخ ثم فی الدرالمختار واکل ونوم الالمعتکف وغریب الی قوله والکلام المباح وقیده فی الظهیریة بان یجلس لاجله وفیه واتخاذه طریقا بغیر عذر وصرح فی القنیة بفسقه باعتیاده وادخال نجاسة فیه الیٰ قوله ویحرم ادخال صبیان ومجانین حیث غلب تنجیسهم والافیکره وفیه باب الامامة ویکره حضورهن بجماعة ولوجمعة وعید ووعظ مطلقاً ولوعجوزالیلا علی المذهب المفتی به لفساد الزمان الخ ، دی روایتونو سره ددی تولو امورو کوم چه سوال کي ذکر شویدی ممنوع کیدل اومذموم کیدل ثابت شول پس کوم یو سړی چه ددی په بندولو باندی بغیر دڅه فتنی نه قدرت لری په هغه واجب دي چه ددی دبندولو انتظام وکړو! ٦ ربیع الثانی / ص ۱۳۴٦ هـ تتمة الرسالة المسماة بالقول الاحلی (تتمہ خامسه / صـ ۲۵۸)

په جومات کي سوال کول

سوال: (۸۱۷) هغه کسان چه دهغوی څه حقیقت معلوم نه دي خپل ځان فقیر اوګداګر جوړ کړي اود جمعه په ورځ په اخترونو کي اوشب معراج کي دجمعی په وخت کي خیرغواړی اوچنده غواړی اوخلق ورته ورکوي شرعاً داصحیح دي یانه اودی صورت کي داورکول جائز دي اوپه خیرات کي داخل دي یانه ؟

جواب: فی الدرالمختار ویحرم فیه السوال ویکره الاعطاء وقیل ان تخطی الی قوله ورفع صوت بذکر الا للمتفقة الخ ،وفی ردالمختار تحت قوله ورفع صوت بذکر الخ بعد بحث طویل الاان یشوش جهرهم علی نائم اومصل اوقاری ، ج۱/ص ۴۹۰ / دی روایت نه ثابته شوه چه غوښتل په جومات کي علی الاطلاق ناجائز دي اوورکول دبعضو په نزد علی الاطلاق اودبعضو په نزد چه کله هغه سوال ګر دخلقو په څټونو باندی ورخیژی جائز نه دي اوکه چرته دي سره دچالمونځ ګزاریادقران لوستونکو اووظیفه کوونکي زړه تقسیمیږی نوبیا خوبلا اختلاف ناجائز دي ۲۷ ذی قعده ۱۳۳۲ هـ (تتمہ ثانی / صـ ۱۹۰)

په جومات کي خوراک کول

سوال: (۸۱۸) په جومات کي دوعظ ختمیدو نه وروستو شیرینی تقسیمیږی اوخوړلی کیږی شرعاً داجائز دي یانه ؟

جواب: فی الدرالمختار مع ردالمختار واکل ونوم الالمعتکف وغریب ، صـ ۴۹۱/ ج۱/ دینه معلومه شوه چه دخوراک عادت جوړول اوپه جومات کي نه دي پکار اوددی نه مخکي دسوال دجواب دروایت نه داهم معلومه شوه چه که چرته دیر حاضرین په خوراک کي مشغوله شی بیاهم منع دي ۲۷ ذی قعده ۳۲ هـ (تتمہ ثانی / صـ ۹۱)

په جومات کي اوده کیدل

سوال: (۸۱۹) هغه دینداره چه دهغوی خپل کورونه وي هغوی ته په جومات کي څه وخت کي اوده کیدل جائز دي یانه ؟

جواب: ددی نه مخکي دسوال دجواب دروایت نه داحکم هم معلوم شو چه سیوا داعتکاف کوونکي اومسافر نه بل چاته په جومات کي اوده کیدل جائز نه دي ۲۷ ذی قعده / ۳۲ هـ

جائز بودن گرفتن شامیانه بکرایه برائی مسجد

سوال: (۸۲۰) جامع مسجد کي دری خیمی دي چه مقدمه کي دکامیابی نه وروستو جوړی شویدی ،دروژي په میاشت کي چونکه لمونځ ګزاره دیروي اوهغه دری خیمی نه پوره کیږی اوګرمی زیاته په دی وجه دوه یادری اواخری جمع باندی څلور خیمی کرایه باندی راغوختی کیږی معمولی کرایه دیوی خیمه ۸ روپی ده خودی موقع باندی ډیره زیاته کرایه اخلی یوه خیمه په یوه روپی یادوه روپی یا ۸ روپی دامصرفونو په جومات کي شامل دي داجائز دي یانه ؟داختلاف په صورت کي په داوروسوالونو دیر زیات شور پیداکیږی اودمتولیانو په نسبت خصوصاً دمتولی منتظم دیر سپکاوي کیږی اوالزام پری لګولی شی بینوا توجروا عندالله ؟

جواب: داضرورت دجومات داغراضونه دي په دی وجه جائز دي ۲۱ شعبان / ۲ هـ (تتمہ خامسه / صـ ۳۰۳)

په جوماتونو کې پکې لګول

سوال: (۸۲۱) ما قولکم رحمکم الله په جوماتو کې پکې لګول په نیت ارام د کولو لمونځ ګزاورته او په اراده د ښائسته والي د جومات صحیح دي یا نه که چرته صحیح دي نو رسول الله ﷺ د رمضان د ګرمۍ شکایت ولې دفع نه کړو او که صحیح نه وي نو بیا هغه مباح څیزونه لکه کیږي او سید و خایونه او د خوراک څیزونه وغیره او پردو او خیمو وغیره چه د ښائست څیزونه وي په هغې کې او دیکې څه فرق دي حاصل دا چه د بدعت قبیحه نه دي یا نه نصوص او د کتاب او حدیث او د فقهي په رڼا کې جواب راکړی بینوا توجروا؟

جواب: جومات په حقیقت کې یو دربار شاهنشاهي خداوندي ﷻ دی او په دیکې لمونځ کول په دربار شاهي کې حاضري ده لکه څنګه چه د دربارونو ته داخل شي او بادشاه د آداب و خیال ساتلی شي او هلته کې د بندګۍ او د عاجزي اظهار کولی شي د غه شان په جوماتو کې د حاضرېدو نه هم د غه مقصود دی چه د الله رب العزت په مخکې او دریږي او د خپلې بندګۍ اظهار کوي د لمونځ حقیقت هم دا دی او په دې وجه په دیکې خشوع خضوع باندې نظر دي خو مره چه د خشوع خضوع وکړه د ومره الله ته د بندګۍ خوښه ده هر کله چه دا معلوم شول چه جومات یو دربار دي او د دیته حاضرېدونکي دربایان دی نو او س پوهېدل پکار دي چه دربار خائست او او چتوالی څه بد او غیر مستحسن نه ګڼړي او نه د دربایانو خائست خوک بد او قبیح ګڼړي نو که یو درباري بد صورت کې کوم چه منافي د علت غائي یعنی د بندګۍ دی جوړ کړي نو بادشاه او عقل مندو ته هم دا بد او خراب معلومیږي د غه شان هر کله چه جومات دربار خداوندي دی او حاضرېدونکو ته یې دربایان ووئیل نو د جومات او د جومات والو خائست او زینت خو عقل او نقل جائز ګڼړي قال الله تعالی . فی بیوت اذن الله ان ترفع الایه[1] وقال تعالی خذوزینتکم عند کل مسجد الایه[2]، البته دربار ته حاضرېدونکي که چرته د فخر او تکبر په صورت کې حاضر شي بی شکه قابل د سزا او مواخذې دي بس او س کتل پکار دي چه کوم شی خائست د دربار او د دربار والو دی هغه صحیح دی او کوم شی چه د فخر او تکبر دی هغه قبیح او بد دي نو خیمې پردې او قالینونه وغیره چه د دینه مقصود خائست د جومات دی صحیح دی او جوماتو کې پکې لګول چه لوئ مقصود د دی نه مسلمانانو ته آرام

[1] استدلال بعموم اللفظین ۱۲ منه ختم

[2] کماالمس الحاجة الیه غالباً ۱۲ منه ختم

ورکول دی بی ځایه دي چه په خپله خود بادشاه په مخکې لاس تړلي ولاړي او خادم د رته پکې وهی څو مره بد صورت دي هلته خوار شار دي قوموا الله قانتین الایه . او د اصورت د قنوت او د عاجزي نه څو مره لرې دي ع به بین تفاوت راه کجاست تا به کجا که چرته د څه معمولی حاکم د دربار ته لاړ شي څو مره چه ځان ښائسته کړي او ښې جامې واچوي هغه نه خفه کیږي او که یو خادم د رسره پکی هم وهي نو بې شکه د حاکم د سزا لائق به ګرمی بیا د الله ﷻ د ومره هم خیال او لحاظ نشته صدق تعالی وماقدروا الله حق قدره الایه . بیا دا چه د غه وخت به دا پکې څوک راکاږي که چرته په یو مسلمان یې راکاږي نو هغه په لمونځ نه کولو باندې راضي شو او هغه نه دي د جمع پریښودلو حکم وکړو او که چرته په یو کافر یې راکاږي نو بلا وجه کافر په جوماتو کې داخلول[1] څه ضرورت دي او که په لمونځ کې یې پکې اونه وهي[2] او د لمونځ نه یې بهر او وهو نو څه وشول و روسته څو ښې لګولی دي د پاره دې د لمونځ نه بهر خو د لاس پکې وهلو سره هم ضرورت رفع کیدې شي بیا د ومره تکلف کول د لمونځ د وخت نه علاوه بل څه وخت د پاره دی دویم دا چه دیکې هم صورت د فخر او تکبر دي د غه وجه ده چه مخکې خلق په جوماتو کې هر قسم تکلف وکړو خو دی سوچ یې هیڅری هم نه وه کړي ایا هغه خلقو نه شو کولی خو د غه خبره ده چه د دې دا صورت وېرېدې جوماتونه څه چه پا ګل ځانی به شی باقی شول نور تکلفات لکه پردې خیمې او قالین وغیره چه صرف د مکان خائست د پاره دي دا خو څه بد نه دي اګرچه د حاجت نه زیات دي دا هم فضول دي او د ومره خائست واهیات دي رسول الله ﷺ فرمائی ما امرت بتشیید المساجد او حضرت بن عباس رضی الله عنه[3] فرمائی لتزخرفنها کما زخرفت الیهود والنصاری ، ابوداؤد: نو په واقع کې چه څو مره تکلفات په جوماتو کې زیات

[1] کمانمس الحاجة الیه غالباً ۱۲ منه ختم

[2] بلکه فتاوی مجمع برکات کې لیکلی دي چه که بل سړی لمونځ ګزارته پکې ووهی او د لمونځ ګزار یې خوشحاله وي نو لمونځ یې فاسد شو هغې عبارت دا دي فی الجامع لو روح غیر المصلي ورضی بروحه تفسد صلوة عند مشائخنا وهو الاحوط لانه یصیر مروحا فی الصلوة کذا فی الخزانة الجلالیه انتهی ، او رساله احکام الشروع اګرچه دا روایت موجود دي خو غایت درجه کې په دې پکې قباحت او بدوالی دي کو مو بزرګانو چه د دینه مقصود ښلي دي ۱۲ منه علی عنه ختم

[3] فی صحیح البخاری امر عمر رضی الله عنه ببناء المسجد وقال اکن الناس من المطر وایاک ان تحمر او تصفر فتفتن الناس قال انس یتباهون بها ثم لا یعمرونها الا قلیلا جلد اول صه ۱۲۴ . منه وایضا قال النبی ﷺ فی ذم الزمان الاتی مساجدهم عامرة وهی خراب ۱۲ وقال الشامی فی اقسام البدعة ناقلا عن الشرح الجامع الصغیر للمناوی عن تهذیب النووي وقال مثله فی الطریقة المحمدیه للبرکلی ومکروهة زخرفة المساجد انتهی جلد اول صه ۲۷۲ فقط منه ختم:

شویدی کوم چه دحاجت نه زیات دي تول فضول دی خو چونکه اصل دتولو محتاج الیه دی اګرچه خلقو په دی باندی زیاتیانی کړیدی په دی وجه په څه درجه کښ لږ بد وي لکه تامبو شو چه په حقیقت کښ دګرمی نه دبچ کیدو دپاره دجهت په شان دي اصل کښ داسی شی محتاج الیه دی خو هغی باندی داتکلفات چه ددی کیږي اوبدل دخاوري نه بچ وي خو دیکښ دازیاتی چه ډیر قیمت والادري او قالینونه اوپه هغی قسماقسم بوټی وغیره داتول لغوه دي دشیشی ډیوه ده اصل کښ ددی حاجت دی په تیاره جومات کښ رڼرا ضروري ده دجومات دیوالونه دتیلو نه بچ کولو دپاره اوبل داچه داډیوه دهوانه هم بچ وي نو که داباتی دډیوي په بولوښی دشیشی کښ کیږدی خو څه باک پکښ نشته خو په دی باندی دازیاتوالی چه ضرورت دي پوري اوهلته کښ شل زورند کړي ، چرته دخرمنی ، چرته دشیشی ، چرته لالټین بیا په هغی کښ دموم او دخرمنی باتی دحاجت نه زیاتی وي داواهیات ددیوالونو دي دمضبوطوالی دپاره چونه کول پوره دی بیا په هغی داتکلف چه ونني ګلونه رنګ په رنګ سره اوزیږ داتول فضول دي په دی وجه متولی لره دفضولو څیزونو جوړول دوقف نه جائز نه دي که جوړیې کړل نو تاوان پري راځی . اماالمتولی یفعل من مال الوقف مایرجع الی احکام البناء دون مایرجع الی نقش حق لو فعل یضمن والله اعلم بالصواب هدایه ج۱/ صـ ۱۲۴/ پس داتول تکلفات فضول او واهیات دي او ددی پریخودل ضروري دي خو چونکه اصل سبب ددی څیزونو محتاج الیه دی په دی وجه دیکښ څه دومره قباحت نشته په خلاف دیکښ چه اصل کښ دیته څه سخت حاجت نشته .نو اهر ځاي لګن خو بیاهم چه چرته څه لږ ډیر حاجت دي هلته کښ دلاسو پکښ کافی دي اوس په دي باندی صبر نه کول اوه ځای کښ ګیرچاپیره پکښ زوړندول دجومات صورت او خپل سیرت خرابول دي بیا کیدیشی خپل خادمان ځان سره جومات ته راولی او ورته وائی چه ماته خپی چاپی کوه چه داهم یو قسم راحت دي خو چه دکوم سړی لږ غوندی هم عقل وي هغه به داخبره بی شکه بده ګڼري چه بندګي ته راغلی یې یابل څوک بنده جوړول غواړی حضرت مولانا محمد اسحاق محدث ﷫ چه به کله جومات ته تشریف راوړو خپلی په یې خپل لاس سره اوچتولی او هیچاته به یې نه ورکولی خیر دومره احتیاط زمونږ بی کارونه نه شی کیدی خو چه څومره بی احتیاطی شویده پکاردي چه دهغی اصلاح وکړو، که څوک دانه شی کولی نو نوری نوي نوي خودي نه جوړوي کنه نقل مشهوردي ګزشته راصلوات

آینده را احتیاط هذا مایحکم به العقل الصحیح(۱)، ومضمار البحث والاستدلال فسیح فقط والله اعلم وعلمه اتم واحکم ۱۲ ذی قعده ۱۳۰۰هـ (امدادثانی/ صـ ۱۲۱)

بادکشی وروشنی برقی درمسجد

سوال :(۸۲۲) دلته دبجلی یو انجنر راغوختی شویدی چه دیته درڼرا او دپکی کار اخستی شی که چرته جومات کښ په دی رڼرا وکړیشی یا پکښ اولګولی شی چه په خپله چلیږی او څه قسم اوبدبویې هم نه کوي نو جائز دي یا نه ؟

جواب: جائز دي ۷/ رجب/ ۱۳۳۱هـ (حوادث اول وثانی/ صـ ۱۰۲)

منع متولی عوام رااز چاه مسجد

سوال :(۸۲۳) دجومات کوهی متولی په خپل ګمان سره احتیاط او پاکۍ او دپاره سپین روبولمونځ ګزارو دپاره داوبو سبیل او دڅکلو او اودس او غسل دپاره مخصوص چه محلی والا به کورته ددی نه اوبه نه وړی دي دپاره نه دي که عوام خپل لوښی داوبو دکولو دپاره رواړی نو هغه به ما تولی شي ؟

جواب: منع کول خودصفائی او دپکوالی دجومات دپاره جائزدي چه کله نزدې بل داسی وي چه هغی سره دعوامو احتیاج رفع کیدیشی خو منګي ماتول ظلم او حرام دي دغه شان که چرته کوهی نه وي بیاهم منع کول حرام دي والله اعلم ، ۳۰ ربیع الاول/ ۱۳۲۵هـ (امدادثانی/ صـ ۱۸۲)

پرلت وهل په جومات کښ جائزدي

سوال :(۸۲۴) زیدوائی چه جومات پرلت وهل سخته بی ادبی ده او سختی بی ادبی دوجه نه ناجائزدي حتی الامکان په دوو خپو کیناستل او مجبوري سره په پرلت کیناستل اجازت کیدیشی او کوم سړی چه پرلت ووهی که هسی ناست وي یاقرآن کریم یا څه وظیفه لولی نو دهغه نه خفه کیږی او هغه ملامته کوي علی هذالقیاس دغه شان ناسته سخته ګستاخی ګڼري چه سړی ورو ستو دلمونځ نه خپله ښی خپه اودروي او خپه کومه چه یې په قعده کښ خوره کړي وه خوره اوساتی علی هذالقیاس دغه شان ناستی ته هم ناجائزوائی چه سړی په

(۱) یاګیرچاپیره بالختونه کیخودی شي یامیزاوکرسی کیخودی شي چه دیکښ هم آرام دي ۱۲ منه عفی عنه ختم

خپلو کنا تو او دوا رو قدمو نو باندې کيني او دواړه پندې دوا رو لاسونو په حلقه کې واخلي خلاصه داده چه زيد قعدې د ناستې نه علاوه بله هره ناسته د بې ادبۍ سبب او ناجائزه ګڼړي بلکه د جومات نه بهر هم قران کريم يا وظيفه لوستلو په وخت د قعدې د ناستې نه علاوه هره ناسته جناب باري ﷻ کې بې ادبي او ګستاخي ګڼړي او وائي چه حضرت سفيان ثوري رحمه الله په جومات کې يو خل په خپل مقصد او دوا رو قدمو نو ناست وه چه د جناب باري ﷻ نه عتاب اوشو او د غيب او ازراغې چه اې ثور، غو يه ،دا خه بې ادبي او ګستاخي ده هغې ورځې نه پې د سفيان سره ثوري د نوم زيا تو الي وکړو د عمرو خيال دی چه رسول ﷺ د سحر مانځه نه وروستو په پرلت ناست وه او ذکر الهی کې مشغول وه هر کله د نمر راوختو نو دوه رکعته يا خلور کعته لمونځ د اشراق به يې کولو دي حديث نه معلوم شول چه په پرلت کيناستل هم سنت دي نه که بې ادبي او ګستاخي. ځکه چه د رسول ﷺ نه زيا ته ويره او ادب د چا په زړه کې نه شي کيدی هر کله چه حضرت محمد ﷺ دا ناسته اختيار کړيده نو صفا ښکاره ده حديثو کې راغليدي البته په لمونځ کې بغير د عذر نه داسې کيناستل ضرور د ادب نه خلاف دي د لمونځ نه بهر کله کله داسې کيناستل مسنون دي على هذا القياس د لمونځ نه وروستو بيې خپه او درول هم د بعض اکابرو نه ثابت دي چه کم نه کم جائز خو ضرور دي او هيڅ طريقې سره قابل د ملامت نه دي د حضرت سفيان ثوري هغه قصه بې بنياده ده صحيح سند سره ثابت نه ده د تصوف د کتابو نو نه معلوميږي چه په پرلت کيناستل خلاف ادب نه دي بلکه د ادب موافق دي ځکه چه دوي د دولسو تسبيحاتو په وخت کې ورومبی په پرلت کيني او ضربونه لګوي که چرته دا ناسته الله ته خوښه نه وي نو تصوف والا چه پوره ادب دالله ﷻ په هر وخت کې ساتي چرته به يې هم نه اختيارولې بيا لطف دا چه په ورومبی کې يې اختياروي دا هم نه چه د ارام په غرض اخر کې په پرلت کيني. د دی نه علاوه قاريان اکثر په پرلت ناسته خوښوي ځکه چه په پرلت ناستې سره د سينې نه آواز په اسانۍ سره راوځي او په قران وئيلو کې څه تکلف نه راځي [1]، د زيد او عمرو د خيالا تو د ښکاره کولو نه وروستو د دی خبرې تپوس کوؤچه کومه خبره

[1] د دی تو لو حاصل لزوم مفاسد لغيره دي بس که چرته د بعض اکابرو نه د دی اجازت منقول وي نو د هغې حاصل اباحت في نفسه دي فلا تعارض ۱۲ چه د يکې عين ادب دي نه ګستاخي او بې ادبي على هذا القياس په کنا تو او قدمو نو کيناستل هم د بعض په نزد اختم

صحيح او موافق د فقه او د تصوف وي په هغې باندې خبرداري راکړي چه د هغې موافق عقيده او عمل او سائلي شي ؟

جواب: د عمرو قول صحيح دي . حديث خو سوال کوونکي ليکلي دي قاضي خان کې راځي وهو کالتربع فی الجلوس والاتكاء قالوا امكان ذلک على وجه التجبر يكره وان كان لحاجة ضرورية لايكره اه قلت ومن الحاجة طلب الراحة . او د حضرت سفيان ثوري رحمه الله هسې چا د خانه جوړه کړيده د نقل او د لغت خلاف ده . فی القاموس وثور ابو قبيلة من مضر منهم سفيان بن سعد او د نحو خلاف هم ده ځکه چه ثوري باندي الف لام راځي الثوری که چرته د ثوري هغه معنی وي د کومې چه زيد دعوی نو دي ترکيب کې د اضافة معنويه کيدو د وجه د الف لام په دې باندې څه رنګ جائز شول ، ۱۸ ربيع الاول ۱۳۲۱ھ امداد ثاني ص ۱۸۷

حکم شامل کردن زمین نابالغ در مسجد

سوال :(۸۲۵) کومه زمکه چه زه جومات کې شامول غوارم د هغې متعلق دا عرض دي چه کوم صورت شرعاً صحيح وي هغه ښان وکړم يعني د جومات مغرب طرفته څلورمرلې زمکه زمونږ د خلقو ده چه په هغې کې تقريباً يو مرله زمکه جومات کې شاملول ضروري معلوميږي ټول شريکان رضا دي صرف د يتيم نابالغ دوچه نه خيره پاتې ده کوم صورت چه شرعاً او خودې شي د هغې موافق به انتظام وکړو مفتي............ صاحب ليکلي دي چه مبادله نه شي کيدي ځکه چه ورور داسې ولی نه دي چه داسې قسم تصرف وکړي په دې وجه ډير مشکل راپيښ شويدی زما خاص حصه په دې زمکه کې ۱۷۲ حصو کې ۲۸ حصې ده باقي شريکان د زمکو په ورکولو رضا دي هيڅ تردد د يکې نشته جواب زر راکړي ځکه چه ټولو خبرو فيصله شويده ؟

جواب: دا ښه صفا وليکې چه که چرته د نابالغ نه علاوه نور ټول شريکان د دغه زمکې نه چه جومات سره پيوست ده خپله حصه واخلي نو کومه حصه چه د نابالغ پاتې شي هغه د دی نه جدا کيدی شي يا نه ،رجب ۱۳۳۲ھ تتمه خامسه ص ۲۰

بيع متولی اسباب مسجد را

سوال :(۸۲۶) د جومات متولي څه شی د جومات په څه وجه خرڅولی شي يا نه ؟

جواب: داشی دکوم چه خرخول غواړی که چرته قالین اوجاې نمازوغیره دي یعنی داسی شی دی چه دجومات عمارت سره پیوست نه دي اومنقول دي نودهغی حکم دادي چه چاداشی جومات ته ورکړیدی هغه دي لره خرخولی شی که چرته هغه نه وي نودهغه وارث اوهرکله چه هغه هم نه وي نوپه اجازت دقاضی اسلام یاپه دډیرومسلمانانوددی خرخول جائزدي اوکه چرته هغه شی داسی دي چه جومات کښې په اجازت سره اوکه چرته هغه نه وي نودډیرو مسلمانانوپه اتفاق سره دهغی خرخول جائزدي اوکه چرته هغه شی دجائداد غیرمنقول دقسم نه دي چه جومات دپاره وقف دي نودهغی خرخول په هیڅ طریقی جائزنه دي. فی العالمگیریة من کتاب الوقف ذکرابواللیث فی نوازلــه حصیرالمــسجد اذاصــارت خلقاواســتغنی اهــل المسجدعنهاوقدطرحهاانــسان ان کان الطارح حیافهوله وان کان میتاً ولم یدع وارثاجوان لاباس بان یدفع اهل المسجدالی فقیراوینتفعوابه فی شراء حصیراخرللمــسجدوالمختارانه لایجــوزلهم ان یفعلوا ذلک بغیرامر القاضی کذافی محیط السرخسی وفی المنتقی بواری المسجداذاخلقت فــصارت لاینتفع بهافارادالذی بسطها ان یاخذهاویتصدق بهابعدماخلقت لم یکن لهم ذلک اذاکان لهاقیمــة وان لم یکن لهاقیمة لاباس بذلک کذافی الذخیرة وبیضاً فیهااهل المــسجدلوباعداغلة المــسجداونقض المسجدبغیراذن القاضی الاصح انه لایجوزکذافی السراجیة وایضاً فیهاوفی الفتاوی النسفیة سئل مــن اهل المحلة باعواوقف المسجدلاجل عمارة المسجد قال لایجوز بامرالقاضی وغیره کذافی الــذخیرة الخ، قلت قدسمعت استاذی ان عامة اهل الاسلام بمنزلة القاضی قلت لان ولایة مــستفادمنهم فکانــه هــم وکالهم هوفقط والله اعلم (امدادثانی/صـ ۹۰)

په جومات کښې داوازوالاګړی کیخودل جواز

سوال: (۸۲۷) په جومات کښې دآوازوالاګړی کیخودل لکه څنګه چه عام رواج په دی وجه دادسلفونقل نه دی اودوي اوازهم دجرس سره مشابه دي مکروه ده یانه؟

جواب: خلاف اولیٰ وتیلوورته ګنجائش شته خوناجائزه ورته نه شی وئیلی څکه چه هغه جرس منع نه دي بلکه دوخت پیژندودپاره یوفائده منده آله ده فقهاؤ په خپل دپیشمنی دطبل وهلو اجازت لیکلی دی اوپه جومات کیخودل څکه مصلحت دي چه هلته دلمونځ دوختونو دپیژندلوزیات ضرورت دي (۲۲شوال/ ۱۳۲۷هـ تتمه اول/صـ ۱۴۳)

سوال: (۸۲۸) څه فرمائی علماء دین په دي مسئله کښې چه جومات کښې داسی ګړئ کیخودل چه نیمه ګهنټه پس په زوره سره آوازکوي اوهروخت لرلرآوازبه ولوی دادلمونځ دوختونو پیژندلودپاره جائزده یانه، اوکه داګړئ دجومات نه بهروي خوآواز یې جومات ته دننه راځی نوری صورت کښې هم کیخودل جائزدي یانه اودی دواړوصورتونوکښې دی آوازسره په لمونځ کراهت راځی یانه؟

جواب: په جومات کښې دآوازوالاګهړی دوخت دمعلومولوپه غرض جائزده اوچونکه دبعض خلقونظرکم وي اوبعض نمبرته پیژنی اوکله کله چه عالګمیریه کښې یې بعض فروع دداسی قسم لیکلی دي اوپه حدیث کښې دتصفیق (چه زنانه لاس اوتپوي په لمونځ کښې) اجازت په عین نمانځه کښې مصلحت دپاره ښکاره دلیل دي مشروعیت صورت چه هغی کښې دمتقارعین لمصلحة الاعلام المتعلق بالصلوة وي (۳شعبان/ ۱۳۳۱هـ حوادث اول، ثانی/صـ ۱۰۹)

نقش کردن ایات درمحراب مسجدوغیره

سوال: (۸۲۹) په جوماتونوکښې په سنګ مرمرودنقش کړي شوي ایتونولګولوڅه حکم دي که جائزوي نوښه کاردي یانه؟

جواب: فقهاؤ مکروه لیکل دي دوجه داحتمال دبې ادبی نه خوکه چرته نقش کړکي شوي وي اولګیدلی وي نوبیادهغی نزول بې ادبی ده، په دی وجه هم په دغه حالت دی پریخودلی شی (۷جمادی الاول/صـ تتمه ثانی/صـ ۲۲)

روشن داشتن چراغ درمسجدغیروقت نماز

سوال: (۸۳۰) دماښام اوماسخوتن ترمینځه په جومات کښې ډیوه بلول اګرچه لمونځ ګزارنه خی راځی څه ضروری دی یعنی ډیوه بلول دلمونځ ګزاروآسانتیادپاره دي یافی نفسه دجومات څه تعظیم دي چه دړڼاضرورت دي؟

جواب: داوخت داسی دي چه دچاجومات ته راتلل تلاوت دپاره یانفلودپاره څه لري نه دي بعض راځی هم بل داچه دیکښې دجومات حفاظت هم دي چه که څه څناوروغیره راځی نوهغه به تري نه بهرکړي بلکه په رڼاکښې راځی هم کم په دی وجه بلانکیرپه داسی وخت کښې په جومات کښې رڼاکول شائع دي (۲۹جمادی الاول/ ۱۳۳۱هـ تتمه ثانی/صـ ۳۳)

حکم دخول کافر در مسجد

سوال :(۸۳۱)څه فرمائی علماء دین په دې مسئله کښې چه په قنوج کښې جامع مسجد شاهی پروت دې دهغې دتعمیرپنځه نیم سوه کاله وشول ددې نه مخکښې دهندوانوبت خانه وه لهذادجومات دتعمیردومره زمانه وشوه خوهندوانوتراوسه دې لره دپاک دامنودرسوائی ګرځي اوجومات ته راځي نودوي جومات کښې دننه چه کوم ځای لمونځ کولی شي مؤذن وغیره دلالچ دوجه نه دتلواجازت ورکوي اوداخلق ځيني ابله وي اوزنګوشان يې ښکاره وي اوښځوګګري اچولی وي لهذادې حالت کښې دوي ته په جومات کښې کوم ځای چه لمونځ کولی شي دداخليدواجازت شته يانه .اومشرکان پليت دي پدوي وجه مونږدوي لره جومات ته دداخليدونه منع کړو. اوخلق وائي چه په ظاهره کښې پليتي نه وي نوداخليدل جائزدي زمادا سوال دي چه کله دمشرکانوپليت کيدل ثابت دي نودوي دظاهراوباطن دپليتي څه فرق دي اوکه چرته دمشرکانوپه جومات کښې داخليدل جائزوي اوکوم صاحبان چه مشرکانوته په جومات کښې دداخليدواجازت ورکوي هغوی ته څه ثواب ملاويږي اوزماپه منع کولوسره اياماته عذاب حاصليږي .اوهندوان مسلمانانولره په خپلوعبادت خانوکښې دراتلونه منع کوي دی خيال سره که مونږهم منع کړونوڅه باک دي اودهغوی ځيني ابله کيدودوجه نه ځيني په خاوروسخاوي که چرته دوي ته دځپووينځلواووئيلی شی نوڅه حرج دي دځپوګنده کيدودوجه نه داخليدل ښه نه لګي ښه زړه يځونوکښې جواب رکړي ؟

جواب: فى الدرالمختاراحكام المسجد قبيل باب الوتروالنوافل مانصه وادخال نجاسة فيه وعليه فلايجوزالاستصباح بدهن نجس فيه ولاتطيينه بنجس ولاالبول والفصدفيه ولوانااء ويحرم ادخال صبيان ومجانين حيث غلب تنجيسهم والافيكره الخ وفى درالمختار تحت قوله وادخال نجاسة فيه عن الفتاوى الهندية لايدخل المسجدمن على بدنه نجاسة الخ ، دی روايت نه معلومه شوه چه دمشرکانودبدن يادباطن په نجاست اوغيرنجاست کيدوکښې دبحث کولوضرورت نشته هرکله چه دمسلمانانوبچوچه په غالبوحالتونوکښې دهغوی بدن پليت وي جومات ته داخليدل حرام دي نوبالغ کافرچه ده کښې دنجاست غالبه نه علاوه نورهم جومات ته دداخليدوموانع جمع وي دوي ته جومات ته داخيلدل څه رنګ اجازت ورکړيشی اودپليتی په دوي غالب کيدل ښکاره دي خصوصاً دلوي اودس ماتی نه وروستودنجاست لری کولواهتمام پکښې نشته داخويقيني خبره ده اونورموانعوکښې لوي مانع دادی چه دوی

خپلوعبادت خانوکښې مسلمانان نه پريږدي نوغيرت اسلامی خوضرورمانع کيدل پکاردی
۱۰صفر۱۳۵۴ھ النورص۸ جمادی الاول ۱۳۵۴ھ

حکم مسجدساختن درجائيکه بعدايک مدت ويران شود

سوال :(۸۳۲)روضه دښارنه په څلورميله فاصله کښې دي اوهرڅلوواړه طرفته په يويوميل کښې هيڅ قسم آبادی نشته ماسره څوخادمان اوسيږي په لمونځ جمع سره کيږي روضه کښې يوځای لمونځ دپاره مخصوص دي چه دموسم په لحاظ سره بدليږي رابدليږي دغه شان په رمضان کښې دتروايح انتظام هم شته کله کله دښارنه ډيرخلق راځي نومجبوراً په ميدان کښې جمع کيږي ماارادہ کړيده چه روضې سره خواکښې جومات جوړکړم مختصرتعمير وکړم بعضوعالمانووئيل چه څوپورې ته دلته کښې يې جومات به آبادوي ستانه وررووستوبه وران شي ځکه چه داسې دخطری اوغيرابادی ځائی کښې به څوک اوسيږي په دې وجه دلته جومات جوړول اګرچه مختصروي خومناسب نه دي دحضرت ارشادغوختونکې يم ؟

جواب: زه وجداناً هم اودليل سره هم دې عالمانوسره متفق يم دوجدان علم خوماته شته اودليل دادی چه مقصوددجومات جوړولونه خودوچندوالي داجردي چه دهغې اميدپه غيردجومات کښې نشته خودحديثونه ثابت ده چه په ځيله صحراکښې هم لمونځ کول اګرچه بغيردجومات نه وي اوبغيردجمع نه وي هم موجب ددوچندوالی داجردي هرکله چه دجومات غرض بغيردجومات نه حاصل دي بياجومات جوړول اوهغه دورايندوپه خطره کښې اودبی عزتی په خطره کښې غورزول ولې پکاردی هغه حديثونه دادی ، فى الترغيب والترهيب بلحاظ عبدالعظيم المنذرى مانصه ، الترغيب فى الصلوة فى الفلاة قال الحافظ رحمه الله قدذهب بعض العلماء الى تفضيلها على الصلوة فى الجماعة وعن ابى سعيدالخدرى رضى الله عنه قال رسول ﷺ الصلوة فى الجماعة تعدل خمسة وعشرين صلوة فاذاصلاها فى فلاة فاتم ركوعها وسجودها بلغت خمسين صلوة ، رواه ابوداؤد رواه الحاكم بلفظه وقال صحيح على شرطهاورواه ابن حبان فى صحيحه الخ مختصراً ۱۸ربيع الاول ۵۲ھ النورص۸ صفر ۱۳۵۵ھ

دریاب دورانولو دویري نه جومات نړول

سوال : (۸۳۳) څه فرمائي علماء دين په دې مسئله کې چه درياب زمونږ کلي غورزول شروع کړيدي دکلي دابادۍ يوه حصه درياب کټ کړيده او صفا کړي يې ده . اوبعض لوئ لوئ مقامونه غورزيدلي دي ددې درياب حالت داسې دويرى والاجړ شويدي چه دکلي والو متفقه خيال دى چه اوس به دابنارخواه مخواه ورانيږي خلقو دنوى بنياد درپاره کوششونه شروع کړيدى په دې کلي کې شپږ اوه جوماتونه داهل والسنت والجماعت مسلمانانو دي او هغه په کلي کې دبعض مقامونو سره سخت په خطره کې دي که چرته دادرياب داکلي کټ کړي او وروورودى جوماتونو ته اورسى او ددې غورزيدل شروع کړي چه هغې سره به يقيناً ټولي ملبه ، پخي ښختې ، دلرګو سامان ، شهتير ، بانسونه وغيره په درياب کې غرق شي يابه اوبهيږي او چونکه ددې مسلمانان ډير غريبانان دي داسې قسم ته پاخه عمارتونه دپخوانه جوړ شويدى دى صورت کې اودغه حالتونو کې که چرته مسلمانان دجومات داضرورى څيزونه او ملبه چه کومه په کار راځي سره دپوخ فرش اونړوي دې پاره دجوماتونو په نوي تعمير کې اولګول شي نو شرعاً دمسلمانانو داکار جائز دي يا نه ؟ يعنې دتحريم دجوماتونو منافي خو نه دی چه دی سره بې عزتی دجومات راځي چه هغې سره دالله اودالله رسول ﷺ په نزد قابل دمواخذی او ګرځي جواب ډيرزر راوليږئ ځکه تباهي زمونږ په سرونه راغلي دي بينوا توجروا ؟

جواب : نازک مسئله اودلوئ درجې سوال کوونکې ددی جواب خو دمحققينو په مشورى سره ورکول مناسب وه او اوس هم ممکن دی چه ديوبند ته رجوع وکړي او زما دليک هم ورته ورولیږئ باقی دحکم پوره کولو دپاره زه به هم خپل خيال وليکم . دجزئي حواله خو ذهن کې نشته دقواعدو نه عرض کوم ، که چرته غالب ګمان دغورزيدلو ته وي نو ورانول يې جائز نه دي او که چرته ګمان غالب وي نو دي نيت سره جائز دي (او ددی نيت اعلان به هم وکړي) ، چه که درياب را او ختو نو ددی ملبې سره به په نوي آبادي کې جومات جوړ کړو او که چرته روغ پاتې شو نو بيا يې به اصل ځای کې جوړ کړو او داټول تفصيل هغه وخت دی چه کله په خپله دورانولو په وخت دحمل او نقل قدرت نه وي کنی په خپله دورانيدلو انتظار ضروري دی[1]

۲۰ جمادی الاول / ۵۲ھ (النور ص ۸ ربيع الثاني / ۱۳۵۵ھ)

دجومات تعمير شروع کړي اودلمونځ اجازت

ورکړي او بيا انکار وکړي نو داجومات کيږي يانه

سوال : (۸۳۴) دعالمانو نه درخواست دی چه لاندينی صورت کې چه دشريعت څه حکم وي هغه باندې خبرداری راکړئ عندالله به اجرومومی يو کس مسمی خليل احمد يوه ټکړه زمکه واخسته دی زمکې سره يې يو خاص ټکړه چه دهغې خلورواړه جدونه يې واضح کړل جومات جوړولو دپاره مخصوص کړه . او ټولی زمکې نقشه په داسې طريقې سره جوړه کړه چه جومات دپاره خاص کړې شوي ټکړي باندې يې ددوه منزلی جومات نقشه اوخودله او په نورو باندې يې دمکان او دوکان نقشه او خودله او دانقشه پاس شوه جومات جوړولو دپاره اجازت وشو اجازت حاصليدو نه وروستو دمحلی دخلقو او دښار دبعضو مشرانو په وړاندې دجومات بنياد کيخودی شو او دقبلې طرف يې برابر کړو او دخپل يو دوست په نګرانی کې په جومات کار شروع کړو دلاندينی منزل ديوالونه خو دجومات په شکل جوړ شول دهغې نه وروستو خليل احمد صاحب مولوی محمد عابد صاحب ته (کوم چه دي جومات سره دواخانه جوړه کړي وه) ، او فرمائيل چه داجومات نه شي پوره کيدی تاسو چنده يا څه طريقې سره غواړي پوره کړي دخليل احمد دوينا مطابق مولوي محمد عابد صاحب دپوره کولو کار انجمن تبليغ اسلام ته حواله کړو او انجمن چندې سره شروع کړو او لاندينی درجه کې يې دتبليغ مکتب جوړ کړو او څه مودې پورې هغې کې مکتب قائم وه . هرکله چه انجمن طرفته زياته حصه دچهت اوشليده نو خليل احمد صاحب اوفرمائيل چه زما پلار به په خپله داپوره کړي انجمن والا دي خپل ورکړي چه هغوی ته روپۍ ورکړيشی . انجمن والو حساب ورکړو خو سره دغوختونه هم څه مودې پورې انجمن والو ته يې روپۍ واپس نه کړې او به خپله يې هم کار شروع نه کړو آخر محمد عابد صاحب چا په ذمه چه دتکميل داکار وه هغه نزدې مسلمانانو ته کوم چه په دوکانونو کې لمونځونه کول اجازت ورکړو چه دجومات په چهت دجمع لمونځ کوي هرکله چه په چهت لمونځ او بانګ شروع شو (کوم ځای چه داجومات جوړ شويدی هلته دمسلمانانو په اعتبار سره دهندوانو آبادي زياته ده) ، هندوانو خو لمونځ او بانګ سره څه مقابله خو او نه کړه خو په هغوی ته بد ضرور ولګيده او پټې پټې به هغوی مشوری کولی مولوی محمد صاحب چه دهندوانو دامخالفت محسوس کړو نو خليل احمد صاحب او دهغه پلار ته يې

خط لکھنوته ولیکلو، څکه دوي په لکھنو کښې څه موده نه او سیدل، چه کله دجومات په جهت باندې لمونځ اوبانګ شروع شویدی دهندوانو خیال دی چه جومات جوړول خوپاس شوي نه دي لمونځ اوبانګ دلته ولې کیږي تاسو مهربانی وکړي دلته هغه نقشه راوړی اوهندوانوته دانقشه اوښائی چه مطمئن شی دووهفتوپوری څه جواب رانغی بیاتاکیدی خط ولیکلی، شوځوورځې پس خلیل احمد صاحب راغی نوپه ځای ددی چه هندوانوته یې نقشه خودلی وائي هغوي یې مطمئن کړي وي نوپه هغی خلقوکښې یې دااعلان شروع کړوچه وړومبی نقشته مامنسوخه کړیده اودا پوره زمکه زه خرڅول غواړم اومولوی محمد عابد صاحب ته یې هم نقشه اوخودله چه په هغی کښې صرف دومره ترمیم وه چه په برتنی حصه کښې یې دجومات شکل نه وه خودلی اوپه لاندینی حصه کښې دقبلی طرف وغیره په خپل مخکښې تعمیرموافق وه دخلیل احمدصاحب داوینا وه چه جومات دنقشه نه منسوخ شویده هندوان ډیرخوشحاله شول اوفوراً په شل پنځویشت قدمه کښې یې دمندرجوړولودرخواست وکړودحاکمانوامپروفټ ټرسټ په تحقیق کښې چه کله دااغلل چه نژدې کښې دجومات بنیاد کیخودي شویدي هغه درخواست دمندری منظورنه کړو اوس خلیل احمدصاحب په ښکاره داوائی چه جومات مامنسوخ کړیدی چرته بل ځای به یې جوړوم که دلته جومات جوړشو بیابه زمازمکه نه خرڅیږي دی دپاره چه مونږته قیمت دهندوانوته زیات ملاؤشی اودابه دجومات کیدوپه صورت کښې خرڅ نه شی صرف دځاندادخرڅولوپه غرض یې خپل نیت خراب کړیدی نه په خپله جومات پوره کوي اونه مسلمانانوته یې دپوره کولودپاره پریږدي اوهندوانوته دمندرجوړولوموقع ورکوي دی تفصیل نه وروستودا ارشاددی چه داجومات قرارشویدی یانه په وړومبی صورت کښې مسلمانانوته حق شته چه په خپل اثرسره داجومات پوره کړي اودمندرجوړولوموقع ورنه کړي ، انجمن والا غلی کولودپاره یې صرف اته پنځوس روپی په پنځه اویاکښې ورکړیدی اونوری تراوسه باقی دي (نوټ) خلیل احمدپکښې په خپله لمونځ نه دي کړي خوحق یې مسلمانانوجوړول اوداحق یې اومنواودبانګ اودلمونځ په خبرداري باندی دوه دري هفتوپوري غلی وه ؟

جواب: فی الدرالمختاریزول ملکه عن المسجدوالمصلی بالفعل وبقوله جعلة مسجدعندالثانی وشرط محمدوالامام الصلوة فیه وفی ردالمحتارقوله بالفعل ای بالصلوة فیه ففی شرح المنتقی انه یصیر مسجدابلاخلاف ثم قال عند قول المنتقی وعندابی حنیفة رحمہ اللہ ابی یوسف رحمہ اللہ یزول بمجرد

والقول ولم یردانه لایزول بدونه لماعرفت انه یزول بالفعل ایضابلاخلاف اﻫ قلت وفی الذخیرة وبالصلوة بجماعة یقع التسلیم بلا خلاف حتی انه اذابنی مسجد اواذن الناس بالصلوة فیه جماعة فانه یصیرمسجدا اﻫ فی العالمگیریة الباب الحادی عشرواذاسلم المسجدالی متول یقوم بمصالحة یجوزوان لم یصل فیه وهوالصحیح کذافی الاختیار شرح المختاروهوالاصح کذافی محیط السرخسی اﻫ ، په دی روایت کښې دجومات کیدوچه څومره شرطونه دي متفق علیه یامختلف فیه ټول په دی صورت واقعه کښې موجوددي قول هم بیابیازبانی نقشی سره هم معاملی سره ذاتی دجومات په لقب سره ذکرکړیده فقهاء یاطلاق یاحرسره یې دطلاق اوداعتاق حکم کړیدی اودوقف دامام ابویوسف رحمہ اللہ په نزد داعتاق په شان دی اوفعل هم څکه چه دیکښې یې په جمع سره لمونځ کول جائزګڼرلی دي چه هغی ته بانګ هم شویدی تسلیم هم څکه چه ددی دپوره کولوانتظام یې یومولوي صاحب ته حواله کړیدی کوم چه دبانی ملازم هم نه دي دتولیت حقیقت دداسی شان انتظام دی پس هرکله چه ټول شرطونه دجومات کیدواوموندی شول اوڅه مانع پکښې اونه موندی شوپه دی وجه دازمکه جومات شواوس دبانی انکارمحض لغودي والله أعلم : اخرشعبان ۱۳۵۴ﻫ ، النورص ۷ شوال المکرم ۱۳۵۵ﻫ

حکم خفتن در مسجد

سوال :(۸۳۵)دزیدمکان ته نژدې جومات کښې ډیره هوالګی دغرمی په وخت دمکان نه به هغی کښې ډیرآرام وي که چرته په دغه وخت زیددي غرض باندی جومات کښې اوده شی اوبیادماسپخین لمونځ کښې کولونه وروستوراشی نوڅه قسم دجومات بی عزتی خونه ده اوزیدمرتکب دتوهین دجومات دي یانه ؟

جواب: فی الدرالمختار واکل ونوم الالمعتکف وغریب وفی ردالمحتارواذاراد ذلک ینبغی ان ینوی الاعتکاف فیدخل ویذکرالله تعالیٰ بقدرمانوی اویصلی ثم یفعل مایشاء فتاوی هندیه ص ۲۹۱ ج ۱ دی نه معلومه شوه چه سیوادااعتکاف کوونکي یامسافرنه بل چاته په جومات کښې اوده کیدل مکروه دي خوکه چرته سخت ضرورت وي مثلاً دکورګرمی نه شی برداشت کولی نوداحیله دی وکړي چه په جومات کښې دلږساعت دپاره داعتکاف نیت وکړي مثلاً دماسپخین نه پس پوری اوبیاپه هغی کښې څه لږوخت عبادت اوذکروغیره دي وکړي بیادهلته اوده شی اودماسپخین لمونځ دي وکړي بیادي راځی ۱۷ رمضان ۱۳۳۳ﻫ تتمه ثالثه ص ۷۸

دجومات په صحن کې کټ اچول

سوال :(۸۳۶) څه خیال دی په دی مسئلی کې چه یو طالب علم اتفاقاً کوم ځای چه خلق اودس کوي هلته یې دجومات په صحن کې کټ واچولو اوس بعض کسانو اعتراض وکړو چه دا جائز نه دي اوس درخواست دی چه دطالب علم معذوري ترکومه پوری ده ارشاد اوفرمائی چه جائز دي یانه ؟

جواب: فی نفسه جائز دي که چرته پاک وي خو چونکه عرفاً دادادب نه خلاف دی په دي وجه مناسب نه دي لکه خپلی اچول او جومات ته دننه تلل (۲۷ رجب ۱۳۲۹ھ، تتمه اول / ص ۲۰۷)

دجومات په روپوکې جومات دپاره تجارت کول

سوال :(۸۳۷) درین دیار که مرسوم برائ اخراجات ضروری مسجد اهل محله چیزی ازنقود می دهند شده شده ازبقیه خرج چیزی ازنقود فراهم آید ازین نقود برائ زیادتی مال مسجد تجارت درست است یانه ؟

جواب: باذن معطین درست است فقط ۸ ذی الحجه / ۱۳۳۰ ھ، تتمه اول / ص ۲۱۳)

شرائط تولیت مسجد

سوال :(۸۳۸) دیو جومات متعلق یو درگاه شریف ده چه په هغې کې دمحلی والا او درگاه شریف زیارت کوونکي لمونځ کوي . او دا یو مشرچه دشیخ معتقد وه دخپلی تندی ماتولو دپاره یې تیاره کړي وه یو بزرگ دشیخ داولادنه چه خلق هغه دشیخ گدي نشین منی هغه په دی جومات کې دویمه جمع اومکروه وختونو کې اداکوي او انتظام مؤذن او امام په خپل اختیار کې لري هغه مؤذن او امام بغیر دخیال ساتلو دمستحب وختونو ته دگدی نشین په مرضی بانگ او اقامت دجمعی کوي یوه ډله دمحلی والو او دزیادت کوونکو او څه دشیخ اولادهم داغواري چه لمونځ دي په شرعی مستحب وختونو کې وکړاشی او داگدی نشین په قصد سره دهغوی خلاف کوي که چرته داگدی نشین په خپل اصرار باندی کلک وي اولمونځ په مکروه وختونو کې اداکوي نوایا نور محلی والو ته او زیارت کوونکو او باقی دشیخ اولادته داحق شته چه په وروستی وخت کې په دی جومات کې جمعی سره لمونځ اداکړي او داسی امام او مؤذن مقرر کړي چه په شرعی مستحب وختونو کې خپل کار سرته رسوي یا دمحلی او زیارت کوونکو مسلمانانو ته ددی گدی نشین تابعداری لازم ده اگرکه هروخت کې لمونځ

کوي او داهم اوفرمائی چه ایا دیو گدی نشین داحق شته چه مسلمانانو له په خپل شرکت کې لمونځ کولو باندی مجبور کړي که هروخت کې لمونځ کول غواړی او مسلمانانو له په وروستی وخت کې جمع سره دلمونځ کولو نه منع کړي ؟

جواب: فی دالدرالمختار کتاب الوقف جعل الواقف الولایة لنفسه جازبالاجماع وکذالوثم یشترط لاحدفالولایة له عندالثانی وهوظاهرالمذهب الیٰ قوله والافللحاکم وفیه وینزع وجوبا للواقف درر فغیره بالاولی غیرمامون الیٰ قوله وان شرط عدم نزعه اوان لاینزعه قاض ولاسلطان الخ وفیه ولایة نصب القیم الیٰ الواقف ثم لوصیه الیٰ قوله ثم للقاضی اه مختصراوفی اثناء هذه العبارة طالب التولیة لایولی الاالمشروط له النظرلانه مولی فیرید التنفیذ فروق ردالمختارتحت قوله ولایة نصب القیم الیٰ الواقف مانصه عن التارخانیة ماحاصله ان اهل المسجدلواتفقواعلی نصب رجل متولیالمصالح المسجدفعندالمتقدمین یصح ولکن الافضل کونه باذن القاضی ثم اتفق المتاخرون ان الافضل ان لایعلموا القاضی فی زماننالم عرف من طمع القضاة فی اموال الاوقاف وکذلک اذاکان الوقف علی ارباب معلومین یحصی عددهم اذانصبوامتولیاوهم من اهل الصلاح اه وفی الدرالمختار قبیل باب الوتر والنوافل ولاهل المحلة منع من لیس منهم عن الصلوة فیه (ای اذاضاق بهم المسجدکمافی ردالمختار) ولهم نصب متول فی ردالمختارای ولونصب قاض کماقدمناه عن العنایة وفیه باب الامامة والاحق بالامامة تقدیما بل نصبا الاعلم باحکام الصلوة الیٰ قوله ولوام قوماوهم له کارهون ان الکراهة لفسادفیه اولانهم احق بالامامة منه کره له ذلک تحریما وان هواحق لاوالکراهة علیهم اه مختصراً ! ددی روایتونو نه لاندینی امور فائده ورکوي (۱) که چرته داگده نشین بانی دجومات متولی نه وي جوړ کړي نو ده ته دجومات په انتظام کې دخل ورکول بغیر درضامندی دمحلی والو نه مطلقاً ناجائز دي (۲) که چرته داگدی نشین بانی دجومات متولی هم جوړ کړي وي خو بیا به هم په مکروه وختونو دمونځ او بانگ ویلو نه منع کولی شی اگرکه دده په ولایت کې دنه معزوله کولو هم تصریح شوي وي بیا به هم دی معزوله کولی شی تردی پوری که چرته داسی غیرمشروع امورو کې په خپله هم وقف کوونکې متولی وي هغه به معزوله کولی شی (۳) دمتولی او منتظم دلرې کولو او دړولو اختیار شرعاً محلی والو ته شته تردی چه بعض حالتونو کې محلی والا په قاضی باندی هم وړاندی دي (۴) داسی امام هم گنهگاریږی چه هغه نه به مکروه وختونو کې دلمونځ او بانگ

کولو د جه نه د محلي والو نفرت وي (۵) په دي حالت کې په خپله د گدی نشین مطلقاً په انتظام کې دخل کول ناجائزدي دوجه دارتکاب غیرمشروع هم اوپه وجه د دعوی تولیت کولو هم هرکله چه دي داهل دتولیت نه دي نودی نوروله ځنګه داقامت دسنن شرعیه نه منع کولی شي (۲ذي الحجه / ۱۳۳۲ھ / تتمه ثانی / صـ ۱۹۲)

تحقیق حلت کلکله های اوره مسجدرسم جهلاء

سوال: (۸۳۹) دلته یوه خبره راپیښه شو دیده چه څه متهائیانی ،چوری اویود کچه اورو دیوه چه هغی کې غوري واچوی اوهغه بله کړي دجومات په طاق کې یې کیږدي اودیته طاق دکول وائی آیاددی متهائیانو ،پکوان وغیره خوړل جائزدي یانه ؟

جواب: دغه شان متهائیان راوړل چه دی کې ډیرقیدونه اوتخصیصونه اعتقادیه اوعملیه شته بعض ځایونو کې ددی دپاسه زیاتی ښځی هم روالی دا یوعمل منکراوبدعت دی خودی سره په خپله دی متهائیانو کې څه پلیتی یاحرمت نه راځی په مااهل لغیرالله کې داخل نه دي ځکه چه جومات ته راوړل دی قرینه ده چه خاص الله دپاره دي په دی وجه ددی خوړل جائزدی البته که چرته په دی وجه نه یې اونه خوری چه کوونکو دپاره عبرت شی نوډیره بهتره ده (۵ صفر / ۱۳۳۵ھ / تتمه خامسه / ۵)

حکم ترغیب چنده درمسجد

سوال: (۸۴۰) څه فرمائی علماء دین په دي مسئله کې چه په عیدګا یاجامع مسجدیابل چرته جومات کې چنده غوختل یاددی ترغیب ورکول اوسوال کوونکوته صدقه اوخیرات ورکول څنګه دي ؟

جواب: که چرته په تیریدو کې صفونه نه شلوی اوپه لمونځ ګزاروباندی څه تشویش نه وه اوحاجت ضروري وي نوصحیح دي (۵شوال / ۱۳۳۲ھ / تتمه خامس / صـ ۲۵)

استحباب سلام کردن وقت داخل شدن درمسجدوقتي که کسي دران نباشد

سوال: (۸۴۱) که چرته لمونځ ګزارزخالی جومات ته لاړشی که چرته څوک جومات کې نه وي نواسلام علیکم ویل پکاردی یانه که ویل پکاردی نوکوم الفاظ استعمالول پکاردی

نورخلق وائی چه خالی جومات کې اسلام علیکم ویل نه دي پکاردی که چرته څوک موجودی نوهله پکاردي ؟

جواب: فی العالمگیریة اذادخل الرجل فی بیته یسلم علی اهل بیته وان لم یکن فی البیت احد یقول السلام علیناوعلی عباداللّٰه الصالحین کذافی المحیط ج۲، اوپه ظاهره په کوراوجومات کې څه فرق نشته بلکه په جومات کې دملائیکوموجودیدل ډیرنزدی دي په دی وجه دی الفاظوسره دي سلام وکړي السلام علیناعلی الصالحین خوصرف جومات دی ضروری نه دي (۲۳محرم / ۱۳۴۳ھ / تتمه خامسه / ۳۲۰)

دریچه کشادن سوئی مسجد

سوال: (۸۴۲) که چرته خاص مکان بره خای یادمشترک مکان لکه بیټهک شوددی کړکې په جومات کې کولاؤ کړیشی چه په هغی کې دهواراتلونه علاوه بل څه غرض دقبضه اودتصرف دزمکې یادفرش وغیره مقصدنه دي جائزدي یانه ؟

جواب: که چرته کړکې وغیره دراتلودپاره کولاؤ کړیشی نوداخوجائزنه دي ځکه کړکې کولاؤ وي هغه دده مملوکه وي اوبل څه فاسد غرض یې نه وي نوپه دیکې که چرته جومات اوخلقوته څه تکلیف نه رسی نوجائزدي اوکه چرته څه نقصان یابی احتیاطی وي نوجائزنه دي مثلاً دهغه ځای نه جومات ته لوړی ځی یاخشاک وغیره په هغه ځای جومات ته غورزیږی نودامنع دي ،ومن اخرج الی الطریق الاعظم کنیفا اومیزاباًاوحوضا اوبنی دکاناًفلرجل من عرض الناس ان ینزعه ویسع للذی عمله ان ینتفع به مالم یضربا لمسلمین فاذااضرب المسلمین کره لـه ذلک لقوله علیه السلام لاضرر ولاضرار فی الاسلام (هدایة صـ ۴۸۵ / ج۲ / والله اعلم / ۳جمادی الاول / ۱۳۰۱ھ / امدادثالث / صـ ۱۵۲)

تحقیق معنی حدیث مسندکه نبی ﷺ درمسجد

نضیح فضیح نوشیدوجواب اشکال بران معه بقیه سوال

سوال: (۸۴۳) دمسجد فیضح دوجه تسمیه متعلق په وفاء الوفاء کې په حواله دمسند احمد بن عمردا روایت می ولیدو عن ابن عمران النبی ﷺ اتی بجرفضیح ینش وهوفی مسجد

الفضیح فشربه فلذلک سمی مسجد الفضیح، سوال دادی چه دلته دفضیح نه څه مراددی ایاباذق مراددي کوم چه دباده معرب دی یاڅه بل څه؟

جواب: په لغت کې ددی معنی ده عصیرالعنب وشراب یتخذمن بسرمفضوح (ای مکسور) اودشرابو معنی ده ماشرب اوعصیراو شرب دپاره سکرلازم نه دي نو دفضیح نشه اورکیدل ثابت نه دي! **بقیه سوال**:- دی سره دینش تطبیق هم دفضیح مفهوم سره کیدل پکاردی؟ **جواب**:- دنش لغوی معنی ده صوت الماء وغیره اذاغلااوغلیان دپاره هم نشه آورکیدل لازم نه دی په دی وجه اوبوکې غلیان راځی نشه نه وي. **بقیه سوال**:- ددی نه علاوه دنفس د حدیث متعلق هم معلومول پکاردی چه هغه کوم مده پوری قابل داعتماددی اوددی راویان کوم کوم دي اوآیاپه هغوی څه جرح کیدیشی؟ **جواب**:- ماپه مسند احمد کې تول دعبدالله بن عمر رضی الله عنه کوم چه دیونیم صفحی نه زیات دی یو یو حدیث کتلی دی ماداحدیث نه دي لیدلی که دنظر دلاندی نه وي راغلی زه دانه شم وئیلی. که ملاؤ شوي وي نو ددی رجال به مالیدلی وي خو که چرته داحدیث ثابت هم وي نو نقصان څه دي. هرکله چه دهغی دنشه آورکیدوڅه دلیل نشته او که فرضاً که چرته نشه اورکیدل هم ثابت شي نو مخکې دتحریم نه په مسکرباندی حمل کیدیشی! ۲۷جمادی الاول ۱۳۴۴ھ (تتمه خامسه ص ۴۰۷)

تحقیق صلوٰۃ یادخول مسجد درنعال

سوال: (۸۴۴) دلاندینی فقری متعلق لیکلی شوي خط زماددوست په نسبت دکابل دآمیرچه دهغوی کسان تول دڅپلو سره جومات ته راغلل اوڅپلو سره یې لمونځ وکرو؟

جواب: دلته دری امره دي دوه ډیرښکاره اویو خفی ورومبی امرداخبره یقینی اومتفق علیه ثابت بالدلیل اومسلم ده چه نعال (پڼری) که چرته پاکې وي نو دهغی داغوستلوپه حالت کې جومات ته راتلل یالمونځ کول فی نفسه قطع نظردعوارض خارجیه نه جائزاو مباح دی. عام ددی نه چه عوارضوسره چرته مستحسن شی اوچرته مستقبح شی. دویم امرداخبره هم یقینی اومتفق علیه اومحقق ده چه که نعال نجس وي نو دهغی داغوستلوپه حالت کې جومات ته راتلل یالمونځ کول ناجائزاوحرام اوګناه ده. په دیکې دجوازیادهغی دپاسه داستحسان هیڅ شائبه هم نشته دادواړه خبری خوجلی اوښکاره دي چه محل داشتباه نه شی کیدی. دریم امرکوم په خفی اومحل داشتباه اودبحث دی چه داعوارض خارجیه په اعتبارسره په صورت

دطهارت راغی په دیکې څه قباحت شته یانه. چه دهغی دپاسه داستحسان حکم اولګولی شی پس اول داپوهیدل پکاردی چه کوم حکم دڅه عارض دوجه نه کیږی هغه دعارض دوجه نه بدلیږی اوکوم حکم چه شارع فی نفسه مقصود وي هغه هیڅ حالت کې نه بدلیږی دهغی شواهداولمونځ دفقهی کتابونوکې ډیرموندلی شی دویم داپوهیدل پکاردی چه دایقینی ده چه صلوٰۃ فی النعال دشارع په نزد هیڅ مقصوددی حکم نه دي ځکه چه مقاصدشرعیه کې څه غرض دی سره متعلق نه دي اوس ددی مداریه عوارضوکې کوم خای چه عارض مانع وي هلته به منع کولی شی دریم دامعلومول پکاردی چه جومات اولمونځ دواړه څیزونه واجب الاحترام والادب دي اوداداب بعضی طریقی صرف په عرف باندی مبنی دی پس په کوم ملک کې چه سره دپڼرودچاپه فرش باندی راتلل اوملاویدل عرفاً خلاف دادب شمارلی شی هلته نمونځ اوداخلیدل جومات ته په پڼروکې ددی عارض اودبی ادبی دادوجه نه واجب المنع دي چه دهغی پته دقران نه لګي چه موسیٰ علیه السلام ته حکم وشوفاخلع نعلیک، اودهغی علت بې داوفرمایه انک بالواد المقدس طوی، برابرخبره ده که داپڼری پاکې وي که نجس وي خوعموم دعلت چرته چه مطلق پڼروسره تلل خلاف دادب وي نهی به هغې ته هم عام کیږی اوزمونږ دملک هند عرف هم دی باره کې ښکاره دی بس ددی تقریرپه بنیاد دلته دهغی ممانعت ضروری دی اوپه کوم ملک کې داعرف خلاف ادب نه وي هلته به نه شی منع کولی پس دکابلیانو عرف به هم داسی دي. اوددی خای دعرف نه به هغوی خبرنه وي یادخاص لباس په پڼرو کې به داسی عرف وي یاپه بل ملک کې دکیدودوجه نه بی اطمینانی به دهغوی عذروي اواخیری درجه داده چه دغیرنبی فعل نفسه حجت نه دي اوکه چرته دڅه عارض موثر فی الاستحسان حکم وکریشی لکه ځکه چه بعض روایتونوکې دهغی دترجیح داعلت فرمائیلی شویدی چه اهل کتاب په پڼروکې لمونځ نه کوي خوداعارض متحقق نه دي بلکه اصل علت نهی عن التشبه ده په خپله مقتضی دمنع ده ځکه چه دلته په دی هیئت کې تشبه ده اوس درایةً اوروایةً دی کې څه اشکال پاتی نه شو! ۱۲محرم ۱۳۲۳ھ (امداد چهارم ص ۱۲۳)



امداد الفتاوی مبوب دویم جلد پوره شو په توفیق الله عزوجل والحمدالله علی ذالک

۱۱۱۱۱ ۷/۶/۲۰۰۹

مشهور محدثین

اودهغوی د ژوند عجیبه حالات
ملفوظات او واقعات

جمع و تالیف

(ابوبلال) برهان الدین صدیقی
فاضل جامعه دارالعلوم کراچی
ایم اے عربی پیښور یونیورسټی

ناشر

مکتبه الحرم

سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره

التحقیق العالی

علی

خیالی

افادات

جامع المعقول والمنقول
مولوی خان محمد منصور

ناشر

مکتبه الحرم

سردار پلازه اکوړه خټک نوشهره